تسهیل الوقایه

پښتو شرح

شرح الوقایه

جلد اول

مؤلف
شیخ القرآن والحدیث حضرت
مولانا عبدالرشید صافي عفي عنه
حالاً مدرس فیض القرآن پغمان کابل

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سرچوک کابل | محله جنگی قصه خوانی پشاور
0782690850 | 091-2580074

ماشاء الله لا حول ولا قوة الا بالله

تسهیل الوقایه

پښتو شرح د

شرح الوقایة

١

تالیف

مولانا عبدالرشید صافی عفی عنه
مدرس دار العلوم شمس الاسلام سراچه نغلو جلال آباد

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سرچوک کابل | محله جنگی قصه خوانی پشاور
0782690850 | 091-2580074

دکتاب نوم: تسهیل الوقایه پښتو شرح د شرح الوقایه اول جلد

تالیف: مولانا عبدالرشید صافی عفی عنه

دچاپ زيار: مولوی سید محمد پرواني

صفحات: ۵۰۴

دچاپ کال: مئی ۲۰۲۱ءبمطابق رمضان ۱۳۹۹

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوندسر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین ګل کابل
0782690850 / 0775681606

دکتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) پشاور
(۲) اکوړه خټک
(۳) کویټه
(۴) فاریاب
(۵) پروان
(۶) کندوز
(۷) غزنی
(۸) مزارشریف
(۹) جلال آباد
(۱۰) قندهار
(۱۱) بغلان
(۱۲) لشکرګاه
(۹) لوګر
(۱۰) خوست
(۱۱) کابل
(۱۲) جاده سرچوک
(۱۳) ګردیز پکتیا
(۱۴) هرات
(۱۵) تخار
(۱۶) پکتیکا

دمضامینو فهرست

مضمون	صفحه
كتاب الطهارة	۱۵
باب التيمم	۱۱۰
باب المسح على الخفين	۱۳۲
(باب الحيض)	۱۵۲
باب الانجاس	۱۸۵
كتاب الصلوة	۱۹۹
باب الاذان	۲۱۲
باب شروط الصلوة	۲۲۰
بيان شروط الصلوة	۲۲۱
باب صفة الصلوة	۲۲۷
باب الحدث في الصلوة	۲۶۲
باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها	۲۷۰
باب الوتر والنوافل	۲۸۱
باب ادراك الفريضة	۲۹۱
باب قضاء الفوائت	۲۹۹
باب السجود السهو	۳۰۴
باب صلوة المريض	۳۱۰
باب سجود التلاوة	۳۱۲
باب صلوة المسافر	۳۱۹
بَابُ الْجُمُعَةِ	۳۲۲

باب العیدین	۳۳۲
باب صلوة الخوف	۳۳۶
باب الجنائز	۳۳۸
باب الشهید	۳۴۸
باب الصلوة فی الکعبة	۳۵۲
کتاب الزکاة	۳۵۸
باب زکاة الاموال	۳۶۷
باب العاشر	۳۸۶
باب الرکاز	۳۹۱
باب زکاة الخارج	۳۹۳
باب المصارف	۳۹۸
باب صدقة الفطر	۴۰۵
کتاب الصوم	۴۱۱
باب موجب الافساد	۴۱۹
باب الاعتکاف	۴۳۵
کتاب الحج	۴۳۷
باب القران والتمتع	۴۶۳
باب الجنایات	۴۷۰
باب الاحصار	۴۹۴
باب الهدی	۴۹۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحمد للّٰه رب العلمين والصلوٰة والسلام علی رسوله الكريم وعلیٰ اٰله واصحابه اجمعين وبعد:

چونكه ما ډير شراح وليدل چې دهغوی دشرحو په اول كې ډير زيات طوالت وي نو طالب العلمانو دهغو څخه سخت اجتناب كاوه نو په دي خاطر زه د طوالت څخه ځان ساتم او په مختصرډول اول د مصنف حالات بيانوم او بيا به په خپل مقصود شروع كوم الله ﷻ دي د پوره كولو توفيق راكړي و هو المستعان.

۱۔ **د مصنف حالات**: د شرح الوقائي د مصنف نوم عبيد الله لقب يې صدر الشريعة الاصغر د پلار نوم يې مسعود د نيكه نوم يې محمود لقب يې تاج الشريعة الاكبر، شجره د نسب يې حضرت عبادة بن الصامت رضی الله عنه ته رسيږي علمي زده كړه يې له خپل نيكه كړي ده. د وفات نيته يې ۷۴۷ هجري ده، ۱۔ بنا بر قول صحيح: نوموړي د فقه مشهور كتاب وقايه چې د ده د نيكه تاج الشريعة الاكبر تصنيف دی ډيره اعلی شرحه وليكله،

۲۔ **د مصنف فيه حالات** يعني د فقه د فقهی، لغوي معنی، **الفقه حقيقةً الشق و الفتح**، و **الفقيه العالم الذي يشق الاحكام و يتفتش عن حقائقها و يفتتح ما استغلق منها. الفقه لغة العلم با الشیٔ ثم خص بعلم الشريعة**، فقه په كسرى د فاء سره پوهي ته وايې **فِقْهًا الشیٔ او الكلام الی فهمه**. يعني په معنی مصدري سره او **فَقِهَ يَفْقَهُ فقها** د باب سمع يسمع نه په معنی د يو شي معلومول او په هغه پوهيدل او **فَقُهَ يَفْقُهُ فَقْهًا و فقاهة** د باب د كرم نه په معنی د فقيه كي دل په علم كې غالب كيدل او كه د باب تفعيل نه شي يعني **فَقَّهَ** او يا د باب افعال نه شي يعني **اَفْقَهَ فلانًا** نو په دواړو صورتو كې په معني د علمه او افهمه سره راځي يعني بل پوه كول او كه د باب تفعل نه شي. لكه **تَفَقَّهَ الرجل** نو بيا په معني د **تَعَلّمَ الفقه** يعني فقه يادولو په معنی سره راځي.

اصطلاحي معنی د فقه: **هو العلم بالاحكام الشرعية الفرعية من ادلتها التفصيلية**

دغه مذكوره اصطلاحي تعريف په دوه جزئونو مشتمل دی. ۱۔ **العلم بالاحكام الشرعية الفرعية**: د دغه جزء په نظر كې نيولو سره اعتقادي احكام لكه د الله ﷻ وحدانيت د

رسولانو رسالت د اخرت د ورځي علم داخليږي او نوره فقه له اصطلاحي مضمون څخه خارجيږي ۲- **العلم بالادلة التفصيلية** د دي مطلب دا دی چې له فرعيه او عمليه ؤ قضاياؤ څخه د هري قضي د تفصيلي ادلؤو علم لري. او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د فقه تعريف داسي دی **معرفة النفس مالها و عليها** يعني پيژندل د نفس هغه کارونه د کومو چې ده لره ګټه وي او د کومو چې ده ته ضرر او تاوان وي لکه حرام او حلال مثلاً.

او د صوفيانو په نزد فقه د علم او عمل د جامعيت نوم دی

موضوع د علم فقهي: د مکلف سړي فعل او عمل دی چې دهغه د احوالو نه په دي علم کې بحث کيږي مثلاً فرض کيدل او نه فرض کيدل. حلال يا حرام

غرض د علم فقهي: د دواړو جهانو کاميابي او نيک بختي, ترلاسه کول

د فقه شرافت : د نبي کريم صلی الله عليه و سلم فرمايي چې **من يرد الله به خيرًا يفقه في الدين** ترجمه: چې الله پاک چا لره د خير اراده وکړي نو په دين کې پوهه ورکوي. بل حديث مبارک کې نبي کريم صلی الله عليه و سلم فرمايي **فقيه واحد اشد على الشيطان من الف عابد** ترجمه: يو عالم دين سخت دی په شيطان باندي د زرو عابدانو بي علمو څخه . نو د دي حديثونو څخه د فقهي عظمت او شرافت معلوميږي .

مدون دفقهي: امام ابوحنيفه رحمه الله د فقهي مدون دی د ده نه مخکي دي فقهي مسائلو ته هيچا په داسي طريقه نظر نه دی کړی چې د قرآن او حد و څخه يې راويستل او بيا يې راجمعه کړي هغه شخص صرف امامنا الاعظم امام ابوحنيفة رحمه الله دی چې دا خدمت يې وکړو.

د امام اعظم تصنيفات: د عباسي دور يعني په دويمه هجري پيړۍ کې له ټولونه وړاندي امام ابوحنيفة رحمه الله د فقه علم تدوين کړ که څه هم دهغه د تصنيفاتو مجموعه په دي وخت کې موجوده نه ده ليکن د متقدمينو په مؤلفاتوکي د امام صاحب، د ډيرو تصنيفاتو يادونه ترلاسه کيږي علامه کوثري د بلوغ الاماني په حاشيه کې د يوولسو (۱۱) تصنيفاتو تشريح کړي ده.

(۱) **كتاب الرأی.** (۲) **كتاب اختلاف الصحابة.** (۳) **كتاب الجامع**

(۴) كتاب السير. (۵) كتاب الاوسط. (۶) الفقه الاكبر.

(۷) الفقه الاوسط. (۸) كتاب العالم و المتعلم. (۹) كتاب الرد على القدرية.

(۱۰) رسالة الامام الى عثمان البستي في الارجاء. (۱۱) مكاتيب وصايا.

له دي وروسته نورو ائمؤو هم په خپلو اصولو او نظرياتو باندي د فقه د علم تدوين وكړ او له دويمي پيړۍ نه تر اوومي پيړۍ پوري د فقه په علم كې د تصنيفاتو سلسله جاري وه (ظفر المحصلين مع الزيادة)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله رب العٰلمين و الصلوٰة على رسوله محمد و اٰله اجمعين الطيبين الطاهرين.

ترجمه ټول ثنا او صفت خاص الله لره دي چې رب او پالونکی د ټولو مخلوقاتو دی او افاضه د خير دي وي په رسول د ده چې محمد صلى الله عليه و سلم دی او په اولا ده د ده په ټولو باندي چې باطني او ظاهري پاک دی.

تشريح: مصنف رحمه الله د خپل كتاب شروع په بسم الله الرحمن الرحيم سره وكړه د دري وجوهاتو څخه. ۱-د وجي د اتباع د قرآن كريم نه ځكه د قرآن كريم شروع هم په بسم الله سره شوي. ۲-د وجي د عمل كولو نه په حديث مبارک باندي **لقوله عليه السلام كل امر ذی بال لا يبدأ فيه ببسم الله فهو اقطع** (الحديث)

د ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه و سلم فرمايي چې هر يو كار چې د يوي مرتبي والا وي او دهغه شروع په بسم الله سره ونه شي نو هغه كار بي بركته وي. ۳د وجي د تابعداري او د موافقت د سلفو صالحينو سره ځكه چې هغوی به كله يو تصنيف كاوه د كتاب په سر كې به يې بسم الله راوړه نو مصنف هم د هغوی په نقش قدم لاړو همدارنګه مصنف رحمه الله د كتاب شروع په الحمد الله سره وكړه د همدي دري وجهو نه.

۱- د وجي د ابتاع د كلام الله. ۲-د وجي عمل كولو نه په حديث مبارک باندي. حديث كې راځي **كل امر ذی بال لا يبدأ فيه بحمد الله فهو اقطع، اخرجه ابوداؤد.**

۳- د وجي د موافقت د سلفو صالحينو سره او په بسم الله كې دا باء د استعانت او تبرک لپاره ده يعني په امداد د نوم د الله ﷻ يا په بركت د نوم د الله ﷻ شروع كوم.

و الصلوٰة الخ: په دي كې هم اشاره ده عمل كولو ته په حديث باندي چې **كل امر ذی بال لا يبدأ فيه بحمد الله و الصلوة على رسوله فهو، الحديث.**

او صلوة په لغت كې په څلورو معنو راځي. ۱-په معنی د دعاء سره چې كله يې نسبت بنده ته وشي ۲-په معنی د رحمت سره چې كله يې نسبت الله ته وشي. ۳- او په معنی د استغفار سره چې كله يې نسبت ملائكو ته وشي. ۴- په معني د تسبيح او تهليل سره چې كله يې نسبت وحوشو او طيورو ته وشي. او په اصطلاح كې اركان مخصوصه په اوقات مخصوصه كې.

سوال: چې كله د صلوة نسبت الله ﷻ ته وشي نو مراد تري رحمت دی او رحمت ويل كيږي

رقة القلب يعني د زړه نرمي ته او دا معنى د الله ﷻ په شان کې مناسبه نه ده ځکه الله ﷻ د جوارحو څخه پاک دی.

جواب: مراد د صلوة نه معنى لازمي ده چې هغه افاضه د خير ده.

سوال: د صلوة نسبت چې کله بنده ته وشي نو مراد تري دعاء وي او د دعا په صله کې چې على راشي نو په معنى د ښيرو سره راځي.

جواب: دا هلته په معني د ښيرو سره راځي چې د لفظ د دعاء په صله کې على راشي نه داسي چې صلوة متضمن شي دعاء سره، ځکه په قرآن کې د صلوة په صله کې على راغلي

يايها الذين امنوا صلوا عليه و سلموا تسليمًا.

على رسوله: مصنف رحمه الله لفظ د رسول ووېل او نبي يې ونه وېل د دي وجې نه چې رسول خاص دی او نبي عام دی ځکه په رسول کې دا شرط دی چې د ده سره به نوی کتاب او نوی شريعت وي او نبي سره نه وي نو د رسول الله په لفظ کې چې څومره عظمت دی هغه اندازه په لفظ نبي کې نشته او بعضي علماء وايي چې رسول او نبي الفاظ متساويه دي او بعضي وايي چې دا الفاظ متباين دي.

و آله: دلته يې کلمه د على رانه وړه د دي وجې نه چې د نبي کريم صلى الله عليه و سلم او د ده د ال ترمينځ سخت زيات تعلق او امتزاج دی.

قوله اجمعين: دا تاکيد دی د ما قبل لپاره او رد دی په بعض فرق ضالوو باندي چې هغوی په بعض صحابوو باندي بد وايي او دهغوی په شان کې گستاخي او بي ادبه الفاظ استعمالوي.

الطيبين الطاهرين: دا دواړه الفاظ صفت واقع شوي د ال لپاره يا دا دواړه الفاظ په يوه معنى دي نو بيا دا تکرار د تاکيد لپاره شو او يا تأسيس مراد دی هغه داسي چې د هر يو معنى جدا شي چې د طيبين نه مراد پاکوالى د امراض باطنه ؤ نه شي او د طاهر نه مراد پاکوالى دهغه علل او امراض ظاهرؤ نه شي يعني چې دا صحابه د امراض باطنو او امراض ظاهرو څخه پاک دي. ۱۲ عبد الرشيد صافي عفى عنه.

و بعد فيقول العبد المتوسل الى الله تعالى باقوى الذريعة: **ترجمه**: او پس له حمد او صلوة نه وايي هغه بنده چې وسيله نيونکى دی الله جل جلاله ته په هغه قوي وسيلي سره.

تشريح: غرض د شارح د عبارت نه اظهار د عاجزي كوي الله ﷻ ته ځكه د عبد په لفظ كې خپل ځان الله ﷻ ته تسليمول او د الله ﷻ معبوديت منل داخل دي همدا وجه ده چې الله ﷻ په قرآن كې خپل محبوب پيغمبر د عبد په لفظ سره ځو ځايو كې ياد كړى دى، او بيا يې د خپل دعاء او د تصنيف د قبلولو په خاطر الله ﷻ ته وسيله ونيوله نو په دي كې هم اظهار د عاجزي دى چې يا الله ﷻ چې زه خو عاجز بنده يم ته زما دعاء په دي قوي ذريعي سره قبوله كړي. **المتوسل الخ** توسل نزديكت ته وايې او په دي كې اشاره شوه قبولو د دي امر د الله ﷻ ته چې **يا ايها الذين امنوا اتقوا الله و ابتغوا اليه الوسيلة**. ترجمه: اى د ايمان خاوندانو د الله نه وويريږئ او الله ﷻ ته وسيله ولټوى، بل په دي كې رد شو په منكرينو د وسيله باندي ځكه د ډيرو احاديثو څخه جواز د توسل په اعمال صالحوو او ذوات فاضلو سره معلوميږي.

باقوى الذريعة الخ د ذريعي نه مراد دلته وسيله ده صرف د قافيې لپاره يې ذريعه لفظ راوړه چې د شريعة د لفظ سره يې قافيه برابره شي.

د اقوى الذريعي نه مراد څه دى؟ د اقوي الذريعي نه دلته يا پيغمبر عليه السلام مراد دى يا تري قرآن مراد دى يا تري درود په نبي كريم ﷺ مراد دى او يا تري علم الشريعت مراد دى چې هغه شامل دى علم كلام او فقه او احكامو ته او يا تري صرف علم فقه مراد ده خو ليكن همدا غوره معلوميږي ځكه مصنف د همدي په تاليف كې لګيا دي او يا تري ذات او صفات د الله ﷻ مراد دى چې يا الله تعالى ستا د ذات او د صفاتو كنه او حقيقت څخه زه عاجز يم . ستا د ذات او صفاتو په بركت سره ته راضي شي او يا تري مراد دين اسلام دى يا تري مراد د ده خپل استاذ دى او يا تري مراد خپل مذهب حنفي دى او يا تري مراد ائمه مجتهدين دى خاص طور امام ابوحنيفه مراد دى . ۱۲ عبد الرشيد صافي.

عبيد الله بن مسعود بن تاج الشريعة الخ دا عطف بيان دى د عبد لپاره او يا دا خبر دى د مبتدأ محذوفي لپاره چې هو دى، عبيد الله د شارح رحمه الله نوم دى او لقب د ده صدر الشريعة الاصغر دى او د ده د نيكه د پلار لقب صدر الشريعة الاكبر دى او د عبيد الله د پلار نوم مسعود دى او د مسعود د پلار لقب تاج الشريعة دى او تاج الشريعة د هدايې شارح هم دى خو د تاج الشريعة په نوم كې اختلاف دى بعض علماء وايې چې د ده نوم عمر دى او بعضي وايې چې محمود دى سره د دي نه چې په دي د ټولو اتفاق دى چې د وقايه

دمصنف نوم محمود دی. خو د دغه مخکښې اختلاف نه یو بل اختلاف هم راپورته کیږي هغه داسې چې آیا مصنف د وقایې چې هغه تاج الشریعت دی جد صحیح دی د شارح لپاره او که جد فاسد دی د شارح لپاره، نو چې چا دا گمان کړی چې محمود عَلَم دی د تاج الشریعة لپاره نو هغه فیصله په دې کړې چې دا جد صحیح دی د شارح لپاره او چې چا دا فیصله کړې چې د تاج الشریعة نوم عمر دی نو هغه بیا دا گمان کړی چې محمود جد فاسد دی د شارح لپاره او ملقب دی په برهان الشریعة سره او دغه برهان الشریعة او تاج الشریعة بیا دواړه زامن د صدر الشریعة الاکبر دی نو د شارح سلسله د نسب داسې شوه چې عبید الله بن مسعود بن تاج الشریعة بن صدر الشریعة الاکبر بن عبید الله چې اخري سلسله حضرت عبادة بن صامت ﷺ ته رسیږي همدا وجه ده چې ده ته عبادي ویل کیږي. ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

سعد جدّه و انجح جدّه:

توضیح: سعد د باب د فتح یفتح څخه دی مصدر یې سَعْدًا او سَعَدًا او سعودًا هم راځي په معنی د برکت او نیکبختۍ سره او سَعِد یَسْعَد ماضي مکسور العین او مضارع مفتوح العین د باب علم یعلم نه هم راځي.

قوله جدّه الخ دا ایا په فتح د جیم سره دی په معنی د نیکه سره او په معنی د عظمت او بخت سره هم راځي لکه مونږ چې په لمونځ کې وایو **وتعالیٰ جدُّک** یعني لوی دی شان ستا نو دلته یعني په لمونځ کې چې کوم ویلی شي په معني شان او عظمت سره دی، او دا په کسرې د جیم سره دی نو بیا جِدّ په معنی د اجتهاد سره راځي یعني الله ﷻ دی د ده کوښښ او سعي چې په تالیف د دې شرح کې کوي د سعادت او نیک بختۍ سره یو ځای کړي.

و انجح جده: نو انجح یا په فتحې د همزې سره دی یعني صَار ذ انجاح ای ظفر یعني خاوند د کامیابۍ وګرځیده او یا په ضمې د همزې سره دی چې مأخوذ دی د نجحت حاجته نه ای قضیته ، یعني د ده حاجت پوره شوه.

جدّه: په دې کې هم هغه مخکښې دوه احتمالات دي فتحه د جیم او کسره د جیم په فتحې سره په معنې د نیکه سره یا په معنی د عظمت او شان سره او په کسرې د جیم سره په معنې د اجتهاد او کوښښ سره او دا جمله د ما قبل په شان هم دعائیه ده یعني الله ﷻ دې د ده کوښښ کامیابه کړي، عبد الرشید صافي عفی عنه..

هذا حل المواضع المغلقة من وقاية الرواية فى مسائل الهداية التى الّفها جدى و استاذى مولانا الاعظم استاذ علماء العالم برهان الشريعة و الحق و الدين محمود بن صدر الشريعة جزاه الله عنى و عن جميع المسلمين خير الجزاء لاجل حفظى:

ترجمه: دا ما حضر فى الذهن خلاصول دهغه ځايونو دي چې سخت دی د وقايې نه چې رانقل شوی په مسائلو د هدايه کې هغه هدايه چې تصنيف کړی زما نيکه او استاذ زما زمونږ لوی مشر استاذ د علماؤ د عالم حجت د شريعت او د حق او د دين دی چې هغه محمود ځوی د صدر الشريعة دی الله ﷻ دي ده لره بدله ورکړي زما له طرفه او د ټولو مسلمانانو له طرفه بهترينه بدله د دي تاليف د وجي د يادولو زما دي کتاب لره.

حل اللغات: حل يحل د باب د قتل نه په معنى د خلاصولو او ښکاره کولو سره.

المغلقة: هغه ځايونو او مباحث چې مشکل وي يعني په آسانه سره د دي څخه معنى نه معلوميږي.

وقاية: مصدر دی وقى يقى وقاية نه په معنى د حفاظت سره. **الرواية**: په کسرى د راء سره نقل ته وايي.

قوله مولانا الخ. د مولى اطلاق په معتِق په کسرى د تاء سره او په معتَق په فتحي د تاء سره دواړو باندي کيږي او کله په سيد او محب باندي هم د مولى اطلاق کيږي همدا وجه ده مونږ خپلو علماؤ ته مولانا او مولوي وايو

برهان: حجت ته وايي **شريعت**: په اصل کې ځای د اوبو څښلو ته وايي. **و فى الاصل مورد الشاربة، و قيل فعيلة من شرعت هذا الامر اى دخلت**. او بعضي وايي چې دا فعيل وزن دی او مأخوذ دی د شرعت هذا الامر نه په معنى د شروع کولو د يو کار او يا د شرع المنزل نه ده **اذا كان على طريق نافذ** کله چې په يوه لويه لاره وي بيا شريعت نقل شو هغه طريقي ته چې ثابته وی د نبي ﷺ نه او شريعت باندي اطلاق د دين هم کيږي دين په معني د طاعت سره او په معنى د جزاء سره راځي او حق مصدر دی د حق يحق حقًا نه په معنى د ثبوت سره حق د الله ﷻ په اسماؤ کې هم راځي او په دين باندي يې هم اطلاق کيږي.

لاجل حفظى الخ د اجار مجرور متعلق دی تر الفها پوري يعني تاليف د دي وقايې وکړو په دي خاطر چې زه دا ياده کړم. ۱۲ صافي.

و المولى المؤلف لما الفها سبقًا سبقًا و كنتُ اجرى فى ميدان حفظه طلقًا طلقًا حتى اتفق اتمام تأليفه مع اتمام حفظى انتشر بعضُ النُسخ فى الاطراف ثم بعد ذلك وقع فيها شيءٌ من التغيرات و نبذ من المحو و الاثبات.

ترجمه: او استاذ مؤلف چې کله دا وقايه تاليف کړه درسًا درسًا او زه ګرځيدم په ميدان د يادولو د دې کتاب کې ګردش ګردش او چکر چکر تردې پورې چې متفق شو پوره کول د تاليف د وقايې د پوره کولو د حفظ او يادولو زما سره نو خورې شوې بعضې نسخې په اطرافو کې بيا پس له دې نه واقع شو په دې وقايه کې څه شئ د تغير نه د مصنف له خوا نه او څه حصه د محو او اثبات نه.

تشريح: د مولى بيان مخکې تير شو. **سبقًا سبقًا**: د اس منډې او مسابقې ته ويلی شي خو دلته ترې مراد هغه درس دی چې شاګرد يې روزانه وايې يعنې زما استاذ د دې تأليف په تدريجي ډول سره روزانه په اندازه د سبق وکړو. **اجرى فى ميدان حفظه طلقًا طلقًا الخ**: اجرى د جَرى يجرى څخه دی په معنى د تګ کولو سره. **طلق** يو چکر ته وايې يعنې ما به دا وقايه يادوله څومره به چې مصنف رحمه الله تاليف کوله تردې پورې چې هغه د دې کتاب تاليف خلاصوو نو ما هم د دې کتاب حفظ خلاص کړ، **انتشر** دا جواب دی د لما الف لپاره يعنې مصنف رحمه الله چې هر کله د دې وقايې تصنيف وکړو نو بعضې نسخې د دې مسودې څخه په اطرافو کې خورې شوې بيا د دې انتشار څخه وروسته مصنف رحمه الله څه تغيرات لفظي او معنوي په دې مسوده کې راوستل. **و نبذ من المحو و الاثبات**: نبذ حصه ته وايې **محو**: ليرې کولو ته وايې او اثبات پرېښودلو ته وايې يعنې کوم الفاظ چې مناسب نه وو هغه يې ليرې کړ او کوم چې مناسب وو هغه يې پرېښود ۱۲ عبد الرشيد صافي.

فكتبتُ فى هذا الشرح العبارة التى تقرر عليها المتن لتغير النُسخ المكتوبة الى هذا النمط و العبد الضعيف لما شاهد فى اكثر الناس كسلا عن حفظ الوقاية اتخذتُ عنها مختصرًا مشتمل على ما لا بد لطالب العلم منه فأُفتتح فى هذا الشرح مغلقاته ايضًا ان شاء الله تعالى.

ترجمه: نو ما وليکله په دې شرح کې هغه عبارت چې ثابت دی په هغې باندې متن يعنې

بعض نسخ خو د تغیر نه مخکي خوري شوي وي خو ما دهغه عبارت شرح وکړه چې د تغیر نه بعد کوم متن اوس پاتي دی ځکه هغه مخکني نسخي چې کومي د تغیر نه مخکي لیکل شوي وي، هغي کې تغیر راغلی دغه طرز او طریق ته،نمط طرز او طریق وایې، **و العبد الضعیف** غرض د شارح د دي نه خپل ځان دی اظهار د عاجزي کوي یعني هر کله چې ما ولیده په اکثر خلکو کې یعني طالبانو کې سست والی د یادولو د وقایې نه نو ما د دي وقایې نه یو مختصر کتاب تصنیف کړ چې نن هغه مشهوره په مختصر الوقایې سره دی او داسي مختصر هم نه دی چې مقصود کې خلل واچوي بلکه مشتمل دی په هغه مسایلو باندي چې کوم طالب العلم ته دهغي نه خلاصی نه وي او زه به حل کوم او خلاصوم په دي شرح الوقایه کې هغه مشکل ځایونه د مختصر الوقایې هم انشاء الله تعالی ۱۲ صافي عفی عنه.

و قد کان الولد الاعز محمود برّد الله مضجعه بعد حفظ المختصر مبالغًا فی تالیف شرح الوقایة بحیث تنحل منه مغلقات المختصر فشرعتُ فی اسعاف مرامه فتوفاه الله تعالی قبل اتمامه فالمأمول من المستفیدین من هذا الکتاب ان لا ینسوه فی دعائهم المستجاب انه المیسر للصعاب و الفتاح لمغلقات الابواب.

ترجمه: او په تحقیق سره زما هغه محبوب او عزتمند ځوی محمود برد الله مضجعه الله جل جلاله دی د ده ارخ یخ کړی یعني الله دي د ده قبر ښایسته کړي د مضجع نه مراد قبر دی. پس له یادولو د مختصر الوقایې نه، زیاته مطالبه یې کوله په تصنیف د شرح الوقایې کې یعني هر وخت به ماته دي خپل ځوی ویل چې ته د شرح الوقایې تصنیف وکړه. **بحیث تنحل الخ**. په داسي شان چې خلاص او ښکاره شي په دي شرح سره هغه مشکل ځایونه د مختصر الوقایې نو ما هم شروع وکړه. **فی اسعاف مرامه** په پوره کولو د حاجت دده نه ځوی کې نو الله پاک زما دغه ځوی وفات کړ مخکې د پوره کیدو د مقصد او حاجت د خپل. **فالمأمول الخ**. د امل نه دی په معنی د امید سره یعني زه امید لرم دهغو کسانو څخه چې استفاده کوي د دي کتاب څخه طالبان دي او که علماء دي چې زما دغه ځوی په دعاء خپله کې چې الله ته مقبوله ده هیر نه کړي **انه المیسر الخ** همدا الله جل جلاله اسانه کوونکی دی د سختیو لپاره او خلاصونکی دی د بند دروازو لپاره، ۱۲ صافي

كتاب الطهارة

دا كتاب دى په بيان د پاكوالي كې

مصنف رحمه الله چې هر كله د خطبي څخه فارغ شو نو شروع يې وكړه په مقصود اصلي خپل باندي چې مسائل دي كتاب په لغت كې دا مصدر دى په معنا د جمع كولو كې لكه ويلى شي **كتبت الخيل اى جمعتها** يعني اسونه مې راجمع كړه او كتاب ته هم كتاب ځكه وايي چې په هغه كې حروف راجمع كيږي بيا د دي اطلاق په مكتوب باندي وشو لكه الله پاك فرمايي چې **ذلك الكتاب لا ريب فيه. آية ٢ سورة بقرة.** او كله كله په يو عرف خاص كې د بعض مكتوباتو پوري كتاب خاص شي لكه د نحاتو په عرف كې د كتاب اطلاق د سيبويه په كتاب باندي كيږي او د اصوليانو په عرف كې د كتاب اطلاق په قرآن كريم كيږي او اكثره مصنفين بيا خپل مقاصد د كتاب په عنوان سره ذكر كوي نو د دوى په نزد كتاب عبارت ده د طائفة من المسائل څخه. **الطهارة:** په فتح د طاء سره مصدر دى، په معني د نظافت او پاكوالي سره او طهارت په كسرى د طاء سره په معنى د الى د نظافت سره راځي او په ضمي د طاء سره هغه اوبو ته ويل چې كومو سره پاكوالى راځي او په اصطلاح كې طهارت عبارت دى د هغه نظافت نه چې د حدث او پليتي څخه وي. هر كله چې دا كتاب په علم فقه كې دى او علم فقه د افعالو د عبادو څخه بحث كوي او احوال د عبادو په دوه قسمه دي ١- عبادات. ٢- معاملات او عبادات. اولى دى په تقديم سره د معاملاتو څخه او په عباداتو كې بيا افضل او غوره لمونځ دى. ځكه لمونځ يو عمده ركن د اسلام دى نو مصنف د لمونځ مسائل مقدم كړ په نورو باندي خو بيا لمونځ مشروط دى او اودس ورته شرط دى او وجود د مشروط موقوف وى تر وجود د شرط پوره او ا هم چې د شرائطو د لمونځ نه مراد هغه طهارة دى چې شامل دى اودس او غسل او تيمم وغيرها لره نو مقدم كول د طهارت اولى دى نو ځكه مصنف وويل چې كتاب الطهارة

اكتفى بلفظ الواحد مع كثرة الطهارات لان الاصل أنّ المصدر لا يثنى و لا يجمع لكونها اسم جنس يشمل جميع انواعها و افرادها فلا حاجة الى لفظ الجمع.

ترجمه: اكتفى وكړه مصنف په لفظ د مفرد سره، سره د زيات والي د اقسام د طهارات نه ځكه اصل دا دى چې مصدر نه تثنيه كيږي او نه جمع كيږي ځكه دا اسم جنس دى، شامليږي

ټولو اقسامو خپلو ته او افرادو خپلو ته نو حاجت لفظ د جمعي ته نشته.

توضیح: غرض د مصنف رحمه الله د دي عبارت څخه دفع د یو **اعتراض ده هغه داسي چې** وقایه خو مأخوذ ده د هدایې څخه او په هدایه کې **طهارات په لفظ د جمع** سره راغلي **نو څه** وجه ده چې مصنف د هدایې د طریقي **څخه عدول وکړو، بل دا چې انواع د** طهارت زیات دي طهارت د بدن د جامو د ځان وغیره نو مناسب ؤ چې په لفظ د جمعي سره یې راوړی وی، نو مصنف د دي جواب وکړو چې ما د دي وجي نه اکتفی په لفظ د مفرد سره وکړه سره د دي نه چې د طهارت اقسام ډیر دي چې طهارت مصدر دی او اصل په مصدر کې دا دی چې نه تثنیه کیږي او نه جمع کیږي ځکه چې مصدر اسم جنس دی او د اسم جنس اطلاق په قلیل او کثیر باندي کیږي نو ټولو انواعو او افرادو د طهارت ته شاملیږي ځکه د کتاب لاندي دوه شیان دي. ۱-باب چې مشتمل دی په انواعو باندي ۲-فصل چې مشتمل دی په افرادو باندي نو حاجت د طهارت جمع کولو ته رانغی. ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

قال الله تعالی یا ایها الذین امنوا اذا قمتم الی الصلوة فاغسلو وجوهکم الایة. افتتح الکتاب بهذه الایة تیمنًا و لان الدلیل اصل و الحکم فرعه و الاصل مقدم علی الفرع باالرتبة.

ترجمه: الله تعالی فرمایي ای مومنانو کله چې تاسي اراده د پاسیدو وکړی لمانځه ته نو مخونه ووینځئ، الی اخر الایة مصنف رحمه الله شروع د کتاب په دي آیت سره وکړه، د وجي د برکت حاصلولو څخه او بل د دي وجي چې دلیل اصل وي او حکم فرع د دي وي او اصل مقدم دی په فرع باندي طبعًا او رتبةً.

تفسیر: دا آیت کریمه په سنه ۴ یا ۵ هجري قمري کې په غزوه بنی المصطلق کې نازل شوی په دي آیت کریمه سره الله پاک د دي امت لپاره د اوبو د نشتوالي په وخت یا د عدم قدرت په وخت کې تیمم روا کړی اما غسل او اودس د دي نه مخکې هم فرض وو، د کوم وخت نه چې لمونځ فرض شوی وو، لیکن د اودس فرض کیدل او د غسل فرض کیدل په صریحي طریقي سره په قرآن کې ذکر نه وو او بل دا خطاب نارینه او زنانه ؤ ټولو ته شامل شو نو ترجمه د آیات کریمه دا شوه چې ای مومنانو کله چې تاسو اراده د اودریدلو وکړی لمانځه ته او تاسو بي اودسه وی **فاغسلو وجوهکم** نو هر یو دي له تاسو څخه خپل مخ ومینځي **و ایدیکم** دا

عطف دی په وجوهكم باندي يعني تاسو لاسونه ومينځئ **الى المرافق** تر څنګلو پوري په دي كې غايه په مغيا كې داخله ده په نزد د جمهورو **و امسحوا برؤسكم الخ** دا عطف د جملي دی په جمله باندي يعني خپله سرونه مسح كړئ په خپلو لاسو سره **و ارجلكم الى الكعبين** ، په دي كې دوه قرأته دي اول د نافع او ابن عامر او كسائي او يعقوب او حفص د دوی په قرأت كې په نصب د لام سره يعني ارجلكم كې لام به منصوب وي دويم قرأت د نورو قراء دي چې هغوی يې په جر د لام سره وايي اما د نصب په قرأت سره په ظاهر كې دا معلوميږي چې د پښو وينځل فرض دي ځكه ارجلكم عطف دی په وجوهكم باندي خو احتمال د مسح هم لري چې ارجلكم عطف شي په محل د رؤسكم او د دويم قرأة نه ظاهراً دا معلوميږي چې مسح د رجلينو فرض ده ځكه په دي صورت كې عطف دی په رؤسكم باندي خو احتمال د افادي د غسل هم لري هغه داسي چې دا عطف شي وجوهكم باندي او دا جر دی د وجي د جوار نه وي همدا وجه ده چې په دي كې اختلاف دی جمهور علماء په فرضيت د غسل د رجلينو قائل دي چې قرأت د نصب به حمل وي په فرضيت د غسل باندي او قرأت د جر به حمل وي په مسح على الخفين باندي كه څوک دا ووايي چې تاسو وايی ارجلكم عطف دی په وجوهكم باندي نو په كار خو بيا دا ده چې ارجلكم د وامسحو نه مخكي ذكر شوی وی نو د دي جواب دا دی چې ارجلكم د دي لپاره وروسته ذكر شو چې د اوداسه ترتيب تري معلوم شي كه ارجلكم مخكې ذكر شوی وی نو بيا ترتيب د اودس تري نه معلوميده. او شيعه فرقه عمل په قرأت د جر باندي كوي هغوی په پښو باندي مسح كوي خو دهغوی عمل د فعل د رسول الله ﷺ نه او د فعل د صحابوو څخه مخالف دی لكه ملا جيون په خپل تفسير تفسير احمدي كې ورته اشاره كړي **و قوله تعالى و ارجلكم الى الكعبين اختلفوا فى اعراب ارجلكم فالاصح الحق الحقيق هو النصب بانه عطف على وجوهكم و ايديكم فيكون داخلا تحت الغسل لا كما زعمت الروافض معاذ الله من ذلك لانه خلاف فعل الرسول و الصحابة و قد صح انه عليه السلام رأى قومًا يمسحون على ارجلهم فقال ويل للاعقاب من النار و عن عمر انه رأى رجلا يتوضاء فترک باطن قدميه فامره ان يعيد الوضوء و عن عطاء و الله ما علمت احدًا من اصحاب النبى ﷺ مسح على القدمين و قيل**

انما عطف على الممسوحات لان الارجل من بين الثلاثة يغسل بصب الماء عليها و كانت منطنه للاسراف المنهى عنه فعطف عليها للتنبيه على انه ينبغى ان يقصد فى صب الماء , يغسل غسلاً يقرب من المسح و قيل الى الكعبين ازالة الظن من يحسبها ممسوحة لان المسح لم يضرب له غاية فى الشريعة.

و عن الحسن انه جمع بين الامرين على ما فى الكشاف و قيل ان قرأة النصب يدل على الغسل و قراة الجر يدل على المسح فجمع بينهما فيحمل الاولى على بادى الرجل و الثانية على لابس الخف على ما اورده الامام الزاهد و بهذا يظهر ان الجر ان كان لغير الجوار فههنا تقدير اى امسحوا بارجلكم اذا لبستم الخفين (تفسير احمد ۳۲۶-۳۲۷)

ترجمه: دا قول د الله تعالى و ارجلكم الى الكعبين: اختلاف كړى علماؤ په اعراب د ارجلكم كې نو صحيح او حق او ثابته خبره نصب ده چې دا عطف شي په وجوهكم او ايديكم باندې نو دا به داخل شي د غسل لاندې نه داسې لكه څرنګه چې يې روافض يعني شيعه فرقه ګمان كوي د الله په نامه سره د دې نه پناه غواړو ځكه دا خبره د دوى د پيغمبر ﷺ د فعل او د صحابوو د فعل ځخه مخالفه ده او په تحقيق سره صحيح ثابته ده چې نبي عليه السلام يو قوم وليده چې هغوى په خپلو پښو باندې مسح كوله نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې هلاكت دې وي پوندو ته د اور د جهنم نه او د حضرت عمر ﷺ په باره كې روايت دى چې ده يو سړى وليده چې اودس يې كاوه او د پښو لاندې حصه يې پريښوده نو حضرت عمر ﷺ ورته امر وكړ چې اودس بيا دوباره وكړه. او د عطاء ﷺ نه روايت دى چې وايې چې قسم په الله ﷻ چې ماته يو صحابي هم د اصحابو د نبي ﷺ نه معلوم نه دي چې هغوى په پښو باندې مسح كړي وي او بعض علماء وايې چې د ارجل عطف يې په ممسوحاتو ځكه وكړ چې ارجل د دريواړو اندامونو په مينځ كې په داسې طريقې وينځلى شى چې اوبه پرې واړولى شي نو په دې كې ګمان او احتمال دهغه اسراف ؤ چې دهغې نه منع شوي نو عطف د ارجل يې په رؤسكم باندې د دې په خاطر وكړ چې تنبيه په دې خبره شي چې د پښو په وينځلو كې دا مناسب ده چې درميانه والى وشي او په داسې اندازه ومينځلى شي چې مسح ته نزدې وي او بعض علماء وايې چې قيد دالى الكعبين د اګمان ختموي چې څوک وايې چې پښې به

مسحه کولی شي ځکه د مسح لپاره په شريعة مطهره کې څه غاية نشته او حسن دا وايي چې دلته جمع بين الامرين راغله چې هغه غسل او مسح دی لکه څرنګه چې په تفسير کشاف کې دي او دا ويل شوي چې قرأة د نصب دلالت په وينځلو کوي او قرأة د جر دلالت په مسح کوي نو د دواړو ترمنځ جمع والی راوستلی شو نو اول قرأة به حمل کولی شي په لوڅو پښو باندي او دويم به حمل کولی شي په موزو اغوستونکي باندي يعني که موزي نه وي نو پښي به ومينځي او که موزي يې اغوستي وي نو مسح به پرې وکړي لکه څرنګه چې امام زاهد دا خبره کړي او په دې خبره سره دا هم ښکاره شو چې جر که د غير جوار د وجي څخه ؤ نو په دې کې به بيا تقدير وي ای امسحو ارجلکم اذا لبستم الخفين يعني تاسو مسح په پښو وکړی کله مو چې موزي واغوستلي. تفسير احمد صفحه ۳۴۶- ۳۴۷ . او په فقه حنفي کې هم دې ته ورته مسئله ده چې عبارت يې دا ده **فالسنة الغسل لا المسح و هو قول الجمهور و لم يثبت عند احد من الصحابة المسح الا عند علیؓ و ابن عباس و انس و قد ثبت عنهم الرجوع عن ذلک. (فقه حنفی ج ۱ صفحه ۳۶)** ترجمه: نو سنت وينځل دي نه مسح او دا د جمهورو قول دی او يو صحابي نه هم مسح د پښو ثابته نه ده مګر صرف د حضرت علي رضی الله عنه او عبد الله بن عباس او حضرت انس ﷺ څخه خو د دوی رجوع د پښو د مسح څخه هم ثابته ده (فقه حنفي ج ۱ صفحه ۳۶)

او قاضي صاحب ثناء الله په خپل تفسير کې هم په دې کې اوږد بحث کړی خو زه دهغه د عبارت د نقلولو څخه معذرت غواړم ځکه عبارت يې ډير اوږد دی او صرف دهغه ترجمه رانقلوم **والله المستعان و منه التوفيق و اليه المصير.** و ارجلکم قرأة د دي نافع او ابن عامر او کسائي او يعقوب او حفص په نصب سره کړی دی او معطوف دی په ايديکم باندي د وجي دقريني چې هغه غايه مقرريدل دي چې دا قول د الله تعالی دی چې الی الکعبين ځکه غايه په ممسوح کې نه شي مقرريدلی لکه سر او اعضاء د تيمم بلکه د مغسولاتو لپاره مقرريدل شي او اماميه فرقه وايي چې ارجلکم عطف دی په رؤسکم باندي او حق د دي جر دی او د نصب لپاره يې ډير کمزوری توجيهات ذکر کړي دي، او زمونږ لپاره دليل د روايت د ابن خزيمه وغيره ده، د حديث عمرو بن عنبسة د نبي کريم صلی الله عليه و سلم څخه چې اوږد حديث دی په فضيلت د اوداسه کې او په هغه کې دا ذکر دي چې بيا به پښي ومينځي لکه څرنګه

چې الله ﷻ ورته امر کړی دی نو دا حديث دلالت په دي کوي چې الله تعالی امر او حکم په وينځلو د پښو کړی نه په مسح د پښو او په تواتر سره د نبي عليه السلام څخه نقل دي او روايت د حديث د غسل د رجلينو دومره سړو کړی چې دهغو شمار ممکن نه دی او نه احتمال شته ده، چې دوی په دروغو سره موافقت وکړي او د پيغمبر عليه السلام نه د مسح بالکل روايت نشته د ټولو صحابه وو په دي اجماع ده او يو کس هم د دي څخه مخالف نه دی مگر صرف کوم روايت چې د حضرت علي ﷺ څخه او د عبد الله بن عباس ﷺ او د انس ﷺ څخه راغلی خو دهغوی رجوع د مسح نه غسل د رجلينو ته هم ثابته ده همدغسي حافظ ابن حجر د حضرت علي ﷺ نه روايت کړی چې حضرت علي ﷺ به ارجلکم په نصب سره لوستلو او حافظ ابن حجر وايي چې حضرت علي ﷺ غسل ته رجوع وکړه دا روايت سعيد بن منصور او ابن المنذر او ابن ابی حاتم کړی دی، او د ابو عبد الرحمن السلمي څخه دا روايت دی چې قرأت وکړ حسن ﷺ او حسين ﷺ د ارجلکم الی الکعبين نو حضرت علي ﷺ دا واوريدو په داسي حال چې د خلکو منځ کې يې فيصله کوله او ويې ويل چې د ارجلکم چې دا کلام کې تقديم او تأخير دی يعني ارجلکم اگر چې لفظًا مؤخر دی خو رتبةً مقدم دی د دي حديث اخراج ابن جرير کړی دی له ابی عبد الرحمن نه دی وايي چې عبد الرحمن بن ابی ليلی وايي چې اصحابو د نبي ﷺ اجماع کړي په وينځلو د پښو باندي دا حديث سعيد بن منصور روايت کړی دی او اخراج کړی ابن ابي شيبة د حکم نه چې جاري ده سنت د نبي عليه السلام نه او د مسلمانانو په وينځلو د پښو باندي او اخراج کړی ابن جرير د عطاء نه دی وايي چې هيچا جواز ندی ورکړی مسح ته په قدمينو ا و طحاوي او ابن حزم دا دعوه کړي چې مسح منسوخ ده او روايت کړی ابن جرير د انس ﷺ نه چې قرآن نازل شوی په مسح باندي او حديث په غسل باندي او دا قول دلالت په دي کوي چې ظاهر د قرآن دلالت په مسح کوي لکن عمل د رسول الله ﷺ غسل ؤ خو دا له سره ممکن نه ده مگر هلته چې مراد په قرآن سره همدا غسل شي او يا حکم د قرآن منسوخ شي.

او زمونږ لپاره همدارنگه حديث د عبدالله بن عمر ﷺ دی فرمايي چې پيغمبر عليه السلام زمونږ نه په يو سفر کې وروسته پاتي شو په داسي وخت کې چې مونږ رالاندي کړو چې مونږ باندي د لمونځ وخت راغلی وو او مونږ اودس کاوه او شروع شو چې په پښو باندي مو مسح کوله نو نبی عليه السلام په اوچت اواز سره وويل چې هلاکت دی پوندو لره د اور د جهنم نه دا حديث بخاري او مسلم روايت کړی او روايت دی د ابو هريرة نه چې

ابو هريرة په يو قوم تيريدو هغوی اودسونه کول نو ابو هريرة ﷺ ورته وويل چې اودسونه پوره کړی بيشکه ما د نبي کريم صلی الله عليه و سلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل به يې چې هلاکت دیٔ پوندو لره د جهنم نه (متفق عليه) او روايت د ويل للاعقاب من النار کړی حضرت جابر ﷺ، بي بي عائشي ؓ او دوی دليل نيولي په هغه روايت باندي چې اويس بن ابي اويس کړی فرمايي چې ما وليده نبي عليه السلام چې اودس يې وکړو او مسح يې وکړه په پښو باندي (يعني موزو باندي چې لاندي طرف يې نعل وي) بيا اودريدو لمونځ ته او روايت کړی ابوداؤد او وييې فرمايل چې په قدمونو باندي مسح وکړه مونږ وايو چې د دي مطلب دا دی چې مسح يې وکړه په هغو دوه نعلينو باندي چې په قدمينو باندي يې احاطه کړي وه نو په دي نعلينو يې مسح وکړه لکه څرنګه چې په موزو باندي مسح کولی شي که څوک ووايې چې روايت کړی هيثم د يعلیٰ نه او په دي کې يې ويلي چې اودس يې وکړو او مسح يې وکړه په پښو باندي نو مونږ جواب کوو چې احمد ويلې چې هيثم له يعلی نه له سره سمع نه ده کړي او هغه به تدليس کاوه نو کيداشي چې د بعض کم عقلو څخه يې اوريدلي وي او بيا له منځ نه ساقط شوي وي او يا د دي معنی دا ده چې مسح يې وکړه پښو باندي او دا پښي په موزو کې وي (مظهري صفحه ۴۷ - ۴۸ - ۴۹ ج ۳ سورة مائدة).

قوله افتتح الخ. شارح رحمه الله لفظ د افتتح وويل او ابتدأ يې ونه ويل لپاره د تفاؤل او د بشارت طالب العلم لره په فتح او کاميابي سره او غرض د شارح ؒ په دي عبارت سره دفع د يو اعتراض ده چې په مصنف وارديږي هغه داسي چې د عنوان د کتاب الطهارت نه دا معلوميږي چې د طهارت متعلق به مسائل بيانيږي نو د آيات راوړلو ته څه ضرورت وو او بل دا چې د الکتاب لفظ وضع شوی لپاره د ذکر د مسائل فقهي، نه لپاره د ذکر د دلايلو نو څه وجه ده په راوړلو د آيت کې چې هغه د دلايلو څخه دی. نو د دي اعتراض څلور جوابه دي چې دوه شارح ذکر کړي او دوه نور به زه د محشي د قول څخه ذکر کړم ۱- جواب: **افتتح الکتاب بهذه الاية تيمنًا**: چې مصنف رحمه الله د دي کتاب شروع په آيت سره، لپاره د برکت حاصلولو وکړه. ۲- جواب: **و لان الدليل الخ** يعني دا آيت دليل دی د راتلونکو احکامو لپاره او دليل اصل وي او حکم ورته فرعه وي او اصل مقدم دی په فرعه باندي رتبةً او طبعًا نو مونږ آيت هم مقدم کړ په احکامو چې وضع مطابق شي د طبع سره، دا د شارح دلائل وو. ۳- جواب: د دي آيت په راوړلو کې اشاره ده دي خبري ته چې فقيه ته مناسب دي چې د ده خبره په

دليل بنا وي ځکه کوم کس چې ملکه د استنباط د دليل څخه نه لري نو هغه ته فقيه نه شي ويلى ۴- جواب: چې حکم هلته مقبول وي چې کله ثابت وي د دليل شرعي نه ځکه د رأى لپاره په حکم کې څه مدخل نه وي نو مصنف شروع په آيت وکړه د دي لپاره چې دا وروستني مسائل د اول حالت نه د طالب العلم په ذهن کې مقبول شي. ۱۲ صافى عفى عنه.

ثم لما كانت الاية دالةً على فرائض الوضوء ادخل فاء التعقيب في قوله ففرض الوضوء غسل الوجه من الشعر اى قصاص شعر الرأس و هو منتهى منبت شعر الرأس الى الاذن فيكون ما بين العذار و الاذن داخلاً في الوجه كما هو مذهب ابي حنيفة و محمد فيفرض غسله و عليه اكثر مشائيخنا.

ترجمه: بيا چې هر کله ايات دلالت کوونکى وو په فرايضو د اوداسه باندي نو داخله يې کړه فاء د تعقيب په دي قول کې چې ففرض الوضوء يعني فرض د اوداسه چې دي نو وينځل د مخ دي دهغه ځاى د شنه کيدو د ويښتانو د سر نه چې هغه آخرى ځاى د شنه کيدو د ويښتانو د سر دي تر غوږونو پوري نو هغه ځاى چې د اننگي يعني غومبورو او د غوږونو ترمينځ دى هغه داخل دى په مخ کې لکه څرنگه چې دا مذهب د امام ابوحنيفة او د امام محمد رحمه الله دى نو فرض دي وينځل د دغه ځاى او په همدي باندي دي اکثره علماء حنفي زمونږه.

تفصيل: غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت څخه بيان د وجهي د داخلولو د مصنف دى فاء لره يعني چې مصنف دا فاء په دي قول کې چې ففرض الوضوء د څه وجې څخه داخله کړه نو شارح وويل چې هر کله دي آيات دلالت کولو په فرائضو د اوداسه باندي نو فاء د تعقيب يې داخله کړه په دي قول چې ففرض الوضوء د دي لپاره چې دا فاء دلالت وکړي په دي خبره چې ما بعد د فاء څخه مرتب دى په ما قبل باندي. **قوله على فرائض الخ** غرض د شارح د دي قول نه دا دى چې په دي کې اشاره ده دي قول د مصنف ته په راروان عبارت کې و سننه و مستحبه چې دا عطف نه دى په دي باندي چې فرض الوضوء ځکه دا آيات دلالت نه کوي په سنتو او مستحبو د اوداسه باندي تردي چې فاء د تعقيب پري داخله شي. بل دا يادوه سرنوٓ جملي دي او يا عطف دى په دي قول باندي چې ففرض الوضوء قوله ففرض الوضوء الخ نو فرض د اوداسه وينځل د مخ دي د خاص د شنه کيدو د ويښتانو د سر نه. **و هو منتهى الخ** دا تفسير د قصاص دى يعني قصاص وايي هغه آخرى ځاى د شنه کيدو د ويښتانو ته تر غوږو

پوري. العذار اننگي يا غومبوري ته وايي نو د غوږ او اننگي ترمنځ ځاى په مخ وينځلو کې داخل دي لکه دا د امام ابوحنيفة رحمه الله او امام محمد رحمه الله مذهب دى نو وينځل د دغه ځاى فرض دي او دا د اکثره علماؤ رايه ده ١٢ عبد الرشيد صافي عفى عنه.

و ذكر شمس الائمة الحلوانى يكفيه ان يَبُلَّ ما بين العذار و الاُذُن و لا يجب اسالة الماء عليه بناءً على ما رُوى عن ابى يوسف ان المصلى اذا بَلَّ وجهه و اعضاء وضوئه با الماء و لم يسل الماءُ عن العضو جاز لكن قيل تأويله انه سال من العضو قطرةٌ او قطرتان و لم يتدارك و اسفل الذقن فتم حدود الوجه من الاطراف الاربعة.

ترجمه: او ذکر کړى شمس الائمة الحلواني چې کافي ده چې لوند کړي هغه ځاى چې د اننگو او د غوږ ترمينځ دى او واجبه نه دى بيول د اوبو په هغه باندي د وجي د بناء نه په هغه روايت باندي چې د امام ابو يوسف رحمه الله څخه راغلى چې لمونځ کوونکى کله چې خپل مخ لوند کړي او د اوداسه اندامونه په اوبو باندي او اوبه د اندام نه و نه بهيږي نو دا جائز ده لکن بعض علماء وايي چې د امام ابو يوسف د خبري تاويل دا دى چې د اندام نه يو څاڅکى يا دوه څاڅکي وبهيږي خو پرلپسي ونه بهيږي. او تر لاندي د ذني پوري نو حدود د مخ پوره شول د څلورو طرفونو نه.

تشريح: په **تسيل الماء من الاعضاء** يعني د اندام د وينځلو په وخت کې د اندامونه اوبه بهيدلو کې دري مذهبه دي ١-مذهب د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله دى دوى وايې چې معتبر په غسل کې بهيول او څڅيدل د اوبو دي په ټولو هغو اندامونو کې چې وينځلى شي او د دي په اجزاؤ کې او مابين العذار و الاذن داخل دى په مخ کې نو د دي وينځل هم داسي فرض دي لکه د نورو اندامونو وينځل چې فرض دي. ٢-قول د امام ابي يوسف رحمه الله دى دا وايې چې په غسل کې صرف لوندوالى کافي دى او بيول د اوبو ته ضرورت نشته. او مابين العذار والاذن داخل نه دي په مخ کې نو د دي لوندوالى هم فرض نه دى. ٣-قول د شمس الائمة الحلواني دى دا وايې چې معتبر په وينځلو د مخ کې او وغيره کې بيول د اوبو دي مگر مابين العذار و الاذن سره د دي نه چې دا په مخ کې داخل ده خو بيا هم د دي لپاره صرف لوندوالى کافي دى خو مغتى به په دي کې اولنى قول دى ځکه اهل لغت ټول په دي

متفق دي چې غَسل کې امرار او اسالت د اولو معتبر دی او صرف لوندوالي ته غَسل نه شي ویلی همدارنګه اهل اللغة تفسیر د وَجَهَ کړی په **بما تقع به المواجهة** یعني په کوم اندام سره چې ته بل ته مخ کوي او مابین العذار و الاذن کې هم همدا معنی موجوده ده نو دا هم په وجه کې داخل شو. **بناءً علی ما روی عن ابي یوسف الخ** د حلواني صاحب خبره مبني ده په قول د امام ابویوسف باندي هغه داسي چې کله لمونځ کوونکی خپل مخ او نور اندامونه د اوداسه په اوبو سره لوند کړي او اوبه د اندام څخه ونه بهیږي نو دا هم جائز ده لکه بعض د امام ابو یوسف په قول کې تأویل کوي چې د ده د خبري مطلب دا دی چې د اندام نه یو څاڅکی یا دوه څاڅکي اوبه وڅخیږي خو پرلپسي ونه بهیږي نو که دا تاویل مراد شي نو بیا د حلواني صاحب خبره صحیح نه ده چې دی خپل قول او مذهب د امام ابو یوسف په قول باندي بناء کوي بلکه د امام ابویوسف قول د امام ابوحنیفة د قول او مذهب مطابق دی. **و اسفل الذقن الخ** او تر لاندي حصي د زني پوري نو حدود د مخ د څلور اطرافو نه مکمل شول چې د قصاص الشعر نه تر اسفل الذقن پوري او د یو غوږ نه تر بل غوږ پوري ټول مخ وینځل فرض شول ۱۲ عبدالرشید صافي عفی عنه.

ثم عطف علی الوجه قوله و الیدین و الرجلین مع المرفقین و الکعبین خلافًا لزفر رحمه الله فان عنده لا یدخل المرفقان و الکعبان فی الغَسل لان الغایة لا تدخل تحت المغیا و نحن نقول ان کانت الغایة بحیث لو لم تدخل فیها کلمة الی لم یتناولها صدر الکلام لم تدخل تحت المغیا کاللیل فی الصوم و ان کانت بحیث یتناولها صدر الکلام کالمتنازع فیه تدخل تحت المغیا.

ترجمه: بیا عطف کړی مصنف رحمه الله په وجه باندي دا قول خپل چې وینځل د لاسونو او د پښو سره د څنګلو او د ښنګرو خلاف ثابت دی امام زفر لره ځکه د امام زفر رحمه الله په نزد نه داخلیږي څنګلي او ښنګري په وینځلو کې ځکه غایه نه داخلیږي لاندي د مغیا نه او مونږ وایو چې که غایه په داسي شان وه چې که چیري په دي غایه باندي کلمه دالي داخله نه شي نو نه شاملیږي دي غایې ته صدر د کلام چې مغیا ده نو داخله به نه شي لاندي د مغیا نه لکه شپه په روژه کې او که غایه په داسي شان وه چې شاملیده دي غایې ته صدر د کلام لکه په دغه متنازع فیه مسئله کې چې الی المرافق دی نو داخله به شي لاندي د مغیا نه.

تشریح: دویم د فرائضو د اوداسه نه د لاسونو وینځل دي تر څنګلو پوري او ۳- دریم فرض د اوداسه د پښو وینځل دي تر ښنګرو پوري نو څنګلي او ښنګري په فرضیت کښې داخل دي ځکه غایه په مغیا کښې داخله ده لکه په روایت د حضرت جابر رضی الله عنه کښې چې نبي کریم صلی الله علیه و سلم به چې کله اودس کولو نو اوبه به یې په څنګلو اچولي (اخرجه الدارقطني و البیهقی) لکن امام زفر رحمه الله وائی چې مرفقان او کعبان په غسل کښې داخلي نه دي ځکه مرفقان او کعبان غایه د غسل ده او غایه په مغیا داخله نه وي. **و نحن نقول** غرض د شارح د دي عبارت نه اثبات د مذهب مختار دی او رد دی په امام زفر رحمه الله باندي هغه داسي چې د مطلق غایې دخول هم ممنوع دی او د مطلق غایې عدم دخول هم ممتنع دی بلکه دي کښې تفصیل دی که غایه د جنس د ما قبل نه وه لکه مرافق چې د جنس د اید څخه دی نو غایه به په مغیا کښې داخله وي او که غایه د جنس د ماقبل څخه نه وه لکه لیل چې د جنس د صوم څخه نه دی نو بیا به غایه داخله نه وي.

بناءً علی ان للنحویین فی الی اربعة مذاهب الاول دخول ما بعدها فیما قبلها الا مجازًا و الثاني عدم الدخول الا مجازًا و الثالث الاشتراک و الرابع الدخول ان کان ما بعدها من جنس ما قبلها و عدمه ان لم یکن فهذا المذهب الرابع یوافق ما ذکرنا فی اللیل و المرافق و اما الثلاثة الاول فالاول یعارضه الثاني فتساویا و الثالث اوجب التساوي ایضًا فوقع الشک فی مواقع استعمال کلمة الی ففی مثل صورة اللیل فی الصوم انما وقع الشک فی التناول و الدخول فلا یثبت التناول با الشک و فی مثل صورة النزاع انما وقع الشک فی الخروج بعد ما ثبت تناول صدر الکلام و الدخول فیه فلا یخرج با الشک و ما ذکروا انها غایة الاسقاط فمشهور فی الکتب فلا نذکره.

تشریح: دا تفصیل بنا دی په دي باندي چې نحویانو لپاره په الی کښې څلور مذاهبه دي ۱- داخلیدل د ما بعد دالی په ما قبل کښې مګر مجازًا نه داخلیږي ۲-دویم عدم دخول د مابعد دي په ماقبل کښې مګر مجازًا به داخلیږي. ۳-دریم اشتراک دی په مابین د دخول او عدم دخول کښې ۴-څلورم دخول د مابعد په ماقبل کښې که ما بعد د جنس د ماقبل څخه ؤ او عدم دخول د ما بعد په ماقبل کښې که ما بعد د جنس ماقبل څخه نه وو نو دا څلورم مذهب موافق

دی دهغي خبري چې مونږ ذکر کړه په لیل او مرافق کې اما دري اولني چې دي نو په هغو کې اول معارض دی د دویم سره نو دواړه یو برابر شول او دریم مذهب هم مساوات راوسته نو شک راغی په مواقعو د استعمال د کلمي دالي کې نو په مثل د صورة د لیل په صوم کې شک راغی په شمول او دخول د مابعد په ما قبل کې او په شک سره نه داخلیږي او په نزاعي صورت کې چې هغه دخول د مرافق دی په ایدي کې نو شک راغی په خروج کې وروسته دهغه نه چې ثابت دي شمول د صدر د کلام او د دخول په دي کې نو په شک سره نه وځي او که خبره چې علماء ذکر کوي چې دا غایة الاسقاط ده نو هغه مشهور ده په کتابو کې مونږ یې نه ذکر کوو.

التفصیل: غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت نه وضاحت د ماقبل دی چې مخکې اختلاف مبني دی په دي چې په الی کې څلور مذهبونه دي ۱-چې ما بعد د الی نه داخل وي په ما قبل د الی کې چې مغیا دی مګر مجازاً داخل نه وي هغه داسې چې کله یوه داسې قرینه موجوده شي چې د دخول نه یې منع کوي نو په دي صورت کې به بیا داخل نه وي دا مذهب د بعضو نحاتو دی. ۲-دویم مذهب د اکثر نحاتو دی چې ما بعد د الی به داخل نه وي په ما قبل کې خو مجازاً به داخل وي هغه داسې چې داسې یوه قرینه موجوده شي چې تقاضا د دخول کوي نو بیا به داخل وي ۳-دریم مذهب د اشتراک دی چې ما بعد دالی به په دخول او عدم کې مشترک وي ، ۴-مذهب دا دی چې ما بعد د الی نه به داخل وي په ما قبل د الی کې که چیرته ما بعد ددی د جنس د ماقبل څخه وو، او که چیرته ما بعد د الی د جنس د ماقبل د الی څخه نه وو، نو بیا به ما بعد د الی په ماقبل د الی کې داخل نه وي نو دا څلورم مذهب زمونږ د خبري سره موافق دی په لیل او مرافق دواړو کې ځکه چې هر کله لیل د جنس د ماقبل څخه چې صوم دی نه دی نو لیل په صوم کې هم داخل نه شو او هر کله چې مرافق د جنس د ماقبل څخه چې ایدي دی دی نو مرافق په ایدي کې هم داخل شو. **واما الثلاثة الاول الخ** غرض د شارح د دي عبارت څخه دفع د یو اعتراض ده چې. په دي نورو دریو باقیو مذاهبو باندي ولې عمل ونه شو نو شارح جواب وکړو چې په دري اولنیو کې اول د دویم سره معارض دی هغه داسې چې یو کې دخول دی مګر مجازاً دخول نه او په بل کې عدم دخول دی خو مجازاً نه نو دواړه په دخول او عدم دخول کې سره مساوي شول او په دریم کې هم مساوات دی ځکه په دي کې هم دخول او عدم دخول یو برابر دی نو دلته اوس شک راغی په مواقعو د استعمال د کلمي د الی کې نو په صورة دات لیل فی الصوم کې شک راغی چې آیا

ما بعد د الی نه چې لیل دی دا به داخل وي په ما قبل کې چې صوم دی او په شک سره دخول او شمول نه راخي او په دي نزاعي صورة کې چې ایدیکم الی المرافق دی دلته دخول او شمول ثابت دی. ځکه چې مرافق د جنس د اید څخه دی خو شک په خروج کې دی چې آیا ما بعد د الی چې مرافق دی دا به خارج وي د ما قبل د الی نه چې ایدیکم دی او په شک سره غایه د مغیا څخه نه خارجیږي. **و ما ذکروا انها غایة الخ** شارح رحمه الله فرمایي چې هغه دلیل چې کوم اصولیان ذکر کوي لپاره د رد په امام زفر رحمه الله باندي چې هغه داسي که ما بعد د الی داخل وو په ما قبل د الی کې نو بیا دا غایه د اسقاط د ماوراء لپاره راخي لکه مرافق چې داخل دی په اید کې نو د مرافقو نه اخوا اندام د غسل څخه ساقط دي او که ما بعد د الی په ما قبل کې داخل نه وو نو بیا به غایه د مد د حکم لپاره وي یعني د صوم حکم به تر لیل پوري وي او لیل به په کې داخل نه وي نو شارح وایي چې دا خبره د اصولو په کتابونو کې مشهوره ده نو د دي وجي ما ذکر نه کړه او اکتفاء می صرف په مخکې د لیل وکړه ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

ثم الکعب فی روایة هشام عن محمد هو المفصل الذی فی وسط القدم عند معقد الشراک لکن الاصح انها العظم الناتی الذی ینتهی الیه عظم الساق و ذلک لانه تعالی اختار لفظ الجمع فی اعضاء الوضوء فارید بمقابلة الجمع بالجمع انقسام الاحاد علی الاحاد و اختار فی الکعب لفظ المثنی فلم یمکن ان یراد به انقسام الاحاد علی الاحاد فتعین ان المثنی مقابل لکل واحد من افراد الجمع فیکون فی کل رجل کعبان و هما العضمان الناتیان لا معقد الشراک فانه واحد فی کل رجل.

ترجمه: بیا ښنګري په روایت د هشام کې د امام محمد رحمه الله نه هغه بند دی چې په مینځ د قدم کې دی د ځای د تړلو د تسمي د څپلی سره لیکن صحیح خبره دا ده چې دا هغه اوچت هډوکی دی چې د پنډۍ هډوکی ورته رارسیږي دا ځکه چې الله تعالي غوره کړی لفظ د جمع په اندامونو د اوداسه کې نو مراد په مقابلې د جمع کې د جمع سره تقسیم د احاد دی په احاد باندي او په کعب کې الله تعالی غوره کړی لفظ د تثنیې نو ممکنه نه ده چې مراد په دي سره تقسیم د احاد په احاد راشي نو معلومه شوه چې مثني مقابل ده د هر واحد د افرادو د جمع سره نو په هر پښه کې دوه ښنګري راغلل او دا دوه ښنګري هغه اوچت هډوکي دي نو هغه ځای دتړولو د تسمي د څپلی ځکه دا بند په هر پښه کې یو یو دی.

التوشيح: غرض د شارح رحمه الله په دي عبارت سره شروع ده په تفسير د ارجلكم الى الكعبين كې چې پښي ومينځي تر ښنګرو پوري نو د كعب څخه څه شئ مراد دى په روايت د هشام كې د امام محمد څخه راغلي چې د كعب نه مراد هغه بند دى چې د پښي په ظاهر كې په مينځ د قدم كې دى په كوم ځاى كې چې د څپلى تسمه هلته تړلى شي يعني د ښنګري نه د ګوتو خواته د ښنګري او وړي ګوتي ترمينځ اوچت ځاى ته، د هشام په روايت كې كعب وايې، ليكن صحيح خبره دا ده چې د كعب نه مراد هغه اوچت هډوكى دى چې هغه ته د پنډۍ هډوكى رسيږي او كعب اوچت ځاى ته وايې لكه وايې كعبة الجارية اى نهدثديها يعني سيني د وينزى يا جلكى راپورته شوي لكه قرآن كې الله تعالى فرمايې **و كواعب اترابا** يعني اوچتو تيونو والا جينكى او همزولي به وي كعب د هډوكي هر بند ته هم وايې او هغه اوچت ځاى چې د قدم په شا وي هغو ته هم كعب وايې او هغه دوه اوچت ځايونه چې د قدم دواړه طرفو ته وي هغو ته هم كعب وايې. خو دلته تري مراد دغه دريمه معنى ده ځكه الله تعالي په خپل كتاب كې لفظ د جمع راوړى په اندامونو د اوداسه كې لكه وجوهكم ايديكم الى المرافق رؤسكم و ارجلكم نو ايدي جمع د مقابله كې مرافق هم جمع د او جمع په مقابله د جمع كې تقسيم د احاد په احاد قبلوي لكه دا قول د عربو **ركبوا دوابهم مثلاً** طالبان سواره شول په خپلو بايسكلونو باندي يعنى هر يو كس په خپل خپل بايسكل باندي سور شو او مقابله د جمع چې د تثنيې سره راشي نو بيا تقسيم د احاد په احاد نه قبلوي لكه دا قول د عربو **لبسو ثوبين** نو د دي معنى دا ده چې هر يو كس دوه دوه جامي واغوستي نو په اندامونو د اوداسه كې هم الله تعالى وجوه رؤس ايدي او مرافق جمع راوړي نو د مخكني قاعدي مطابق د دي معنى دا شوه چې ووينځى هر يو كس له تاسو نه مخ خپل او لاس خپل تر څنګلو پوري او مسح دي وكړي په خپل سر باندي او په هر لاس كې يوه څنګله ده ځكه مرافق په مقابله د ايدي كې راغلى او په كعب كې الله پاك لفظ د تثنيې غوره كړو نو دغه معنى چې تقسيم د احادو په احادو دى نه قبلوي نو تثنيه دلالت په دي كوي چې په هر پښه كې دوه كعبه دي او د هشام په روايت سره په پښه كې يو كعب دى نو معلومه شوه چې د هشام روايت صحيح نه دى او صحيح روايت هغه دى چې د كعب نه هغه دوه اوچت ځايونه مراد شي چې د قدم دواړه طرفو ته وي، والله الموافق السداد و هو المستعان على ماتصفون ۱۲ عبد الرشيد صافي عفى عنه ۱۹ - ۱۱ - ۱۴۳۲ ق.

و مسح ربع الرأس و اللحية المسح اصابة اليد المبتلة العضو اما بللا يأخذه من الاناء او بللا باقيا في اليد بعد غسل عضو من المغسولات و لا يكفي البلل الباقي في يده بعد مسح عضو من الممسوحات و لا بلل يأخذه من بعض اعضائه سواء كان ذلك العضو مغسولات او ممسوحات و كذا في مسح الخف.

ترجمه: او فرض ده مسح د څلورمي حصي د سر او د ږيري، مسح دي ته وايې چې رسول د لامده لاس دي په اندام باندي يا هغه لوندوالى چې د لوښي څخه يې راواخلي او يا هغه لوندوالى چې باقي پاتې وي په لاس کې پس له وينځلو د يو اندام نه چې وينځلى شي او نه کافي کيږي هغه لوندوالى چې پاتې وي په لاس د ده کې پس له مسح کولو د يو اندام نه چې مسح کول شي او نه هغه لوندوالى کافي کيږي چې راواخلې د بعض اندامونو څخه برابره خبره ده چې دغه اندام وينځلى شي او که مسح کولى شي او همدا تفصيل په مسح د موزو کې هم ده.

تنقيح المسئلة في مسح الرأس واللحية:

غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت څخه شروع ده په بيان د **و امسحو برؤسكم** کې چې د سر څلورمه حصه فرض ده همدارنګه د ږيري مسح هم فرض ده. **قوله المسح الخ** غرض د شارح د دي نه بيان د مطلق مسح دی برابره خبره ده چې که هغه د سر مسح وي او که د ږيري او که د موزو او که د جبيري مسح وي چې مسح په لغت کې رسول د لانده لاس دی اندام ته خو په دي عبارت باندي يو اعتراض واردیږي هغه داسي چې په مسح کې يواځي لاس رسيدل نه کافي کيږي بلکه لاس تيريدل په ممسوح باندي ضروري دي او تا وويل چې **اصابة اليد الخ** نو د دي جواب دا دی چې الاصابة کې الف د لام عهدي دی د دي نه مراد اصابت مع الامرار دی يعني لاس ورسيدل سره د لاس تيريدلو نه په ممسوح باندي، **اما بللا الخ** د دغه لاس لوندوالى يا هغه لوندوالى دی چې د لوښي نه تازه اوبه راواخلي او يا هغه لوندوالى چې د ده په لاس پاتې وي وروسته د وينځلو د يو اندام نه لکه مخ يا لاس نو په دي لوندوالي هم مسح جائز ده څکه دا مستعمل نه دي او په حديث مبارک کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د سر مسح په هغو زياتو اوبو وکړه چې د ده مبارک په لاس کې وي ليکن که يو اندام يې مسح کړ

لکه سر وغيره او د دي مسح نه وروسته کوم لوندوالی چې د ده په لاس باقي وو په هغه باندي مسح کول جايز نه دي او نه هغه لوندوالی کافي کيږي چې د بل يو اندام څخه يې راواخلي برابره خبره ده چې هغه اندام وينځل شوی وي او که مسح شوی وي،وکذا فی مسح الخف. همدا مخکنی تفصيل په مسح د موزو کې هم دی يعني په تازه اوبو سره جائز ده او په هغه اوبو سره چې د بل اندام وينځل شوي څخه يې راواخلي مسح پري جائز نه ده . اما د ږيري د مسح مسئله وروسته تفصيلي را روانه ده ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

و اعلم ان المفروض فی مسح الرأس ادنی ما يطلق عليه اسم المسح و هو شعرة او ثلث شعرات عند الشافعي عملًا باطلاق النص و عند مالک الاستيعاب فرضٌ کما فی قوله تعالی فامسحوا بوجوهکم و عندنا ربع الرأس و قد ذکروا انه اذا قيل مسحتُ الحائط بيدي يراد به کله و اذا قيل مسحتُ بالحائط يراد به بعضه لان الاصل فی الباء ان تدخل فی الوسائل و هی غير مقصودة فلا يثبت استيعابُها بل يکفی منها ما يتوسل به الی المقصود فاذا دخل الباء فی المحل شبّه المحل با الوسائل فلا يثبت استيعاب المحل.

ترجمه: پوه شه چې فرض کړی شوي په مسح د سر کې کمتر هغه چې په هغه اطلاق د نوم د مسح کيږي چې هغه يو ويښته او يا دري ويښتان دي په نزد د امام شافعي رحمه الله د وجي د عمل نه په مطلق والي د نص باندي او په نزد د امام مالک رحمه الله د ټول سر مسح کول فرض دي لکه په دي قول د الله تعالی کې دي چې تاسي مسح وکړئ په خپلو مخونو باندي او زمونږ په نزد څلورمه حصه د سر مسح فرض ده او علماء ذکر کوي چې کله داسي وويل شي ما ديوال مسح کړ په لاس باندي نو هلته ټول ممسوح «ديوال» مراد وي او که داسي وويلی شي چې ماه مسح وکړه په ديوال باندي نو دلته بيا بعض ديوال مراد وي ځکه اصل په باء کې دا ده چې په وسائلو داخليږي او دا وسائل غير مقصود وي نو استيعاب د وسائلو نه ثابتيږي بلکه د وسيلي دومره اندازه کافي ده چې په هغي سره مقصود حاصل شي کله چې باء په محل داخله شي نو محل د وسيلي سره مشابه شي نو استيعاب د محل هم ثابت نه شو.

(ترجيح مذهب الاساس فی مقدار مسح الرأس) په اوداسه کې د سر مسح څومره اندازه فرض ده په دي کې دري مذاهبه دي ۱-د امام شافعي رحمه الله مذهب دی د ده په نزد فرض په مسح د سر کې ادني هغه مقدار دی چې په هغه د مسح اطلاق کيږي ځکه قرآن کې الله جل

جلاله مطلق فرمايي چې تاسې مسح په سرونو خپلو وکړئ نه قيد د کل ورسره ده او نه د بعض او مطلق به حمل کولی شي په ادنی باندي ځکه ادني متيقن وي او هغه ادني مقدار يا يو ويښته دی په يو قول کې او يا دري ويښتان دي په بل قول کې. ۲-دويم مذهب د امام مالک دی امام مالک وايي چې د ټول سر مسح کول فرض دي کوم نص چې په مسح د سر کې راغلي هغه قياس کوي په هغه نص باندي چې کوم په مسح د مخ کې په باب د تيمم کې راغلي يعني د تيمم باره کې الله جل جلاله فرمايي چې تاسي مسح وکړئ په مخونو خپلو باندي او ظاهره خبره ده چې په تيمم کې د ټول مخ مسح کول فرض دي نو په تيمم کې چې د ټول مخ مسح کول فرض شول نو په اوداسه کې به هم د ټول سر مسح کول فرض وي ځکه په دواړو صورتونو کې باء په ممسوح داخله شوي په امام مالک رحمه الله اعتراض راځي چې تيمم فرع دی او اودس اصل دی او د اصل قياس کول په فرع باندي غير مناسب دی نو امام مالک جواب کوي چې په آيات د اوداسه کې هر کله خفاء موجوده وه نو مونږ آيات د اودس حمل کړ په آيات د تيمم باندي د دي لپاره چې حد د مسح معلوم شي. او وجه د اشتراک د مقيس او مقيس عليه ترمينځ دا ده چې دواړه طهارت دي. **ومثل هذا لا يسمى قياسًا بل بيانًا وتفصيلاً**

۱۲. ۳-دريم مذهب چې هغه مذهب مختار دی هغه زمونږ د احنافو دی چې څلورمه حصه د سر فرض ده ځکه چې آيات د مسح د سر په حق د مقدار د مسح کې مجمل دي الله پاک فرمايي چې تاسو مسح وکړئ په خپلو سرونو. نو سوال پيدا شو چې يا الله جل جلاله څومره مسح وکړو په ټول سر باندي لکه امام مالک يې چې وايي او که په يو ويښته باندي لکه امام شافعي رحمه الله چې وايي نو الله ﷻ فرمايي چې د خپل پيغمبر قول او فعل ته وګورئ، نو د پيغمبر عليه السلام په فعل کې داسي دي چې د سر په ناصيه باندي يې مسح وکړه او ناصيه د سر څلورمي مخکنۍ برخي ته ويل کيږي باقي تفصيل وروسته راروان دی. **وقد ذكروا انه الخ** غرض د شارح د دي ځای نه دليل دی په عدم اشتراط د استيعاب باندي او رد دی په مذهب د امام مالک رحمه الله باندي خو د دي نه مخکې څلور مقدمات ذکر کول ضروري دي.

۱-مقدمه چې غرض په فعل متعدی کې لکه مسح او داسي نور هغه رسول د فعل دي د فاعل نه مفعول ته او واقع کول د فعل دي په فاعل باندي نو مقصود په کې هغه شی دی چې فعل په هغه واقع کيږي چې هغه مفعول به ده لکه ته وايي مثلاً اکرمتُ زيداً نو دلته صرف

صدور د اکرام نه دی مراد ولې بيا ذکر د مفعول لغوه ګرځي او فعل په منزله د لازمي ګرځي بلکه مقصود په کې ايقاع د فعل ده په مفعول باندي چې هغه اکرام د زيد دی.

۲-مقدمه دا ده چې وسائل غير مقصود وي ځکه مقصود په فعل متعدي کې ايقاع د فعل ده په مفعول باندي او فعل لازمي کې مقصود صرف صدور د فعل وي د فاعل نه لکه ته وو ايې ضربت زيداً بالعصا نو دلته مقصود په کې اخبار د ايقاع د ضرب دی په زيد باندي او وسيله چې عصا ده هغه مقصود نه ده.

۳-مقدمه دا ده چې کله باء د استعانت او د الصاق لپاره وي نو په دي صورت کې باء په وسائلو داخليږي نو د استعانت په صورت کې خو باء ځکه په وسائلو داخليږي چې استعانت راځي په وسائلو سره او په صورت کې د الصاق کې ځکه باء په وسائلو داخليږي چې مقصود په کې ملصق وي او ملصق به خوالة ده په تحصيل د الصاق کې.

۴-مقدمه دا ده چې کله وسائل په خپله غير مقصودي شول نو کل وسيله به مراد نه وي بلکه هغه اندازه به مراد وي چې په هغه سره اصل مقصود حاصليږي ځکه د ټولي وسيلې راګيرولو ته ضرورت نشته مثلاً ته وو ايې ضربت زيداً بالعصا نو دلته د عصا نه ټوله عصا مراد نه ده بلکه هغه اندازه چې ضرب پري حاصليږي نو کله چې تا دا څلور مقدمات وپيژندل

نو اوس اصل مقصود ته راځو نو مونږ وايو چې کله وويل شي چې **مسحت الحائط باليد** په دي صورت کې باء داخله شوه په وسيله باندي او کله چې باء په وسيله داخله شي نو هلته بعض اله مراد وي نو دلته به هم د يد نه بعض مراد وي او د ممسوح نه چې حائط دی کل مراد وي او که داسي وويلی شي چې مسحت اليد بالحائط نو د حائط څخه به هم کل حائط مراد نه وي ځکه چې هر کله باء په حائط باندي، داخله شوه نو دا مشابه شو د وسيلې سره نو لکه څرنګه چې په وسيلې کې اکتفاء په قدر د حاجت باندي کولی شي نو همدارنګي به هم اکتفاء په محل کې په قدر د حاجت کولی شي ځکه محل مشابه دی د وسيلې سره نو په و امسحوا برؤسکم هم باء داخله ده په ممسوح باندي ګويا داسي وويل چې و امسحوا الايدی برؤسکم نو رأس مشابه شو د الې سره نو څرنګه چې په اله کې استيعاب شرط نه وو بلکې بعض مراد وه نو همدارنګه به په مسح کې هم بعض سر مراد وي نه کل نو چې کل مراد نه شو نو د امام مالک مذهب هم باطل شو او مذهب الاساس چې مذهب د امام ابوحنيفه دی هغه ثابت شو، و الله الموفق السداد و عليه التکلان ۱۲ عبد الرشيد.

لکن یشکل هذا بقوله تعالی فامسحوا بوجوهکم و یمکن ان یجاب عنه بان الاستیعاب فی التیمم لم یثبت با النص بل بالاحادیث المشهورة و بان مسح الوجه فی التیمم قائم مقام غسله فحکم الخلف فی المقدار حکم الاصل کما فی مسح الیدین فلو کان النص دالًا علی الاستیعاب للزم مسح الیدین الی الابطین فی التیمم لان الغایة لم تذکر فی التیمم و ایضًا الحدیث المشهور و هو حدیث المسح علی الناصیة دل علی ان الاستیعاب غیر مراد فانتفٰی قول مالک.

ترجمه: لکن اشکال واردیږي په دي مخکښې تقریر باندي په دي قول د الله تعالی سره چې تاسو مسح وکړئ په خپلو مخونو باندي او ممکنه ده چې د دي ځخه جواب وشي هغه داسي چې استیعاب په تیمم کې په نَصْ سره ثابت نه دی بلکې حدیث مشهورو سره ثابت دی او بل دا چې مسح د مخ په تیمم کې قایمه ده په مقام د غسل باندي نو حکم د خلف په مقدار کې حکم د اصل دی لکه په مسح د لاسونو کې نو که نص دلالت په استیعاب کولی نو بیا به لازم وو مسح د لاسونو تر تخرګو پوري په تیمم کې ځکه غایه په تیمم کې ذکر شوي نه ده او همدارنګه حدیث مشهور چې هغه حدیث د مسح علی الناصیه دی د لالت په دي کوي چې استیعاب مراد نه دی نو د امام مالک قول منتفی شو.

توضیح: غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت ځخه استدراک د ما قبل دی چې دا مخکښی تقریر صحیح دی خو په دي تقریر باندي یو اشکال په طریقه د نقض سره وارد دي هغه داسي چې ستاسي دغه دلیل په آیات د تیمم کې هم جاري کیږي سره د دي نه چې مدعٰی مخالفه د دلیل ده هغه داسي چې تاسو وویل چې کله باء په محل داخله شي نو مراد د دي نه بعض محل وي ځکه د وسائلو سره مشابه شو نو دا لیل ستاسي منقوض شو په آیات د تیمم باندي چې دا قول د الله تعالی دی **فتیمموا طیبًا فامسحوا بوجوهکم و ایدیکم منه** ځکه دغه دلیل په دي آیات کې هم جاري کیږي ځکه چې باء پدیکی په ممسوح باندي داخله ده او سره د دي نه دلته استیعاب شرط دی او بعضیة مراد نه دی، شارح رحمه الله د دي ځخه دوه جوابه وکړ اول جواب په یمکن لفظ سره دی خلاصه د دي جواب دا ده چې مخکښی قاعده اوس هم دا تقاضا کوي چې په تیمم کې د ټول مخ او لاسونو مسح نه شي خو دا مخالفت چې د قاعدي مذکوري نه راغلی دا د یو مانع د وجي نه چې هغه مانع حدیث مشهور دی چې هغه تقاضا د دي کوي چې ټول مخ او لاسونه دي مسح شي چې هغه حدیث داسي دی چې التیمم ضربتان ضربة

للوجه و ضربة لليدين الى المرفقين. (اخرجه الحاكم و ابن عدى و الدار قطني) چې تيمم دوه ضربې دي يوه ضربه د مخ لپاره او بله ضربه د لاسونو لپاره تر څنګلو پورې، نو دا حديث په ظاهره په استيعاب دلالت كوي نو زمونږ مدعٰى موافق د دليل سره شوه شارح رحمه الله د دې دويم جواب په لفظ د بان مسح الوجه سره كوي حاصل د جواب دا دى چې دا تخلف چې راغلى دا د يو مانع د وجې څخه دى هغه مانع دا دى چې مسح د مخ په تيمم كې قائم مقام د غسل د مخ ده نو دا مسح خلف وګرځيده د غسل لپاره او حكم د خلف په مقدار كې حكم د اصل لري نو حكم د مخ به په مقدار د مسح كې حكم د غسل لري كوم ځاى پورې چې مخ وينځلى شي نو هغه مقدار به مسح كولى شي همدارنګه حكم د لاس هم دى كوم ځاى پورې چې وينځلى شو نو هم هغه ځاى پورې به مسح كولى شي. **كما في مسح اليدين الخ** غرض د شارح د دې نه يو نظير پيش كول دي د غسل د وجه لپاره حاصل د دې نظير دا دى چې شرط د استيعاب په مسح د مخ كې په قرآن سره ثابت نه دى بلكه په احاديثو او قياس سره ثابت دى لكه په مسح د لاسونو كې ځكه شرط د استيعاب په مسح د لاسونو كې او بيا تر څنګلو پورې دا په نص سره ثابت نه ده بلكې په قياس او حديث سره ثابت ده ځكه چې كوم نص چې په مسح د لاسونو كې راغلي چې هغه و ايديكم دى او عطف دى په وجوهكم باندي نو كه دا نص چيرته دلالت په استيعاب وكړي نو بيا خو د دي نه دا لازميږي چې مسح د لاسونو تر تخرګونو پورې فرض ده او مسح د لاسونو د تخرګونو پورې د ټولو علماؤ په نزد باطله ده نو معلومه شوه چې استيعاب په مسح د لاسونو كې او تر څنګلو پورې مسح كول په نص سره ثابت نه دي ځكه په تيمم كې غايه د مسح د لاسو نو لپاره ذكر نه ده چې هغه الى المرافق ده.

و ايضًا الحديث المشهور الخ . غرض د شارح د دې عبارت نه دويم دليل دى لپاره د نفي د مذهب د امام مالك رحمه الله او د اثبات د مذهب مختار هغه داسې چې په حديث د مغيره بن شعبة وغيره كې راغلي چې نبي عليه السلام مسح وكړه په ناصيه باندي نو دا حديث دلالت په دې كوي چې په آيات د اوداسه كې د ټول سر مسح كول مراد نه دى ولې كه ټول سر مسح كول مراد واى نو بيا به استيعاب فرض وو او نبي عليه السلام به په ناصيه باندي اكتفاء نه كړي بلكې ټول سر مبارك به يې مسح كړى وو او د ټول سر د مسح كولو فرضيت ثابت نه دى خو يو څو اعتراضه په دې حديث مبارك وارد دى ۱- چې حديث د مسح په ناصيه باندي د قبيلې د افعالو نه دى او لفظ د حديث خاص دى تر قوله پورې نو اطلاق د حديث په

دي ځاى كې مناسب نه وو نو د دي يو جواب دا دى چې مراد د حديث نه سنت دى او سنت عام دى قول او فعل د نبي عليه السلام ته دويم جواب دا دى چې مراد په حديث سره دلته فعل د نبي عليه السلام نه دى بلكې خبر وركول د مغيره بن شعبه او د نورو صحابه كرامو دى چې نبي عليه السلام په ناصيه باندي مسح وكړه او اطلاق د حديث په اخبار د صحابي باندي چې نبي عليه السلام داسي وكړه غير مستنكر دى.

۲- دويم اعتراض دا دى چې حديث د مغيره بن شعبة خبر واحد دى نو خبر مشهور نه شو نو جواب دا دى چې مراد په مشهور سره معنى لغوي او عرفي ده نه اصطلاحي بيا په دي اعتراض راځي چې كله دا مشهور اصطلاحي نه شو نو بيا دا حديث ناسخ د كتاب الله لپاره څنګه شو نو جواب دا دى چې دلته نه نسخ شته او نه ابطال دهغه څه چې كتاب الله په هغى دلالت كوي بلكې دا حديث راغلى لپاره د بيان د دي خبري چې استيعاب مراد نه دى په كتاب الله كې بلكه تبعيض مراد دى.

۳- دريم اعتراض داسي دى چې حديث د مغيره لكه څرنګه چې صحيح مسلم كې راغلي په لفظ د مسح بناصيته سره راغلى نو بيا خو لكه څرنګه چې آيات كې اختلاف دى په حديث كې هم راځي نو جواب دا دى چې دا حديث په روايت د طبراني او ابوداؤد كې په لفظ د مسح على ناصيته سره راغلى نو كوم اختلاف چې آيات كې دى هغه اوس په حديث كې نه راځي ، و الله المستعان على ما تصفون ۱۲ عبدالرشيد صافي عفى عنه. ۲۰ - ۱۱ - ۱۴۳۲.

و امانفى مذهب الشافعي فمبنى على ان الاية مجملة فى حق المقدار لا مطلقة كما زعم لان المسح فى اللغة امرار اليد المبتلة و لا شك ان مماسة الا نملة شعرة او ثلثا لا تسمّٰى مسح الرأس و امرار اليد يكون له حد و هو غير معلوم فيكون مجملا و لانه اذا قيل مسحت با الحائط يراد به البعض و فى قوله تعالى فامسحوا بوجوهكم الكل فيكون الاية فى المقدار مجملة ففعله عليه السلام انه مسح على ناصيته يكون بيانًا له.

ترجمه: هر چې نفي د مذهب د امام شافعي رحمه الله دى نو هغه مبني ده په دي چې دا آيات مجمل دي په حق د مقدار كې او مطلق نه دي لكه څرنګه چې امام شافعي رحمه الله ګمان كوي ځكه مسح په لغت كې تيرول د لامده لاس دي په ممسوح باندي او شك نشته چې د ګوتو د سر لګيدل د يو ويښته يا د دري ويښتانو سره لګيدو ته مسح نه شي ويلى او تيريدل د لاس

لره حد وي او دغه حد معلوم نه دی نو دا مجمل شو او بل دا چې کله وویلی شي چې ما مسح وکړه په دیوال باندي نو د دي نه بعض دیوال مراد وي او په دي قول د الله تعالی کې چې فامسحوا بوجوهکم دی ټول مراد دی نو دا آیات په مقدار کې مجمل شول نو فعل د نبي علیه السلام چې نبي ﷺ مسح وکړه په ناصیه باندي دا به بیان شي د دي مجمل لپاره.

تشریح: غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت څخه نفي د مذهب د امام شافعي او اثبات د مذهب مختار دی امام شافعي رحمه الله وايي چې آیت د مسح مطلق دی او امام ابوحنیفة رحمه الله وايي چې آیت د مسح مجمل دی نو اول د مجمل او مطلق تعریف کول ضروري دي او بیا د دواړو ترمینځ فرق کول ضروري دي.

۱- **مطلق : ما یکون متعرضًا للذات دون الصفات.** مطلق هغه وي چې په هغه کې د ذات بیان شوی وي او د صفاتو نه وي شوی. ۲- **مجمل ما خفي المراد منه خفاء لا یدرک الا ببیان المجمل.** مجمل هغه دی چې دهغه مراد پټ وي په داسې پټ والي سره چې دهغه ادراک او معلومول نه کیږي مګر په بیان د متکلم سره، فرق په مابین د مطلق او مجمل کې دا دی چې مجمل مجهول المراد دی تردي پوري چې د متکلم له طرفه بیان راشي موصولاً وي او که مفصولاً وي کله چې بیان راشي نو د خپل اصل پوري به پیوسته کیږي او مجمَل به په دغه وخت کې مِفید د مراد او مقصود وي.

او مطلق معلوم المراد دی مجهول الکیفیة وي او بیان ته ضرورت نه لري حکم د مطلق دا دی چې دا به په اقل باندي حمل کولی شي مګر که د دي په خلاف دلیل راشي نو بیا به په همغی حمل وي اوس راځو خپل مقصد ته نو امام شافعي وايي چې دا قول د الله تعالی و **امسحوا برؤسکم** مطلق دی ځکه معنی د مسح او آله د مسح او محل د مسح هر چا ته معلوم دي دي ته ضرورت نشته چې شارع د دي مراد معلوم کړي نو دا به حمل کولی شي په هغه اقل یقیني باندي چې هغه ته په عرف کې مسح ویلی شي اګر چې د یو ویښته په اندازه وي نو دغه اندازه به په دي نص سره فرض وي او زیاتی مقدار چې کوم په احادیثو سره ثابت دی چې مسح د ناصیه ده یا استیعاب دی هغه به سنة وي،

او احناف وايي چې دا آیات مجمل دي په حق د مقدار د مسح کې نو د دي مقدار به نه معلومیږي مګر په بیان د شارع سره او د شارع بیان په فعل د نبي علیه السلام سره راغلی

چې نبي علیه السلام په ناصیه باندې مسح وکړه **لان المسح الخ** غرض د شارح د دې عبارت نه بیان د دلیل د اجمال د آیات کوي خلاصه د دې دا ده چې مسح په لغت کې تیریدل د لامده لاس دي په یو شي باندي او معلومه خبره ده چې د ګوتو لګول د یو ویښته سره یا درې ویښتانو سره لګولو ته مسح نه وایې نو د دې آیت نه دغه مقدار نه معلومیږي بلکې یو زیات مقدار ترې معلومیږي خو دغه زیات مقدار لپاره څه معلوم حد نشته نو چې معلوم حد نشته نو دا آیت په حق د مقدار کې مجمل شو ځکه دا معلومه نه ده چې کوم مقدار مراد دی او دغه مقدار به په بیان د شارع سره معلومیږي ځکه عقل لره په تعین د حد کې څه مداخله نشته، و

لانه اذا قیل مسحت بالحایط الخ. غرض د شارح رحمه الله د دې عبارت نه دویم دلیل دی أپاره د نفي د مذهب د امام شافعي او د اثبات د مذهب مختار خلاصه د دې دا ده چې باء کله په محل داخله شي نو کله کله ترې بعضیت مرادیږي لکه ته ووایې چې مسحت با الحائط دلته بعض حائط مراد دی او کله کله ترې کل ممسوح مرادیږي لکه په دې آیات کې چې فامسحوا بوجوهکم دلته باء په محل داخله شوي او کل محل ترې مراد دی نو اختلاف راغلی په مواضعو د دې کې او د دې اختلاف د وجې نه په **و امسحوا بروسکم** کې اشکال او خفاء راغله چې سر نه دلته کل سر مراد دی او که بعض نو دا آیت مجمل شو په حق د مقدار کې نو فعل د نبي علیه السلام چې نبي علیه السلام مسح وکړه په ناصیه باندې بیان شو د دې آیت لپاره نو د آیت نه څلورمه حصه د سر مسح فرض شوه. په دې مقام کې څه اعتراضات وو خو د بحث د اوږدیدلو د وجې نه ما احتراز ترې وکړو. و هو حسبي و نعم الوکیل ۱۲ عبدالرشید صافی عفی عنه..

و اما اللحیة فعند ابي حنیفة مسح ربعها فرض لانه لما سقط غَسل ما تحتها من البشرة صار کا الرأس و عند ابي یوسف مسح کلها فرض لانه لما سقط غسل ما تحتها من البشرة اقیم مسحها مقام غسل ما تحتها فیفرض مسح الکل بخلاف الرأس فانه اذا کان عاریًا عن الشعر لا یجب غسل کله و لا مسح کله و قد ذکر ان المراد بالربع ربع ما یلاقي بشرة الوجه منها اذ لا یجب ایصال الماء الی ما استرسل من الذقن خلافًا للشافعي رحمه الله کذا فی الایضاح و فی اشهر الروایتین عن ابي حنیفة مسح ما یستر البشرة فرض و هو الاصح

المختار، كذا في شرح الجامع الصغير لقاضي خان و اذا مسح الرأس ثم حلق الشعر لا يجب الاعادة و كذا اذا توضأ ثم قص الاظفار.

ترجمه: هر چه ږیره ده نو په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله مسح د څلورمي حصي د دي فرض ده ځکه کله چې ساقط شو وینځل د هغه پوستکي چې ږیري نه لاندي ده نو دا ږیره په شان د سر وګرځیده او په نزد د امام ابویوسف د ټول سر مسح فرض ده ځکه کله چې د لاندي پوستکي وینځل ساقط شول نو مسح د دي قائمقام د غسل وګرځیده نو د ټولي ږیري مسح کول فرض دي په خلاف د سر سره ځکه چې سر کله د ویښتانو څخه خالي وي نو بیا نه د ټول سر وینځل فرض دي او نه د ټول سر مسح کول فرض دي او ذکر شوی چې مراد په ربع سره ربع دهغه چې د مخ د پوستکي سره لرییږي ځکه واجب نه ده رسول د اوبو هغه ویښتانو ته چې د زني څخه زوړند وي خلاف دی امام شافعي رحمه الله لره لکه په ایضاح کتاب کې چې راغلي او په هغه مشهور د دوه روایتونو کې د امام ابوحنیفة نه راغلی چې مسح د هغه ځای فرض ده چې پوستکی یې پټ کړي او دا صحیح او غوره خبره ده لکه په شرح د جامع الصغیر کې د قاضي خان نه چې راغلي او کله چې په سر مسح وکړي بیا ویښتان کَل کړي نو بیا دوباره مسح وربانديِ واجب نه ده همدارنګه که اودس وکړي او بیا نوکان غوڅ کړي نو دوباره اودس ورباندي نشته.

(تلألؤالحلية في بيان اللحية)

لحیة په کسری د لام سره جمع د دي لُحی او لَحی په ضمي او فتحي د لام سره راځي هغه ویښتانو ته وبلی شي چې په ژامو شنه شوي وي او لَحی په فتحي د لام سره هغه هډوکي ته ویلی شي چې په هغه باندي غاښونه دي او د لَحی اطلاق په زنه باندي هم کیږي د ږیري د مسح په باره کې د امام ابوحنیفة رحمه الله څخه پنځه اقوال نقل دي ۱-قول چې حسن رحمه الله د امام صاحب څخه روایت کړی چې مسح د څلورمي حصي د ږیري فرض ده ځکه د ږیري د شنه کیدو څخه مخکې د ټول مخ وینځل فرض وو او کله چې ږیره راشنه شوه نو د ږیري نه لاندي پوستکی وینځل ساقط شو لکه د سر چې اصل کې په باب د تطهیر کې غسل دی خو د غسل نه چې د سر مسح ته عدول وشو د دي لپاره چې دفع د حرج راشي دا داسي شو لکه چې اول د سر د وینځلو حکم وشو بیا غسل ساقط شو او د مسح حکم وشو چې په څلورمه حصه د سر

په مسح کولو سره نو همدارنګه به د ږیري هم څلورمه حصه مسح فرض وی. ۲-دویم روایت بشر د امام صاحب څخه کړی دی چې د ټولي ږیري مسح فرض ده یعني هغه مقدار ږیره چې د پوستکي سره لګیږي.

۳-روایت شجاع د امام صاحب څخه کړی دی چې که مسح د دریمه حصه یې د ږیري وکړه یا څلورمه حصه وکړه نو دا هم جائز ده.

۴-روایت د امام ابوحنیفه څخه او د امام ابویوسف داسي راغلي چې نه وینځل د یو شي فرض دي او نه مسح د یو ځای بلکې د ږیري ځای ساقط دی.

۵-روایت چې صحیح او مفتی به دی چې وینځل د ټول هغه ځای فرض دي چې ږیره پري راشنه شوي ده او د مخ څرمني یې پټه کړي ځکه ږیره هم د مخ په حد کې داخله ده او حدود د مخ ټول وینځل فرض دي نو لهذا د ږیري وینځل فرض ده. خو علامه تقی عثمان په درس ترمذي . داسي لیکلي چې البته د ګڼي ږیري چې اوږده نه وي په دي باره کې د احنافو شپږ قولونه دي چې علامه ابن نجیم په بحر الرائق کې لیکلي دي. ۱-غسل الکل. ۲-مسح الکل. ۳-مسح الثلث. ۴-مسح الربع. ۵-مسح ما یلاقی البشرة. ۶-ترک الکل د کنز او وقایه ملاصاحب مسح الربع اختیار کړي وه خو نورو فقهاؤ تردید کړی دی د احنافو په نزد مفتي به قول اول قول دی یعني غسل الکل چې د در مختار ملا صاحب هم دي ته ترجیح ورکړي ده ۱۲ درس ترمذي ج ۱ ص ۲۳۲ .

نو د امام صاحب څخه په دې ټولو روایاتو کې مشهور روایت دا دی چې د ږیري څلورمه حصه مسح کول فرض دي خو امام صاحب د دي روایت نه رجوع کړي لکه بدائع او فتح القدیر ذکر کړي او پنځم روایت ته یې رجوع کړي چې د ټولي ږیري وینځل فرض دی.

او امام ابویوسف رحمه الله چې مسح د ټولي ږیري فرض ده ځکه قیاس تقاضا د دي کوی چې د ږیري نه لاندي ټول پوستکی دي ووینځلی شي ځکه د مخ په حدود کې داخل دي خو هر کله چې د اوبو په رسولو کې دغه ځای ته ډیر زیات حرج او تکلیف وو نو د دي غسل ساقط شو او عدول وشو مسح ته نو د ټول سر مسح فرض ده ځکه مسح خلف ده د غسل نه او حکم د خلف په مقدار کې حکم د اصل وي.

بخلاف الرأس الخ دا جواب د امام ابویوسف دی د قیاس د امام ابوحنیفة څخه چې امام صاحب ویلي وو چې کا الرأس نو امام ابویوسف وایي چې قیاس د ږیري په سر باندي دا قیاس فاسد دی ځکه سر چې کله د ویښتانو څخه خالي وي نو بیا نه د ټول سر مسح کول

فرض دي او نه د ټول سر وينځل فرض دي. اما مخ چې کله د ږيرې نه خالي وي نو بيا خو د ټول مخ وينځل فرض دي و قن ذکر الخ په دي سره شارح وضاحت د ما قبل کوي چې امام ابو حنيفه وايي چې د ږيرې څلورمه حصه مسح فرض ده د دي نه د ږيري ټول وينبتان مراد دي او که نه هغه چې مخ سره لګيږي. نو شارح وويل چې د ربع نه مراد ربع د هغو وينبتانو مراد ده چې د مخ پوستکي سره لګيږي ځکه کوم وينبتان چې د زني څخه ښکته زوړند دي هغو ته اوبه رسول واجب نه دي لکن امام شافعي رحمه الله وايي چې ظاهر د ږيري چې کوم وينبتان زوړند دي دهغو وينځل هم فرض دي او که ږيره ننګړې وه نو بيا د دي د باطن وينځل هم فرض او که ګڼه وه نو بيا د دي صرف ظاهر وينځل کافي دي لکه په ايضاح کتاب کې چې شرحه د تجريد ده راغلي دی او په يو مشهور روايت کې د امام صاحب نه دا هم راغلي چې مسح د ټولی هغه ږيري فرض ده چې پوستکی ئې پټ کړي دا هغه خبره ده چې شارح رحمه الله په مختصر الوقائي کې غوره کړي ده لکه په شرح د جامع صغير د قاضي خان کې چې راغلي و اذا امسح الرأس الخ شارح يوه بله مسئله وړاندي کوی که يو سړی په سر مسح وکړه او بيا يې وينبتان ګل کړه نو اعاده د مسح يعني دوباره وړباندي مسح نشته همدارنګه که يو سړي اودس وکړو او بيا يې نوکان غوڅ کړل نو دوباره اودس وړباندي نشته هو که يو ځای وينې شو نو بيا وړباندي اودس کول دوباره په کار دي. و الله الموافق للسداد ،
عبدالرشيد صافی عفی عنه.

و سنة للمستيقظ غسل يديه الى رسغيه ثلثا قبل ادخالهما الاناء هذا الغسل عند بعض المشايخ سنة قبل الاستنجاء و عند البعض بعده و عند البعض قبله و بعده جميعًا و كيفية الغسل انه اذا كان الاناء صغيرًا بحيث يمكن رفعه يرفعه بشماله و يصبه على كفه اليمنى و يغلسها ثلثا ثم يصب بيمينه على كفه اليسرى كما ذكرنا و ان كان كبيرًا بحيث لا يمكن رفعه فان كان معه إناء صغير يرفع الماء به و يغسلهما كما ذكرنا و ان لم يكن يدخل اصابع يده اليسرى مضمومة فى الاناء و لا يدخل الكف و يصب الماء على يمينه و يدلك الاصابع بعضها ببعض يفعل هكذا ثلثا ثم يدخل يمناه فى الاناء بالغا ما بلغ و النهى فى قوله عليه السلام فلا يغمسن يده فى الاناء محمول على ما اذا كان الاناء صغيرًا او كبيرًا و معه

اناء صغير اما اذا كان الاناء كبيرًا و ليس معه اناء صغير يحمل على الادخال بطريق المبالغة كل ذلك اذا لم يعلم على يده نجاسةً اما اذا علم فازالة النجاسة على وجه لا يفضى الى تنجيس الاناء او غيره فرض.

ترجمه: او سنت د اوداسه د خوب نه راويښيدونكي لپاره وينځل د لاسونو دي تر مړوندو پوري دري ځلي مخكې له داخلولو د دواړو لاسونو لوښي ته دا وينځل په نزد د بعض علماؤ سنت دي مخكې له استنجاء نه او په نزد د بعضو وروسته د استنجاء نه او په نزد د بعض علماؤ مخكې د استنجاء نه او وروسته د استنجاء نه په دواړو حالتو كې سنت دي او طريقه د وينځلو دا ده چې كه چيرته لوښى وركوټى وو په داسي شان چې ممكن وو اوچتيدل دهغه نو اوچت به يې كړي په چپ لاس خپل سره او اوبه به راواړي د دي نه په ښي لاس باندي او دري واري به يې ووينځي بيا به په ښي لاس سره اوبه راواچوي په چپ لاس باندي لكه مونږ چې ذكر كړو او كه لوښى لوى وو په داسي شان چې اوچتول يې ممكن نه وو نو كه د ده سره وركوټى لوښى وو نو په هغى به اوبه راواخلي او لاسونه به پري ووينځي د مخكې په شان او كه وړوكى لوښي ورسره نه وو نو داخلي به كړي د چپ لاس ګوتي په داسي حال كې چې پيوسته وي په لوښي كې او ورغوي به نه داخلوي او اوبه به راواړه وي په ښي لاس باندي او ګوتي به بعض د بعضو سره ومښي همداسي به دري واري وكړي بيا به ښي لاس په لوښي كې داخل كړي تر كوم ځاى پوري چې وي، او نهي په قول د نبي عليه السلام كې چې لاس دى نه غوپه كوي په لوښي كې حمل ده په هغه صورت باندي چې كله لوښي وركوټي وي او يا غټ وي خو د ده سره بل وركوټي لوښي هم وي اما كه لوښي لوى وو او د ده سره وركوټي لوښى نه وو نو بيا بـه نهي حمـل وي پـه داخلولـو د لاس بانـدي پـه طريقـي د مبالغي سره دا ټـول تفصيل په هغه صورت كې چې د ده په لاس پليتي نه وي امـا كـه پليتـي معلومـه شوه نو بيا لرى كول د پليتي په داسي طريقي باندي چې مفضي نه شي پليتولو د لوښي ته يا بـل شـي تـه فرض ده.

(سنة رسول الثقلين فى بيان غسل اليدين)

د بعضو لغاتو تشريح: **سنت**: د سنت نه مراد سنت موكده دى هغه چې حكم د دي دا ده چې د دي كوونكي ته ثواب وركولى شي او پريښودونكي ملامت كولى شي، **مستقيظ**: هغه كس

الاناء: لوښي لکه لوټه ... **رسغ**: مړوند ته وايي ... [illegible] ته ويلی

وغيره. **كف**: ورغوي، **يمين**: ښي لاس، **شمال**: چپ لاس، **يصب**: د صب يصب نه دی چې په معنې د اړولو او تويولو سره، **يدلک**: مښل. **بالغا ما بلغ**: داخل به کړي لاس څومره چې داخلولی شي، **فلا يغمس**: غمس غوپه وهلو ته وايي. **بطريق المبالغة**: په طريقه د مبالغې سره، يعني چې د ضرورت د اندازي نه زيات وي، **لا يفضي**: چې ونه رسيږي، **تنجيس**: پليتول.

تشريح: د اوداسه اولنی سنت مؤکده دا دی چې کله يو سړی د خوبه راپاسيږي نو خپل لاسونه دي تر مړوند پوري مخکې د لوښي نه د داخلولو نه ووينځي اصل په دې باب کې حديث د رسول الثقلين دی چې **اذا استيقظ احدكم من نومه فليغسل يده قبل ان يدخلها في وضوئه فان احدكم لا يدري اين باتت يده**. (اخرجه البخاری و المسلم و ابوداؤد و النسائی و ابن ماجه و الترمذي و احمد و مالک و ابو عوانة و الطحاوی و الدارقطنی وغیرهم بالفاظ متقاربة)

ترجمه: کله چې راويښ شي يو له ستاسو څخه د خپل خوب نه نو لاس دي ووينځي مخکې له داخلولو نه د اوداسه په اوبو کې ځکه يو ستاسی نه نه پوهيږي چې چيرته شپه تيره کړي لاس دده يعني انسان چې کله ويده شي نو بيا په خپل ځان نه پوهيږي چې د ده لاس د کوم ځای سره لګيږي ځکه په هغه زمانه د پرتوګ په ځای لنګونه وو نو کله کله به لنګ ليري شو خو اوس اګر چې لنګ نشته او پرتوګ دی، خو دا حکم اوس هم باقي دی چې د خوب نه پاسيږی نو اول به لاس دري ځلي ووينځي او بيا به يې لوښی کې داخلوی دا وينځل بعضي علماء وايي چې د استنجاء نه مخکې سنت دی او بعضي علماء وايي چې وروسته د استنجاء نه سنت دی او بعضي علماء وايي چې د استنجاء نه وروسته او وړاندي دواړو حالاتو کې سنت ده دا د اکثره علماؤ قول دی او همدا صحيح هم دی دليل په دي باندي طريقه د وينځلو.د نبي عليه السلام ده چې نبي عليه السلام مبارک اول لاسونه ووينځل مخکې د داخلولو نه لوښي ته بيا يې عورت ووينځه بيا يې لاسونه د خاورو پوري ومښل بيا يې ووينځل لاسونه خپل بيا يې نور اودس وکړو نو د دي حديث نه دا معلومه شوه چې د استنجاء نه مخکې او وروسته لاسونه وينځل سنت طريقه ده، او طريقه د لاسونو د وينځلو کومه چې د فقيه ابوجعفر الهندواني څخه منقوله ده هغه دا ده که چيرته لوښي ورکوټی وو دومره اندازه چې په يو لاس پورته کولی شو لکه نن صبا لوټه وغيره نو په چپ لاس به يې راوچت کړی او اوبه

به په نبي لاس راواړه وی دري ځله به يې ووينځئ بيا په ښي لاس سره په چپ لاس باندي اوبه راواړوی او دري ځله به يې ووينځئ او که لوښي لوی وو دومره اندازه چې په يو لاس اوچتولی نه شو لکه ستل وغيره نو که ورکوټي لوښی ورسره وو لکه ګيلاس وغيره نو په دي به اوبه راواخلئ او لاسونه به په مخکني طريقي سره ووينځي او که د دي لوښي سره ورکوټي لوښی لکه ګيلاس وغيره بيا به د چپ لاس ګوتي جوښتي ورښکته کړي په لوښي کې خو ورغوي به نه ورداخلوي او اوبه به په ښي لاس باندي راواچوي او ګوتي به يو تر بله سره ومښي همداسي به دري ځله وکړي بيا به ښي لاس په لوښي کې ورښکته کړي خومره يې چې ورداخلوي و **النهي في قوله عليه السلام الخ** دا دفع د يو اعتراض ده چې نهي د نبي عليه السلام چې **فلا يغمس يده** دی دا په اطلاق سره تقاضاء د دي کوي چې په يو صورت کې د هم لاس مخکي د وينځلو نه لوښي ته داخلول جايز نه شي او حال دا چې تاسو په يو صورت کې د لاس د داخلولو اجازت ورکړ چې کله لوښي لوی وو او ورکوټی لوښی ورسره نه وو. نو شارح رحمه الله د دي جواب وکړو چې دا نهي محمول ده په هغه صورت باندي چې کله لوښی ورکوټي وو نو بيا به لاس مخکي د وينځلو نه لوښي ته نه شي داخلولی او يا لوښي لوی وو خو ورکوټی لوښی ورسره وو بيا به هم لاس مخکې د وينځلو نه لوښی نه شي داخلولی او که لوښی لوی وو او ورکوټی لوښی هم ورسره نه وو نو بيا به دا نهي حمل وي په هغه داخلولو باندي چې په طريقي د مبالغي سره وي يعني د قدر د ضرورت نه زياتي لاس ورداخلول اما د ضرورت په اندازه لاس ورداخلول په نهي کې داخل نه دي خو دا ټول تفصيل په هغه صورت کې چې نه يقيني معلومه وي چې زما په لاس پليتي نشته او که ده ته د پليتی معلومات وو نو بيا به پليتي په داسي طريقي سره لری کړي چې نه لوښي پليت شي او نه بل څه، عبدالرشيد صافی عفی عنه.

و تسمية الله تعالى ابتداً و السواک و المضمضة بمياه و الاستنشاق بمياهٍ و انما قال بمياه و لم يقل ثلثا ليدل على ان المسنون التثليث بمياه جديدة و انما كرر قوله بمياهٍ ليدل على تجديد الماء لكل منهما خلافًا للشافعي فان المسنون عنده ان يمضمض و يستنشق بغرفة واحدة ثم هكذا ثم هكذا.

ترجمه: او بسم الله ويل دي په اول د اوداسه کې او مسواک وهل دي او خوله وينځل دي په

تازه اوبو سره او پوزه وينځل دي په تازه اوبو سره او د بمياه لفظ يې وويلي او ثلثائي ونه ويل چې دا دلالت وکړي چې سنت په دې کې دري واري وينځل دي په تازه اوبو سره او د بمياهٍ لفظ يې تکرار کړو چې دا دلالت وکړي په تازه کولو د اوبو سره د هر يو د مضمضې او استنشاق نه په خلاف د امام شافعي رحمه الله څکه سنت طريقه د ده په نزد دا ده چې مضمضه او استنشاق دواړه په يو چونګ سره وکړي او بيا هم داسې وکړي او بيا هم داسې وکړي.

تشريح: دويم سنت د اوداسه بسم الله ويل دي په وخت د اوداسه کې په دې کې دري قوله دي ۱-چې دا مستحب ده ۲-چې دا سنت مؤکده ده. ۳-چې دا واجبه ده، خو صحيح دا ده چې دا مستحب ده لکه د فقې حنفي والا شيخ اسعد محمد سعيد الصاغرجي ذکر کړي چې و **الصحيح انها مستحبة لقوله عليه السلام لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه و المراد به نفي الفضيلة (فقه حنفي ج ۱صفحه ۴۳)** چې صحيح دا ده چې بسم الله ويل مستحب دی د وجې د دې قول د نبي عليه السلام نه چې اودس نشته دهغه چا لپاره چې نوم د الله تعالى پرې ياد نه کړي او مراد په دې نفي سره نفي د فضيلت ده. او بسم الله ويل مخکې د استنجاء نه او وروسته د استنجاء نه په دواړو صورتونو کې ويل په کار دي او همدا صحيح قول دی او د تسمي نه مراد خالي ذکر د الله تعالى دی که هغه بسم الله الرحمن الرحيم و يل وي او که بسم الله العظيم وي او که الحمد الله على دين الاسلام ويل وي او بيا د هر اندام د وينځلو په وخت کې بسم الله ويل مستحب دي دويم سنت د اوداسه مسواک وهل دي سواک په کسرى د سين سره هغه لرګي ته ويل کيږي چې د غاښونو پوري منبلي شي او مصدر هم راځي خو په معنى د استياک با السواک سره يعني مسواک استعمالول نو نفس سواک سنت نه دي بلکه سنت استعمال د مسواک دي د مسواک وقت په اودس کې د مضمضې په وقت کې او د هر لمانځه په وخت کې هم مستحب ده خو دا په هغه صورت کې چې ستا دا يقين وي چې زما غاښونه وينه نه کوي او که غاښونه دي وينه کوي نو مسواک وهل د لمانځه په وخت کې په کار نه ده طريقه د استعمال يې دا ده چې مسواک به عرضًا استعماله وي يعني د يو وښکي څخه بل وښکي خوا ته او بعض علماء وايي چې طولاً به يې استعمالوي يعني د يوي شونډي خوا څخه بلې شونډي خوا ته خو غوره دا ده چې په غاښونو کې عرضًا استعمال شي او په ژبه کې طولاً استعمال شي، او څلورم سنت د اوداسه مضمضه کول دي په تازه اوبو سره او پنځم سنت د اوداسه استنشاق دي په تازه اوبو سره ، مضمضه په لغت کې اوبو خوزولو ته

وايي او په اصطلاح کې راګيرول د اوبو ټولي خولي لره او استنشاق په لغت کې اړولو ته وايي او په اصطلاح کې رسول د اوبو پوزي ته.

بمياهٍ: مصنف رحمه الله د بمياه لفظ غوره کړو او د ثلثا لفظ يې ونه ويل په دي کې اشاره ده دي خبري ته چې سنت په مضمضه او استنشاق کې تثليث دی خو تازه اوبو سره ځکه مياه جمع ده او اقل د جمع ثلثه دي او افراد د جمع متغائر وي او ثلثا هم دلالت په جمع کوي خو تجديد د اوبو تري نه معلوميږي نو مصنف رحمه الله د دي وجه نه بمياه وويل او ثلثا يې ونه ويل او بيا مصنف رحمه الله د بمياه لفظ د مضمضي سره هم ذکر کړو او د استنشاق سره هم ذکر کړو نو په دي تکرار د بمياه کې اشاره دي ته ده چې دا دلالت وکړي په دي چې د مضمضي او استنشاق هر يو لپاره جدا جدا تازه اوبه را اخيستل ضروري دی ځکه د احنافو په نزد باندې د مضمضی لپاره جدا تازه اوبه را اخستل او د استنثاق او د استنثاق لپاره جدا تازه اوبه را اخستل مسنون دي او دليل د احنافو هغه حديث دی چې ابوداؤد رانقل کړی چې نبي عليه السلام به د مضمضي او استنشاق ترمينځ فصل کاوه او د امام شافعي رحمه الله په نزد سنت طريقه دا ده چې مضمضه او استنشاق دواړه په يو چونګ اوبو سره وکړي چې اوبه راواخلي په يو لاس سره لږې اوبه خولي ته واچوي او باقي پوزي ته واچوي همداسي دري ځله وکړي او دليل د دوی هغه حديث مبارک دی چې نبي عليه السلام مضمضه او استنشاق د يو چونګ اوبو څخه کولو دري ځله. عبدالرشيد صافی عفی عنه.

وتخليل اللحية و الاصابع و تثليث الغَسْل و مسح كل الرأس مرة خلافًا للشافعي فان عنده تثليث سنة و قد اورد الترمذي في جامعه ان عليًا توضأ فغسل اعضاءه ثلثا و مسح راسه مرة و قال هكذا وضوء رسول الله ﷺ و في صحيح البخاري مثل هذا.

ترجمه: او خلالول د ږيري دي او د ګوتو او دري ځله وينځل دي او مسح د ټول سر ده يو ځله خلاف ثابت دی امام شافعي رحمه الله لره ځکه د امام شافعي په نزد تثليث سنت دی او په تحقيق سره راوړی امام ترمذي په خپل جامع کې چې حضرت علي رضي الله عنه اودس وکړو نو ووينځل اندامونه خپل دري ځله او سر يې مسح کړلو يو ځله او وېې فرمايل چې دارنګه اودس د نبي عليه السلام وو او په صحيح بخاري کې همدا شان راغلي.

توضيح: شپږم سنت د اوداسه ږيره خلالول دي او سنت طريقه يې دا ده چې د ښي لاس ګوتي

به په اوبو لمدي کړي او بیا به یې په ویښتانو کې ورداخلي کړي په داسې شان چې د لاس ورغوی به خارج ته وي او د ورغوي شا به د اودس کوونکي طرف ته وي او د ږیرې لاندې طرف ته به پورته خوا ته ګوتې راکاږي خو یاد ساته چې دا په هغه وخت کې چې ږیره ګڼه وي او که ږیره ننګرې وه نو بیا به یې د ویښتانو بیخ ته اوبه رسوي . اووم سنت د اوداسه د ګوتو خلالول دي د لاسو وي او که د پښو وي د لاسو د ګوتو خلالول په داسې طریقه چې تشبیک به وکړي یعنې یو په بل کې به یې ورکړي او د پښو د ګوتو د خلالو طریقه دا ده چې د چپ لاس په وړه ګوتې سره به خلال شروع کړي د ښي پښې د وړې ګوتې څخه به شروع و کړي او د چپې پښې په وړه ګوته به خلال ختم کړي دلیل په دي کې دا حدیث د نبي علیه السلام دی چې **اذا توضأت فاسبغ الوضوء و خلل بین الاصابع. الحدیث** .

و تثلیث الغسل الخ (اتم سنت د اوداسه) دري ځله وینځل د هر اندام سنت مؤکد دي دلیل په دي کې دا حدیث د نبي علیه السلام دی چې **انه صلی الله علیه و سلم توضأ ثلاثا ثلاثا و قال هذا الوضوء فمن زاد علی هذا او نقص فقد اساء و ظلم** . خو که د اوبو یخ والي د وجې نه یا د اوبو د کموالي د وجې نه یا د بل ضرورت د وجې نه یو ځل اندامونه ووینځي نو بیا څه پروا نشته او که دا وجوهات مذکوره په کې نه وو نو بیا مکروه ده (بنایه).

و مسح کل الرأس مرة الخ: نهم سنت د اوداسه د ټول سر یو ځل مسح کول دي اما د امام شافعي رحمه الله په نزد باندې دري ځله مسح کول د سر په تازه اوبو سره سنت دي دلیل د امام شافعي رحمه الله حدیث د حضرت عثمانﷺ دی چې حضرت عثمانﷺ اودس وکړو او په سر یې دري کرته مسح وکړه او ویې فرمایل چې همدارنګه ما نبي علیه السلام لیدلی دی چې داسې یې وکړل او د احنافو لپاره دلیل د جامع الترمذي دی چې حضرت علی کرم الله وجهه اودس وکړو او اندامونه یې دري ځل ووینځل او په خپل سر باندې یې یو ځل مسح وکړه او ویې فرمایل چې همدارنګه اودس د پیغمبر علیه السلام وو، همدارنګه احادیث د اصحابو صحاحو خو لکه بخاري شریف وغیره هم دلالت په یو ځل مسح سره کوي او احادیث د تثلیث حمل دي په بیان د جواز باندې او یا په تثلیث باندې حمل دي خو په یو ځل اوبو سره ۱۲ عبدالرشید صافي عفی عنه.

و الاذنین بمائه ای بماء الرأس خلافاً له فان تجدید لماء المسح الاذنین سنة عنده.

ترجمه: او سنت ده مسح د غوږونو په اوبو د سر سره خلاف ثابت دی امام شافعي لره ځکه تازه کول د اوبو د مسح د غوږونو لپاره د امام شافعي په نزد سنت دي.

قول رسول الثقلين في بيان حكم الاذنين: لسم سنت د اوداسه د غوږونو مسح كول دي طريقه يې دا ده چې داخل د غوږونو به په مسواكي ګوتي سره مسح وکړي او ظاهر به يې په غټي ګوتي سره مسح کړي او همدغه طريقه د نبي عليه السلام نه ثابته ده (ابن ماجه) او په هغه اوبو به يې مسح کوي چې کومي د سر لپاره را اخيستي وي يعني د سر د مسح لپاره به لاس لوند کړي او په همدي لامده لاس به غوږونه هم مسح کړي د وجي د دي حديث مبارك نه **الاذنان من الرأس** (ابن ماجه، دار قطني، طبراني، ابوداؤد، ترمذي) يعني چې غوږونه د سر څخه دي د دي دا مطلب نه دی چې غوږونه د سر پوري نښتي دي ځکه چې نبي عليه السلام د بيان د خلقت لپاره راليږل شوی نه وو بلکه د بيان د احکامو لپاره راليږل شوی وو يعني حکم د مسح د غوږونو به د حکم د مسح د سر متعلق وي يعني کومي اوبه چې د سر مسح لپاره رااخيستلی شي هم هغه د غوږونو د مسح لپاره کافي دي. همدارنګه په شرح د معاني الاثار للطحاوي کې او جامع ترمذي او ابو داود وغيرها کې هم د نبي عليه السلام نه دا ثابت دي چې نبي عليه السلام غوږونه مسح کړل د سره د مسح سره بغير د تازه اوبو د رااخيستلو څخه.

د ليکن د امام شافعي رحمه الله په نزد د غوږونو د مسح لپاره تازه اوبه را اخيستل سنت دي، د حديث د عبدالله بن زيد رضي الله عنه چې ده نبي عليه السلام وليدو چې اودس يې کاوه نو د غوږونو مبارکو لپاره يې اوبه را واخيستلي بغير د هغه اوبو نه چې د سر د مسح لپاره يې راخيستي وي (اخرجه الحاکم في مستدرکه و البيهقي) د دي حديث نه احنافو دا جواب کړی چې دا د بيان د جواز لپاره دی او بل دا چې تجديد په هغه صورت کې په کار دی، چې لاس باندي لوندوالي نه وي ۱۲ عبدالرشيد صافي عفی عنه.

و النية و ترتيب نُصَّ عليه اى الترتيب المذكور في نص القرآن و كلا هما فرضان عنده اما النية فلقوله عليه السلام انما الاعمال بالنيات وجوابنا ان الثواب منوط بالنية اتفاقاً فلا بد ان يقدر الثواب او يقدر شيئ يشمل الثواب نحو حكم الاعمال بالنيات فان قدر الثواب فظاهر و ان قدر الحكم فهو نوعان دنيوی کالصحة و اخروي کالثواب و الاخروي مراد بالاجماع فاذا قيل حکم الاعمال بالنيات و يراد به الثواب صدق الکلام فلا دلالة له على الصحة.

ترجمه: او نیت دی او هغه ترتیب چې تصریح شوی په هغه باندې یعني هغه ترتیب چې ذکر شوی په نص د قرآن کې او دا دواړه فرض دي د امام شافعي رحمه الله په نزد هر چې نیت دی نو دا د وجې د دې قول د نبي علیه السلام نه چې بیشکه اعمال په نیتونو سره دي او زمونږ جواب دا دی چې ثواب خو متعلق دی تر نیت پورې په اتفاق سره نو ضروري ده چې حدیث کې ثواب مقدر شي او یا داسې شیئ مقدر شي چې هغه ثواب ته شامل وي مثلاً حکم د اعمالو په نیت باندې دی خو که ثواب مقدر شي نو دا خو ښکاره خبره ده او که حکم مقدر شي نو حکم بیا په دوه قسمه ده ۱-دنیوي لکه صحت. ۲-اخروي لکه ثواب او اخروي بالاجماع مراد دی نو کله چې وویلی شي چې حکم د اعمالو په نیت پورې دی او مراد په دې سره ثواب شي نو خبره رښتیا شوه نو بیا دغه حدیث دلالت په صحت باندې نه کوي یعنې چې ته د صحت لفظ په کې مقدر کړې

توضیح: او یوولسم سنت د اوداسه نیت دی او دولسم سنت د اوداسه هغه ترتیب دی چې قرآن کې ذکر دی مصنف رحمه الله قید نص علیه و رسره د دې لپاره ذکر کړو چې ګوره مطلق ترتیب سنت نه دی بلکې هغه ترتیب سنت دی چې کوم په آیات کې ذکر شوی چې اول به مخ وینځي بیا به لاسونه وینځي بیا به سر مسح کوي بیا به پښې وینځي، **ای الترتیب الخ**. غرض د شارح د دې لفظ نه دا دی چې دا قول د مصنف چې نص علیه صرف وصف د ترتیب دی نه د هر یو د نیت او ترتیب نه ځکه د نیت ذکر په قرآن کې نشته. **المذکور فی نص القرآن الخ** غرض د شارح د دې عبارت نه دا دی چې ګوره کله نص په معنی د تصریح سره راځي لکه **هذه المسئلة منصوصة ای مصرحة فی الکتب** خو دا معنی دلته مراد نه ده بلکې مراد د دې نه دا ده چې **المذکور فی القرآن** دویم غرض د شارح د دې عبارت نه دفع د یو دوه و همونو ده ۱-سوال: چې هر کله ترتیب منصوصه علیه په قرآن کې وو نو بیا د دې خلاف څرنګه جائز شو؟ نو شارح جواب وکړو چې د دې معنی دا نه ده چې دا ترتیب منصوص ده په امر د الله تعالی په قرآن کې بلکې مراد د اده چې مذکور ده په قرآن کې. ۲-سوال: چې په اصطلاح د اهل اصولو کې منصوص عبارت دی د **ماسیق الکلام لاجله و قصد به** یعني منصوص هغه دی چې کلام د هغه د وجې راوړل شوی وي او دا مقصود به وي او دا معلومه خبره ده چې آیات د اوداسه د بیان د ترتیب لپاره نه دی راوړل شوی بلکې صرف د بیان د ارکانو د

او داسه لپاره راوړل شوي نو شارح جواب وکړو چې مراد د منصوص نه منصوص مصطلح مراد نه دی بلکې مراد د منصوص نه المذکور فی القرآن دی نو زمونږ د احنافو په نزد نیت او ترتیب په او داسه کې سنت دی او د امام شافعي رحمه الله په نزد نیت او ترتیب دواړه فرض دي ترديي پوري که یو کس اودس وکړو بغیر د ترتیب نه او یا بغیر د نیت نه نو په دغه اودس باندي د امام شافعي په نزد لمونځ نه صحیح کیږي او زمونږ د احنافو په نزد که نیت او ترتیب په اودس کې نه وو نو لمونځ پري جائز شو خو دوه نقصانه یې وشول چې یو یې مامور به اداء نه کړه او بل یې ثواب ونه شو فرضا که یو سړی اودس وکړي خو مسح د سر تري هیره شو او بیا د ده سر باران لوند کړ نو آیا په دغي اودس لمونځ کیږي او که نه د احنافو په نزد جائز دی او د شوافعو په نزد جائز نه دی نو حاصل د خبري دا راووت چې کوم اودس قربت او عبادت وي نو په هغه کې با الاتفاق نیت شرط دی خو اختلاف صرف په دي کې دی چې کوم اودس کې نیت نه وي شوی نو آیا دغه اودس مفتاح للصلوة دی او که نه نو احناف وایې چې دی او شوافع وایې چې نه دی کما سیاتي ان شاء الله.

اما النیة الخ غرض د شارح د دي عبارت نه بیان د دلیل د شوافعو کوي په فرضیت د نیت باندي او د ترتیب خبره وروسته تفصیلا راځي چې امام شافعي رحمه الله وایې چې نیت فرض دی د وجي د دي قول د نبي علیه السلام نه (**انما الاعمال با النیات**) چې بیشکه عملونه په نیتو سره دي یعني صحت د اعمالو په نیت پوري تعلق لري، **و جوابنا ان الثواب الخ** غرض د شارح د دي عبارت نه جواب دی د استناد د امام شافعي نه په حدیث مذکوره سره خلاصه د جواب د اده چې په عباداتو کې د ثواب حصول موقوف وي تر نیت پوري په اتفاق د احنافو او شوافعو سره ترديي پوري که کوم عمل کې اراده د طاعت د الله جل جلاله او تقرب الی الله تعالی نه وي نو په هغه عمل له سره ثواب نه حاصلیږي. هغه عمل که د وسائلو څخه وي لکه اودس تیمم وغیره او یا عبادت محضه وي نو کله چې ثواب موقوف تر نیته پوري شو نو په کار ده چې په دي حدیث کې د ثواب لفظ مقرر شي او داسي وویلی شي چې **انما ثواب الاعمال با النیات** او یا داسي یو شي مقدر کړي چې هغه ثواب ته هم شامل وي. او غیر ثواب ته هم شامل وي لکه حکم ځکه دا ثواب ته هم شامل دی ځکه ثواب حکم اخروي ده او صحت ته هم شامل ده ځکه صحت حکم دنیوي ده بیا به یې معنی داسي شي چې

حکم الاعمال بالنیات نو اوس که ثواب مقدر کوي نو بیا خو ښکاره خبره ده چې دا حدیث مذکور دلالت په اشتراط د نیت باندي نه کوي د صحت د عباداتو لپاره بلکه دا دلالت کوي په اشتراط د نیت باندي د حصول د ثواب لپاره نو امام شافعي ستا خبره صحیح ثابته نه شوه بلکه زمونږ د خبري تصدیق وشو. او که چیرته حکم مقدر کوي نو حکم خو بیا په دوه قسمه دی ۱-حکم دنیوي چې صحت او فساد دی یعني که نیت په کې وو نو عمل به صحیح وي او که نیت په کې نه وو نو عمل به فاسد وي ۲-حکم اخروي چې ثواب او عقاب دی یعني که نیت په کې وو نو ثواب به الله جل جلاله ورکړي او که نیت په کې نه وو نو عقابه ورکړي او دلته بیا هم په اتفاق د احنافو او شوافعو حکم اخروي مراد دی ځکه بغیر د نیت نه ثواب نه وي نو کله چې داسي وویلی شي چې حکم د اعمالو په نیتو سره دی او مراد د دي حکم نه هم ثواب شو نو د احنافو خبره بیا دلته صحیح شوه چې دا حدیث دلالت په صحت باندي نه کوي ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

فأن قیل مثل هذا الکلام یتاتي فی جمیع العبادات فلا دلالة له علی اشترط النیة فی العبادات و ذلک باطل فأن المتمسّک فی اشتراط النیة فی العبادات هذا الحدیث قلنا نقدر الثواب لکن المقصود فی العبادات المحضة الثواب فأذا خلت عن المقصود لا یکون لها صحة لانها لم تشرع الالأ کونها عبادةً بخلاف الوضوء اذا لیس هو عبادةً مقصودةً بل شُرِعَ شرطا لجواز الصلوة فأذا خلا عن الثواب انتفی کونه عبادةً لکن لا یلزم من هذا انتفاع صحته اذ لا یصدق علیه انه لم یُشرع الا عبادة فیبقی صحته یعني انه مفتاح الصلوة کما فی سائر الشرائط کتطهیر الثواب و المکان و ستر العورة فأنه لا تشترط النیة فی شيءٍ منها.

ترجمه: که څوک ووایې چې داسي کلام خو حاصلیږي په ټولو عباداتو کې نو بیا خو دا حدیث دلالت نه کوي په اشتراط د نیت باندي په عبادات مقصودو کې او دا خبره باطله ده ځکه کوم حدیث باندي چې دلیل نیولی شي په اشتراط د نیت باندي په عباداتو کې هغه همدا حدیث دی. نو مونږ وایو چې مونږ ثواب مقرر کوو لیکن مقصود په عبادات محضوو کې ثواب دی او دغه عبادات چې کله د مقصود نه خالي وي نو هغو لره صحت نه وي ځکه دغه عبادات نه دي روا شوي مګر په دي خاطر چې دا عبادت دی په خلاف د اوداسه ځکه اودس عبادت مقصوده نه دی بلکې روا شوی شرط د جواز د لمونځ لپاره نو کله چې دا

اودس د ثواب نه خالي وي نو عبادت والی يې ختم شو لیکن د انتفاء د عبادت نه نه لازمیږي انتفاء د صحت د اودا سه ځکه چې په اودس دا خبره نه صادقیږي چې دا اودس نه دی روا مګر عبادت نو صحت د اودس پاتی شو په دي معنی چې دا اودس کنجي د لمانځه ده لکه په نورو شرایطو کې لکه پاکوالی د جامو او د ځای او پټول د عورت ځکه نیت په دي یو کې هم شرط نه ده.

التوضیح: غرض د شارح د دي عبارت څخه اعتراض دي په تقریر مذکور باندي خلاصه د دي عبارت دا ده چې تا وویلې چې حدیث د **انما الاعمال بالنیات** دلالت نه کوي په اشتراط د نیت باندي د صحت د اوداسه لپاره او دا دي هم وویلې چې مقدر په دي کې که ثواب شي نو دا هم ظاهره ده او که مقدر عام شي لکه حکم او د حکم نه حکم اخروي مراد شي چې هغه ثواب وي نو بیا هم خبره صادقه ده او صحت باندي دلالت نه کوي نو داسي تقسیم په نورو عباداتو کې هم جاري کیږي یعني چې مقدر ثواب شي نو دا حدیث خو بیا په اشتراط د نیت باندي د صحت د عبادات مقصودوو لپاره هم دلالت نه کوي او حال دا چې خبره داسي نه ده یعنی باطله ده ځکه ستا په نزد باندي خو همدا حدیث دلیل دی د اشتراط د نیت د صحت د عبادات مقصود وو لپاره لکه لمونځ وغیره عجیبه خبره ده چې په عبادات مقصودؤ کې هم دا حدیث د اشتراط د نیت د صحت عباداتو لپاره دلیل نیسي او په غیر مقصود وو کې بیا د صحت د عبادت لپاره دلیل نه نیسي **قلنا الخ**: شارح رحمه الله د دغه اعتراض جواب کوي چې عبادات په دوه قسمه ده ۱-عبادات محضه (مقصوده) ۲-عبادات غیر محضه (غیر مقصوده) ۱-عبادات محضه دي ته وایې چې د بل عبادت لپاره نه وسیله وي او نه شرط وي د صحت د بل عبادت لپاره او مقصود ددي نه صرف ثواب وي نه د بل لپاره وسیله. ۲-عبادات غیر محضه دي ته وایې چې د بل عبادت لپاره وسیله هم وی او شرط هم وي د صحت د بل عبادت لپاره لکه شرائط د لمانځه چې اودس دی پاکوالی د جامو دی او پاکوالی د ځای دی وغیره او مقصود دي نه دوه شیان دي ۱-ترتب د ثواب په دي باندي او د بل عبادت لپاره وسیله واقع کیدل نو کله چې عبادات محضه د ثواب څخه خالي شي نو د صحت نه هم خالي کیږي ځکه دغه عبادات محضه نه دي روا شوي مګر چې عبادت وي یعني چې د شریعت مطابق وي او ثواب پرې مرتب شي نو کله چې نیت په کې نه وي نو ثواب پرې نه مرتب کیږي او کله چې ثواب مرتب نه شونو صحیح هم نه شو نو د همدي وجي څخه مونږ

فيصله وکړه چې ثواب او صحت دواړه تر نيته پوري موقوف دي او هر چې عبادات غير محضه دي نو کله چې دا د نيت نه خالي وي نو د ثواب نه هم خالي کيږي خو د صحت نه نه خالي کيږي ځکه د وسيله توب معنى اوس په دي کې موجود ده نو د انتفاء د ثواب نه په عبادات غير محضورو کې انتفاء د صحت نه راځي ځکه عبادات غير محضه يواځي د عبادت او ثواب لپاره نه دی روا شوی بلکه وسيله د عبادت لپاره هم ده نو صحت يې پاتي شو، اوس سوال دا راغی چې آيا دغه اودس غير منوي مفتاح الصلوة کيدای شي او که نه، نو شارح جواب وکړو چې بمعنى انه مفتاح الصلوة الخ يعني په دي معنى چې دغه اودس غير منوي مفتاح الصلوة دی يعني لمونځ پري صحيح کيږي او د انسان ذمه پري فارغيږي لکه په نورو شرائطو د لمانځه کې لکه پاکوالی د جامو او د ځای کې او عورت پټول ځکه په دي يو کې هم نيت شرط نه ده او صحيح دی ۱۲ عبد الرشيد صافی عفی عنه.

و اما الترتيب فلقوله تعالى فاغسلوا وجوهكم فيفرض تقديم غَسْل الوجه فيفرض الباقي مرتبا لان تقديم غسل الوجه مع عدم الترتيب في الباقي خلاف الاجماع قلنا المذكور بعده حرف الواو فالمراد فاغسلوا هذا المجموع فلا دلالة له على تقديم غسل الوجه و ان سُلِّم فمتى استدل المجتهد بهذه الاية لم يكن الاجماع منعقدًا فاستدلاله بها على ترتيب الباقي استدلال بلا دليل و تمسكٌ بمجرد زعمه لا با الاجماع و قد رأيت في كتبهم الاستدلال بقوله عليه السلام هذا وضوء لا يقبل الله تعالى الصلوة الا به و قد كان هذا الوضوء مرتبا فيفرض الترتيب.

ترجمه: هر چې ترتيب فرض دی دا د وجې د دي قول د الله تعالى نه چې تاسو وويښځئ خپل مخونه نو فرض ده مخکې کول د مخ وينځل نو فرض ده مخکې کول د باقي اندامونه په ترتيب سره ځکه وړاندي والي د وينځلو د مخ سره د عدم ترتيب نه په باقي کې خلاف د اجماع نه دی نو مونږ وايو چې پس له امر نه په وينځلو د مخ باندي حرف واو ذکر شوی دی نو مراد تري دا شو چې ووينځئ دغه مجموعه اندامونه نو دغه خبره خو هيڅ دلالت نه کوي په وړاندي والي د مخ وينځلو باندي او که دا هم ومنل شي نو کله چې مجتهد دليل ونيسي په دي آيات باندي نو اجماع منعقد نه شوه نو دليل نيول د مجتهد په دي آيات باندي په ترتيب د باقي اندامونو سره استدلال بلا دليل دی او عمل کول دي صرف په خپل ګمان سره

نه په اجماع باندي او په تحقيق سره ما ليدلي په کتابونو د شوافعو کې هم استدلال په دي قول د نبي عليه السلام باندي چې دا اودس دی الله تعالی نه قبلوي لمونځ مگر په دي سره او دا اودس په ترتيب سره وو نو ترتيب فرض شو

قول اللبيب في بيان الترتيب:

اجماع څه ته وايي. جواب: اجماع شرعي چې کومه يوه دليل ده د ادله اربعوو څخه دي ته وايي چې اتفاق د مجتهدينو د يو عصر راشي په يو حکم باندي او دا اجماع بيا په دوه قسمه ده ۱- اجماع بسيط ۲- اجماع مرکب.

۱- اجماع بسيط دي ته وايي چې اتفاق د مجتهدينو وي په حکم کې سره د اتفاق نه په علت کې لکه حکم د ماتيدلو د اودس په راوتلو د يو شي سره د يو د دوو لارو څخه چې متيازي او ډک اودس ماتی دی نو په دي کې د ټولو علماؤ اتفاق دی چې د دي دوه لارو څخه د هر يوي څخه چې څه راووځي نو حکم د ماتوالي به پري کولی شي.

۲- اجماع مرکب: دي ته وايي چې اتفاق په حکم کې وي خو اختلاف په علت کې وي لکه يو سړی قيئ هم وکړي او ذکر هم مس کړي نو با الاتفاق د دي سړي اودس مات دی ليکن علت کې سره مختلف دي زمونږ په نزد د دي علت قيئ دی او د امام شافعي په نزد علت د اودس ماتيدلو ذکر ته لاس وروړل دي او دلته يوه دريمه خبره هم شته چې عدم قائل با الفصل ورته وايي هغه دي ته وايي چې اختلاف د مجتهدينو په حکم او علت دواړو کې وي خو په يو دريم حکم کې سره متفق وي نو دي ته عدم قائل با الفصل وايي، مثلاً: د پلار او نيکه لپاره ولايت د اجبار په صغيره باندي شته چې باکره وي او که شيبه وي يعني علت د ولايت اجبار لپاره د احنافو په نزد صغر دي او د شوافعو په نزد علت د ولايت اجبار لپاره بکر ده يعني که باکره وه صغيره وي او که کبير وي نو پلار او نيکه ته ولايت اجبار شته نو په باکري بالغي باندي د احنافو په نزد ولايت اجبار نه د پلار لپاره شته او نه د نيکه لپاره شته ځکه علت د احنافو په نزد ولايت اجبار لپاره صغر دی او هغه دلته نشته او شوافع وايي چې په باکر بالغي باندي هم د پلار لپاره ولايت اجبار شته او هم د نيکه لپاره ځکه علت د ولايت اجبار د شوافعو په نزد بکر دی او هغه موجود دی نو خلاصه دا شوه چې احناف او شوافع په دي کې مختلف دی چې احناف وايي چې په مذکوره صورت کی يعنی په باکره بالغه باندی عدم ولايت اجبار پلار او نيکه دواړو ته شامل دی او شوافع وايي چې وجود د ولايت اجبار پلار او نيکه دواړو ته شامل دی په دي کې سره اختلاف دی خو ليکن په يو دريم شيئ کې سره متفق وي چې وجوب د مساوات دی د پلار او نيکه

ترمينځ که پلار نه ولايت اجبار ثابت وي نو نيکه ته به هم ثابت وي او که پلار ته ولايت اجبار ثابت نه وو نو نيکه ته به هم ثابت نه وي په دې کې سره اتفاق دی نو که په دې صورت کې څوک داسې ووايي چې د پلار لپاره ولايت اجبار ثابت دی او د نيکه لپاره ثابت نه دی نو دی به مخالفت د اجماع مرکب نه وکړي او قائل به په فصل باندې شي او دغه اجماع به باطله شي نو امام شافعي رحمه الله وايي چې ترتيب فرض دی او استدلال په دې طريقه کوي چې په قول د الله تعالى کې په فاغسلوا وجوهکم کې فاء راغلې او فاء د تعقيب مع الوصل لپاره راځي نو دا فاء دلالت کوي په وجوب د غسل د مخ متصل وروسته د ارادې د قيام نه نو معنى به يې داسې شي چې کله تاسو اراده د پاڅېدلو وکړئ لمونځ ته نو متصل ورپسې مخ ووينځئ نو د مخ وينځل مقدم شو د نورو اندامونو په وينځلو باندې نو کله چې په دې آيات سره د مخ د وينځلو او د ارادې د لمونځ ترمينځ ترتيب ثابت شو نو د نورو اندامونو ترمينځ هم ترتيب ثابت شو ځکه که د مخ د وينځلو او لمونځ د ارادې ترمينځ ترتيب ثابت شي او د نورو اندامونو ترمينځ ثابت نه شي نو لازم به شي خلاف الاجماع او قائل با الفصل به راشي هغه داسې چې د تقديم د غسل د وجه قائل شي بدون د ترتيب نه په باقي اندامونو کې ځکه احناف قائل دی په عدم وجوب د ترتيب سره په ټولو اندامونو کې او شوافع قائله دي په وجوب د ترتيب سره په ټولو کې نو اجماع د شوافعو او احنافو راغله په وجوب د مساوات باندې په مينځ د غسل د وجې او د باقي اندامونو کې په دې شان چې شوافع په ټولو کې د ترتيب قائل دي او احناف په ټولو کې د ترتيب قائل نه دي نو اوس که په بعض اندامونو کې د ترتيب د وجوب قائله شي او په بعض کې قائله نه شي نو دا به مخالفت د اجماع نه راشي او قائل با الفصل به شي او دا باطل ده.

قلنا الخ: غرض د شارح رحمه الله د دې عبارت څخه جواب دی د استدلال د امام شافعي رحمه الله نه په دوه طريقو سره ۱- په طريقه د منع سره يعنې منع د اولنې مقدمې د هغو دوه مقدمو د امام شافعي رحمه الله نه. ۲- په طريقه د تسليم سره چې رد د دويمې مقدمې د امام شافعي رحمه الله کوي.

نو خلاصه د اول جواب دا ده چې مونږ له سره دا خبره نه منو چې دا آيات دلالت په دې کوي چې غسل د وجه به مقدم وي او د دې نه د باقي اندامونو ترمينځ ترتيب ثابت کړي ځکه چې د فاغسلوا وجوهکم نه وروسته واو راغلى او واو مطلقا د جمع لپاره وي په ترتيب باندې دلالت نه کوي او لفظ د ايديکم و ارجلکم عطف دی په وجوهکم باندې دا معطوفين سره د

معطوف علیه نه داخل شو د اغسلوا لاندي او دا عطف د مفرد په مفرد راځي نو فاء په غسل د ټولو اندامونو داخله شوه نه په غسل د وجه باندي نو د آیات نه صرف تقدیم د غسل د مجموع معلوم شو او وروسته وامسحوا عطف دی په فاغسلوا باندي بغیر د دلالت نه په ترتیب باندي

و ان سُلم الخ غرض د شارح د دي عبارت څخه جواب دی د استدلال د امام شافعي نه په طریقه د تسلیم سره او رد دی د دویمي مقدمي دهغه دوه مقدمو د امام شافعي نه چی اوله مقدمه دا ده چې دا آیات دلالت کوي په تقدیم د غسل د وجه باندي او دویمه مقدمه دا ده چې لزوم د خلاف الاجماع راځي نو حاصل د خبري دا ده چې که مونږ دا فرضًا ومنو چې دا آیات دلالت کوي په تقدیم د غسل د وجه باندي الخ او لازمیږي خرق الاجماع نو ستاسي دا خبره خو تقاضا د دي کوي چې باید د دي استدلال څخه دی مخکې زمونږ او ستاسو ترمینځ اجماع مرکب موجوده وي او اجماع مرکبه هم هلته موجودیږي چې ستاسو دغه مذهب چې وجوب د ترتیب دی په ټولو اعضاؤ کې باید مخکې لدی څخه ثابت وي چې ستاسو دغه مذهب زمونږ د مذهب سره اجماع مرکبه وګرځي او حال دا چې ستاسو مذهب چې تقدیم د غسل د وجه دي مخکې له دي استدلال څخه ثابت نه دی نو چې مذهب ثابت نه شو نو اجماع مرکبه هم ثابته نه شوه ځکه اجماع تعلق د مذهب پوري لري او مذهب تعلق د آیاته پوري لري نو د دي استدلال څخه مخکې ستا مذهب معلوم نه دی نو چې مذهب معلوم نه شو نو اجماع هم معلومه نه شوه فمتی استدلال المجتهد الخ نو کله چې مجتهد یعني امام شافعي رحمه الله په دي آیات باندي دلیل ونیولو نو اجماع منعقده نه شوه او په تقدیم د غسل د وجه کې چې اجماع منعقده نه شوه نو په ترتیب د باقي اعضاؤ کې استدلال نیول بلا دلیله شول ځکه د باقي اعضاؤ د ترتیب استدلال مبني وو په استدلال د تقدیم د غسل د وجهي باندي او استدلال د تقدیم د غسل د وجهي چې صحیح نه شو نو استدلال د ترتیب د باقي اعضاؤ هم صحیح نه شو ځکه بناء په فاسد فاسده وي نو دا استدلال بلا دلیله او صرف ستاسو په خپل زعم او ګمان باندي مبني دی نه په اجماع باندي .

و قد رأیت الخ غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت څخه وضاحت د یو بل استدلال د شوافعو دی او دهغه څخه جواب کول شارح رحمه الله وایي چې ما د شوافعو په کتابونو کې ولیدل چې دوی په فرضیت د ترتیب باندي په یو بل حدیث سره استدلال کړی وو چې هغه دا

قول د نبي علیه السلام دی هذا وضوءٌ **لا یقبل الله تعالی الصلوة الا به یعني نبي علیه السلام**

اودس اوکړو او یو یو ځل یې اندامونه ووینځل او بیا یې وفرمایل چې دا کار چې ما وکړو الله تعالی لمونځ نه قبلوي مګر په دې سره نو نبي علیه السلام د لمونځ قبلول منحصره کړه په هغه اوداسه کې چې د ده د اودس په شان وي او ښکاره خبره ده چې د نبي علیه الصلوة و السلام اودس په ترتیب سره وو نو د دې نه معلومه شوه چې الله پاک نه قبلوي لمونځ مګر په داسې اودس سره چې په ترتیب سره وي او د کوم شیئ نه چې بغیر لمونځ نه قبلیږي هغه نه وي مګر فرض وي نو ترتیب هم فرض شو، نو د دې استدلال د شوافعو ځخه پنځه جوابه دی چې یو جواب په خپله شارح کړی هغه به وروسته ذکر کیږي

۱- لما روی الطبراني في الکبیر، أن رجلا جاء الی نبي صلی الله علیه و سلم فسئاله عن الرجل یغتسل من الجنابة فیخطئ بعض جسده الماء فقال رسول الله یغسل ذلک المکان ثم یصلی (مجمع الزوائد ج ۱ ص ۲۷۳ فقه حنفی ج ۱ ص ۴۶).

ترجمه: روایت کړی طبراني په کبیر کې چې یو سړی نبي علیه السلام ته راغی نو پوښتنه یې تري وکړه په باره د یو سړي کې چې د جنابت نه غسل کوي او بعض اندامونو ته یې اوبه ونه رسیږي؟ نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل چې دغه ځای دې ووینځي او بیا دې لمونځ وکړي نو د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې ترتیب فرض نه دی ولې که ترتیب فرض وی نو بیا به نبي علیه السلام ورته د سر نه د غسل کولو امر کړی وو او وروسته د لمونځ نو چونکه چې نبي علیه السلام کله ورته دهمغه پاتي ځای د وینځلو امر وکړو او بیا د لمونځ کولو دا دلیل د دې دی چې ترتیب فرض نه دي.

۲- کوم حدیث چې امام شافعي رحمه الله چې استدلال کې نیولی دغه حدیث په ټولو طریقو سره ضعیف دی په فرضیت د ترتیب باندې د احتجاج کولو صلاحیت نه لري.

۳- که دا حدیث صحیح هم شي خو بیا هم خبر واحد دی او په خبر واحد سره فرضیت نه ثابتیږي

۴- دا دعوه ستاسو چې دغه اودس د نبي کریم صلی الله علیه و سلم په ترتیب سره وو، بلا دلیله ده ځکه په یوه طریقه کې هم د طروقو د حدیثونه ذکر شوی نه ده او نه د حدیثو په کتابو کې دا ذکر دی چې نبي علیه السلام دغه اودس په ترتیب سره کړی وو او بیا نبي علیه السلام فرمایلي وي چې **هذا وضوء لا یقبل الله الصلوة الا به**. او سره د دې نه حافظ ابن حجر په تخریج د احادیثو د رافعي وغیره کې تصریح کړي چې لا اصل له یعني دا حدیث اصل نه لري.

۵.جواب د شارح لخوا نه داسي ده چې دا قول د نبي عليه السلام **هذا وضوء الخ** راجع ده مرت ته يعني دغه يو ځل وينځلو ته لکه څرنګه چې د حديث د سياق څخه معلوميږي مکمل حديث داسي دی **عن ابن عمر رضي الله عنه قال توضأ رسول الله مرة مرة و قال هذا وضوء لا يقبل الله الصلوة الا به ثم توضأ مرتين مرتين و قال هذا وضوء من يضاعف له الاجر ثم توضأ ثلاثا و قال هذا وضوئي و وضوء المرسلين قبلي.**

نو په دي حديث کې په هذا سره اشاره دغي مرة ته ده نه ترتيب ته ځکه دغه اودس به خالي نه وي يا به ابتداء د ارکانو په دي کې د ښي طرف نه وي او يا چپ طرف نه او همدارنګه به يا په طريقه د موالاة سره وي او يا عدم موالاة سره وي نو دا قول د نبي عليه السلام چې هذا وضوء الخ نو که مراد په دي اشاري سره دغه اودس د نبي عليه السلام مراد وي سره د ټولو اوصافو د اودس نه چې هغه موالاة او عدم موالاة او تيامن او عدم تيامن دی نو اوس که دغه اودس چې مشار اليه په هذا سره دی که په طريقه موالاة سره وي نو موالاة فرض شو او که په طريقه د عدم موالاة سره وي نو عدم موالاة فرض شو او که په طريقه د تيامن سره وي نو تيامن فرض شو او که په طريقه د عدم تيامن سره وي نو عدم تيامن فرض شو او که دغه اودس بجميع اوصافه مراد نه شي نو بيا دا قول د نبي عليه السلام چی هذا وضوء الخ دلالت په ترتيب نکوی نو ستاسی دغه دعوه چی دنبیﷺ اودس په ترتيب سره وو بلا دليل پاتي شو نو ترتيب فرض نه شو بلکې سنت وګرځيده ۱۲ عبد الرشيد صافي عفي عنه.

و الولاء اي غسل الاعضاء على سبيل التعاقب بحيث لا يجف العضو الاول و عند مالک هو فرض و الدليل على کون الامور المذکورة سنة مواظبة النبي صلى الله عليه و سلم من غير دليل على فرضيتها.

ترجمه: او بل د سنت د اوداسه نه ولاء ده يعني وينځل د اندامونو په طريقه د تعاقب سره په داسي شان سره چې اول اندام وچ نه شي او په نزد د امام مالک رحمه الله ولاء فرض ده او دليل په دغه ټولو امورو مذکورو باندي د سنتيت هميشه والي د نبي عليه السلام دی بغير د څه دليل نه د دي په فرضيت باندي

قول العلماء في بيان الولاء

۱۳ د يارلسم سنت د سنتو د اوداسه نه ولاء ده ولاء په كسرى د واو سره او په مد سره په لغت كې تتابع ته وايې يعني پرلپسي والي او په اصطلاح كې عبارت دى د وينځلو د اندامونو نه په طريقه د پرلپسي والي سره په داسي شان سره چې اول اندام وچ نه شي سره د اعتدال د هواء نه او سره د اعتدال مزاج نه نو موالاة پريښودل كه د وجې د عذر څخه وو نو بيا پروا نه لري او كه بغير د عذر څخه وو نو بيا مكروه دى . (فقه حنفي ج ۱ ص ۴۷)

خو د امام مالک رحمه الله په نزد ولاء فرض ده ، دغه لپاره دليل دا حديث د نبي عليه السلام دى **اخرجه ابوداؤد انه صلى الله عليه و سلم رأى رجلاً يصلى و فى قدمه لمعة لم يصبها الماء فامره ان يعيد الوضوء و الصلوة.** ترجمه: نبي عليه السلام يو سړى وليدو چې لمونځ يې كاوه او په پښه كې يې لږ ځاى وچ پاتې وو نو نبي عليه السلام ورته امر وكړو چې اودس او لمونځ دواړه راوګرځوه نو كه ولاء فرض نه وى نو نبي عليه السلام به ورته صرف د همغه وچ ځاى د وينځلو امر كړى وو نو معلومه شوه چې ولاء فرض ده او بل حديث په مصنف ابن ابي شيبه او مصنف عبد الرزاق كې نقل شوى **ان عمر رأى رجلاً توضأ فبقى فى رجله قدر ظفر فقال اعدالوضوء.** يعني حضرت عمر رضى الله عنه يو سړى وليدو چې اودس يې وكړو او په پښه كې يې په اندازه د يو نوك ځاى وچ پاتي شو نو حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل چې اودس راوګرځوه، نو كه ولاء فرض نه وى نو حضرت عمر ﷺ به ورته د ټول اودس د كولو امر نه كولو نو معلومه شوه چې ولاء فرض ده،

د امام مالک رحمه الله د دي استدلالاتو څخه احناف داسي جواب كوي چې دغه احاديث خبر واحد دي په خبر واحد سره فرضيت نه ثابتيږي سره د دي نه چې قرآن او حديث مشهور د فرضيت د ولاء څخه ساكت دى او كه څوک دا اعتراض وكړي چې امر با الاعاده خو دليل د فرضيت دى نو د دي جواب دا ده چې امر بالاعادة په سنتو هم كيدلى شي د وجې د اهتمام نه په سنتو باندي او د احنافو لپاره دلائل په سنتيت د ولاء باندي داسي دي چې نبي عليه السلام په ولاء باندي هميشه والى كړى سره د ترک نه كله كله او دغه مواظبت او هميشه والى دليل ، سنتيت وي او دويم دليل داسي دى چې امام مالک په خپله په موطاء كې تخريج كړى **عن نافع ان ابن عمر بال فى السوق ثم توضأ فغسل وجهه و يديه و مسح برأسه ثم دعى لجنازة ليصلى**

عليها حين دخل المسجد فمسح على خفيه ثم صلى عليها رواه مالک و اسناده صحيح. ترجمه روايت دی د نافع نه چې عبد الله بن عمر په بازار کې اودس مات کړو بيا يې اودس وکړو مخ او لاسونه يې ووينځل او په سر يې مسح وکړه بيا د جنازې لپاره وغوښتلی شو چې په جنازه لمونځ وکړي کله چې مسجد ته داخل شو نو مسح يې وکړه په موزو باندې (فقه حنفي ج۱ ص ۴۷ اعلاء السنن ج۱ ص ۶۶) نو د دې حديث څخه دا معلومه شوه چې ولاء فرض نه ده، **والدليل الخ** د مخکنې مذکور امورو لکه لاسونه وينځل، مضمضه، مسواک، نيت، ترتيب، وغيره په سنت والي باندې دليل هميشه والی د نبي عليه السلام دی، اوس يو سوال متوجه کيږي چې نبي عليه السلام خو په بعضو فرايضو باندې هم هميشه والی کړی لکه لمونځ روژه وغيرهما نو بايد چې لمونځ او روژه هم سنت شي نو شارح رحمه الله د دې جواب وکړو چې من غير دليل على فرضيتها يعني مواظبت دلالت په سنتيت هلته کوي چې بل دليل د دې په فرضيت يا وجوبيت نه وي او دغه امور چې ولاء ترتيب وغيره دی په دې باندې هم بل څه دليل د فرضيت يا وجوبيت نشته نو مذکوره امور سنت شو. ۱۲ عبدالرشيد صافي عفی عنه.

و مستحبُّه التيامن اى الابتداء باليمين فى غسل الاعضاء فان قلت لا شک ان النبى صلى الله عليه و سلم واظب على التيامن فى غسل الاعضاء و لم يرو احدٌ انه بدأ بالشمال فينبغي ان يكون سنةً قلت السنة ما واظب النبى عليه السلام عليه مع الترک احيانا فان كانت المواظبة المذكورة على سبيل العبادة فسنن الهُدٰى و ان كانت على سبيل العادة فسنن الزوائد كلبس الثياب و الاكل باليمين و تقديم الرجل اليُمنٰى فى الدخول و نحو ذلک و كلامنا فى الاول و مواظبة النبى عليه السلام على التيامن كانت من قبل الثانى و يفهم هذا من تعليل صاحب الهداية بقوله عليه السلام ان الله تعالى يحب التيامن فى كل شيئ حتى التنعل و الترجل.

ترجمه: او مستحب د اودسه تيامن دی يعني شروع کول په ښي طرف سره په وينځلو د اندامونو کې، که ته د اعتراض په ډول ووايې چې بې شکه نبي عليه السلام په تيامن باندې هميشه والی کړی په وينځلو د اندامونو کې او هيچا دا روايت نه دی کړی چې نبي عليه السلام شروع په چپ طرف کړی وي نو په کار ده چې تيامن هم سنت شي (نه مستحب) نو زه په جواب کې وايم چې سنت هغه دی چې نبي عليه السلام په هغه هميشه والی کړی وي سره

د ترک نه کله کله نو که دغه مواظبة مذکوره په طريقي د عبادت سره وو نو دا سنت هدیٰ يعني سنت مؤکد شو او که مواظبت په طريقه د عادة سره وو نو بيا سنت زوائد شو لکه عادت د نبي عليه السلام په اغوستلو د جامو کښې او خوراک په ښي لاس باندي او مخکښې کول د ښي پښي دي په داخلولو کښې مسجد ته او داسي نور او خبره زمونږ په اول کښې ده او مواظبة د نبي عليه السلام په تيامن باندي د قبيلي د ثاني نه دی او دا خبره معلوميږي د تعليل د صاحب هدائي نه په دي قول د نبي عليه السلام چې بيشکه الله تعالى خوښوي تيامن په هر شي کښې تردي پوري چې په پڼو پښو کولو او سر ګومنځولو کښې هم فتح الباب فى توضيح الاستحباب غرض د مصنف رحمه الله د دي عبارت نه شروع کول دی په مستحباتو د او داسه کښې.

مستحب په لغت کښې شيئ محبوب او غوره کړای شوي ته وايي او په شريعت کښې هغه فعل ته وايي چې نبي عليه السلام يوځل کړی وي او بل ځل يې پريښي وي او يا يې په خپله کړي نه دي خو بل ته يې ترغيب په کښې ورکړی وي. (فقه حنفي ج۱ صف۴۷) په کولو کښې ثواب دی او په نه کولو کښې عذاب نشته په خلاف د سنت موکده سره چې دهغه پريښوونکي مستحق د ګناه ګرځي او مستحب ته مندوب هم ويلی شي، او ادب هم ويلی شي او فضيلت او نفل هم ويلی شي، د اوداسه مستحبات دوه دي ۱-تيامن يعني شروع کول په ښي اندام سرله په وينځلو د اندامونو کښې غسل حقيقي وي او که غسل حکمي وي لکه مسح د سر، د وجي د دي قول د نبي عليه السلام **اذا توضأتم فابدؤا بميامنكم.** يعني کله چې تاسو اودس کوی نو شروع وکړئ په ښي طرف خپل باندي او بل دهغه حديث د وجي چې بي بي عائشي روايت کړی. **لما روت السيدة عائشة رض قالت كان رسول الله صلى الله عليه و سلم يحب التيمن فى شأنه كله. فى نعليه و ترجله و طهوره** (صحيح مسلم ج۱ ص ۲۲۶) ترجمه: ام المؤمنين بي بي عائشة فرمايي چې نبي عليه السلام به تيمن په ټولو کارونو کښې خوښوو په پيزار پښو کولو کښې په سر ګومنځولو کښې او په اودس کولو کښې **فان قلت الخ** غرض د شارح د دي نه يو اعتراض راوړل دي هغه داسي چې د استحباب حکم په تيامن باندي صحيح نه دی. ځکه نبي عليه السلام په تيامن باندي هميشه والی کړی په غسل د اعضاؤو کښې او هيچا دا روايت نه دی کړی چې نبي عليه السلام تيامن پريښي دي او شروع يې په چپ طرف سره کړي نو په کار ده چې تيامن سنت شي نه مستحب نو شارح رحمه الله په قلت سره جواب کوي چې سنت هغه

دی چې نبي علیه السلام پرې همیشه والی کړی وي سره د ترک نه په بعض اوقاتو کې بیا دغه مواظبت په دوه قسمه ده وجه د حصر یې دا ده که په طریقي د عبادت سره وو نو دا سنت هُدیٰ شو سنت هدیٰ ورته ځکه وائي چې پدې باندې عمل کول هدایت دی او پریښودل ئې ضلالت دی لکه څرنګه چې عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائلی دی لو ترکتم سنته نبیکم لضللتم یعنی که تاسي دخپل پیغمبر سنت پریږدی نو تاسي به ګمراه شی (اخرجه مسلم) او دیته سنت مؤکد هم ورته ویلی شي او د دې پریښودونکی به مستحق د ملامتیا او عذاب ګرځي او که په طریقه د عادت سره وو نو بیا دې ته سنت زوائد وایې لکه د جامو اغوستل په ښي لاس سره خوراک کول او جومات ته په داخلولو کې ښي پښه مخکې کول او داسې نور او دا سنت زوائد د استحباب سره یو برابر دی په دې کې چې کوونکې ته به ثواب ورکولی شي او تارک د دې به نه شي ملامته کولی نو مواظبت په تیامن باندې د قسم ثاني نه شو چې هغه سنت زوائد دی نو سنت مؤکد نه شو بلکې مستحب شو **وکلامنا فی الاول الخ** یعني مقصود په دې ځای کې نفي د معني اولي ده د تیامن نه یعني تیامن د سنت هدیٰ څخه نه دی بلکې د قسم ثاني یعني زوائدو څخه دی. **ویفهم هذا الخ** د تیامن مستحب والی د تعلیل د صاحب هدایې څخه معلومیږي په دې قول د نبي علیه السلام **ان الله یحب التیامن الخ** یعني تعلیل د ده په حدیث مذکور سره دلالت په دې کوي چې تیامن د نبي علیه السلام په هر شیئ کې عادت وو تردې پورې چې په پیزار پښو کولو کې او په سر ګومنځولو کې هم، تنعل، اغوستل د پیزار او ترجل د سر د ویښتانو ګومنځول ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

ومسح الرقبة لان النبي علیه السلام مسح علیها

ترجمه: او مسح کول د څټ ځکه نبي علیه السلام مسح کړې په څټ باندې

تحفة الطلبة فی مسح الرقبة: دویم مستحب د اوداسه د څټ مسح کول دي دلیل په دې کې دا حدیث د نبي علیه السلام دی، **لما روی الطبرانی عن کعب بن عمرو الیامی أن رسول الله ﷺ توضأ فمضمض ثلاثا و استنشق ثلاثا یأخذ لکل واحدة ماء جدیدًا و غسل وجهه ثلاثا فلما مسح رأسه قال هکذا واو مأ بیده من مقدم رأسه حتی بلغ بهما الی اسفل عنقه من قبل قفاه. (معجم الطبرانی ج ۱۹ ص ۱۸۱ فقه حنفی ج ۱ ص ۴۷)**

ترجمه: د کعب بن عمرو الیامي څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ اودس وکړلو نو خولې ته یې درې واري اوبه واچولې او درې واري پوزې ته اوبه واچولې د هر یو لپاره به یې نوې اوبه راخیستلې او درې واري یې مخ ووینځه هر کله یې چې سر مسح کړو ویې فرمایل دا رنګه او اشاره یې وکړه په لاس سره د مخکې حصې د سر نه تردې چې دواړه لاسونه یې ورسول غاړې ته له طرف د شا نه

و لما روی عن نافع عن ابن عمر ان النبی علیه السلام قال من توضأ و مسح بیدیه علی عنقه و قی الغل یوم القیامة (اعلاء السنن ج۱ ص ۶۶، فقه حنفی)

ترجمه: روایت کړی نافع د عبد الله بن عمر څخه چې نبي علیه السلام فرمایلي چا چې اودس وکړلو او په دواړو لاسونو سره یې مسح وکړه په خپل شا باندې نو د قیامت په ورځ به د جهنم د طوق او کړۍ څخه وساتلی شي، نو د دې احادیثو څخه معلومیږي چې د شا مسح کول هم سنت دي ۱۲ عبدالرشید صافي عفی عنه.

و الناقضة ما خرج من السبیلین سواء کان معتادًا او غیر معتاد کالدود و الریح الخارجة من القبل و الذکر و فیه اختلاف المشایخ رحمهم الله.

ترجمه: او ماتونکي د اوداسه هغه شی چې راووځي د دوه لارو نه برابره خبره ده چې دغه راوتونکی شیئ عادتي وي لکه متیازې او ډک اودس ماتی) او یا غیر عادتي وي لکه چینجی او هغه باد چې راوتونکی وي د مخکني عورت د ښځې نه او د مخکني عورت د سړي نه او په دې کې اختلاف د علماؤ دی

القول الراسخ فیما فیه اختلاف المشایخ:

نقض په لغت کې په معنی د ماتوالي سره راځي بیا نقض په دوه قسمه ده ۱- په اجسامو کې په معنی د ابطال د ترکیب سره دی. ۲- په معانیو کې ویستل د دې د افادي د هغه څه نه چې هغه مطلوب وي او مطلوب د اوداسه نه د لمونځ روا والی وغیره دي نو ماتونکي د اوداسه اول هر هغه څه چې د یو د دوه لارو څخه راووځي چې هغه لارې یو دبر یعني د انسان د ډکولو بولو کولو ځای او دویم قُبل دې یعني د انسان د تشو متیازو کولو ځای د دې دواړو څخه چې څه راووتل برابره خبره ده چې هغه عادةً وي لکه تشې متیازې او ډکې متیازې او که غیر عادتًا وي لکه چینجی راوتل او باد راوتل د ښځې د مخکې عورت نه او د سړي د مخکې

عورت نه نو په دواړو صورتونو کې اودس مات دی ځکه د چینجي راوتل غیر معتاد دي نو که د دبر نه راووت نو بالاتفاق اودس مات دی او که د ښځي د مخکني عورت ځخه راووت نو په دیکی د علماؤ اختلاف دی نو کوم علماء چې وایي چې د قُبل (کوس) په بادو سره اودس ماتیږي نو هغوی وایي چې د قبل (کوس) په چینجي سره هم اودس ماتیږي او کوم علماء چې وایې چې د قُبل (کوس) په بادو سره اودس نه ماتیږي نو دهغوی په نزد د قُبل (کوس) په چینجي سره اودس هم نه ماتیږي او که د ذکر نه (دغین نه) چینجی راووځي نو شارح وروسته صفحو کې ویلې چې په دي سره اودس نه ماتیږي که د ذکر نه چینجی راوځي نو دا به خامخا د زخم نه راووځي او د زخم په چینجي سره اودس نه ماتیږي همدارنګه باد راوتل د قبل او ذکر نه هم غیر معتاد دی، د علماؤ په دي کې اختلاف دی بعضي علماء لکه امام محمد رحمه الله وایې چې په دي بادو سره اودس واجبیږي او دلیل په کې عموم والی د دي حدیث دی چې اودس نه ماتیږي مګر په هغه څه سره چې د قُبل او دبر ځخه راووځي او بعضي علماء وایي چې باد د قُبل او دبر اودس نه ماتوي دوی وایې چې د قُبل او دبر ځخه کومه هواء راوځي هغي ته اختلاج (وهم دباد) وایې ریح (باد) ورته نه وایې او که ریح هم شي نو د دي په راوتلو سره اودس نه ماتیږي او د دبر (کوني) ځخه چې کوم باد راووځي نو په هغه سره بالاتفاق اودس ماتیږي ځکه هغه په پلیتی باندي تیریږي او که چیرته ښځه مفضا ته وه یعني د قبل او دبر ترمینځ پرده یې شلیدلي وی او دواړه یو شوي وي نو بیا د قبل په باد سره هم اودس ماتیږي ځکه دا احتمال لري چې دا دبر ځخه وي.

قوله وفیه اختلاف المشائخ الخ د فیه ضمیر مرجع کوم شی ده؟ صحیح خبره دا ده چې مرجع د دي ریح دی چې د قبل او ذکر ځخه راووځي او د فیه ضمیر غیر معتاد ته راجع نه دی ځکه په غیر معتاد کې دَوْدَة هم داخله ده او په دوده کې اختلاف نشته ځکه په دي ځای کې د دودي ځخه مراد دوده د دبر ده او د دبر په دودي سره اودس ماتیږي او که ته وایې چې دوده یعني چینجی د قبل د ښځي به مراد وي نو دا خبره هم ستا صحیح نه ده ځکه چې شارح وروسته په دي باندي تصریح کړی چې په چینجي د قبل د ښځي کې اختلاف دی نو په دي ځای کې به دا اختلاف حمل شي په ریح باندي د دي لپاره چې تکرار رانه شي او که ته بیا دا ووایې چې د دي اختلاف نه به مراد د ذکر چینجی مراد وي نو دا خبره هم ستا صحیح نه ده ځکه شارح وروسته دا تصریح کړي چې د ذکر په چینجي سره اودس نه ماتیږي نو شارح حکم په نقض د اودس سره

کړې نو دا يو قسم نفي د دي اختلاف شوه. عبد الرشيد صافي عفى عنه.

او من غيره ان كان نجسًا سال الى ما يُطَهَّرُ اى الى موضع يجب تطهيره فى الجملة اما فى الوضوء او فى الغُسل و عند الشافعي الخارج من غير السبيلين لا ينقض الوضوء و قوله ان كان نجسا متعلق بقوله او من غيره و الرواية النجس بفتح الجيم و هو عين النجاسة و اما بكسر الجيم فما لا يكون طاهرًا هذا فى اصطلاح الفقهاء و اما فى اللغة فيقال نجس الشئ يَنْجَسُ فهو نَجَس و نَجِس

ترجمه: يا د غير د دوه لارو څخه وي که چيرته نجس وو او وبهيده هغه ځای ته چې پاکوالی شي يعني هغه ځای ته چې واجب وي پاکوالی د هغه په بعضو اوقاتو کې يا په اوداسه کې او يا په غسل کې او په نزد د امام شافعي رحمه الله را وتونکی ماسوا د دوه لارو څخه اودس نه ماتوي او دا قول د مصنف چې ان كان نجسًا تعلق نيسي تردي قوله پورې چې او من غيره او رواية د نجس په فتحي د جيم سره راغلی دی او دا ذات د پليتی ته وايې اما په کسرې د جيم سره هغه شي ته وايې چې پاک نه وي دا په اصطلاح د فقهاؤ کې اما په لغت کې ويلی شي **نَجِس الشئ يَنْجَسُ فهو نَجَسٌ وَ نَجِسٌ**.

وضاحت: دويم ماتونکی د اوداسه هغه شی دی چې راووځي ماسوا د دغو دوه لارو څخه چې يو دبر ده او بل قُبل ده خو که چيرته نجس وو او وبهيده هغه ځای ته چې پاکولی شي يعني کوم ځای چې په يو وقت د اوقاتو کې وينځلی شي هغه په اوداسه کې وي او که په غسل کې وي او هغه ته دا وينه مثلاً وبهيده نو اودس مات شو اما کوم ځای چې په يو وخت کې هم نه شي وينځلی لکه داخل د سترګي وغيره نو که دي ته وينه هم راشي خو اودس نه ماتوي ځکه داخل د سترګي نه په غسل کې وينځلی شي او نه په اودس کې وينځلی شي نو ماسواء د دغي دوه لارو څخه چې کوم شي وځي نو هغه د احنافو په نزد ماتونکی د اوداسه دي که هغه وينه وي او که زوي وي او که قيئ وي او د امام شافعي رحمه الله په نزد خارج من غير السبيلين اودس نه ماتوي د احنافو لپاره دلائل په عدم نقض د اودس باندي په خارج من غير السبيلين سره دا دي قوله عليه السلام **الوضوء من كل دم سائل. رواه ابن عدى فى الكامل. (فقه حنفي ج۱ص۵۶)** يعني اودس لازم دی د هريويني بهيدونکي څخه او بل دا

حدیث د بخاري **عن عائشة قالت قال النبي صلى الله عليه و سلم اذا اقبلت الحيضة فدعى الصلاة و اذا ادبرت فاغسلي عنك الدم و صلّي. قال هشام بن عروة قال أبي ثم توضئي لكل صلاة حتى يجئ ذلک الوقت (فقه حنفي ج١ ص٥٦)** له حضرت بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبي علیه السلام خپلې ښینې فاطمې بنت ابي حبیش ته وویل چې کله دې حیض راته نو لمونځ پرېږده او کله چې حیض شا کوله یعني بندیده نو بیا له ځان څخه وینه ووینځه او لمونځ کوه ، هشام بن عروه وایي چې زما پلار وویل چې بیا دي اودس وکړي د هر لمانځه لپاره تردې پورې دغه وقت راشي، اود اڅوک ویلی نه شي چې دا د عروه کلام دی ځکه دا کلام د مخکې سره هم شکل دی چې ثم توضئ او اول کلام د نبي علیه السلام دی او د دي تائید د امام ترمذي روایت هم کړی نو دا قول د نبي علیه السلام چې **انما ذلک عرق** دي ته اشاره کوي چې د رګ په وینه اودس ماتیږي او د امام شافعي رحمه الله دلیل هغه حدیث دی کوم چې امام بخاري روایت کړی د قیصي د انصاري نه چې په غشي ولګیده او وینه تري بهیده رکوع او سجده یې وکړه او په خپل لمونځ باندي ټګ وکړو خو علامه عیني د دي نه داسې جواب کړی دلیل نیول د دي مخالفینو په دې حدیث باندي بې انتهاء مشکل دی ځکه چې وینه کله وبهیږي نو بدن او جامو ته رسیږي او وینه چې کله بدن اوجامو ته په داسې صورت کې ورسیږي نو زمونږ د احنافو په نزد خو لا څه کوي چې د دوی په نزد هم لمونځ د ده نه صحیح کیږي او بل دا چې دا د یو صحابي قول دی او کیدای شي چې هغه د دي په حکم پوه نه وي او کوم احادیث چې مونږ ذکر کړي هغه اقوال د نبي علیه السلام دی او قول د نبي علیه السلام قوي وي نو اعتماد هم په دي په کار دی. **و قوله ان کان نجسًا الخ** شارح رحمه الله وایي چې د اقول د ماتن چې ان کان نجسا تعلق لري د اَومن غیره پوری یعني که خارج من غیر السبیلین نجس واو الخ. دا خبره یې ځکه وکړه چې خارج من السبیلین ماتونکی د اودس وي بغیر د قید د نجس نه او خارج من غیر السبیلین کې شرط دا دی چې هغه به نجس وي او بهیدونکی به وي هغه ځای ته چې فی الجمله وینځلی شي، **و الروایة النجس الخ** غرض د شارح د دي نه وضاحت د لفظ د نجس دی چې نجس لفظ کوم چې د فقهاؤ څخه اوریدلی شوی هغه په فتح د جیم سره دی چې ذات د پلیتی ته وایي لکه بولي، دم، مسفوح وغیره او په کسری د جیم سره هغه شي ته وایي چې پاک نه وي، د دي دواړو معناؤ ترمینځ

نسبت د عموم او خصوص مطلق دی چې دوه مادي غواړي يوه ماده د اجتماع او بله د افتراق ماده ده د اجتماع دا ده چې يو شی به ذات د نجاست هم وي او غير طاهر په هم وي لکه بول او ماده د افتراق د ا ده چې يو شی به ذات د نجاست نه وي خو غير طاهر به وي لکه پليته جامه چې غير طاهره ده خو ذات د نجاست نه ده دا فرق د نجس چې مفتوح العين وي او مکسور العين وي په اصطلاح د فقهاؤ کې دی اما په لغت کې بيا دا فرق نشته بلکې دواړه راځي لکه ويلی شي نجس الشيئ ينجس فهو نَجَسٌ و نَجِسٌ مفتوح العين او مکسور العين دواړه راځي ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

و انما قال سال لانه اذا لم يتجاوز المخرج لا ينقض الوضوء عندنا و ينقض عند زفر ؒ و كذا اذا عُصر القرحة فتجاز و كان بحالٍ لو لم يُعصر لم يتجاوزه و كذا اذا عَضّ شيئًا او خلّل اسنانه او اَدْخل اصبعه فى انفه فراٰى اثر الدم و استنشر فخرج من انفه الدم علقًا علقًا مثل العدس لا ينقض عندنا خلافاً لزفر ؒ و وجهه ان خروج النجاسة موثر فى زوال الطهارة كا السبيلين و نحن نقول نعم لكن القليل بادٍ لا خارج و النجاسة المستقرة فى موضعها لا تنقض.

ترجمه بعض اللغات: سال: بهيدل. **مخرج**: زخمي ځای. **عُصِر**: زبيښلی شی. **القرحة** دا نه ټناکه. **عَضّ** خوله لګول. **خَلّل**: خلالول. **استنشر** پوزه سونړول. **علقًا**: د وينې ټوټه. **عدس** دال. پتي، مسور. **بادٍ**، ښکاره کيدونکی.

ترجمة العبارة: بيشکه مصنف ووېلې چې سَالَ ځکه چې کله پليتي د خپل مخرج څخه تجاز ونه کړي نو اودس نه ماتيږي زمونږ په نزد باندي او د امام زفر په نزد ماتيږي همدارنګه که دا نه وزبيښلی شي او تجاوز وکړي او دا دانه په داسي حال باندي وی چې که چيرته زبيښلی شوی نه وي نو تجاز به يې نه وي کړی همدارنګه که خوله ولګوي په يو شي باندي او يا غاښونه خلال کړي او يا ګوته په خپله پوزه کې داخله کړي او د وينې اثر يې وليده او يا يې پوزه سونړ کړه او د پوزي نه يې وينه راووتله ټوټه ټوټه لکه د پتي د دانې په مقدار نو زمونږ په نزد اودس نه ماتوي په خلاف د زفر رحمه الله وجه دا ده چې وتل د نجاست موثر دي په زوال د طهارت کې لکه د دواړو لارو او مونږ وايو چې صحيح ده ليکن لږ ښکاره

کيدونکی وي نه راوتونکی او هغه نجاست چې په خپل ځای کې ثابت وي او دس نه ماتوی ۱۲

تشريح العلماء الاعلام فی وضاحة المقام: غرض د شارح د دي عبارت څخه فائده بيانول دي د لفظ د سال او وضاحت د اختلاف دی د احنافو ا و د امام زفر رحمه الله ترمينځ.

احناف وايي چې وينه او زوي هر کله د خپل مخرج څخه تجاوز وکړي او وبهيږي هغه ځای ته چې فی الجمله وينځلی شي نو اودس ماتيږي او که تجاوز ونه کړي د خپل مخرج څخه نو اودس نه ماتيږي او امام زفر رحمه الله وايي چې اودس ماتيږي همدارنګه که يوه دانه د تناکه په بدن باندي وه او په لاس باندي و چاودوله او سپيني اوبه يا زوي تري لاړه خو که ده په لاس چاودولي نه وايي نو دا په خپله نه چاوديده نو په دي صورت کې هم د بعضو احنافو لکه صاحب د هدايې وغيره په نزد اودس نه ماتيږي ځکه دا اخراج دی او اودس په خروج سره ماتيږي نه په اخراج سره ليکن صحيح او غوره خبره دا ده لکه په فتح القدير کې بزازيه کې غاية البيان کې کافي او په نهايه کې چې په دي صورت کې اودس مات دی ځکه خروج لازم وي د اخراج سره او ناقض مطلقا خروج دی نه خروج بنفسه فقط همدارنګه که په يو شي خوله ولګوي او يا غاښونو کې خلال وکړي او يا ګوته په پوزه کې داخل کړي او د ويني اثر وګوري خو ونه بهيږي او يا پوزه سوڼ کړي او د پوزي څخه يې د وينې ټوټي راوغورځيږي لکه د پتي د داني په اندازه او يا مسواک ووهي او د ويني اثر وګوري نو تر څو چې وينه بهيدلي نه وي نو د احنافو په نزد اودس نه ماتيږي او د امام زفر په نزد ماتيږي وجه د قول د امام زفر دا ده چې خروج د نجاست علت دی لپاره د زوال د طهارت يعني کله چې علت راشي چې هغه خروج د نجاست دی نو معلول به راځي چې هغه زوال د طهارت دی لکه خروج د نجاست د سبيلينو څخه نو په موجوده صورت کې هم خروج د نجاست راغلی نو اودس هم مات شو، دويمه خبره دا ده چې قليل هم نجس خارج وي او هر نجس خارج ناقض وي نو لهذا قليل هم ناقض شو، مونږ احناف د دي دواړو وجهو څخه دا جواب کوو چې قليل غير سائل دا خارج نه وي بلکې ښکاره کيدونکی وي ځکه د بدن باطن د نجاست سره مخلوط دی د هر پوستکي څخه لاندي نجاست شته کله چې پوستکی ليري شي نو دغه پټ نجاست رابنکاره شي نو مونږ به په خروج باندي هلته حکم کوو چې د خپل اصلي ځای څخه وبهيږي او تر څو چې په خپل ځای کې موجود وي نو خارج نه شو او چې خارج نه شو نو اودس هم نه ماتوي، خو اوس دلته يو سوال واردېږي چې کله د زخم نه وينه ووځي او د زخم د ځای نه تجاوز ونه کړي نو د احنافو په نزد خو اودس نه ماتيږي، خو آيا دغه وينه پاکه ده او که نجسه ده، نو جواب دا ده چې صاحب د هدايه

وایې چې مالا یکون حدثًا لا یکون نجسًا کوم شی چې بې اودسي نه راولي نو هغه نجس هم نه وي دا د امام ابویوسف روایت دی او دا صحیح ده او امام محمد وایې چې نجس ده. فتوی د چا په قول ده ؟ جواب که وینه، زوي جامدو شیانو ته لکه بدن جامي وغیره ته ورسیده نو فتوی د امام ابویوسف په قول ده چې غیر نجس ده، او که مایعاتو ته ورسیده لکه اوبه شیدي وغیره ته نو بیا فتوی په قول د امام محمد رحمه الله ده چې نجسه ده همدارنګه قیئ هم په همدي اختلاف ده کله چې د ډکي خولي څخه کم وي (فقه حنفي ج ۱ ص ۵۵)

قلت هذا الدليل غير تام لانه لا يشمل ما اذا غُرِزَتْ إبرة فارتقى الدم على رأس الجرح لكن لم يسل فان الخروج هناك محسوس و مع ذلك لا ينقض عندنا و قد خطر ببالي وجهٌ حسن و هو انه لم يتحقق خروج النجاسة لان هذا الدم غير نجس بل النجس هو الدم المسفوح و هكذا في القيئ القليل و سيأتي في هذه الصفحة

ترجمة اللغات: **غُرزت**: ښخه کړی شي. **إبرة**: ستنه. **فارتقى**: راپورته شي.

ترجمة العبارت: زه وایم چې دا دلیل پوره نه دی ځکه دا هغه صورت ته نه شاملیږي چې کله ستنه ښخه کړی شي او وینه د زخم په سر راپورته شي لیکن ونه بهیږي ځکه خروج دلته محسوس دی او سره د دي نه اودس زمونږ په نزد نه ماتیږي او زما په زړه کې یوه ښه وجه تیریږي هغه دا چې دلته خروج د نجاست ثابت نه دی ځکه دا وینه نجسه نه ده بلکې نجسه دم مسفوح وي همدارنګه په لږ قیئ کې او د قیئ مسئله به اینده کې راشي،

توضيح المسئلة: غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت څخه یو اعتراض دی په مخکني جواب د احنافو باندي چې ستاسو دا جواب چې قلیل بادي وي نه خارج او نجاست مستقره په خپل ځای کې اودس نه ماتوي غیر تام دی ځکه چې ټولو صورتونو د غیر سائل ته نه شاملیږي ځکه کله چې ستنه په غوښه کې ښخه کړی شي او وینه د خپل ځای څخه راپورته شي او په دغه ځای کې راښکاره شي او ونه بهیږي نو په دي وینه باندي ستا جواب نه صادقیږي ځکه دا وینه په خپل ځای کې مستقره نه ده او نه بادي ده ځکه خروج دلته مستحقق دی او انتقال هم محسوسیږي او سره د دي نه زمونږ په نزد اودس مات نه دی. **لا ينقض عندنا**: د عندنا نه مراد امام محمد رحمه الله دی ځکه امام محمد رحمه الله وایې چې

کله وینه د زخم سر ته راپورته شي نو په دي اودس نه ماتیږي تر څو چې د زخم نه ښکته لاړه نه شي او د ښتني په صورت کې هم وینه د زخم سرته پورته کیږي خو ښکته نه ځي که لاړه شي نو اودس ماتیږي او امام ابویوسف وایي چې سیلان دي ته وایي چې د خپل مخرج څخه جدا شي برابره خبره ده چې اخوا دیخوا لاړه شي او که نه نو د امام ابو یوسف په نزد د ستني په صورت کې اودس مات دی چې کله وینه د زخم سرته راپورته شي برابره خبره ده چې اخوا دیخوا لاړه شي او که نه، **و قد خطر ببالي وجه حسن الخ** غرض د شارح د دي نه جامعیت او مانعیت د جواب دی چې د ستني په صورت کې خروج د نجاست ثابت نه دی اګر چې نفس خروج راغلی ځکه دغه وینه غیر نجسه ده بلکې نجسه چې ده هغه وینه بهیدونکي چې مسفوح ورته ویلی شي ده، همدارنګه مسئله د قیئ قلیل ده چې د احنافو په نزد باندي اودس نه ماتوي او د امام زفر رحمه الله په نزد یې ماتوي بنا پر مخکنیو دلائلو ۱۲.

و قوله الی ما یطهر احتراز عما اذا قُشِرت نقطة في العین فسال الصدید بحیث لم یخرج من العین لا ینقض الوضوء لان داخل العین لا یجب تطهیره اصلًا لا في الوضوء و لا في الغسل اذا لیس له حکم ظاهر البدن فالمعتبر الخروج الی ما هو ظاهر البدن شرعًا.

ترجمة العبارة: دا قول د مصنف چې الی ما یطهر دی احتراز دی دهغه نه چې کله پوستکی لیري شي دهغه داني نه چې په سترګه کې وي او زوي یې وبهیږي خو د سترګي نه راونه وځي نو اودس نه ماتوي ځکه د داخل د سترګي پاکوالی با الکل واجب نه دی نه په اودس کې او نه په غسل کې ځکه داخل د سترګي لره حکم د ظاهر د بدن نشته نو معتبر هغه خروج دی چې ظاهر د بدن ته وی شرعًا.

حل القیود في فائدة القیود: شارح رحمه الله وایي چې د ماتن د دي خبري چې الی ما یطهر یعني چې کومه وینه چې د زخم څخه ووځي او هغه ځای ته وبهیږي چې په غسل کې یا په اودس کې دهغي وینځل فرض وي نو اودس ماتوي د دي لفظ فائده دا ده که چیرته په سترګه کې یوه دانه وي او دهغي نه پوستکی لیري شي وینه یې وبهیږي خو د سترګي څخه بهر راونه وځي نو اودس نه ماتوي ځکه د داخل د سترګي وینځل نه په اودس کې فرض دي او نه په غسل کې ځکه په اودس کې دهغه ځای وینځل فرض دي چې من کل الوجوه ظاهر وي لکه لاس مخ پښي او په غسل کې دهغه ځای وینځل فرض دي چې من کل الوجوه ظاهر وي لکه

لاس مخ پښي او يا من وجه ظاهر وي لکه خوله پوزه او کوم چې من کل الوجوه باطن وي دهغه وينخل نه په اودس کې فرض دي او نه په غسل کې او داخل د سترګي هم من کل الوجوه باطن دی او هغه خروج معتبر دی چې ظاهر د بدن ته وي شرعًا ۱۲.

واعلم ان قوله الى ما يطهر يجب ان يكون متعلقًا بقوله ما خرج لا بقوله سال فانه اذا فصد وخرج دمٌ كثير وسال بحيث لم يتلطخ رأس الجرحِ فانه لا شك في الانتقاض عند نامع انه لم يسل الى موضع يلحقه حكم التطهير بل خرج الى موضع يلحقه حكم التطهير ثم سال فا العبارة الحسنة ان يقال ما خرج من السبيلين او من غيره الى ما يطهر إن كان نجسًا سال.

ترجمة اللغات: **فصد**: رګ وهل **يتلطخ**: چې ککړ شي.

ترجمة العبارة: پوهه شه چې دا قول د مصنف رحمه الله چې الى ما يطهر په کار ده متعلق شي تردي قوله پوري چې ما خرج دی نه تردي قوله پوري چې سال دی ځکه چې کله رګ ووهي او ډيره وينه ووځي او وبهيږي په دي شان چې د زخم سر هم ککړ نه شي نو بيا شک نشته د اودس په ماتوالي کې زمونږ په نزد باندي سره د دي نه چې دغه وينه داسي ځای ته نه ده بهيدلي چې هغي پوري حکم د تطهير پيوسته وي بلکې داسي ځای ته راوتلی چې هغه پوري حکم د تطهير پيوسته دي بيا بهيدلي نو ښکلی عبارت دا دی چې ووېلی شي **ما خرج من السبيلين او من غيره الى ما يطهر ان كان نجسًا سال.**

تشريح: غرض د شارح رحمه الله د دي عبارت څخه وضاحت د ماقبل عبارت دی چې د الى ما يطهر متعلق کوم شيئ دی نو په دي کې دري قوله دي:

۱-اول قول دا دی چې متعلَق د دي محذوف دی چې حال واقع شي د فاعل د خرج نه نو تقدير د عبارت داسي راځي **ناقضه ما خرج من السبيلين او من غيره واصلاً الى ما يطهر ان كان نجسًا سال.** خو د دي نه بيا هغه صورت خارجيږي چې کله وينه د پوزي د بره طرف څخه راشي او لاندي نرمی د پوزي ته ورسيږي او نوره ونه بهيږي نو دي سره اودس نه ماتيږي نو دلته اګر چې سيلان راغی خو دا سيلان پس د رسيدو نه الى ما يطهر ته راغلی نه دی بلکې

مخکې د رسیدونه **الی ما یطهر ته** او کوم سیلان چې مخکې د وصول نه الی ما یطهر ته وي نو هغه اودس نه ماتوي.

۲- دویم قول دا دی چې متعلق د دي سال دي خو په دي صورت کې هلته اودس ماتیږي چې کله سیلان الی ما یطهر ته وشي خو دا هم صحیح نه دی ځکه که چیرته یو سړی رګ ووهي او ډیره وینه وبهیږي په داسي شان سره چې د زخم سر هم ککړ نه شي چې وینه په فواري او په داري سره وبهیږي نو په دي صورت کې زمونږ په نزد اودس مات دی سره د دي نه چې سیلان الی ما یطهر راغلی نه دی ځکه له سره کوم ځای پري ککړ شوی نه دی دا هغه صورت وو کوم چې شارح پري رد کړی دی.

۳- قول د ادی چې د دي متعلق خرج شي نو د فصد په صورت کې بیا اودس ماتیږي ځکه اګر چې وینه په فواري سره ووځي خو خروج الی ما یطهر ته راغلی او بیا بهدلی ده نو شارح وویل چې ښکلی عبارت دا دی چې **ما خرج من السبیلین او من غیره الی ما یطهر ان کان نجسا** سال ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

و القيئ عطف على قوله ما خرج فاراد ان يفصّل انواعه لان الحكم مختلف فيها فقال دمًا رقيقًا ان ساوي البزاق حتى اذا كان البزاق اكثر لا ينقض و لما ذكر حكم المساوات عُلم حكم الغلبة بالطريق الاولى فقالوا اذا اصفر البزاق من الدم فلا يجب الوضوء و ان احمر يجب ثم عطف على قوله دما قوله او مرة او طعامًا او ماء او علقا ان كان مِلْء الفم لا بلغما اصلًا سواء كان نازلاً من الرأس او صاعدًا من الجوف و سواء كان قليلًا او كثيرًا لانه لِلزوجته لا يتداخله النجاسة و ينقض صاعده مِلْء الفم عند ابي يوسف رحمه الله لكن النازل من الرأس لا ينقض عنده ايضًا.

ترجمة اللغات: **مِرَّة:** د صفراء زیړي اوبه. **اوماء:** عامي اوبه چې وځښي او ګیډي ته ورسیږي او بیرته یې راوګرځوي نو اودس ماتوي. **علق:** د ویني ټوټه. **لزوجت:** ښویه والی. **صاعد:** پورته راختونکی.

ترجمة العبارت مع الوضاحت: غرض د شارح د دي عبارت نه وضاحت د مسئلي د قیئ

دی (چې دا دریم ماتونکی د اودس دی) او بیان د انواعو د قیئ ځکه حکم په قیئ کې مختلف دی مراد د حکم نه یا دا دی چې بعض ناقض دي او بعض ناقض نه دي په بعض کې د خولي ډک والی شرط دی او په بعض کې شرط نه دی او یا اختلاف د ائموو مراد دی چې بعض ائمه بعض قیئ لره ناقض ګرځوی او بعض ائمه یې ناقض نه ګرځوي نو د قیئ یو قسم دا دی چې نري وینه وي که د لاړو سره برابره وي نو اودس مات دی او که د لاړو نه کمه وي نو بیا اودس نه ماتوي او که د لاړو څخه زیاته وي نو په طریقه اولی سره اودس مات دی. سوال دا دی چې دا به مونږ په څه پیژنو چې وینه غالبه ده یا نه ده نو شارح جواب وکړو چې که د وینې د وجې نه لاړې زیړې شوې نو اودس نه واجبوي او که لاړې یې سرې کړې نو اودس واجبوي. **او مرة الخ** دویم قسم د قیئ زیړې د صفراء اوبه دي. **او طعامًا:** یا طعام وي. **او ماءً:** یا اوبه وي یعني که اوبه وڅښې او ګیډې ته ورسیږي. او بیرته یې قیئ کړې نو اودس مات دی. **او علقًا.** یا د وینې ټوټه وي **ان کان ملء الفم الخ** که چیرته په ډکه خولې سره وي یعني که د صفراء زیړې اوبه او طعام او اوبه او علق په ډکه خوله سره قیئ کړ نو اودس مات دی او که په ډکه خوله سره نه وو نو بیا اودس مات نه دی اما نرۍ وینه چې مخکې ذکر شوه که په ډکه خولې سره هم نه وي نو اودس مات دی با الاتفاق (فقه حنفي). لیکن بلغم سره اودس نه ماتیږي لږ وي او که ډیر وي برابره خبره ده چې د سر نه راښکته شوی وي او که د ګیډې څخه راختلی وي ځکه بلغم ښویه والی لري نجاست په کې نه داخلیږي لیکن امام ابي یوسف وایې که د بلغمو قیئ په ډکه خولې سره وو او د معدې څخه راختل وو نو اودس ماتوي ځکه معده د نجاست ځای دی نو د نجاست سره یې یو ځای والی راغی او کوم چې د سر څخه راښکته شوی وي د امام ابي یوسف په نزد باندې په هغه باندې هم اودس نه ماتیږي ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

و هو یعتبر الاتحاد فی المجلس و محمد رحمه الله فی السبب فَیُجْمَعُ ما قاء قلیلا فقوله و هو یعتبر الضمیر یرجع الی ابی یوسف و هذا ابتداء مسئلة صورتها اذا قاء قلیلا قلیلًا بحیث لو جمع یبلغ ملء الفم فابو یوسف یعتبر اتحاد المجلس ای اذا کان فی مجلس واحد یجمع فیکون ناقضًا و محمد یعتبر اتحاد السبب و هو الغشیان فان کان بغشیان واحد یجمع فیکون ناقضًا فحصل اربع صور (۱) اتحاد المجلس و الغشیان فیجمع اتفاقا ۲۔ و اختلافهما

فلا يجمع اتفاقا ۳ ـ و اتحاد المجلس مع اختلاف الغشيان فيجمع عند ابي يوسف خلافا لمحمد ۴ـ و اختلاف المجلس مع اتحاد الغشيان فيجمع عند محمد خلافا لابي يوسف.

توضيح المسئلة: غرض د مصنف د دي عبارت نه ابتداء د يوي بلي مسئلي ده چې هغه بيان د اختلاف دى په مابين د امام ابويوسف او امام محمد رحمه الله كې. شارح وايې چې د هو ضمير امام ابويوسف ته راجع دى امام ابويوسف اتحاد فى المجلس ته اعتبار وركوي او امام محمد رحمه الله اتحاد فى السبب ته اعتبار وركوي صورت د مسئلي دا دى چې يو سړى لږ لږ قيئ وكړي په دي شان سره چې ټول راجمع كړى شي نو ډكي خولي ته رسيږي نو امام ابويوسف دلته اتحاد د مجلس ته اعتبار وركړى يعني كه دغه قيئ يې په يو مجلس كې وكړ برابره خبره ده چې د زړه په يو جوش سره وي او كه ډير وجوشو سره وي نو دغه قيئ به جمع كولى شي نو ماتونكى د اودس كيږي وجه دا ده چې د مجلس لپاره اثر په ټولو متفرقاتو كې وي لكه په سجده تلاوت وغيره كې نو ډيره متعدد په يو مجلس كې به متحد گرځولى شي او امام محمد رحمه الله يو والى د سبب ته اعتبار وركوي او سبب د قيئ د زړه جوش وي نو كه په يو جوش سره وو دا به جمع كولى شي اگر كه په مختلفو مجلسونو كې وي او دا به ماتونكى د اودس وي وجه ددى قول دا ده چې ثبوت د حكم مطابق د ثبوت د سبب سره وي نو كه سبب يو وي نو حكم به هم يو وي او كه سبب متعدد وي نو حكم به هم متعدد وي لكه يو سړى ډير زخمي شى او د جوړيدو څخه مخكې مړ شي نو حكم به يو وي او كه مينځ كې جوړوالى راشي نو حكم به بيا مختلف وي نو په دي مسئله كې څلور صورتونه راغلل دوه اتفاقي او دوه اختلافي ۱-چې مجلس هم يو وي او د زړه جوش هم يو وي نو بالاتفاق به جمع كولى شي ځكه د امام محمد په نزد اتحاد د غشيان په كې دى او د امام ابويوسف په نزد اتحاد فى السبب په كې دى ۲-چې نه مجلس يو وي او نه د زړه جوش يو وي نو بالاتفاق به جمع كولى نه شي ځكه نه اتحاد فى المجلس شته او نه اتحاد فى السبب شته. ۳-چې مجلس يو وى خو دزړه جوش يو نه وى نو دامام ابويوسف په نزد به جمع كولى شى ځكه اتحاد دمجلس شته او د امام محمد رحمه الله په نزد به جمع كولى نشى ځكه اتحاد فى السبب نشته ۴-چې مجلس يو نه وي خو د زړه جوش يو وي نو د امام محمد رحمه الله په نزد به جمع كولى شي ځكه اتحاد د سبب نشته او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد به جمع كولى نه شي ځكه اتحاد د مجلس نشته ۱۲ عبدالرشيد صافي عفى عنه.

و ما ليس بحدث ليس بنجس بكسر الجيم فيلزم من انتفاء كونه حدثا انتفاء كونه نَجَسًا فا الدم اذا لم يَسِلْ عَن رأس الجُرْح طاهر و كذا القيئ القليل و عن محمد في غير رواية الاصول انه نجس لانه لا اثر للسيلان في النجاسة فاذا كان السائل نجسًا فغير السائل يكون كذلك و لنا قوله تعالى قل لّا احد فيما او حي الىّ محرّمًا الى قوله او دمًا مسفوحًا فغير المسفوح لا يكون محرّمًا فلا يكون نجسًا و الدم الذي لم يَسِلْ عَن رأس الجَرح دمٌ غير مسفوح فلا يكون نجسًا.

توضيح العبارت مع الوضاحت: مصنف رحمه الله په دي مقام کې يوه قاعده ذکر کوي په بحث د نواقضو کې هغه داسې چې مخکې ذکر شول چې دم قليل او قيئ قليل وغيرهما اودس نه ماتوي ايا دغه دم او قيئ وغيرهما به نجس وي او که پاک به وي نو مصنف رحمه الله وويل چې هر شيئ حدث يعني ماتونکی د اودس نه وي نو هغه به نجس هم نه وي تردي پورې چې وينځل يې واجب نه وي او لمونځ هم ورسره اداء کيږي او دا مسئله مخکې څه نا څه مونږ بيان کړي ده **ليس بنجس بكسر الجيم الخ** ياد ساته چې نجس په کسرې د جيم سره دي ته وايې چې کوم شيئ پاک نه وي او په فتح د جيم سره ذات د نجاست ته ويل کيږي او مقصود دلته بيان د دي ده چې کوم شيئ حدث نه وي نو هغه به نجاست نه وي او د کسرې تصريح يې ځکه وکړه چې دا د مصنف رحمه الله او نورو علماؤ څخه عام طور اوريدلی شي او دا هم ياد ساته چې نفی د عام سره نفي د خاص راځي نو کله چې مصنف وويل چې **ما ليس بحدث ليس نجس** نو انتفاء د حدث عام شوه او انتفاء د نجِسْ خاص شوه. او د انتفاء د عام وجي انتفاء د خاص راځي نو انتفاء د نجس با الكسر لازم ده د انتفاء حدث سره، بيا نجِس په کسرې د جيم سره عام دی په نسبت سره نجَسْ ته په فتحي د جيم سره او د انتفا عام سره انتفاء د خاص لازم ده نو لازم شوه انتفاء د نجس په فتحي د جيم سره د وجي د انتفاء د نجس نه په کسرې د جيم سره نو خلاصه دا شوه چې لازميږي د وجي د انتفاء د حدث نه انتفاء د نجس په کسرې د جيم سره او لازميږي د وجي د انتفاء د نجس نه په کسرې د جيم سره انتفاء د نجس په فتح د جيم سره نو نتيجه دا راووتله چې لازميږي د وجي د انتفاء د حدث نه انتفاء د نجس په فتحي د جيم سره، سوال، ستا دا قاعده منقوض ده په دم د

استحاض سره چې هغه حدث نه ده او نجس ده. جواب: دم د استحاض حدث ده خو د دفع د حرج لپاره د دې اثر د خروج د وقت پورې نه ظاهرېږي كذا فى البنايه، **فالدم الخ** غرض د شارح د دې نه تفريع ده په قاعده كليه باندې چې كومه وينه چې د سر د زخم نه ونه بهيږي هغه اودس نه ماتوي او چې اودس نه ماتوي نو پاكه هم ده كه جامې يا بدن وړباندې ككړې شي نو لمونځ ورسره كيږي همدارنګه قيئ قليل يعني چې په ډكه خوله باندې نه وي نو هغه هم نجس نه دی ځكه اودس ورسره نه ماتيږي. **وعن محمد الخ** كله چې مونږ ووېل چې د زخم د سر نه چې كله وينه ونه بهيږي نو هغه پاك وي نو د اعتراض په شكل شارح ووېل چې د امام محمد رحمه الله نه په غير د روايت د اصول نه يعني په نادر الرواية سره چې دغه وينه نجسه ده ځكه چې سيلان څه اثر په نجاست كې نه لري يعني كوم شيئ چې نجس وي نو هغه په بذاته نجاست هم وي نو كله چې دم سائل نجس شو نو غير سائل هم نجس دی. **ولنا قوله تعالى الخ** غرض د شارح د دې نه جواب د اعتراض مذكور دی خلاصه د جواب دا ده چې الله پاك په قرآن كې خپل پيغمبر ته خطاب كوي چې دوی ته ووايه چې ما ته كومه وحې شوې نو په هغې كې خو زه يو شيئ هم حرام نه مومم په هيڅ يو خوړونكي باندې مګر يو څو شيان حرام دي چې هغه د مرداري غوښه او روانه وينه ده او د خنزير غوښه ده او د غير الله په نامه ذبح كول دغه څلور شيان حرام او نجس دي نو چې دم مسفوح حرام شو نو غير مسفوح حرام نه شو او چې حرام نه شو نو نجس هم نه شو او كومه وينه چې د زخم د سر نه ونه بهيږي نو هغه غير مسفوح وي نو نجسه هم نه شوه. سوال: آيت مذكوره مكي دی او سورة بقره او مائده دواړه مدني دي او په مدني كې حرمت د دم مطلقًا راغلی بغير د قيد د مسفوح نه او مكي مقدم وي په مدني باندې نو په كار ده چې مقيد منسوخ شي په مطلق باندې. جواب: دم مطلق محمول دی په دم مسفوح باندې **كما ذكرنا فى الاصول ان المطلق محمول على المقيد**

۱۲ عبد الرشيد صافي عفي عنه.

فان قيل هذا فيما يؤكل لحمه فظاهر و اما فيما لا يؤكل لحمه كالادمى فغير المسفوح حرام ايضًا و لا يمكن الاستدلال بحله على طهارته قلت لما حكم بحرمة المسفوح بقي غير المسفوح على اصله و هو الحل و يلزم منه الطهارة سواء كان فيما يؤكل لحمه او لا لاطلاق

النص ثم حرمة غیر المسفوح فی الادمی بناءً علی حرمة لحمه و حرمة لحمه لا توجب نجاسته اذ هذه للکرامة لکرامة لا للنجاسة فغیر المسفوح فی الادمی یکون علی طهارته الاصلیة مع کونه محرمًا.

توضیح العبارت فی طهارة الادمی للکرامة : غرض د شارح یو اعتراض راوړل دي په استدلال مذکور باندي یعني مخکې چې تاسو ذکر کړل چې دم مسفوح حرام دی او غیر مسفوح حرام نه دی خو نجس هم نه دی نو ستاسو دا خبره خو په هغه حیواناتو کې صحیح کیږي چې د کومو غوښه خوړلی شي لکه ګډ، غوایه او داسي نور چې د دوی غوښه حلاله ده نو پاکه هم ده ولي که نجسه شي نو بیا به حرامه شي، اما په هغه څه کې چې غوښّه یې نه شي خوړلی لکه انسان نو د انسان دم مسفوح هم حرام ده خوراک یې حرام دی نو ستاسو استدلال په دي ځای کې نه جاري کیږي سره د دي نه چې مقصود زمونږ د دم غیر مسفوح نه هغه وینه ده چې د انسان د بدن نه خارج وي. **قلت الخ** غرض د شارح رحمه الله جواب د اعتراض مذکور دی خلاصه یې دا ده چې حرمت د دم مسفوح په آیت کریمه کې مطلق دی هغه د هر شیئ چې وي غوښه یې خوړلی شي او که نه، دم مسفوح یې حرام دی نو د دي نه دا لازم شول چې دم غیر مسفوح مطلقًا حلاله ده هغه د هر شیئ چې وي او چې حلاله وه نو مطلقًا پاکه هم ده ځکه دم غیر مسفوح په خپل اصل پاتي شو چې هغه حل او اباحت دی ځکه اصل په اشیاؤ کې په نزد د بعضو احنافو حل او اباحت دی تر څو چې په عدم اباحت باندي کوم دلیل نه وي راغلی **ثم حرمة الخ** غرض د شارح د دي نه دفع د یو اعتراض ده هغه داسي چې نص ددم مسفوح اګر چې مطلق ذکر شوی قید د ما یوکل لحمه او غیر ما یوکل په کې ذکر شوی نه دی لیکن په دي کې خو هیڅ شک نشته چې وینه د انسان مطلقًا حرامه ده مسفوح وی او که غیر مسفوح وی لکه څرنګه چې دم مسفوح د انسان نجس دی نو همدارنګه دم غیر مسفوح د انسان هم نجس دی نو شارح جواب وکړو چې حرمت په دوه قسمه دی ۱-حرمت په سبب د نجاست سره لکه حرمت د شرابو او د خنزیر او داسي حرمت دلالت په نجاست باندي کولی شي.

۲-حرمت په سبب د کرامت باندي او د شرافت باندي او دا حرمت نجاست نه لازموي او حرمت د دم غیر مسفوح په انسان کې مبني دي په حرمت د غوښي د انسان باندي او حرمت د غوښي د انسان د وجي د نجاست نه نه ده ځکه انسان نجس نه دی بلکې هر کله چې انسان د

ټولو مخلوقاتو ترمينځ مکرم دی نو د انسان د ټولو اجزاؤ نه نفع اخيستل تشريفًا حرام شول ځکه په اباحت د انفتاع کې د انسان نه اهانت او ذلت د انسان راځي، او د دې نه دا هم معلومه شوه چې هر نجس شيئ حرام دی خو هر حرام نجس نه دی ځکه حرمت کله د کرامت د وجې نه وي او کله د خباثث او ضرر د وجې نه وي سره د دې نه چې نجس به نه وي لکه حرمت د خټې او د مچ وغيره ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

و الفرق بين المسفوح وغيره مبني على حكمة غامضة وهي ان غير المسفوح دم التقل عن العروق و انفصل عن النجاسات و حصل له هضم أخر في الاعضاء فصار مستعدًا لِأنْ يصير عضوًا فاخذ طبيعة العضو فأعطاه الشرع حكمه بخلاف دم العروق فإنه اذا سال عن رأس الجرح عُلم انه دم انتقل من العروق في هذه الساعة و هو الدم النجس اما اذا لم يسل علم انه دم العضو هذا في الدم و اما في القيئ فا القليل هو الماء و الذى كان في اعلى المعدة و هي ليست محل النجاسة فحكمه حكم الريق.

الفرق بين المسفوح وغيره: غرض د شارح د دې نه فرق بيانول دي په مابين د مسفوح او دم غير مسفوح کې چې دم مسفوح حرام دی او نجس دی او دم غير مسفوح نجس نه دی دغه فرق مبني دی په يو پټ حکمت باندې چې انسان کله غذا وخوري نو د غذا لپاره د انسان په وجود کې پنځه هضمه وي:

۱-اول هضم په خوله کې په ژولو سره د لاړو په کمک سره وي.

۲-دويم هضم په معده کې وي په معده کې بيا دغه غذا دوه حصې شي چې يوه يې فضله مواد شي هغه بيا کولمو ته لاړ شي او د کولمو له لارې خارجيږي او بل هغه نرم شيئ چې د غذا کوچ وي هغه جګر ته لاړ شي.

۳-دريم هضم بيا په جګر کې وي چې د اول نه نور هم صفا شي او د دې نه څلور اخلاط جوړ شي ۱-وينه، ۲-بلغم. ۳-صفراء يعني تريخی. ۴-سوداء يعني توری کوم فضله مواد چې د دې نه پاتې شي هغه اکثر د متيازو سره ختميږي بيا د دې نه وينه سره د باقي اخلاطو په قدر د حاجت سره رګونو ته لاړه شي.

۴-څلورم هضم بيا په رګونو کې وي چې صفا مواد او فضله مواد سره جدا شي هغه صفا مواد د رګونو څخه جدا کيږي او د اندامونو پورې پيوسته کيږي هر اندام خپله حصه ترې واخلي.

۵۔ پنځم هضم بیا دلته وي چې دغه د ویني شکل د اندام په شکل بدلیږي، نو په دي کې هغه حکمت دا دی چې دم سائل هغه د رګو وینه ده چې د نجاساتو سره پیوسته وي او دم غیر مسفوح هغه وینه ده چې د رګو نه منتقل شي او د نجاساتو څخه جدا شي او پس د انتقال نه دغي ویني ته په اندامونو کې یو بل هضم پیدا کیږي نو دغه وینه قابله د دي شي چې اندام وګرځي نو دغه وینه طبیعت د اندام واخلي نو شریعت هم حکم د اندام ورکړ چې هغه طهارت دی یعني اندام پاک وو نو وینه غیر مسفوح هم پاکه شوه نو کله چې د زخم د سر نه وینه وبهیده نو معلومه شوه چې دا د رګو وینه ده او دا هغه پلیته وینه ده او که ونه بهیده نو معلومه شوه چې دا د اندام وینه ده او د اندام وینه پاکه وي دا تفصیل مذکور په وینه کې وو.

و اما فی القیئ الخ . شارح مخکې د مالیس بحدث لیس بنجس نه لاندي دوه مسئلي اجمالاً بیان کړي دي چې یو د ویني مسئله وه او بل د قیئ مسئله په دي عبارت سره چې **و کذا القیئ القلیل** نو د ویني د مسئلي تفصیل یې وکړو اوس د قیئ مسئله تفصیلاً بیانوي چې قیئ قلیل ولي نجس نه ده ځکه چې قیئ قلیل دا هغه اوبه دي چې د معدي په پاس سر کې وي او د معدي اوچت طرف محل د نجاست نه وي نو د قیئ حکم داسي شو لکه د لاړو حکم او لاړي پاکې دي.

سوال: تا د قیئ قلیل تفسیر په اوبو سره وکړو او قیئ قلیل خو یواځي اوبه نه وي بلکې کله طعام وي کله صفراء وي کله بلغم وي نو تخصیص د قلیل د اوبو پوري صحیح نه دی؟

جواب: هر قسم قیئ چې وي خو اول کې یې اوبه وي نو ځکه ده اوبه ذکر کړي په تفسیر د قیئ قلیل کې.

و نوم مضطجع و متکئ و مستند الی ما لو أزیل لسقط لا غیر ای لا ینقض الوضوء نوم غیر ما ذکر و هو النوم قائمًا او قاعدًا او راکعا او ساجدًا و الاغماء و الجنون علی ای هیأة کانا و یدخل فی الاغماء السکر وحدّه هنا ان یدخل فی مشیته تحرک و هو الصحیح و کذا فی الیمین حتی لو حلف انه سکران یعتبر هذا الحد.

تشریح: مضطجع: و هو ان یضع النائم جنبه علی الارض یعني چې ویده کس کیږدي اړخ خپل په ځمکه باندي (نهایه) **و متکئ: ای علی احد ورکیه** یعني په یو کوناټي باندي تکیا کول

(كفايه، عنايه) او سعدي چلپي وايې چې د دي نه مراد يو طرف ته ميلان دى په دي شان سره چې مقعد د ده د ځمكي ځخه لري وي (حاشيه سعدي چلپي) **و مستندًا** : تكيا كول په ځنګلي باندي يا ديوال ته يا يو بل شيئ ته.

تشريح: څلورم ماتوونكى د اودس خوب دى دري قسمه خوب ماتونكى د اودس دى:

۱- اضطجاع په اړخ سره ويده كيدل ځكه چې په اړخ سره ويده كيدل سبب دى د استرخاء د مفاصلونو په عام عادت كې د وتل د څه شيئ نه به خالي نه وي او كوم شيئ چې عادت ثابت شي نو داسي وي لكه متيقن به

۲- دويم قسم خوب ماتونكى د اودس په يو كوناټي خوب كول دي ځكه په تكيا سره هغه كلك والى ختميږي كوم چې ويښ انسان لره وي.

۳-دريم قسم خوب چې ماتونكى د اودس دى هغه استناد دى يعني ديوال يا يو بل شيئ ته تكيه كول ځكه په دې كې هم استرخاء د مفاصلو په مكمله طريقي سره راځي خو صرف دغي تكيا د غورزيدو نه منع كړي دي. (هدايه نهايه) **قوله لو ازيل لسقط**: دا متعلق دى د دي قول پوري چې مستنداً "كفايه" لا غير. يعني د دي مذكوره دري قسمه خوب نه ماسوا بل قسم خوب اودس نه ماتوي چې هغه په ولاړي خوب دى په ناستي او د ركوع او سجدي په حالت كې خوب دى دليل پري دا حديث د نبي عليه السلام دى **لا يجب الوضوء على من نام جالسًا او قائمًا او ساجدًا حتى يضع جنبه فانه اذا اضطجع استرخت مفاصله (اخرجه البيهقي)** اودس واجب نه دى په هغه چا باندي چې ويده شي په ناسته يا په ولاړه يا د سجدي په حالت كې تردي پوري چې اړخ ولګوي ځكه كله چې اړخ ولګوي مفاصل د ده سره ازاد شي، نو خوب په دغه ټولو طريقو كې اودس نه ماتوى په لمونځ كې وي او كه بغير د لمونځ نه وي **و الاغماء الخ** پنځم ماتونكى د اودس بيهوشي ده دا يو قسم مرض ده چې قوي ضعيف كوي عقل نه ختموي خو عقل لره پټوي اما جنون يعني ليونتوب عقل ختموي نو بيهوشي چې په هر حالت كې وي اودس ماتوي همدارنګه په اغماء كې نيشه هم داخله ده يعني د نشه كوونكي د نيشي په حالت كې هم اودس ماتيږي اندازه د نيشي په اودس مات والى كې دا ده چې د ده په تګ كې اخوا ديخوا حركت راشي او هم دا صحيح قول ده همدارنګه دا حديث دسكر به په قسم كې هم وي يعني كه ده قسم وخوړلو چې زه نيشه يم نو همدغه حد به معتبر

وي يعني كه د ده په تګ کې تحرک وو نو دا به نيشه وي او که نه وو نو نه به وي ځکه مبنی د
ايمان په عرف باندي وي او عرف کې همدا غسي تګ ته نيشه وايي همدارنګه کوم کس
باندي چې مړګی راشي نو هغه هم په اغماء کې داخل ده، **و الجنون**: شپږم ماتونکی:
او داسه ليونتوب دی په ليونتوب سره هم اودس ماتيږي ۱۲.

و قهقهة مصلّ بالغٍ يركع و يسجد حتى لا ينقض الوضوء قهقهة الصبي و شرطه ان يكون في صلوة ذات ركوع و سجود حتى لو قَهْقَهَ في صلوة الجنازة او سجدة التلاوة لا ينقض الوضوء بل يبطل ما قهقهه فيه و انما شرط ما ذكر لان انتقاض الوضوء بها ثبت بالحديث على خلاف القياس فيقتصر على مورده.

تشريح: اووم ماتونکی د اودس په زوره خندا د هر لمونځ کوونکي ده چې بالغ وي رکوع او سجده کوي د بالغ قيد يې ځکه ولګولو چې د ماشوم خندا په لمونځ کې اودس نه ماتوي او د يرکع او يسجد قيد يې ځکه ولګولو چې شرط د قهقهه چې ماتونکی د اودس شي هغه دا ده چې په هغه لمونځ کې به وي چې رکوع او سجده په کې وي ترديي پوري که يو کس د جنازي په لمانځه کې وخاوندي او يا په سجده تلاوت کې وخاندي نو صرف د جنازي لمونځ او سجده تلاوت باطلوي خو اودس نه ماتوي دا شرائط ولي په قهقهه کې شرط شو؟ دا ځکه چې د اودس ماتوالی په خندا قهقهه سره سره خلاف القياس ثابت دي د ابو موسى الاشعري څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه ورځ خلکو ته لمونځ ورکاوه ناڅاپه يو سړی داخل شو او په کنده کې ورولويده ځکه چې په سترګو کې څه مرض وو نو ډيرو خلکو په لمونځ کې وخندل نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې چا خندلي وي نو اودس او لمونځ دي دواړه راوګرځوي نو اودس مات والی په خندا قهقهه سره خلاف القياس ثابت شو ځکه قياس خو دا وايي چې په خندا قهقهه د اودس مات نه شي ځکه د بدن څخه خارج شوي خو نه دي لکه دا د امام شافعي قول هم دی (فقه حنفي) او کوم شيئ چې خلاف القياس ثابت شي نو په هغه باندي بل شيئ نه شي قياس کولی بلکې صرف تر مورده پوري به خاص وي چې مورد د دي حديث لمونځ د بالغو خلکو دي چې خاوند د رکوع او سجدي وو نو دغه حکم د اودس د ماتوالي به نه خارج الصلوة ته متعدي کيږي او نه به جنازي لمونځ او نه سجده تلاوت ته او نه د ماشوم لمونځ ته.

ثم القهقهه انما تنقض الوضوء اذا كان يقظان حتى لو نام فى الصلاة على اى هيأة قهقهة لا ينقض الوضوءَ و عند الشافعي لا ينتقض الوضوء با القهقهة وحدها ان تكون مسموعة له و لجيرانه و الضحك ان يكون مسموعًا له لا لجيرانه و هو يبطل الصلوة لا الوضوء و التبسم ان لا يكون مسموعًا اصلًا و هو لا يبطل شيأً.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: په خندا قهقهه سره هلته اودس ماتيږي چې کله لمونځ کونکی ويښ وي که چيرته په لمونځ کې ويده شو په هر شکل چې وي يعني په ناسته وي په ولاړه وي د رکوع او سجدي په حالت کې وي او ويې خندل نو اودس يې نه ماتيږي بلکې صرف لمونځ يې باطليږي ليکن د فتح القدير عبارت بيا داسي دی **و كذا ايضا لا تنقض قهقهة النائم فى الصلوة و لا تبطل الصلوة و قيل تنقض و تبطل و عن شداد تنقض و لا تبطل الصلاة و قيل عكسه و الاول اصح** يعني د ويده سړي په لمونځ کې قهقهه نه اودس ماتوي او نه لمونځ باطلوي او بعضي وايې چې اودس هم ماتوي او لمونځ هم باطلوي او شداد وايې چې اودس ماتوي خو لمونځ نه باطلوي ، او بعضي وايې چې اودس نه ماتوي خو لمونځ باطلوي خو اول قول صحيح دی (فتح القدير ج ۱ ص ۴۷) او كفايه کې هم وايې چې **و الصحيح انه لا يكون حدثا و لا تفسد صلاته.** يعني صحيح دا ده چې نه يې اودس ماتيږي او نه لمونځ فاسديږي. (كفايه ج ۱ ص ۴۷) او د امام شافعي رحمه الله په نزد په قهقهه سره اودس نه ماتيږي ځکه چې امام شافعي په دي کې قياس ته ترجيح ورکوي ځکه قياس وايې چې اودس د مات نه شي ځکه څه خارج شوی نه دی او زمونږ لپاره دليل دا قول د نبي عليه السلام دی **الامن ضحك منكم قهقهة فليعد الوضوء و الصلوة جميعًا.** يعني خبردار چا چې وخندل ستاسو نه په زوره سره نو اودس او لمونځ دواړه د راوګرځوي او په داسي حديث سره قياس پريښودلی شي. (هدايه)

وحدها الخ غرض د شارح د دي عبارت نه بيان د اقسامو د خندا دی او تعريف د دي دی اقسام د دي دري دي ۱- قهقهه دي ته وايې چې په خپله يې واوري او ملګري دي هم واوري او حکم يې مخکې تير شو. ۲-ضحک: دي ته ويلی شي چې په خپله يې واوري خو د څنګ ملګری دی وانه وري حکم يې دا دی چې لمونځ باطلوي خو اودس نه ماتوي. ۳-تبسم چې په خپله يې وانه اوري

حکم يې دا دی چې نه اودس ماتوي او نه لمونځ باطلوي **لما روی ان النبی صلی الله علیه و سلم تبسم فی الصلوة** يعني نبي عليه السلام تبسم خندا وکړه په لمونځ کې ۱۲

و المباشرة الفاحشة الا عند محمد و هی ان یُماسَّ بدنُه بدن المرأةِ مجردین و التشر اُلته و تماسَّ الفرجان لا دودة خرجت من جرح لانها طاهرة و ما علیها من النجاسة قلیلة فاما الخارجة من الدبر فتنقض لان خروج القلیل منه ناقض و من الاحلیل لا لانها خارجة من جرح و من قُبُل المرأة فیه اختلاف المشائخ و لحم سقط منه ای من جرح و مس المرأة و الذکر خلافا للشافعي رحمه الله.

الوضاحة الفائقة فی بیان المباشرة الفاحشة: اتم ماتونکی د اوداسه مباشرة فاحشة دی مباشرة مأخوذ دی د باشر الرجل المرأة يعني چې کله سړی خپل پوستکی (يعني بدن) ښځي ته نزدي کړي، مراد د فحش نه ظهور دی نه هغه چې شریعت دهغه نه منع کړي وي ځکه مباشرت کله د سړي او د خپلي ښځي ترمينځ وي مباشرة فاحشه ځکه ماتونکی د اودس دی چې غالبًا د دي سره مذي وځي نو مباشرة سبب شو د خروج د مذي لپاره او سبب قائم شو په مقام د سبب باندي دا قول د امام ابوحنيفة رحمه الله او امام ابويوسف دی او د امام محمد رحمه الله په نزد باندي مباشرة فاحشة د ماتونکو د اوداسه نه دی تر څو چې مذي وغیره وتلي نه وي خو د شيخينو قول بنابر احتياط دی او دي ته اکثر علماء صحيح وايي **و هی الخ** شارح د مباشرة فاحشة تفسير بيانوي چې د سړي بدن د ښځي د بدن سره ولړيږي په داسي حالت کې چې دواړه د جامونه خالي وي او د سړي ذکر هم اوچت وي او دواړه عورتونه هم سره لړيږي، **لا دودة خرجت الخ** اودس نه ماتوي هغه چينجي چې د زخم څخه راووځي. **لانها طاهرة الخ** غرض د شارح د دي نه اشاره ده دوه وجهو ته ۱-فرق په مابين د چينجي د زخم کې او د چينجي د دبر کې هغه داسي چې چينجي يو پاک حيوان دی اګر چې اصل د ده د نجس نه ده او پاک شيئ که د احد السبيلين څخه راووځي نو هم اودس ماتوي لکه باد اما د سبيلينو نه ماسواء که د کوم ځای نه يو پاک شيئ راووځي نو اودس نه ماتوي لکه اوښکه خوله د بدن. ۲-چې چينجي د د برڅخه راوځي نو خامخاه به څه نجاست ورپوري وي او لږ نجاست که د احد السبيلين څخه راووځي نو هم اودس ماتوي او که د غير د احد السبيلين څخه

راووځي نو اودس نه ماتوي ترڅو چې ډېر نه شي (که د سړي د ذکر نه چينجی راووځي نو اودس نه ماتوي ځکه به خامخا د زخم څخه وي او په دي کې او په چينجي د قبل کې اختلاف مخکې بيان شوی دی. **و لحم الخ** دا عطف دی دودة باندي يعني لکه څرنګه چې په چينجي سره اودس نه ماتيږي همدارنګه چې د زخم څخه وغورزيږي ځکه غوښه بذاته په خپله پاکه ده او کوم لوندوالی چې ورپوري وي هغه لږ دی او په قليل سره اودس نه ماتيږي. **و مس المرأة الخ** او نه ماتوي اودس لره لاس وروړل د سړي ښځي ته اګر چې په شهوت سره وي ځکه بي بي عائشه رضي الله عنها چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ښکل کړه او بيا به لمونځ ته ووت او اودس به يې بيان ونه کړو همدارنګه بل حديث مبارک کې راځي چې بي بي عائشه فرمايي چې زه د نبي عليه السلام مخې ته ويده وم او زما پښې د نبي عليه السلام د قبلې يعني د سجدې په ځای وې نو کله به چې نبي عليه السلام سجده کوله نو زه به يې وسکندلم نو ما به پښې راټولې کړې او کله به چې نبي عليه السلام ودريدو نو ما به بيا پښې خپلې خورې کړې (بخاري، مسلم وغيرهما) **و الذکر الخ** يعني اودس نه ماتوي لاس وروړل خپل ذکر ته اګر که بغير د څه پردي نه وي د وجې د حديث د طلق نه چې طلق د نبي عليه السلام نه پوښتنه وکړه په باره د يو سړي کې چې خپل ذکر مسح کړي آيا اودس به کوي؟ نو نبي عليه السلام ورته وويل چې آيا دا ستا د بدن يوه حصه نه ده يعني لکه څرنګه چې په لاس وروړلو سره نورو اندامو ته اودس نه ماتيږي دارنګې ذکر هم يو اندام دی د دي په لاس وروړلو سره اودس نه ماتيږي (اخرج الترمذي و ابوداود).

خلافًا للشافعي رحمه الله الخ امام شافعي رحمه الله وايې چې ښځې ته لاس وروړل اودس ماتوي مطلقًا که په شهوت سره وي او که په غير شهوت سره وي دليل يې دا آيت کريمه ده چې **او لا مستم النساء** يعني يا تاسو لاس وروړی ښځو خپلو ته، د دي آيت کريمه نه مونږ دا جواب کوو چې دلته د لمس نه مراد جماع ده چې د ادب تاديب په خاطر الله جل جلاله کنايةً ذکر کړي ده او په دي کې احاديث مونږ مخکې ذکر کړل، دويم امام شافعي وايې چې خپل ذکر ته لاس وروړل په باطن د ګوتو سره اودس ماتوي د دي نه هم مونږ مخکې جواب کې حديث ذکر کړی ده. ۱۲ .

و فرض الغُسل المضمضة و الاستنشاق و هما سنتان عند الشافعي و لنا ان الفم داخل من

وجه و خارج من وجه حسًا عند انطباق الفم و انفتاحه و حكمًا فى ابتلاع الصائم الريق و دخول شيئ فى فمه فجُعل داخلًا فى الوضوء خارجًا فى الغسل لان الوارد فيه صيغة المبالغة و هى قوله تعالى فاطّهّروا و فى الوضوء غسل الوجه و كذلك الانف و اذا تمضمض و قد بقى فى اسنانه طعام فلا بأس به.

باب فرائض الغسل: غرض د مصنف د دي عبارت څخه بيان د فرايضو د غسل دی، غُسل په ضمي د غين سره، د ټول بدن وينځلو ته وايي او همدارنګه هغه اوبو ته هم وايي چې غُسل پري کولی شي او په کسری د غين سره هغه شيئ ته وايي چې په هغه باندي وينځل کولی شي لکه صابون وغيره د فقه حنفي ج ۱ ص ۶۰ . او په فتحي د غَين سره مطلق وينځلو ته وايي د غسل، فرضونه دري دي ۱-د خولي وينځل. ۲-د پوزي وينځل خوّ د امام شافعي رحمه الله په نزد باندي دا دواړه سنت دي هغه يې قياس کوي په اودس باندي په اودس کې مضمضه او استنشاق سنت دي نو په غسل کې هم سنت دي او زمونږ لپاره دليل په فرضيت د دي دواړو سره قرآن دی په دي شان سره چې د غسل او اودس ترمينځ به فرق هم واضح شي او د امام شافعي قياس به هم باطل شي هغه داسي چې اعضاء د بدن په دري قسمه دي. ۱-داخل من کل وجه ۲-خارج من کل وجه. ۳-داخل من وجه خارج من وجه. د اول قسم وينځل نه په غسل کې فرض دی او نه په اودس کې لکه داخل د سترګي او دويم قسم وينځل په غُسل کې ټول فرض دی او په اودس کې د دري اندامونو وينځل فرض دي او د څلورم مسح کول فرض دي، او دريم قسم چې مشابهت د داخل او خارج دواړو سره لري په غسل کې وينځل فرض دي نه په اودس کې ځکه په باب د غسل کې صيغه د مبالغي راغلي چې فاطّهّروا دی يعني فرض په غسل کې تطهير کامل دی او تطهير کامل په دي راځي چې کوم خارج من کل وجه وي او کوم چې داخل من وجه او خارج من وجه وي ووينځل شي اما په اودس کې داسي نه شي کيدای ځکه په اودس کې صرف امر با الغسل راغلی او د مبالغي صيغه نه ده راغلي.

و لنا ان الفم الخ خوله داخل من وجه او خارج من وجه هم حسًا ده او هم حکمًا ده حسًا داسي ده چې کله خوله بندي کړی شي نو محل د مضمضي حسًا په داخل کې راځي او که خلاصه کړی شي نو محل د مضمضي خارج معلوميږي او حکمًا داسي چې د روژه دار سړی لاړي که تيري شي نو روژه يې نه فاسديږي دا علامه د دي ده چې داخل د بدن ده ځکه که خارج شي نو

بیا خو روژه فاسدیږي ځکه دخول د شیئ د خارج نه داخل ته روژه فاسدوي، او که یو شیئ د خارج نه خولي ته داخل کړی او ستوني ته ونه رسیږي نو روژه یې نه فاسدیږي دا علامه ددي ده چې محل د مضمضي خارج دی ځکه که داخل وی نو بیا خو روژه فاسدیده ځکه د خارج نه داخل ته یو شیئ داخل شو. نو خوله داخل وګرځولی شوه په اودس کې نو وینځل یې فرض نه شول او خارج وګرځولی شوه په غسل کې نو وینځل یې فرض شول د وجي د صیغي د مبالغي نه په باب د غسل کې **و کذلک الانف الخ** همدارنګه پوزه هم داخل ده حسًا ځکه نه ښکاري او داخل ده حسًا وروسته د دقیق نظر نه او هم داخل ده حکمًا ځکه که د روژه دار سړي د پوزي مواد د پوزي نه حلق ته لاړ شي نو روژه یې نه فاسدیږي او خارج ده حکما ځکه که یو شیئ د خارج نه پوزي ته داخل شي نو روژه نه فاسدوي. **و اذا تمضمض الخ** که یو سړی مضمضه وکړه او په غاښونو کی څه ډوډۍ پاتي شوه نو څه پروا نه کوي.

و غسل سائر البدن ای جمیع ظاهر البدن حتی لو بقی العجین فی الظفر فاغتسل لا یجزی و فی الدرن یجزی اذ هو متولد من هناک و کذا الطین لان الماء ینفذ فیه و کذا الطبغ با الحناء فا الحاصل ان المعتبر فی هذا الحرج و اذا ادهن فأمرّ الماء فلم یصل یجزي و اما ثقب القرط فان کان القرط فیها فان غلب علی ظنه ان الماء لا یصل من غیر تحریک فلا بد منه و ان لم یکن القرط فیها فان غلب علی ظنه ان الماء یصل من غیر تکلف لا یتکلف و ان غلب انه لا یصل الا بتکلف یتکلف و ان انضم الثقب بعد نزعه و صار بحالٍ ان امرّ علیها الماء یدخلها و ان غفل لا یدخلها امرّ الماء و لا یتکلف فی ادخال شیئ سوی الماء من خشب او نحوه و ان کان فی اصبعه خاتم ضیّق یجب تحریکه لیصل الماء تحته.

التشریح: دریم فرض د غسل د ټول بدن وینځل دي تردي پوري که اوړه په نوکانو کې پاتي شي او غسل وکړي نو دغه غسل نه کافي کیږي او که په نوکانو کې خیري پاتي شي نو بیا غسل صحیح ده ځکه خیري همدلته پیدا کیږي همدارنګه خټه څه باک نه لري ځکه خټه کې اوبه ننوځي **و کذا الصبغ بالحناء.** همدارنګه د نکریزو رنګ هم څه پروا نه لري.

فا الحاصل الخ غرض د شارح د دي نه بیان د یوي قاعدي کلي دی چې په هغي باندي نور

فروعات تفريع کړي، چې په باب د غسل کې په جواز او عدم جواز کې معتبر حرج دي يعني که کوم کار کې حرج نه وو ، نو د نه کولو په صورت کې به عدم جواز وي او که حرج وو نو جواز د غسل به وي که چيرته يو سړی سر يا ږيره په تيلو غوړه کړي او په هغې باندي اوبه تيري کړي او دغه اوبه اندام ته ونه رسيدلي نو دا هم کافي ده او د تيلو ليري کولو ته ضرورت نشته ځکه ديکی حرج دی و **اماه ثقب القرط** ثقب د غوږ والی سوري ته ويل کيږي چې په غوږ يا پوزه کې وي او قرط ، غوږوالی ته وايي، نو که په دغه سوري کې غوږوالی وه نو که غالبًا گمان د ده وو چې بغير د خوزولو د غوږوالی نه اوبه سوري ته نه رسيږي نو بيا د غوږوالی خوزول ورباندي واجب دي او که غوږوالی په کې نه وه نو که غالب گمان د ده وو چې اوبه سوري ته بغير د تکلف نه رسيږي نو تکلف به نه کوي او که غالب گمان يې دا وو چې اوبه بغير د تکلف نه نه رسيږي نو بيا به تکلف کوي يعني غوږوالی به خوزوي او يا به په کې يو شيئ ورداخلوي.
او که د غوږوالی د ويستلو نه وروسته سوري سره پيوسته شوي وو او داسي گرځيدلي وو چې که اوبه پري تيري کړي نو سوري ته ورننوځي او که ځان غافله کړی يعني قصداً پری اوبه تيري نه کړی نو اوبه نه ورننوځي نو اوبه به ورباندي تيروی او د اوبو نه ماسوا به د يو شيئ په داخلولو کې هم تکلف نه کوی لکه لرگی وغيره او که په گوته کې يې گوتمه وه چې تنگه وه نو بيا د دي خوزول واجب دي چې اوبه لاندي ورسيږی ۱۲ صافی.

و يجب على الاقلف ادخال الماء داخل القلفة و ان لزل البول اليها و لم يخرج عنها لقض الوضوء هذا عند بعض المشائخ فلها حكم الظاهر من كل وجه و عند البعض لا يجب ايصال الماء اليها فى الغسل مع انه ينقض الوضوء اذا لزل البول اليها فلها حكم الباطن فى الغسل و حكم الظاهر فى انتقاض الوضوء لا دلكه.

التوضيح: **اقلف**: ناسونته سړي ته ويل کيږی او **قلف** هغه پوستکي ته ويل کيږي چې د سونت گيری په وخت کې غوځولی شي.
نو قلفه د بعضو علماؤ په نزد حکم د ظاهر اندام لري نو د قلفي لاندي ځای وينځل هم فرض دي او که قلفي ته متيازي ښکته شوي نو اودس پري ماتيږي اگر که بهر راوتلي نه وي او د بعضو علماؤ په نزد باندي دي لره حکم د ظاهر دی په حق د اودس ماتوالي کې او حکم د باطن لري په حق د وجوب د غسل کې يعني په غسل کې داخل د قلفي ته اوبه رسول واجب

نه دي او قلفي ته که متيازي راښکته شوي نو اودس ماتيږي **لا دلکه الخ** په غسل کې د بدن مښل فرض نه دي ۱۲ صافي.

و سنته ان يغسل يديه الى رسغيه و فرجه و يزيل نجسًا ان كان اى ان كان النجس اى النجاسة على بدنه ثم يتوضأ الا رجليه استثناء متصل اى يغسل اعضاء الوضوء الا رجليه ثم يفيض الماء على كل بدنه ثلثا ثم يغسل رجليه لا فى مكانه اى اذا كان مكان الغسل مجتمع الماء المستعمل حتى اذا اغتسل على لوح او حجر يغسل رجليه هناك.

باب سنن الغُسل: په سنتو د غسل کې اول بايد شروع په بسم الله وشي لقوله عليه السلام **ستر بين أعين الجن و بين عورات بنى ادم اذا وضع احدهم ثوبه ان يقول بسم الله.**

(**المعجم الاوسط للطبرانی**) يعني پرده په مابين د سترګو د جناتو کې او په مابين د عورتو د انسانانو کې کله چې يو د دوی نه جامې ليرې کړي هغه دا ده چې ووايې بسم الله.(فقه حنفي). بيا به لاسونه تر مړوندونو پوري ووينځي ځکه دا اله د پاکوالي ده او په کار ده چې اول اله پاکه وي بيا به خپل عورت ووينځي او بيا به پليتي ليرې کړي که د ده په بدن باندي وه. **اى ان كان النجس**. شارح په اول تفسير کې اشاره دي ته وکړه چې ضمير د كان نجس ته راجع دی نه غسل کوونکي ته **النجاسة الخ** غرض د شارح د دي تفسير نه دا دی چې نجس په کسرې د جيم سره نه دی بلکې په فتحې د جيم سره دی چې مراد تري نجاست دی. **ثم يتوضأ** بيا به مکمل اودس کوي ترڅو چې مسح به هم نه پريږدي يعني ټول اندامونه به ووينځي مګر پښې به نه وينځي.

استثناء متصل الخ په دي عبارت کې يو اعتراض واردیږي چې ته وايې چې دا استثناء متصله ده نو په استثناء متصله کې شرط دا ده چې ما بعد د الا نه به د جنس د ماقبل نه وي او رجليه خو د جنس د وضوء نه نه دی؟ نو شارح جواب وکړ چې وضوء مستثنى منه نه ده بلکې مستثنى منه اعضاء الوضوء ده چې تقدير يې داسي راځي **يغسل اعضاء الوضوء الا رجليه.**

يغسل تفسير د يتوضأ دی د دي لپاره چې مستثنى منه ظاهره شي، **ثم يفيض الماء** بيا به په ټول بدن باندي اوبه واړوي يو ځل اوبه اړول فرض دي او دري کرته سنت دي د دي نه وروسته

به بیا اودس له سره نه کوي بلکې صرف پښې به وینځي خو د غسل په ځای کې به یې نه وینځي یعني که د غسل په ځای کې اوبه جمع کیدي نو بیا به پښې وروسته د غسل نه په جدا ځای کې وینځي او که غسل یې په تخته یا په تیږه یا لکه په نن زمانه کې په سیمټي ځای باندي وکړ نو په هم هغه د غسل په ځای کې دي پښې ووینځي ۱۲ عبدالرشید صافي.

و لیس علی المرأة نقض ضفیرتها و لا بلّها اذا ابتلّ اصلها خص المرأة لقوله علیه السلام لام سلمة رضي الله عنها یکفیک اذا بلغ الماء اصول شعرک و یجب علی الرجل نقضها و قیل اذا کان الرجل مضفرّ الشعر کالعلویّة و الاتراک لا یجب و الاحوط ان یجب و قوله و لا بلّها قال بعض مشایخنا تَبُلُّ ذوائبها و تعصرها لکن الاصح عدم وجوبه و هذا اذا کانت مفتولة اما اذا کانت منقوضة یجب ایصال الماء الی اثناء الشعر کما فی اللحیة لعدم الحرج.

وضاحت المسئلة: په غسل کې په ښځه باندي د کمڅۍ سپړل نشته او نه لوندوالی د دي بلکې ښځي ته کافي ده چې د ویښتانو بیخونو ته اوبه په مکمله توګه ورسوي او لامده یې کړي مصنف رحمه الله د ښځي تخصیص ځکه وکړو چې نبي علیه السلام ام سلمه بي بي مخاطبه کړه او ورته یې وویل چې کافي ده تا لره چې کله اوبه ستا د ویښتانو بیخونو ته ورسیږي دا ځکه چې د ښځو په کمڅۍ خلاصولو کې حرج وي او په شریعت کې حرج مدفوع دې، او که د سړي کمڅۍ وي نو په سړي لازم دی چې کمڅۍ به سپړي او د زوړنده ویښتانو وینځل هم ورباندي لازم دي ځکه سړیو لره په دي کې څه حرج نه وي او د ښځو خو کمڅۍ عادت وي نو ښځو ته حرج دی او بعضو علماء وایې که سړی چیرته د کونځۍ د ویښتانو والا وو لکه علویان یعني چې نسبت یې حضرت علي رضی الله عنه ته کیږي لکه سیدان وغیره **و الاتراک** او لکه ترکیان نو بیا پرې د کمڅۍ خلاصول واجب نه دي خو احتیاطي خبره دا ده چې واجب شي. **قوله و لا بلّها** یعني په ښځه باندي د کمڅۍ لوندوالی هم نشته خو بعضي علماء وایې چې کمڅۍ به لمده وي او زبیښي به یې لیکن صحیح خبره دا ده چې په ښځه د کمڅیو لوندوالی او زبیښل نشته خو دا په هغه صورت کې چې مفتول وي یعني چې کونځۍ شوي وي او که کمڅۍ شوي نه وي بلکې سپړلي شوي وي نو بیا د اوبو رسول مینځ د ویښتانو ته واجب دي لکه د نارینوو ږیرو ته ځکه په دي صورت کې حرج نشته. عبدالرشید صافي عفی عنه.

و موجبه انزال منی ذی دفق و شهوة عند الانفصال حتی لو انزل بلا شهوة لا یجب الغسل عندنا خلافا للشافعي رحمه الله ثم الشهوة شرط وقت الانفصال عند ابي حنیفه و محمد و وقت الخروج عند ابي یوسف حتی اذا انفصل عن مکانه بشهوة و اخذ رأس العضو حتی سکنت شهوته فخرج بلا شهوة یجب الغسل عندهما الا عنده و ان اغتسل قبل ان یبول ثم خرج بقیة المنی یجب الغسل ثانیًا عندهما لا عنده.

موجبات الغسل: موجب په کسری د جیم سره هغه څه ته وایې چې غسل واجبوي چې یو دهغو نه راوتل د منی دي په ټوپ او خوند سره. و **عند الانفصال** دا متعلق دی تر شهوة پوري نه د دفق پوري ځکه دفق د خروج په وخت کې وی، زمونږ د احنافو په نزد د منیو راوتل هلته غسل واجبوي چې شهوت عند الانفصال وي یعني کله چې مني د خپل اصلي ځای څخه راجدا کیږي چې هغه ځای د دي په نارینه کې شاده او په زنانه کې د سینو هډوکی دی نو که د دي ځای څخه په شهوت سره راجدا شو نو غسل واجبوي او که شهوت سره راجدا نه شي نو غسل نه واجبوي او امام شافعي رحمه الله وایې چې غسل د منیو په راوتلو سره مطلقًا واجب دی یعني ولو که بلا شهوت وي ځکه حدیث مطلق راغلی چې **الماء من الماء** یعني غسل واجب دی د خروج د مني نه نو په حدیث کې د شهوت قید ورسره نشته، د احنافو لپاره دلیل دا حدیث مبارک دی چې **اذا خذفت الماء فاغتسل** یعني کله چې اوبه راوولي نو غسل وکړه او راویشتل هلته وي چې کله سره د دفق او شهوت نه وي، **ثم الشهوة الخ** ټول احناف په دي اتفاق لري چې غسل هلته واجبیږي چې مني د ذکر نه راووځي او شهوة عند الانفصال علی مقره شرط دی بیا احنافو په خپل مینځ کې اختلاف کړی چې لکه څرنګه عند الانفصال عن مقره کې شهوت شرط وو نو ایا عند الخروج عن ذکر هم شرط دی او که نه امام ابویوسف وایې چې د غسل وجوب تعلق تر دواړو پوري لري یعني لکه څرنګه چې عند الانفصال شرط وو همدارنګه به عند الخروج هم شرط وي او امام ابوحنیفة او امام محمد رحمه الله وایې چې شهوت عند الخروج شرط نه دی ځکه چې کله مني د خپل مقر څخه را جدا شي نو جنابت راځي نو غسل واجبیږي بغیر د یو امر زائد نه چې هغه شرط د شهوت عند الخروج ده ، ثمره د اختلاف دا ده که چیرته مني د خپل ځای نه په شهوت سرا

راجدا شي او بیا دغه سړی خپل د ذکر سر ونیسي تردي پوري چې شهوت د ده ارام شي بیا دغه مني د ذکر نه بلا شهوته راووځي نو د طرفینو په نزد غسل واجب دی ځکه عند الانفصال شهوت موجود وو او د امام ابویوسف په نزد واجب نه دی ځکه عند الخروج شهوت نه وو او د امام ابویوسف په نزد خو عند الخروج شهوت شرط دی، او که یو سړی غسل وکړو د متیازو کولو څخه مخکې بیا هغه پاتي مني راووتل نو د طرفینو په نزد غسل پري دویم وار واجب دی ځکه دا دهغه منیو پاتي برخه وه چې انفصال یې په شهوت سره شوی وو او د امام ابویوسف په نزد واجب نه دی ځکه شهوت عند الخروج نه وو ۱۲ صافي.

ولو فی نوم ولا فرق فی هذا بین الرجل والمرأة وروی عن محمد رحمه الله فی غیر روایة الاصول اذا تذکرت الاحتلام والانزال والتلذذ ولم تر بللاً کان علیها الغسل قال شمس الائمة الحلوائی لا یؤخذ بهذه الروایة وغیبة حشفة فی قبل او دُبُر علی الفاعل والمفعول به ورؤیة المستیقظ المنیّ او المذی وان لم یحتلم واما فی المنی فظاهر واما فی المذی فلاحتمال کونه منیًّا رقّ بحرارة البدن وفیه خلاف ابي یوسف.

وضاحت : وتل د مني غسل واجبوي اګر چې په خوب کې وي او په خوب کې په انزال باندي په غسل واجبولو د نارینه او ښځو ترمینځ فرق نشته د وجي د حدیث د ام سلیم نه چې ام سلیم نبي علیه السلام ته وفرمایل چې آیا که د ښځي په خوب کې احتلام وشي او لوندوالی هم وګوري نو غسل پري شته؟ نو نبي علیه السلام جواب ورکړو چې که اوبه وګوري نو غسل پري واجب ده او د امام محمد نه په غیر د روایت د اصولو نه یعني په نادر الروایت کې روایت راغلی که چیرته د یوي زنانه احتلام او انزال او خوند یاد وو خو لوندوالی نه په بدن وو او نه په جامو باندي وو نو په دي باندي به غسل لازم وي، خو شمس الائمة الحلوائي وایي چې په دي روایت به عمل نه شی کولی و **غیبة حشفة الخ** او بل د موجباتو د غسل نه د نارینه د حشفي (د سر د ذکر) پټیدل دي په مخکني عور د زنانه کې او یا وروستني عورت کې چې د لوی اودس ماتي ځای دی په فاعل او مفعول دواړو باندي غسل واجب دی، و **رؤیة المستیقظ الخ** دا مسئله اګر چې مخکې بیان شوه خو اجمالاً وه چې ویده سړی د خوب نه راویښ شي اګر چې احتلام یې یاد نه وو خو بیا یې هم مني یا مذي ولیدل نو غسل پري

واجب دی د منیو خبره خو ښکاره ده او په مذي کې احتمال دا شته چې دا مني وی او په حرارت د بدن سره نرم شوي وي او امام ابویوسف رحمه الله وایي چې تر څو یې یقین په احتلام شوی نه وي نو غسل پرې واجب نه دی.

و انقطاع الحیض و النفاس لقوله تعالیٰ و لا تقربوهن حتی یطّهّرن علی قراءة التشدید و لما کان الانقطاع سببا للغسل فاذا انقطع ثم اسلمت لا یلزمها الاغتسال اذ وقت الانقطاع کانت کافرة و هی غیر مامورة بالشرائع عندنا و متی اسلمت لم یوجد السبب و هو الانقطاع بخلاف ما اذا اجنبت الکافرة ثم اسلمت حیث یجب علیها غسل الجنابة لان الجنابة امر مستمر فتکون جنبا بعد الاسلام و الانقطاع غیر مستمر فافترقا لا وطی بهیمة بلا انزال.

توضیح المسئلة: او بل ده موجباتو د غسل نه بندیدل د وینې د حیض او د نفاس دي ځکه الله پاک فرمایي چې تاسو خپلو ښځو ته په وطئ سره مه نزدې کیږی تردې پورې چې ښې پاکې شي یعنې غسل وکړي دا په هغه صورت کې چې یطهرن په قراءت د تشدید سره ولوستلی شي او که په قراءة د تخفیف سره ولوستلی شي نو بیا یې معنا دا ده چې وینه یې بنده شي نو په قرآءة حرمت تشدید سره دا آیات دلالت کوي په حرمت د وطي سره مخکې د غسل نه او وطي په خپل ملک کې تصرف دی نو که غسل جائز یا مستحب وی نو بیا به یې خاوند د وطي څخه منع کړي نه وه، چې منع یې کړ نو معلومه شوه چې غسل وروسته د انقطاع د حیض او نفاس نه واجب دی او لکه څرنګه چې علت د اذی په حیض کې وو نو په نفاس هم همدا علت شته نو نفاس نه وروسته هم غسل واجب دی او سبب د غسل انقطاع شوه او انقطاع په دوه قسمه ده ۱-آنی یعنې غیر مستمره. ۲-زماني یعنې مستمره. **فاذا انقطع ثم اسلمت الخ** دا صورت د مسئلی د انقطاع آنی مثال دی هغه داسې چې د یوې کافرې ښځې په حالت د کفر کې وینه د حیض بنده شوه بیا یې اسلام راوړو نو په دې ښځې باندې غسل لازم نه دی نه په اسلام کې ځکه انقطاع د دم په اسلام کې نه وه، او نه په حالت د کفر کې پرې غسل لازم دی ځکه کفار په شرائع باندې مامور او مخاطب نه دي، **بخلاف الخ** دا صورت د مسئلې د انقطاع زماني مثال دی چې یوه ښځه په حالت د کفر کې جنبه شي بیا

اسلام راوړي نو په دي ښځه باندي غسل واجب دی ځکه جنابت یو امر دائم دی یعني نه ختمیدونکی دی نو دا به پس د اسلام راوړلو نه هم جنبه وي نو دواړه صورتونه د انقطاع جدا شو، **لا وطی بهیمة الخ** غسل نه واجبیږي په وطي کولو د بهیمي یعني چارپایې سره تر څو چې یې انزال نه وي شوی کله چې یې انزال وشو نو بیا غسل پري واجب دی ځکه اصل موجب د غسل انزال دی او ایلاج قائمقام د انزال دی ځکه ایلاج سبب د انزال وي او دغه سببیت په هغه ځای کې وي چې کوم ځای کې په پوره توګه شهوت پوره کیږي او فرج د بهائمو کې د شهوت کمال والی نه راځي (صافی عفی عنه).

و سن للجمعة و العيدين و الاحرام و عرفة فغسل الجمعة سُنّ لصلوة الجمعة وهو الصحيح و يجوز الوضوء بماء السماء و الارض كالمطر و العين و اما ماء الثلج فان كان ذائبا بحيث يتقاطر يجوز و الا فلا و ان تغير بطول المكث او غيّر احد او صافه اى الطعم او اللون او الريح شيئ طاهر كالتراب و الاشنان و الصابون و الزعفران انما عدّ هذه الاشياء ليعلم ان الحكم لا يختلف بأن كان المخلوط من جنس الارض كالتراب او شيئا يقصد بخلطه التطهير كالاشنان و الصابون او شيئا اخر كالزعفران و عند ابي يوسف ان كان المخلوط شيئا يقصد به التطهير يجوز به الوضوء الا ان يغلب على الماء حتى يزول طبعه و هو الرقة و السيلان و ان كان شيئا لا يقصد به التطهير ففي رواية يشترط لعدم جواز التوضي به غلبته على الماء و في رواية لا يشترط و ما ليس من جنس الارض ففيه خلاف الشافعي رحمه الله

القول الموزون فی بیان غسل المسنون: مصنف رحمه الله چې کله فارغ شو د موجباتو د غسل نه نو شروع یې وکړه په بیان د غسل مسنون کې نو غسل سنت دی لپاره د جمعې د لمونځ او همدا صحیح قول ده او په قول د حسن بن زیاد کې د جمعي د ورځي لپاره سنت دی او د اخترونو لپاره سنت دی او د احرام لپاره او د عرفي په ورځ په عرفات باندي د اودریدو لپاره **و يجوز الوضوء بماء الخ** تخصیص د اودس یې ځکه وکړ چې دا زیات واقع کیږي، اودس رواء کیږي د باران په اوبو سره او د ځمکي په اوبو سره لکه چینه وغیره او د واوري اوبه که واوره ویلي کیده په داسي طریقه چې اوبه تري رواني وي نو بیا اودس پري جائز ده

او كه اوبه تري نه څڅيدلي نو بيا اودس پري نه كيږي **و ان تغير الخ** د باران او د ځمكي په اوبو اودس روا ده اګر چې په دي اوبو كې تغير راشي په زيات وخت تيريدلو سره او يا بدل كړي يو د صفتونو د اوبو نه صفتونه د اوبو دري دي. ۱-خوند ۲-رنګ. ۳-بوی. **شيئ طاهر الخ** دا فاعل د غير دی يعني د اوبو صفتونو لره يو پاک شيئ بدل كړی لكه خاوره، زنه، صابون، زعفران، **احد اوصافه الخ** دا قيد اتفاقي دی ځكه كه دا دري صفتونه په دغه مذكوره شيانو سره بدل شي او تر څو چې د اوبو نوم ورپوري وي نو اودس پري كيږي **كما في النهايه و البنايه وغيرهما. وانما عد الخ** دافع د يو اعتراض ده هغه داسي چې مثال لپاره د وضاحت د ممثل راځي او وضاحت د ممثل په يو مثال سره هم راتلو نو تا څلور مثالونه ولي راوړل؟ نو شارح جواب وكړو چې دا يې د دي لپاره ذكر كړو چې معلوم شي چې حكم يعني اودس روا والی په دي اوبو سره نه مختلف كيږي كه د دي سره هغه شيئ ګډ شي چې د جنس د ځمكي څخه وي لكه خاوره او يا داسي يو شيئ ورسره ګډ شي چې دهغه د يو ځای والی نه پاكوالی مراد وی لكه زنه يا صابون او يا داسي يو شيئ ورسره ګډ شي چې نه د جنس د ځمكي څخه وي او نه تري پاكوالی مراد وي لكه زعفران وغيره شو.

و عند ابي يوسف الخ: د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد كه د اوبو سره مخلوط هغه شيئ وو چې په هغه سره پاكوالی راتلای شی لكه صابون وغيره نو په هغه اودس جائز دی مګر كه دغه مخلوط شيئ په اوبو دومره غالب شي چې د اوبو طبيعت لري كړي چې هغه نرم والی او بهيدل دي نو بيا اودس پري جائز نه دی او كه د اوبو سره مخلوط هغه شيئ نه وو كوم سره چې پاكوالی مقصود وي لكه صابون وغيره (بلكه بل شئ وو) نو په دي كې د امام ابويوسف نه دوه روايته دی يو روايت كې دی چې كه دغه مخلوط شيئ په اوبو غالب وو نو اودس پري نه كيږي او كه غالب نه وو نو كيږي او په بل روايت كې دی چې په دي باندي مطلقا اودس نه كيږي يعني كه دغه مخلوط په اوبو غالب وي او كه نه **و ما ليس من جنس الارض ففيه خلاف الشافعي ابن الهمام** په فتح القدير كې ليكلی چې علماء په دي متفق دي چې اوبه مقيدي بې اودسی نه ليري كوي او كله چې اوبه مطلقي نه وي نو حكم به تيمم ته ګرځي خو اختلاف په هغه اوبو كې دی چې زعفران وغيره چې د جنس د ځمكي څخه نه وي ورسره ګډ

شی د امام شافعي رحمه الله په نزد دا اوبه مقیدي دي خو مونږ ورته وایو چې د دي نه مونږ هم انکار نه کوو چې دي ته ماء الزعفران وایي لیکن مونږ وایو چې تر څو زعفران وغیره چې غالب شوی نوی نو دي ته اوبه ویلی شي او کوم نسبت یې چې زعفرانو وغیره ته کیږي نو په دي سره د اوبو اطلاق نه ختمیږي لکه د اوبو نسبت چې کوهي یا چیني ته کولی شي او ویلی شي ماء البیر ماء العین وغیره، (صافي)

و بماء جارٍ فیه نجس لم یُرا اثره ای طعمه او لونه او ریحه اختلفوا فی حد الجاری فا الحد الذی لیس فی درکه حرج ما یذهب بتبنة او ورق فاذا سد النهر من فوق و بقیة الماء تجری مع ضعف یجوز به الوضوء اذ هو ماءٌ جار و کل ماءٍ ضعیف الجریان اذا توضأَ به یجب ان یجلس بحیث لا یستعمل غسالته او یمکث بین الغرفتین مقدار ما یذهب غسالته.

توضیح المسئلة: و بماء جارٍ دا عطف دی په بماء السماء باندي یعني په هغه روانو اوبو اودس روا دی چې په هغو کې پلیتي وي خو د پلیتی اثر نه معلومیږي چې هغه خوند رنګ بوی د، علماؤ د روانو اوبو په تعریف کې اختلاف کړی خو هغه تعریف چې دهغه په معلومولو کې څه حرج نه وي دا دی چې رواني اوبه هغه دي چې بوس او پاڼي وړي، نو کله چې ویاله یا نهر د بره خوا نه بنده کړای شي او څه نری اوبه په ویاله کې سره د کمزورتیا رواني وي نو کله چې په دي اوبو اودس کوی نو په کار دا ده چې په داسي طریقه کینئ چې مستعملي اوبه بیا استعمال نه شي او یا دا چې د دوه لپو ترمینځ دي وقفه کوي دومره اندازه چې مستعملي اوبه لاړي شي ۱۲.

و اذا کان الحوض صغیرًا یدخل فیه الماء من جانب و یخرج من جانب اخر یجوز الوضوء فی جمیع جوانبه و علیه الفتوی من غیر تفصیل بین ان یکون اربعاً فی اربع او اقل فیجوز او اکثر فلا یجوز و اعلم انه اذا انتن الماء فان عُلم ان نتنه للنجاسة لا یجوز و الا یجوز حملًا علی ان نتنه بطول المکث و اذا سد الکلب عرض النهر و یجری الماء فوقه ان کان ما یلاقی الکلب اقل مما لا یلاقیه یجوز الوضوء فی الاسفل و الا لا قال الفقیه ابو جعفر علی هذا ادرکت مشائخي و عن ابي یوسف لا بأس با الوضوء به اذا لم یتغیر احد اوصافه.

توضیح المسئلة: که یو ډنډ چې د لس په لسونه کم وي د یو طرف نه یې اوبه داخلیږي او د

بل طرف نه اوځي نو په ټولو طرفونو کې اودس روا دی او د فقيه ابو الحسن قول دا دی که چيرته يو حوض ځلور په ځلورو کې يا ددي نه کم وو نو اودس پرې جائز ده او که زيات وو د دي نه نو بيا صرف په هغه ځای کې جائز دی چې کوم ځای اوبه داخليږي او د کوم ځای نه خارجيږي، دا ځکه چې په اول صورت کې مستعملي اوبه فی الحال اوځي او نه پاتي کيږي او په دويم صورت کې مستعملي اوبه فی الحال نه اوځي ځکه حوض لوی وي خو مفتي به قول هغه دی چې د هر طرف نه اودس جائز دی بغير د دي تفصيل نه لکه ابو الحسن چې کړي چې که شپاړس متره مربع، يا د دي نه کم وو نو اودس به جائز وي او که زيات وو د دي نه نو جائز به نه وي يعني د ابو الحسن قول غير مفتٰی به دی، **و اعلم الخ** دا مسئله د فروعاتو د يوي قاعدي ځخه ده چې هغه قاعده دا ده **ابقاء ما کان علی ما کان** شارح دا قاعده راوړه لپاره د وضاحت د دي قول د مصنف چې **لم یر اثره** که اوبه بد بويه شوی که معلومات وو چې بد بويې د دي د وجي پليتي نه ده نو اودس پرې نه کيږي او که معلومات يې نه کيده نو بيا اودس پرې جائز ده په دي به يې حمل کوو چې بد بويې د دي د وجي د ډير وخت د تيريدو ځخه ده نه د وجي د پليتی د يو ځای والي ځخه. **و اذا اسد الخ** شارح اشاره کوي د مصنف دي قول ته **لم یر اثره** چې دا په هغه صورت کې وه چې مرداره په اوبو کې نه وي او که مرداره وه نو دا خو بيا عين نجاست دی نو که يو سپی په لښتي (وياله) کې مړ پروت وو، په پلنو سره او د اوبو جريان يې بند کړی وو يعني اوبه په سپي دپاسه اوښتي نو که چيرته هغه اوبه چې د سپي سره لګيدلي کمي وي دهغو نه چې نه لګيدي نو اودس د سپي نه ښکته خواته جائز دی او که د سپي سره لګيدونکي اوبه کمي نه وي دهغو اوبو نه چې د سپي سره نه لګيږي نو اودس د سپي نه کوز طرف ته جائز نه دی، فقيه ابوجعفر ويلې چې زما استادانو هم په دي مسئله فتوی ورکوله او امام ابويوسف وايي کومو روانو اوبو کې چې سپي وليدلی وي اګر که د سپي سره زياتي اوبه لګيږي خو تر څو چې په اوصافو کې چې خوند رنګ بوی دي تغير رانه شي اودس پرې جائز دی د وجي د دي حديث نه چې **الماء طهور لا ينجسه شيء** دا حديث په روانو اوبو حمل دی نو مقتضاء د دي حديث دا ده چې د سپي نه کوز طرف ته اودس کول جائز دي تر څو چې د اوبو اوصافو تغير را نه شي. ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

وبماءٍ مات فيه حيوان مائي المولد کالسمک و الضفدع بکسر الدال انما قال مائی المولد

حتى لو كان مولده في غير الماء هو يعش في الماء يفسد الماء بموته فيه او ماليس له دم سائل كالبق و الذباب لان النجس هو الدم المسفوح كما ذكرنا و لحديث وقوع الذباب في الطعام و فيه خلاف الشافعي.

توضيح المسئلة: او په هغه اوبو سره هم اودس جائز ده چې داسي حيوان په کې مړ شي چې مائي المولد وي يعني چې اوبو کې پيدا کيږي او په اوبو کی ژوند هم کوي لکه ماهی چينجه د دوی په مرګ سره اوبه نه پليتيږي ځکه چې مرګ بذاته نجسونکی نه ده بلکې د دم سائل د وجي د نجاست حکم پري کولی شي او کوم حيوان چې مائی المولد وي په هغه کې دم مسفوح نه وي ځکه د ويني والا په اوبو کې ژوند نه شي کولی ځکه په مابين د طبيعت د اوبو او د ويني کې منافات دي او په ماهي کی چې کوم د ويني په شان رطوبات وي هغه حقيقة وينه نه ده ځکه وينه چې لمر ته واچوي نو توريږي او دغه رطوبات د ماهي سپينيږي او که کوم حيوان مائي المولد وي خو د استوګني ځای وچه وي لکه بعض اقسام د ملخانو نو بيا د دوی په مرګ سره اوبه نه پلتيږي او که په وچه کې پيدا کيده لکه هيلۍ مرغاوی او ژوند په اوبو کې کوی نو د دوی په مرګ سره اوبه فاسديږي. **او ماليس له دم الخ** او په هغه اوبو هم اودس جائز دی چې په هغو کې هغه شيئ ولويږي چې روانه وينه نه لري لکه ماشی او مچ ځکه نجاست دم مسفوح دی او په دي شي کې دم مسفوح نشته. او بل دهغه حديث د وجي چې نبي عليه السلام فرمايي که چيرته ستاسي په لوښي کی مچ ولويږي نو په کې ورغوپه يې کړی ځکه د مچ په يو وزر کې مرض دی او په بل کې دوا او دا مچ ځان په هغه وزر ساتي چې مرض په کې ده (اخرجه البخاري و النسائی و أبوداؤد) نو د دي حديث نه دا معلومه شوه چې مچ په طعام کې ورغوپه کړی او دا خو معلومه خبره ده چې طعام کله ګرم وي او مچ مرداره وي نو که د مچ په مرګ سره طعام خرابيدلی نو نبي عليه السلام به د دي په غوپه کولو سره امر نه وی کړی نو کله چې دا حکم په مچ کې ثابت شو نو په هغه شيانو کې هم ثابت شو چې په هغو کې وينه نه وي لکه ماشی وغيره . **و فيه خلاف الشافعي رحمه الله الخ** . امام شافعي وايي چې مرګ د دغه مذکوره شيانو په اوبو کې اوبه پليته وي ځکه حرمت نه په طريقي د کرامت سره علامه د نجاست ده . (هدايه)

لا بما اعتصر الرواية بقصر ما من شجر او ثمر اما ما يقطر من الشجر فيجوز به الوضوء و لا

بماء زال طبعه بغلبة غيره اجزاءً المراد به ان يخرجه من طبع الماء و هو الرقة و السيلان و باالطبخ كاالاشربة و الخل نظير ما اعتصر من الشجر و الثمر فشراب الريباس معتصر من الشجر و شراب التفاح و نحوه معتصر من الثمر و ماء الباقلي نظير ما غلب عليه غيره اجزاء و المرق نظير ماء غلب عليه غيره باالطبخ و اما الماء الذى تغير بكثرة الاوراق الواقعة فيه حتى اذا رفع فى الكف يظهر فيه لون الاوراق فلا يجوز به الوضوء لانه كماء الباقلي.

توضيح المسئلة: په هغه اوبو سره اودس نه صحيح کيږي چې د ونې ياد ميوي څخه وزبيښلى شي ځکه دا اوبه مطلقي نه دي اوبه مطلقي دي ته وايې چې په وخت د اطلاق د اوبو کې دي ته ذهن ګرځي او دا مذکوري اوبه داسي نه دي بلکې مقيدى دي او په اوبو اونو مقيدو سره اودس نه کيږي. اما کومي اوبه چې د ونې څخه څڅيږي نو په هغه اودس جائز دى ځکه چې هغه په خپله بغير د علاج څخه وتلي دي، **الرواية بقصر ما الخ** يعني د فقهاؤ څخه منقول ما مقصورة موصوله ده نه ماء چې په الف ممدوده سره شي اګر که هغه هم صحيح ده او په هغه اوبو سره هم اودس نه صحيح کيږي چې طبيعت دهغي ختم شي په غلبي د بل شيئ سره په اعتبار د اجزاؤ د مخلوط سره يعني چې دوه يا زياتي برخي غير شيئ وي او يوه برخه اوبه وي نو اوبه د خپل طبيعت نه اوباسي چې طبيعت د اوبو دوه شيان دي ۱-رقة. ۲-سيلان. **او باالطبخ الخ** دا عطف دى په بغلبة غيره باندي يعني اودس جائز نه ده په هغه اوبو سره چې طبيعت دهغي ختم شوى وي په پخوالي سره **كاالاشربة الخ** لکه شراب چې جوړ کړى شي د ونو نه دا مثال دهغو دي چې د ونو څخه څه وزبيښلى شي لکه شراب د ريباس چې د ريباس د ونې څخه جوړولى شي ريباس يو قسم ونه ده چې ترشه خوړوالي ته مائله ده، **و الخل الخ** دا مثال دهغه دى چې د ميوي څخه جوړ کړى شي لکه شراب د منې او انار وغيره چې د ميوي څخه جوړ کړى شي. **و ماء الباقلي الخ** اوبه د باقولي دا مثال دهغو دى چې په اوبو باندي بل شيئ غالب شي په اعتبار د حصو سره ځکه اوبه د باقولي د باقولي د وجي ټينګ والى پيدا کوي، **و المرق الخ** دا مثال دهغه دى چې بل شيئ اوبو باندي غلبه وکړي په پوخ والي سره، هغه اوبه چې د زياتو پاڼو د غورزيدو د وجي څخه تغير په کې راشي تردي پوري چې لاس کې را اوچتې کړى شي نو د پاڼو رنګ په کې نه ښکاري نو په دي اوبو باندي

اودس نه کيږي ځکه دا د باقولي د اوبو په شان وګرځيدي. عبدالرشيد صافي عفی عنه

و لا بماء راکد وقع فيه نجس الا اذا کان عشرة اذرع في عشرة اذرع و لا ينحسر ارضه بالغرف فحکمه حکم الماء الجاری فان کانت النجاسة مرئية لا يتوضأ من موضع النجاسة بل من الجانب الاخر و ان کانت غير مرئية يتوضأ من جميع الجوانب و کذا من موضع غسالته قال محی السنة التقدير بعشر في عشر لا يرجع الی اصل شرعی يعتمد عليه.

توضيح المسئلة: او په هغه ولاړو اوبو باندي هم اودس نه کيږي چې پليتی په کې ولويږي مګر هلته کيږي چې دغه اوبه لس په لس کې وي او دومره ژور وي چې په لپه اخيستلو سره ځمکه د دي راښکاره نه شي نو حکم د دغو اوبو بيا په شان د حکمَ د ابو جاريو دی نو که چيرته په ډنډ کې پليتي ولويده نو که دغه پليتي په سترګو ښکاريده لکه لوی اودس ماتی يا وينه نو بيا په کوم ځای کې چې پليتي وليدلی نو دهغه ځای څخه به اودس نه کوی بلکې دهغه بل طرف نه به يې کوی په کوم کې چې پليتي نه ده وليدلي او که چيرته په سترګو نه ښکاريده لکه تش بول نو بيا د هر طرف نه اودس کولی شي همدارنګه په کوم ځای کې چې مستعملی اوبه غورزيږي نو هلته هم اودس جائز دی.

قال محی السنة الخ د محی السنة خپل نوم ابو محمد الحسين بن مسعود البغوي دی په حديثو کې د ده تصنيفات شرح السنة او مصابيح السنة دي او په تفسير کې معالم التنزيل يعني تفسير مدارک دی نو امام بغوي وايي چې کوم تقدير چې لس په لسو کې دی په رای سره د دي ثبوت نه شي راتلای بلکې دي لره به خامخا يو اصل شرعي وي. د کتاب الله نه او د حديثو نه صراحةً يا استنباطًا او يا به د امت اجماع وربانديي وي او کوم اندازه چې حنفيانو ذکر کړي چې لس په لسو کې به وي نو دا به نه نجس کيږي نو دي لره څه اصل شرعي نشته؟ نو شارح رحمه الله په اقول سره جواب وکړو.

اقول اصل المسئلة ان الغدير العظيم الذی لا يتحرک احد طرفيه بتحريکه الطرف الاخر اذا وقعت النجاسة في احد جوانبه جاز الوضوء من الجانب الاخر ثم قدر هذا بعشر في عشر و انما قدر به بناءً علی قوله عليه السلام من حفر بيرًا فله حولها اربعون ذراعًا فيکون لها حريمها من کل جانب عشرة ففهم من هذا انه اذا اراد اخر ان يحفر في حريمها

بيرًا يمنع منه لانه ينجذب الماءُ اليها و ينقص الماء في البير الاولى و ان اراد ان يحفر بير بالوعة يمنع ايضًا لسراية النجاسة الى البير الاولى و تنجيس مائها و لا يمنع في ماوراء الحريم و هو عشر في عشر فعلم ان الشرع اعتبر العشر في العشر في عدم سراية النجاسة حتى لو كانت النجاسة تسري يحكم بالمنع ثم المتأخرون وسّعوا الامر على الناس و جوزوا الوضوء في جميع جوانبه.

توضيح المسئلة: شارح د امام بغوي د اعتراض په جواب کې وايي چې تقدير اصل مذهب د امام ابوحنيفة رحمه الله نه ده بلکې دا راى د متأخرينو علماؤ ده د اسانتيا په خاطر خاص طور د عوامو لپاره صادره کړي اصل مذهب د امام ابوحنيفة رحمه الله سپارل دي راى د مبتلى به ته يعني کوم سړى چې په دغه مسئله کې اخته وي نو که ده ته دغه اوبه زياتي ښکاره شي نو زياتي دي او که نه نو زياتي به نه وي (فقه حنفي ج۱ ص ۷۷) بل دا چې دي تقدير ته هم اصل شته هغه داسي چې کوم لوى ډنډ چې يو طرف يې وخوزوي بل طرف يې ونه خوزيږي کله چې د دي په يو طرف کې پليتي ولويږي نو د بل طرف د دي نه اودس جائز دى بيا فقهاؤ دغه ډنډ لس په لسو کې اندازه کړ د وجي د دي قول د نبي عليه السلام نه چې چا يو کوهى ويسته نو د دي ويستونکي لپاره چار چاپيره څلويښت ګزه حريم شته نو د هر طرف نه به د دي حريم لس ګزه وي نو د دي حديث نه دا معلومه شوه که يو بل کس د دي کوهي په حريم کې بل کوهى اوباسي نو د دي نه به منع کولى شي ځکه د اول کوهي اوبه دويم کوهي ته جذب کيږي او په اول کوهي کې اوبه کميږي او که يو بل کس وغواړي چې د دي کوهي په حريم کې بالوعه يعني د ګندګى لپاره کوهى وباسي نو د دي نه به هم منع کولى شي ځکه دغه پليتي د دي کوهي نه اول کوهي ته انتقال کيږي او دهغه اوبه پليتيږي او د حريم نه اخوا يعني د لس په لسو نه اخوا به نه شي منع کولى نو معلومه شوه چې شريعت لس په لسو کې په عدم انتقال د نجاست کې معتبر کړى يعني چې د لس په لسو نه اخوا نجاست سرايت نه کوي تردي که نجاست سرايت کاوه نو بيا به هم منع کولى شي بيا متأخرينو علماؤ دي کار ته پراخي ورکړه په خلکو باندي او جواز د اودس يې ورکړو د هر طرف نه نو صورت د حوض کبير چې لس په لسو کې اندازه دى دا ده چې ډنډ د هر طرف نه لس ګزه وي نو چارچاپيره څلويښت ګزه شو او د اوبو سطح سل ګزه شوه دا اندازه د طول او عرض ده او که ډنډ مدور

وو نو بیا انه څلویښت گزه معتبر دی بحر الرائق ج ۱ ص ۱۴۰.

و لا بماء استعمل لقربة او رفع حدث اعلم ان فی الماء المستعمل اختلافات الاول فی انه بای شیئ یصیر مستعملا فعند ابی حنیفة و ابی یوسف بازالة الحدث و ایضا بنیة القربة فاذا توضأ المحدث وضوءً غیر منوی یصیر مستعملا و لو توضأ غیر المحدث وضوءً منویا یصیر مستعملًا ایضًا و عند محمد با الثانی فقط و عند الشافعي بازالة الحدث لکن ازالة الحدث لا یتحقق الا بنیة القربة عنده بناء علی اشتراط النیة فی الوضوء و الاختلاف الثانی فی انه متی یصیر مستعملا ففی الهدایة انه کما زایل العضو صار مستعملًا و الاختلاف الثالث فی حکمه فعند ابی حنیفة هو نجس نجاسة غلیظة و عند ابي یوسف هو نجس نجاسة خفیفة و عند محمد هو طاهر غیر طهور و عند مالک و الشافعي فی قوله القدیم هو طاهر مطهر و نحن نقول لو کان طاهر و مطهر لجاز فی السفر الوضوء به ثم الشرب منه و لم یقل احد بذلک.

القول الفیصل فی بیان الماء المستعمل: اودس په اوبو مستعملو سره روان نه دی په اوبو مستعملو کې اختلافات ۱-اول اختلاف په دي کې دی چې په کوم شیئ سره مستعملي گرځي؟ نو د امام ابوحنیفة په نزد په دوه امرینو سره مستعملي گرځي ۱-چې استعمال یې د وجي د ثواب نه وشي یعني نیت د ثواب په کې وشي نو دا استعمال بیا عام دی چې رفع د حدث ورسره وشي لکه اودس کول د بې اودسی د ختمولو لپاره او یا رفع د حدث ورسره نه وي لکه اودس په اودس باندي نو دغه اوبه مستعملي وگرځیدي په دي پاکوالی جائز نه دی ۲-چې استعمال یې په غرض دلري کولو د حدث سره وشي یعني نجاسة غیر حقیقیه او که د نجاست حقیقة لپاره استعمال شي لکه د استنجاء اوبه وغیره نو دا خو بیا بالاتفاق نجسي دی اوس دغه رفع د حدث سره نیت د ثواب وي لکه محدث چې نیت د ثواب هم وکړي او که نه وي لکه محدث چې صرف رفع د حدث کوي خو نیت د ثواب ونه لري د دواړو استعمالینو ترمینځ نسبت د عموم او خصوص من وجه دی ماده د اجتماع دا ده چې د رفع د حدث سره نیت د ثواب وشي او ماده د افتراق یوه دا ده چې محدث سړی رفع د حدث وکړي خو نیت د ثواب ونه کړي او بله ماده د افتراق دا ده چې غیر محدث سړی د اودس دپاسه اودس وکړي په نیت د ثواب سره او امام محمد رحمه الله وایي چې صرف په نیت د ثواب سره مستعملي

ګرځي ځکه دغه استعمال په سبب د انتقال د ګناهونو راځي یعني پدغه اوبو سره د انسان ګناهونه ختمیږي خو دا په هغه صورت کې چې نیت د ثواب وکړي **و عند الشافعي** رحمه الله. او د امام اشافعي رحمه الله په نزد باندي په لري کولو د حدث سره اوبه مستعملي ګرځي لیکن ازاله د حدث بغیر د نیت د ثواب نه نه شي راتلای ځکه دهغه په نزد نیت شرط دی په صحت د اوداسه کې.

و الاختلاف الثاني: دویم اختلاف په دي کې دی چې دا اوبه کله مستعملي ګرځي یعني علماء ټول په دي متفق دي چې تر څو اوبه په اندام باندي وي نو هغو ته حکم د مستعملو اوبو نه شي ورکولی خو اختلاف په دي کې دی چې کله مستعملي ګرځي نو په دیکې دوه قوله دي ۱-چې کله د اندام څخه جدا شي او په یو ځای کې ځای ونیسي نو مستعملي ګرځي. ۲-قول دا دی چې صرف د اندام څخه جدا شي نو مستعملي ګرځي دا قول هدائی والا غوره کړی نو شارح هم همدي قول ته ترجیح ورکړه.

والاختلاف الثالث الخ دریم اختلاف په حکم د ابو مستعملو کې دی د امام ابوحنیفة رحمه الله څخه په دي کې دري روایات راغلي ۱-دا نجسی په نجاست غلیظه سره دا روایت حسن بن زیاد کړی د امام صاحب څخه او په دي باندي عمل کړی. ۲-قول دا دی چې اوبه مستعملي نجسي دي په نجاست خفیفه سره دا روایت امام ابویوسف رحمه الله کړی او په دي باندي عمل کړی. ۳-دریم قول دا دی چې اوبه مستعملي پاکي دي دا روایت امام محمد رحمه الله کړی او په دي باندي عمل کړی او په دي فتوی هم ده، عبد الوهاب الشعراني وایې چې ما د خپل سید عليّ الخواص څخه اوریدلي چې استنباطات د امام ابوحنیفة رحمه الله ډیر دقیق دي په دي باندي صرف د کشف خاوندان د اولیاؤ کرامو څخه پوهیږي او کوم خلک چې امام ابوحنیفة رحمه الله ته د عناد په سترګه ګوري هغوی ته دامام صاحب قدر او مرتبه څه معلومیږي کله به چې یو کس اودس کولو نو د دغه اوبو د اودس سره چې څه ګناهونه به لویدل نو امام صاحب رحمة الله علیه ته به الله جل جلاله له طرفه د کشف په ذریعه معلومیدل نو په همدي خاطر د اوداسه مستعلمو اوبو ته دري حالته وګرځول. ۱-نجاست مغلظه په دي خاطر چې کیدای شي چې دغه مکلف ګناه کبیره کړي وي. ۲-په نجاسة مخففه له وجي د احتمال د دي چې مکلف به ګناه صغیره کړي وي. ۳-پاکي فی نفسه غیر مطهر غیر لره د وجي د احتمال د دي چې دي مکلف به یو مکروه یا خلاف اولی کار کړی وي. او د امام

مالک او امام شافعي رحمهما الله په قول قدیم کې دا دي چې مستعملي اوبه پاکې دي او پاکونکي هم دي مونږ د دوی په جواب کې وایو چې که اوبه مستعملي پاکې او پاکونکي وی نو په سفر کې به اودس په دي جائز وی او څښل به هم د دي څخه جائز وی لیکن د مستعملو اوبو څخه اودس کول او بیا څښل د دي نه د هیچا په نزد روا نه دي خو په قول جدید د امام شافعي رحمه الله کې دا دي چې پاکي دي او پاکونکي نه دي.

د طاهر نه مطلب دا دی چې که په بدن یا جامو مستعملي اوبه ولویږي نو هغه نه پلیتوي د مطهر نه مطلب دا دی چې پلیت شیئ پاکوي ۱۲ صافي عفی عنه.

وكل اهاب دُبغ فقد طهر الاجلد الخنزير و الأدمي اعلم ان الدباغة هي ازالة النتن و الرطوبات النجسة من الجلد فان كانت بالادوية كالقرظ و نحوه يطهر الجلد و لا يعود نجاسته ابدًا و ان كانت بالتراب او بالشمس يطهر اذا يبس ثم ان اصابه الماء هل يعود نجسًا فعن ابي حنيفة روايتان و عن ابي يوسف ان صار بالشمس بحيث لو ترك لم يفسد كان دباغًا و عن محمد جلد الميتة اذا يبس و وقع في الماء لم ينجس من غير فصل و الصحيح في نافجة المسك جواز الصلوة معها من غير فصل.

توضیح المسئلة : هره څرمن چې رنګ کړی شي هغه پاکه شوه که په هغه کې اوبه اینښودی شوی وي نو د هغه نه اودس او غسل دواړه جائز دي مګر د خنزیر او د انسان څرمن نه پاکیږي د خنزیر څرمن ځکه نه پاکیږي چې هغه نجس العین دی او د انسان څرمن څخه فایده اخیستل د وجي د کرامت نه حرام دي. د باغة دي ته وایې چې لري کول د بد بویې او د رطوبات نجسو دي د څرمن څخه بیا دغه رنګ په دوه قسمه ده ۱-دباغة حقیقي چې دغه رطوبات په دواء سره لیري شي لکه مالګه انار پوست وغیره قرظ دسلم په نامه یوه ونه ده چې ددی په پاڼو څرمن رنګ کولی شی نو دا شیان څرمن پاکوي او نجاست بیا بیرته نه واپس کیږي. ۲-دباغة حکمی چې د دي رطوبات چې لمر ته اچولو سره لیري شي یا خاوره کې ککړولو سره نو چې کله وچ شي نو پاکیږی خو که اوبه ورته ورسیږي ایا بیرته نجس کیږي او که نه؟ د امام ابوحنیفة څخه په دي کې دوه روایته دي په یو روایت کې چې بیرته نجس کیږي او په بل روایت کې دي چې نه نجس کیږي او امام ابویوسف رحمه الله وایې که په لمر سره داسي وګرځیده چې که پرینښودلی شي نو نه خرابیږي یعني بد بویې نه کوي نو دا

بيا د باغ دی او امام محمد رحمه الله وايي چې د مرداري څرمن چې كله وچه شي او په اوبو كې وغورزيږي نو دا نه پليتيږي بغير د څه فرق نه يعني كه اوبه ورته ورسيږي او كه ونه رسيږي حقيقي رنګ وركړای شي او كه حكمی رنګ وركړی شي.

نافجه: معدن ذخيره، **مسک**: د مشكو خشبوبې. نو نافجة المسک يوه وينه ده چې دهوسی په نامه غوټي كې د الله جل جلاله په حكم راجمع كيږي او ډير ښكلي خوشبويې ده نو د دي نافجة المسک سره لمونځ كيږي من غير فصل. يعني بغير د فرق د دي نه چې دا د حلال ښاروي نافجه وي او كه د غير حلال ښاروي وي اوبه ورته رسيدلي وي او كه نه. ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

و ما طهر جلده بالدبغ طهر بالذكاة وكذا لحمه و ان لم يوكل و مالا فلا اى مالم يطهر جلده بالدبغ لا يطهر بالزكاة و المراد بالذكاة ان يذبح المسلم او الكتابي من غير ان يترک التسمية عامدًا و شعر الميتة و عظمها و عصبها و حافرها و قرنها و شعر الانسان و عظمه طاهر و يجوز صلوة من اعاد سنّه الى فمه و ان جاوز قدر الدرهم افرد هذه المسئلة بالذكر مع انها فُهِمت مما مر لان السن عظم و قد ذكر ان العظم طاهر لمكان الاختلاف فيها فانه اذا كان اكثر من قدر الدرهم لا يجوز الصلوة به عند محمد رحمه الله

توضيح المسئلة: د كوم شيئ څرمن چې په رنګ پاكيږي نو دهغي څرمن په ذبح سره هم پاكيږي همدارنګه غوښه د دي هم په ذبح سره پاكيږي اګر چې غوښه د دي نه شي خوړلی ځكه چې په رنګ سره هغه رطوبات نجسه چې كوم پوستكي ته رسيدلی وي ليري كيږي او په ذبح سره رطوبات نجسه د غوښې او پوستكي څخه منع كوي نو ذبح د دباغة نه زيات عمل كوي او د كوم شيئ څرمن چې په رنګ سره نه پاكيږي نو دهغه څرمن په ذبح سره هم نه پاكيږي او د ذبح نه مراد هغه ده چې شريعت معتبره كړي وي چې هغه د مسلمان يا اهل كتاب ذبحه ده خو چې قصداً بسم الله پري نږدي او كه مسلمان يا اهل كتاب قصداً بسم الله پريښوده نو د ده ذبح بيا صحيح نه ده نه پري څرمن پاكيږي او نه پري غوښه پاكيږي. **شعر الميتة الخ**. ويښتان د مرداری او وړی د دي پاكي دي په هغه صورت كې چې په قينچي غوڅي شي او يا كَلِيْ شي او كه د بيخ نه يې راويستلي نو بيا نجس دي د فقه حنفي ج ۱

صفحه ۷۸. **عظمها** هډوکي د مرداري و **عصبها** پلي د دي و **حافرها** نوکان د دي و **قرنها**: ښکر ددی هم پاک دی. او د انسان ویښته او هډوکي هم پاک دي که یوه ښځه د بلی ښځي ویښتان ځان پوري پیوسته کړي او لمونځ وکړي نو لمونځ یې صحیح دی. **و یجوز الخ** یعني که د چا ټول غاښونه یا بعض ولویده او بیرته یې خپل ځای ته واپس کړه نو لمونځ د ده جائز ده اګر چې دغه واپس شوي د اندازي د درهم نه زیات وي دا په هغه صورت کې چې وینه ونه کړي. **افرد هذه المسئالة الخ** دا دفع د اعتراض ده چې د غاښ د واپس کولو سره مسئله د جواز د لمونځ ته ضرورت نه وو ځکه دا مسئله د مخکې نه معلومیده چې هډوکی پاک دی ځکه غاښ هم هډوکی دی نو شارح جواب وکړو چې دا مسئله یې ځکه ځانته ذکر کړه چې په دي کې اختلاف وو منشأ د اختلاف دا ده چې غاښ آیا هډوکی دی او که پله؟ که هډوکی شي نو آیا حس په کې شته او که نه؟ او که پله شي نو آیا نجسه ده او که نه؟ نو صحیح خبره دا ده چې غاښ هډوکي دي خو حس نه لري نو دغه غاښ چې کله بیرته واپس کړي او د درهم د اندازي څخه زیات وو نو د امام محمد رحمه الله په نزد لمونځ ورسره نه کیږي.

فروع: که یو انسان خپل غاښونه لیري کړي او سپي غاښونه کیږدي نو لمونځ یې کیږي او که د انسان غاښونه کیږدي نو لمونځ یې نه کیږي ځکه چې د سپي غاښونه د سپي ذبح سره پاکیږي او د انسان غاښونه په یوصورت کې هم نه پاکیږي (بنایه شرح هدایه).

فصل بير فيها نجس او مات فيها حيوان و انتفخ او تفسخ او مات آدمي او شاة او كلب ينزح كل مائها ان امكن و الا فقدر ما فيها الاصح ان يوخذ بقول رجلين لهما بصارة في الماء و محمد رحمه الله **قدّر بمئتي دلو الى ثلثمائة و في نحو حمامة او دجاجة ماتت فيها اربعون الى ستين و في نحو فارة او عصفورة عشرون الى ثلثين و المعتبر الدلو الوسط و ما جاوزه احتُسب به و يتنجس البير من وقت الوقوع ان علم ذلك و الا فمنذ يوم و ليلة ان لم ينتفخ و منذ ثلثة ايام و لياليها ان انتفخ و قالا منذ وجد.**

توضيح المسئلة: فصل په لغت کې جدا والي ته وايي او په اصطلاح کې **الحاجز بين الحكمين المتغائرين**. هر کله چې د کوهي مسئله د مخکې مسئلي څخه جدا وه نو مصنف

رحمه الله هم د دي جدا والي په فصل سره راوست په کوهي کې نجاست ولويده غليظه وي که خفيفه وي لګ وي او که ډير وي يا په کې هغه حيوان مړ شو چې مائی المولد نه وي وپړسيده يا ورژيده او يا په کوهي کې انسان مړ شو يا پسه مړ شو يا سپی مړ شو نو ټولي اوبه به ويستلی شي که چيرته يې امکان وو او که امکان د ټولو اوبو د ويستلو نه وو مثلاً کوهي چينه دار وو نو بيا به هغه اندازه اوبه اوباسي چې په دي کوهي کې وی د دي دويستلو نوري طريقي هم شته خو صحيح طريقه يې دا ده چې دوه کسان چې هغوی لره پوهه او ذکاوت وي چې د اوبو اندازه معلومولی شي نو چې دوی د څومره ابو فيصله پري وکړه هم هغه اندازه به ويستلی شي او امام محمد رحمه الله دغه اوبه اندازه وکړي په دوه سوه بوکو سره تر دري سو بوکو پوري دوه سوه بوکي به وجوبًا اوباسي او د دي نه زياتي تر دري سوو پوري استحبابي دي او که کوتره يا چرګه يا د دي په شان بل حيوان په کوهي کې مړ شي او ونه پړسيږي نو د دي کوهي څخه به څلويښت بوکي وجوبًا اوباسي او شپيته به استحبابًا وباسي او که مږه يا چنچړه په کوهي کې مرداره شي نو شل بوکي به وجوبًا اوباسي او ديرش به استحبابًا اوباسي که د کوهي خپله بوکه وه نو په همدي به يې وباسي او که د دي خپله بوکه نه وه نو بيا به درميانه بوکه معتبره وي او که په لويه بوکه باندي يې ويستلي نو هغه به حساب کړی شي مثلاً په يوه لويه بوکه کې دوه درميانه بوکي اوبه ځائيدلي نو که په درميانه شل بوکي اوبه ايستلي نو په لويه بوکه به لس بوکي وباسي **وتنجس الخ** او حکم په نجاست د کوهي سره به د وخت د غورزيدو د پليتۍ نه کولی شي که چيرته ورته وخت د وقوع د نجاست معلوم وو يعني که د دغه کوهي د اوبو څخه اودس شوی وو نو د وخت د وقوع د نجاست نه به لمونځ راګرځوي او که جامي يا لوښی يې وينځلی وو نو هغه به هم د وخت د وقوع څخه حسابيږي يعني وبه وينځلی شي او که وخت د وقوع د نجاست معلوم نه وو نو که پړسيدلی نه وو نو د يوي شپي او ورځي لمونځ به راوګرځوي او که پړسيدلی وو نو د دري شپو او ورځو لمونځونه به راوګرځوي او لوښی او جامي به ووينځلی شي او صاحبين وايې چې د کوم وخت څخه ومندلی شي نو د همغه وخت څخه که لمونځ يې کړی وو. نو لمونځ به راوګرځوي او جامي وغيره به ووينځي خو امام صباغي په هغه شيانو کې چې تعلق به يې د لمونځ سره وو د امام ابوحنيفه په قول فتوٰی ورکوله او د لمونځ نه ماسوا لکه د جامو په وينځلو کې د بدن او لوښو په وينځلو کې به يې فتوٰی د صاحبينو په قول ورکولو ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

و سور الادمي و الفرس و كل ما يوكل لحمه طاهر و الكلب و الخنزير و سباع البهائم نجس و الهر و الدجاجة المخلاة و سباع الطير و سواكن البيوت مكروه و الحمار و البغل مشكوك و يتوضأ به و يتيمم اي يتوضأ بالمشكوك ثم يتيمم الا في المكروه يتوضأ به فقط ان عدم غيره و العرق معتبر بالسور لان السور مخلوط باللعاب و حكم اللعاب و العرق واحد لان كل منهما متولد من اللحم.

توضيح المسئلة: سور هغه باقي اوبه يا طعام چې د انسان څخه پاتي شي په لوښي کې چې پس خورده ورته ويلى شي نو پس خورده د انسان پاکه ده مسلمان وي که کافر نر وي او که ښځه، ماشوم وي که غټ ، پاک وي او که جنب وي مګر که خوله يې پليته وي نو بيا يې پس خورده پليته ده ليکن که څه وخت تير شي او لاړي تيري کړي نو بيا يې هم پس خورده پاکيږي، همدارنګه پس خورده د اس هم پاکه ده ځکه چې د اس د غوښي کراهت د وجي د شرافت نه دى نو د غوښي حرمت په پس خورده د دي کې څه اثر نه کوي لکه د انسان غوښه حرامه ده او پس خورده يې پاکه ده. همدارنګه پس خورده د هر هغه ځاروي چې غوښه يې خوړلى شي پاکه ده، ځکه پس خورده مخلوطه وي لاړو سره او لاړي د دي شيانو پاکې وي نو پس خورده يې هم پاکه شوه او پس خورده د سپي او د خنزير او د ځيرونکو ځناورو لکه پړانګ، زمري، ليوه وغيره نجسه ده ځکه پس خورده مخلوطه وي د لاړو سره او لاړي د دي ځناورو پليتي دي نو پس خورده يې هم پليته شوه، **و الهرة الخ** او پس خورده د پيشو مکروه ده ځکه دا د نجاست نه ځان نه ساتي اما که په ځاى پاتې وه او په کورو ونه ګرځيده نو بيا کراهت نشته د وجي د نص د شارع عليه السلام نه چې **انما من الطوفين و الطوافات عليكم** . **و الدجاجة المخلاة الخ** او پس خورده دهغي چرګى هم مکروه ده چې کوڅه ګشته وي ځکه دا هم د ګندګى څخه ځان نه ساتي اما که په قفس کې بنده وه او په ګنده ګۍ کې خوله نه وهله نو بيا يې پس خورده مکروه نه ده . **و سباع الطير الخ** د ځيرونکو مرغانو نو لکه باز، باښه، تپوس وغيره پس خورده هم مکروه ده ځکه د دوى ژوند د مردارو سره وي و **سواكن البيوت الخ** د دي نه مراد هغه حشرات او حيوانات دي چې په کورونو کې اوسيږي لکه موږک، مار، لړم. کريوړى، د دي پس خورده مکروه ده ځکه چې د نجاساتو څخه خالي

نه وي. و الحمار الخ او پس خورده د خر او قچر مشکوکه ده یعني بعضي علماء وايي چې شک د دي په طهارت کې ده او بعضي علماء وايي چې شک د دي په طهوریت کې ده یعني چې پاکونکي ده او که نه خو صحیح خبره دا ده چې شک د دي په طهوریت کې ده سبب يې دا دی چې د ضرورت لپاره یو اثر په سقوط د نجاست کې وي لکه په پیشو کې چې موجود وو همدغه ضرورت په خره او قچر کې هم شته ځکه خره او قچر په کورنو کې تړلی شي او په لوښو کې اوبه څښي نو که ضرورت نه وايي نو بیا به د دي په پس خورده باندي د نجاست حکم کیده لکه پس خورده د سباع البهائم او که ضرورت ته يې ګورو بیا به په پس خوردي د دي باندي حکم د طهارت او د طهوریت کوي نو ضرورت د خره او قچر چې من وجه دون وجه راغی نو خبره د دوی شکوک پاتي شو. په دي مقام کې بعضي علماؤ نور وجوهات هم ويلي دي. یتوضأ به الخ که چیرته نوري اوبه نوي صرف مشکوکي اوبه وي نو په مشکوکو اوبو به اودس وکړي او تیمم به هم ووهي. او همدارنګه که نوري اوبه نه وي صرف مکروه اوبه وي نو بیا به فقط اوذس وکړي او تیمم ورباندي لازم نه دی. ۱۲ صافي عفی عنه.

و العرق معتبر با السور لان السور مخلوط باللعاب و حکم اللعاب و العرق واحد لان کلا منهما متولد من اللحم. فان قيل يجب ان لا يكون بين سور ما كول اللحم و غير ما كول اللحم فرق لانه ان اعتبر اللحم فلحم كل واحد منهما طاهر الا ترى ان غير ما كول اللحم اذا لم يكن نجس العين اذا ذُكّي يكون لحمه طاهرًا و ان اعتبر ان لحمه مخلوط بالدم فما كول اللحم وغيره فى ذلك سواء قلنا الحرمة اذا لم تكن للكرامة فانها آية النجاسة لكن فيه شبهة ان النجاسة لاختلاط الدم باللحم اذ لولا ذلك بل يكون نجاسة لذاته لكان نجس العين و ليس كذلك فغير ما كول اللحم اذا كان حيًا فلعابة متولد من اللحم الحرام المخلوط با الدم فيكونجسًا لاجتماع لامرين و هما الحرمة و الاختلاط با الدم اما فى ما كول اللحم فلم يوجد الا احدهما و هو الاختلاط با الدم فلم يوجب نجاسة السور لان هذه العلة بانفرادها ضعيفة اذا الدم المستقر فى موضعه لم يُعط له حكم النجاسة فى الحى.

توضيح المسئلة: عرق يعني خَوَلَه پاکه ده او که نا پاکه ده؟ جواب خَوَلَه به قياس کولی شي به پس خورده باندي يعني د کوم شيئ پس خورده چې پاکه وه نو دهغي خوله به هم پاکه وي لکه انسان، اس وغيره او د کوم شيئ پس خورده چې پليته وي نو دهغي خوله به هم پليته وي او د کوم شيئ پس خورده چې مکروه وي نو دهغي خوله به هم مکروه وي او د کوم شيئ پس خورده چې ناپاکه ده او نه نجسه ده او نه مکروه ده بلکه مشکوکه ده لکه پس خورده د خره او د قچر نو دهغي به حکم څه وي؟ نو حلوائي صاحب وايي چې د دي خوله نجسه ده. خو د ضرورت د وجي نا په جامو او بدن کې معاف گرځولی شوی وي، خو صحيح خبره دا ده چې دا پاکه ده **ولا ينتقض بسور الحمار فانه مشکوک وعرقه طاهر لان الشک في طهوريته لا في طهارته** (نهايه ج۱ ص ۹۴) يعني دا قاعده نه ماتيږي په پس خوردي د خره باندي ځکه پس خورده د خره مشکوکه ده او خَوَلَه يې پاکه ده ځکه شک د دي په طهوريت کې دی يعني چې پاکونکی ده او که نه؟ نه په طهارت کې **ولانه خص بر کوبه عليه السلام معرورياً والحر حر الحجاز والثقل ثقل النبوة فلا بدان يعرق الحمار الخ.** يعني نبي عليه السلام په بربنډ خره باندي سور شوی او گرمي گرمي د حجاز وه او درونډوالی درونډوالی د نبوت وو نو خامخا به خر خوله کيده (کفايه ج ۱ ص ۹۴) نو دي نه معلومه شوه چې د خره خَوَلَه پاکه ده. **لان السور الخ** د خره خَوَلَه ځکه قياس کولی نه شي په پس خورده د خره باندي ځکه چې پس خورده مخلوطه د لاړو سره وي او حکم د لاړو او د خَوَلِې يو دی ځکه لاړي او خوله دواړه د غوښي څخه پيدا کيږي **فان قيل الخ** دا يو اعتراض دی په ما قبل باندي چې غوښه او لاړي دواړه د غوښي نه پيدا کيږي خلاصه د اعتراض دا ده چې ته وايي چې حکم د پس خوردي مأخوذ دی د لاړو نه او لاړي د غوښي نه پيدا کيږي نو په کار ده چې د ماکول اللحم لکه پسه وغيره د پس خوردي او د غير ماکول اللحم لکه سپی وغيره د پس خوردي ترمينځ فرق رانه شي چې د ماکول اللحم پس خورده مثلاً پاکه شي او د غير ماکول پس خورده پليته شي ځکه که غوښي ته صرف اعتبار ورکوي نو غوښه د ماکول اللحم او غير ماکول اللحم دواړو پاکه ده ځکه چې کله غير ماکول اللحم شيئ نجس العين نه وي لکه خنزير او ذبح شي لکه سپی، پرانګ وغيره نو غوښه يې پاکيږي او که چيرته هغي غوښي ته اعتبار ورکوي چې د دم مسفوح سره مخلوط وي نو بيا د ماکول اللحم او غير ماکول دواړو غوښه نجسه ده.

قلنا الخ شارح جواب كوي چې حرمت كله د وجې د كرامت نه نه وي نو دا علامه د نجاست ده ليكن په دې حرمت كې شبه د دې ده چې دغه نجاست به د وجې د اختلاط د دم نه وي د غوښې سره ځكه كه دغه نجاست د وجې د اختلاط د دم نه نه شي بلكه لذاته شي نو بيا خو دا نجس العين شو او حالانكه دا نجس العين نه دى. **فغير ماكول اللحم الخ** نو حاصل د جواب دا شو چې غير ماكول اللحم كله ژوندى وي نو لاړې د دې بيا دهغې حرامې غوښې څخه پيدا كيږي چې د دم سره مخلوط وي نو دغه لاړې د دوه وجهو نه پليتې شوې ۱-د وجې د حرمت د لحم نه. ۲-د وجې د اختلاط د دم نه نو په ماكول اللحم كې صرف يو وجه راځي چې هغه اختلاط د دم دې او حرمت د غوښې په كې نشته نو د يواځې د اختلاط د دم د وجې نه نجاست د سور نه راځي ځكه دغه علت چې هغه اختلاط د دم دى يواځې بغير د حرمت د غوښې نه ضعيف دى ځكه په ژوندي څاروي كې چې كله وينه په خپل ځاى وي نو هغې ته حكم د نجاست نه شي وركولى.

و اذا لم يكن حياً فان لم يكن مذكىٰ كان نجسًا سواء كان مأكول اللحم او غيره لانه صار با الموت حرامًا فا الحرمت موجودة مع اختلاط الدم فيكون نجسًا و ان كان مذكىٰ كان طاهرًا اما فى ماكول اللحم فلانه لم يوجد الحرمة و لا اختلاط الدم و امّا فى غير ماكول فلانه لم يوجد الاختلاط. و الحرمة المجردة غير كافية فى النجاسة على ما مر انها تثبت باجتماع الامرين.

وضاحت: او كه څاروى ژوندى نه وو نو كه چيرته په ذبح شرعي باندې ذبح شوى نه وو نو غوښه د دې پليته ده برابره خبره ده چې ماكول اللحم وي او كه غير ماكول اللحم وي ځكه دا په مرګ سره حرام وګرځيده ولې چې دواړه علته د نجاست په كې موجود دي چې يو حرمت دى او بل اختلاط د دم دى نو نجس شو او كه په شرعي ذبح سره ذبح شوى وو نو بيا پاك دى ځكه ماكول اللحم كې بيا نه حرمت شته او نه اختلاط د دم شته او په غير ماكول اللحم كې خو اختلاط د دم نشته ليكن صرف حرمت د لحم دى او يواځې حرمت د لحم بغير د اختلاط د دم نه كافي نه دى په نجاست كې ځكه مخكې تير شو چې نجاست په اجتماع د امرينو سره راځي چې حرمت د لحم او اختلاط د دم دى او دلته صرف يواځې حرمت د لحم دى نه اختلاط د دم. ۱۲.

و ان علم الماء الا نبيذ التمر قال ابو حنيفة رحمه الله با الوضوء به فقط و ابو يوسف با التيمم

فحسب و محمد رحمه الله بهما و الخلاف في نبيذ هو حلو رقيق يسل كالماء اما اذا اشتد و صار مكسرًا لا يتوضأ به اجماعًا

ترجمة العبارة مع الوضاحة: که مطلق اوبه نه وي مګر صرف نبيذ التمر وي، نبيذ التمر دي ته وايي چې په اوبو کې خرما واچولی شي او خوند يې په اوبو کې ووځي، نو په دي اوبو اودس جائز دی او که نه چې ماء مطلق نه وي؟ نو امام ابوحنيفه رحمه الله وايې چې په دي اودس جائز دی او تيمم ته ضرورت نشته، ځکه نبي عليه السلام په نبيذ التمر باندي اودس وکړ او ويې فرمايل چې **تمرة طيبة و ماءه طهور اخرجه احمد و ابوداؤد وغيرهما** يعني چې خرما خوندوره ده او اوبه يې هم پاکې دي، او امام ابويوسف وايې چې اودس پرې جائز نه دی صرف تيمم به وکړي، دا روايت هم د امام ابوحنيفة څخه دی او دا قياس دی ځکه نبيذ التمر ماء مطلق نه دي بلکې ماء مقيدي دي او د امام ابويوسف په نزد چې کله ماء مطلق نه وي نو تيمم به کوي او په نبيذ التمر کې به هم تيمم کوي او امام محمد رحمه الله وايې چې اودس او تيمم به دواړه کوي دا هم د امام ابوحنيفة څخه يو روايت دی او دا په احتياط بناء دی، د امام ابوحنيفة او د صاحبينو ترمينځ دا اختلاف په هغه نبيذ کې دی چې خوږ وي او نرم وي چې بهيږي او که چيرته سخت شو او نيشه اور شو نو بيا با الاتفاق پرې اودس جائز نه دی ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه کتبه بعد الظهر.

باب التيمم

تيمم په لغت کې قصد ته وايې او په اصطلاح کې قصد کول دي پاکې خاوري ته لپاره د پاکوالي په وخت د عدم قدرت کې په استعمال د اوبو باندي، که د تيمم نه معنی لغوی مراد شي نو بيا با الذات متعدي کيږي او که معنی شرعي تري مراد شي نو بيا په واسطه د باء سره متعدي کيږي او تيمم د خصوصيتونو د دي امت نه دی لکه حديث مبارک کې راځي چې و جُعِلَت لي الارض طيبة طهوراً الخ او الله پاک ګرځولي زما لپاره ځمکه پاکه پاکونکي او تيمم په غزوة المريسمع کې روا شوی په کومه غزوه کې چې د ام المؤمنين حضرت عائشي مطهري څخه غاړه کی ورکه شوي وه او دهغي په وجه خلک را حصار شول بالاخرة الله جل جلاله د تيمم حکم راوليږلو . (منهاج السنن. فقه حنفي)

هو لمحدث و جنب و حائض و نفساء لم يقدر وا على الماء اى ماء يكفي لطهارته حتى اذا كان

للجنب ماءٌ يكفي الوضوء لا للغسل يتيمم ولا يجب عليه التوضي عندنا خلافاً للشافعي اما اذا كان مع الجنابة حدث يوجب الوضوء يجب عليه الوضوء فالتيمم للجنابة بالاتفاق و اما اذا كان للمحدث ماءٌ يكفي لغسل بعض اعضائه فالخلاف ثابت ايضاً

عزم المصمم في بيان التيمم : هو لمحدث الخ مراد د دي نه هغه حدث اصغر دی چې واجبونکی د اودس دی نو تیمم د بې اودسه لپاره او د جنب لپاره دی او د حایضې لپاره او د نفاس والا لپاره دی په داسې حالت کې چې په استعمال د اوبو باندې قادر نه وي لکه په یو حدیث مبارک کې عمران بن حصین الخزاعي روایت کوي چې نبي علیه السلام یو سړی ولیدو چې یو طرف ته ولاړ وو چې د قوم سره لمونځ ونه کړو نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل چې ولې دي د قوم سره لمونځ ونه کړو؟ نو هغه وویل چې ای د الله جل جلاله رسوله ماته جنابت رسیدلی وو او اوبه نه وي نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل چې خاوره په ځان لازم کړه دا ستا لپاره کافي ده. «صحیح البخاري ج۱ ص ۹۲» نو د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې حدث اصغر او جنابت او حیض او نفاس په تیمم کې یو برابر دي «فقه حنفی ج۱ ص ۸۹» **ای علی ماء الخ** په دې تفسیر کې اشاره دې ته ده چې په علی الماء کې لام عهدي دی او مراد په دې سره هغه اوبه مطلق دي چې د اودس یا د غسل لپاره کافي وي تردې پورې که چیرته د یو جنب سړي سره دومره اوبه وي چې صرف د اودس لپاره کافي کیدلی او د غسل لپاره نه کافي کیدې نو دا سړی به تیمم د غسل لپاره ووهي او زمونږ په نزد اودس ورباندې نشته ځکه له ده سره اګر چې اوبه شته لیکن دومره اوبه نه دي چې د طهارت لپاره کافي شي او په وخت د نشت والي د کافي اوبو کې تیمم کول لازم دي اما امام شافعي رحمه الله وایې چې ده باندې اودس واجب دی چې اول به اودس کوي بیا به د غسل لپاره تیمم وهي.

و اما اذا كان الخ او که د جنابت لپاره تیمم ووهي او بیا داسې حدث ورته پیښ شي چې اودس ماته وي او د اودس لپاره کافي اوبه وي نو بیا ورباندې بالاتفاق اودس کول واجب دي ځکه مخکښې تیمم د جنابت لپاره وو او په هغه سره حدث طاري نه ختمیږي. او که د محدث لپاره دومره اوبه وي چې د بعضې اندامونو د وینځلو لپاره کافي کیدې نو دغه اختلاف بیا هم شته.

یعنې زمونږ او د امام شافعي رحمه الله ترمینځ نو د امام شافعي په نزد واجب دی په دې

باندي چې بعض اندامونه وينځي او بيا تيمم وکړي او زمونږ په نزد د بعض اندامونو وينځلو ته څه ضرورت نشته ځکه څه فايده نه لري بلکې صرف تيمم دي وکړي ۱۲ صافي عفي عنه.

لبعده ميلًا الميل ثُلُث الفرسخ و قيل ثلثة الاف ذراع او خمسمائة الى اربعة الاف و ما ذكر ظاهر الرواية و فى رواية الحسن الميل انما يكون معتدًا اذا كان فى طرف غير قدّامه حتى يصير ميلين ذهابًا و مجيئًا فاما اذا كان فى قدامه فيعتبر ان يكون ميلين او لمرض لا يقدر معه على استعمال الماء او ان استعمل الماء اشتد مرضه حتى لا يشترط خوف التلف خلافًا للشافعي اذ ضرر اشتداد المرض فوق ضرر زيادة الثمن و هو يبيح التيمم او بردٍ اى ان استعمل الماء يضره.

قول الراسخ و القيل فى بيان الفرسخ و الميل: بعده متعلق دى تر لم يقدروا پوري يعني عدم قدرت په اوبو باندي د وجي د ليري والي د اوبو او يا د وحى دلرى والى محدث وغيره د اوبو نه په اندازه د يو ميل سره، ميل د فرسخ دريمه حصه ده فرسخ په لغت کې پراخوالي ته وايې او يو فرسخ دري ميله راځي چې دولس زره قدمونه کيږي نو يو ميل د فرسخ دريمه حصه شو د ميل په مقدار کې اختلاف دى ۱-نو مشهور قول دا دى چې يو ميل څلور زره ۴۰۰۰ ګزه کيږي او هرګز ۲۴ څلورويشت ګوتي کيږي او هره ګوته شپږ اوربشي کيږي چې د يو اوربشي خيټه د بلي د شا سره يو ځاى شي او هر اوربشه شپږ ويښته راځي د اقول د متأخرينو علماؤو حساب سره موافق دي. ۲-دويم قول په راى د قدماؤ دى چې ميل دري زره ګزه راځي. ۳-چې يو ميل شپږ زره ګزه دي او دا قول غير معتمد دي. ۴-قول هغه دى چې شارح ورته په قيل سره اشاره کړي چې دري زره ګزه او پنځه سوه نه تر څلور زره پوري دى.

و ما ذكر الخ کوم اندازه چې د ليري والي په ميل سره ذکر شوى په ظاهر الرواية کې او په روايت د حسن بن زياد کې امام د ابوحنيفة څخه دغه اندازه به هلته معتبره وي چې اوبه د ده مخکې طرف ته نه وي يعنې چې شا طرف ته وي يا ښي طرف ته يا چپ طرف ته وي چې تګ او راتګ دوه ميله شي او که اوبه هغه خوا ته وي چې کوم طرف ته دي روان دى نو بيا به د يو طرف نه دوه ميله مسافه معتبره وي چې دواړه خواوى څلور ميله شي.

او لمرض الخ دا عطف دى په لبعده ميلا باندي او متعلق دى تر لم يقدروا پوري يعني داسي

مرض ورباندي وي چې د دي مرض سره په استعمال د اوبو باندي قادر نه وي او یا داسي که اوبه استعمال کړي نو مرض به یې زیات شي نو ده لره تیمم جائز دی او دا په کې شرط نه دی چې ویره د هلاکت د نفس یا د یو اندام وي ځکه که یو ځای کې په بیع اوبه وي او د اوبو قیمت ګران شو نو تیمم جائز دی ځکه ضرر د زیادت د ثمن راغی نو ضرر د زیادت د مرض خو زیات دی د ضرر د زیادت ثمن نه چې په زیادت د ثمن سره تیمم مباح کیده نو په زیادت د مرض سره خو په طریقه اولی سره تیمم مباح دی خو د امام شافعي په قول قدیم کې دا شرط دی چې که ویره د هلاکت د نفس یا د یو اندام وه نو تیمم به مباح وي او که نه وه نو تیمم به مباح نه وي قول جدید امام شافعي زمونږ سره موافق دی.

او برد الخ او یا د یخنی د وجي یعني دومره یخني وه که اوبه استعمال کړي نو ضرر به ورته وکړي نو تیمم ورته مبارح دی ۱۲ صافي عفی عنه.

او عدوّ او عطش ای ان استعمل الماء خاف العطش او ابیح الماء للشرب حتی اذا وجد المسافر ماء فی حب معدًّا للشرب جاز له التیمم الا اذا کان کثیرًا فیستدل علی انه للشرب و الوضوء فاما الماء المعدّ للوضوء فانه یجوز ان یشرب منه و عند الامام الفضلی عکس هذا فلا یجوز التیمم او عدم اٰلة کالدلو و نحوها.

تشریح: یا ویره د دښمن وه یعني که اوبو پسي لاړ شي دښمن به یې وولي او یا به ئی ځناور وخوري نو تیمم ورته رواء دی او یا ویره د تندي وه یعني که اوبه استعمالي کړي نو ویره د تندي وه نو تیمم ورته مباح دی او یا اوبه صرف د څښلو لپاره چا ایښي وي تردي که یو مسافر په یو چاټي کې اوبه پیدا کړي خو هغه اوبه صرف د څښلو لپاره ایښودل شوي وي نو بیا هم تیمم روا دی او که اوبه زیاتي ایښودل شوي وي او د علاماتو نه معلومیده چې د اودس او د څښکلو لپاره ایښودل شوي نو بیا اودس دي وکړي او تیمم ورته روا نه دی ځکه دی په اوبو قادره شو او که اوبه صرف د اودس لپاره ایښودلی شوي وي نو د دي اوبو نه څښل هم جائز دي او ابوبکر محمد بن الفضل چې مشهور په امام فضلي دی د ماقبل مسئلي عکس وایي یعني که د څښلو لپاره اوبه ایښودلی شوي وی نو اودس کول د دي اوبو نه جائز دي او که صرف د اودس لپاره ایښودل شوي وي نو څښل تري جائز نه دي نو که چیرته مسافر هغه اوبه ومونډلي چې د څښلو لپاره ایښودلی شوي وي نو د امام الفضلي په نزد ده ته تیمم

جائز نه دی بلکې اودس به کوي او عدم الة الخ یا اوبه وي خو آله نه وه لکه بوقه رسۍ نو بیا به هم تیمم کوي.

او خوف فوت صلوة العید فی الابتداء ای اذا خاف فوت صلوة جاز له ان تیمم و یشرع فیها هذا بالاتفاق و بعد الشروع متوضأً و الحدث للبناء ای اذا شرع فی صلوة العید متوضأً ثم سبقه الحدث و یخاف انه ان توضأ یفوته الصلوة جاز له ان یتیمم للبناء و هذا عند ابی حنیفة خلافا لهما و ان شرع با التیمم و سبقه الحدث جاز له التیمم للبناء با الاتفاق فقوله هو لمحدث مبتدأ و ضربة خبره و لم یقدروا صفة لمحدث و ما بعده کا الجنب و الحائض وغیرهما و قوله لبعده میلًا مع المعطوف متعلق بقوله لم یقدروا و فی الابتداء متعلق بالمبتدأ تقدیره التیمم لخوف فوت صلوة العید فی الابتداء و بعد الشروع متوضأً ضربة او صلوة الجنازة لغیر الولی لا لفوت الجمعة و الوقتیة لان فوتهما الی خلف و هو الظهر و القضاء.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: د بعضي لغاتو ترکیب، **هو محدث** مبتدأ و **ضربة** خبر د دي، **لم یقدروا**: صفت دی لپاره د محدث سره د نورو معطوفاتو لکه جنب او حائض وغیره شو، **لبعده میلًا**: سره د معطوفاتو نه تعلق نیسي تر لم یقدروا پوري او فی الابتداء متعلق دی تر مبتدأ پوري چې هو دی او راجع دی تیمم ته نو تقدیر د عبارت داسي راځي **التیمم لخوف فوت صلوة العید فی الابتداء و بعد الشروع متوضأً ضربة**. **او خوف الخ**: یعني که یو سړی ویریده که زه اودس کوم نو د اختر لمونځ راځخه فوت کیږي نو ده ته جائز دي چې تیمم ووهي او په اختر لمونځ کې شروع وکړي اګر چې روغ هم وي او اوبه هم موجودي وي ځکه د اختر لمونځ خلف نه لري ځکه قضاء نه لري نو قدرت په اوبو باندي داسي دی لکه عدم قدرت په اوبو باندي. **هذا با الاتفاق** د اختر لمونځ لپاره تیمم په هغه صورت کې چې ویره د وفت کیدو دی جواز په اتفاق د ائمو ثلاثو یعني د امام ابوحنیفه او د امام ابویوسف او امام محمد په نزد دی اما د امام شافعي په نزد تیمم جائز نه دی نه د اختر لمونځ لپاره او نه د جمعي د لمونځ لپاره ځکه د ده په نزد اعاده د دوارو جائز ده نو فوات **لا الی خلف** رانغی، و

بعد الشروع الخ يعني كه په اختر لمونځ كې شروع وكړه په اوداسه سره، **و الحدث الخ** اى **بعد الحدث** يعني بيا ورته د اختر لمونځ كې بې اودسي پيښه شوه او دى ويريده كه اودس وكړم نو د اختر لمونځ به راځخه فوت شي نو ده ته جائز دى چې د بنا لپاره تيمم ووهي دا د امام ابوحنيفة په نزد باندي ځكه د اختر ورځ د ازدحام او ګڼه ګوڼي ورځ وي نو كه اودس پسي لاړ شي نو امكان شته چې يو عارض پيدا شي او لمونځ يې فاسد كړي كله چې ځان ته لمونځ كوي نو ويره د فوت كيدو په حق د ده كې پاتي ده نو تيمم ورته د بناء لپاره روا دى **خلافاً لهما الخ** د صاحبينو په نزد كله چې د اختر د لمونځ شروع په اودس وشي او بيا بې اودسه شي نو د بنا لپاره ورته تيمم جائز نه دى ځكه دا لاحق وګرځيده او لا حق د امام د فراغت نه وروسته لمونځ اداء كوي نو ويره د فوت كيدو نوى نو دا اودس هم په حكم دهغه لمونځ كې دى چې په جمع سره اداء كيږي **و ان شرع الخ** او كه د اختر په لمونځ كې يې شروع په تيمم سره وكړه او بيا ورته بې اودسي پيښه شوه نو ده ته د بناء لپاره بالاتفاق تيمم جائز دى ځكه كه مونږ په ده اودس واجب كړو نو دى په لمونځ كى موندونكي د اوبو ګرځي نو لمونځ به يې فاسد شي ځكه تيمم كوونكى كه د لمونځ په مينځ كې اوبه پيدا كړي نو د لمونځ اعاده ورباندي له سره واجب ده نو لهذا ده ته تيمم د بناء لپاره بالاتفاق جائز دى، او **صلوة الجنازة الخ** يعني كه جنازه حاضره شوه او دا ويريده كه اودس كوم نو د جنازي لمونځ به راځخه فوت شي نو ده ته جائز دى چې تيمم ووهي ځكه د جنازي د لمونځ خليفه نشته نو عجز ثابت شو. اما د ولي لپاره تيمم جائز نه دى ځكه هغه د فوت كيدو څخه نه ويريږي او مراد د ولي څخه هغه څوک دى چې ولايت د لمونځ لري برابره خبره ده چې د مړي قريب وي او كه بعيد وي لكه بادشاه، قاضي وغيره **لا لفوت الجمعة الخ** يعني كه د جمعي لمونځ يا وقتي لمونځ د فوت كيدو ويره وي نو بيا د دي لپاره تيمم جائز نه دى ځكه دا دواړه خلف لري چې د جمعي د لمونځ خلف د ماسپښين لمونځ دى او د وختي د لمونځ خلف قضاء ده.

ضربة لمسح وجهه و ضربة ليديه مع مرفقيه و لا يشترط الترتيب عندنا و الفتوى على انه يشترط الاستيعاب حتى لو بقي شيئ قليل لا يجزيه و الا حسن في مسح الذراعين ان يمسح ظاهر الذراع اليمنى بالوسطى و البنصر و الخنصر مع شيئ من الكف اليسرى مبتدئاً من

رؤس الاصابع ثم باطنها بالمسبحة و الابهام الی رؤس الاصابع و هکذا یفعل با الذراع الیسری ثم اذا لم یدخل الغبار بین اصابعه فعلیه ان یخلل اصابعه فیحتاج الی ضربه ثالثة لتخلیلها.

توضیح المسئلة: غرض د مصنف رحمه الله د دي عبارت څخه بیان د حقیقت د تیمم دی چې په تیمم کې دوه ضربې دي یوه ضربه د مسح د مخ لپاره او بله ضربه د مسح د لاسونو لپاره چې تر څنګلو پورې به مسح کولی شي زمونږ د احنافو په نزد په تیمم کې هم ترتیب شرط نه ده لکه څرنګه چې په اودس کې شرط نه وو او د امام شافعي رحمه الله په نزد لکه څرنګه چې په اودس کې ترتیب شرط وو نو همدارنګه به په تیمم کې هم شرط وي. **الفتوی علی الخ** د احنافو په نزد په تیمم کې استیعاب شرط دی تردي که لږ غوندې شیئ پاتي شي نو تیمم نه کیږي څکه تیمم قائمقام د اودس دی او په اودس کې استیعاب شرط وو نو دلته به هم شرط وي (فقه حنفي) **و الاحسن الخ** بیان د طریقي د تیمم کوي چې په تیمم کې د څنګلو د مسح کولو ښکلي طریقه دا ده چې د ښي لاس د ګوتو د سر نه به شروع وکړي او د ښي لاس ظاهر به د چپ لاس په منځنی ګوته او په بنصره ګوته چې د وسطي او د خنصري ترمینځ ده او په خنصره ګوته یعني په خچه ګوته سره د څه ورغوي نه مسح کړي بیا به باطن د ښي څنګلي مسح کړي په مسواکی ګوته او په ابهامه یعني غټه ګوته باندي تر د ګوتو سرو پورې به مسح وکړي همدارنګه به بیا چپه څنګله هم مسح کړي که چیرته د ګوتو مینځ ته ګرد داخل نه شو نو د امام محمد رحمه الله په نزد په ده باندي د ګوتو خلالول هم واجب دی نو بیا به دریمه ضربه هم ووهي او ګوتي به خلال کړي او د نورو علماؤ په نزد د ګرد رسول داخل د ګوتو ته واجب نه دي بلکې مسح هم کافي ده. نو تخلیل واجب ده اګر چې ګرد د ګوتو مینځ ته ونه رسیږي نو دریمي ضربي ته هم ضرورت نشته ۱۲ صافي عفی عنه.

علی کل طاهر متعلق بضربة من جنس الارض کا التراب و الرمل و الحجر و کذا الکحل و الذرلیخ و اما الذهب و الفضة فلا یجوز بهما اذا کانا مسبوکین فان کانا غیر مسبوکین مختلطین با التراب یجوز والحنطة و الشعیر ان کان علیها غبار یجوز و لا یجوز علی مکان کان فیه نجاسة و قد زال اثرها مع انه یجوز الصلوة فیه و لا یجوز باالرماد هذا عند ابی

حنيفة و محمد و اما عند ابي يوسف فلا يجوز الا بالتراب و الرمل و عند الشافعي لا يجوز الا بالتراب.

توضيح المسئلة: د بعضو لغاتو معنی **تراب**: خاوره. **رمل**: شګه. **حجر**: تيګه. **كحل**: رانجه. **زرنيخ**: دا يو عنصر دی چې دفلزاتو سره مشابه دی چې په طب کې او په وژلو د حشراتو کې استعماليږي چې په اردو ژبه کې ورته هرتال وايې چې غالباً ګوګړ هم ددی څخه جوړولی شی **ذهب**: سره زر. **فضه**: سپين زر. **مسبوكين**: ويلي شوي وي. **حنطة**: غنم **شعير**: اوربشي. **رماد**: ايري.

على كل طاهر الخ غرض د مصنف د دي عبارت څخه بيان دهغه څه دی چې تيمم پري ادا کيږي او دهغه څه چې نه روا کيږي تيمم پري ۱۲ . نو هر هغه شيئ چې پاک وي او د جنس د ځمکي څخه وي په هغه تيمم رواء دی نو کوم شيئ چې سوځي او ايره کيږي لکه ونه لرګی او کوم شيئ چې نرميږي او ويلې کيږي لکه اوسپنه او سره زر او سپين زر او هر هغه څه چې ځمکه يې خوري لکه غنم، اوربشي وغيره دا ټول د جنس د ځمکې څخه نه دي نو که په دي باندي ګرد وو نو تيمم پری جائز دی او که ګرد پري نه وو نو تيمم پري نه کيږي او کوم شيئ چې نه ويلي کيږي او نه ايره کيږي او نه يې ځکه خوري دا ټول د جنس د ځمکي څخه دي لکه خاوره، شګه، تيګي ، رانجه، هر تال په دي ټولو باندي اګر چې ګرد نه وي تيمم پري جائز دی او سره زر او سپين زر که ويلي شوي وو نو تيمم پري جائز نه دی ځکه دا د جنس د ځمکې څخه نه دي او که ويلي شوي نه وو او د خاورو سره ګډ وو نو بيا پري تيمم روا دی، او غنم او وربشو باندي که ګرد وو نو تيمم پري روا دی.

و لا يجوز على مكان الخ په کوم ځای باندي چې نجاست وو مثلاً تشي متيازي چا وکړي او اثر د دي ختم شو نو په دغه ځای باندي تيمم جائز نه دی خو لمونځ پري کيږي ځکه نبي عليه السلام فرمايې چې **ذكاة الارض يبسها** . پاکوالی د ځمکي په وچ والي سره راځي ليکن په تيمم کې د طهارت شرطوالی په عبارت النص سره ثابت دی او **ذكاة الارض يبسها** خبر واحد دی او خبر واحد د عبارة النص سره معارض کيدی نه شي اما د لمونځ د ځای پاکوالي کې شرط د طهارت په دلالت النص سره ثابت دی او خبر واحد د دلالت النص سره معارض کيدی

شي (نهايه) **و لا يجوز با الرماد الخ** په ايره باندي تيمم جايز نه دى ځكه ايره د جنس د ځمكې څخه نه ده بلكې د جنس د وني څخه دى او كه ايره تيرې څخه وه لكه د كولي (زغال) ايره نو بيا پري تيمم جائز دى. **هذا عند ابو حنيفة الخ** يعي جواز د تيمم به هر هغه څه باندي چې د جنس د ځمكې څخه وي د امام ابو حنيفة او امام محمد رحمها الله په نزد دي او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد باندي تيمم نه صحيح كيږي مگر په خاوره او شگه باندي دا د امام ابويوسف رحمه الله قديمي قول دى بيايې د دي نه رجوع وكړه او ويې ويل چې تيمم نه صحيح كيږي مگر صرف په هغه خاوره چې منبته وي يعني هغه چې گرد ولري (بنايه ج۱ ص ۵۳۲) او همدا د امام شافعي رحمه الله قول هم دى د وجي د دي قول د الله تعالى **فتيمموا صعيدًا طيبًا اى ترابًا منبتًا**. قاله ابن عباس، دوى وايې چې صعيد د ځمكې مخ ته وايې او طيب لفظ مشترك دى په مابين د طاهر او نظيف كې او په مابين د حلال او منبت كې خو دلته با الاجماع طاهر تري مراد دى ځكه طهارت شرط دى په دي كې ځكه نجس پاكونكى نه وي نو كله چې د طاهر معنى واخيستلى شوه نو بله نه شي مراد كيدى ځكه مشترك لره عموم نه وي نو طيب حمل شو په معنى د طاهر باندي ځكه معنى د طاهر زياته مناسبه ده د ځاى د طهارت سره ۱۲. (بنايه ج ۱ ص ۵۳۵)، فقه حنفي ج۱ص۸۹)

و لو بلا نقع و عليه اى على النقع فلو كنس دارًا او هدم حائطًا او كال حنطةً فاصاب، وجهه و ذراعيه غبار لا يجزيه حتى يُمَرّ يده عليه مع قدرته على الصعيد بنية اداء الصلوة فا النية فرض فى التيمم خلافًا لزفر حتى اذا كان به حدثان حدث يوجب الغسل كا الجنابة و حدث يوجب الوضوء ينبغى ان ينوى عنهما فان نوى عن احدهما لا يقع عن الاخر لكن يكفى تيمم واحد منهما.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: و لو بلا نقع متعلق دى تر كل طاهر پوري د امام ابوحنيفه په نزد او د امام محمد رحمه الله په يو قول كې دا شرط نه دي چې په دغه شيئ باندي يعني چې پاك وي او د جنس د ځمكې څخه وي لكه تيږه وغيره چې په دي باندي گرد وي او د امام ابويوسف او دامام شافعي رحمه الله په قول كې بغير د گرد نه تيمم نه صحيح كيږي د دوى دليل دا آيت كريمه دى چې **فامسحوا بوجوهكم و ايديكم منه** (المائدة ص۶)، **منه اى من**

التراب يعني د منه ضمير تراب ته راجع دی نو دا تقاضا د دي کوي چې يو جز د خاوري به خامخا استعماليږي او دغه جزء بغير د ګرد نه نه متصور کيږي او د امام ابوحنيفه دليل دا آيت کريمه دی **فامسحوا بوجوهكم وايديكم** (النساء ۴۳) دي آيت کې مطلق مسح راغلي قيد د جزيت د خاوري نه دی راغلی . (فقه حنفي وغيره). **وعليه الخ** او په ګرد باندي هم تيمم صحيح کيږي سره د قدرت نه په خاوره باندي مصنف رحمه الله دا خبره د دي لپاره ذکر کړه چې د امام ابويوسف رحمه الله د قول نفي راشي ځکه د ده په نزد صرف په ګرد باندي تيمم نه کيږي مګر که د خاوري څخه عاجزه شو بيا په ګرد باندي هم جائز دی خو د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله قول دا دی چې په ګرد باندي مطلقًا جائز دی يعني که په خاوره قدرت وو او که نه وو ځکه ګرد نرمه خاوره ده او همدا صحيح قول ده. **فلو كنس الخ** که چيرته کور جارو کړي.

او هدم حائطا الخ يا ديوال راولويږي. **او كال حنطة الخ** يا يې غنم پيمانه کړل او د ده مخ او څنګلو ته ګرد ورسيږي نو دغه ګرد رسيدل يواځي نه کافي کيږي تردي پوري چې لاس ورباندي تير کړي يعني مسح يې کړي.

بنية اداء الصلوة الخ دا متعلق دی تر ضربة پوري يعني د تيمم ضربه به په نيت د اداء کولو د لمونځ وي نو په تيمم کې نيت فرض دی **خلافا لزفر الخ** د امام زفر رحمه الله په نزد په تيمم کې نيت فرض نه دی ځکه تيمم خلف دی د اودس نه او په اودس کې نيت فرض نه دی نو په تيمم کې هم فرض نه دی چې مخالفت د خلف را نه شي د اصل نه د احنافو له طرفه، جواب دا دی چې مخالفت د خلف د اصل نه په بعضو اوصافو کې راتلای شي چې کله يو دليل موجود وي او دلته هم موجود ده ځکه دا قول د الله تعالى **فتيمموا صعيدًا طيبًا** دلالت په همدي کوي ځکه تيمم په لغت کې قصد ته وايي او بل دا چې خاره فی نفسه پاکونکی نه ده بلکې ککړونکی ده او هلته پاکونکی ګرځي چې اراده د لمونځ وشي نو نيت په کې شرط شو په خلاف د اوبو سره چې هغه الله پاک پاکونکی پيدا کړی دی نو پاکوالی کې نيت ته ضرورت نشته **حق اذا كان الخ** شارح تفريع کوي په فرضيت د نيت باندي چې يو کس باندي دوه بې اودسي وي چې يوې بې اودسي غسل واجبه وو لکه جنابة او بلي اودس واجب وو مثلاً يو

سړی چې اودس يې وو او پاک هم وو داسي بې اودسه شو چې اودس پري واجب شو بيا داسي بې اودسه شو چې غسل پري واجب شو نو دغه سړی به د جنابت او حدث اصغر دواړو څخه نيت د تيمم کوي او د دواړو لپاره يو تيمم کافي دی او که د يو حدث څخه يې نيت وکړو او د بل څخه يې ونه کړو نو دا نيت د دواړو څخه نه کافي کيږي.

فلا يجوز تيمم کافر لاسلامه ای لا يجوز الصلوة بهذا التيمم عندهما خلافاً لابی يوسف فعنده يشترط لصحة التيمم فی حق جواز الصلوة ان ينوی قربة مقصودة سواء لا تصح بدون الطهارة کالصلوة او تصح کالاسلام و عندهما قربة مقصودة لا تصح الا بالطهارة فان تيمم لصلوة الجنازة او سجدة التلاوة يجوز بهذا التيمم اداء المکتوبات و ان تيمم لمس المصحف او دخول المسجد لا تصح به الصلوة لانه لم ينو به قربة مقصودة لکن يحل له مس المصحف و دخول المسجد.

التصميم الوافر فی بيان تيمم الکفار.

که يو کافر د اسلام راوړلو لپاره تيمم وهلی وو نو په دغه تيمم سره لمونځ نه کيږي د امام ابوحنيفه او د امام محمد رحمه الله په نزد په خلاف د امام ابويوسف سره.

فائدة: عبادات په دوه قسمه دي. ۱-مقصوده. ۲-غير مقصوده.

۱-مقصوده دي ته وايې چې ابتداءً روا شوي وي لپاره د نزديکت الله تعالی ته، بغير د دي نه چې تابع د بل وي يا په بله اصطلاح سره چې عبادات مقصوده هغه دي چې په ضمن د شيئ اخر کې په تبعيت سره واجب نه وي. ۲-غير مقصوده دي ته وايې چې واجب وي په ضمن د شيئ آخر کې په تبعيت سره.

د عبادات مقصوده مثال لکه اسلام، سجده تلاوت، پنځه وخته لمونځ د جنازي لمونځ وغيره، بعضي د عبادات مقصوده څخه هغه دي چې بغير د طهارت نه نه صحيح کيږي لکه لمونځ او سجده تلاوت وغيره او بعضي بغير د طهارت نه هم صحيح کيږي لکه اسلام او د عبادات غير مقصوده مثال مسجد ته داخيدل قرآنکريم ته لاس وروړل د سلام جواب ورکول او ذکر کول وغيره. نو شرط د صحت د تيمم لپاره بذاته نيت دهغه څه دی چې دهغه قصد يې کړی وي هغه عبادت مقصوده وي او که غير مقصوده وي دا خو بالاتفاق دی اما په حق صحت د دي په حق د جواز د لمونځ کې بيا اختلاف دی نو امام ابويوسف په نزد نيت د

عبادت مقصوده په کې شرط ده. برابره خبره ده چې هغه بغير د اودس نه نه صحيح لکه لمونځ او که صحيح کيږی لکه اسلام نو که کافر د اسلام راوړلو لپاره تيمم ووهي نو په دي تيمم باندي لمونځ کيږي او د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد شرط د صحت د تيمم په حق د جواز د لمونځ کې نيت د هغه عبادت مقصوده دی چې بغير د اودس نه نه صحيح لکه لمونځ نو که کافر د اسلام راوړلو لپاره تيمم ووهي نو په دي تيمم باندي لمونځ نه صحيح کيږي نو که يو کس په وخت د عجز کې د استعمال د اوبو نه د جنازي د لمونځ لپاره او يا د سجده تلاوت لپاره تيمم ووهي نو په دغه تيمم باندي نور فرض لمونځونه هم کولی شي او که قرآن کريم ته د لاس وروړلو لپاره يا جماعت ته د داخليدو لپاره تيمم ووهي نو په دغه تيمم باندي لمونځ نه صحيح کيږي ځکه په دي تيمم سره د عبادت مقصوده نيت نه ده شوی ځکه قرآنکريم ته لاس وروړل عبادت نه دی مگر د تلاوت لپاره نو عبادت مقصوده تلاوت دی او لاس وروړل غير مقصوده دی همدارنګه مسجد ته داخليدل عبادت نه دی مگر د هغه څه لپاره چې په مسجد کې اداء کيږي لکه لمونځ وغيره نو عبادت مقصوده هغه څه شو چې په مسجد کې اداء کيږي او غير مقصوده مسجد ته داخليدل شول ليکن په دغه تيمم باندي کولی شي چې قرآن کريم ته لاس وروړي او مسجد ته داخل شي ۱۲ صافي عفی عنه.

و جاز وضوءه بلا نية حتى ان توضأ بلا نية فاسلم جاز صلاته بهذا الوضوء خلافًا للشافعي و هذا بناء على مسئالة النية في الوضوء و ان توضأ با النية فاسلم فالخلاف ثابت ايضًا لان نية الكافر لغو لعدم الاهلية و انما قال بلا نية مبالغة فيصح وضوء الكافر مع النية با الطريق الاولى ويصح في الوقت اتفاقًا و قبله خلافا للشافعي فلا يجوز به الصلوة الا في الوقت عنده و هذا بناء على ما عرف في اصول الفقه ان التراب خلف ضروری للماء عنده و عندنا خلف مطلق ففي الاثنين طاهر و نجس يجوز التيمم عندنا خلافا له وقوله عليه السلام التراب طهور المسلم و لو الى عشر حجج يؤيد ما قلنا.

توضيح المسئلة: زمونږ د احنافو په نزد لکه چې د مسلمان لپاره په اودس کې نيت شرط نه دی همدارنګه د کافر لپاره په حالت د کفر کې که اودس کوي نيت شرط نه دی او اودس د کافر بلانيته هم صحيح کيږي تردي که يو کافر بلانيته اودس وکړو او بيا يې اسلام راوړلو نو د ده لمونځ په دغه اودس سره روا کيږي ځکه اودس په خپله کيلي د لمونځ لپاره.ده نو

بلانیته به هم معتبر وي او د امام شافعي په نزد په صحت د اوداسه کې نیت مطلقًا شرط دي نو بلا نیته اودس به لغوه وي برابره خبره ده چې کافر کړي وي او که مسلمان کړي وي

و ان توضأ بالنية الخ او که یو کافر اودس د نیت سره وکړي او بیا اسلام راوړي نو زمونږ او د امام شافعي رحمه الله ترمینځ دغه اختلاف بیا هم شته زمونږ په نزد په طریقه اولی سره لمونځ کولی شي او د امام شافعي رحمه الله په نزد د کافر دغه نیت لغوه دی ځکه چې کافر کې اهلیت د دي نه وو ځکه شرط د عبادت لپاره اسلام دی او دا شرط په کافر کې دغه وخت کې نه وو نو اودس د ده بلا نیته پاتي شو او په بلا نیته اودس سره د امام شافعي رحمه الله په نزد لمونځ نه کیږي.

و انما قال الخ دا دفع د یو اعتراض ده چې هر کله حکم د اودس د کافر چې د نیت سره وي او یا بلا نیته وي یو دی چې زمونږ په نزد په دواړو صورتونو کې صحت دی او د امام شافعي رحمه الله په نزد عدم صحت دی نو دا قول د مصنف چې بلا نیته دی لغوه او مستدرک دی د دي حذف کول په کار وو؟ نو شارح جواب وکړو چې د بلانية بلفظ يې مبالغة ذکر کړو چې د کافر اودس بلا نیته صحیح کیده نو سره د نیت نه خو په طریقه اولی سره صحیح کیږي و **يصح في الوقت الخ** په داخل د وخت کې تیمم په اتفاق د ټولو علماؤ صحیح کیږي، و **قبله خلافا للشافعي الخ** او د وخت نه مخکې زمونږ د احنافو په نزد هم صحیح کیږي په خلاف د امام شافعي رحمه الله ځکه د ده په نزد لمونځ نه صحیح کیږي مګر په هغه تیمم سره چې په وخت کې شوي وي. **و هذا بناء الخ** یعني دا اختلاف زمونږ او د امام شافعي رحمه الله ترمینځ مبني دی په هغه قواعدو باندي چې په اصول فقه کې ذکر شوي هغه داسي چې خاوره خلف او قائمقام دی د اوبو ځکه خود امام شافعي رحمه الله په نزد خاوره خلف ضروري دی د اوبو ځکه او خلف ضروري دي ته وایې چې خلفیت د دي د وجي د ضرورت نه ثابت وي نو خاوره خلف د اوبو نه ده په دي معنی سره چې حکم د طهارت به په دي باندي کولی شي لپاره د اداء کولو د فرض خو رافع د حدث حقیقةً نه دی یعني بي اودسي حقیقتًا نه ختمه وي نو د همدي وجي د وخت نه مخکې جائز نه دي ځکه ضرورت ورته د وخت نه مخکې نشته او د احنافو په نزد باندي خاوره خلف مطلق دی د اوبو ځکه د مطلق معنی کامل په دي معنی سره چې د خاوري سره هم حدث پورته کیږي تر وخت د وجود د اوبو پوري نو لکه څرنګه چې اوبه

رافع د حدث ده او پاکونکي ده نو همدارنګه خاوره هم رافع د حدث ده او پاکونکي ده او لکه څرنګه چې اودس د وخت نه مخکې جائز دی نو همدارنګه خلف د دې چې تيمم دی هم د وخت نه مخکې جائز دی. **ففي انائين الخ** شارح ثمره د اختلاف بيانوي چې دوه لوښي د اوبو ښخه ډک وي يو يقيني پاک وي او بل يقيني پليت وي او دواړه سره داسې ګډ شي چې فرق يې نه شي کيدی نو د امام شافعي رحمه الله په نزد تيمم جائز نه دی بلکې تحري او سوچ به کوي ځکه له ده سره په يقيني ډول سره پاکي اوبه شته په هغه دليل سره چې شريعت کې معتبر دی چې هغه تحري او فکر دی نو هيڅ ضرورت تيمم ته رانغی و امام ابوحنيفه په نزد تحري جائز نه ده ځکه خاوره طهارت مطلقه ده په وخت د عجز کې د اوبو نه او عجز په تعارض سره ثابت دي ځکه مرجح نشته نو لهذا دواړه به ساقط وي او چې دواړه ساقط شول نو عجز راغی او د عجز په صورت کې تيمم روا دی.

وقوله عليه السلام الخ شارح بله وجه د ترجيح د احنافو ذکر کوي چې دا قول د نبي عليه السلام چې خاوره پاکونکي د مسلمان ده اګر چې تر لسو کلو پوري وي نو دا حديث مبارک هم تائيد زمونږ د احنافو کوي هغه داسې چې د داسې احاديثو ښخه دا معلوميږي چې تيمم خلف ضروري نه دی بلکې رافع د حدث دی او خاوره پاکونکي ده. ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

وبعد طلبه من رفيق له ماء منعه حتى اذا صلى بعد المنع ثم اعطاه ينتقض تيممه الأن فلا يعيد ما قد صلى وقيل طلبه جاز خلافًا لهما هكذا ذكر في الهداية وذكر في المبسوط انه ان لم يطلب منه وصلى لم يجز لان الماء مبذول عادة وفي موضع أخر من المبسوط انه ان كان مع رفيقه ماء فعليه ان يسأله الا على قول حسن بن زياد فانه يقول السوال ذلٌّ وفيه بعض الحرج ولم يشرع التيمم الا لدفع الحرج ولكنا نقول ماء الطهارة مبذول عادة وليس في سوال ما يحتاج اليه مذلة فقد سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم بعض حوائجه من غيره.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: بعضي لغاتو ترکيب: **وبعد** تعلق نيسي تر يصح پوري **من رفيق** تعلق نيسي تر طلبه پوري. **له ماءٌ** صفت دی د رفيق لپاره **منعه**: يا صفت دی د رفيق لپاره او يا صفت دی د ماء لپاره. يعني صحيح کيږي تيمم پس د طلب د اوبو نه د هغه ملګري

نه چې اوبه ورسره وي داسي اوبه چې د ده نه يې منعه کړي يعني احمد سره په لاره ملګري روان وو او د ملګري سره يې اوبه وي او احمد تري وغوښتلي خو ملګري يې ورنه کړي نو احمد ته تيمم روا دی ، احمد چې تيمم وکړو او لمونځ يې وکړو د لمونځ نه وروسته ملګري يې اوبه ورکړي نو هغه تيمم يې اوس يعني د لمونځ نه وروسته مات شو خو هغه لمونځ وشو ، د لمونځ اعاده وربانديي نشته، **وقبل طلبه الخ** او مخکې د طلب نه روا دی. که د ملګري څخه يې اوبه ونه غوښتلي او تيمم يې وکړو نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد ده ته تيمم روا دی او دصاحبينو په قول نه صحيح کيږي ځکه د صاحبينو په نزد بغير د طلب نه اوبي د منعي کولو د اوبو نه تيمم نه صحيح کيږي.

هکذا ذکر الخ دا اختلاف همدارنګه په هٰدايه کې هم ذکر شوي او په مبسوط کې شمس الائمة السرخسي ذکر کړي که د ملګري څخه يې اوبه ونه غوښتلي او په دغه تيمم يې لمونځ وکړو نو دا صحيح نه ده ځکه اوبه عام عرف کې ورکولی شي او په مبسوط کې بل ځای ذکر کړي چې که د ملګري سره يې اوبه وي نو په ده لازم دي چې ملګري نه به يې غواړي ليکن د حسن بن زياد په قول سوال لازم نه دی ځکه سوال يو قسم ذلت دی او په سوال کې څه حرج هم راځي او تيمم نه دی روا شوی مګر د دفع د حرج لپاره نو په کار ده چې تيمم وکړي، **ولکنا نقول الخ** دا جواب دی ددليل د حسن بن زياد نه له طرفه دهغو خلکو چې قائل دي په وجوب د طلب بانديي حاصل يې دا دی چې د اودس اوبه عام عادت کې ورکولی شي او څوک يې نه منع کوي او په غوښتلو کې يې هم څوک شرم نه کوي او د کوم شيئ چې ضرورت وي دهغه په سوال کې ذلت نشته ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم د بعضو ضرورتونو سوال د بل څخه کړی دی او د کوم شيې چې ضرورت نه وي دهغه په سوال کې حرج او ذلت وي . . غرض د دواړو عبارتونو د مبسوط څخه دا دی چې مدلول د مبسوط مخالف دی د مدلول د هدائي او وقائي سره ځکه د هدائي والا او د وقايې والا دواړه په دي قائل دي چې دغه مسئاله د امام ابوحنيفه او د صاحبينو ترمينځ اختلافي ده او طلب واجب دی دصاحبينو په نزد او مخکې د طلب نه تيمم جائز نه دی . او د امام ابوحنيفة په نزد طلب واجب نه دی او د طلب مخکې تيمم جاز دی او د مبسوط د دواړو عبارتونو څخه دا معلوميږي چې دا مسئله د امام ابوحنيفه او د صاحبينو ترمينځ اتفاقي ده او په وجوب د طلب کې اختلاف نشته مګر صرف د حسن بن زياد په نزد واجب نه دی، خو حلبي په غنيه کې د دواړو عبارتونو ترمينځ

توفیق داسي بیان کړی چې حسن بن زیاد روایت د عدم وجوب د طلب کړی او په هغه یې عمل کړی نو مبسوط ظاهر الروایة ته اعتبار ورکړی او اختلاف یې ذکر کړی نه ده او صاحب د هدایې او نورو روایت د حسن ته اعتبار ورکړی د همدې وجې دوی مسئله اختلافیه وګرځوله خو بنائی لیکلي چې په ذخیره کې د خصاف څخه ذکر شوي چې د امام ابوحنیفه او د صاحبینو ترمینځ اختلاف نشته ځکه مراد د امام ابوحنیفه په هغه صورت کې دی چې کله د تیمم کوونکي په غالب ګمان کې دا وي چې ماته اوبه نه راکوي او مراد د صاحبینو په هغه صورت کې دی چې غالب ګمان د تیمم کوونکي وي چې نه ئې منع کوي بلکې راکوي. (بنایه ج۱ ص ۵۶۸)

و فی الزیادات ان المتیمم المسافر اذا رأی مع رجل ماءً کثیرًا و هو فی الصلوة و غلب علی ظنه انه لا یعطیه او شک مضی علی صلاته لانه صح شروعه فلا یقطع بالشک بخلاف ما اذا کان خارج الصلوة و لم یطلب و تیمم حیث لا یحل له الشروع بالشک فان القدرة و العجز مشکوک فیهما و ان غلب علی ظنه انه یعطیه قطع الصلوة و طلب الماء ثم قال فی الزیادات فاذا فرغ من صلاته فسأله فاعطاه او اعطی بثمن المثل و هو قادر علیه استأنف الصلوة و اذا ابی تمت صلاته و کذا اذا ابی ثم اعطی لکن ینتقض تیممه الاٰن.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: غرض د شارح د نقل کولو د عبارت د زیادات نه دا دی چې وجوب د طلب مخکې د لمونځ نه اتفاقي دی او موافق دی د هغه څه سره چې په مبسوط کې دي او دغه تفصیل چې غلبه د ګمان د ورکولو وي او نه وي دا په هغه صورت کې ده چې په داخل د لمونځ کې اوبه وګوري نو خلاصه د زیادت دا ده چې یو تیمم کوونکی کس په لمونځ ولاړ وو او د لمونځ په مینځ کې د یو بل کس سره اوبه ولیدې او غالب ګمان د تیمم کوونکي دا وو چې د اوبو والا اوبه نه راکوي او یا یې شک ؤ چې را به یې کړي او که نه؟ نو په دې صورت کې په دې تیمم کوونکي واجب دي چې خپل لمونځ د جاري ساتي او پوره دې کړي او نه د فاسدوي ځکه شروع د ده په لمونځ کې صحیح ده په تیمم سره ځکه د اوبو نه عاجز وو نو په شک او وهم سره د لمونځ نه قطع کوي. **بخلاف ما الخ** یعني که د لمونځ نه خارج یې اوبه ولیدې او طلب یې تري ونه کړو او تیمم یې وواهه نو ده لره جائز نه دی چې شروع په لمونځ کې په دې تیمم سره وکړي ځکه قدرت او عجز دواړه مشکوک دي ځکه په قدرت علی

الماء کې هم شک دی او په عجز کې هم شک ځکه ده سوال نه دی کړی که سوال يې کړی وی نو د ده قدرت یا عجز به معلوم شوی وو او که د ده په غالب گمان دا وو چې اوبه راکوي نو لمونځ به قطعه کوي ځکه قدرت علی الماء په غالبي رای سره ثابت شو نو تيمم يې مات شو

او اوبه به طلب کړي ثم قال الخ بيا يې په زيادات کې دا ويلې چې کله اوبه په لمونځ کې وګوري او غالب ګمان د ده دا وي چې اوبه نه راکوي يا يې شک وو خو لمونځ پوره کړ بيا يې اوبه وغوښتلي هغه بي د څه قيمت نه اوبه ورکړي يا يې په قيمت سره ورکړي خو په ثمن مثل سره ثمن مثل ديته وايې چې په همدي بيع سره په نورو ځايونو کې هم خرڅولی شي او دغه تيمم کوونکی په دغه ثمن قادر وو نو اوبه به اخلي او لمونځ به له سره راګرځوي ځکه په دي وخت کې د ده قدرت په اوبو باندي ښکاره شو او که په غبن يسير سره يې ورباندي خرڅولي يعني د خپل نرخ نه لږي ګراني نو بيا به يې هم اخلي او لمونځ به راګرځوي او که په غبن فاحش سره وو غبن فاحش د بعضو علماؤ په نزد دي ته وايې چې دو چنده يې ورباندي خرڅي کړي او بعضي علماءيې دي ته وايې چې د تجارانو د قيمت لاندي نه را ځي يعني په دي نرخ يې نه څوک اخلي او نه خرڅوي. نو په دي صورت کې په ده د اوبو اخيستل واجب نه دي

و اذا ابى الخ او که د اوبو والا د اوبو ورکولو نه مطلقاً انکار وکړ نو مخکې لمونځ يې تمام دی او بيا اعادهورباندي نشته و کذا اذا ابى الخ او همدارنګه که يو ځل يې انکار وکړو او بيا يې اوبه ورکړي نو بيا هم مخکنی لمونځ د ده به تمام وي او اعاده ورباندي نشته خو تيمم يې اوس مات شو يعني بيا په دي تيمم سره لمونځ نه شي کولی. ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

اقول ان اردت ان تستوعب الاقسام كلها فاعلم انه اذا رأى الماء خارج الصلوة و صلى و لم يسأل بعد الصلوة ليظهر العجز او القدرة فعلى ما ذكر فى المبسوط سواء غلب على ظنه الاعطاء او عدمه او شك فيهما و هى مسئالة المتن و اذ رأى فى الصلوة و لم يسأل بعدها فكذا و ان رأى خارج الصلوة و لم يسأل و صلى ثم سأله فان اعطى بطلت صلاته و ان ابى تمت سواء ظن الاعطاء او المنع او شك فيهما و ان رأى فى الصلوة فكما ذكر فى الزيادات لكن

يبقى صورتان احدٰهما انه قطع الصلوة فيما اذا ظن المنع او شك فسأله فان اعطى بطل تيممه و ان ابىٰ فهو باق و الاخرى انه اذا اتم الصلوة فيما اذا ظن انه يعطى ثم سأل فان اعطى بطل صلاته و ان ابىٰ تمت لانه ظهر ان ظنه كان خطئًا بخلاف مسئله التحرى لان القبلة في جهة التحرى اصالة و ههنا الحكم دائر على حقيقة القدرة و العجز فاقيم غلبة الظن مقامهما تيسيرًا فاذا اظهر خلافه لم يبق قائما مقامهما و يصلى به ماشاء من فرض و نفل خلافًا للشافعي رحمه الله

ترجمة العبارة مع الوضاحة: شارح رحمه الله وايي چې كه ستا اراده وي چې ټول هغه اقسام چې په مبسوط او زيادات كې مذكور دي راګير شي نو پوهه شه چې كله اوبه د لمونځ نه خارج وګوري او په دغه تيمم سره لمونځ وكړي او د لمونځ څخه وروسته هم اوبه تري ونه غواړي چې د ده عجز يا قدرت ظاهره شي. **فعلى ماذكر الخ** نو بيا به حكم هغه وي چې په مبسوط كې ذكر دى هغه داسي چې لمونځ د ده نه روا كيږي مګر په قول د حسن بن زياد سره برابره خبره ده چې غالب ګمان د ده د اوبو د وركولو وي يا د نه وركولو وي او يا شك وي په وركولو او نه وركولو كې او همدا مسئاله د متن هم ده . **و اذ رأى الخ** او كه په لمونځ كې يې اوبه وليدي او لمونځ وروسته يې هم ونه غوښتلي نو بيا هم د ده لمونځ جائز نه دى ځكه د ده عجز نه ده ښكار شوى او كه خارج د لمونځ نه يې اوبه وليدلي او تري طلب يې نه كړي او لمونځ يې په تيمم سره وكړو او د لمونځ نه وروسته يې وغوښتلي نو كه هغه اوبه وركړي نو هغه لمونځ چې په تيمم سره يې كړى باطل شو ځكه دا ښكاره شوه چې دا په اوبو قادر وو خو نقصان د ده له طرفه وو چې اوبه يې ونه غوښتلي او كه د اوبو وركولو نه يې انكار وكړو نو مخكنى لمونځ يې پوره شو برابره خبره ده چې ګمان د وركولو د اوبو وي او كه نه وي او يا يې شك په دواړو كې وي. **و ان رأى فى الصلوة الخ** او كه اوبه يې په لمونځ كې وليدلي نو بيا به حكم هغه وي چې په زيادات كې دى هغه داسي چې كه د ده په غالب ګمان دا وو چې اوبه راكوي نو لمونځ به قطع كړي او كه غالب ګمان يې دا وه چې نه يې راكوي نو لمونځ به نه قطع كوي. **لكن لم يبق الخ** شارح وايي چې دوه صورته پاتې دي چې په مخكې عبارت كې صراحةً ذكر شوى نه دى ۱ ـ اول صورت دا ده چې تيمم كوونكى په لمونځ ولاړ وو اوبه يې وليدلي

ګمان یې دا وه چې اوبه نه راکوي یا یې شک وو خو لمونځ یې د ناپوهتیا وجې قطع کړ او بیا یې اوبه وغوښتلي نو که هغه اوبه ورکړي تیمم یې باطل شو ځکه قدرت علی الماء راغی او که انکار یې وکړ نو تیمم یې په خپل حال باقي پاتي ده ځکه عجز ښکاره شو، ۲-بل صورت دا دی چې په لمونځ کې ګمان دا وو چې اوبه راکوي خو لمونځ یې پوره کړ بیا یې اوبه وغوښتي نو که اوبه یې ورکړي نو لمونځ یې باطل شو ځکه قدرت علی الماء راغی او که انکار یې وکړ نو لمونځ پوره شوه ځکه معلومه شوه چې د ده ګمان په خطاء وو.

بخلاف الخ دا دفع د یو اعتراض ده چې په یو لمونځ کوونکي باندې د قبلې طرف مشتبه شي او یو طرف ته فکر وکړي چې دغسي قبله ده او لمونځ وکړي هغه طرف ته په دې ګمان چې دا د قبلې طرف دی کله چې د لمونځ څخه فارغ شو نو معلومه شوه چې قبله بلې خوا ته وه نو حکم دا دی چې لمونځ یې پوره دی او سره د دې نه چې دا ګمان یې خطا دی اعاده د لمونځ وربانديي نشته نو څه وجه ده چې د قبلې په صورت کې ظن ته اعتبار شته او په مخکنی مسئله کې ظن ته وروسته د ظهور د خطاء نه اعتبار نشته؟ نو شارح جواب وکړو چې په مسئله د تحري کې قبله حقیقة هغه جهت د تحري دی او ده هم جهت د تحري ته لمونځ اداء کړی نو د لمونځ د فراغت نه وروسته که د ده د ګمان خطا والی معلوم شي نو څه ضرر نه کوي اما د تیمم په مسئله کې حکم د جواز د تیمم او د عدم جواز دائر دی په حقیقي قدرت او عجز سره او غلبه د ظن قائمام د دواړو دی د اسانتیا لپاره نو کله چې د ظن خلاف معلوم شو نو اوس ظن قائمقام د قدرت او د عجز نه شي کیدی نو د همدي وجې نه په تیمم کې ظن ته وروسته د ظهور د خطأ نه اعتبار ورنه کړی شو.

ویصلی به ما شاء الخ کله چې یو تیمم وکړي نو په دې تیمم سره څومره لمونځونه چې یې خوښه وي کولی شي فرض وی او که نفل وي **خلافًا للشافعي** رحمه الله د امام شافعي رحمه الله په نزد هر فرض لمونځ ته به تیمم وهي او په یو تیمم سره به دوه فرضه نه شي کولی لیکن نفل په یو تیمم سره چې څومره وي کولی شي ځکه نوافل تابع د فرائضو دي دلیل د امام شافعي دا دی چې تیمم خلف ضروري دی او په قدر د ضرورت به عمل کوي نو کله چې یې لمونځ وکړو نو ضرورت رفع شو احناف دا جواب کوي چې خاوره پاکونکي ده په وخت د نیشت والي د اوبو کې نو خاوره به هم عمل د اوبو کوي تر څو چې شرط د خاوري موجود وي چې هغه د اوبو نیشتوالی او د حدث نه پیدا کیدل دي (بنایه ج۱ ص۵۵۶)

و ينقضه ناقض الوضوء و قدرته على ماءٍ كافٍ لطهره حتى اذا قدر على الماء و لم يتوضأ به ثم عدمه اعاد التيمم و انما قال كاف لطهره حتى اذا اغتسل الجنب و لم يصل الماء لمعة ظهره و فنى الماء و احدث حدثا يوجب الوضوء فتيمم لهما ثم وجد من الماء ما يكفيهما بطل تيممه فى حق كل واحد منهما و ان لم يكف لِاَحدٍ بقى فى حقهما و ان كفى لاحدهما بعينه غَسَله و يبقى التيمم فى حق الأخر و ان كفى لكل واحد منهما منفردًا غَسَل اللمعة لان الجنابة اغلظ فاذا غسل اللمعة هل يعيد التيمم للحدث ففيه روايتان و ان تيمم اولًا ثم غسل اللمعة ففى اعادة التيمم روايتان ايضًا و ان صرف الى الحدث انتقض تيممه فى حق اللمعة باتفاق الروايتين.

بيان نواقض التيمم: **النقض عبارة عن خروجه عن حكمه الاصلى و هو كونه مبيح الصلاة:** نقض عبارت دی د وتلو د دي د حكم اصلي خپل نه چې هغه كيدل د دي مبيح كوونكي د لمونځ دي نو كوم شيئ چې اودس ماتوي هغه تيمم هم ماتوي ځكه تيمم خلف دی د اودس څخه نو حكم د اودس هم اخلي چې هغه ماتول دي او اصلي قوي وي د خلف نه نو كوم شيئ چې ماتونكی د قوي وي نو هغه په طريقه اولی سره ماتونكی د ضعيف دی (بنايه ج۱ ص ۵۴۹)

و قدرته على ماء الخ: همدارنګه ماتونكی د اودس قدرت د تيمم كوونكی دی په هغه اوبو باندي چې د اودس لپاره كافي وي كه تيمم كوونكي په اوبو قادره شي او په هغه اودس ونه كړي بيا هغه اوبه ليري شوي نو هغه تيمم يې مات شو ځكه ده سره په اوبو قدرت حاصل شو خو ده استعمال نه كړي نو بيا به تيمم دوباره وكړي.

و انما قال كافٍ الخ مصنف رحمه الله دا وويل چې كاف لطهره د دي فائده دا ده چې كه جنب سړی غسل وكړي د شا يوي ټوټي ته يې اوبه ونه رسيږي . **و فنى الماء**: او اوبه ختمي شي او داسي يې اودسه هم شو چې اودس واجبونكی وو د غسل او اودس دواړو لپاره يې تيمم وكړو بيا يې دومره اوبه پيدا كړي چې دواړو لپاره كافي كيدي نو تيمم د ده فى حق د غسل او اودس دواړو كې باطل شو ځكه ده لره قدرت په كافي اوبو حاصل شو او قدرت په اوبو كافي باندي تيمم ماتوي **و ان لم يكف الخ** او كه دغه اوبه د يو لپاره هم نه كافي كيدي نو

مخکښي تيمم په حق د غسل او حدث اصغر دواړو کې پاتي دی ځکه قدرت په کافي اوبو رانغی. **وان كفى الخ**. او که اوبه د يو معين لپاره کافي کيدي نو تيمم به په حق د اودس کې مات وي او په حق د غسل کې پاتي وي او که د لمعه لپاره کافي کيدي خود اودس لپاره نه کافي کيدي نو تيمم به په حق د غسل کې مات وي او په حق د اودس کې به پاتي وي. **وان كفى لكل الخ** او که اوبه د هر يو لپاره ځان ته کافي کيدي يعني که لمعه پري ووينځي اودس پري نه کيږي او که اودس پري وکړي نو د لمعي لپاره نه پاتي کيږي نو لمعه به ووينځي ځکه جنابت سخت دی د حدث اصغر نه نو کله چې اوس لمع ووينځي نو آيا د حدث لپاره به تيمم دوباره کوي او که نه؟ په دي کې دوه روايته دی يعني په يو روايت کې دي چې تيمم به راګرځوي او په بل روايت کې دي چې تيمم به دوباره نه کوي. **وان تيمم اولًا الخ** او که ده اول د حدث اصغر لپاره تيمم وکړو په دي ګمان چې مخکښي تيمم زما مات شو ځکه په اوبو کافيو باندي قادر شوم، بيا يې لمعه ووينځله نو آيا حدث اصغر لپاره به تيمم راګرځوي نو په دي کې دوه روايته دي د امام ابويوسف رحمه الله په نزد به تيمم نه راګرځوي ځکه په ده واجب وو چې په دي اوبو به لمعه وينځي ځکه جنابت اغلظ وي د حدث اصغر نه کله چې ده لمعه ووينځله نو اوبه په حق د حدث اصغر کې د ابتداء نه معدومي شوي نو تيمم د ده په حق د حدث اصغر کې هم مات نه شو نو دوباره تيمم د ده به عبث وي او د امام محمد رحمه الله په نزد به د حدث اصغر لپاره تيمم اګرځوي ځکه په اوبو کافي باندي قادره شو نو تر څو چې اوبه موجودي وي نو تيمم څه فائده نه کوي نو کله چې ده لمعه ووينځله په دي نظر چې دا اهم وو نو اوس په ده اعاده د تيمم واجب شوه ځکه د ماء کافي نه اوس عاجزه شو.

وان صرف الخ او که دغه اوبه يې په اودس کې استعمال کړي نو تيمم د ده په حق د لمعي کې په اتفاق د دواړو روايتو مات شو ځکه ده لره په رفع د جنابت سره په کافي اوبو باندي قدرت حاصل شو.

هذا اذا تيمم للحدثين تيممًا واحدًا اما اذا تيمم للجنابة ثم احدث فتيمم للحدث ثم وجد الماء فكذا في الوجوه المذكورة وان تيمم للجنابة ثم احدث ولم يتيمم للحدث فوجد الماء فان كفى اللمعةَ والوضوءَ فظاهر وان لم يكف لاحد لا ينتقض تيممه فيستعمل الماء

فى اللمعة تقليلًا للجنابة و يتيمم للحدث و ان كفى اللمعة لا الوضوءَ انتقض تيممه و يغسل اللمعة و تيمم للحدث و ان كفى للوضوء لا للمعة فتيممه باقٍ و عليه الوضوء و ان كفى لكل واحدٍ منفردًا يصرفه الى اللمعة و تيمم للحدث فان توضأ به جاز و يعيد التيمم و لو لم يتوضأ به و لكن بدأ با التيمم للحدث ثم صرفه الى اللمعة هل يعيد التيمم ام لا ففى رواية الزيادات يعيد و فى رواية الاصل لا.

توضيح المسئلة: شارح وايي چې دا مخکنی تفصيل په هغه صورت کې دی چې کله د حدث اکبر او حدث اصغر دواړو لپاره يو تيمم وکړي او که د جنابت لپاره يې تيمم وکړو بيا بې اودسه شو او د بې اودسۍ لپاره يې تيمم وکړو بيا يې اوبه وموندلې **فکذا فى الوجوه المذكورة الخ** يعني د دې حکم به داسې وي لکه مخکې طريقو کې چې ذکر شو چې **ما يكفيهما الخ** او **و ان لم يكف الخ** و **ان كفى الخ** وغيره. **و ان تيمم الخ** او که د جنابت لپاره يې تيمم وکړو بيا بې اودسه شو او دبې اودسۍ لپاره يې تيمم وکړو بيا بې اودسه شو او د بې اودسۍ لپاره يې تيمم ونه کړو او اوبه يې پيدا کړې نو که لمعې او اودس دواړو ته کافي کيدې نو حکم ظاهر دی چې تيمم يې مات دی په حق د جنابت کې اود لمعې وينځل هم ورباندې واجب دی او اودس هم ورباندې واجب دی او که د يو لپاره هم نه کافي کيدې نو تيمم د ده په حق د جنابت کې مات نه دی نو دغه اوبه به په لمعه کې استعمال کړي چې جنابت ختم شي او د حدث لپاره به تيمم ووهي او که د لمعې لپاره صرف کافي کيدې نه د اودس لپاره نو تيمم د ده په حق د جنابت کې مات شو او په دغه اوبو به لمعه وينځي او د حدث لپاره به تيمم ووهي ځکه قدرت په کافي اوبو حاصل نه شو، او که د اودس لپاره کافي کيدې او د لمعې لپاره نه کافي کيدې مثلاً ډير ځای د ده په بدن کې د غُسل نه پاتې وو نو تيمم د ده د جنابت لپاره باقي دی. **لعدم قدرته على الماء الكافي لغسل اللمعة** او اودس ورباندې واجب دی **لقدرته على الماء الكافي للوضوء**. **و ان كفى لكل الخ** او که دغه اوبه د هر يو لپاره انفرادي طور کافي کيدې نو لمعه به پرې وينځي ځکه دا اهم ده او د حدث لپاره به تيمم کوي خو که په دې باندې يې اودس وکړو دا هم جائز ده خو د جنابت لپاره به تيمم دوباره کوي **لانتقاض تيممه السابق بقدرته** . **و لو لم يتوضأ الخ** او که په دې اوبو باندې

او دس ونه کړي ليکن اول يې د حدث لپاره تيمم وواهه بيا يې لمعه ومينځله ايا دغه تيمم به دوباره کوي او که نه؟ په روايت د زيادات کې يعني د امام محمد رحمه الله په قول کې به دغه تيمم دوباره کوي او په روايت د اصل کې يعني مبسوط کې د امام ابويوسف په قول نه به يې راګرځوي. ۱۲ صافي عفی عنه

انما يثبت القدرة اذا لم يکن مصروفًا الى جهة اهم حتى اذا کان على بدنه او ثوبه نجاسة يصرفه الى النجاسة ثم القدرة يثبت بطريق الاباحة و بطريقة التمليک فان قال صاحب الماء لجماعة من المتيممين ليتوضأ بهذا الماء ايکم شاء على الانفراد و الماء يکفى لکل واحد منفردا ينتقض تيمم کل واحد فاذا توضأ به واحد يعيد الباقون تيممهم لثبوت القدرة لکل واحد على الانفراد و اما اذا قال هذا الماء لکم و قبضوا لا ينتقض تيممهم اما عندهما فلانّ هبة المشاع يوجب الملک على سبيل الاشتراک فيملک کل واحد مقدارًا لا يکفيه و اما عند ابي حنيفه رحمه الله و فان الاصح انه يبقى على ملک الواهب و لم يثبت الاباحة لانه لما بطل الهبة يطل ما فى ضمنها من الاباحة ثم ان اباحوا واحداً بعينه ينتقض تيممه عندهما لا عنده لانه لما لم يملکوه لا يصح اباحتهم لا ردّته حتى اذا تيمم المسلم ثم ارتد نعوذ بالله منه ثم اسلم يصح صلاته بذلک التيمم.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: شارح وايي چې مراد د قدرة على الماء الکافي هغه قدرة مراد دی چې شرعًا معتبر وي او دا به هلته معتبر وي چې کله د دې نه جهة اهم نه وي چې شرعًا هغې ته اوبه واړولی شي لکه نجاست حقيقي په بدن يا جامو باندې يعنې که دا نجاست حقيقي وو نو بيا به اوبه د ازالې د نجاست حقيقي لپاره استعمالولی شي او د نجاست حکمي لپاره به نه شي استعمالولی ځکه ازاله د نجاست حقيقي اهم ده د نجاست حکمي نه نو که نجاست حقيقي وو نو بيا قدرت په منزله د عدم دی او تيمم ورته روا دی. **ثم القدرة الخ** غرض د شارح دا دی چې قدرة په اوبو باندې يواځې د ملک پورې منحصر نه دی چې دغه اوبه دې د ده په ملک کې داخلې شي په قبلولو د هبې سره يا صدقې سره يا په اخيستلو سره يا په نورو اسبابو د تمليک سره بلکه دغه قدرت عام دی او شامل دی طريقې

د اباحت نه هم. فرق د تملیک او د اباحت کې دا دی چې تملیک دي ته وایې چې مملک له
یو شیئ ستا په ملک داخل کړي او په هغه باندي د دي احکام او اثار مرتب شي چې دهغه په
خرخولو یا هبه کولو وغیره سره قادره وي لکه څرنګه چې یو انسان په خپل ملک تصرف
کوي، او مباح دي ته وایې چې په هغه شیئ باندي صرف د فایدي اخیستلو واک لري او
داسي تصرف په کې نه شي کولی لکه یو انسان چې یې په خپل ملک کې کوي. **فان قال الخ**
شارح رحمه الله د اباحت یو مثال بیانوي که یو کس سره اوبه وي او یوي ډلي د تیمم کوونکو
ته وواېي چې اودس دي وکړي په دي اوبو باندي د کوم یو چې ستاسو نه خوښه وي په طریقه
د انفراد سره اوبه هم هر یو تیمم کوونکي ته په انفرادي ډول کافي کیدلي نو د هر یو تیمم
مات شو خو کله چې په دي اوبو سره یو کس اودس وکړو نو باقي خلک به بیرته تیمم
راوګرځوي ځکه هر یو ته په انفرادي ډول په طریقه د اباحت سره په اوبو قدرت ثابت شوی
وو خو کله چې قدرت ختم شو نو اعاده د تیمم وورباندي راغله. **و اما اذا قال الخ**. غرض د
شارح د دي نه د تملیک یو مثال بیانوي چې د اوبو والا تیمم کوونکو ته وواېي چې دا اوبه
ستاسو شوي او تیمم کوونکو هغه اوبه قبض کړي نو د تیمم کوونکو تیمم نه ماتیږي **اما
عندهما الخ** هبه د مشاع دهغه شیئ چې مشترک وي شائع وي غیر منقسم وي که دهغه
قبیلي څخه وه چې نه شي تقسیمدلی یعني که تقسیم شي نو فایده تري نه شي اخیستلی
لکه ژرنده، حمام وغیره نو دا هبه بالاتفاق جائز ده او که دغه شیئ دهغي قبیلي څخه وو
چې تقسیمدلی شي نو د دي هبه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد به غیر نافذه وي یعني
احکام به پري نه جاري کیږي تر څو چې تقسیم نه شي او د هر یو حصه معلومه نه شي او د
صاحبینو په نزد دا هبه به هم نافذه وي او مفیده د ملک به وي، نو د اوبو په دي صورت کې
د صاحبینو په نزد هبه د مشاع ملک ثابتوي په طریقه د اشتراک سره نو هر یو د دوی نه د
هغه مقدار اوبو مالک کیږي چې هغه یې نه کافي کیږي د اودس لپاره او د امام ابوحنیفة
رحمه الله په نزد صحیح خبره دا ده چې دغه موهوب مشاع په ملک د واهب کې پاتي کیږي
یعني تیمم کوونکي د دي مالکان نه ګرځي. **و لم یثبت الخ** دا دفع د یو اعتراض ده چې هبه
مفیده د دوه امرینو ده، ۱- ملک. ۲- اباحة. د انتفاع نو بطلان د ثبوت د ملک په دي وجه چې
دا هبه د مشاع ده مستلزم نه ده بطلان د اباحت لره ځکه اباحت په مشاع کې هم صحیح کیږي

نو په دي صورت کې باید اباحت پاتي شي او تیمم مات شي؟ نو شارح جواب وکړ چې په دي صورت کې اباحت په طریقي د استقلال سره نه دی بلکې په ضمن د هبې کې دی او هر کله چې هبه باطله شوه نو هغه څه چې په ضمن د هبه کې دي چې هغه اباحت دی هم باطل شو. **ثم ان اباها الخ** بیا که موهوب لهم یعني هغه کسانو چا ته چې اوبه هبه شوي وي هغوی دا اوبه یو خپل ملګري ته هبه کړي مثلاً زید ته نو د زید تیمم مات شو د صاحبینو په نزد ځکه اباحت د موهوب لهم خپل ملګري زید ته صحیح شو ځکه موهوب لهم د دي اوبو مالکان شوي وو په قبلولو د هبې سره اما د امام ابوحنیفه په نزد د زید تیمم نه ماتیږي، ځکه موهوب لهم د دي اوبو مالکان نه دي ګرځیدلي ځکه دا هبه د مشاع ده نو اباحت د موهوب لهم هم نه صحیح کیږي ځکه چې یو کس د یو شیئ مالک نه وي نو دهغه د اباحت مالک به هم نه وي. **لا ردته الخ** یعني په ارتداد سره د تیمم کونکي تیمم نه ماتیږي که یو مسلمان العیاذ بالله مرتد شي او بیا مسلمان شي او د تیمم بل نواقض موجود نه وي نو په دي تیمم سره اوس لمونځ کولی شي. ۱۲ عبدالرشید صافي عفی عنه.

و نُدِب لراجیه ای لراجي الماء ان یؤخر صلاته اخر الوقت فلو صلی بالتیمم فی اول الوقت ثم وجد الماء و الوقت باق لا یعید الصلوة و یجب طلبه قدر غلوة لو ظنه قریبًا و الافلا الغلوة مقدار ثلثمائة ذراع الی اربعمائة و عن ابي یوسف انه اذا کان الماء بحیث لو ذهب الیه و توضأ تذهب القافلة و تغیب عن بصره کان بعیدًا جاز له التیمم قال صاحب المحیط هذا حسن جدًا.

توضیح المسئلة: که د اوبو امید یې وو چې اوبه به پیدا شي نو مستحب ده چې لمونځ وروسته وکړي د اول وخت نه تر اخر وخته پوري چې اکمل الطهارتین چې هغه اودس ده راشي خو دغه تأخیر واجب نه ده که په اول وخت کې یې په تیمم سره لمونځ وکړو بیا یې اوبه پیدا کړي او وخت باقي وو نو د لمونځ اعاده وربانديي نشته.

و یجب طلبه الخ غلوة اندازه د غشي ویشتلو ته وایي چې د دري سوو نه تر څلور سوو ګزو پوري راځي، خلاصه دا ده فاقد الماء یعني د اوبو نه موندونکی که په ابادي کې وو نو په ده طلب د اوبو واجب ده ځکه په ابادي کې اکثره اوبه وي که نه وي نو چې د ده عجز خو ثابت

شي او كه په صحرا يعني دشته كې وو نو كه ګمان يې دا وو چې اوبه نزدې دي نو طلب وربانډي په اندازه د غلوه واجب ده او كه ګمان يې د نزدې والي د اوبو نه وو نو طلب وربانډي واجب نه ده بلكې مستحب ده كه طمع د اوبو يې وه. **وعن ابي يوسف الخ** امام ابويوسف رحمه الله وايې كه اوبه دومره ليرې وي چې كه اوبو ته ورځي او اودس كوي نو قافله او كاروان ترې ځي او د ده د نظر څخه غايبيږي نو دا ليرې دي نو تيمم ورته جائز دی صاحب د محيط وايې چې د امام ابويوسف قول ډير ښكلی دی ځكه حرج په كې نشته.

ولو نسيه مسافر في رحله و صلى متيمماً ثم ذكره في الوقت لم يعد الا عند ابي يوسف و الخلاف فيما اذا وضعه بنفسه او وضعه غيره بامره اما اذا وضعه غيره و هو لا يعلم فقد قيل يجوز التيمم اتفاقاً و قيل الخلاف في الوجهين كذا في الهداية و يجب ان يعلم ان المانع عن الوضوء اذا كان من جهة العباد كأسير يمنعه الكفار عن الوضوء او محبوس في السجن و الذي قيل له إن توضأت قتلتك فيجوز له التيمم لكن اذا زال المانع ينبغي ان يعيد الصلوة كذا في الذخيرة.

توضيح المسئلة: كه يو مسافر په خپل بار كې اوبه اېښې وي او ترې هيرې شوې او لمونځ يې په تيمم سره وكړ بيا د لمونځ څخه وروسته په داخل د وخت كې وريادې شوې چې له ما سره خو په بار كې اوبه وې نو د امام ابوحنيفة رحمه الله او د امام محمد رحمه الله په نزد اعاده د دغه لمونځ وربانډې نشته، ليكن د امام ابويوسف رحمه الله په نزد وربانډې اعاده د لمونځ واجب ده ځكه كله چې له ده سره په بار كې اوبه وې نو دا قادره په اوبو وګرځيده. او مونډونكی د اوبو نو د ده نسيان ته به اعتبار نه وي دغه اختلاف د ائمو ترمينځ په هغه صورت كې دی چې كله يې اوبه په خپله اېښې وي او يا بل چا اېښې وي خو په امر د ده اما كه بل چا اېښې وي او ده ته په هغې علم نه وو نو بعضي علماء وايې چې بيا په اتفاق د ائمه ثلاثو زمونږ سره تيمم د ده جائز ده، **وقيل الخ** او بعضي علماء وايې چې دغه اختلاف په دواړو وجهو كې دی يعني اول چې بل اېښې وي د ده په امر سره. دويم چې بل اېښې وي بغير د ده د امر نه لكه په هدايه كې هم ذكر دي. **ويجب ان يعلم الخ** هغه عذر چې مباح كوونكی د تيمم وي په دوه قسمه دی. ۱-چې د الله پاک له طرفه وي لكه مرض، يخني، ويره د تندي

وغیره نو په دې وخت کې تیمم ورته جائز دی او په وقت د قدرت علی الماء کې اعاده د لمونځ ورباندې واجب نه ده. ۲- چې من جهة العباد وي. **کاسیر الخ** لکه یو بندي د کفارو په لاس کې چې د اودس نه يې منعه کړي، او **محبوس الخ** او یا په جیل کې بندي کړی شي او به پیدا نه کړي **و الذی قیل له الخ** یا هغه کس چې ورته وویل شي چې که اودس دې وکړ نو قتل به دې کړم یا به دې ووهم نو په دې ټولو صورتونو کې تیمم ورته جائز دی چې فی الحال پرې لمونځ ادا کړي لیکن که دغه مانع لیرې شي مثلاً بندي د بند نه خلاص شي وغیره نو بیا ورباندې اعاده د لمونځ واجب ده کذا فی الذخیرة. ۱۲ عبدالرشید صافي عفی عنه.

باب المسح علی الخفین

ای هذا باب فی احکام المسح علی الخفین (بنایه ج۱ص۵۷۰) جاز با السنة ای با السنة المشهورة فیجوز بها الزیادة علی الکتاب فان موجبه غسل الرجلین للمحدث،

توضیح المسئلة: ۱- وجه د مناسبت د ماقبل سره دا ده چې د اهر یو بدل ده یعني تیمم بدل د اودس څخه ده او مسح علی الخفین بدل د غَسل د رجلینو څخه ده.

۲- من حیث الرخصة سره مناسبت لري یعني مسح هم رخصة رواء شوي لکه تیمم چې رخصةً روا شوی.

۳- هر یو طهارت دي د تیمم طهارت په خاوره دی او د مسح طهارت په اوبو سره دی.

۴- هر یو بدل د غَسل نه دی.

سوال: په کار دا وه چې بیان د مسح مقدم وائی په تیمم باندې ځکه مسح بدل د بعض نه دی او تیمم بدل د کل نه دی او بعضي بدل د مقدم وي په کل بدل باندې؟ **جواب**: جواب ستا خبره صحیح ده خو ثبوتَ د تیمم په کتاب الله سره دی او ثبوت د مسح په حدیثو سره شوی نو تقدیم د تیمم اولی شو په مسح باندې. (بنایه ج۱ ص ۵۷۰) **قوله جاز الخ** په دې لفظ کې اشاره دې ته ده چې مسح علی الخفین واجب نه ده که مسح يې وکړه نو هم جائز ده او که يې ونه کړه نو هم جائز ده، ده ته اختیار ده چې مسح په موزو کوي او که موزې اوباسي او پښې وینځي. او په مستصفي کې راغلي چې جائز يې ځکه وویلې چې غَسل افضل دی د مسح نه ځکه غسل د اختلاف څخه لیرې دی او اترازي وايې چې جائز يې ځکه وویلې چې که یو کس با الکل مسح

ونه کړي او موزي وباسي او پښي ووينځي نو نه ګناه کاريږي. ‹بنايه ج١ ص ٥٧٠› **قوله با السنة الخ** غرض د مصنف رحمه الله د دي نه رد دی په هغه چا چې وايي چې د مسح ثبوت په كتاب الله سره شوی چې و ارجلكم دی په جر سره نو دا قول ځکه صحيح نه ده چې د ارجلكم سره الى الكعبين ذكر دی. او الى الكعبين منافات د مسح سره لري ځکه مسح په اتفاق د ټولو علماؤ محدوده تر كعبينو پوري نه ده نو معلومه شوه چې مراد د دي نه غسل دی ځکه غسل محدود تر كعبين پوري دی، او لفظ د سنت يې وويل او حديث يې ونه ويل ځکه حديث اكثراً خاص وي تر قول د نبي عليه السلام پورې او تر قول د اصحابو پورې او لفظ د سنت عام دی قول دنبی عليه السلام ته فعل د نبي عليه السلام ته او تقرير د نبي عليه السلام ته نو په دي کې اشاره دي ته شوه چې مسح په هر يو قسم د اقسامو د سنتو نه ثابته ده. **اى با السنة المشهورة الخ** سنة مشهوره دي ته وايي چې په اصل کې احاد وي يعني د اصحابوو په زمانه دومره عدد روايت كړی وي چې حد د تواتر ته نه شي رسيدلی بيا تابعينو د دي روايت كړی وي بيا تبع تابعينو تردي پوري چې دومره خلكو د دي روايت كړی وي چې د دوی راجمع كيدل په دروغو محال وي که د اصحابو په زمانه کې دومره خلكو روايت كړی وي چې د دوی توافق په دروغو محال وي نو بيا دا حديث تواتر دی او که په يوه زمانه هم عدد د تواتر نه ونه رسيده نو دا بيا خبر واحد دی او روايات د حديث د مسح په خفينو حدد كثرت ته رسيدلي تردي پوري چې حسن بصري وايي چې ما اويا (٧٠) بدري صحابه كرام موندلي چې ټولو مسح على الخفين باندي اقرار كاوه. ‹فقه حنفي ج ١ ص ٩٥› امام ابوحنيفة رحمه الله په خپل سند متصل سره همام بن حارث ځخه روايت كړی چې همام بن حارث جرير بن عبدالله البجلي وليده چې اودس يې وكړو او په موزو باندي يې مسح وكړه همام د جرير نه د مسح په باره کې پوښتنه وكړه. نو حضرت جرير رضی الله عنه ورته وويل چې ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلی چې داسي به يې كول او ما د نبي عليه السلام سره د سورة مائدي د نزول ځخه وروسته ملګرتيا كړي.

‹فقه حنفي ج ١ ص ٩٤› **و فى المبسوط عن ابي حنيفة انه قال ما قلت با المسح حتى جاء فى مثل ضوء النهار، و فى الاسبيجابي حتى وردت اثار اضوأ من الشمس و فى المحيط عن ابي حنيفه من الكر المسح على الخفين يخاف عليه الكفر و فى النوادر عن الكرخي من الكر المسح على الخفين يخاف عليه الكفر.** ‹بنايه ج ١ ص ٥٧١› نو مسح على الخفين په حديث مشهور سره

ثابته ده او په حدیث مشهور سره زیادت په کتاب الله باندي جائز دی ځکه موجب او مقتضی د کتاب الله غسل د رجلینو ده او موجب د حدیث مشهوره مسح علی الخفین ده.

للمحدث دون من علیه الغسل قیل صورته جنب تیمم للجنابة ثم احدث و معه من الماء ما یتوضأ به فتوضأ به و لبس خفیه ثم مر علی ماء یکفی الاغتسال و لم یغتسل ثم وجد من الماء ما یتوضأ به فتیمم ثانیًا للجنابة فان احدث بعد ذلک توضأ و نزع خفیه.

توضیح المسئلة: للمحدث متعلق دی تر جاز پوري یعني مسح علی الخفین جائز ده محدث لره یعني هغه کس ته چې په هغه اودس واجبوي سړی وي او که ښځه وي خو مسح د هغه چا لپاره نه صحیح کیږي چې په هغه غسل واجب وي لکه حائضه ښځه د نفاس والا ښځه او هغه کس چې احتلام یې نه وي شوی له وجې د حدیث د حضرت صفوان رضی الله عنه چې نبي علیه السلام به مونږ ته امر کاوه کله به چې مونږ مسافر وو چې د دري ورځو او شپو پوري به مونږ خپلي موزي نه وباسو مګر د جنابت د وجې نه وجه په کې دا ده چې جنابت په عام طور نه تکراریږي نو د موزو په ویستلو کې حرج نشته په خلاف د حدث اصغر سره چې هغه تکراریږي نو په دي کې مسح د دفع د حرج لپاره رواه شوه . **قیل صورته الخ** شارح رحمه الله وایي په حالت د غسل کې مسح نه شي کیدی ځکه غُسل کوونکی چې په سر اوبه راواړه وي نو اوبه یې پښنو ته رسیږي ځکه علماؤ د دي لپاره یو صورت ذکر کړی چې یو جنب سړی په وخت د نشتوالی د اوبو کې د جنابت لپاره تیمم وکړي بیا بي اودسه شي او له ده سره دومره اوبه وي چې په هغو اودس کولی شي په هغو باندي اودس وکړي او موزي واغوندي بیا په داسي اوبو تیر شي چې د غُسل لپاره کافي کیدلي خو ده غُسل ونه کړو بیا دغه اوبه ختمي شي بیا یې دومره اوبه پیدا کړي چې په هغو اودس کیدلی شو نو د جنابت لپاره یې دویم وار تیمم وکړو نو که چیرته بیا بي اودسه شو نو اودس کول ورباندي لازم دي او موزي به اوباسي او پښي به وینځي ځکه په دي اودس کې مسح نه کافي کیږي ۱۲ صافي.

خطوطًا باصابع منفرجة یبدأ من اصابع الرجل الی الساق هذا صفة المسح علی الوجه المسنون فلو لم یفرج الاصابع لکن مسح مقدار الواجب جاز و ان مسح باصبع واحدة ثم بلها و مسح ثانیًا ثم هکذا جاز ایضًا ان مسح کل مرة غیر ما مسحه قبل ذلک و ان مسح بالابهام و المسبحة منفرجتین جاز ایضًا لان ما بینهما مقدار اصبع اخری و سئل عن

محمد عن صفة المسح قال ان يضع اصابع يديه على مقدم خفيه و يجافي كفيه و يمدهما الى الساق او يضع كفيه مع الاصابع و يمدهما جملة لكن ان مسح بروٗس الاصابع و جافٰى اصول الاصابع و الكف لا يجوز الا ان يبتل من الخف عند الوضع مقدار الواجب و هو مقدار ثلث اصابع هكذا ذكر فى المحيط و ذكر فى الذخيرة ان المسح بروٗس الاصابع يجوز ان كان الماء متقاطرًا لانه اذا كان الماء متقاطرًا فا الماء ينزل من اصابعه الى رؤسها فاذا مُدَّ كأنه اخذ ماءً جديدًا.

توضيح المسئلة: غرض د مصنف بيان د طريقي د مسح دی په وجه مسنون سره. طريقه دا ده چې لاسونه به په تازه اوبه لامده کړي بيا په موزو کړښي راکاږي په ګوتو سره چې ګوتي به خلاصي وي او د پښو د ګوتو د طرف نه به شروع وکړي د پنډۍ خوا ته دا خو حد د مسح مسنون دی او فرض محل په مسح کې معقد الشراک دی يعني هغه ځای د تسمي د تړلو دی حضرت مغيره بن شعبه رضی الله عنه فرمايي چې ما رسول الله صلی الله عليه و سلم وليده چې اودس يې مات کړ بيا راغی او اودس يې وکړو او په موزو باندي يې مسح وکړه ښي لاس يې په ښي موزه کېښوده او چپ لاس يې په چپه موزه کېښوده بيا يې مسح وکړه پورته طرف د موزو ته په يو ځل مسح کولو سره تردي پوري چې ما د پيغمبر عليه السلام ګوتو ته په موزو باندي کتل. يعني اثر د مسح ته په موزه د رسول الله صلی الله عليه و سلم چې کرښي په ګوتو سره وي. (اخرجه ابن ابی شيبة فقه حنفي، هدايه ، بنايه) **فلو لم يفرج الخ** غرض د شارح د دي نه بيان د مسح غير مسنونه دی که چيرته يې د مسح په وخت کې ګوتي پراخه نه کړي ليکن په هغه اندازه واجبي سره مسح وکړي چې هغه اندازه د دري وړو ګوتو د لاس دی نو دا هم جائز دي خو خلاف مسنون ده او که په يوي ګوتي سره يې مسح وکړه بيا يې هم دا ګوته لمده کړه او دويم ځل يې بل ځای مسح کړ همدارنګه دريم ځل او څلورم ځل نو دا هم جائز ده خو خلاف مسنون ده او که مسح يې په غتي ګوتي او مسواکي ګوتي سره وکړه په داسي حالت کې چې دواړه يو ځای نه وي بلکې پراخه وي نو دا هم جائز ده ځکه د غتي ګوتي او مسواکي ګوتي ترمينځ د يوي ګوتي مقدار شته نو دا داسي شوه لکه په دري ګوتو سره مسح کول. **وسئل عن محمد** ﷫ : د امام محمد رحمه الله نه د مسح د طريقي په باره کې پوښتنه وشوه نو امام محمد رحمه الله ووېل چې د لاسو ګوتي به د موزو په مخکي حصه باندي

کیدي او ورغوي به لیري ساتي اولاسونه به د پنډۍ خواته راکاږي او یا ورغوي سره د ګوتو په موزو باندي کیږدي او یو ځای تړول راکاږي لیکن که د ګوتو په سرو یې مسح وکړه او د ګوتو بیخونه او ورغوي یې د موزي څخه لیري وساتل نو دا جایز نه ده ځکه د ګوتو د سر لوندوالی په صرف رسیدو سره موزي ته مستعمل ګرځي لکن که موزه که د ګوتو د کینښودو په وخت کې د دري ګوتو په اندازه لمده شوه نو بیا دا هم جائز دی چې صرف د ګوتو سرونه پري راکاږي همدارنګه په محیط کتاب کې ذکر شوی او په ذخیره کې ذکر دی چې مسح د ګوتو په سرونو سره جائز ده خو که اوبه تري څځیدلي ځکه کله چې د ګوتو څخه اوبه ځاځیږي او ګوتي په موزه راکاږي نو اوبه د ګوتو څخه د ګوتو سرو ته راکوزیږي نو کله چې ګوته کش کړی شي، نو ګویا چې تازه اوبه یې راواخیستي.

فائده: د محیط او د ذخیري عبارت یې د دي لپاره رانقل کړ چې ظاهر کې د دواړو عبارتونو ترمینځ منافات ښکاره کیده ځکه د محیط د عبارت څخه دا معلومیږي چې مسح په سرونو د ګوتو جائز نه ده مګر هلته جائز ده چې هغه مقدار واجب لوند شي او د ذخیري د عبارت څخه معلومیږي چې مسح په سرونو د ګوتو جائز ده که اوبه تري څځیدلي خو حقیقت کې د دواړو ترمینځ منافات نشته ځکه شرط د جواز د مسح لپاره د ګوتو په سرو سره دوه امره دي ۱-التقاطر یعني څځیدل. ۲-ابتلال عند الوضع یعني لوندوالی په وخت د کینښودو کې نو په محیط کې یې ابتدلال عند الوضع ذکر کړي او په ذخیره کې یې تقاطر ذکر کړی. ۱۲ والله الموفق للسداد و هو المستعان ۱۲ صافي.

و لو مسح بظهر الکف جاز لکن السنة بباطنها و کذا ان ابتدأ من طرف الساق و لو نسي المسح و اصاب المطر ظاهر خفیه حصل المسح و کذا مسح الرأس و کذا لو مشی فی الحشیش فابتَلّ ظاهر خفیه و لو بالطل هو الصحیح علی ظاهر خفیه الخف ما یستر الکعب کله او یکون الظاهر منه اقل من ثلث اصابع الرجل اصغرها اما لو ظهر قدر ثلث اصابع الرجل فلا یجوز لان هذا بمنزلة الخرق و لا بأس بان یکون واسعًا بحیث یُری رجله من اعلی الخف.

ترجمة العبارة مع الوضاحة: او که د ورغوي په شا یې مسح وکړه نو دا هم جائز ده ځکه مقصود حاصل شو لیکن مسنونه طریقه دا ده چې د ورغوي په باطن سره وي همدارنګه که د پنډۍ د خو انه یې مسح شروع کړه نو هم جائز ده خو خلاف سنت ده ځکه کیفیت با الذات

مقصود نه دی **و لو نسي الخ** که مسح علی الخفين يې هيره شوه او ظاهر د موزو ته باران يا د نهر اوبه وغيره ورسيدي نو دغه هم د حصول د مسح لپاره کافي دي او زمونږ په نزد نيت ته په کې ضرورت نشته په خلاف د امام شافعي چې د امام شافعي رحمه الله په نزد په اودس کې نيت شرط دی او مسح يو جزء دی د اودس نه. **و کذا مسح الرأس الخ** همدارګه که د يو انسان نه د سر مسح پاتي شي او سر ته يې باران ورسيږي او د سر څلورمه حصه لمده شي نو دا هم کافي ده د مسح نه، و کذا لو مشی الخ همدارنګه که ديو کس موزي په پښو وي او په ګياه کې تګ وکړي او ظاهر د موزو لوند شي اګر که په شبنم سره او دا صحيح خبره ده ځکه شبنم هم کمزوري اوبه دي. **ظاهر خفيه الخ** دا متعلق دی تر يبدأ پوري يا تر جاز پوري يعني جائز ده مسح په ظاهر د موزو باندي په دي کې رد دی په هغه چا چې مسح واجبه وي په باطن د موزو باندي هم، دوی اخذ کړی دهغه حديث نه چې امام ترمذي ابوداود وغيره، د دي تخريج کړي د مغيره نه فرمايې چې ما پيغمبر عليه السلام ته د اودس اوبه ورواچولي نو نبي عليه السلام مسح په موزو وکړه په لاندي طرف د دي او په پاس طرف د دي، خو دا حديث ابوزرعه، او امام بخاري، احمد وغيره ضعيف ګرځولي او ډير احاديث او روايت د نبي عليه السلام او د اصحابو څخه په اکتفاء کې په مسح سره په ظاهر طرف د موزو باندي راغلي، **روی ابن ابي شيبة عن عمر ﷺ ان النبي صلی الله عليه و سلم امر با المسح علی ظهر الخفين. الحديث.** (اعداء السنن ج۱ ص ۲۴۱) (فقه حنفی ج۱ ص ۹۵) **ويمسح علی الخفين علی ظاهرهما** (ترمذی ج۱ ص ۶۷) **وعن علی ﷺ قال لو کان الدين با الرأی لکان اسفل الخف اولی باال المسح من اعلاه و قد رأيت رسول الله يمسح علی ظاهر خفيه.** (ابوداود ج۱ ص ۴۲ ،فقه حنفی ج۱ ص ۹۶)

الخف الخ يعني هغه موزه چې په هغه مسح جايز کيږي هغه ده چې قدم پټ کړي سره د کعب يعني ښنګري نه او يا ښکاره ځای د دي کم وي دهغه دري وړو ګوتو د پښي نه ځکه که چيرته په اندازه د دري وړو ګوتو د پښي ښکاره شي نو مسح پري جائز نه ده ځکه دا بيا په منزله دهغه خيروالي ده چې مانع د مسح نه ده، او دا څه پروا نه لري چې موزه داسي پراخه وي چې د پورته خوا نه پښه وليدل شي.

او جر موقيه ای علی خفين يلبسان فوق الخفين ليکونا وقاية لهما من الوحل و النجاسة

فأن كانا من اديم او نحوه جاز عليهما المسح سواء لبسهما منفردين او فوق الخفين و ان كانا من كرباس او نحوه فأن لبسهما منفردين لا يجوز و كذا ان لبسهما على الخفين الا ان يكونا بحيث يصل بلل المسح الى الخف الداخل ثم اذا كانا من نحو اديم و قد لبسهما فوق الخفين فأن لبسهما بعد ما احدث و مسح على الخفين لا يجوز المسح على الجرموقين و ان لبسهما قبل الحدث و مسح عليهما ثم نزعهما دون الخفين اعاد المسح على الخفين الداخلين بخلاف ما اذا مسح على خف ذى طاقين فنزع احد الطاقين لا يعيد المسح على الطاق الاخر و ان نزع احد الجرموقين فعليه ان يعيد المسح على الجرموق الاخر و عن ابي يوسف انه يخلع الجرموق الأخر و يمسح على الخفين.

توضيح المسئلة: جرموق هغي ته ويل كيږي چې د موزي دپاسه اغوستل كيږي او پندې يې د موزي څخه لنډه وي د دي لپاره چې موزه د ختو او نجاست څخه وساتي كه جرموق د څرمني وغيره څخه وو نو دا بيا په حكم د موزو كې دى او مسح پري جائز ده د موزو څخه ځان ته وي او كه د موزو له پاسه وي **و ان كان من كرباس الخ** او كه جرموق د توتي څخه وو يا د دي په شان د نورو بعضو شيانو څخه لكه كتان وغيره كه چيرته ئې بي له موزو څخه اغوستلى وو نو مسح پري جائز نه ده ځكه شروط د مسح په كې نشته چې پرلپسي تگ دى په دي كې او بل چې اوبه داخلي نه شي د دي نه پښي ته او په كرباس كې دا دواړه شرائط نشته او كه چيرته دا دواړه شرائط په كرباس كې موجود شي نو بيا مسح پرى جائز ده همدارنگه كه دغه دكرباس جرموق يې د موزو دپاسه اغوستلي وو نو هم مسح پري نه صحيح كيږي مگر كه جرموق په دي شان وو چې د مسح لوندوالى داخل د موزي ته رسيده نو بيا پري مسح جائز ده ځكه دا بيا مسح په موزه راغله

ثم اذا كانا الخ او كه جرموقين د څرمني وغيره څخه وو او د موزو دپاسه يې اغوستلي وو نو كه د بي اودسه كيدو او د مسح على الخفين څخه يې وروسته اغوستلي وو نو بيا په جرموقينو مسح جائز نه ده ځكه حدث حكما په موزه نازل شوي او د پښي په ځاى بدليت موزي ته ثابت شو نو د دي نه وروسته بدليت جرموق ته نه ثابتيږي. **و ان لبسهما الخ** او كه جرموق يې د بي اودسى نه مخكې اغوستلي وو او مسح يې وكړه په دي باندي بيا يې صرف

جرموقين ويستل نه موزي نو بيا به په موزه مسح وکړي ځکه جرموق د پښي نه هلته بدل وي تر څو چې په پښه کې وي او کله چې ليري شو نو پښه بغير د غسل او د مسح څخه پاتي شوه او بدليت موزي ته انتقال شو نو د موزي مسحه کول واجب دي. **بخلاف ما اذا الخ** که يوه موزه ذی طاقين وه يعني هغه موزه چې د دوه څرمنو څخه جوړه شي يوه يې باطن وي او بله يې ظاهر وي نو که په دغه موزه باندي مسح وکړي او بيا يې يو پوښ ليري کړ نو په دي بل باندي د مسح کولو اعاده نشته ځکه دا دواړه پوښونه په حکم د شيئ واحد کې دي نو که يو پوښ لري شی نو هغه بل ته ضرر نه رسوي يعني مسح به باقي وي او که يو د جرموقينو څخه يې ويستلو نو بيا به يا په جرموق اخر باندي هم مسح کوي او يا به دواړه اوباسي او په موزو باندي به مسح کوي ځکه جرموقين جدا جدا شيان دي نو په احدهما مسح کول په بل مسح نه راځي امام ابويوسف رحمه الله وايي چې دويم جرموق به اوباسي او مسح به په موزو کوي او تجديد د مسح په جرموقين باندي نه کافي کيږي وجه د امام ابويوسف قياس د جرموق ده په موزه باندي کله چې يوه موزه وباسي نو بله به هم وباسي او پښي به وينځي همدارنګه که يو جرموق وباسي نو بل جرموق به هم وباسي او مسح به په موزو کوي خو د دي جواب دا دی چې دموزی په صورت کی د دويمی موزی ويستل ځکه واجب دی چې جمع بين البدل و المبدل منه رانه شي او په جرموق کې خو جمع بين البدل و المبدل منه نه شي راتلای ځکه جرموق بدل د پښي نه دی نه د موزي څخه ۱۲ .

او جوربيه الثخينين اى بحيث يستمسكان على الساق بلا شده منعّلين او مجلدين حتى اذا كانا ثخينين غير منعّلين او مجلدين لا يجوز عند ابي حنيفة خلافًا لهما و عنه انه رجع الى قولهما و به يفتى، ملبوسين على طهر تام وقت الحدث فلو توضأ وضوءً غير مرتب فغسل الرجلين و لبس الخفين ثم غسل باقى الاعضاء ثم احدث و توضأ او توضأ وضوء مرتبًا فغسل رجله اليمنى و ادخلها الخف ثم غسل رجله اليسرى و ادخلها الخف ليست له طهارة تامة فى الصورة الاولى اذا لبس الخفين و فى الصورة الثانية اذا لبس اليمنى لكنهما ملبوسان على طهارة كاملة وقت الحدث.

بيان المسح على الجوربين: جرابه دي ته وايي چې د دفع د يخني لپاره اغوستلی شي دا بعضي د توتي څخه وي او بعضي د وړی څخه وي او بعضي د څرمني څخه وي، جورب

مجلدين دي ته وايي چې لاندي او پاس طرف ته څرمنه وي، او منعل دي ته وايې چې صرف لاندي طرف ته يې څرمن وي لکه نعل د قدم لپاره (بنايه) ثخينين دي ته وايي چې د پنډۍ پوري بي له تړلو څخه نښلي، مسح په جرابو باندي په دري قسمه ده. ۱-که ثخينين منعلين وي نو بالاتفاق پري جائز ده. ۲-او که نه ثخينين وي او نه منعلين وي نو بيا بالاتفاق بين اصحابنا پري مسح جائز نه ده. ۳-که ثخينين وي خو منعلين يا مجلدين نه وي نو بيا د امام ابوحنيفه په مذهب پري مسح جائز نه ده ځکه دي کې هميشه تګ نه کيږي او د صاحبينو په نزد مسح پري جائز ده ځکه کله چې ثخينين وي او لاندي تري څه نه ښکاري نو د دي مثال د موزي شو نو امکان ددي لري چې په دي کې تګ وشي. (بنايه ج۱ ص ۶۰۸) **وعنه انه الخ** او يو روايت کې راغلي چې امام ابوحنيفه د صاحبينو قول ته د خپل وفات څخه اوه (۷) ورځي مخکې رجوع وکړه او همدا مفتي به قول دی، اما دا موجوده زمانه کې چې کومي جرابي دي په دي مسح جائز نه ده فقه حنفي وايي و **اما الجوارب الرقيقة فلا يجوز المسح عليها** يعني په دي نري جواربو مسح جائز نه ده. (فقه حنفي) **ملبوسين الخ** دا صفت دی د هر يو لپاره چې خفين، جرموقين او جوربين دي يعني داسي موزي او جرموقين او جرابي چې واغوستلی شي په پوره اودس سره **وقت الحدث** لږ مخکې د وقت د بي اودسی څخه **فلو توضأ الخ** غرض د شارح بيان د تفريع دی په وقت الحدث باندي نو زمونږ د احنافو په نزد په اوداسه کې ترتيب فرض نه ده نو که يو کس بي ترتيبه اودس وکړي يعني اول پښي ووينځي او موزي واغوندي بيا باقي اندامونه ووينځي بيا بي اودسه شي او اودس وکړي نو دا اول صورت شو او په دي صورت کې د ده لپاره طهارت کامله رانغی ځکه د موزو د اغوستلو په وخت کې خو ده صرف پښي وينځلي وي. او نور اودس خوی وروسته مکمل کړو اما که موزي يې ونه ايستلي نو د اينده بي اودسی په وخت کې بيا د کامل اودس والا دی، **او توضأ الخ** دا د دويم صورت بيان دی چې په ترتيب سره اودس وکړي خو کله چې ښی پښه ووينځي نو موزه ورواغوندي او بيا چپه پښه ووينځي او موزه ورواغوندي نو په دي صورت کې هم د موزو اغوستلو په وخت کې د پوره اودس خاوند نه دی ځکه ده اودس مکمل کړی نه وو او ښی پښي ته يې موزه واغوندله بيا يې د چپي پښي په وينځلو سره اودس مکمل کړو. **لكنهما الخ** يعني په دواړو صورتونو دا صادقيږي چې دا موزي اغوستل شوي په پوره اودس سره په

وخت د راتلونكي حدث كې نو په دې دواړو صورتونو كې كه بيا حدث راغى نو مسح په موزه جائز ده ځكه بقاء د لبس په طهارت كامله سره موجوده ده.

فعلم ان قوله ملبوسين احسنُ من عبارتهم و هى اذا لبسهما على طهارة كاملة ان المراد الطهارة الكاملة وقت الحدث و هذا الوقت هو زمان بقاء اللبس لا زمان حدوثه فيصح ان يقال هما ملبوسان على طهارة كاملة وقت الحدث و لا يصح ان يقال لبسهما على طهارة كاملة وقت الحدث لان الفعل دال على الحدوث و الاسم دال على الدوام و الاستمرار.

توضيح: نو معلومه شوه چې د مصنف د اقول چې ملبوسين دي د نورو فقهاؤ دهغه عبارت نه ښكلي دي چې وايې **اذا لبسهما** يعني كله چې پوره اودس سره واغوندي ځكه مراد د طهارت نه طهارت كامله ئي په وخت د بې اودسې كې او مراد د دغه حدث نه هغه زمانه د بقاء د لبس ده نه زمانه د حدوث د لبس نو صحيح ده دا چې وويلى شي چې دا موزي اغوستل شوي دي په پوره اودس سره په وخت د حدث كې خو دا صحيح نه ده چې وويلى شي چې دا دواړه ئې اغوستي دي په پوره اودس سره په وخت د حدث كې ځكه فعل دلالت په حدوث كوي او اسم دلالت په دوام او استمرار كوي.

لا على عمامة و قلنسوة و برقع وقفازين القفّاز ما يلبس الكف ليكف عنها مخلب الصقر و نحوه و فرضه قدر ثلث اصابع اليد فان مسح رسول الله صلى الله عليه و سلم كان خطوطا فُعِلم انها بالاصابع دون الكف و ما زاد على مقدار ثلث اصابع انما هو بماء مستعمل فلا اعتبار له فبقى مقدار ثلث اصابع و لا يفرض فيه شيئٌ اُخر كالنية وغيرها.

لغات: ۱-**عمامة**: پګړۍ. ۲-**قلنسوة**: خولۍ. ۳-**برقع**: چادري. ۴-**قفازين**: دستكلى. ۵-**مخلب**: پنجې. ۶-**صقر**: باز.

وضاحت: په پګړۍ مسح روا نه ده او په كومو رواياتو كې چې په پګړۍ مسح راغلي نو دهغه څخه دا نه معلوميږي چې نبي عليه السلام به صرف اكتفاء په پګړي كړي وى او په سر به يې نه وي كړى بلكې د مسلم په بعضو رواياتو كې دا راغلي چې نبي عليه السلام د سر په څلورمې حصې مسح وكړه او بيا يې په پګړي هم مسح وكړه دا د جمهورو علماؤ مسلك دى همدارنګه

په خولۍ دپاسه هم مسح جائز نه ده همدارنګه د زنانه لپاره په چادرۍ له پاسه هم مسح جائز نه ده او نه د تیکري له پاسه همدارنګه د دستکلو له پاسه مسح د لاسونو د وینځلو په ځای نه کافي کیږي بلکې لاسونه به وینځي **القفاز مایلبس الخ** شارح وایې چې قفاز دی ته وایې چې د لاس پنجې ته د دې لپاره وراغوستل شي چې د ښکار په وخت د باز د پنجو څخه ځان وساتي همدارنګه د یخنۍ نه د بچ کیدو لپاره هم استعمالیږي. **و فرضه الخ** په مسح د موزو کې فرض اندازه د درې ګوتو د لاس ده ځکه د نبي علیه السلام مسح په موزه کرښې دې نو معلومه شوه چې دا مسح په ګوتو سره وه نه په ورغوي سره ځکه کرښې په ګوتو سره راځي نه په ورغوو سره. **و مازاد الخ** یعني که د درې ګوتو څخه یې په زیاتۍ سره مسح وکړه نو یا به په تازه اوبو سره وي یعني غیر دهغه اوبو څخه چې د درې ګوتو لپاره را اخیستل شوي وي او یا به په اوبو مستعملو سره وي یعني په هغه اوبو سره چې د درې ګوتو لپاره را اخیستل شوي وي نو په اول صورت کې تعدد د مسح لازمیږي او په دویم صورت کې استعمال د اوبو مستعملو راځي نو دغه زیاتي ګوتو ته اعتبار نشته نو دغه درې ګوتي اندازه مسح فرض شوه. **و لا یفرض الخ** په مسح کې د درې ګوتو د اندازې څخه ماسوا نور شیان فرض نه دي. لکه نیت ترتیب **موالاة** وغیره ځکه په دې څه دلیل نشته. ۱۲صافي عفی عنه.

و مدته للمقیم یومٌ و لیلة و للمسافر ثلثة ایام و لیالیها من حین الحدث لان قوله علیه السلام یمسح المقیم یومًا و لیلة و المسافر ثلثة ایام و لیالیها الحدیث افاد جواز المسح فی المدة المذکورة و قبل الحدث لا احتیاج الی المسح فا الزمان الذی یحتاج فیه الی المسح و هو من وقت الحدث مقدر با المقدار المذکور.

بیان مدة المسح: د مسح لپاره هغه موده چې مسح په کې جائز کیږي او دهغې نه زیاتي نه صحیح کیږي هغه د مقیم لپاره یوه شپه او ورځ ده او د مسافر لپاره درې ورځې او شپې ده، ابتداء د دې د وقت د بې اودسۍ څخه دی یعني هغې بې اودسۍ چې د موزو د اغوستلو څخه وروسته پیدا کیږي ځکه دا قول د نبي علیه السلام چې مقیم به یوه شپه او ورځ مسح کوي او مسافر به درې شپې او درې ورځې مسح کوي دا خبره فائده کوي چې مسح په دغه مذکوره مودې کې جائز ده او د بې اودسۍ څخه مخکې مسح ته ضرورت نشته نو هغه وخت

چې په هغې کې مسح ته ضرورت راځي چې د وخت د حدث څخه دي اندازه کړی سوي په مقدار مذکور سره چې هغه د مقيم لپاره يو شوا روز دی او د مسافر لپاره دري شوا روزه دي. ۱۲ صافي.

و ينقضه ناقض الوضوء و نزع الخف ذكر لفظ الواحد و لم يقل نزع الخفين ليفيد ان نزع احدهما ناقض فانه اذا نزع احدهما وجب غَسْل احدى الرجلين فوجب غسل الاخرى اذ لا جمع بين الغسل و المسح و كذا ان دخل الماءُ احد خفيه حتى صار جميع الرجل مغسولًا و ان اصاب الماءُ اكثرها فكذا عند الفقيه ابي جعفر و مضِيُّ المدة و بعد احد هذين اى نزع الخف و مضيِّ المدة على المتوضى غسل رجليه فحسب اى على الذى كان له وضوء لا يجب الا غسل رجليه اى لا يجب غسل بقيه الاعضاء و ينبغى ان يكون فيه خلاف مالك بناءً على فرضية الولاء عنده.

نواقض المسح: هر هغه شيئ چې اودس ماتوي نو هغه مسح هم ماتوي ځکه مسح د اودس څخه يو جزء ده کله چې اودس مات شي نو مسح هم ماتيږي نو که مو ده پاتي وه د اودس د تازه کولو سره به مسح هم تازه کوي، بل ماتونکی د مسح ويستل د موزي دی. **ذكر لفظ الخ**: دا دفع د يو اعتراض ده چې مصنف رحمه الله د خف لفظ ولي مفرد ذکر کړ او تثنيه يې ذکر نکړ چې خفيه دی نو شارح رحمه الله. جواب وکړ چې خف يې مفرد ذکر کړ او تثنيه يې ذکر نه کړ د دي لپاره چې دا خبره فائده کړي چې ويستل د يوي موزي هم ماتونکی د مسح دی نو کله چې يې يوه موزه ويستله نو د دغي پښي وينځل وراندي واجب شول ځکه بي اودسي قدم ته سرايت وکړ ځکه موزه مانع د سرايت د حدث نه وه او هغه مانع لري شو نو اوس د دويمي پښي وينځل وراندي هم لازم شو نو موزه به وباسي او پښه به ووينځي ځکه جمع بين الغسل و المسح نشته يعني دا نشته چې يوه پښه دي ووينځي او په بله د مسح وکړي او حال دا چې د دواړو وظيفه يوه ده چې غسل ده اما که وظيفه يوه نه وه نو بيا جمع بين الغسل و المسح جائز ده لکه د مخ وينځل د لاسونو وينځل د پښو وينځل د مسح د سر سره.

و كذا ان دخل الماء الخ همدارنګه بل ماتونکی د مسح دا دی چې يوي موزي ته اوبه ننوځي او ټوله پښه لمده شي او که ټوله لمده نه شي بلکې اکثر حصه يې لمده شي نو د فقيه

ابو جعفر هندواني په نزد هم مسح ماتيږي نو په ده لازم دي چې موزه وباسي او ټول قدم ووينځي ځکه اکثر لره حکم د کل دی و **مضيّ المدة الخ** او بل ماتونکی د مسح تيريدل د مودي د مسح دي چې د مقيم لپاره يوه شپه او ورځ ده او د مسافر لپاره دري شپي او دري ورځي دي. **و بعد احد الخ** او وروسته د دي دوه خبرو نه يعني وروسته د ويستلو د موزي نه او د تيريدلو د مودي نه که نور اودس يې باقي وو نو موزي به وباسي او صرف پښي به ووينځي او د نورو اندامونو وينځل ورباندي نشته. **و ينبغي الخ** شارح رحمه الله وايي چې په اودس کې د امام مالک رحمه الله په نزد ولاء فرض ده او د صرف پښو وينځلو په صورت کې خو ولاء فوت کيږي نو په دي کې د امام مالک اختلاف پيدا کيږي شارح رحمه الله په ينبغي لفظ راوړلو سره دي ته اشاره وکړه چې د امام مالک نه په دي کې صراحتًا څه اختلاف نشته خو د امام مالک رحمه الله قواعد تقاضا د دي اختلاف کَوي و الله اعلم با الصواب ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

و خروج اكثر العقب الى الساق نزع و لفظ القدوري اكثر القدم و ما اختاره في المتن مروى عن ابي حنيفة و يمنعه خرق خف يَبْدو منه قدر ثلث اصابع الرجل اصغرها لا ما دونه فلو كان الخرق طويلًا يدخل فيه ثلث اصابع ان اُدخلَتْ لكن لا يَبْدو منه هذا المقدار جاز المسح و لو كان مضمومًا لكن ينفتح اذا مشى و يظهر هذا المقدار لا يجوز فعلم منه ان ما يُصْنَع من الغزل و نحوه مشقوق اسفل الكعب ان كان يستر الكعب بخيط او نحوه يشد بعد اللبس بحيث لا يبدو منه شيئ فهو كغير المشقوق و ان بدا كان كالخرق فيعتبر المقدار المذكور.

توضيح المسئلة: او راوتل د اکثره حصي د پوندي. **الى الساق** پنډۍ د موزي ته، نزع ويستل دي يعني که پونده دموزي پنډۍ ته راووځي نو مسح يې ماته ده او د پښو وينځل ورباندي لازم شول او په مختصر القدوري کې د اکثر العقب په ځای اکثر القدم راغلی او په دي متن کې چې اکثر العقب راغلي دا د امام ابو حنيفة رحمه الله ځخه روايت راغلی، **و يمنعه الخ** که چيرته موزه دومره اندازه شکيدلي وه چې د پښي دغه دري وړو ګوتو په اندازه تري ځای

ښکاره کيده نو دا مسح منع کوي يعني په داسي موزه مسح نه کيږي. **لا مادونه الخ** او که د دري ګوتو په اندازه څای تري نه ښکاره کيده. بلکې کم وو نو بيا مسح نه منع کوي يعني مسح پري جائز ده، **فلو کان الخ** که دغه شکيدلي ځای اوږد وو چې دري ګوتي په کې ننوتي که ګوتي په کې داخل کړی شي ليکن د دري ګوتو په اندازه ځای تري نه ښکاره کيږي نو مسح پري جائز ده، **و لو کان الخ** او که دغه شکيدلی ځای پيوسته وو ليکن د تګ په وخت کې سره ازاديده او دغه دري ګوتو اندازه تري ښکاره کيده نو مسح پري جائز نه ده.

فعلم منه الخ نو د دغي مخکې دوه مسئلو څخه دا معلومه شوه چې کومي موزي د وړی وغيره څخه جوړولی شي او د ښنګري څخه لاندي چاود په کې وي نو که دغه ښنګري د موزي اغوستلو څخه وروسته په تاريا بل څه سره چې وتړلی شي پټيده نو بيا دا په شان د روغي موزي دي او مسح پري جائز ده لکه د نن زماني موزي چې ښنګري يې په کشک وغيره سره پټيږي او که د اغوستلو څخه وروسته په تار يا بل شيئ سره ښنګري نه پټيده نو دا بيا په شان د شکيدلي ده نو که د دري ګوتو په اندازه تري ښکاره کيده نو مسح پري جائز نه ده او که کم وو نو بيا پري جائز ده ۱۲ صافي عفی عنه.

يجمع خروق خف لا خفين اى اذا كان على خف واحد خروق كثيرة تحت الساق و يبدو من كل واحد شيئ قليل بحيث لو جمع البادى يكون مقدار ثلث اصابع يمنع المسح و لو كان هذا المقدار فى الخفين جاز المسح و يتم مدة السفر ماسح سافر قبل تمام يوم و ليلة و يتمّها ان اقام قبلهما و ينزع ان اقام بعده فهٰهنا اربع مسائل لانه اما ان يسافر المقيم او يقيم المسافر و كلٌّ إمّا قبل تمام يوم و ليلة او بعدهما و قد ذُكِرَ فى المتن ثلث منها و لم يذكر ما اذا سافر المقيم بعد تمام يوم و ليلة و حكمه ظاهر و هو وجوب النزع.

توضيح المسئلة: د يوي موزي شکيدلي ځايونه به راجمعه کولی شي يعني که چيرته په يوه موزه کې ډير شکيدلي ځايونه وو او د موزي د پنډی څخه لاندي وو ځکه د موزي په پنډی کې که هر څومره شکيدلي ځايونه وي نو پروا نه کوي. **و يبدو من كل واحد الخ** او دغه شکيدلي ځايونه چې د موزي د پنډی څخه لاندي وي. او د هر سوري نه دومره ځای ښه ښکاري چې که فرضاً راجمع کړی شي نو د دري ګوتو په اندازه کيږي نو په دي صورت کې په

دي موزه مسح نه کيږي او که دغه اندازه ځای يعني د درګوتو په اندازه ځای په دواړو موزو کې شکيدلي وي نو بيا مسح پرې جائز ده. **ويتم مدة السفر الخ** د دې عبارت مقصد دا دی چې که يو سړی په کور کې په موزو باندې، مسح وکړه او يوه شپه او ورځ لا پوره نه وه چې مسافر شو نو اوس به موده د سفر پوره کوي چې هغه درې ورځې او درې شپې ده. **ويتمها ان اقام الخ** د دې مقصد دا دی که يو سړی د سفر په حالت کې په موزو مسح وکړي او يو شواروز لا پوره نه وي چې د اقامت نيت وکړي نو اوس به صرف يوه شپه او ورځ پوره کوي بيا به موزې اوباسي. **وينزع ان اقام بعده** او که د سفر په حالت کې يې په موزو مسح وکړه او يوه شپه او ورځ تيره شوې وه چې د اقامت نيت يې وکړ نو اوس به موزې اوباسي. **فههنا اربع مسائل الخ** شارح رحمه الله فرمايي چې په دې مقام کې څلور مسائل دي. ۱- چې مقيم سړی د يو شواروز د پوره کولو نه مخکې سفر وکړي ۲- چې مقيم سړی د يو شواروز د پوره کولو نه وروسته سفر وکړي. ۳- چې مسافر سړی د يو شواروز نه مخکې د اقامت نيت وکړي. ۴- چې مسافر سړی د يو شواروز نه وروسته د اقامت نيت وکړي. نو مصنف رحمه الله درې صورته ذکر کړي او يو صورت يې نه ده ذکر کړی چې مقيم سړی د يو شواروز د پوره کولو نه وروسته سفر وکړي د دې وجه دا وه چې د دې حکم ښکاره وو چې هغه په دې صورت کې د موزو ويستل واجب دي ۱۲ صافي.

ويجوز على جبيرة محدث ولا يبطله السقوط الا عن بُرْءٍ المسح على الجبيرة ان اضرَّ جاز تركه وان لم يضر فقد اختلفت الروايات عن ابي حنيفة في جواز تركه والماخوذ انه لا يجوز تركه ثم لا يشترط كون الجبيرة مشدودة على طهارة وانما يجوز المسح على الجبيرة اذا لم يقدر على مسح ذلك العضو كما لا يقدر على غسله بان كان الماء يضره او كانت الجبيرة مشدودة يضر حلها اما اذا كان قادرًا على مسحه فلا يجوز مسح الجبيرة واذا كان في اعضائه شقاق ان عجز عن غسله يلزمه امرار الماء عليه فان عجز عنه يلزمه المسح ثم ان عجز عنه يغسل ما حوله ويتركه.

توضيح المسئلة: مخکې دهغې مسح بيان وو چې په موزو باندې کولی شي او اوس دهغې

مسح بیان دی چې د زخم په پټۍ. کولی شي نو که یو سړی بې اودسه وي یا جنب وي او یا ښځه حائضه یا د نفاس والا وي او په زخم یې پټۍ لګولي وي نو په دغه پټۍ مسح جائز ده اصل د دي مسئلي دا ده چې حضرت جابر رضی الله عنه وايې چې مونږ په سفر کې وو چې زمونږ یو ملګری په سر زخمي شو او بیا یې احتلام وشو بیا یې خپلو ملګرو ته وویل چې زما لپاره ستاسي په نزد د تیمم رخصت شته چې تیمم وکړم او که نه؟ نو هغوی ورته وویل چې تا ته د تیمم رخصت نشته ځکه ته په اوبو قادر یې نو هغه سړي غسل وکړو او مړ شو هر کله چې مونږ د سفر څخه راغللو او نبي علیه السلام ته د دي واقعي خبر ورکړل شو نو نبي علیه السلام وویل چې دا سړی خو دوی قتل کړی الله جل جلاله دي دوی قتل کړي چې دوی نه پوهیدل نو پوښتنه به یې کړي وه ځکه د ناپوهۍ علاج پوښتنه کول دي د ده لپاره دا کافي وه چې تیمم یې کړی وی یا یې په زخم ټوټه تړلي وی، بیا یې پري مسح کړي وی او ټول بدن یې وینځلی وی (ابوداؤد) **و لا یبطله السقوط الخ** که د زخمي پټۍ د زخم څخه ولویدله او زخم لا جوړ نه وو نو مسح نه باطلیږي ځکه مسح د جبیري له پاسه قائمقام دهغه غسل ده چې د جبیري څخه لاندي وي نو تر څو چې زخم جوړ نه وي او جبیره ولویدله نو مسح نه باطلیږي او که د زخم د جوړوالي له خاطره جبیره ولویدله نو مسح باطله شوه ځکه مسح قائمقام د غسل په هغه صورت کې ده چې عذر وي او اوس عذر ختم شو. **المسح علی الجبیرة الخ**: که د جبیري له پاسه مسح ضرر کاوه نو بیا د مسح پرېښول هم جائز دي او که ضرر یې نه کاوه نو بیا د امام ابوحنیفة څخه په جواز د ترک د مسح کې روایات مختلف دي خو مأخوذ او مقبول روایت د علماؤ په نزد دا ده چې د مسح پرېښودل جائز نه دي. **ثم لا یشترط الخ** شارح رحمه الله وايې بیا دا شرط نه دی چې پټۍ به تړلی شي په طهارت کامله سره ځکه په دي باندي څه دلیل نشته په خلاف د مسح په موزو باندي ځکه هلته احادیث راغلي چې موزي به اغوستلی شي په طهارت کامله سره او فقه حنفي وايې چې په تړلو د پټۍ کې طهارت ځکه شرط نه دی چې پټۍ په حالت د ضرورت کې تړلی شي او طهارت شرط کول په دغه حالت کې مفضی للحرج دی. (فقه حنفی ج۱ ص ۹۹) **و انما یجوز المسح الخ** په پټۍ باندي مسح په هغه صورت کې جائز ده چې کله اودس کوونکی د دغه اندام په مسح کولو قادر نه وي او نه یې په وینځلو قادر وي هغه داسي چې یا ورته اوبو ضرر رسوي او یا یې پټۍ ورباندي په داسي طریقه تړلي وي چې دهغي خلاصول ورته په هر وار ضرر رسوي نو بیا ورباندي مسح

جائز ده او که اودس کوونکي په زخمي ځای باندي بي له پټۍ مسح کولی شوه نو بیا ورته د پټۍ له پاسه مسح جائز نه ده

و اذا کان فی اعضائه الخ که د اودس کوونکي په پښه کې چاودونه وو که د وینځلو څخه یې عاجزه وو نو بیا دي صرف اوبه ورباندي تیري کړي او لاس دي نه وروړي او نه دي مبنی بیا که د اوبو د تیرولو څخه هم عاجزه شو یعني صرف د اوبو تیرولو ورته هم ضرر کاوه نو بیا دي مسح ورباندي وکړي بیا که د مسح څخه هم عاجزه شو یعني مسح هم ورته ضرر رساوه نو بیا دي صرف د دغه چاودونو څخه ګیر چاپیره ووینځي او چاودنه دي پریږدي یعني نه د مینځي. ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

و ان کان الشقاق فی یده و یعجز عن الوضوء استعان با الغیر لیوضیه فان لم یستعن و تیمم جاز خلافا لهما و اذا وقع الدواء علی شقاق الرجل امر الماء فوق الدواء فاذا امر الماء ثم سقط الدواء ان کان السقوط عن برء غسل الموضع و الا فلا.

تشریح: او که په لاس کې یې چاودونه وو او د اودس کولو څخه عاجزه وو نو د بل کس څخه به امداد غواړي چې اودس ورکړي خو دغه امداد غوښتل د اودس لپاره د امام ابوحنیفة په نزد مستحب دي او د صاحبینو په نزد واجب دي نو اوس که دغه سړی د اودس لپاره د چا نه امداد ونه غوښتله او تیمم یې وکړ خو د امام ابوحنیفة په نزد د ده لمونځ په دغه تیمم صحیح دی ځکه امداد غوښتل مستحب وو او په ترک د مستحبو سره لمونځ نه فاسدیږي او د صاحبینو په نزد د دغه سړي لمونځ جائز نه ده ځکه د دوی په نزد د ده لپاره امداد غوښتل واجب وو او که ده امداد غوښتلو خو څوک نه وو چې ده ته اودس ورکړي او یا یو کس وو او ده تري امداد هم وغوښته خو هغه انکار وکړلو بیا ده تیمم وکړو او لمونځ یې ادا کړو نو با الاتفاق یې لمونځ صحیح دی ځکه دلته عجز من کل الوجوه ثابت شو. **و اذا وضع الدواء الخ** که یو سړی دواء یا وازده وغیره د پښو په چاودو کې کیښوده نو د دواء له پاسه به اوبه تیري کړي نو بیا که ده اوبه د دواء له پاسه تیري کړي او دواء ولویدله نو که دواء د دي وجي ولویدله چې زخم یا چاود جوړ شوی وو نو بیا به دغه ځای ومینځي او که دواء وغیره د زخم د جوړوالي په خاطر ونه ولیدله بلکې د اوبو د تیرولو په سبب ولویدله نو بیا ورباندي د دغه ځای وینځل لازم نه دي. ۱۲ صافي عفی عنه.

و اذا فصد و وضع خرقة و شد العصابة فعند بعض المشايخ لا يجوز المسح عليها بل على الخرقة و عند البعض ان امكنه شدّ العصابة بلا اعانة احد لا يجوز عليها المسح و ان لم يمكنه ذلك، يجوز و قال بعضهم ان كان حل العصابة و غَسْلُ ما تحتها يضر الجراحة جاز المسح عليها و الافلا و كذا الحكم في كل خرقة جاوزت موضع القرحة و ان كان حل العصابة لا يضرّه لكن نزعها عن موضع الجراحة يضرها يحلها و يغسل ما تحتها الى موضع الجراحة ثم يشدها و يمسح موضع الجراحة و عامة المشايخ على جواز مسح عصابة المفتصد و اما الموضع الظاهر من اليد ما بين العقدتين من العصابة فا الاصح انه يكفيه المسح اذ لو غسل تبتل العصابة وربما ينفذ البلة الى موضع الفصد.

توضیح اللغات: **فصد**: رګ وهل. **خرقة**: ټوټه. **شد العصابة**: پټي تړل. **القَرْحَة**: دانه، زخم. **عقدتين**: دوه غوټې. **ينفذ**: سرايت كوي يعني ننوځي. **حل العصابة**: خلاصول د پټی.

توضیح المسئلة: كه يو سړی رګ ووهلو او ټوټه يې ورباندې كېښوده او د ټوټې له پاسه يې پټی وتړله نو د بعضي علماؤ په نزد په پټی باندې به مسح نه كوي بلكې په ټوټه باندې به يې كوي او بعضي علماؤ وايي چې كه د پټی تړل ورته بې د امداد د يو كس ځخه ممكن وو نو بيا په پټی مسح جائز نه ده بلكې په ټوټه باندې به مسح كوي او كه د بل كس د امداد نه يې بغير پټی تړلی نه شوه نو بيا په پټی مسح جائز ده ځكه دا سړی بنفسه د پټی د تړلو نه بغير د اعانت دغير نه عاجزه دی او قدرت على الشيئ په اعانت د غير سره غير معتبر دی نو په ټوټه باندې د مسح كولو نه عاجزه شو نو په پټی باندې به مسح وكړي او پټی قائمقام د ټوټې وګرځيده. **و قال بعضهم الخ**: بعضي علماء وايي چې دلته اعتبار ضرر او حرج ته ده كه د پټی خلاصول او د پټي نه لاندې ټوټه وينځل يا مسح كول زخم ته ضرر رساوه نو بيا په پټی مسح جائز ده او كه ضرر يې نه رساوه نو بيا په پټی مسح جائز نه ده بلكه په ټوټه به مسح كوي، **و كذا الحكم الخ** لكه څرګه چې د رګ وهلو پټی حكم وو همدارنګي حكم د هر هغې ټوټې دی چې په زخم وتړلی شي او د زخم ځخه زياتي ځای هم نيولی وي نو كه د ټوټې خلاصولو او د ځای وينځلو ضرر كاوه نو بيا دي په ټول ځای مسح وكړي او كه خلاصولو

ضرر نه کاوه نو د زخم څخه ګير چاپيره دي ووينځي او په زخم دي مسح وکړي که مسح ضرر نه کاوه او که ضرر يې کاوه نو بيا دي په ټوټه باندي مسح وکړي او ګير چاپيره دي ووينځي.

و ان کان الخ که د پټۍ خلاصولو ضرر نه کاوه ليکن د زخم د ځای نه يې ليري کولو ضرر کاوه نو پټۍ به خلاصه کړي او دپټۍ نه لاندي ځای د زخم پوري دي ووينځي بيا دي پټۍ وتړي او د زخم په ځای دي مسح وکړي. **و عامة المشايخ الخ:** اکثر علماء وايې چې د مفتصد يعنی رګ وهونکی، په پټي باندي مسح جائز ده. **و اما الموضع الخ** او کوم ځای چې ښکاره وي د لاس نه په مابين د دوه غوټو د پټي کې په دي کې د علماؤ اختلاف دی بعضي وايې چې د دغي ځای وينځل واجب دی خو صحيح خبره دا ده چې د دي لپاره مسح هم کافي ده ځکه که چيرته يې ووينځي نو پټۍ به لمده شي؛ او ډير کرتي دغه لوندوالی ځای د رګ وهلو ته رسيږي چې بيا په کې امکان د ضرر شته ۱۲ صافي.

و يشترط الاستيعاب فی مسح الجبيرة و العصابة فی رواية الحسن عن ابی حنيفة و هو المذکور فی الاسرار و عند البعض يکفی الاکثر و اذا مسح ثم نزعها ثم اعادها فعليه ان يعيد المسح و ان لم يعد اجزاه و اذا سقطت عنها فبدلها با الاخری فالاحسن اعادة المسح و ان لم يعد اجزاه.

الفرق بين الجبيرة و العصابة: جبيرة په فتحي د جيم سره جمعه يې جبائر راځي دا هغه لرګيو ته وايې چې مات هډوکي يا مات ځای په تړلی شي د دي لپاره چې بعضي اندام د بعضو سره يو ځای کړي. (عصابة) په کسری د عين سره هغه ټوټه ده چې په زخم يا ځای د رګ وهلو تړلی شي.

تشريح: په جبيره يا عصابه باندي په مسح کولو کی ايا استيعاب يعني ټول ځای مسح کول شرط دي او که نه؟ نو د حسن بن زياد په روايت کې د امام ابوحنيفة رحمه الله څخه دا دی چې استيعاب په کې شرط ده او دا خبره د قاضي ابو زيد الدبوسي په کتاب الاسرار کې ذکر ده او د بعضو علماؤ په نزد په اکثره حصه باندي مسح کول هم کافي دی.

سوال: څه وجه ده چې په مسح د جبيري يا عصابة کې اکثريت شرط دی او په مسح د سر يا موزو کې اکثريت شرط نه دی.

جواب: د سر مسح په كتاب الله سره ثابته ده او باء په محل د مسح داخله شوي او باء د تبعيض لپاره ده نو تبعيض واجب شو او په موزو باندي مسح كه په كتاب الله باندي ثابته شي يعني **يعني وارجلكم** مجرور شي ځكه د جر به حالت كې د پښو مسحه په موزو حمل ده نو بيا حكم د دي مسح په شان د حكم د معطوف عليه (برؤسكم) دى په معطوف عليه كې تبعيض واجب وو نو په معطوف كې به هم واجب وى او كه د موزو مسح په حديث باندي ثابته شي نو حديث خو مسح د بعضو واجب كړى ده.

واذا مسح الخ كه مسح يې وكړه او بيا يې جبيره يا عصابه د زخم څخه لري كړه بيا يې بيرته ورباندي وتړله نو مسح به دوباره كوي او كه بيا يې مسح ونه كړه نو دا هم كافي ده ځكه مسح په هغه صورت كې ماتيږي چې د جوړوالي د وجي نه پټي ولويږي يا ليري شي او دلته لازخم جوړ شوي نه دى نو د پټي په صرف ليري كولو سره مسح نه باطليږي. **واذا سقطت الخ** او كه جبيره يا پټي ولويدله او دهغي په ځاى يې بله پټي ولګوله نو ښكلي خبره دا ده چه په دغي نوي پټي به بيا مسح وكړي او كه بيا يې ونه كړم نو هم صحيح ده.

ولا يشترط تثليث مسح الجبائر بل يكفية مرة واحدة وهو الاصح ويجب ان يعلم ان مسح الجبيرة يخالف مسح الخف في انه يجوز على حدث ولا يقدّر له مدة واذا سقطت لا عن برءٍ لا يبطل وان سقطت عن برءٍ يجب غسل ذلك الموضع خاصة بخلاف ما اذا اخلع احد الخفين حيث يلزمه غسل الرجلين.

توضيح المسئلة: په جبيره يا عصابه باندي مسح كولو كې د بعضو علماؤ په نزد تثليث يعني دري واري مسح كول شرط دي ځكه چې دا په منزله د غسل ده او په غسل كې تثليث شرط دى خو صحيح خبره دا ده لكه څرنګه چې په مسح د سر او موزو كې تثليث شرط نه ده همدارنګې په مسح د جبيره كې هم تثليث شرط نه ده بلكې يو ځل مسح كول هم كافي دي.

ويجب ان يعلم الخ غرض د شارح د دي نه وجه د فرق بيانول دي په مابين د مسح د جبيره كې او د مسح د موزو كې دغه وجې ډيري دي خو شارح رحمه الله صرف څلور ذكر كړي

١- **انه يجوز على حدث:** چې په مسح د جبيره كې طهارت كامله شرط نه دى كه په بي اودسى وتړلى شي نو هم مسح پري جائز ده او په موزو كې طهارت كامله شرط دى.

۲- **و لا یقدر له مدة:** د جبیرې مسح د کوم وخته پورې محدوده نه ده بلکې تر د زخم جوړوالي پورې پرې مسح کولی شي او په مسح د موزو کې وخت معین دی چې د مقیم لپاره یو شواروز او د مسافر لپاره درې شواروزه دي.

۳- **و اذا سقطت لا عن برءٍ لا یبطل الخ:** که زخم جوړ نه وي او جبیره د خپل ځای څخه ولویږي نو مسح نه باطلیږي په خلاف د موزې سره ځکه چې کله قدم د موزي څخه راووځي نو مسح باطلیږي ځکه حدث پښې ته سرایت وکړ.

۴- **و ان سقطت عن برءٍ الخ:** که چیرته جبیره د زخم د جوړوالي په سبب ولویده نو د دغه ځای وینځل صرف ورباندې واجب دي په خلاف د موزو سره چې کله یوه موزه ووځي نو د بلې پښې وینځل هم ورباندې واجب دي، یعنې د دواړو پښو وینځل ورباندې واجب دي.

فایده:مروج پسترونه هم په حکم د جبیره کې دی پدې مسح جائز ده.جنتی کالی صفحه ۴۷ احسن الفتاوی صفحه ۴۷۸ ،جدید فقهی مسائل صفحه۲۹

۱۲ عبد الرشید صافي. (۱۳۹۲/۸/۲۸ هـ ش)

(باب الحیض)

دا باب دی په بیان د احکامو د حیض کې

مصنف رحمه الله په عنوان کې ذکر صرف د حیض وکړو او سره د دې نه چې په دې باب کې د استحاض او نفاس احکام هم ذکر شوي دا د دې په خاطر چې حیض زیات واقع کیږي په نسبت سره استحاض او نفاس ته او د حیض مسائل هم زیات دي.

ابتداء د حیض د کوم وخت نه شوي؟ د حضرت عمر رضی الله عنه نه روایت راغلی فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلې چې ما ته جبرائیل علیه السلام خبر راکړو چې الله جل جلاله جبرائیل علیه السلام زمونږ مور بي بي حواء علیها السلام ته ورولیږه کله چې د دې نه وینه راغله نو بي بي حواء اواز وکړو چې ډیر کرتي له ما څخه وینه راځي او زه یې نه پیژنم؟ نو حواء بي بي ته یې آواز وکړو چې زه به ستا نه هم وینه ولم او ستا د اولادې نه هم یعنې ستا د لورګانو څخه او زه به دا ستا لپاره کفاره او پاکونکي د ګناهونو ګرځوم. (جامع الرضوي ج۱ ص ۱۷۱) په حواله د (فقه حنفی ج۱ ص ۱۰۰) درې قسمه وینه د زنانه وو پورې خاص ده ۱-حیض. ۲-استحاض. ۳-نفاس. او دوه قسمه وینه عام ده. نارینه او زنانه ته. ۱-د پوزې وینه. ۲-د رګ وهلو وینه.

کومي وينې چې د زنانه پورې خاص دي د هر يو تعريف به لغوي او شرعي انشاء الله بيان شي

الدماء المختصة بالنساء ثلثة حيض و استحاضة و نفاس فالحيض هو دم ينفضه رحم امرأة بالغة اى بنت تسع سنين لاداء بها و لم تبلغ الاياس فالذي لا يكون من الرحم ليس بحيض و كذا الذى قبل سن البلوغ اى تسع سنين.

لغات: **ينفضه**: راغورځوي او راشيندي. **رحم**: بچه دان. **اياس**: نا اميدي.

توضيح المسئلة: **الدماء المختصة الخ** د دي وضاحت لږ مخکې وشو. **فالحيض الخ** حيض په لغت کې مطلق سيلان او بهيدلو ته وايي او په اصطلاح د شرع کې دا هغه وينه ده چې راغورځوي يې رحم د بالغي ښځي، **بنت تسع سنين**: دا د باغلةٍ تفسير دى چې ادنى موده د بلوغ نهه کاله ده **لاداء بها**: يعني داسي ښځه چې په دي باندي مرض نه وي ځکه که د بل مرض د وجي د رحم نه وينه راشي نو د ابيا استحاض دى. **و لم تبلغ الاياس الخ** او د نا اميدى عمر ته نه وي رسيدلي يعني هغه عمر ته چې حيض يې بند شي چې پنځه پنځوس کاله يا زيات دي **فالذى لا يكون الخ**: نو کومه وينه چې د رحم څخه نه وي نو هغه حيض نه ده بلکې هغه په حکم د استحاض دى همدارنګي هغه وينه چې د بلوغ نه يعني د نهه کالو څخه مخکې وي هغه هم حيض نه ده بلکې په حکم د استحاض کې دى ۱۲ صافي.

و كذا ما ينفضه الرحم لمرض فاذا استمر الدم كان سيلان البعض طبيعيًا فكان حيضًا و سيلان البعض بسبب المرض فلا يكون حيضًا و كما قيده بعدم الداء يجب ان يقيده بعدم الولادة ايضًا احترازًا عن النفاس ثم الاصح ان الحيض موقّتٌ الى سن الا يأس و اكثر المشايخ قدروه بستين سنة و مشايخ بخارا و خوارزم بخمس و خمسين سنة فما رأت بعدها لا يكون حيضًا فى ظاهر المذهب و المختار انها رأت دمًا قويا كالاسود و الاحمر القاني كان حيضًا و يبطل الاعتداد بالاشهر قبل التمام و بعده لا و ان رأت صُفرةً او خضرةً او تربية فهى استحاضة.

لغات. الاسود: تک تور. **و الاحمر**: تک سور. **القانی**: زیات سور. **صفرة**: زیړوالی. **خضرة**: شین والی. **تربیة**: خړ خاورو ته مائل.

توضیح المسئلة: او همدارنګه به هغه وینه هم حیض نه وي چې د بالغي جینۍ رحم یې راغورځوي خو که بیا دغي ویني دوام وکړو نو بیا به بعضي وینه د مقتضی د طبیعت د وجي بهیږي نو بیا دغه بعضي به حیض وي او د بعضي ویني بهیدل به د وجي د مرض نه وي نو هغه به حیض نه وي بلکه استحاض به وي لکه حدیث د مستحاضي وربانديي د لالت کوي چې **تدع الصلوة ایام اقرائها** یعنی کومه وینه چې د طبیعت په مقتضی سره راځي نو هغه حیض دی او د حیض په حالت کې لمونځ پریږده او باقي وینه د مرض د وجي ده نو په هغي کې لمونځ وغیره کولی شي **و کما قیده الخ** غرض د شارح د دي عبارت نه یو اعتراض کول دي په مصنف رحمه الله هغه داسي چې د مصنف رحمه الله تعریف د حیض مانع نه ده د دخول د غیر نه نفاس په کې داخل شو نو په کار دا وو چې لکه څرنګه چې یې قید د لاداء بهاور سره ایښي نو همدارنګه به یې قید د عدم ولادت هم ورسره ایښي وو چې نفاس تري خارج شوی وای. جواب: کله اطلاق د حیض په نفاس باندي هم کیدای شي نو که تعریف د حیض په نفاس باندي صادق شي هیڅ پروا نه لري. **ثم الاصح ان الحیض الخ** په زنانه تر کومه وخت پوري به حیض راځي. صحیح خبره دا ده چې دا تر عمر د ایاس یعني نا امیدۍ پوري معتبر دی یعني که زنانه دغه عمر ته ورسیده او د دي نه وروسته یې وینه ولیده نو دا به شرعًا حیض نه وي، دغه عمر د آیاس څو کاله دی. **و اکثر المشایخ الخ** اکثر علماؤ دغه عمر په شپیتو کالو اندازه کړي یعني د شپیتو کالو نه وروسته که وینه راغله نو دا به حیض نه وي او د بخاری او خوارزم علماؤ په پنځه پنځوس کالو باندي اندازه کړي چې په ظاهر مذهب کې به د دي نه وروسته که وینه راغله حیض به نه وي. **و المختار انها الخ** خو غوره دا ده چې که وینه یې ولیده او قوي رنګ والا وه لکه تک تور یا تک سور نو دا به حیض وي.

و یبطل الاعتاد الخ که آیسه ښځه طلاقه کړی شي او با الاشهر عدت تیر کړي په دي بناء سره چې د آیسه ښځي عدت دري میاشتي دی بیا د دي ښځي قوي وینه راغله نو که دغه وینه د دغه میاشتو په مینځ کې وه نو دغه عدت باطل دی او په دي ښځي بیا عدت با الحیض

واجب دی چې دري حیض عدت به تیروي او که د دري میاشتو څخه وروسته وینه راغله نو دغه عدت به یې باطل نه وي خو اینده کې به عدت با الحیض وي. **و ان رأت الخ** او که د ایاس د مودي څخه وروسته یې زیړه وینه یا شین رنګي وینه یا خاورینه وینه ولیده نو دا بیا حیض نه دی بلکې استحاض دی خو دا په هغه صورت کې چې د ایاس نه مخکې دا عادت نه وو یعني زیړ رنګ شین رنګ او خړ رنګ وینه یې مخکې عادت نه وه او که دا رنګونه یې عادت وو نو بیا به دا هم حیض وي (فتح القدير)

و اقله ثلثة ايام و لياليها و اكثرة عشرة و عند ابي يوسف اقله يومان و اكثر اليوم الثالث و عند الشافعي رحمه الله اقله يوم و ليلة و اكثره خمسة عشر و نحن نتمسك بقوله عليه السلام اقل الحيض للجارية البكر و الثيب ثلثة ايام و لياليها و اكثره عشرة ايام.

توضيح المسئلة: د حیض موده څومره ده؟ د حیض کمه موده دري ورځي ده او زیاته موده یې لس ورځي ده دا د احنافو مسلک دی او د امام ابي یوسف په نزد د حیض کمه موده دوه ورځي او د دریمي ورځي اکثره حصه ده ځکه اکثر لره حکم د کل وي او د امام شافعي رحمه الله په نزد کمه موده د حیض یوه ورځ او یوه شپه ده او زیاته موده یې پنځلس ورځي ده خو د احنافو لپاره دلیل دا حدیث د ابو امامة الباهلي رضی الله عنه دي چې کمه موده د حیض د ښځي لپاره باکره وي او که ثیبه وي دري ورځي او دري شپي ده.او زیاته موده یې لس ورځي ده.

ثم اعلم ان مبدأ الحيض من وقت خروج الدم الى الفرج الخارج و وصول الدم الى افرج الداخل اذا لم يصل الى الفرج الخارج بحيلولة الكرسف لا تقطع الصلوة فعند وضع الكرسف انما يتحقق الخروج اذا وصل الدم الى ما يحاذى الفرج الخارج من الكرسف فاذا احمر من الكرسف ما يحاذى الفرج الداخل لا يتحقق الخروج الا اذا رفعت الكرسف فيتحقق الخروج من وقت الرفع و كذا فى الاستحاضة و النفاس و البول و وضع الرجل القطنة فى الاحليل و القلفة كالخارج ثم وضع الكرسف مستحب للبكر فى الحيض و للثيب فى كل حال و موضعه موضع البكارة و يكره فى الفرج الداخل فالطاهرة اذا وضعت اول الليل فحين اصبحت رأت عليه اثر الدم فالأن يثبت حكم الحيض و الحائض اذا

وضعت اول الليل و رأت عليه البياض حين اصبحت حكم بطهارتها من حين وضعت

لغات: **بحيلولة الكرسف:** په سبب د پرده او مانع ګرځيدو د کرسف يعني هغه مالوچ يا ټوټه چې حائضه ښځه يې د فرج په خوله ټرې. **يحاذي:** چې برابر وي. **القطنة:** مالوچ، **في الاحليل:** په سر د ذکر کې. **قلفة:** د ناسونته سرې د ذکر سر څخه زياتي غوښه. **بکارة:** د فرج په خوله پرده چې په پيغلتوب کې وي. **اصبحت** چې صبا کړي. **رفع:** پورته او ليري کول.

توشيح المسئلة: غرض د شارح د دې عبارت نه مبدأ د حيض يعني ځاى د ابتدأ د حيض مَعلومول دي چې مبدأ د دې وقت د نزول د حيض دى د رحم نه او که وخت د خروج د دم دى فرج خارج ته نو شارح رحمه الله وويل چې مبدأ د حيض د وخت د خروج د دم نه فرج خارج ته ده، د زنانه فرج په شکل د خولې دې فرج داخل يې داسې ده لکه د غاښونه ستوني خوا ته او د پردې ځاى يې داسې ده لکه غاښونه او فرج خارج داسې ده لکه د غاښونه بهر خواته.

و وصول الدم الخ که يوې زنانه په فرج کې کرسف يعني مالوچ ايښى وو او وينه د دغې مالوچو د وجې فرج داخل ته لاړه او فرج خارج ته ونه رسيده. **لا تقطع الصلاة الخ** نو دغه ښځه به لمونځ نه پريږدي ځکه دا حائضه نه ده ځکه وينه فرج خارج ته نه ده رسيدلې. **فعندا وضع الخ** نو کله چې يې ټوټه په فرج کې ايښې وه نو خروج به هلته ثابتيږي چې کله وينه هغه ځاى ته ورسيږي چې هغه فرج خارج سره برابر وي. **من الکرسف الخ** چې هغه کرسف دى او بيا چې کله د کرسف هغه اندازه سره شي چې د فرج داخل سره برابر وي نو خروج نه ثابتيږي يعني که وينه د کرسف هغه اندازې ته ورسيږي چې فرج خارج سره برابر دى نو خروج به ثابت وي او که وينه د کرسف هغې اندازې ته ورسيږي چې فرج داخل سره برابر وي نو خروج ثابت نه دى مګر په هغه صورت کې چې کرسف ليرې شي نو بيا به خروج ثابت شي د وخت د ليرې کولو د کرسف نه **و کذا في الاستحاضة الخ** د دغې مخکې حکم په شان حکم د استحاض او د نفاس هم دى نو هر کله چې وينه د نفاس او استحاض فرج خارج ته راووځي نو بيا به حکم پرې کولى شي چې دا مستحاضه يا د نفاس والا ده او که فرج خارج ته راونه وځي نو بيا پرې حکم نه شي کولى چې دا مستحاضه يا د نفاس والا ده. **و الدم الخ** همدارنګه حکم د تشو

متيازي هم دي يعني كه د ذكر د سر څخه راووتلي نو اودس به مات وي او كه د ذكر د سر څخه راونه وتلي نو اودس نه ماتيږي .

و وضع الرجل الخ يعني كه يو سړى د ذكر په سوري كې مالوچ كيښودل او مالوچو ته متيازي راغلي نو اودس يې مات دي ځكه دغه مالوچ په شان د خارج دى **و القلفة الخ** همدارنګه د ناسونته سړي د ذكر د سر څخه زياتي پوستكي ته متيازي راغلي نو هم اودس يې مات دى ځكه دغه پوستكى په شان د خارج دى.

ثم وضع الكرسف الخ د ټوټي يا مالوچو اېښودل د باكرو ښځو لپاره د حيض په حالت كې مستحب دى او د ثيبې لپاره په هر حالت كې مستحب دي ځكه چې دپردي په ليري كولو سره په فرج كې فراخي راځي نو وينه ډېره په چالاكي سره لاندي راښكته كيږي ډير كرتي بيا پري نه پوهيږي نو غوره دا ده چې مالوچ په كې كيږدي او د باكري پرده روغه وي هغه وينه زر نه راكوزيږي. **و موضعه الخ** د مالوچو د كيښودو ځاى هغه دى په كوم ځاى كې چې پرده وي يعني د فرج داخل او خارج ترمينځ خو په فرج داخل كې د كرسف اېښودل مكروه دي ځكه دا مشابه كيږي د لاس داخلولو سره په فرج داخل كې او سره د دې نه چې ضرورت هم ورته نشته. **فا الطاهرة الخ** كه يوه پاكه ښځه په فرج كې كرسف كيږدي د شپې د اولي حصي نه نو كله چې يې صبا كړ نو په دغه كرسف باندي يې اثر دويني وليده **فا الأن الخ** نو اوس يعني د وخت د صبا نه به پري د حيض حكم كولى شي.

و الحائض اذا وضعت الخ او كه يوه حائضه ښځه د شپې د اول نه په فرج كې كرسف كيږدي او د سحر په وخت يې په كرسف باندي سپين والى وليده يعني د ويني اثر ورباندي نه وو نو د دې په پاكوالى به حكم د وخت اېښودونه كولى شي

و الطهر المتخلل اى بين الدمين فى مدته اى فى مدة الحيض و ما رأت من لون فيها اى فى المدة سوى البياض حيض فقوله و الطهر مبتدأ و ما رأت عطف عليه و حيض خبره.

لغات : **الطهر** : د پاكوالي هغه زمانه چې د دوه وينو ترمينځ واقع شي. **المتخلل**: چې واقع شي.

اظهار الدرة من الخلل فى بيان الطهر المتضلل

کله چې يوه زنانه وينه وګوري او بيا پاکه شي او بيا څه وخت وروسته بيا وينه وګوري نو د دغه دوه وينو مينځ کې فاصله موده د پاکوالي ته طهر وايي. د دي کمه موده پنځلس ورځي ده او زياتي موده لره يې حد نشته نو که دغه طهر په مقدار د پنځلس ورځو وو نو دا طهر صحيح دي او په دي باندي احکام د طهارت مرتب کيږي او که د پنځلس ورځو څخه کم وو نو دا بيا طهر فاسد دی او په دي کې د مذاهبو اختلاف دی وروسته راځي. **في مدته الخ** دا حال واقع دی د الدمين نه چې ضمناً مذکور دی يعني چې دغه دوه ويني په حال کون د دي کې چې دا واقع وي په موده د حيض کې **و مارأت الخ** او کوم رنګ د ويني چې په دغه موده کې وويني ماسوا د سپين رنګ نه نو دا حيض دي حقيقة وي او که حکماً وي. شارح وايې د مصنف په قول کې **و الطهر مبتدأ** ده **و مارأت** عطف دی په الطهر باندي **و حيض** يې خبر دی.۱۲.

و اعلم ان الطهر الذى يكون اقلّ من خمسة عشر يومًا اذا تخلل بين الدمين فان كان اقل من ثلثة ايام لا يفصل بينهما بل هو كالدم المتوالى اجماعًا و ان كان ثلثة ايام او اكثر فعند ابى يوسف و هو قول ابى حنيفة أخرًا لا يفصل و ان كان اكثر من عشرة ايام فيجوز بداية الحيض و ختمه با الطهر على هذا القول فقط و قد ذكر ان الفتوى على هذا تيسيرًا على المفتى و المستفتى و فى رواية محمد عنه انه لا يفصل ان احاط الدم بطرفيه فى عشرة او اقل و فى رواية ابن المبارك عنه انه يشترط مع ذلك كون الدمين نصابًا و عند محمد يشترط مع هذا كون الطهر مساويًا للدمين او اقل ثم اذا صار دما عنده فان وُجد فى عشرة هو فيها طهر أخر يغلب الدمين المحيطين به لكن يصير مغلوبًا ان عدّ ذلك الدم الحكمى دمًا فانه يعدّ دمًا حتى يجعل الطهر الاخر حيضًا ايضًا الا فى قول ابي سهيل ﷺ و لا فرق بين كون الطهر الأخر مقدمًا على ذلك الطهر او مؤخرًا و عند الحسن بن زياد الطهر الذى يكون ثلثة او اكثر يفصل مطلقًا فهذه ستة اقوال

التعليق المكمل في بيان الطهر المتخلل: **واعلم الخ** غرض د شارح د دي عبارت نه تفصيل دهغه مذاهبو دی چې په طهر فاسد متخلل کې واقع دی هغه طهر چې پنځلس ورځې وي نو دا با الاتفاق فاصل دی او که د پنځلس ورځو څخه کم وي او د دوه وينو ترمينځ وي نو که دا طهر د دري ورځو څخه کم وو نو **لا يفصل بينهما الخ** د فصل معنى دا چې دا به طهر صحيح وي او عدم فصل معنى دا چې دا به طهر صحيح نه وي بلکې دا طهر به په شان دهغي ورځو وي چې وينه په کې ګوري نو کوم طهر چې دري ورځو څخه کم وي نو دا د دواړو وينو ترمينځ فصل نه راولي يعني طهر صحيح نه دی بلکې په شان د ويني جاري ده. لکه يوه ورځ وينه + بيا دوه ورځي طهر + بيا دوه ورځي وينه. **اجماعًا الخ** يعني په اتفاق د علماؤ د احنافو. **و ان كان الخ** او که دغه طهر متخلل دري ورځي يا د دري ورځو نه زياتی وو اګر چې د لسو ورځو هم زياتي وي خو د پنځلسو ورځو څخه کم دی نو د امام ابويوسف په نزد چې دا د امام ابوحنيفة اخرنی قول دی. چې دغه طهر متخلل چې دري ورځي يا د دري ورځو نه زيات وي فاصل نه واقع کيږي بلکې دا به په شان د ويني جاري وي څکه موده د طهر صحيح چې فاصل وي پنځلس ورځي ده او که د دي نه کمه وه فاسد وه د طهر صحيح احکام پري نه نافذ کيږي. دهغي مثال چې دري ورځي وي. دم+ دم ـ طهر ـ طهر ـ طهر ـ دم. او دهغي مثال چې د دري نه زيات دی.

دم ط ط ط ط ط ط ط ط دم.

فيجوز بداية الحيض الخ نو صرف د امام ابويوسف په نزد به بيا شروع د حيض او ختميدل د حيض په طهر سره وي د دي مثال لکه د يوي ښځي عادت په هره مياشت کې پنځه ورځي وو دا د خپل عادت نه يوه ورځ مخکې په دي وينه راغله بيا د دي د عادت اوله ورځ طهر شو او د عادت دويمه دريمه څلورمه ورځ يې وينه راغله بيا د عادت پنځمه ورځ يې طهر شو بيا د پنځمي ورځي څخه وروسته وينه هميشه شوه.

نقشه:

۱ ۲ ۳ ۴ ۵

دم ط ـ دم ـ دم ـ دم ط ـ دعادت ورځې ـ دم دم ...

اوله يې هم طهر شوه او اخر يې هم طهر شو او دواړه طهرونه به حيض حسابيږي. فقط

الخ یعني دغه حکم صرف د امام ابویوسف په نزد دي نه د نورو علماؤ په اقوالو ځکه دهغوی په اقوالو کې شرائط زیات دي **وقد ذکر الخ** او په فتاوو کې ذکر دي چې فتوی د امام ابویوسف په قول ده د دې لپاره چې مفتي او مستفتي دواړو ته اسانتیا وي **وفی روایة محمد عنه الخ** دا دویم قول دی چې روایت د امام محمد رحمه الله د امام ابوحنیفة ځخه چې که وینې په دواړو طرفونو د طهر باندې احاطه کړې وه او په موده د حیض کې وي چې هغه لس ورځې دي نو دا طهر به فاصل نه واقع کیږي بلکه کا الدم المتوالي به وي او دغه مجموعه ورځې لسو ته ورسیږي او که ونه رسیږي یو شان دی دهغې مثال چې لسو ته ورسیږي دم ط ط ط ط ط ط ط ط دم. او دهغې مثال چې د لسونه کم وي. دم ط ط ط ط ط دم. نو دغه طهر به په شان د کا الدم المتوالي وي په اول صورت کې به لس ورځې ټولې حیض وي او په دویم صورت کې به اووه ورځې ټولې حیض وي او که په موده د حیض کې نوه نو بیا فاصل واقع کیږي. یعني دا به بیا حیض نه وی مثال دم ط ط ط ط ط ط ط ط دم ځکه دا په موده د حیض کې نه ده ځکه مجموعه یوولس ورځې راغلي.

وفی روایة ابن المبارک عنه الخ دا دریم قول دی د عبد الله بن المبارک د امام ابوحنیفة ځخه. خلاصه دا ده چې هغه طهر چې دري ورځې یا زیات وي خو چې پنځلس ورځو نه کم وي هلته به حیض کیږي چې دا دري شرائط په کې وي ۱- احاطه د دم په طرفینو د طهر ۲- په لسو ورځو کې به وي یا د لسو نه کم یعني په موده د حیض کې به وي. ۳- دواړه طرفه وینه چې د طهر ځخه یې احاطه کړې مجموعه به یې نصاب وي چې هغه دري ورځې او دري شپې یا د دې نه زیات د دې مثال لکه: دم. دم ط ط ط ط ط ط دم. په مذکوره مثال کې دري واړه شرائط موجود دی نو لهذا د اطهر به په شان د وینې جاري سره وي یعني ټول به حیض وي وجه یې دا ده چې حیض د دري ورځو ځخه کم نه وي نو کله چې مجموعه د دم محیط دري ورځو ته ورسیږي نو دا قوي شو او هغه طهر متخلل هم تابع د ځان ګرځوي او که مجموعه د دم محیط د دري ورځو ځخه کم وي نو هغه ضعیف دی په خپله حیض نه دی نو بل به ځرنګه تابع د ځان وګرځوي.

وعند محمد الخ په لفظ د عند کې اشاره دي ته ده چې دا د امام محمد خپل مذهب دی او مخکنی قول د امام محمد هغه یو روایت وو د امام ابوحنیفة رحمه الله ځخه او دا ځلورم

قول ده د شيخو اقوالو نه خلاصه د دي دا ده چې د مخکنيو دري شرائطو سره چې ۱-ويني به احاطه کړي وي په دواړو طرفونو د طهر باندي ۲-چې په موده د حيض کې به وي. ۳-او مجموعه د دمينو به نصاب وي څلورم شرط هم د امام محمد په نزد ورسره شته چې دغه طهر به مساوي د دمينو سره وي يا به تري کم وي

ثم اذا صار دمًا الخ د دي معني پيچيدلي ده ترکيب يې واوره **فاِنْ** شرط دی **وُجِدَ** ماضي مجهوله ده او نائب فاعل د دي. **طهرة اُخر** دی **فی عشرة** ظرف دی. د طهر اٰخر لپاره **هُوَ** راجع دی دم حکمي ته يعني صار دمًا ته **فيها** خبر دی د هُوَ لپاره او مجموعه صفت د عشرة لپاره دی او فيها کې ضمير راجع دی عشرة ته **يغلب اَو يصير** کې ضمير راجع دی طهر اٰخر ته **فانه يعدّ دمًا**. جزاء او شرط ده.

الدمين المحيطين به — طهر اٰخر — الدمين المحيطين به

دم دم ط ط ط دم ط ط دم = ۱۰

دم حکمی

کا الدم المتوالی عند محمد رحمه الله

نقشه وګوره او درس پري تطبيق کړه

په مذکوره نقشه کې په طهر اول کې څلور واړه شرائط موجود دي ۱-ادمينو وربانذي احاطه کړي. ۲-په موده د حيض کې ده چې لس ورځي ده. ۳-مجموعه د دمينو نصاب دی چې دري ورځي راځي. ۴-طهر مساوي دی د دمينو سره ځکه دري ورځي دمين هم شو او دري ورځي طهر هم شو. نو اول طهر د امام محمد رحمه الله په نزد غير فاصل دی يعني کا الدم المتولی شو او په دي لس ورځو کې يو بل طهر هم شته چې دري ورځي ده او دمينو وربانذي احاطه کړي خو دا طهر په دمينو محيطينو غالب دی ځکه دمين دوه ورځي دی او طهر دري ورځي ده ليکن که د دي دمينو سره مخکنی طهر چې دم حکمي ګرځيدلي وو ورسره يو ځای شي نو بيا دا طهر اٰخر مغلوبيږي . **فانه يعدّ دمًا الخ** نو دغه طهر اول به دم حسابولی شي.

حق الخ تردي که دغه شرائط په طهر اٰخر کې وموندلی شي نو دا به هم حيض وګرځي.

الا فی قول ابي سهيل الخ د استثناء ده د دي قول نه چې يعد دی يعني دغه طهر به دم ګرځي

او دهغه دمينو محيطينو سره به حسابولى شي چې په طهر آخر ئى احاطه کړي ده نو طهر آخر به مغلوب شي او حيض به وګرځي د ټولو علماؤ په اقوالو باندي مګر په قول د ابي سهيل کې چې هغه طهر اول حيض نه ګرځوي په دي شان چې طهر آخر هم د دي د وجي حيض وګرځي بلکې د ده په نزد طهر به هلته حکمًا حيض ګرځي چې د ځلورو مخکنيو شرائطو سره به پنځم شرط هم وي چې هغه دا چې طهر به د دمينو حقيقينو محيطينو سره يا برابر وي او يا به تري کم وي نو په دي نقشه کې دم دم ط ط دم ط ط ط دم - اول طهر د دمينو
طهر اول طهر آخر
حقيقينو سره مساوي دى نو دا حکما حيض ګرځي خو د دي د وجي طهر آخر حيض نه ګرځي ځکه چې هلته طهر نه د دمينو حقيقنو سره مساوي دى او نه تري کم دى بلکې طهر زيات دي د دمينو حقيقينو نه برابره خبره ده چې طهر آخر مقدم وي دهغه طهر نه چې دم حکمي ګرځيدلى او که مؤخر وي.

و عند الحسن بن زياد الخ دا شپږم قول دى دا د حسن بن زياد مذهب دى دى وايي چې هغه طهر چې دري ورځي وي يا زيات وي دا مطلقًا فاصل دى يعني بي له کوم شرط او تفصيل نه خو دا قول د حسن ابن زياد معارض دى دهغه قول د امام ابويوسف سره چې کوم طهر دري ورځي يا زيات وي نو هغه مطلقًا غير فاصل او دا قول د حسن بن زياد ډير کمزورى دى نو همدا وجه وه چې د امام ابويوسف قول ډير آسانه وو نو هغه يې مقدم کړ او د حسن بن زياد قول ډير کمزورى وو نو هغه يې وروسته کړ.

فهذه ستة اقوال الخ دغه مخکې ذکر شوي مذاهب او روايت شپږ اقوال دي نو دا مسئله مسدسه شوه ۱۲ صافي

و قد ذكر ان كثيرًا من المتقدمين و المتاخرين افتو بقول محمد رحمه الله و نحن نضع مثالًا يجمع هذه الاقوال مبتدأه رأت يومًا دمًا و اربعة عشر طهرًا ثم يومًا دمًا و ثمانية طهرًا ثم يومًا دما و سبعة طهرًا ثم يومين دمًا و ثلثة طهرًا ثم يومًا دمًا و ثلثة طهرًا ثم يومًا دمًا و يومين طهرًا ثم يومًا دمًا فهذه خمسة و اربعون يومًا ففي رواية ابي يوسف رحمه الله العشرة الاولى و العشرة الرابعة حيض و في رواية محمد العشرة بعد طهر هو اربعة عشر و في رواية ابن المبارك العشرة بعد طهر هو ثمانية و عند محمد العشرة بعد الطهر هو سبعة و عند

ابي سهيل الستة الاولى منها و عند الحسن الاربعة الاخيرة و ما سوى ذلك استحاضة.

وضع المثال لهذه الاقوال: **وقد ذكر الخ** په ډيرو فتاوو کې ذکر شوي چې ډيرو متقدمينو او متاخرينو فتوى په قول د امام محمد رحمه الله يعني په مذهب د امام محمد ورکړي.

سوال: مخکې شارح وويل چې فتوى په قول د امام ابويوسف رحمه الله ده ځکه چې هغه اسانه ده او دلته وايي چې فتوى په قول د امام محمد ده.

جواب: د دواړو قولونو ترمينځ څه مخالفت نشته ځکه زياتو علماؤ فتوىٰ په قول د امام محمد ورکړي نو شارح رحمه الله دواړه قولونه رانقل کړل او دي ته نقض نه وايي.

و نحن نضع الخ شارح وايي چې مونږ يو مثال ذکر کوو چې دغه شپږ واړه اقوال به په کې ذکر وي. **مبتدأة الخ** مبتدأة هغه ښځي ته وايي چې نوي بالغه شوي وى او د ابتداء د بلوغ نه يې انتظام د ويني ګډوډ شوي وي **ففى رواية ابي يوسف** رحمه الله **الخ** په روايت د امام ابويوسف کې لس اولني ورځي او لس ورځي د څلورمي لسيزي حيض دى ځکه د امام ابويوسف په نزد د پنځلس ورځو څخه کم طهر مطلقًا غير فاصل دى نو په مذکوره مثال کې پنځه څلويښت ورځي تولي په شان د دم متوالي دي خو غالب عادت د ښځو دا دى چې په هره مياشت کې يو ځل ورباندي حيض راځي نو همدي عادت ته مونږ اعتبار ورکړ په هغه ښځو کې چې د ابتداء د بلوغ نه د دوى د حيض کار ګډوډ شوى وي نو لس اولنى ورځي او لس ورځي د څلورمي لسيزي حيض شوي او باقي پنځه ويشت ورځي تولي استحاض شوي ځکه مياشت کى يو ځل حيض وى نو په اولو ديرش ورځو کې لس ورځې حيض شوى او باقى شل ورځې استحاض شو او بيا په بله مياشت کى لس ورځې حيض شوى او باقى استحاض شو.

و فى رواية محمد الخ او په روايت د امام محمد رحمه الله کې د امام ابوحنيفة رحمه الله څخه هغه لس ورځي حيض دي چې وروسته د هغه طهر څخه دي چې هغه څوارلس ورځي دي ځکه د ده په نزد په دي کې احاطه د دم په طرفينو د طهر باندي راغلى او په موده د حيض کې ده مثال (دم ط ط ط ط ط ط ط دم) **و فى رواية ابن المبارک الخ** او په روايت د ابن المبارک کې هغه لس ورځي حيض دي چې وروسته د هغه طهر څخه دي چې هغه اته ورځي دي ځکه په دي کې احاطه د دم راغلي په طرفينو د طهر او په موده د حيض کې ده او طرفين د دم

نصاب دی. مثال دم ط ط ط ط ط ط دم دم » **وعند محمد** رحمه الله **الخ** او په مذهب د امام محمد رحمه الله كې هغه لس ورځي حيض دي چې وروستنۍ دهغه طهر څخه دي چې هغه اووه ورځي دي مثال « دم دم ط ط ط دم ط ط ط دم » ځکه په دي کې شرائط د مذهب د امام محمد موجود دي **وعند ابي سهيل الخ** په سابقه مذهب کې دده په نزد شپږ اولني د دي لسونه حيض دي ځکه د ابي سهيل په نزد مساوات يا اقليت د طهر شرط دی په نسبت سره دمينو حقيقينو ته او دده په نزد دم حکمي ته اعتبار نشته . **وعند الحسن الخ** او د حسن بن زياد په مذهب کې په پنځه ځلويښت ورځو کې څلور وروستنی ورځي حيض دي « دم ط ط دم » ځکه دده په نزد د دري ورځو نه کم طهر فاصل نه دی يعني حيض دی. **و ماسوی ذلک الخ** او دهغه ورځو نه بغير چې کومي حيض دي په هر مذهب چې وي هغه استحاض دي ۱۲ صافی عفی عنه.

ففی کل صورة يکون الطهر الناقص فاصلًا فی هذه الاقوال سوی قول ابی يوسف فان کان احد الدمين نصابًا کان حيض و ان کان کل منهما نصابًا فالاول حيض و ان لم يکن شيئٌ منهما نصابًا فالکل استحاضة و انما استثنیٰ قول ابی يوسف لان هذا لا يتاتیٰ علی قوله.

توضيح المسئلة: ففی کل صورة الخ د دي عبارت په ترکيب کې مختلف اقوال دي خو آسانه قول دا دی چې کل مضاف شی صورة ته او يکون يې خبر شي نو مقصد د عبارت به دا شي چې هر صورت چې په هغي کې طهر د دري ورځو نه زيات او د پنځلس ورځو نه کم وي دا فاصل دی په دغه مذکوره ټولو اقوالو کې ماسوا د قول د ابي يوسف څخه **فان کان الخ** يعني کله چې تا ته دا ثابته شوه چې په هر صورت کې چې طهر د ۱۵ ورځو څخه کم وي په ټولو اقوالو کې به فاصل وي بغير د قول د امام ابويوسف څخه، نو هر صورة چې په هغي کې نصاب د احد الدمين موجود شي خو نور شرائط د مذاهبو په کې موجود نه شي نو حيض به په کې صرف دغه نصاب د احد الدمين وي او باقي به استحاض وي مثال « دم دم دم ط ط ط ط ط ط ط ط دم »

و ان کان کل منهما الخ او که هر طرف د دم محيطينو څخه نصاب وو نو بيا به صرف اولنی نصاب حيض وي مثال:

دم دم دم ط ط ط ط ط ط ط دم دم دم.

و ان لم یکن الخ او که یو طرف هم نصاب نه وو نو بیا ټولي ورځي به استحاض وي مثال. « دم ط ط ط ط ط ط ط ط ط ط ط ط ط دم».

نو په پنځه واړه قولونو سره به دغه ټولي ورځي استحاض وي. **و انما استثنی الخ** دامام ابو یوسف قول یې ځکه مستثنی کړ چې د ده په نزد دغه طهر ناقص فاصل نه راځي ځکه د ده په نزد هغه طهر چې ناقص وي د پنځلس ورځو څخه نو هغه مطلقًا فاصل نه دی.

واعلم ان الوان الحیض هی الحمرة و السواد فهما حیض اجماعًا و کذا الصفرة المشبعة فی الاصح و الخفرة و الخضرة الضعیفة و الکدرة و التربیة عندنا و فرق ما بینهما ان الکدرة ما یضرب الی البیاض و التربیة الی السواد.

توشیح المسئلة الخ: شارح رحمه الله چې کله فارغ شو د تفصیل د دي قول د مصنف نه چې **و الطهر المتخلل فی مدته** نو شروع یې وکړه په تفصیل د دي قول د مصنف کې **و ما رأت من لون فیها سوی البیاض**. نو ویې ویل **و اعلم ان الوان الحیض الخ** یعني چې رنګونه د حیض سوروالی او توروالی دی او دا دواړه په اتفاق د ټولو علماؤ حیض دی همدارنګه هغه زیړوالی چې مشبعه یعني قوی وي هم حیض دی په صحیح اقوالو کې او شین رنګ او هغه زیړ رنګ چې کمزوري دی **و الکدرة الخ** او هغه خړ رنګ چې سپین والي ته مائل وي. **و التربیة الخ** هغه خړ رنګ چې توروالي ته مائله وي زمونږ د احنافو په نزد دارنګو نه هم حیض دی.

و انما قدم مسألة الطهر المتخلل علی الوان الحیض لانها متعلقة بمدة الحیض فالحقها بها ثم ذکر الالوان ثم بعد ذلک شرع فی احکام الحیض فقال.

تفسیر المسئلة: غرض د شارح د دي عبارت څخه دفع دهغه اعتراض دی چې په مصنف رحمه الله وارديږي هغه داسي چې مصنف ولي د ترتیب د صاحب هدایې څخه مخالفت وکړ ځکه صاحب هدایه اول بیان درنګونو کړی بیا یې احکام د حیض بیان کړی بیا یې مسئاله د طهر بیان کړی او د دري واړو نه مخکې یې موده د طهر بیان کړي او تا د دي عکس کار

وکړو؟ نو شارح جواب وکړو چې مصنف رحمه الله اول بیان د مودي د حیض وکړو ځکه اکثر مسائل د دي پوري موقوف وي او موقوف علیه واجب التقدیم وي بیا یې مسئله د طهر متخلل بیان کړ. ځکه دا تعلق د مودي پوري لري او مسئله د الوانو یې وروسته کړه ځکه هغه کیفیت د حیض معلوموي نه موده د حیض بیا یې شروع وکړه په احکامو د حیض باندي نو شروع د مصنف په اهم بعد الاهم باندي شوه.

فقال یمنع الصلوٰة والصوم و یقضی هو لا هی ای یقضی الصوم لا الصلوٰة بناءً علی ان الحیض یمنع وجوب الصلوٰة و صحة ادائها لکن لا یمنع وجوب الصوم فنفس وجوبه ثابتة بل یمنع صحة ادائه فیجب القضاء اذا طهرت ثم المعتبر عندنا اٰخر الوقت فاذا حاضت فی اخر الوقت سقطت و ان طهرت فی اٰخر الوقت وجبت فاذا کانت طهارتها لعشرة وجبت الصلوٰة و ان کان الباقي من الوقت لمحةً و ان کانت لاقل منها فان کان الباقي من الوقت مقدار مایَسَع الغُسل و التحریمة وجبت و الافلا فوقت الغسل یحتسب ههنا من مدة الحیض

بیان احکام الحیض: مصنف رحمه الله شروع وکړه په بیان د احکامو د حیض نو ویې ویل چې حیض منع کوي د ښځي نه لمونځ او روژه خو فرق دا دی چې لمونځ تري بالکل ساقطوي یعني قضاء د لمونځ ورباندي واجب نه ده او روژه ورباندي حراموي خو تري نه یې ساقطوي وجه دا ده چې روژه په کال کې یوځل راځي نو د حیض د ورځو په روژه نیولو کې حرج نه وي او لمونځ هره ورځ تکراریږي او د ورځي بیا د وترو په شمول شپږ لمونځونه برابریږي نو د دي په قضاء راوړلو کې لوی حرج او تکلیف وي خاص طور هغه زنانه ته چې حیض یې لس ورځي وي. خو په بحرالرائق او فتاوی لکهنویه کی ئی بیا ددی وجه دا ویلی چی کله په حضرت حواء ﷺ باندی حیض راغی دمانځه په وخت کی نو د آدم علیه السلام څخه ئی پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمائل چی زه نه پوهیږم نو الله تعالی بیا ورته وویل چی لمونځ د پریږدی کله چی پاکه شوه بیا ئی د ادم ﷺ څخه پوښتنه وکړه هغه ورته وویل چی زه نه پوهیږم نو الله تعالی ورته وفرمایل چی قضاء د نه راوړی خو کله چی په روژه کی په بی بی حواء باندی حیض راغی نو د ادم ﷺ یا حواء په مانځه قیاس وکړو نو الله تعالی ورته وویل چی د روژې قضاء به راوړی **بناءً علی ان الحیض الخ** یعني دغه فرق د لمونځ او روژې ترمینځ بناء دی په دي باندي چې حیض وجوب د لمونځ او صحت د اداء د لمونځ دواړه منع

کوي ځکه که وجوب يې نه منع کولی نو بیا په ښځه قضاء لازمیده او په روژه کې وجوب د روژي نه منع کوي نو نفس وجوب د روژي ثابت دی بلکې صحت د اداء د روژي منع کوي ځکه اداء د روژی منافي ده د حیض سره نو کله چې ښځه پاکه شي د حیض نه نو قضاء د روژي پري واجب ده، **ثم المعتبر الخ** بیا په سقوط د لمونځ کې او په عدم سقوط د لمونځ کې اٰخر وقت د لمونځ معتبر دی نو که یوه ښځه په آخر وقت د لمونځ کې حائضه شوه او په اول وخت کې او په مینځ کې پاکه وه او لمونځ نه وو اداء کړي نو د دغي ښځي نه لمونځ ساقط شو او که یوه ښځه حائضه وه او په آخر وقت د لمونځ کې پاکه شوه نو په دې ښځه لمونځ واجب شو نو بیا که د لس ورځو ځخه وروسته پاکه شوي وه نو بیا لمونځ وربانډي واجب دی اګر چې د وخت نه یوه لمحه یعني کمه اندازه پاتي وي ځکه حیض د لسو ورځو نه نه زیاتیږي او که ښځه د لسو ورځو پوره کیدو څخه مخکې پاکه شوه نو که بیا باقي وخت دومره اندازه وو چې غسل او تکبیر تحریمه د لمونځ په کې ځای کیده نو لمونځ پري واجب دی او که دومره وخت نه وو پاتي چې غسل او تکبیر تحریمه په کې ځای شي نو بیا لمونځ پري واجب نه دی. **فوقت الغسل الخ** دغه وخت د غسل به د مودي د حیض څخه حسابیږي او که د مودي د طهر نه، نو شارح وویل چې په هغه صورت کې چې انقطاع دویني د ښځي د لسو ورځو نه مخکې وي نو په هغي کې به موده د غسل د حیض څخه حسابیږي نو کله چې يې غسل تمام کړ نو موده د طهارت به شروع شي او که انقطاع د ویني د لسو ورځو د پوره کیدو څخه وروسته وه نو بیا پدی صورت کې موده د غسل به د طهر څخه حسابولی شي ځکه که د طهر څخه حساب نه شي نو موده د حیض به په لسو ورځو زیاته شي ۱۲ عبد الرشید صافي.

و الصائمة اذا حاضت فی النهار فان کان فی آخره بطل صومها فیجب قضاؤه ان کان صومًا واجبًا و ان کان نفلًا لا بخلاف صلوة النفل اذا حاضت فی خلالها فانها تبطل و یجب قضاؤها و ان طهرت فی النهار و لا تاکل شیئًا لا یجزی صوم هذا الیوم لکن یجب علیها الامساک و ان طهرت فی اللیل لعشرة ایام یصح صوم هذا الیوم و ان کان الباقي من اللیل لمحةً و ان طهرت لاقل من عشرة یصح الصوم ان کان الباقي من اللیل مقدار مایسع الغُسل فان لم تغتسل فی اللیل لا یبطل صومها.

توضيح المسئلة: روژه داره ښځه که په ورځ کې حائضه شي نو که په آخر د ورځ کې حائضه شوه روژه يې باطله شوه نو روژه که فرض يا واجب وه لکه روژه د نذر وغيره نو قضاء يې واجب ده او که روژه نفل وه بيا يې قضاء واجب نه ده.

بخلاف صلوة النفل الخ په خلاف د لمونځ د نفل يعني که د نفلي لمونځ په مينځ کې ښځه حائضه شي نو لمونځ باطل شو او قضاء پري واجب ده خو دا فرق صحيح نه دی ځکه روژه او لمونځ دواړه چې نفل وي په شروع باندي لازميږي او کوم شی چې په شروع باندي لازم شي نو دهغه قضاء واجب ده يعني کله چې مفسد ورباندي عارض شو ، فقه حنفي کې ليکلي **ولو شرعت فی صلوة النفل او صوم النفل ثم حاضت فعليها القضاء**. (فقه حنفی ج۱ ص ۱۰۸) د همدارنګه بحر الرائق کې ليکلي چې **و اذا ادركها الحيض بعد شروعها فی التطوع كان عليها قضاء تلك الصلاة اذا طهرت و كذا اذا شرعت فی صوم التطوع ثم حاضت فانه يلزمها قضاؤها فلا فرق بين الصلاة و الصوم ذكره فی فتح القدير ، و كذا فی النهايه، و كذا ذكره الاسبيجابی فتبين ان ما فی شرح الوقايه من الفرق بينهما غير صحيح** (بحر الرائق ج۱ ص ۳۵۶) نو معلومه شوه چې د شرح الوقائي د شارح دا فرق صحيح نه دی **و ان طهرت فی النهار الخ** که يوه ښځه په ورځ کې پاکه شوه او د سحر ختلو ځخه تردي وخته پوري خوراک نه وو کړی نو د دي ورځي روژه ئې نه صحيح کيږي يعني که په دغه وخت کې نيت د روژي وکړي نو دا روژه صحيح نه ده ځکه حيض او نفاس د روژي د صحت سره منافي دی او روژه تجزي نه قبلوي نو که په اول کې منافي د روژي موجود شو نو په آخر کې به حکم د دي منافي باقي وي **ولكن يجب الخ** ليکن په دي ښځي باندي په دغه ورځ د مفطرات ثلاثو ځخه يعني خوراک، څښاک، جماع، ځخه ځان ساتل واجب دي. لپاره د حرمت د رمضان، **و ان طهرت فی الليل الخ** او که په شپه کې پاکه شوه او لس ورځي د حيض پوره شوي وي نو د دغي ورځي يعني د راتلونکي ورځي روژه يې صحيح ده اګر چې د شپي پاتي حصه ډيره کمه وه. **و ان طهرت لاقل الخ** او که د لسو ورځو پوره کيدو ځخه مخکې پاکه شوه نو که د شپي پاتي حصه دومره وه چې غسل په کې ځای شي نو د صبا روژه ئې صحيح ده نو که د شپي يې غسل

ونه کړو نو روژه يې نه باطلېږي ځکه صرف جنابت د روژې سره منافي نه دی ۱۲ صافي.

و دخول المسجد و الطواف لكونه يُفعل فى المسجد فان طافت مع هذا تحلّلتْ و استمتاع ما تحت الازار كالمباشرة و التفخيذ و يحل القُبْلةُ و ملامسة ما فوق الازار و عندهما يَتّقِيْ شعار الدم اى موضع الفرج فقط و لا تقرأ كجُنُب و نفساء سواء كان ايةً او ما دونَها عند الكرخى رحمه الله و هو المختار و عند الطحاوي تحلّ ما دون الاية هذا اذا قصدتْ القرأة فان لم تقصدها نحو ان تقول شكرًا للنعمة الحمد لله رب العٰلمين فلا بأس به و يجوز لها التهجى بالقرآن و المعلمة اذا حاضت فعند الكرخى رحمه الله تُعَلِّمُ كلمةً كلمةً و تقطع بين الكلمتين و عند الطحاوى نصف اية و تقطع ثم تعلم النصف الاخر و اما دعاء القنوت فيكره عند بعض المشايخ و فى المحيط لا يكره و سائر الادعية و الاذكار لا بأس بها و يكره قرأة التوراة و الانجيل.

توضيح المسئلة: **دخول المسجد الخ** دا عطف دی په الصلوة باندې يعني حيض منع کوي داخليدل مسجد ته ځکه نبي عليه السلام فرمايي زه نه حلالوم مسجد د جنب لپاره او نه د حائضې لپاره (الحديث) او مسجد ته داخليدل په طريقه د وخت تيرولو سره وي او که په طريقه د تيريدلو سره وي **و الطواف الخ** او حيض طواف هم منع کوي فرضي وي او که نفلي وي ځکه طواف په مسجد کې کولی شي او مسجد ته د حائضې ښځې داخليدل حرام دي خو سره د حرمت نه که حائضې طواف وکړ نو ګناهګاره شوه او حلاله شوه يعني په دې طواف سره د احرام څخه وځي ليکن ذبح کول د بَدَنى يعني د اوښ يا غوايه ذبح کول وربانديې واجب دي **و استمتاع ما تحت الازار الخ** او حيض منع کوي فائده اخيستل لاندې د لنګ نه يعني د نامه لاندې تر زنګون پورې **كالمباشرة الخ** لکه مباشرت يعني څرمن د څرمن سر لږول لکه غاړه په غاړه کيدل **و التفخيذ الخ** او داخلول د ذکر په مينځ د ورانه کې يعنى ورانه پورى سولول. **و يحل القُبْلة الخ** او مچه اخيستل حلال دي **و ملامسة ما فوق الازار الخ** او د لنګ نه پورته يعني د نامه نه پورته لاس وروړل جائز دي لکه سيني مښل وغيره **و عند محمد**

یتّقی شعار الدم الخ شعار په کسری د شین سره علامي ته وایې او هغي جامي او ټوټي ته وایې چې د بدن سره لګیدلی وي خو مراد د دي نه هغه ځای د وینې او ځای د کرسف ایښودلو دي چې هغه ځای د فرج دی یعنې د امام محمد رحمه الله په نزد د حائضې ښځې د هر ځای څخه فائده اخیستل جائز دي صرف د فرج نه به ځان ساتي **و لا تقرأ الخ** او په حائضې ښځې لوستل د قرآن کریم هم حرام دي همدارنګه په جنب انسان باندې او په نفاس والا ښځې باندې هم لوستل د قرآن حرام دي **سواء الخ** برابر خبره ده چې یو آیت وي او که د یو آیت څخه کم وي دا په نزد د امام کرخي سره او همدا غوره خبره ده او امام طحاوي وایې چې د یو آیت نه کم لوستل ورته جائز ده ځکه د یو آیت نه کم باندې لمونځ نه کیږي نو همدارنګه به جنب سړی هم نه شي منع کولی. **هذا اذا الخ** د حائضې وغیره لپاره چې قرأت منع دی دا په هغه صورت کې چې حائضې قصد د قرأت کړی وي او که قصد یې د قرأت نه وو نو بیا پروا نه لري مثلاً د یو نعمت د شکر اداء کولو لپاره یې وویل الحمد لله رب العالمین ځکه الفاظ د قرآن کریم په اختلاف د نیت سره د قرآنیت څخه بدلیږي **و یجوز لها التهجی با القرآن الخ** او د حائضې ښځې لپاره په هجا سره قرآن لوستل جائز دي هجا دې ته وایې چې یو آیت په کلمې کلمې سره جدا کړي. (فقه حنفی ج۱ ص ۱۰۴) **و المُعَلِّمَةُ الخ** او که یوه ښځه استاذه وي او حیض پرې راشي نو د امام کرخي رحمه الله په نزد به کلمه کلمه خپلو شاګردانو ته ښایې او د دوو کلمو به اتصال نه راولي بلکې جدا والی به راولي دغه تعلیم د حائضې لپاره جائز دی خو د جنب لپاره جائز نه دي ځکه حائضه ښځه په لیري کولو د دې بې اودسی باندې قادره نه ده او جنب انسان د بې اودسی په لیري کولو قادر دی. (فقه حنفی ج۱ ص ۱۰۴) **و عند الطحاوي الخ** امام طحاوي وایې چې معلمه حائضه ښځه به نیم آیت ووایې او کټ به یې کړي بیا به نیم نور ووایې، ځکه د امام طحاوي په نزد د یو آیت نه کم تلاوت د حائضې ښځې لپاره جائز دي. و **اما دعاء القنوت الخ** او دعاء قنوت یعنې **اللهم انا نستعینک الخ** د حائضې ښځې لپاره د بعضو علماؤ په نزد مکروه دي ځکه عبد الله بن مسعود روایت کوي چې دعاء قنوت د قرآن څخه دی او دا دوه سورتونه وو ۱-یو ته سورة الخلع وایې هغه دا **بسم الله الرحمن الرحیم اللهم انا نستعینک** څخه تر **من یفجرک** پورې. ۲-او دویم سورة ته سورة الحقد وایې هغه

دا **بسم الله الرحمن الرحیم اللهم ایاک نعبد څخه تر ملحق** پوري (الدر المنثور للسیوطي)
خو په محیط کې راغلي چې د حائضې ښځي لپاره د قنوت لوستل مکروه نه دي ځکه د جمهورو صحابوو په نزد قنوت د قرآن څخه نه دی او هم دا صحیح خبره ده د همدې وجې څخه د قنوت په سر کې د بسم الله ویل سنت نه شول. **و سائر الادعیة الخ** او نوري دعاګانې او ذکرونه د حائضې لپاره څه پروا نه لري **و یکره قراءة التوراة الخ** او د حائضې لپاره دهغه توراة لوستل مکروه دي چې الله جل جلاله په موسی نازل کړی او دهغه انجیل چې په عیسي علیه السلام نازل شوی او دهغه زبور چې په داود علیه السلام نازل شوی همدارنګه نور کتابونه د الله جل جلاله او صحیفي چې په انبیاؤ نازل شوی ځکه دا هم د الله جل جلاله کلام دی او د الله جل جلاله د کلام تعظیم واجب دی اما که توراة انجیل بدل شوی وو او تحریف په کې شوی وو نو بیا دهغي لوستل جائز دي. ۱۲ صافي عفی عنه.

بخلاف المحدث متعلق بقوله و لا تقرأ و لا تمس هولاء ای الحائض و الجنب و النفساء و المحدث مصحفًا الا بغلاف متجافٍ ای منفصل عنه و اما کتابة المصحف اذا کان موضوعًا علی لوحٍ بحیث لا یمس مکتوبه فعند ابی ایوسف یجوز و عند محمد لا یجوز و کره با الکُمِّ و لا درهمًا فیه سورة الا بصُرَّةٍ اراد درهمًا علیه ایة من القرآن و انما قال سورة لان العادة کتابة سورة الاخلاص و نحوه علی الدراهم

د بې اودسه لپاره د قران لوستل: **بخلاف المحدث الخ** دا متعلق دی تر و لا تقرأ پوري یعني د بې اودسه انسان لپاره د قرآن لوستل جائز دي خو چې په یادو یې وایې او یا د قرآن کریم څخه خو چې پاڼې په قلم وغیره سره اړه وي. **و لا تمس هولاء الخ** او حائضه ښځه او د نفاس والا او جنب او بې اودسه انسان به قرآن کریم ته لاس نه وروړي همدارنګه به د تفسیر کتابو ته هم لاس نه وروړي او د دې نه ماسوا نورو کتابونو ته بې اودسه انسان لاس وروړلی شي ځکه په دې کې ضرورت دی.

الا بغلاف الخ لیکن قرآن کریم ته په غلاف یعني پوښ سره لاس وروړل جائز دي. **متجافٍ الخ** خو داسې پوښ چې د قرآن کریم څخه جدا وي یعني قرآن کریم پوري ګنډل شوی نه وي

او همدارنګه چې د لاس وروړونکی تابع هم نه وي لکه لستوڼی. **لمن وغيره** بلکې يو دريم ثالث پوښ وي او که پوښ د قرآن کريم پوري پيوسته وو نو بيا لاس وروړل جائز نه دي. **واما كتابة المصحف الخ** او ليکل د قرآن کريم په داسي طريقه چې قرآن کريم په يوه تخته ايښودل شوی وي او د دغه مکتوب سره د ده لاس ونه لږيږي نو بيا د امام ابويوسف په نزد د جنب وغيره لپاره د قرآن ليکل جائز دي او د امام محمد په نزد د قرآن کريم ليکل جائز نه دي و **كره بالكم الخ** او په لستوڼي سره قرآن کريم اخيستل د جنب وغيره لپاره مکروه دي ځکه لستوڼی د لاس وروړونکي تابع وي، **ولا درهما الخ** همدارنګه دغه درهم او روپۍ اخيستل هم مکروه دي د جنب وغيره لپاره چې په هغې باندې سورت ليکل شوي وي **الا بصرة الخ** ليکن که دغه روپۍ په هميانې يا بټوه کې وي نو بيا پروا نه لري **وانما قال سورة الخ** سورة يې ځکه وويلې چې عام عادت کې سورة اخلاص وغيره په دراهمو او نورو روپو ليکلی شي ۱۲ عبد الرشيد صافي عفی عنه.

وحل وطی من قُطِع دمها لاكثر الحيض او النفاس قبل الغسل دون وطی من قُطِع لاقل منه اى لاقل من الاكثر وهو ان ينقطع الحيض لاقل من عشرة والنفاس لاقل من اربعين الا اذا مضى وقت يسع الغسل والتحريمة فح يحل وطيها وان لم تغتسل اقامة للوقت الذى يتمكن فيه من الاغتسال مقام حقيقة الاغتسال فى حق حل الوطى.

توضيح المسئلة: کومه ښځه چې حائضه وي او وينه يې بنده شوه **لاكثر الحيض الخ** په تيريدو د اکثره مودې د حيض سره چې هغه لس ورځې دي او يا يوه ښځه نفاس والا وي او وينه يې بنده شوه **او النفاس الخ** په تيريدو د اکثره مودې د نفاس سره چې څلويښت ورځې دي نو د دې ښځې وطي کول جائز دي مخکې د غسل څخه. **دون وطی مَنْ الخ** خو دهغې ښځې وطي کول جائز نه دي چې دهغې وينه د اکثر مودې حيض څخه چې لس ورځې ده مخکې بنده شوه يا د اکثره مودې د نفاس څخه چې څلويښت ورځې ده مخکې بنده شوه **لاقل منه الخ** يعني کم د اکثره مودې نه يعني په حيض کې د لسو ورځو نه کم او په نفاس

کې د څلويښت ورځو نه کم **الا اذا مضى الخ** مګر هلته وطى کول د دي جائز دى چې په دي ښځه دومره وخت تير شي چې غسل او تکبير تحريمه کې ځائيږي ځکه لمونځ په دي وخت کې د دي په ذمه قرض شو او دا حکما پاکه شوه ځکه په غسل کولو سره د دي په پاکوالي به حکم کولى شي او کله چې دومره وخت يې پيدا کړ چې تکبير تحريمه په کې ځائيده نو قضا ورباندي واجب ده.

فحِ يحل وطيها الخ نو په دغه وخت کې د دي ښځي وطي کول جائز دي اګر چې غسل ونه کړي. **اقامةً للوقت الخ** د وجي د قايم والي دهغه وخت چې دا په کې په غسل قدرت ولري په ځاى د حقيقي غسل **فى حق الخ** خو دا قايم والى د وخت په ځاى د حقيقي غسل په حق د حلال والي د وطي کې ده يعني د دومره وخت په تيريدو سره د دي ښځي وطي کول حلال دي. ۱۲ صافي.

و اعلم انه اذا انقطع الدم لاقل من عشرة ايام بعد ما مضى ثلثة ايام او اكثر فان كان الانقطاع فيما دون العادة يجب ان تؤخر الغسل الى اُخر وقت الصلوة فاذا خافت الفوت اغتسلت و صلّت و المراد اخر الوقت المستحب دون وقت الكراهة و ان كان الانقطاع على رأس عادتها او اكثر او كانت مبتدأة فتأخير الاغتسال بطريق الاستحباب و ان انقطع لاقل من ثلثة ايام اخر الصلوة الى اخر الوقت فاذا خافت الفوت توضأ و صلت ثم فى الصور المذكورة اذا عادت الدم فى العشرة بطل الحكم بطهارتها مبتدأة كانت او معتادة فاذا انقطع لعشرة او اكثر فبمضى العشرة يحكم بطهارتها و يجب عليها الاغتسال.

توشيح المسئلة: شارح رحمه الله په واعلم سره د مخکې مسئلي نور وضاحت هم کوي. **اذا انقطع الخ** که وينه يې د لسو ورځو نه مخکې بنده شي وروسته د هغي نه چې درې ورځې يا زياتي تيري شوي وي نو که د ښځې عادت وو مثلاً اووه ورځې او د عادت نه مخکې وينه بنده شوه مثلاً شپږ ورځې وينه راغله او بنده شوه نو دا ښځه به غسل باندي چالاکي نه کوي بلکې په دي واجب ده چې تر اخر وخت د لمونځ پوري غسل وروسته کړي. ځکه امکان شته چې بيا وينه راشي ځکه د عادت وخت يې پاتي دى نو که بيا وينه راوګرځيده نو دا به حائضه

وي او دغه طهر متخلل به غیر فاصل وي او که وینه بیا راونه ګرځیده نو که ویره د فوت کیدو د لمونځ ورسره وه نو غسل دي وکړي او لمونځ دي اداء کړي. **و المراد اخر الوقت الخ** او مراد د اخر وخت نه اخر وخت مستحبه دی نه وخت مکروهه.

و ان کان الانقطاع الخ او که وینه یې د خپل عادت سره مطابق بند شوه او یا د عادت نه وروسته او یا ښځه نوي بالغه شوي وه عادت یې معلوم نه وو چې حیض پرې راغی **فتأخیر الاغتسال الخ** نو د غسل وروسته والی په طریقه د مستحب سره ده یعني داسې ښځې ته مستحب دي چې تر آخر وخته پورې غسل وروسته کړي د وجې د احتیاط نه. **و ان انقطع لاقل الخ** او که د درې ورځو څخه مخکې وینه بنده شوه نو په دې لازم دي چې لمونځ تر آخر وخت مستحبه پورې وروسته کړي نو که بیا د فوت کیدو ویره ورسره وه او ودس دي وکړي او لمونځ دي اداء کړي. **ثم فی الصور الخ** بیا په دې صورتونو مذکوره کې یعني چې وینه د درې ورځو څخه مخکې بنده شي او یا د درې ورځو څخه وروسته خو د لسو ورځو نه مخکې بنده شي بیا وینه په دې لسو ورځو کې راوګرځیده نو د دې په پاکوالي باندې حکم باطل شو نو حائضه شوې وي او که معتاده وي څکه موده د حیض پاتې ده او مخکنی حکم په احتیاط بنا وو. **فاذا انقطع الخ** او که وینه یې د لسو ورځو د پوره کیدو سره بنده شوه یا د لسو ورځو نه وروسته نو صرف په تیریدلو د لسو ورځو سره د دې په پاکوالي به حکم کولی شي او وطي کول یې هم جائز دي. خو غسل ورباندې واجب دی. ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه.

و قد ذکر ان المعتادة التی عادتها ان تری یومًا دمًا و یومًا طهرًا هکذا الی عشرة ایام فاذا رأت الدم تترک الصلوة و الصوم فاذا طهرت فی الیوم الثانی توضأت و صلّت ثم فی الیوم الثالث تترک الصلوة و الصوم ثم فی الیوم الرابع اغتسلت وصلّت هکذا الی العشرة.

توضیح المسئلة: شارح رحمه الله وایې چې په فتاوو کې ذکر شوي کومه معتاده ښځه چې عادت یې دا وي چې یوه ورځ وینه ګوري او یوه ورځ طهر ګوري تر لسو ورځو پورې همدا طریقه وي نو دا به څه کوي، **فاذا رأت الدم الخ** کله چې دې ښځې وینه ولیده نو لمونځ او روژه به پریږدي بیا چې په دویم ورځ پاکه شوه نو د لمونځ لپاره به صرف اودس وکړي او

لمونځ به اداء کړي ځکه مخکنی وینه په دي وجه چې د دري ورځو څخه کمه وه استحاض دی او په استحاض کې غسل واجب نه دی صرف اودس به کولی شي او لمونځ به اداء کوي او د روژي د نیولو لپاره خو نه اودس شرط دی او نه غسل په همدي وجه شارح صرف د لمونځ خبره وکړه او د روژي يې ونه کړه.

ثم فی الیوم الثالث الخ په دریمه ورځ به بیا هم لمونځ او روژه پریږدي او په څلورمه ورځ به بیا غسل کوي او لمونځ به اداء کوي ځکه دري ورځي تیري شوي او دا کمه موده د حیض ده او د حیض د نصاب د پوره کیدو څخه وروسته غسل واجب وي او همدا طریقه به تر لسو ورځو پوري جاري وساتي یعني په کومه ورځ چې وینه وګوري په هغه ورځ به لمونځ او روژه پریږدي او په کومه ورځ چې پاکه شي نو په هغه ورځ به غسل کوي او لمونځ به اداء کوي. ۱۲ عبد الرشید صافي عفی عنه. ۹/۹/۱۳۹۲

واقل الطهر خمسة عشر یوماً ولاحد لاکثره الا لنصب العادة فان اکثر الطهر مقدر فی حقه ثم اختلفوا فی تقدیر مدته والاصح انه مقدر بستة اشهر الاساعة لان العادة نقصان طهر غیر الحامل عن طهر الحامل واقل مدة الحمل ستة اشهر فانتقص عن هذا بشیٔ وهوالساعة صورته مبتدأة رأت عشرة ایام دماً وستة اشهر طهراً ثم استمر الدم تنقضی عدتها بتسعة عشر شهراً الا ثلث ساعات لانها تحتاج الی ثلث حیض کل حیض عشرة ایام والی ثلثة اطهار کل طهر ستة اشهر الاساعة.

د طهر د مودې بیان: د طهر کمه موده پنځلس ورځې ده او د زیاتې مودې له پاره يې کومه شرعي اندازه معلومه نه ده، الا لنصب العادة.....الخ، مګر د عادت د مقررولو او معلومولو له پاره د طهر اکثره موده مقدره او معلومه ده. یعنې په کوم وخت کې چې وینه همیشه جاري شي نو بیا د عادت معلومولو له پاره علماء محتاج شول چې اندازه يې معلومه کړي، په دې کې د علماوو اختلاف دی، اول قول د محمد بن شجاع دی هغه وایي چې اکثره موده د طهر ددې ښځې ۱۹ نوولس ورځې ده، ځکه اکثره موده د حیض په هره میاشت کې لس ورځې وي، نو باقي نوولس ورځې به یقیني توګه طهر شو ځکه چې قمري میاشتې اکثره نهه ویشت ورځې وي

دوهم قول د محمد بن سلمة دی: هغه وایي چې ددې ښځې طهر اوه ویشت ورځې دی ځکه چې د حیض کمه موده دري ورځې ده، نو پاتې اووه ویشت ورځې د طهر ورځې دي.

دریم قول د محمد بن ابراهیم المدانی دی چې د داسې ښځې طهر یو ساعت کم شپږ میاشتې دی او اکثره علماء هم په همدې قول دي، نو ځکه شارح وویل چې وا لاصح ....الخ

لان العادة......الخ، شارح د دریم قول له پاره دلیل قایموي چې عام عادت کې د حاملې ښځې نه د غیر حاملې ښځې طهر کم وي او د حمل کمه موده شپږ میاشتې ده، نو د هغې طهر به هم د شپږو میاشتو نه لږ څه کم وي چې هغه د مثال په ډول یو ساعت دی.

صورته .....**الخ** صورت د مسئلې داسې راځي چې یوه نوې بالغه ښځه لس ورځې وینه وګوري بیا شپږ میاشتې پاکه شي، بیا وینه راشي او همیشه جاري شي، نو که دې ښځې ته خاوند طلاق ورکړي، نو ددې ښځې عدت به په درې ساعته کم نوولس میاشتو کې تیریږي، ځکه دا ښځې درې حیضونو ته ضرورت لري او هر حیض لس ورځې دی، همدا راز درې طهرونو ته ضرورت لري چې هر طهر یو ساعت کم شپږ میاشتې دی.

۱۰ ورځې حیض + ۶ میاشتې طهر الاساعة+ ۱۰ ورځې حیض+ ۶ میاشتې طهر الاساعة+
۱۰ ورځې حیض+ ۶ میاشتې طهر الاساعة - ۱۹ میاشتې طهر الاثلاث ساعات.

وما نقص عن اقل الحیض ای الدم الناقص عن الثلثة اوزاد علی اکثره ای علی العشرة اوعلی اکثر النفاس وهو اربعون یوماً او علی عادة عُرِفَتْ لحیض وجاوز العشرة اونفاسٍ وجاوز الاربعین ای اذا کانت لها عادة فی الحیض وفرضناها سبعةً فرأت الدم اثنی عشر یوماً فخمسة ایام بعد السبعة استحاضة واذا کانت لها عادة فی النفاس وهی ثلثون یوماً مثلاً فرأت الدم خمسین یوماً فاالعشرون التی بعد الثلثین استحاضة هذا الحکم المعتادة.

د استحاض بیان: مصنف رحمه الله چې کله فارغ شو د بیان د احکامو د حیض څخه نو شروع یې وکړه په بیان د استحاضې کې او ددې په احکامو او د استحاضې په اقسامو کې.

د ښځې له فرج نه چې کومه وینه راوځي هغه په درې قسمه ده. ۱: حیض، ۲: نفاس، ۳ استحاض. ومانقض الخ... مصنف رحمه الله په دې سره د استحاض بیان کوي چې کومه وینه د حیض د کمې مودې یعنې درې ورځو څخه کمه شي او یا په اکثره مودې د حیض باندې چې لس ورځې ده زیاته شي او اکثره موده د نفاس باندې چې څلوېښت ورځې ده، زیاته شي نو دا

استحاض دی. اوْ على عادة عُرِفَتْ الخ.... او يا د ښځې په عادت باندې وينه زياته شوه، چې هغه عادت يې په حيض کې معلوم و او له لسو ورځو څخه يې هم تجاوز وکړ، او نفاسٍ الخ.... او يا يې په نفاس کې عادت معلوم و، خو وينه له عادت نه دومره زياته شوه چې څلوېښت ورځو نه يې هم تجاوز وکړ، اى اذا كانت الخ..... شارح د سابقه عبارت نور وضاحت هم کوي يعني که دې ښځې ته په حيض کې معلوم عادت و مثلاً اووه ورځې وو، خو دې ښځې لس ورځې وينه وليدله، نو بيا ټولې لس واړه ورځې حيض دي، ځکه چې د حيض موده پاتې وه او دا احتمال هم لري چې عادت يې له اوو ورځو څخه لسو ورځو ته بدل شوی وي، او که په نفاس کې ددې ښځې عادت معلوم و، د مثال په ډول ديرش ورځې و او دې ښځې پنځوس ورځې وينه وليدله نو ديرش ورځې يې نفاس شو او شل ورځې يې استحاض شو، دا حکم د هغې ښځې دی چې عادت يې معلوم وي.

ثم اراد ان يبين حكم المبتدأة فقال او على عشرة حيض من بلغت مستحاضةً او على اربعين نفاسها المبتدأة التى بلغت مستحاضة حيضها من كل شهر عشرة ايام وما زاد عليها استحاضة فيكون طهرها عشرين يوماً و اما النفاس فاذا لم يكن للمرأة فيه عادة فنفاسها اربعون يوماً والزائد عليها استحاضة فقوله حيض من بلغت بالجر عطف بيان العشرة وقوله نفاسها بالجر عطف بيان لاربعين او ما رأت حامل فهو استحاضةٌ اى الدم الذى تراه الحامل ليس بحيض بل هو استحاضة فقوله وما نقص مبتداء وقوله فهو استحاضة خبره.

د نوې پيغلې د استحاض بيان: مصنف رحمه الله د مبتدئ ښځې حکم بيانوي، مبتداء هغې ښځې ته وايي چې له بلوغ سره ددې وينه د حيض د اکثره مودې څخه چې لس ورځې ده زياته شي نو د لس ورځو څخه وروسته وينه به استحاض وي او ددې ښځې د حيض موده به د هرې مياشتې څخه لس ورځې وي، ځکه چې د داسې ښځې عادت معلوم نه وي، نو ددې په حيض کې به اکثره موده د حيض معتبره وي چې هغه لس ورځې دي او على اربعين....الخ يا نفاس د مبتدئ ښځې له څلوېښت ورځو نه زيات شي يعني هغه به د هر فرض لمانځه د وخت له پاره اودس کوي او د امام شافعي رحمه الله په نزد به د هر فرض لمانځه له پاره اودس کوي

او نفل لمونځ د فرض لمانځه تابع دی يعني په هغه اودس باندې چې فرض لمونځ له پاره يې کړی وي نفل هم کولی شي. ويصلى به فيه... الخ. او زمونږ د احنافو په نزد په دې اودس سره په دې وخت کې چې څومره لمونځ کولی شي ودې يې کړي، که فرض وي او که نفل وي.

وينقضه... الخ. ددې معذورو کسانو اودس د وخت په وتلو سره ماتيږي او که د بل وخت په داخليدو سره او که په خروج او دخول دواړو سره ماتيږي، نو امام زُفر وايي چې د وخت په دخول سره ماتيږي، ځکه چې طهارت سره د منافي چې سيلان د حدث دی، هلته معتبر وي چې اداء ته ضرورت راشي او اداء ته ضرورت د وخت له داخليدو نه مخکې نه راځي، نو د وخت په دخول سره به مخکينی اودس غير معتبر وي او امام ابو يوسف رحمه الله فرمايي چې د وخت په خروج او دخول دواړو سره اودس ماتيږي چې طهارت هلته معتبر وي سره د منافي نه چې اداء ته ضرورت راشي، خو دا ضرورت له وخت پورې منحصر دی نه له وخت نه مخکې او نه له وخت نه وروسته، نو له وخت نه بغير به طهارت معتبر نه وي، نو خروج او دخول د وخت دواړه ناقض شول او د امام ابوحنيفه او امام محمد په نزد په خروج د وخت سره اودس ماتيږي ځکه چې معذور انسان دې ته ضرورت لري چې د وخت نه مخکې اودس وکړي، ددې له پاره چې په اول وخت کې دا په لمانځه قادر وي او د وخت وتل ددې دليل دي چې دده حاجت ختم شو، نو د بې اودسۍ اعتبار به هم د وخت په وتلو سره ښکاره کيږي، خو د امام ابوحنيفه رحمه الله او د امام محمّد رحمه الله په نزد د وخت نه مراد هغه فرض وخت دی، نو که يو معذور د اختر د لمانځه له پاره د زوال نه مخکې اودس وکړي نو په دغه اودس د ماسپښين لمونځ هم کولی شي، ځکه د زوال نه مخکې وخت فرض نه دی. نو صحيح قول په دې مذکوره اقوالو کې د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله قول دی، نو مصنف رحمه الله ځکه وويل چې د معذور انسان اودس په خروج د وخت سره صرف ماتيږي.

فيصلي من توضأ قبل الزوال الى اخر وقت الظهر خلافاً لابي يوسف وزُفر رحمه الله فانه حصل دخول الوقت لاالخروج لابعد طلوع الشمس من توضأ قبله اى من توضأ قبل طلوع الشمس لكن توضأ بعد طلوع الفجر خلافاً لزُفر رحمه الله فانه وجد الناقض عندنا وعند ابي يوسف رحمه الله وهو

الخروج لاعند زُفر رحمه الله فأن الناقص عند الدخول ولم يحصل.

توضيح المسئله: غرض د مصنف رحمه الله ددې عبارت څخه بيان د ثمرې د مخکيني اختلاف دی، حاصل ددې دادی چې معذور انسان چې د زوال نه مخکې اودس وکړي نو په دې اودس باندې د طرفينو په نزد تر ماسپښين پورې لمونځ کولی شي؛ خو کله چې د ماسپښين وخت ووت اودس يې مات شو او د امام ابي يوسف او امام زُفر په نزد د زوال نه مخکې اودس سره صرف د زوال نه مخکې لمونځ کولی شي او په دې اودس سره د زوال نه وروسته لمونځ نه شي کولای، ځکه چې د دوی په نزد د وخت په دخول سره هم اودس ماتيږي او دلته دخول د وخت د ماسپښين راغلی او خروج د وخت نه دی راغلی.

لابعد طلوع الشمس..... الخ او لمونځ نه شي کولی وروروسته د لمر ختلو څخه هغه څوک چې اودس يې مخکې له لمر ختلو نه کړی وي. يعنې که يو معذور له صبح صادق نه وروسته او د لمر ختلو نه مخکې اودس وکړي نو په دغه اودس سره د لمر ختلو نه مخکې چې څومره لمونځ کولی شي ودې کړي خو په دې اودس سره د لمر ختلو نه وروسته لمونځ نشي کولی د طرفينو په نزد او د امام ابو يوسف په نزد هم. فانه وجد الناقض.....الخ.

دا دليل زمونږ د مذهب له پاره دی يعنې د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله له پاره دي، يعنې د طرفينو په نزد او د امام ابو يوسف په نزد د اودس ماتونکي موجود شوي چې هغه خروج دوخت د صبا دی او د امام زُفر په نزد د اودس ماتونکي نه دي موجود شوي ځکه چې د هغه په نزد دخول دی او دخول نه دی راغلی.

لکن توضأ...الخ. په دې عبارت کې د شارح غرض د يو وهم دفع ده، هغه داسې چې مصنف وويل چې قَبْلَهُ يعنې مخکې د لمر ختلو نه نو دا عام دي او شامل دي دوو خبرو ته. ۱: چې له صبح صادق نه مخکې وي. ۲: چې د صبح صادق نه وروسته وي، نو شارح وويل چې د لمر ختلو نه مخکې وي خو چې د صبح صادق نه يې ورووسته اودس کړی وي، نو په دې اودس سره د لمر ختلو نه وروسته د طرفينو په نزد لمونځ نشي کولی، اما که د صبح صادق نه يې مخکې اودس کړی وي، نو بيا په دې اودس باندې د لمر ختلو نه وروسته بالاتفاق لمونځ نشي

کولی، ځکه چې د ائمه ثلاثه وو په نزد خروج راغی او د امام زُفر په نزد دخول راغی.

والنفاس الدم يعقب الولد ولا حد لا قله واكثره اربعون يوماً خلافاً للشافعي اذ اكثره ستون يوماً عنده وهو لام التوامين من الاول خلافاً لمحمد رحمه الله التوأمان ولدان من بطن واحد لايكون بين ولادتهما اقل مدة الحمل هو ستته اشهر وانقضاء العدة من الاخر اجماعاً.

د نفاس بيان: نفاس په لغت کې ولادت يعني د ماشوم پيدا کېدو ته وايي او شرعاً عبارت دی د هغې وينې نه چې د ښځې له رحم څخه د فرج له لارې د بچي له پيدا کېدو نه وروسته راوځي. د نفاس د کمې مودی لره څه اندازه نشته، نو که يوه ښځه د بچي د پيدا کېدو څخه يو ساعت وروسته پاکه شي نو دا به غسل کوي او لمونځ به اداء کوي او نفاس زياتې مودې لره حد هم معلوم دی چې څلوېښت ورځې دی او د امام شافعي رحمه الله په نزد شپېته ورځې دي.

وهو لام التوامين .... الخ توامين دې ته وايي چې يوه ښځه په يوه ګېډه يعني په يو ځل دوه بچي (غبرګوني) راوړي، يعنې د دواړو ترمنځ د حمل کمه موده يعنې شپږ مياشتې تيرې شوې نه وي، نو د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف په نزد به ددې ښځې نفاس د اول بچي له پيدا کېدو نه وروسته شروع کيږي، ځکه چې دا د دوهم بچي له پيدا کېدو نه مخکې حامله ده نو ددې نفاس ته اعتبار نشته، د شيخينو له لوري ځواب دادی چې هر کله لومړی بچی پيدا شي نو د رحم خوله خلاصه شي او په وينې سره ساه واخلي، نو هغه وينه چې د رحم څخه راوځي هغه به خامخا نفاس وي.

و انقضاء العدة ..... الخ، خو عادت بيا په وروستني بچي سره بالاتفاق ختميږي، يعنې که يوه حامله ښځه طلاقه شي او يا يې خاوند وفات شي نو ددې ښځې عدت به په دويم بچي سره بالاتفاق ختميږي، ځکه د حاملې ښځې عدت د بچي په پيدا کېدو سره ختميږي او د دويم بچي پيدا کېدو نه مخکې خو دا ښځه يقيناً حامله وي، نو د اول بچي له پيدا کېدو سره عدت نه تيريږي.

وسِقْطٌ يرى بعض خلقه ولدٌ سقط مبتدأ يرى صفته وولدٌ خبره فتصير هي به نفساء والامة ام الولد ويقع المعلق بالولد اي اذا قال ان ولدت فأنت طالق تُطَلّق بخروج سقط ظهر بعض خلقه وتنقضى العدة به اي اذا طلقها زوجها تنقضى عدتها بخروج هذا السقط.

د سقط مسئله: سقط هر هغه ماشوم دی چې اندامونه يې پوره شوي نه وي او ځينې اندامونه يې معلوميږي لکه لاس، پښه وغيره. نو دا سقط هم حکماً ولد يعنې بچی دی. شارح وايي چې لفظ د سقط مبتدأ ده او يری يې صفت دی او ولد يې خبر دی. فتصير هی ..... الخ، نو دغه ښځه په دغه سقط باندې د نفاس خاونده ګرځي. ولامة ام الولد..... الخ. ام ولد دې ته وايي چې بادار خپله وينځه وطي کړي او له هغې نه يې بچی پيدا شي او بادار ددې دعوه هم وکړي چې دا له مانه دی، نو که يوه وينځه سقط يعنې نا تمام بچی وزيږوي او ځينې اندامونه يې معلوم شي او بادار دعوه هم وکړي چې دا له ما څخه دی نو دا وينځه په دې سقط سره ام ولده وګرځيده او ام ولده د بادار د مرګ نه وروسته ازاديږي. ويقع الوالد..... الخ. او په دغه سقط سره هغه طلاق واقع کيږي چې خاوند له ولادت پورې معلق کړی وي. يعنې که خاوند خپلې ښځې ته ووايي چې که تا بچی وزيږاوه نو ته دې طلاقه يې، نو که دې ښځې يوائې ناتمام بچی چې ځينې اندامونه يې ښکاره کېدل هم وزيږاوه نو دا طلاقه شوه. وينقض العدة..... الخ. که يوې حاملې ښځې ته خاوند طلاق ورکړي، نو ددې عدت د سقط يعنې ناتمام بچي په راوتلو سره ختميږي، خو هغه سقط چې ځېنې اندامونه يې ښکاري.

باب الانجاس

يطهر بدن المصلى وثوبه ومكانه عن نجس مرئي بزوال عينه وان بقي اثر يشق زواله بالماء متعلق بقوله بزوال عينه وبكل مائع طاهر مزيل كخل ونحوه.

مصنف رحمه الله چې کله حکمي نجاساتو له بحث څخه فارغ شو نو په نجاسات حقيقيه باندې يې بحث پيل کړ. انجاس.... الخ په فتحې د الف سره جمع د نجس ده په کسرې د جيم سره او نجس ويل کيږي هر پليت د خلکو نه او هر پليت د هر شي نه. فقه حنفي لومړی توک ۱۱۶ صفحه.

نجاست په دوه قسمه دی، يو هغه نجاست دی چې په سترګو ليدل کيږي چې مصنف رحمه الله ترې تعبير په عن نجس مريي سره کړی دی. دوهم هغه نجاست دی چې په سترګو نشي ليدل کېدلی چې مصنف يې تعبير په عمالم يُراثره سره کړی دی. يطهر بدن المصلى..... الخ. له پليتۍ څخه به د لمونځ کوونکی خپل بدن، جامې او د لمانځه ځای پاک وي عن نجس

الخ د هغه نجاست څخه چې په سترګو لیدل کیږي لکه لوی اودس ماتی او داسې نور... بزوال عینه ..... الخ. په دې سره د پاکوالي طریقه بیانوي چې د نجاست مرئي نه پاکوالی په لرې کولو د ذات او جوثې ددې سره راځي، اګر که څه تاثیر یې پاتې شي چې رنګ یا بوی دي چې د هغې لرې کول سخت وي باالماء..... الخ. دا متعلق دی تر زوال عینه پورې یعنې ددې پلیتۍ ذات به په اوبو یا په هر نرم بهېدونکي شي چې د نجاست پاکوونکی وي لرې کولی شي لکه سرکه او داسې نور.....د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جامه، ځای، بدن درې واړه په اوبو او په هر مایع بهیدونکي پاک څیز سره پاکولی شي او امام ابویوسف رحمه الله په جامه او ځای پاکوالي کې د امام ابوحنیفه رایه تائیدوي او د بدن په پاکوالي کې ورڅخه بیل نظر لري، په دې اړه د هغه نظر دادی چې د بدن نجاست له اوبو پرته په بل څه شي نه پاکیږي. لکه نجاست حکمیه یعنې حدث چې بې له اوبو څخه نه پاکیږي او امام محمد رحمه الله، امام زُفر او امام شافعي رحمه الله وایي چې طهارت مطلقاً چې د جامو وي که د ځای وي او که د بدن وي له اوبو نه بغیر په بل مایع شي سره نشي راتلی ځکه دوی هم نجاست حقیقي په نجاست حکمي باندې قیاس کوي.

وعمالم یُرا اثره عطف علی قوله عن نجس مرئی بغسله ثلثا وغضره فی کل مرة ان امکن بشرط ان یبالغ فی العصر فی المرة الثالثه بقدر قوته والا یَغْسل ویترک الی عدم القطران ثم وثم هکذا وخفه عن ذی جرم جف باالدلک باالارض وجوزه ابو یوسف فی رطبه ای فی رطب ذی جرم اذا بالغ وبه یفتی وعمالا جرم له باالغسل فقط ای یطهر الخف عمالا جرم له کاالبول ونحوه باالغسل فقط.

توضیح المسئله: عمالم یُرا .... الخ. دا عطف دی په دې قول چې وعن نجس مرئي یعنې پاکولی به شي جامې د مونځ کوونکی او ځای د لمانځه او بدن د لمونځ کوونکي د هغه نجاست نه چې اثر ددې نشي لیدلی یعنې نه جوثه لري او نه د وچ والي نه وروسته معلومیږي چې رنګ ولري او که نه نو دغه جامه به په اوبو سره یا په بل مایع پاک شي سره درې ځلې وینځل کیږي او په هر ځل به یې زبیښي، په دې شرط چې که امکان د زبېښلو ؤ او په دریم ځل به یې په زبېښلو کې د خپل وس او طاقت په اندازه کوشش کوي، خو که د جامو په څېرې

کېدلو وېرېده او مظبوطي يې نه زېښېلي نو دا بيا په وينځلو نه پاکيږي

والا يغسل الخ. او که د زېښېلو امکان نه و لکه فرش، پوزی او داسې نور نو بيا به يې ومينځي او پرېږدي دی ترديې پورې چې نورې اوبه ورڅخه ونه څاڅي بيا په دوهم او دريم ځل هم همداسې وکړي. وخفه.... الخ. دا عطف دی په بدن المصلی باندې يعني پاکيږي موزه د لمونځ کوونکي د هغی پليتی څخه چې جوثه لري لکه د انسان لويې بولې، يا چرګ ګندکي او داسې نور.... باالدلک.... الخ په مښلو سره په ځمکه باندې يعني چې موزه په ځمکه ومښل شي نو له داسې پليتی څخه پاکيږي. وجوزه ابو يوسف.... الخ.

امام ابويوسف رحمه الله وايي چې د موزې مښل په ځمکې پورې د لمدې جوثه دارې پليتی څخه هم جايز دي، خو چې په مښلو کې ښه کوشش وکړي چې د پليتی اثر پاتې نشي او په همدې قول فتوی هم ورکولی شي. ځکه په دې کې اسانتيا ده. وعما لاجرم له..... الخ. او که موزه په هغه ګنده ګی. ککړه شي چې جوثه نه لري لکه تش بول او داسې نور.. نو دا يو اځې په وينځلو سره پاکيږي، ځکه چې موزه وغيره چې کله تش بول جذب کړي نو هغه بيا په خاورو سره نه راوځي مګر په اوبو سره پاکيږي.

وعن المنى بغسله سواء كان رطباً اويابساً اوفرك يابسه هذا اذا كان رأس الذكر طاهراً بأن بال ولم يتجاوز البول عن رأس مخرجه او تجاوز واستنجى ولا فرق بين الثوب والبدن فى ظاهر الرواية وفى رواية الحسن عن ابى حنيفة لايطهر البدن باالفرك.

توضيح المسئله: وعن المنى..... الخ. دا عطف دی په وعن نجس مرئي باندې يعني پاکيږي جامه وغيره دمنی څخه په وينځلو سره لامده وی او که وچ وی او يا په ګرولو سره پاکيږی چی وچ وی ځکه چې بي بي عائشه رضی الله عنها فرمايي چې ما به د رسول الله ﷺ له جامو څخه کله مني وينځل ، چې کله به لامده و او کله به چې وچ و نو ګرول به مې. «دار قطني صفحه۱۲۵ ج۱، بيهقي» هذا اذا كان.... الخ. په ګرولو سره وچ مني هلته پاکيږي چې د منيو د راوتلو په وخت کې د ذکر سر پاک وي، هغه داسې چې تشې متيازې وکړي او متيازې د ذکر د سر نه تجاوز ونه کړي يعني نور ذکر پليت نشي او يا تجاوز وکړي خو استنجاء وکړي او که د

ذکر سر پاک نه و نو بيا مني په ګرولو سره نه پاکيږي، ځکه چې له دې سره نور نجاست يو ځای شو. ولافرق ... الخ.

د منيو په ګرولو سره په طهارت کې د جامو او بدن ترمنځ فرق نشته په ظاهر الروايت کې او په روايت د حسن کې د امام ابوحنيفه رحمه الله څخه دا دی چې بدن په ګرولو د منيو سره نه پاکيږي، ځکه حرارت د بدن مني جذبوي، نو هغه بيا نه لرې کيږي، مګر په اوبو سره خو ددې نه جواب دادی چې دغه اندازه رطوبات د ضرورت په اساس معاف دی.

والسيف ونحوه بألمسح والبساط يجري الماء عليه ليلة والارض والا جر المفروش بأليبس وذهاب الاثر للصلوة لا للتيمم اى يجوز الصلوة عليهما ولا يجوز التيمم بهما وكذا الخُص فى المُغرب هو بيت من قصب والمراد ههنا السترة التى تكون على السطوح من القصب.

وضاحت المسئله: والسيف.... الخ. توره يا داسې نور شيان لکه شيشه وغيره پاکيږي، په مسح کولو سره په يو پاک شي باندې چې اثر د نجاست ختم شي پليتي لمده وي او که وچه وي وينځلو ته ضرورت نشته، ځکه چې دا شيان پليتي نه جذبوي، والبساط...الخ. او فرش لکه قالينه وغيره پاکيږي په بيولو د اوبو سره په دې باندې شپه او ورځ.

والارض.... الخ. ځمکه او هغه پخې خښتې چې په ځمکه کې فرش شوې وي، په وچ والي سره پاکيږي او د پليتی د اثر په ختمېدو سره پاکيږي مګر کومې خښتې چې په ځمکه کې لګېدلې نه وي نو هغه په وچ والي سره نه پاکيږي بلکی هغه به وينځل کيږي.

للصلوة لاللتيمم.... الخ، يعنې دغه ځمکه پاکيږي په وچ والي سره خو د لمانځه له پاره نه د تيمم له پاره، يعنې په دې ځمکه لمونځ جايز دی ددې حديث له مخې چې زكاة الارض يبيسها يعنې پاکوالی د ځمکې په وچ والي سره راځي. خو په دې ځمکه تميم جايز نه دی، ځکه شرط د لمانځه له پاره طهارت دی او شرط د تيمم له پاره طهارت او طهوريت دواړه دي. ځکه د تيمم په حق کې صعيد راغلی دی او صعيد يعنې خاوره د پليت کېدو نه مخکې طاهره او طهوره وه، خو کله چې پليته شوه نو د خاورې دواړه صفته ختم شول چې طهارت او طهوريت دی خو بيا چې کله وچه شي نو شرعاً په دې کې يو صفت راځي چې طهارت دی او د تيمم له

پاره يواځې طهارت كافي نه دی، ترڅو چې طهوريت نه وي. دويم دا چې طهارت د خاورې د صعيد ثابت دی شرط كېدل ددې په نص د قرآن سره نو تيمم به نه اداء كيږي په هغه خاوره چې د هغې طهارت په حديث سره ثابت دي. دريم دا چې لمونځ د لږ نجاست سره جايز كيږي خو اودس په هغه اوبو سره نه جايز كيږي چې لږ نجاست هم په كې وي او تيمم د اودس قايمقام دی، نو تيمم په هغه ځمكه جايز نه دی چې څه ناڅه نجاست په كې وي. (بحرالرائق لومړی ټوک ۳۹۱ صفحه، حنفي فقه لومړی ټوک ۱۱۸ ص)

و كذالخُص .... الخ. همدا رنګه په وچ والي سره پاكيږي درمي ځكه دا هم د ځمكې پورې نښتي دي، نو حكم د درمو په شان د حكم د خاورې دی. فی المُغرب.... الخ. مُغرب د يو كتاب نوم دی چې علامه مطرزي تصنيف كړی دی، په دې كتاب كې د خُص معنا يې داسې كړې ده چې دا يوه كوټه وي له درمو څخه خو په دې ځای كې مراد هغه ستره اد درمو ده چې په چت باندې له لمر څخه د ځان ساتنې له پاره اچول كيږي.

وشجر وكلاء قائم فی الارض لو تنجس ثم جف طهر هو المختار وما وقطع منهما بغسله لاغير.

مسئله: شجر ونې، كلاء واښه، يعني كه ونه يا واښه په ځمكه ولاړ وي نو كه پليت شي بيا وچ شي نو دا پاک شو ځكه چې دا هم د ځمكې په حكم كې ده او دا غوره خبره ده او كه ونه يا واښه غوځ كړای شي نو بيا په وچ والي سره نه پاكيږي مګر وينځلی به شي، ځكه چې پاكوالی د ځمكې په وچوالي سره خلاف القياس په حديث سره ثابت دی، نو دا حكم د ځمكې څخه نورو ته نشي متعدي كولي.

لما ذكر تطهير النجاسات شرع فی تقسيمها علی الغليظة والخفيفة وبيان ما هو عفو منها فقال وقدر الدرهم من نجس غليظ كبول ودم وخمر وخرء دجاجة وبول حمار وهرة وفارة وروث وخثي وما دون رُبع ثوب مما خف كبول فرس وما يؤكل لحمه وخرء طير لا يؤكل لحمه عفو وان زاد لا قيل المراد بربع الثوب ربع ادنی ثوب يجوز فيه الصلوة وقيل ربع الموضع الذی اصابته النجاسة كالذيل والكم والدخريص وقدره ابو يوسف بشبر فی شبر واعتُبر وزن الدرهم بقدر مثقال فی الكثيف ومساحته بقدر عرض كف فی الرقيق المراد بعرض الكف عرض مقعّر الكف وهو داخل مفاصل الاصابع.

الوضاحة العجيبة فی بيان النجاسة الغليظة والخفيفة: مصنف رحمه الله چې هر کله د بيان د پاکوالي د پليتيو څخه فارغ شو نو شروع يې وکړه په بيان د اقسامو د پليتيو کې چې غليظه او خفيفه دي، ددې په فرق کې دوه قوله دي. اول د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد غليظه هغه دي چې په نجاست باندې نص «ايات يا حديث» راغلی وي، او په پاکوالي ددې نص نه وي راغلی. برابره خبره ده چې د علماؤ پکې اختلاف وی او که اتفاق وی. ۱ حواله...... د کمپوز پاڼو ۳۱۳

او خفيفه هغه دی چې دوه نصه ددې په پاکوالي او نجاست کې معارض وی. ۲: د امام ابويوسف رحمه الله او د امام محمد په نزد غليظه پليتي هغه ده چې ددې په پاکوالي کې اجتهاد ته څه لاره نه وي او خفيفه هغه ده چې ددی په پاکوالي کې يې اجتهاد ته لاره وي.«فقه حنفي لومړی ټوک ۱۱۹ صفحه»

وقدر الدرهم.....الخ. قدرالدرهم مبتدا ده او عفوٌ لفظ يې خبر دی او ما دون ربع.....الخ عطف دی په مبتدأ باندې، نو اندازه د يو درهم د نجاست غليظه نه لکه د انسان د ډکې او تشې متيازې او روانه وينه د هر حيوان او شراب وخرءدجاجة او ګندګي د چرګې وبول حمار او متيازې د خره وهرة او د پيشو وفارة د موږې وروث او خارشنه د خره يا اس يا د قچر وخثي او د خوشيان د غوا وما دون ربع.....الخ.او له څلورمې حصې نه کمه جامه چې پليته وي په نجاست خفيفه سره لکه د اس متيازې او د هغه حيوان متيازې چې غوښه يې خوړل کيږي او ګنده ګي د هغو مرغانو چې غوښه يې نه خوړل کيږي، هر قسم مرغان چې وي..... عفو الخ يعنې دا مخکې مذکوره شيان پليت دي، خو دغه مقدار معاف دي، يعنې که چا لمونځ ورسره کړی وي نو لمونځ يې صحيح دی خو که اينده کې يې دا پليتي همداسې پرېښوده نو بيا ګناهګار دی. وان زاد.....الخ. او که نجاست غليظه د درهم د اندازې څخه زيات شو او نجاست خفيفه د جامې څلورمې حصې ته ورسيده نو بيا معاف نه ده، يعنې لمونځ ورسره جائز نه دی. قيل المراد، ځينې علماء وايي چې د څلورمې حصې نه مراد څلورمه حصه د ادنی هغه جامې ده چې لمونځ په کې اداء کيږي، لکه لنګ، پرتوګ او داسې نور..... او ځينې علماء وايي چې څلورمه حصه د هغه طرف د جامې چې پليتي ورته رسيدلې ده کالذيل لکه لمن والکم لستونی والدخريص د

تخرګ نه لاندې تر خذ يا څلورمه حصه د هغه بدن چې پليتي ورته رسېدلې ده لکه لاس، پښه او داسې نور...... دريم قول چې شرح الوقايې ذکر کړی نه دی هغه دادی چې څلورمه حصه د ټولې جامې يا د ټول بدن مراد ده وقدره.....الخ. امام ابويوسف ددغې څلورمې حصې اندازه لوېشت په لوېشت کې کړې ده يعنې چې يوه لوېشت اوږدوالی ولري او يوه لوېشت پلنوالی ولري نو دا د څلورمې حصې اندازه ده په هغه صورت کې چې دويم قول مراد شي. واعتبر وزن .....الخ. د درهم په تفسير کې د امام محمد رحمه الله څخه دوه روايته دي. ۱ د مثقال په اندازه چې شل قيراطه کيږي. ۲ د ورغوي د پلنوالي په اندازه، خو علماوو د دواړو روايتونو ترمنځ تطبيق داسې راوستو چې وزن د درهم په اندازه د مثقال په هغه پليتی کې معتبر دي چې کثيفه يعنې غليظه وي، په سترګو ددې ذات ليدلی شي او مساحت ددې درهم يعنې لوی والي په اندازه د پلن والي د ورغوي سره په هغه پليتی کې معتبر دی چې نرمه وي لکه تشې متيازې وغيره. المراد بعرض الكف.... الخ. ټول ورغوی مراد نه دی مګر پلنوالی د هغه مقعد يعنې د ورغوي ژور ځای چې د بندونو په داخل کې وي.

ودم السمك ليس بنجس ولعاب البغل والحمار لاينجس طاهراً لانه مشكوك فاالطاهر لايزول طهارته باالشك وبول انتضح مثل رؤس الابر ليس بشئٍ وماءٌ ورد على نجسٍ نجسٌ كعكسه اى كما ان الماء نجس فى عكسه وهو ورود النجاسة على الماء لارماد قذر وملح كان حماراً اى لايكون شئٌ منها نجساً وفى رماد القذر خلاف الشافعى.

وضاحت: د ماهي وينه پليته نه ده ځکه چې په ماهي کې حقيقي وينه نشته مګر څه رطوبت دی چې له وينې سره مشابه دی، هغه داسې چې وينه کله لمر ته واچولی شي نو توريږي او د ماهي وينه سپينيږي. ولعاب البغل... الخ. او د قچر او خره لاړې لاينجس..... الخ. نه پليتوي پاک شی يعنې که د قچر يا خره لاړې جامو يا بدن ته ورسيږي، نو لمونځ ورسره روا دی لانه مشكوک ....الخ. ځکه په دې کې شک کړای شوی چې دا پاکوونکی دی او که نه؟ او شک يقين لره نشي ختمولی نو د خره او قچر په لاړو باندې هغه طهارت نه ختميږي چې هغه په يقيني ډول ثابت دي، وبول انتضح..... الخ. بول مبتدا ده ليس بشئٍ يې خبر دی، بول متيازې

انتضح پاش شي مثل الرؤس الابر الخ په شان د سرونو د ستنې لیس بشئ....الخ هیڅ نه دی یعني جامه او بدن نه پلیتوي بلکه معاف ده، وماءً ورد الخ او هغه اوبه چې په ګنده ګۍ ورشي نو هغه پلیتې دي، کعکسه ..... الخ لکه عکس. ددې یعنې لکه څرنګه چې اوبه پلیتې دي په هغه صورت کې چې ګنده ګي په اوبو کې ورشي لازماً د القذر ..... الخ. او پلیته نه ده ایره د ګنده ګۍ یعني که ګنده ګي په اور سره وسوځول شي نو ایره یې پلیته نه ده، ملح کان الخ او هغه مالګه پلیته نه ده چې خر ؤ یعنې که خر د مالګې په کان کې مالګه وګرځي نو دغه مالګه پلیته نه ده، ځکه چې په دواړو صورتونو کې جنس بدلیږي.

وفی امادالقزر..... الخ. که ګنده ګي وسوځیږي او ایره شي نو د امام شافعي په نزد دا ایره پلیته ده همدارنګه هغه مالګه چې خر پرې ګرځېدلی دی هم پلیته ده.

ویصلی علی ثوب بطانته نجسة ای اذا لم یکن الثوب مضرّباً وعلی طرف بساط طرف اخر منه نجس یتحرک احدهما بتحریک الاخر ولا وانما قال هذا احترازاً عن قول من قال انما یجوز الصلوة علی الطرف الاخر اذا لم یتحرک احد الطرفین بتحریک الاخر وفی ثوب ظهر فیه نُدُوة ثوب رطب نجس لُف فیه لا کما یقطر شئ لو عصر او وضع رطباً علی ما طین بطین فیه سرقین و یبس او تنجس طرف منه فنسیه وغسل طرفاً اخر بلا تحر ای لا یشترط التحری فی غسل طرف من الثوب.

توضیح المسئله: ویصلی.... الخ. بطانته لاندې استر د جامې مضربا یا ګنډل شوی. بساط فرش ندوة لمدوالی رطب لمده لف چې تاو شوی وي طین چې اخیړ ورکړل شوی و.

سرقین: خوشیان، ویصلی .... الخ یعنې جایز ده لمونځ په هغه جامه باندې چې لاندې استر ددې پلیت وي خو دا په هغه صورت کې چې لاندې استر ددې سره ګنډل شوی نه وي او که ګنډل شوی و نو دا بیا په حکم د یو شي کې ده، بیا په دې لمونځ جایز ندی. وعلی طرف بساط الخ. او لمونځ جایز دی په طرف د هغه فرش باندې چې بل طرف ددې نجس وي، برابره خبره ده چې د یو طرف په خوځولو سره بل طرف خوځیږي او که نه، وانما قال شارح ددې لفظ چې یتحرک احدهما بتحرک الاخر دی، فایده بیانوي چې ددې له پاره یې دا وویل چې د قول د هغه علماو څخه احتراز راشي چې وایي چې ددې فرش په هغه بل طرف هلته لمونځ جایز دی چې د

يوه طرف په خوځولو سره هغه بل طرف نه خوځيږي، دوی وايي چې کله د يو طرف په خوځولو سره دوهم طرف خوځيږي نو دواړه طرفه په حکم د شئ واحد کې وګرځيده، ګويا ده په نجس ځای لمونځ وکړ او کوم خلک چې دا قيد ورسره نه لګوي نو هغوی وايي چې فرش د ځمکې په شان دی، نو په فرش کې هم صرف د لمانځه د ځای پاکوالی شرط دی، اګر چې په بل طرف کې نجاست وي، وفی ثوب..... الخ. او لمونځ جايز دی په هغه جامه کې چې راښکاره شي په دې کې لمدوالی د هغې جامې چې لمده وي او پليته وي، او دا پاکه جامه په دې لمده نجسه جامه کې تاو شوې وه، يعنې يوه پاکه وچه جامه يې په لمده پليته جامه کې تاو کړه، او په دې پاکه جامه کې د لمدوالي اثر ښکاره شو، نو په دې جامه کې لمونځ صحيح دی. لاکما يقطر... الخ. دا متعلق دی تر ظهر پورې يعنې لمدوالی په کې راښکاره شو خو دومره لمدوالی نه و چې اوبه ترې وڅاڅي، که چېرته وزبېښل شي او که چېرته لمدوالی په کې دومره ښکاره شي چې د زبېښلو سره ترې اوبه څاڅي نو بيا پکې لمونځ جايز دی. او وضع ..... الخ. په هغه جامه کې هم لمونځ جايز دی چې لمده جامه په هغه ځای کې کېښودل شي چې هغه ته اخبږ ورکړل شوی وي په هغې ختې سره چې هغې کې خوشيان وغيره وي او بيا دا اخبږ وچ شوی وي. او تنجس .... الخ. لمونځ جايز ندی په هغه جامه کې چې يو طرف ددې پليت شي او بيا ورځخه دا پليت طرف هير شو او بل طرف يې ومينځه بې له څه سوچ او فکر نه، يعنې سوچ او فکر او طلب د غالب ګمان شرط نه دی په وينځلو د بل طرف کې، ځکه کله چې بل طرف ومينځه نو په نورو طرفونو کې شک د نجاست پيدا شو او په شک سره نجاست نشي راتلای.

کحنطة بال عليها حُمُرٌ تدوسُها فقسم او وهب بعضها فيطهر ما بقي اعلم انه اذا وُهب بعضها او قسمت الحنطة يكون كل واحد من القسمين طاهراً اذ يحتمل كل واحد من القسمين ان يكون النجاسة في القسم الاخر فاعتبر هذ الاحتمال في الطهارة لمكان الضرورة.

دغوبل په وخت کې په درمن د خره متيازې:

كحنطلة..... الخ. د هغې جامې چې پليت طرف ئې يې هير وي او بل طرف ومينځي ددې مثال داسې دی لکه د غنمو د غوبل په ورځ چې په خرو غوبل کوي او خره په دې متيازې وکړي

او دغه غنم بیا شریکان په خپل منځ کې سره تقسیم کړي او یا یې څه حصه چاته بخشش کړي نو پاتې غنم پاکیږي.

اعلم... الخ. کله چې څه حصه بخشش کړل شي او یا غنم تقسیم کړای شي نو دواړه حصې پاکې شوې ځکه هر یو کس دا وایي چې نجاست به په هغه بله برخه کې وي، نو د ضرورت په اساس دغه احتمال په طهارت کې معتبر شو.

فصل الاستنجاء من كل حدث اى خارج من احد السبيلين غير النوم والريح فان قُلت ان قيد الحدث بالخارج من احد السبيلين فاستثناء النوم مستدرك وان لم يقيد به ففى كُلِ حدثٍ غير النوم والريح يكون الاستنجاء سنة فيسن فى الفصد ونحوه وليس كذلك قلت يقيد الحدث بالخارج من السبيلين واستثناء النوم غير مستدرك لانه من هذا القبيل لان النوم انما ينقض لان فيه مظَنَّةُ الخروج من السبيلين.

د استنجاء مسائل:

استنجاء په لغت کې پاکوالي د ځای د ګنده ګۍ ته وایي او په اصطلاح د شرعي کې لرې کول د پلیتۍ د یو د دوو لارو څخه په تیږو یا اوبو سره. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۱۶ صفحه)

الاستنجاء مبتدا او سنة خبر دی، یعني استنجاء د هرې بې اودسۍ نه چې راوتونکی وي د یو د دوو لارو څخه ما سواء د خوب او باد نه سنت دی، ځکه یواځې په خوب کولو سره او یا په باد وتلو سره استنجاء سنت نه ده، مګر بدعت ده. فان قلت.... الخ. شارح رحمه الله وایي چې مصنف د حدث تفسیر په خارج من احد السبیلین سره کړی، نو په دې قید او تفسیر سره خوب ترې خارج شو، ځکه چې خوب خارج من احد السبیلن نه وي نو بیا استثناء د نوم مستدرک یعني لغو او عبث ده ځکه نوم دجنس دمستثنی منه څخه نده چې هغه حدث ده او که دا قید یې ورسره لګولی نه وي بلکی مطلق یې پرینښی وي او داسې یې ویلي وای چې الاستجاء من کل حدث نو بیا به د خوب او بادو نه ماسوا په هره بې اودسۍ کې استنجاء سنت شي، تر دې چې په رګ وهلو وغیره کې به هم استنجاء سنت شي او حال دا چې استنجاء د هغې بې اودسۍ د لرې کولو له پاره سنت ده چې په احدالسبیلین باندې وي نه د نورو له پاره.

قلت الخ شارح ځواب ورکوي چې مونږ اول شق غوره کوو يعني حدث مقيد کوو په خارج من احد السبيلين سره او که ته وايې چې استثناء د نوم مستدرک راځي نو مونږ وايو چې حدث په دوه قسمه دی، يو حقيقي بل تقديري، نو نَوْم که حقيقي حدث نه دی مگر تقديراً حدث دی نو نوم هم په حدث کې داخل شو او استثناء يې صحيح شوه. لانه من هذا.... الخ شارح وايي چې نَوْم هم د قبيلې د حدث څخه ده يعني تقديراً حدث دی، لان النوم الخ. دليل بيانوي چې نوم څکه تقديراً حدث دی چې په دې کې هم گمان د حدث د وتلو وي.

بنحو حجر يمسحه حتى ينقيه بلا عدد سنةٌ اى ليس فيه عدد مسنون عندنا خلافاً للشافعى رحمه الله وهى ثلثة احجار يُدبر بالحجر الاول ويُقبل بالثانى ويُدبر بالثالث صيفاً ويُقبل الرجُل با الاول والثالث شتاءً الا دبار الاذهاب الى جانب الدبر والاقبال ضده ثم ان فى المسح اقبالا وادباراً مبالغة فى التنقية وفى الصيف يدبر بالحجر الاول لان الخصية فى الصيف مدلاة فلايقبل احترازاً عن تلويثها ثم يقبل ثم يدبر مبالغةً فى التنظيف وفى الشتاء غير مدلاة فيقبل با الاول لان الاقبال ابلغ فى التنقية ثم يدبر ثم يقبل للمبالغة وانما قيد بالرجل لان المرأة تدبر باالاول ابداً لئلا يتلوث فرجها والصيف والشتاء فى ذلك سواءٌ.

صحبة الابرار فى البيداء فى بيان الاحجار الاستنجاء: بنحو... الخ. متعلق دی له استنجاء پورې، حجر الخ ددې نه مراد تيږه او هر هغه شی چې پاکونکی وي لکه خاوره، لوټې، ټوټه او داسې نور مراد دی، يمسحه مسح کوي به يعني وهي به دغه تيږه وغيره د استنجاء تر ځای پورې تر دې چې ښه پاک شي بلا عدد بې له څه عدد نه يعني زمونږ د احنافو په نزد په استنجاء کې د تيږو وغيره عدد موکدنه دی، مگر نفس استنجاء مؤکد سنت ده، تر دې پورې چې که په يوه تيږه يا لوټه باندې پاکوالی راشي هم کافي ده. د احنافو له پاره دليل دا حديث دی من استجمر فليوتر فمن فعل فقد احسن ومن لا فلا حرج. ترجمه: څوک چې استنجاء کوي نو طاق دې استعمال کړي، نو چا چې دا کار وکړ دا ډېر ښه ده، خو که چا ونه کړ نو څه گناه هم نشته.

امام شافعي رحمه الله فرمايي چې تثليث يعني درې تيږې استعمالول مؤکد سنت دي، ددې حديث له وجې نه، كان رسول الله ﷺ يأمر بثلثة احجار. ژباړه: رسول الله ﷺ به په

استنجاء کولو کې په درې تيږو باندې امر کاوه، احناف له دې حديث نه دا ځواب کوي چې درې تيږې ذکر کېدل په احاديثو کې دا د عادت مطابق راغلي چې عام عادت کې غالباً پاکوالی په درې تيږو سره راځي او يا دا حديث د درې تيږو په مستحب والي حمل دی، په دې دليل چې که يوه تيږه درې طرفونه ولري او په هغې استنجاء وکړي نو دا هم د شوافعو په نزد جايز دی او په دې دليل چې رسول الله ﷺ له پاره يو صحابي دوه تيږې او خوشايه راوړ، نو رسول الله ﷺ خوشايه لرې کړ او په دوو تيږو يې کفايت وکړ. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۱۸ ص)

سُنَّةٌ... الخ. دا خبر د الاستنجاء له پاره دی نه مضاف اليه د بلا عدد له پاره، او بلاعدد متعلق دی ترس سنة پورې. ای ليس فيه... الخ. دا تفسير د بلا عدد له پاره دی، وهی ثلثة..... الخ. چې هغه درې تيږې دي، يدبر باالاول..... الخ. مصنف رحمه الله په دې سره افضله طريقه د استنجاء بيانوي او دا طريقه په لوی اودس ماتي کې ده، طريقه داده چې اوله تيږه به له مخکې طرف نه وروسته طرف ته بوځي، ويقبل باالثانی... الخ. او دوهمه تيږه به له وروسته طرف نه مخکې طرف ته بوځي. ويدبر باالثالث..... الخ. او درېمه تيږه به د مخکې طرف نه وروسته طرف ته بوځي صيفاً د اوړي په موسم کې، ويقبل الرجل.... الخ. او سړی به د ژمي په موسم کې اوله او درېمه تيږه د وروسته طرف نه مخکې طرف ته بيايي او دويمه تيږه به ددې برعکس الادباء وروسته طرف ته بوتلل والاقبال، مخکې طرف ته بوتلل، ثم ان فی المسح.... الخ. شارح رحمه الله فرمايي چې دغه طريقه دا دبار او اقبال په دې غوره کړه چې پاکوالی راشي، کنه نو چې ټولې تيږې مخکې طرفته استعمال کړي يا شا طرف ته استعمال کړي هم جايز دي، وفی الصيف..... الخ او په اوړي کې به اوله تيږه د مخکې طرف نه وروسته طرف ته بوځي. لان الخصية .... الخ. ځکه د سړي هګۍ په اوړي کې اوږدې وي، فلايقبل.... الخ. او له وروسته طرف نه به مخکې طرف ته اوله تيږه نه بيايي، احتراز عن تلويثها..... الخ. له پاره د ځان ساتلو د ککړېدو د هګيو د ګندګۍ نه، ثم يقبل..... الخ. بيا به يو ځل وراندې طرف ته تيږه بوځي بيا وروسته طرف ته ترڅو چې د پاکوالي له پاره ښه کوشش وشي. وفی الشتاء.... الخ. او په ژمي کې هګۍ اوږدې نه وي نو اوله تيږه به له وروسته طرف نه مخکې طرف ته بوځي، لان الا قبال.... الخ. ځکه مخکې طرفته استعمالولو کې زيات پاکوالی راځي بيا به وروسته طرف ته

بوخې له پاره د ښه پاکوالي. وانما قيد..... الخ. مصنف رحمه الله اول حکم مطلق ذکر کړی دی او دوهم حکم کې قيد د سړي ورسره کېښوده، ددې له پاره چې ښځه به اوله تيږه د هميشه له پاره د مخکې طرف نه وروسته طرف ته بيايي، ددې له پاره چې فرج يې ککړ نه شي ځکه چې د ښځې د فرج او دبر ترمنځ پرده نشته، نوکه وروسته طرفنه مخکې طرفته تيږه استعمال کړي نو فرج به يې ککړ شي. والصيف..... الخ. په دې کې اوړی او ژمی يو برابر دی. **وغسله بعد الحجر ادب فيغسل يديه ثم يرخي المخرج مبالغة ويغسله ببطن اصبع او اصبعين او ثلث اصابع لا برؤسها ثم يغسل يديه ثانياً ويجب في نجس جاوز المخرج اكثر من درهم هذا مذهب ابي حنيفة وابي يوسف وهو ان يكون ماتجاوز اكثر من قدر الدرهم وعند محمد يعتبر ماتجاوز المخرج مع موضع الاستنجاء ولا يستنجي بعظم وروث ويمين وكره استقبال القبلة واستدبارها في الخلاء ولا يختلف هذا عندنا في البنيان والصحراء.**

له تيږو نه وروسته په اوبو استنجاء کول مستحب دي:

وغسله..... الخ. د تيږو له استعمال نه وروسته د مخرج وينځل مستحب دي، يواځې تيږه استعمالول هم سنت دي او يواځې اوبه استعمالول هم سنت دي، خو دا د اول نه غوره دي. که تيږه او اوبه دواړه استعمال شي نو دا له ټولو نه غوره ده بلکه سنت دي دا صحيح او مفتی به خبره ده. (بحرالرائق لومړی ټوک ۴۱۹ صفحه) فتح القدير درمختار.

فيغسل يديه ...... الخ. په دې سره طريقه د استنجاء بالماء بيانوي چې اول به تر مړوندو پورې لاسونه وينځي بيا به مخرج پراخه کړي يعنې ازاد به کيني چې ښه پاکوالی راشي او مخرج به په داخل دګوتو وينځي، په يوې، دوو يا دريو ګوتو به يې وينځي خو د ګوتو په سرو به استنجاء نه کوي، د استنجا نه وروسته به بيا لاسونه ووينځي. ويجب في نجس..... الخ. او په اوبو باندې استنجاء کول فرض دي، په هغه صورت کې چې پليتي د مخرج نه د درهم نه زياته اندازه تجاوز کړي، يعنې په تيږو سره استنجاء کول د ضرورت په مقام کې کافي کيږي، خو که د مخرج نه تجاوز وکړي بيا په تيږو سره استنجاء نه کافي کيږي، بلکی په اوبو باندې وينځل يې واجب دي. په دې کې د هيچا اختلاف نشته، د امامانو اختلاف د هغه مقدار په معلومولو کې ده چې د لمانځه مانع وي، نو امام ابوحنيفه او امام ابو يوسف وايي چې د

استنجاء له ځای نه بغير يعني د دبر د خولې نه ماسواء كه د يو درهم څخه پليتي زياته شوه نو بيا دا مانع ده او وينځل يې واجب دي، او امام محمد وايي چې د استنجاء ځای په كې داخل دی يعني كه د استنجاء له ځای سره له يو درهم څخه پليتي زياته شوه نو بيا مانع ده او وينځل يې واجب دي د شيخينو په نزد هغه ګندګي چې د استنجاء په ځای وي په حكم د باطن كې ده او د امام محمد رحمه الله په نزد په حكم د ظاهر كې ده، خو كه د مخرج نه پرته يو درهم او يا له دې نه كمه اندازه وه نو بيا د شيخينو په نزد معاف ده. ولايستنجي... الخ. په هډوكو به استنجاء نه كوي ځكه چې رسول الله ﷺ له دې څخه منع فرمايلې ده، ځكه چې دا د پيريانو خوراک دی، وروث.... الخ. او په خرشنو به استنجاء نه كوئ، ځكه يو حديث كې ديته نجس ويل شوي او په بل حديث كې راغلي چې دا هم د پيريانو خوراک دی. (بحر الرائق) ويمين.... الخ. او په ښي لاس به استنجاء نه كوي ځكه چې رسول الله ﷺ له دې څخه منع فرمايلې ده او بل د شرافت له وجې نه به په ښي لاس باندې استنجاء نه كوي، خو دا په هغه صورت كې چې په چپ لاس عذر نه وي او كه عذر و نو بيا په ښي لاس باندې هم استنجاء مكروه نه ده.

وكره استقبال.... الخ. او قبلې ته مخامخ كېناستل مكروه دي، همدا رنګه قبلې ته شا ګرځول هم مكروه دي، فی الخلاء..... الخ. په بيت الخلاء كې، ولايختلف ..... الخ. د احنافو په نزد په صحرا او ابادۍ دواړو كې د اودس ماتي په وخت كې قبلې ته مخ يا شا كول مكروه دي او امام شافعي وايي چې په ابادۍ كې د اودس ماتي په وخت كې قبلې ته مخ يا شا كول جايز دي ځكه عبدالله بن عمر رضی الله عنه وايي چې ما رسول الله ﷺ وليده چې د حاجت پوره كولو په وخت كې يې قبلې ته شا ګرځولې وه او د احنافو له پاره دليل دادی چې رسول الله ﷺ فرمايي چې كه يو له تاسو څخه اودس ماتولو ته لاړ شي نو نه به قبلې ته مخ ګرځوي او نه به شا ګرځوي كه ډک اودس ماتی كوي او كه تش اودس ماتی كوي، دا د رسول الله ﷺ قول دی، د امام شافعي رحمه الله دليل د رسول الله ﷺ فعل دی او قول په فعل باندې مقدم وي.

فائده: كه نورو طرفو ته دخلكو دوجې منخ نشی ګرزولی يعنی حرف قبلی طرف ته ورته مخه خلاصه وه نو قبلی ته به مخ كړی او سرد ذكر به تاؤ كړی. فتاوٰی حوزيه.

كتاب الصلوة

الوقت للفجر من الصبح المعترض الى طلوع ذكاء احترز بالمعترض عن المستطيل وهو الصبح الكاذب.

الصلوة الخ صلوة په لغت کې دعا ته وايي او په شريعت کې افعال مخصوصه لکه قيام، قرئت، رکوع، سجده په اوقات مخصوصه کې ترسره کولو ته صلوة وايي. الوقت الفجر... الخ د سهار لمونځ يې مخکې کړ ځکه دا په ورځ کې اول لمونځ دی او له خوب نه وروسته دی، وخت د صباح له پاره د ابتداء د هغه صباح نه چې خپور وي او پلن وي الى طلوع ذکاء ....الخ تر راختلو د لمر پورې، صباح په دوه قسمه دی اول صبح کاذب دا هغه صباح دی چې ددې رڼا پورته اوږده وي، ديته دروغجن صباح وايي، په دې سره د سهار لمونځ نه روا کيږي. دوهم صبح صادق دا هغه صباح دی چې ددې رڼا د اسمان په غاړو کې پلنه خپره وي، دې سره د سهار لمونځ اداء کيږي، نو مصنف رحمه الله چې معترض ووېل نو د مستطيل نه يې احتراز وکړ چې صبح مستطيل سره د سحر د لمانځه وخت نه داخليږي.

للظهر من زوالها الى بلوغ ظل كل شئ مثله سوى فيئ الزوال لابد ههنا من معرفة وقت الزوال وفيئ الزوال وطريقه ان تُسوّى الارض بحيث لايكون بعض جوانبها مرتفعاً وبعضها منخفضا اما بصب الماء او ببعض موازين المقنين وترسم عليها دائرة وتسمى الدائرة الهندية وينصب في مركزها مقياس قائم بان يكون بُعْدُ رأسه عن ثلث نُقَطٍ من محيط الدائرة متساوياً ولتكن قامته بمقدار رُبع قطر الدائرة فرأس ظله في اوائل النهار خارج الدائرة لكن الظل ينقص الى ان يدخل في الدائرة فتضع علامة على مدخل الظل من محيط الدائرة ولا شك ان الظل ينقص الى حد ما ثم يزيد الى ان ينتهي الى محيط الدائرة ثم يخرج منها وذلك بعد نصف النهار فتضع علامة على مخرج الظل فتُنَصف القوس التى هى مابين مدخل الظل ومخرجه وترسم خطاً مستقيماً من منتصف القوس الى مركز الدائرة مخرجاً الى الطرف الاخر من المحيط فهذا الخط هو خط نصف النهار فاذا كان ظل المقياس على هذا الخط فهو نصف النهار والظل الذى فى هذا الوقت هو فيئُ الزوال فاذا زال الظل من هذا الخط فهو وقت الزوال فذلك اول وقت الظهر.

بذل الجهد في بيان وقت الظهر: د ځينې لغاتو معنى استواء كله چې لمر د ورځې په منځ كې د اسمان په نيمايي كې ودرېږي، ديته استواء وايي. زوال چې لمر د اسمان نيمايي ځخه د مغرب لور ته ميلان وكړي دې ته زوال وايي، ظل سورى ، مثليه دوه چنده، فيئ الزوال چې لمر د ورځې په نيمايي كې ودرېږي او د مقياس سورى په خط د نيمې ورځې باندې ودرېږي، نو دغه سوري ته فيئ الزوال وايي مرتفعاً اوچته منخفضاً ښكته، مقنين هغه خلك چې كاريزونه اوباسي، موازين د كاريز ګرو هغه الات چې دوى ورباندې د ځمكې لوړ والى او ټيټ والى معلوموي، چې اب ترازو وغيره ورته ويل كيږي، ترسم ، رسم به كړى شي يعنې وبه ليكل شي دائرة چې په يوه سطحه باندې نقطه يعنې ټكى كېښودل شي او ددې نقطې ځخه ګرد چاپېره يو خط تاو كړاى شي، دې خط ته دائره وايي او دې نقطې ته مركز وايي، مقياس په لغت كې مقدار ته وايي او په اصطلاح كې يو شى چې لږ اوچت والى ولري او دومره پلن وي چې په خپله ودرېږي او لږ وزن هم ولري، الدائرة الهندية دغې دائرې ته دائره هنديه ځكه وايي چې دا اول د هند حكماوو رامنځته كړې ده، محيط الدائرة د دايرې خط ته محيط الدائره وايي، قطر الدائرة، هغه مستقيم خط ته وايي چې د دايرې له مركز نه شروع وي تر خط د دائرې پورې خو دواړه طرف ته د مركز ځخه وي، مخرج الظل ځاى د وتلو د سوري د محيط نه قوس د محيط الدائرې يوې حصې ته قوس وايي، يعنې كله چې د غرب خوانه سورى داخل شو نو هلته به ننښه وكړي اوكله چې د شرق خوا ته سورى دمحيط الدائرى ځخه ووځى هلته به ننښه وكړى، دې ته قوس وايي چې بيا به دا قوس په منځ كې نيمايي كړي او ددې له نيمايي ځخه به د دائرې مركز ته يو مستقيم خط وليكي، دې خط ته د نصف النهار خط وايي او هغه سورى چې په دې د نصف النهار خط كې وي، نو دې ته فيئ الزوال وايي او ددې خط نه چې سورى د شرق خوا ته لاړ شي نو دې ته وقت الزوال وايي، نو دغه وخت د زوال اول وخت د ماسپښين دى

توضيح المسئله: اول وخت د ماسپښين له پاره د زوال د لمر ځخه تر رسېدو د هر شي دوه چنده ددې بغير د سوري د فيئ الزوال نه، وطريقه.... الخ او د زوال د پېژندلو طريقه داده چې ځمكه به ښه هواره كړى شي، په داسې طريقه چې نه ټيټه وي او نه اوچته وي يادې د اوبو په اړولو سره برابره كړي، او يا دې په بعض الاتو د كاريز ګرو برابره كړي او په دې ځمكه دې يوه

دائره رسم کړي. دې دائرې ته دائرة هنديه وايي او د دائرې په مرکز کې به يو مقياس او دره وي چې ددې مقياس سر به د محيط الدائرې درې واړو نقطو نه يعنې د شرق نقطه، د غرب نقطه او د جنوب نقطې څخه به لرې والى يو شان وي يعنې نه به بعضو ته نژدې وي او نه به لرې وي، مګر يو شان به وي او ددې مقياس لوړ والى به د قطر الدائرې د څلورمې حصې په اندازه وي، فرأس ظله نو د سيورې سر د ورځې په اول کې د دائرې نه خارج وي خو سورى کميږي، تردې پورې چې دائرې ته داخل شي نو په کوم ځاى چې سورى دائرې ته داخلېده نو هلته به يوه نښه وکړي بيا دا سورى کميږي تر دې چې دائرې ته ورسيږي، دا په هغه صورت کې چې له نصف النهار نه وروسته وي، نو کوم ځاى څخه چې سورى خارجيږي د محيط الدائرې نو هلته به بله نښه وکړي ددغه دواړو نښو ترمنځ دائرې ته قوس وايي دا به په منځ نيمايي کړي او يوه نښه به وکړي بيا به ددې نښې نه يو مستقيم خط د مرکز د دائرې خواته کش کړي او له مرکز نه به بيا بل طرف د دائرې ته ورسوي، نو دغه خط ته خط د نصف النهار وايي او هغه سورى چې په دې وخت کې وي نو هغې ته فيئ الزوال وايي او کله چې دا سورى ددې خط نه شرق خواته لاړ شي نو دغه وخت د زوال دى او دا اول وخت د ماسپښين دى.

واخره اذا صار ظل المقياس مثلى المقياس سوى فيئ الزوال مثلاً اذا كان فيئ الزوال مقدار ربع المقياس فاخر وقت الظهر ان يصير ظله مثلى المقياس وربعه هذا فى رواية عن ابى حنيفة وفى رواية اخرى عنه وهو قول ابى يوسف ومحمد والشافعى اذا صار ظل كل شئ مثله سوى فيئ الزول.

توضيح المسئله: او اخر وخت د ماسپښين په هغه صورت کې چې د مقياس سورى د مقياس دوه چنده شي بغير د سورې د فيئ الزوال نه مثلاً که د فيئ الزوال سورى د مقياس ربع يعنې څلورمې حصه وي نو اخر وخت د ماسپښين به دوه چنده د مقياس وي او يوه ربعه هذا .... الخ دا اخري وخت د ماسپښين چې سيورى دوچنده د مقياس وګرځي، يو روايت دى د امام ابوحنيفه څخه او په يو بل روايت کې د امام ابوحنيفه رح څخه راغلى چې د امام ابو يوسف او امام محمد او امام شافعي رح قول هم دى، هغه داسې چې د ماسپښين اخرنى وخت هغه دى چې کله سيورى د هر شي يو چند وګرځي بغير د سيورې د فيئ الزوال څخه نو احتياط

دادی چې د ماسپښين لمونځ به د يو چند نه نه وروسته کوي، کنه نو تر دوه چنده هم جائز دی او د مازديگر لمونځ به د دوه چنده نه مخکې نه کوي

ليكون مؤديًا بالاتفاق والعصر منه الى غيبتها فوقت العصر من اخر وقت الظهر على القولين الى ان تغيب الشمس.

اهتمام الامر فى بيان الصلوة العصر: د مازيگر وخت د سيوري د دوه چنده کېدو نه تر د لمر پرېوتلو پورې يعني د مازيگر وخت د اخر وخت د ماسپښين نه على القولين په دواړو قولونو سره يعني د امام ابوحنيفه په نزد د مازيگر وخت هلته ده چې سورى د هر شي دوه چنده شي. دده له پاره د جابر رضى الله عنه هغه روايت دى چې رسول الله ﷺ مونږ ته لمونځ هلته راکړ کله چې د هر شي سيورى دوه چند وگرځېد او د صاحبينو په نزد د مازديگر لمونځ وخت هلته داخلېږي چې سيورى د هر شي يو چند ددې وگرځي،د صاحبينو له پاره دليل دادى چې جابر رضى الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ مونږ ته لمونځ راکړ چې سيورى د هر شي يو چند گرځېدلى و بغيرد فيئ الزوال نه، دا خو د مازديگر په اول وخت کې اختلاف و او په اخر کې هم اختلاف شته د حسن بن زياد په نزد د مازيگر اخر وخت هلته دى چې لمر زيړ شي او د ائمه ثلاثه و په نزد د مازديگر اخر وخت د لمر تر ډوبېدو پورې دى،ځکه حديث کې راځي چې چا يو رکعت د مازيگر رالاندې کړ مخکې د لمر د ډوبېدو نه نو ده مازيگر رالاندې کړ، نو دا حديث دلالت په دې کوي چې د مازيگر اخر وخت د لمر ډوبېدو پورې دى.(بحر الرائق لومړى توک ۴۲۶صفحه)

وللمغرب منه الى مغيب الشفق وهو الحمرة عندهما وبه يفتى وعند ابى حنيفة الشفق هو البياض والعشاء منه والوتر مما بعد العشاء الى الفجر لهما اى للعشاء والوتر.

اسراع المركب فى بيان صلوة المغرب: د ماښام وخت د لمر ډوبېدو څخه تر د شفق ډوبېدو پورې دى د صاحبينو په نزد د شفق نه مراد سور والى دى او د امام ابوحنيفه په نزد د شفق نه مراد هغه سپين والى دى چې د سور والي نه وروسته راځي او دغه سپين شفق د سوروالي نه دولس دقيقې وروسته راځي. (فقه حنفى ۱۳۸ صفحه لومړى توک) خو د صاحبينو قول د خلکو

له پاره پراخه دی او د امام صاحب قول کې احتیاط دی نو احتیاط دادی چې د ماښام لمونځ د سور والی نه وروسته ونشي او د ماخوستن لمونځ د سپین والي نه وروسته وشي، للعشاء منه.... الخ او د ماخوستن لمونځ د شفق ډوبېدو نه وروسته یعنې چې سور والی او سپین والی دواړه ختم شي نو ددې وخت نه د ماخوستن وخت شروع کیږي. وللوتر..... الخ د وترو وخت کې ختلاف دی. د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د وترو وخت د ماخوستن وخت دی خو وتر به په ماخوستن نشي مخکې کولی ځکه ترتیب د ماخوستن او د وترو ترمنځ واجب دی. او د صاحبینو په نزد د وترو وخت د ماخستن نه وروسته دی خو دا اختلاف مبنی په دې ده چې وتر واجب دي او که سنت نو د امام صاحب په نزد واجب دي او د صاحبینو په نزد سنت دي، خو ثمره د اختلاف په هغه صورت کې معلومیږي چې وتر په هیره سره د ماخو ستن له لمانځه څخه مخکې وکړي او یا ور یاد شي چې صرف د ماخوستن لمونځ یعنې فرض مې په بې اودسۍ سره کړي دي نو اوس به دغه وتر بیا راګرځوي او کنه؟ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد به یې نه راګرځوي ځکه په خپل وخت کې اداء شوي او د صاحبینو په نزد به یې راګرځوي ځکه د دوی په نزد د وترو وخت د ماخوستن د لمانځه څخه وروسته دی او دلته مخکې اداء شوی. الی الفجر لهما ترصبح صادق پورې دی د ماخوستن او وترو له پاره.

ویستحب للفجر البدایة مُسفراً بحیث یمکنه ترتیل اربعین ایة او اکثر منها ثم اعادته ان ظهر فساد وضوئه قال علیه السلام اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر والتأخیر لظهر الصیف فی صحیح البخاري ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فیح جهنم والعصر مالم تتغیر الشمس والعشاء الی ثلث اللیل والوتر الی اخره لمن وثق بالانتباه فحسب والتعجیل لظهر الشتاء والمغرب ویوم غیم یعجل العصر والعشاء ویؤخر غیرها.

اعظم الاجر فی الاسفار للفجر: د سهار د لمانځه شروع کول په رڼا کې مستحب ده، یعنې د سهار په لمانځه کې به شروع هم په اسفار کې وي او اختتام ددې به هم په اسفار کې وي. امام طحاوي وایي چې ابتداء د سهار د لمانځه به په تیاره کې وي خو اختتام ددې به په اسفار کې وي. والاول ظاهر الروایت کما فی العنایة. (بحر الرائق لومړی توک ۴۲۹ صفحه)

بحیث..... الخ. په دې سره د اسفار حد معلوموي چې دې سره اسفار په هغه وخت کې مستحب دی چې امکان په کې د څلوېښتو یا زیاتو ایاتونو د لوستلو وي، او که چېرته لمونځ کې فساد راشي یا اودس کې نقصان راشي نو چې بیا یې اعاده په همغه طریقه وکړي مخکې د مکروه وخت نه او اسفار یعنې ښه رڼا کېدل ځکه مستحب دي چې رسول اللهﷺ فرمايي چې د سهار لمانځه کې ښه رڼا کوئ ځکه چې دې کې لوی اجر دی، خو په مزدلفه کې دحاجیانو له پاره لمونځ له دې نه مستثنا دی چې هلته به حاجیان په تیاره کې لمونځ اداء کوي او د ښځې له پاره د سهار لمونځ په تیاره کې غوره دی او له سهار نه پرته به په نورو لمونځونو کې تر هغه وخته انتظار کوي ترڅو چې سړي د جمعې نه فارغ شي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۲۹ صفحه)

والتأخیر لظهر الصیف..... الخ. یعنې به اوړي کې د ماسپښین لمونځ وروسته کول مستحب دي، ځکه رسول اللهﷺ فرمايي چې یخوالی یعنې وروسته والی به په ماسپښین کې کوي، ځکه چې سخته ګرمی له بړاس او جوش له اور د جهنم څخه وي او د ابراد له پاره په جمع لمونځ کول شرط نه دی، په جمع سره وي او که بغیر له جمعې څخه وي، په ګرمو ښارونو کې وي او که په یخو کې وي، په سختې ګرمۍ کې وي او که نه وي یعنې ابراد باالظهر مطلقاً غوره دی بحرالرائق او د جمعې لمونځ د ماسپښین د لمانځه په شان دی په اعتبار د اصلیت سره او استحباب سره په اوړي او ژمي دواړو کې. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۲۹ صفحه)

وللعصر..... الخ. او د مازیګر لمونځ له اول وخت نه تر هغه وخته پورې وروسته کول مستحب دي چې لمر کې تغیر رانشي هغه که اوړی وي او که ژمی وي، دا ددې له پاره چې د لمانځه نه مخکې نفل زیات وشي ځکه د مازیګر د لمانځه څخه وروسته نفل کول مکروه دي د تغیر د لمر نه مراد څه دي، صحیح خبره داده چې لمر سترګه په داسې طریقه وګرځي چې سترګې نه برېښوي بلکه ورته کتلی شي نو تر دې وخته پورې به لمونځ نه وروسته کوي مګر مخکې به یې کوي. (بحرالرائق ۴۳۰ صفحه، لومړی ټوک)

وللعشاء..... الخ. او مستحب دی د ماختن لمونځ تر درېمې حصې د شپې پورې او په مختصر القدوري کې مخکې له دریمې حصې څخه راغلی خو تطبیق یې داسې کیدای شي چې په اوړي کې به په ماقبل ثلث اللیل باندې عمل کوي او په ژمي کې به په الی ثلث اللیل

باندې عمل کوي او تر نیمې شپې پورې د ماخستن لمونځ وروسته کول مباح دي او د نیمې شپې نه وروسته کول مکروه دي.

فروعات: د ماخستن له لمانځه نه مخکې خوب کول مکروه دي او د ماخستن له لمانځه وروسته بلا ضرورته خبرې کول مکروه دي، اما د ضرورت په وخت کې خبرې کول، یا د قرآن کریم تلاوت کول، یا ذکر کول یا د نیکانو خلکو کیسې بیانول یا د فقهي مسایلو له یو بل سره مذاکره کول یا د یو میلمه سره خبرې کول بیا مکروه نه دي. (بحرالرائق لومړی توک ۴۳۱ صفحه)

والوتر..... الخ. او وتر وروسته د شپې په اخر کې کول مستحب دي خو د هغه چا له پاره چې په خپل ځان باور لري چې هغه وخت کې به راویښ شم ځکه چې په حدیث کې داسې راغلي دی چې که څوک د شپې په اخره حصه کې نشي راویښېدلی نو د شپې په اوله حصه کې دې وتر وکړي او که څوک امید د راویښېدلو لري نو بیا دې وتر د شپې په اخره حصه کې وکړي، ځکه چې د شپې په اخره حصه کې د قرآنکریم تلاوت ته فرښتې حاضرېږي، خو که یو سړی له خوب نه مخکې وتر وکړي او بیا چې له خوب نه راویښ شي او څو رکعته لمونځ وکړي نو دا مکروه نه ده او نه به وتر راګرځوي خو ترک د افضل یې وکړ ځکه حدیث مبارک کې راغلي چې تاسې خپل اخرنی لمونځ وتر وګرځوئ. (بحر الرائق ۴۳۱ ص لومړی توک)

والتعجیل الظهر...... الخ. او په ژمي کې د ماسپښین په لمانځه کې تلوار مستحب دی، د هغه حدیث له مخې چې کان اذا اشتدالبرد بكّر باالصلوة (بخاري) یعنې کله به چې یخني سخته شوه نو رسول الله ﷺ به لمونځ وختي کاوه، **والمغرب.... الخ** او د ماښام لمونځ کې که ژمی وي او که اوړی وي تلوار مستحب دی ددې حدیث له وجې نه چې رسول الله ﷺ فرمایي چې زما امت به همېشه په خیر وي تر څو چې د ماښام لمونځ وروسته نه کړي، تر څو چې ستوري یو په بل کې داخل شي یعنې د ستورو یو په بل کې داخلېدلو پورې یعنې ګنډېدلو پورې مکروه دی، **یوم غیم..... الخ.** او د وریځې په ورځ به د مازیګر او ماخستن لمونځ کې تلوار کوي ځکه چې په تاخیر د مازیګر کې دا احتمال شته چې په مکروه وخت کې واقع شي او د ماخستن په تاخیر کې د جمع کموالی راځي ځکه احتمال د باران او ختو شته. (بحرالرائق لومړی توک ۴۳۲ صفحه)

او نورو لمونځونو کې به تاخیر کوي ددې له پاره چې قبل الوقت واقع نشي.

ولايجوز صلوة وسجدة تلاوة وصلوة جنازة عند طلوعها وقيامها وغروبها الاعصر يومه فقد ذكر في كتب اصول الفقه ان الجزء المقارن للاداء سبب لوجوب الصلوة واخر وقت العصر وقت ناقص اذ هو وقت عبادة الشمس فوجب ناقصاً فاذا اداه اداه كما وجب فاذا اعترض الفساد بالغروب لاتفسد وفي الفجر كل وقته وقت كامل لان الشمس لاتعبد قبل الطلوع فوجب كاملاً فاذا اعترض الفساد بالطلوع تفسد لانه لم يؤدها كما وجب.

بیان اوقات المکرهة:

لمونځ که نفل وي او که فرض وي په درې وختونو کې مکروه دی، همدارنګه د تلاوت سجده هم مکروه ده، ځکه چې دا هم د لمانځه په حکم کې ده او د جنازې لمونځ هم مکروه دی، ځکه حدیث مبارک کې راځي چې عقبه رضی الله عنه فرمايي چې په درې ساعتونو کې مونږ رسول الله ﷺ د لمانځه له کولو او د مړي له دفن کولو څخه منع کړي يو، له دفن نه مراد د جنازې لمونځ دی، ځکه چې په دې وختونو کې د مړي ښخول مکروه ندي، چې هغه وختونو کې يو د لمر ختلو وخت دی، بل د لمر د ربدلو وخت دی چې د ورځې په نيمايي کې واقع کيږي، دريم د لمر د ډوبيدلو وخت دی. الاعصر يومه.... الخ. مګر د مازديګر لمونځ اداء کول د همدې ورځې په وخت د لمر ډوبيدلو کې جايز دي، خو د نورو لمونځونو قضاء د لمر د ډوبيدلو وخت کې جايز نه دي، ځکه دا کامل واجب شوی نو ناقص نه اداء کيږي. **فقد ذکر.....** الخ. د اصول فقې په کتابونو کې ذکر دی چې سبب د وجوب د لمانځه له پاره هغه جزء دی چې پيوسته وي له اداء سره ځکه واجب مطابق له وجوب سره وي، يعنې که وجوب ناقص وي نو اداء به يې هم ناقصه وي او که وجوب کامل وي نو اداء به يې هم کامله وي، نو د مازديګر اخرنی وخت د لمر زيړيدو په وخت کې ناقص دی، نقصان د وخت په ذات کې نه وي مګر د وجې د غير نه وي، چې هغه وخت د عبادت د لمر دی ځکه کفار په دغه وخت کې د لمر عبادت کوي نو کله چې وخت ناقص شو نو لمونځ هم ناقص واجب شو، بيا چې کله يې لمونځ

شروع کړ او د لمانځه په منځ کې لمر ډوب شو نو لمونځ نه فاسدیږي، ځکه وجوب ددې ناقص و، نو چې وجوب یې ناقص و نو اداء یې هم ناقصه وه او په سهار کې ټول وخت کامل وخت دی، یو جز هم په کې ناقص نشته ځکه چې د لمر عبادت د لمر ختلو څخه مخکې نشي کولای بلکه د لمر ختلو په وخت کې کولی شي، نو لمونځ کامل واجب شو، نو کله چې لمر راوختلو نو له ختلو سره لمونځ فاسد شو، ځکه وجوب ددې کامل و او اداء یې ناقصه راغله نو څرنګه چې واجب و هغه اداء نشو.

فأن قيل هذا تعليل فى معرض النص وهو قوله عليه السلام من ادرك ركعة من الفجر قبل الطلوع فقد ادرك الفجر ومن ادرك ركعة من العصر قبل الغروب فقد ادرك العصر قلنا لما وقع التعارض بين هذا الحديث وبين النهى الوارد عن الصلوة فى الاوقات الثلثة رجعنا الى القياس كما هو حكم التعارض والقياس رجح هذا الحديث فى الصلوة العصر وحديث النهى فى صلوة الفجر واما سائر الصلوة فلا يجوز فى الاوقات الثلاثة لحديث النهى اذ لا معارض لحديث النهى فيها.

دفع الوسواس فى تطبيق الاحاديث بالقياس: غرض د شارح ددې عبارت نه یو اعتراض کول دي، په هغه وجه باندې چې د مازیګر د لمانځه د صحت له پاره په وخت د غروب کې ذکر شوی، حاصل د اعتراض دادی چې په کوم ځای کې نص یعنې حدیث راغلی وي نو هلته قیاس ته هیڅ ضرورت نه وي او دلته هم صریحي حدیث راغلی چې د مازیګر او دسهار د لمانځه حکم یو شان دی، په دې کې چې لمر پرې راوخیژي او یا ولویږي. هغه حدیث داسې دی چې رسول اللهﷺ فرمایي چې چا د سهار یو رکعت د لمر ختلو نه مخکې ونیو نو ده سهار رالاندې کړ یعنې لمونځ یې پوره شو او چا چې د مازیګر یو رکعت د لمر ډوبېدلو نه مخکې ونیو نو ده مازیګر رالاندې کړ یعنې لمونځ یې پوره شو، قلنا..... الخ. شارح رحمه الله ځواب کوي چې دلته دوه حدیثونه متعارضه راغلي وو، یو حدیث د من ادرک..... الخ. دی، دا دلالت په دې کوي چې د سهار لمونځ او د مازدیګر لمونځ د لمر ختلو او ډوبېدلو په وخت کې جایز دی او بل حدیث د ثلث ساعات.... الخ دی دا دلالت په دې کوي چې لمونځ مطلقاً په دغه درې وختونو کې منع دی او دواړه صحیح حدیثونه دي او متعارض دي، که په یو عمل کوو نو په بل عمل نه

راځي او احدهما په اخر باندې وجه دترجيح هم نه لري نو دواړه حديثونه بلاعمله پاتې کيږي. نو ددې له پاره چې په دواړو احاديثو عمل راشي مونږ به قياس ته رجوع کوو او کوم حديث چې له قياس سره موافق و په هغې به عمل کيږي او کوم چې موافق نه و هغه به پرېښودل کيږي او دلته قياس حديث د من ادرک.... الخ. ته د مازيګر په لمانځه کې ترجيح ورکوي او حديث دنهي ته په سهار کې ترجيح ورکوي او قيد د عصر يومه يې ځکه ووېل چې د تير مازيګر لمونځ د نن مازيګر د لمر زېړېدلو په وخت کې مکروه دی، ځکه د هغې وجوب په اکثره اجزاء صحيحه کې راغلی و، نو اداء به هم کامله وي، ددې له پاره چې اکثره صحيح اجزاوو ته په کمو اجزاوو فاسدو باندې ترجيح ورکول کيږي. (بحر الرائق ۴۳۶ صفحه لومړی ټوک) واما سائر الصلوة.... الخ. يعني د مازيګر لمانځه نه چې عصر يومه وي او د سهار د لمانځه څخه ما سوا نور لمونځونه فرض وي او که نفل وي که واجب وي، په دې درې اوقاتو کې مکروه دي، د وجې د هغه حديث د نهي نه او ددې حديث سره معارض هم نشته په نورو وختونو کې، نو لهذا په دې حديث به عمل کيږي.

وكره النفل اذا خرج الامام لخطبة الجمعة وبعد الصبح الاسنته وبعد اداء العصر الى اداء المغرب وصح الفوائت وصلوة الجنازة وسجدة التلاوة فى هذين اى بعد الصبح وبعد اداء العصر الى اداء المغرب لكنها يكره فى الاول وهو ما اذا خرج الامام للخطبة ولايجمع فرضان فى وقت بلا حج وفيه خلاف الشافعى.

توضيح المسئله: نفل په هغه وخت کې مکروه تحريمي دي چې کله خطيب د جمعې وغيره له پاره له کور څخه راووځي اګر که دغه نفل تحية المسجد وي او يا که د جمعې سنت وي، ځکه د صحابوو څخه لکه د حضرت علي رضى الله عنه څخه د حضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنه وغيره څخه دا روايت راغلی دی چې دوی به نفل لمونځ او خبرې مکروه ګڼلې، کله به چې امام راووت او د هغه حديث له وجې نه چې رسول الله ﷺ فرمايي چې کله ته چاته ووايې چې چپ شه او امام خطبه وايي نو تا يوه عبثه خبره وکړه، نو په دې وخت کې د خير خبره هم منع ده نفل لمونځ خو څه کوي، همدا راز د هغه ايت له وجې چې الله ﷻ فرمايي، کله چې

قرآنکریم لوستل کیږي نو غوږ ورته کېدئ او چپ اوسئ. او هغه روایت چې یو سړی راغی او رسول الله ﷺ خطبه لوستله ورته وېې فرمایل چې لمونځ دې کړی ؟ دوه رکعته لمونځ وکړه او اختصار په کې وکړه نو دا روایت په دې مقدار په رخصت دلالت کوي، خو احناف علماء په احتیاطًا په هغو احادیثو عمل کوي چې غوږ کېښودل او چپ کېدل ترې د وجوب په طریقه ثابت دي.

وبعد الصبح..... الخ. مکروه وختونه په دوه قسمه دي، اول هغه چې هر لمونځ په کې مکروه دی فرض وي که واجب وي او که نفل وي، دا قسم وختونه درې دي. ۱: د لمر ختلو وخت، ۲: د لمر ډوبېدلو وخت، ۳: د ورځې په منځ کې د لمر درېدلو وخت، دوهم قسم هغه دي چې نفل او سنت لمونځ کول په کې مکروه دي، دا قسم دوه وختونه دي، ۱: د سهار له لمانځه څخه وروسته د لمر تر راختلو پورې، ۲: د مازیګر له لمانځه څخه وروسته د ماښام د لمانځ تر اداء کولو پورې، په دې دوه وختونو کې څکه نفل لمونځ کول مکروه دی چې دا حق د فرضو ده ددې له پاره چې لمونځ کوونکی په نورو لمونځونو مشغول نشي، دلیل پرې د رسول اللهﷺدا حدیث دی چې فرمایي: لاصلوة بعدالصبح حتی تطلع الشمس ولاصلوة بعدالعصر حتی تغرب. ژباړه: د سهار څخه وروسته تر لمر ختلو پورې بل لمونځ نه صحیح کیږي او د مازیګر له لمانځه څخه وروسته د لمر تر ډوبېدلو پورې بل لمونځ نه صحیح کیږي، الاسنت.... الخ. یعني د سهار ختلو څخه وورسته تر لمر ختلو پورې د فرضو نه پرته بل لمونځ نه صحیح کیږي، مګر یواځې د سهار دوه رکعته سنت صحیح کیږي. وبعد اداء العصر.... الخ. او د مازیګر له لمانځه څخه وروسته د ماښام د لمانځه اداء کولو پورې نفل مکروه دي، د لمر ډوبېدلو نه مخکې وي که وروسته وي چې د ماښام له لمانځه څخه مخکې وي، د لمر د ډوبېدلو څخه مخکې څکه مکروه دي چې حدیث کې راغلي کما مر ذکره او د لمر له ډوبېدلو څخه وروسته د ماښام د لمانځه څخه مخکې څکه مکروه دي چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې د ماښام څخه مخکې دوه رکعته لمونځ کول څنګه دي؟ نو هغه ورته وفرمایل چې د رسول اللهﷺ په زمانه کې ما هیڅوک نه دي لیدلي چې دا دوه رکعته یې کړي وي. رواه ابو داود (بحر الرائق ۴۳۹ صفحه لومړی ټوک)

وصح الفوائت... الخ. او صحيح دي اداء كول د قضايي لمانځه، د جنازې د لمانځ او د تلاوت د سجدې في هذين.... الخ. په دې دوه وختونو كې[۱]: د سهار د لمانځه څخه وروسته د لمر ختلو پورې [۲]: د مازيگر له لمانځه څخه وروسته د ماښام د لمانځه تر اداء كولو پورې، لكنها يكره..... الخ. مگر په اولني صورت كې مكروه دى او اولنى صورت هغه دى چې امام خطبې ته راووځي.

ولا يجمع.... الخ او نشي به جمع كولى دوه فرضه په يو وخت كې، يعنې په يو وخت كې به دوه فرضه نشي كولاى، بلا حج..... الخ. بغير د حج له وختونو څخه يعنې د احنافو په نزد د حج له وختونو نه بغير به په نورو وختونو كې جمع بين الصلاتين نشي كولى، اما د حج په ورځو كې د حاجيانو له پاره په عرفات كې د ماسپښين او مازيگر لمونځ يو ځاى كول جايز دي په جمع تقديمي سره يعنې د مازيگر لمونځ به ورته رامخكې كړي، همداراز په مزدلفه كې د ماښام او ماخوستن لمونځ يو ځاى كول جايز دي، په جمع تاخير سره يعنې د ماښام لمونځ به وروسته كړي ځكه چې ددې ثبوت د رسول الله ﷺ څخه شته اما ددې نه ماسواء د دوو لمونځونو يو ځاى كول جايز نه دي، ځكه حديث كې راځي چې په خوب كې كوتاهي نشته مگر كوتاهي په ويښه كې ده، چې لمونځ دومره وروسته كړي چې د بل لمانځه وخت راشي او همدا رنگه بل حديث كې راغلي چې چا له عذره پرته دوه لمونځونه يو ځاى وكړل نو ده په يوه لويه گناه راتګ وكړ. وفيه خلاف الشافعى رحمه الله، د امام شافعي رحمه الله په نزد په سفر كې د ماسپښين او مازيگر تر منځ جمع تقديمي او تاخيري دواړه جايز دي او همدا رنگه د ماښام او ماخوستن ترمنځ جمع تقديمي او تاخيري جايز دي، ځكه رسول الله ﷺ د هر ځله په سفر كې داسې كړي دي.

احناف علماء له دې نه دا ځواب كوي چې دا جمع حمل ده په جمع صوري او فعلي باندې نه وقتي باندې يعنې اول لمونځ يې په اخر وخت كې اداء كړى او دوهم لمونځ يې په اول وخت كې اداء كړى دى. (بحر الرائق ۴۴۱ لومړى ټوک) خو ځينې علماء وايي چې د ضرورت په خاطر د امام شافعي رحمه الله د مذهب تقليد هم جايز دى. (در مختار ۲۸۱ صفحه لومړى ټوک)

ومن طهرت فى وقت عصر او عشاء صلتها فقط خلافا للشافعى رحمه الله فان عنده من طهرت فى

وقت العصر صلت الظهر ايضاً ومن طهرت في وقت العشاء صلت المغرب ايضاً فان وقت الظهر والعصر عنده كوقت واحدٍ وكذا وقت المغرب والعشاء ولهذا يجوز الجمع عنده في السفر ومن هو اهل فرض في اخر وقته يقضيه لامن حاضت فيه يعني اذا بلغ الصبيّ اواسلم الكافر في اخر الوقت ولم يبق من الوقت الاقدر التحريمة يجب عليه قضاء صلوة ذلك الوقت خلافاً لزُفر ومن حاضت في اخر الوقت لايجب عليها قضاء صلوة ذلك الوقت خلافاً للشافعي.

اتمام المسئله: كومه ښځه چې له حيض يانفاس څخه پاكه شي د مازيګر په وخت كې ياد ماخوستن په وخت كې نو يواځې هماغه لمونځ به كوي چې د كوم لمانځه په وخت كې پاكه شوې وي، يعني كه د مازيګر په وخت كې پاكه شوه نو يواځې د مازيګر لمونځ به كوي او كه د ماسخوتن لمانځه په وخت كې پاكه شوه نو يواځې د ماخستن لمونځ به كوي او د ماښام لمونځ ورباندې نشته، خلافاً للشافعي..... الخ. او امام شافعي رحمه الله وايي چې كومه ښځه د مازيګر په وخت كې پاكه شوه نو د مازيګر له لمانځه سره به د ماسپښين لمونځ هم كوي او كه د ماخستن په خت كې پاكه شوه نو د ماښام لمونځ به هم ورسره كوي ځكه چې د امام شافعي په نزد د ماسپښين او د مازيګر وخت د يو وخت په شان دي، همداراز د ماښام او ماخستن وخت هم د يو وخت په شان دي، نو له همدې وجې نه چې د امام شافعي په نزد دا دواړه وختونو د يو وخت په شان دي نو د ماسپيښن او مازيګر ترمنځ جمع بين الصلاتين او د ماښام او ماخستن ترمنځ جمع بين الصلاتين په سفر كې جايز دی، ومن هو.... الخ. او كوم انسان چې اهل د فرضو وي يعني مكلف وګرځېدو په اداء كولو د فرضو په اخر وخت كې نو د همدې وخت د لمانځه قضاء ورباندې شته، يعني كه يو ماشوم بالغ شي او يا كافر اسلام راوړي په اخر وخت د لمانځه كې او وخت هم صرف دتكبير تحريمې په اندازه پاتې وي نو دغه وخت كې د لمانځه قضاء ورباندې لازمه ده په خلاف د امام زُفر رحمه الله چې دده په نزد ددغه لمانځه قضاء ورباندې نشته.

لامن حاضت .... الخ. يعني كه يوه ښځه په اخر وخت كې حائضه شي نو ددې وخت د لمانځه قضاء ورباندې نشته، په خلاف د امام شافعي رحمه الله چې د هغه په نزد په دې ښځه باندې ددغه لمانځه قضاء شته.

باب الاذان

اذان په لغت کې خبرداري ته وايي او په شريعت کې عبارت دی له هغو خاصو کلمو څخه په خاص وخت کې د لمانځه د خبردارۍ له پاره، په راجح قول اذان په لومړي ځل د هجرت په لومړي کال شروع شوی دی. (فقه حنفي ۱۴۹ صفحه لومړی ټوک)

ابتدايي سبب د اذان دا و چې جبرائيل د ليلة الاسراء په شپه اذان وکړ، بيا چې رسول الله ﷺ فرشتو او د انبياوو ارواحو ته لمونځ د امامت په طريقه اداء کړ نو اقامت جبرائيل عليه السلام وويلی، دويم سبب د اذان دا و چې عبدالله بن زيد په خوب کې يوه فرشته وليده او هغې ورته د اذان طريقه وښودله، او په کتاب الله سره هم ثابت دي« اذا نودی للصلوة».

اذان بهتر دی که امامت: ځينې علماء کرام وايي چې اَذان بهتر دی ددې ايت له وجې نه چې ومن احسن قولا ممن دعا الی الله. ترجمه: څوک زيات ښکلی دی په وينا سره د هغه چا نه چې الله ﷺ طرف ته بلل کوي، بي بي عايشې رضی الله عنها ددې تفسير په مؤذنينو سره کوي او بل د هغه حديث له وجې چې المؤذن اطول اعناقا يوم القيمة. ترجمه: اذان کوونکي به د قيامت په ورځ د اوږدو غاړو خاوندان وي او ځينې علماء وايي چې امامت غوره دی ځکه چې رسول الله ﷺ او خلفاء اربعه اماماَن وو خو مؤذنين نه وو او صحابه کرامو به په غوره کار عمل کاوه، او دا قول د حضرت عمر رضی الله عنه چې که خلافت زما نه وای نو ما به اذان کړای وای، ددې مطلب دا نه دی چې اذان غوره دی مګر ددې مطلب دادی چې که خلافت نه وای نو ما به له امامت سره اذان هم کاوه، يعنې غوره داده چې امام په خپله مؤذن هم وي او دا زمونږ د احنافو مذهب هم دی. بحر الرائق لومړی ټوک ۴۴۳ صفحه.

فائده: څه وجه ده چې په اذان کی په شهادتينو کی واو عطف نشته او د اقرار باالتوحيد په صورت کی شته؟جواب: ځکه د اقرار په صورت کی اقرار په توحيد او رسالت دواړو سره ضروری دی نو ځکه هلته واو شته او د اذان په صورت کی صرف اعلام مقصودی دی.فتاوی کامليه.

هوسنة للفرائض فحسب فی وقتها هوسنة للفرائض الخمس والجمعة وليس بسنة فی النوافل فقوله فی وقتها احترازعن الاذان قبل الوقت وعن الاذان بعد الوقت لاجل الاداء فاما الاذان بعد الوقت

للقضاء فهو مسنون ایضاً ولا یرد اشکال لانه فی وقت القضاء ولا یضر کونه بعد وقت الاداء لانه لیس للاداء بل للقضاء فی وقته قال النبی ﷺ من نام عن صلوة اونسیها فلیصلها اذا ذکرها فان ذلك وقتها وعند ابی یوسف والشافعی رحمه الله یجوز للفجر فی النصف الاخیر من اللیل فیعاد لو اذن قبله.

اذان سنت دی:

اذان سنت مؤکد دی د فرضو له پاره صرف په خپل وخت کې یعنې د فرضو نه پرته د نورو لمونځونو یعنې نفل لمونځ، واجب لمونځ له پاره سنت نه دی فقوله فی وقتها..... الخ.

شارح رحمه الله د فی وقتها د لفظ فایده بیانوي چې په دې قید سره د هغه اذان نه احتراز راغی چې قبل الوقت وي ځکه قبل الوقت اذان زمونږ د احنافو په نزد جایز نه دی او د هغه اذان نه هم احتراض راغی چې د وخت نه وروسته اداء له پاره وي، ځکه د وخت له تېرېدلو نه وروسته بیا د اداء له پاره د اذان څه فایده نشته، اما د قضاء له پاره له وخت نه وروسته اذان بیا سنت دی، ځکه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو چې د لیلة التعریس په شپه چې د سهار د لمانځه څخه ویده شوي وو نو بیا یې بعد الوقت اذان او اقامت وکړ او لمونځ یې اداء کړ.

ولایرد اشکال..... الخ. دا دفعه د اعتراض ده، اعتراض داسې ده چې د فی وقتها لفظ بې فایدې دی ځکه چې د قضاء له پاره اذان هم سنت دی خو سره له دې نه په خپل وخت کې نه دی.

نو شارح رحمه الله وایي چې دا اعتراض ځکه نه راځي چې زمونږ له وخت نه مراد عام وخت دی، چې وخت د اداء وي او که وخت د قضاء وي، نو کله چې د قضاء لمانځه له پاره اذان کیږي نو دا د قضاء په وخت کې دی، اګر چې د وخت د اداء څخه وروسته دی خو دا څه ضرر نه کوي ځکه چې د اداء له پاره نه دی بلکې د قضاء له پاره دی، په وخت د قضاء کې دلیل په کې دا حدیث د ی چې رسول الله ﷺ فرمایي: څوک چې د لمانځه څخه ویده شو او یا ورڅخه هېر شو نو کله چې ورياد شي نو اداء دې کړي ځکه چې همدا یې وخت دی، د امام ابو یوسف او امام شافعي په نزد د سهار اذان د شپې په نیمايي اخرنۍ حصه کې هم جایز دی.

فیعاد..... الخ. شارح تفریع کوي په فی وقتها لفظ باندې یعنې د احنافو په نزد که د وخت نه مخکې اذان وشي نو بیا به یې بیرته په وخت کې راګرځوي.

ويؤذن عالماً بالاوقات لينال الثواب اى الثواب الذى وعد للمؤذنين مستقبل القبلة واصبعاه فى اذنيه ويترسل فيه اى يتمهل بلا لحن وترجيع لحن فى القرأة طر وترنم مأخوذ من الحان الاغانى فلاينقص شياً من حروفه ولايزيد فى اثنائه حرفاً وكذا لاينقص ولايزيد من كيفيات الحروف كالحركات والسكنات والمدات وغير ذلك لتحسين الصلوة واما مجرد تحسين الصوت بلا تغير لفظه فانه حسن والترجيع فى الشهادتين ان يخفض بهما ثم يرفع الصوت بهما.

توضيح المسئله: غرض د مصنف رحمه الله له دې نه اداب بيانول دي د مؤذن چې مؤذن به د لمانځه په وختونو پوه او عالم وي، ددې له پاره چې هغه ثواب حاصل کړي چې مؤذنينو سره يې وعده شوې، مطلق ثواب هر مؤذن ته رسيږي، خو هغه ثواب چې د مؤذنينو سره يې وعده شوې ده دا هغه مؤذن ته حاصليږي چې د لمانځه په وختونو خبر وي، لکه په دې حديث کې چې اشاره ورته شوې ده چې ليؤذن لکم خيارکم يعنې په تاسو کې دې غوره له تاسو څخه اذان وکړي.

په فتاوى قاضي خان کې راغلي چې کله مؤذن د لمانځه په وختونو خبر نه وي، نو د مؤذنينو د ثواب مستحق نه دی. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۴۳ صفحه) **مستقبل القبلة:** دويم اداب د مؤذن دادی چې قبلې ته به مخامخ ولاړ وي. **واصبعاه فى اذنيه:** او دريم ادب يې دادی چې مؤذن به خپلې مسواکې ګوتې په خپلو غوږونو کې کيږدي، ځکه رسول الله ﷺ حضرت بلال رضى الله عنه ته په دې امر وکړ او ورته ويې فرمايل چې دې سره اواز ښه پورته کيږي.

ويترسل فيه.....الخ. په اذان کې به ترسل کوي يعنې د هرو دوو کلمو ترمنځ به په ساه اخيستلو سره فاصله راولي، خو په اقامت کې به حدر کوي يعنې تيز والی به کوي، بلا لحن وترجيع بې له لحن نه او بې له ترجيع نه، لحن دېته وايي چې داسې خوش اوازي په قرأت کې وکړي چې د سندرو اواز ته ورته او مشابه وي، لکه عرب وايي لحن فى القرأة طربه وترسل مأخوذ من الحان الاغاني يعنې لحن يې په قرأت کې وکړ يعنې خوش اواز او ترنم په داسې طريقې سره چې د سندرو د اواز په شان وي، ځکه لحن ماخوذ دی د خوش اوازی د سندرو نه، فلا ينقص..... الخ. نو په لحن کې به مؤذن د اذان له حروفو نه يو شی هم نه کموي او نه به يې زياتوي، همدا راز د اواز د ښايسته کولو له پاره به د حروفو په کيفياتو کې هم کموالی او

زياتوالى نه راولي. لکه حرکات، سکنات، مدونه وغيره، اما يواځې اواز ښايسته کول چې بې له تغير د لفظ څخه وي نو بيا ښه کار دى.

ترجيع دې ته وايي چې شهادتين يو ځل په ښکته اواز سره ووايي او بيا يې په اوچت اواز سره ووايي، د احنافو په نزد په اذان کې ترجيع نشته د احنافو له پاره دليل د حضرت بلال اذان دى چې په سفر او حضر دواړو کې ترجيع کړى نده، همدا راز هغه فرښتې چې عبدالله بن زيد ته يې د اذان تعليم ورکاوه نو هغې کې هم ترجيع نشته او د امام شافعي په نزد ترجيع سنت ده، دليل ددې له پاره اذان د ابو محذوره رضى الله عنه دى چې هغه به ترجيع کوله.

احناف له دې نه جواب کوي چې رسول الله ﷺ ابو مخدوره ته تعليم ورکاوه نو دوباره ويل يې د رسول الله ﷺ په امر و، دوهمه وجه دا چې ابو محذوره د اسلام نه مخکې د رسول الله ﷺ سره سخته دښمني وه، کله چې ابو محذره اسلام راوړ نو رسول الله ﷺ ورته د اذان امر وکړ، نو ابو محذره به چې کله شهادتينو ته ورسېد نو اواز به يې ټيټ کړ د قوم د شرم له وجې نه، نو رسول الله ﷺ ابومخدوره راوغوښت، له غوږ نه يې ونيو او ورته ويې فرمايل چې شهادتين بيا ووايه او په اوچت غږ يې ووايه، ددې له پاره چې ابو محذره پوه شي چې په حق کې شرم نشته او يا ددې له پاره چې په تکرار د شهادتينو سره د رسول الله ﷺ سره دده محبت زيات شي. (حاشيه بحر الرائق ۴۴۵ صفحه لومړى ټوک)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم مؤذنين درې وو، بلال رضى الله عنه، ابو محذوره رضى الله عنه او عمرو بن ام مکتوم، کله به چې بلال رضى الله عنه نه و نو اذان به ابو محذوره کاوه او کله به چې ابو محذوره نه و نو اذان به عمرو بن ام مکتوم کاوه او ترمذي وايي چې د ابو محذوره نوم سمره بن معير و (بحرالرائق لومړى ټوک ۴۴۵ صفحه)

او په مواهب اللدينه کې د رسول الله ﷺ مؤذنين څلور ذکر کړي چې درې مذکوره او څلوم سعدالقرظ دي.

ويحول وجهه فى الحيعلتين يمنة ويسرة ويستدير فى صومعته ان لم يمكن التحويل مع الثبات فى مكانه المراد به انه ان كانت المئذنة بحيث لوحول وجهه مع ثبات قدميه لايحصل الاعلام فحينئذ يستدير فيها فيخرج

رأسه من الكوة اليمنى ويقول حي على الصلوة ثم يذهب الى الكوة اليسرى ويخرج رأسه ويقول حي على الفلاح ويقول بعد فلاح الفجر الصلوة خير من النوم مرتين والاقامة مثله خلافاً للشافعي فان عنده الاقامة فرادى الا قد قامت الصلوة لكن يحدر فيها ويقول بعد فلاحها قد قامت الصلوة مرتين.

التبيان الكامل: بل ادب دادی چې مؤذن به له **حی علی الصلوة** سره ښي طرف ته مخ ګرځوي او حی علی الفلاح سره به چپ طرف ته مخ ګرځوي، **ويستدير**.... الخ. او مؤذن به ګرځي په اذان خانه کې له مخ اړول سره، سره د ثبات نه يعنې د ځای په ځای اودرېدلو سره ممکن نه و، **صومعة** دا په اصل کې د نصاری عبادت خانې ته وايي خو دلته ترې هغه اوچت ځای مراد دی چې د اذان خانې له پاسه د اذان له پاره جوړ شوی وي. **مئذنة** اذان خانې ته وايي، الكوة سوري يا کړکۍ ته وايي.

خلاصه داسې ده چې د حی علی الصلوة سره به ښي طرف ته مخ ګرځوي او حی علی الفلاح سره به چپ طرف ته مخ ګرځوي خو که سره د ځای په ځای اودرېدلو نه مخ ګرځول ممکن نه و هغه داسې چې اذان خانه ډېره پراخه وي او اواز خارج ته نه وتلو او نه پرې خلکو ته خبرداری حاصلېدو نو په دې صورت کې به مؤذن په اذان خانه کې ګرځي او سر به د ښي طرف سوري يا کړکۍ څخه وباسي او حی علی الصلوة به ووايي، بيا به د چپ سوري نه سر وباسي او حی علی الفلاح به ووايي. **ويقول** .... الخ. او په سهار کې به له حی علی الفلاح نه وروسته دوه کرتې داسې ووايي چې الصلوة خير من النوم، د هغه حديث له وجې نه چې حضرت بلال رضی الله عنه يو ځل رسول الله ﷺ په خوب وليد او د لمانځه وخت و، بلال دا کلمات وويل چې الصلوة خير من النوم نو رسول الله ﷺ چې دا کلمات واورېدل نو ډېر يې خوښ شول او حضرت بلال رضی الله عنه ته يې وويل چې دا په اذان کې شامل کړه او بل له دې نه معلومېږي چې خوب له لمانځه سره په خيريت کې شريک دی، يعنې لمونځ هم خير دی او خوب هم خير دی، خو لمونځ د خوب څخه بهتر دی او دا شرکت په دې وجه چې خوب کله هم عبادت وي هغه داسې چې د يو عبادت له پاره او يا د ګناه د پرهېزولو له پاره وسيله وګرځي او يا ددې له وجې چې خوب په دنيا کې راحت دی او لمونځ په اخرت کې راحت دی او د اخرت راحت غوره دی د

دنیا له راحت څخه. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۴۶ صفحه).

والاقامة مثله... الخ. او اقامت د اذان په شان دی، په دې کې چې دا هم د فرض لمانځه له پاره سنت دی او په عدد کلماتو کې او په ترتیب کې، خلافاً للشافعي، د امام شافعي په نزد اقامت فرادی دی، یعنې هر کلمه به یو ځل ویل کیږي او قدقامت الصلوة به دوه ځلې ویل کیږي او په اقامت کې به حدر کوي یعنې په تیزۍ سره به یې وایي او له حي على االفلاح نه وروسته به قد قامت الصلوة دوه ځلې وایي.

ولايتكلم فيهما اي لايتكلم في اثناء الاذان ولا في اثناء الاقامة واستحسن المتأخرون تثويب الصلوة كلها التثويب هو الاعلام بعد الاعلام ويجلس بينهما الا في المغرب ويؤذن للفائتة ويقيم اي اذا صلى فائتة واحدة وكذا الاولى الفوائت اي اذا صلى فوائت كثيرة ولكل من البواقي يأتي بهما او بها.

التحقيق النجيب په بيان التثويب د اذان او اقامت په منځ کې به نورې خبرې نه کوي، واستحسن.....الخ. تثویب په لغت کې له یو خبرداري نه وروسته بل خبرداري ته وایي، لکه الصلوة خير من النوم یا حی علی الصلوة یا الصلوة حاضرة یا داسې چې جمع اودربده، یا د غاړې په تازه کېدو او یا نورو طریقو سره په هره ژبه چې وي، درسول الله ﷺ په زمانه کې د سهار په لمانځه کې د الصلوة خير من النوم زیات والی تثویب ګڼه او د اذان او اقامت ترمنځ تثویب کې د علماوو اختلاف دی، په دې کې درې قوله دي، اول د سهار له لمانځه نه پرته په نورو لمونځونو کې مکروه ګڼي او د سهار وخت د خوب او غفلت وخت دی دوهم قول د امام ابویوسف دی، هغه وایي چې د امراوو او هر هغه څوک چې د رعیت په کارونو مشغول وي لکه قاضي، مفتي او داسې نورو له پاره تثویب جایز دی، څکه حضرت بلال رضی الله عنه د اذان نه وروسته به د حجره نبویه په دروازه کې ولاړو او الصلوة الصلوة به یې ویل.

دریم قول د متأخرینو علماوو دی چې تثویب په ټولو لمونځونو کې د ټولو خلکو له پاه مستحسن دی، څکه د دین په کارونو کې خاص طور په لمانځه کې سستوالی پیدا شوی دی خو د ماښام لمونځ ترې مستثنی دی څکه په دې کې د اذان او اقامت ترمنځ فاصله نه وي، نو مصنف هم همدې دریم قول ته ترجیح ورکړه. ویجلس.....الخ. او د اذان او اقامت ترمنځ به

کیني، یعنې دومره فاصله به راولي چې خلک لمانځه ته ځان تیار کړي، مګر په ماښام کې به صرف ددرې ایاتو په مقدار به فاصله کوي، ویؤذن... الخ. او د قضایي لمانځه له پاره به اذان کوي او اقامت به هم کوي، یعنې دا په هغه صورت کې چې یو قضایي لمونځ اداء کوي.
وکذالاولی الفوائت.... الخ او همدا رنګه که ډېر لمونځونه ورځخه قضاء شوي وو او اداء کوي یې نو د اول قضایي لمانځه له پاره اذان او اقامت سنت دی او د باقي لمونځونو له پاره دا اختیارمند دی چې اذان اواقامت دواړه کوي او که یواځې اقامت کوي.

وجازاذان المحدث وکره اقامته ولم یعادا وکره اذان الجنب واقامته ولا تعادهی بل هولانه لم یشرع تکرار الاقامة لانها لاعلام الحاضرین فیکفی الواحدة والاذان لاعلام الغائبین فیحتمل سماع البعض دون البعض فتکراره مفید کاذان المرأة والمجنون والسکران ای یکره ویستحب اعادته.

الوضاحة الفائقة: د بې اودسه انسان اذان جایز دی خو له بې اودسۍ نه مراد وړوکی اودس ماتی مراد دی نه جنابت، ځکه چې اذان هم یو ذکر دی او د ذکر له پاره اودس مستحب دی، خو بې اودسه هم مکروه نه ده مګر اقامت په بې اودسۍ سره مکروه دی، ځکه چې بیا د اقامت او لمانځه ترمنځ فصل او جدایي په اودس کولو سره راځي او دا مکروه ده، ولم یعاد.....الخ. خو که اذان یا اقامت په بې اودسۍ سره وشي نو راګرځول یې نشته، ځکه چې اذان په بې اودسۍ سره هم جایز دی، او اقامت ځکه چې د اقامت تکرار نه دی راغلی. وکره اذان.... الخ. او د جنب د سړي اذان او اقامت مکروه تحریمي دی، ځکه اذان من وجهٍ له لمانځه سره مشابهت لري او من وجهٍ مشابهت له ذکر سره لري، نو دواړه مشابهتونه معتبر شو نو د وجې د مشابهت نه لمانځه سره د حدث اکبر سره مکروه دی او د وجې د مشابهت نه ذکر سره د حدث اصغر سره مکروه نه دی او اقامت د حدث اصغر سره مکروه دی نو حدث اکبر سره په طریقه اولی سره مکروه دی، ولاتعادهی بل هو.... الخ.

خو اقامت به بیا نشي راګرځولی مګر اذان به بیا دوباره وکړای شي، ځکه چې شریعت کې د اقامت تکرار نه دی راغلی، ځکه اقامت د حاضرینو د خبرولو له پاره راځي، نو یو ځل اقامت هم کافي دی او اذان د غائبو د خبرو لو له پاره راځي نو احتمال ددې لري چې بعض

خلکو به اورېدلي وي او بعض خلکو به نه وي اورېدلي، نو تکرار د اذان مفيد دی، ددې له پاره که کومو کسانو اورېدلي نه وي نو هغه به يې هم واوري او مسجد ته به حاضر شي. كاذان المرأة..... الخ. لکه اذان د ښځې چې مکروه دی ځکه چې ددې د اواز په پورته کولو کې د فتنې احتمال شته، همدارنګه د ليوني او نشه کوونکي اذان يعنې چې باالفعل په نشه کې وي مکروه دی او بيا راګرځول يې مستحب دي.

ويأتي بهما المسافر والمصلي في المسجد جماعة اوفي بيته في مصروكره تركهما للاولين لالثالث اي كره ترك كل واحد منهما للمسافر والمصلي في المسجد جماعة اما ترك واحد منهما فلم يذكره فنقول اما المصلي في المسجد جماعة فيكره له ترك واحد منهما واما المسافر فيجوز له الاكتفاء بالاقامة والمصلي في بيته في مصران ترك كلا منهما يجوز لقول ابن مسعود رضي الله عنه اذان الحي يكفينا وهذا اذا اذن واقيم في مسجد حيه واما في القرى فان كان فيها مسجد فيه اذان واقامة فحكم المصلي فيها كما مر والمصلي في بيته يكفيه اذان المسجد واقامته وان لم يكن فيها مسجد كذا فمن يصلي في بيته فحكمه حكم المسافر ويقوم الامام والقوم عند حي على الصلوة ويشرع عند قد قامت الصلوة.

د کلي اذان بس دی: مسافر سړی به اذان او اقامت دواړه وايي، يواځې وي او که له ملګرو سره وي، همدا رنګه هغه څوک چې په جومات کې په جمع سره لمونځ کوي، هغه به اذان او اقامت دواړه کوي او يا په کور کی په ښار کې لمونځ کوي نو بيا به دواړه وايي. وكره تركهما.... الخ. او مکروه ده پرېښودل د هر يو اذان او اقامت د اولينو دواړو له پاره نه د دريم له پاره، يعنې مکروه ده پرېښودل د هر يو د اذان او اقامت نه د مسافر له پاره او د هغه لمونځ کوونکي له پاره چې په جومات کې په جمع سره لمونځ کوي. اما يواځې د اذان يا اقامت پرېښودل مصنف ذکر کړي نه دي. فنقول.... الخ. شارح وايي چې کوم کس په مسجد کې په جمع سره لمونځ کوي نو د هغه له پاره د هر يو د اذان او اقامت پرېښودل مکروه دي او د مسافر له پاره يواځې اكتفاء په اقامت باندې هم کافي ده. والمصلي في بيته..... الخ.دا بيان دثالث دی يعنی هغه کس چې په کور کې د ښار په داخل کې لمونځ کوي، نو د اذان او اقامت دواړو پرېښودل ورته جايز دي، له وجې د قول د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه چې د کلي

اذان زمونږ له پاره کافي دی خو دا په هغه صورت کې چې د کلي په جومات کې اذان او اقامت وشي او که په قريو او کليو کې داسې جومات و چې په هغې کې اذان او اقامت ؤ نو بيا ددی حکم داسې دی لکه مسجد کې چې په جمع سره لمونځ کوي او هغه کس چې په قريه کې په کور کې لمونځ کوي نو دده له پاره هم د مسجد اذان او اقامت کافي دی، وان لم يكن.... الخ. او که په قريه کې داسې مسجد نه و چې په هغې کې اذان او اقامت وشي، يا بيخي مسجد نه وي نو دلته که په کور کې څوک لمونځ کوي نو دده حکم په شان د حکم د مسافر دی يعنې اذان او اقامت به دواړه نه پريږدي او نه به يواځې اکتفاء په اذان کوي، که يواځې اکتفاء په اقامت وکړي نو دا جايز ده. ويقوم الامام......الخ. او دريږي به امام او قوم د حی علی الصلوة سره يعنې ددې نه مخکې به په ولاړه انتظار نه کوي، مګر ناست به وي او د حی علي الصلوة سره به اودريږي. ويشرع..... الخ. او امام به د قدمامت الصلوة په وخت کې په لمانځه شروع کوي يعنې د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد امام به لږ مخکې د قدقامت الصلوة نه شروع کوي او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد به د قد قامت الصلوة نه وروسته په لمانځه شروع کوي خو دا اختلاف په غوره والي کې ده. زه بنده عبدالرشيد صافی وايم چې دلته د امام ابويوسف قول ډېر غوره دی، ددې له پاره چې تکبير اولی د اقامت ويونکي څخه فوت نشي. والله اعلم.

باب شروط الصلوة

شرط په لغت کې علامې ته وايي او په شريعت کې هغه څه ته وايي چې وجود د شي له دې پورې موقوف وي، خو دا په شئ کې داخل نه وي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۶۳)

هی طهر بدن المصلی من حدث وخبث الحدث النجاسة الحکمية والخبث النجاسة الحقيقة وثوبه ومکانه وستر عورته واستقبال القبلة والنية والعورة للرجل من تحت سرته الی تحت رکبتيه وللامة مثله مع ظهرها وبطنها وللحرة کل بدنها الا الوجه والکف والقدم.

بیان شروط الصلوة

اول شرط د لمانځه د بدن پاکوالی دی، دحدث او خبث نه حدث نجاست حکمیه ته ویل کیږي چې هغه کوچنۍ بې اودسي ده او بل لویه بې اودسي ده چې جنابت دی ا وخبث نجاست حقیقي ته ویل کیږي لکه تش بول او ډک بول وغیره.

له حدث نه د بدن پاکوالی د اودس او غسل په ایات سره ثابت دی چې: فاغسلو وجوهکم.... الخ.

فاطهرو الایة. او د بدن پاکوالی د خبث نه په دې حدیث سره ثابت دی چې تنزهوا من البول(الحدیث) ځان له متیازو څخه وساتئ. (بحر الرائق لومړی ټوک ۴۶۳ صفحه)

وثوبه.... الخ.او دوهم شرط د لمانځه د جامو پاکوالی دی د خبث نه یعنې د نجاست حقیقه نه ځکه حدث یعنې نجاست حکمیه په جامو کې نه راځي او د جامو پاکوالی په دې ایت سره ثابت دی. وثیابک فطهر یعنې جامې دې پاکې کړه، **ومکانه**. دریم شرط د لمانځه له پاره د هغه ځای پاکوالی دی چې په کوم ځای کې لمونځ کیږي او دا په دلالت النص سره ثابت دی، یعنې چې د جامو پاکوالی ثابت شو نود بدن پاکوالی هم ترې معلوم شو، ځکه چې لمونځ کوونکی له مکان نه پرته لمونځ نشي کولای. **وسترعورته**.... الخ. څلورم شرط د لمانځه د عورت پټول دي، عورت د عور څخه مأخوذ دی، عور نقصان او عیب ته وایي، نو عورت ته عورت ځکه وایي چې ددې ښکاره کول هم عیب او نقصان دی او د عورت اطلاق په هغه اندام باندې کیږي چې د هغې پټول واجب دي خو دا پټول د عورت د بل کس نه دی، اما که خپل نظر یې په لمانځه کې په خپل عورت ولګیږي، نو دې سره لمونځ نه فاسدیږي، (بنایه) او د عورت پټول په دې ایات سره ثابت دي (خذو زینتکم عند کل مسجد) یعنې محل ددې او مراد ترې هغه جامه ده چې د هر لمانځه په وخت کې پرې عورت پټولی شي د وجې د اطلاق د حال نه په محل باندې. **واستقبال القبلة**.... الخ. پنځم شرط د لمانځه قبلې ته مخ کول دي، ددې قول له وجې نه چې الله تعالی فرمایي(فول وجهک شطر المسجد الحرام) **والنیة**: شپږم شرط د لمانځه نیت کول دی. والعورة..... الخ.

مصنف رحمه الله چې کله د شپږو شرايطو له بيان څخه فارغ شو نو شروع يې وکړه په تفصيلاتو ددې خو د دريو اولنيو شرايطو تفصيل په کتاب الطهارت ذکر شوی و، نو اوس د دريوو وروستنيو شرايطو تفصيل بيانول غواړي. د سړي عورت د نامه څخه لاندې تر لاندې حصې د زنګونو پورې دي او د وينزې عورت د سړي په شان دی، مګر د وينزې شا او خېټه هم عورت دي او د اصيلې ښځې ټول بدن عورت دی، مګر مخ، د لاس ورغوی او د پښې قدم عورت نه دی، خودا په لمانځه کې عورت نه دی، يعنې که په لمانځه کې دا ځايونه ښکاره شي نو لمونځ يې کيږي او د لمانځه نه بغير دا عورت دی ځکه لويه فتنه د مخ، لاسه او قدم نه جوړيږي.

وكشف ربع ساقها وبطنها وفخذها ودبرها وشعر نزل من رأسها وربع ذكره منفرداً والانثيين يمنع الحاصل ان كشف ربع العضو الذي هو عورة يمنع جواز الصلوة فالرأس عضو والشعر النازل عضو اخر والذكر عضو والانثيين عضو اخر وعادم مزيل النجس صلى معه ولم يعد فان صلى عارياً وربع ثوبه طاهر لم يجز وفي اقل من ربعه الافضل صلاته فيه ومن عدم ثوباً فصلى قائماً جاز وقاعداً مؤمئاً ندب.

توضيح المسئلة: كشف مبتدأ ده او يمنع يې خبر دی، که د ښځې د پونډۍ څلورمه يا د ګېډې څلورمه حصه يا د ورانه ددې يا د غټ اودس ماتي د ځای څلورمه حصه، يا يې د سر د هغه وېښتانو څلورمه حصه چې ځوړند وي، يا څلورمه حصه يواځې د ذکر يا د هګيو که ښکاره شي نو لمونځ منع کوي، يعنې لمونځ ورسره نه کيږي.. الحاصل.... الخ. حاصل دادی چې کوم اندام عورت وي او هغې څلورمه حصه ښکاره شي نو لمونځ نه ورسره کيږي ځکه چې شريعت څلورمه حصه په حکم د کل کې ګرځولې ده، نو سر ځانته اندام دی او ځوړند وېښتان ځانته اندام دی، د نارينه مخکې اندام يعنې ذکر ځانته لندام دی او هګۍ د نارينه ځانته اندام دی. وعادم ...... الخ. يعنې که چا هغه شی پيدا نه کړ چې پليتي د جامو ياد بدن څخه لرې کړي نو د پليتۍ سره دې لمونځ وکړي او بيا وربانډې ددې لمانځه راګرځول نشته، که يو کس بربنډ لمونځ وکړ او حال دا چې د جامې څلورمه حصه دده پاکه وه، نو دا لمونځ د هغه صحيح نه دی او که له څلورمې حصې څخه کمه پاکه وه او نوره پليته وه نو ده ته اختيار دی چې په بربنډه لمونځ کوي او که په دې جامو کې لمونځ کوي خو په دې جامو کې لمونځ بهتر دی. ومن

عدم..... الخ. او که چا جامه پیدا نکړه یعني یو کس بربنډ و او د لمانځه له پاره یې دومره شی هم پیدا نه کړ چې عورت ورباندې پټ کړي نو که په ولاړه یې لمونځ وکړ نو دا هم صحیح دی خو په ناستې له اشارې سره بیا مستحب دی.

وقبلة خائف الاستقبال جهة قدرته فان جهلها وعدم من يسئاله تحرى ولم يعد ان اخطأ وان علم به مصلياً او تحول رأيه الى جهة اخرى وهو فى الصلوة استدار اى ان علم بالخطأ فى الصلوة او تحول غلبة ظنه الى جهة اخر وهو فى الصلوة استدار وان شرع بلا تحر لم يجز وان اصاب لان قبلته جهة تحريه ولم توجد.

توضيح المسئله: مصنف رحمه الله د تفصیل د څلورم شرط څخه چې فارغ شو نو شروع یې وکړه په تفصیل د پنځم شرط سره او وېې ویل چې کوم کس د دښمن یا ځناورو څخه ویرېږي نو دده قبله هغه طرف د قدرت دده ته مخ کول دي، یعني کوم طرف ته چې قادره و همغه طرف دده قبله ده ځکه انسان د طاقت په اندازه مکلف دی. الله ﷻ فرمایي: اینما تولو فثم وجه الله. کوم طرف چې تاسو مخ وګرځوئ هغه طرف ته د الله ﷻ ذات دی. فان جهلها.... الخ. که یو سړي ته د قبلې طرف معلوم نه و او هلته داسې څوک هم نه و چې د قبلې پوښتنه ترې وکړي نو په هغه لازم دي چې په زړه سره سوچ او فکر وکړي نو کوم طرف ته چې یې زړه مائله شو، هغه طرف ته دې لمونځ وکړي، وروسته که بیا معلومات ورته وشو چې ما خو د قبلې طرفته لمونځ نه دی کړی نو ددې لمانځه اعاده ورباندې نشته. وان علم.... الخ. او که په خپله خطایي باندې د لمانځه په حالت کې پوی شو او یا دده رایه بل طرف ته په لمانځه کې بدله شوه نو په لمانځه کې به هغې طرف ته راوګرځي او باقي لمونځ به د کعبې لور ته اداء کړي او له سره به لمونځ نه راګرځوي.

وان شرع..... الخ او که په لمانځه کې یې بې له فکر نه شروع وکړه نو دا لمونځ صحیح نه دی اګر چه حق ته رسېدلی وي، یعنې اګر چې د قبلې طرف ته لمونځ اداء کړی وي، په دې باندې که د لمانځه په منځ کې پوی شي او که د لمانځه نه وروسته پوی شي. لان قبلته.... الخ. ځکه کوم وخت کې چې ده ته قبله معلومه نه وي نو دده قبله طرف د فکر ا و غالب ګمان دده ده او دلته تحري او فکر نه ده موجود شوی نو لهذا دا لمونځ دده صحیح نه شو.

فان تحری کلٌّ جهةً بلا علم حال امامهم هم خلفه جاز لا لمن علم حاله او تقدمه ای صلی قوم فی لیلة مظلمة بالجماعة وتحروا القبلة وتوجه کل واحد الی جهة تحریه ولم یعلم احد ان الامام الی ای جهة توجه لکن یعلم کل واحد ان الامام لیس خلفه جازت صلاتهم اما ان علم احدهم فی الصلوة جهة توجه الامام ومع ذلك خالفه لایجوز صلاته وکذا اذا علم ان الامام خلفه فقوله وهم خلفه فیه تساهل لان کلامنا فیما اذا لم یعلم احد ان الامام الی ای جهة توجه فکیف یعلم انه خلف الامام فالمراد انه یعلم ان الامام امامه وهذا اعم من ان یکون هو خلف الامام اولا لانه اذا کان الامام قُدامه یحتمل ان یکون هو خلف الامام اذا کان وجهه الی ظهر الامام وح یکون جهة توجه الامام معلومة وکلامنا لیس فی هذا وعبارة المختصر ولایضر جهله جهة امامه اذا علم انه لیس خلفه بل تقدمه اوعلم مخالفته ای اذا اعلم ان الامام لیس خلفه.

الفوائد الجلة فی بیان اشتباه القبلة: څه خلکو په توره شپه کې په جمع سره لمونځ کولو ... هر سړي سوچ او فکر وکړو یو طرف ته او همغه طرف ته یې مخ وګرځولو، خو د امام حال ور... معلوم نه و چې امام کوم طرف ته مخ ګرځولی مګر دومره معلومات ورته و چې امام له دو... څخه مخکې دی او دوی له امام څخه وروسته دي او دغه لمونځ د دوی جایز دی. لا لمن علم..... الخ د هغه چا لمونځ صحیح نه دی چې د امام په حال پوه وي، یعني د امام د مخ کو... طرف ورته معلوم وي او له دې سره سره دا سړی د امام مخالفت وکړي یعني بل طرف ته م... کړي، نو دده لمونځ نه صحیح کیږي. او تقدمه او یا دا معلومات ورته وي چې زه له امام څخ... مخکې یم نو بیا هم دده لمونځ صحیح نه شو. فقوله وهم خلفه فیه تساهل..... الخ شارح وا... چې د مصنف په دې قول کې چې وایي وهم خلفه، چشم پوشي ده، هغه داسې چې که دا په د... حمل شي چې مقتدیان به په نفس الامر او حقیقت کې د امام څخه وروسته وي، نور ک... مقتدیانو ته ددې علم وي او که علم نه وي چې مونږ له امام څخه وروسته یو که مخکې یو نو بیا وروسته والی په مقتدیانو د امام په نفس الامر کې شرط شو او حال دا چې دا شرط نه دی څکه که مقتدیان له امام پسې اقتداء وکړي او عقیده یې دا وي چې مونږ د امام څخه وروسته یو او په نفس الامر کې دوی مخکې ؤ نو بیاهم د دوی لمونځ صحیح اوکه د په نفس الامر نه

حمل کوي مګر د دوی په علم يې حمل کوي يعنې چې د دوی علم دا وي چې مونږ له امام څخه وروسته يو نو بيا په دې دا اعتراض راځي چې لان کلا منا..... الخ. يعنې چې خبره زمونږ په هغه صورت کې ده چې هيڅوک نه پوهيږي چې امام کوم طرف ته مخ ګرځولی نو په دې څه پوه شي چې امام له ده نه وروسته دی؟ فالمراد انه.... الخ شارح وايي چې د مصنف ددې قول چې وهم خلفه دی، مقصد دادی چې مقتدي ته دا معلومات وي چې امام دده نه مخکې دی، ددې بيا وه مقصده دي.

اول چې له امام نه وروسته وي دويم چی وروسته نوی ځکه کله چې امام دده څخه مخکې وي نو بيا احتمال ددې لري چې د مقتدي مخ د امام مخ ته وي يا د مقتدي مخ د امام څنګ ته وي او يا د مقتدي مخ د امام شاته وي، په دې درې واړو صورتونو کې امام دده څخه مخکې شو. و انما يکون.... الخ او مقتدي د امام څخه هلته وروسته راځي چې مقتدي مخ د امام شاته وي نو بيا خو په دې صورت کې د امام د مخ ګرځولو طرف معلوم شو او زمونږ خبره په دې کې نه ده ځکه زمونږ مسئله په هغه صورت بناء ده چې ده ته علم د جهت د توجه د امام نه وي. وعبارة المختصر.... الخ د مختصر الوقايې په عبارت کې داسې دي چې که مقتدي ته د امام طرف معلوم نه وي نو دا د لمانځه صحت ته ضرر نه کوي خو په دې شرط چې ده ته دا معلومات وي چې امام له ده نه وروسته نه دی مګر مخکې دی. او علم مخالفته او که دا معلومات ورته وو چې امام يو طرف ته مخ ګرځولی او ما بل طرف ته مخ ګرځولی نو بيا ده ته ضرر کوي يعنې لمونځ يې نه صحيح کيږي. ای اذا علم..... الخ. دا تفسير ددې دی چې اذا علم انه الخ او اشاره په کې داده چې انّه ضمير امام ته راجع دی نو خلاصه د خبرې دا شوه چې د مصنف له عبارت نه د مختصر الوقايي عبارت ډېر مفيد دی او دې کې تسامح نه راځي.

ويصل قصد قلبه صلاته بتحريمتها هذا تفسير النية والقصد مع لفظه افضل ويكفى النفل والتراويح وسائر السنن نية مطلق الصلوة وللفرض شرط تعينه لانية عدد ركعاته وللمقتدى نية صلاته واقتدائه.

اقوال علماء الاعلام فى بيان النية باللسان:

مصنف رحمه الله چې د لمانځه د پنځم شرط له تفصيل څخه فارغ شو نو شروع يې وکړه د

لمانځه د شپږم شرط په تفصیل باندې. نیت په لغت کې د زړه ارادې او قصد ته وایي ویصل.... الخ دا د نیت مستحب وخت معلوموي که نیت د تکبیر تحریمې څخه مخکې وشي نو دا هم جایز دی خو په دې شرط چې د نیت او تکبیر تحریمې ترمنځ هغه عمل ونه کړي چې د لمانځه له جنس څخه نه وي خو مستحب وخت دادی چې د تکبیر تحریمې سره پیوسته وشي او که د تکبیر تحریمې څخه وروسته وشي نو بیا دا صحیح نه ده. (بحر الرائق وغیره)

والقصد مع لفظه...... الخ. په دې کې درې صورته دي. اول دا چې صرف اکتفاء په نیت باندې وکړي دا بالاتفاق جایز دي او په دې کې د هیڅ اختلاف نشته او دا د رسول الله □ او صحابه کرامو څخه هم منقول ده. دوهم چې صرف اکتفا په تلفظ د ژبې سره وکړي او د زړه اراده ورسره نه وي نو دا صحیح نه ده. دریم چې د زړه له نیت سره په ژبه هم تلفظ وکړي دا د احنافو په نزد باندې مستحسن دی، ځکه په دې کې اجتماع د عزیمت راځي، ځکه د انسان زړه کله مشوش وي او سوچ یې په بل ځای کې وي نو کله چې په ژبه تلفظ وکړي نو په دې سره دده فکر یو ځای شي او متوجه شي. (بحر الرائق لومړی ټوک)

د امام شافعي مذهب هم همدا دی او د امام مالک په نزد مکروه دي ځکه عمر رضی الله عنه د یو کس څخه نیت واورېده، نو زجر یې ورکړ، ددې نه احناف دا جواب کوي چې دا زجر د هغه چا له پاره و چې په جهر سره یې نیت ویلی د مطلق نیت له پاره زجر نه و او ځینې علماء وایي چې نیت باللسان سنت دی، له سنت نه مراد د علماوو سنت دي نه د رسول الله ﷺ سنت. د حنابله وو مذهب دادی چې دا بدعت دی او د زاد المعاد په لومړي ټوک ۷۸ صفحه کې ابن قیم ذکر کړي دي چې نیت باللسان نه د رسول الله ﷺ څخه ثابت دی، نه د صحابه کرامو څخه او نه د تابعینو څخه ثابت دی.(حاشیه ۱ هدایه ۱- ۹۱ صفحه) ویکفی النفل.... الخ د نفلو او تراویحو او نورو سنتو له پاره د مطلق لمانځه نیت هم کافي دی او د فرضو له پاره تعین د لمانځه شرط دی، یعنې چې د مازیگر یا ماښام لمونځ کوم او عدد د رکعتونو ورکې شرط نه دی او مقتدي به د لمانځه نیت هم کوي او د امام د متابعت نیت به هم کوي.

باب صفة الصلوة

مصنف رحمه الله چې هر کله د لمانځه له مقدماتو څخه فارغ شو نو شروع يې په مقصود وکړه د صفت نه مراد يا هغه امور دي چې په دې باب کې ذکر کيږي چې هغه د لمانځه فرائض دي، واجبات، سنت او وغيره دي او يا ترې د لمانځه طريقه مراد ده.

فرضها التحريمة وهي قوله الله اكبر وما يقوم مقامه وهو شرط عندنا لقوله تعالى وذكر اسم ربه فصلى وعند الشافعي ركن فاما رفع اليدين فسنة.

التحفة الكريمة في بيان التحريمة:

فرضها التحريمة.... الخ فرض د لمانځه تکبير تحريمه دی، مصنف رحمه الله فرض وويل او رکن يې ونه ويل، ددې له پاره چې تکبير تحريمه په کې داخله شي، ځکه تحريمه د احنافو په نزد شرط ده او د امام شافعي په نزد رکن دی، شرط دې ته وايي چې وجود د شي ددې پورې موقوف وي، خو خارج د شي څخه وي. او رکن دې ته وايي چې وجود د شي ددې پورې موقوف وي خو داخل په حقيقت د شي کې وي. له فرضو نه مراد هغه دي چې کول يې په قطعي دليل سره لازم وي، رکن وي او که شرط وي، نو منکر ددې به کافر وي او مستحق د عذاب به وي. (بحرالرائق لومړی ټوک ۵۰۶ صفحه)

او تکبير ته تحريمه ځکه وايي چې دا په لمونځ کوونکي هغه شی حراموي چې د جنس د لمانځه څخه نه وي او دليل په دې فرضيت د تکبير سره دا ايت دی (وربک فکبر او له دې نه مراد تکبير افتتاح دی او بل دا حديث عن علی رضی الله عنه عن النبی ﷺ انه قال مفتاح الصلوة الطهور وتحريمها التکبير وتحليلها التسليم. ژباړه: حضرت علي رضی الله عنه له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې مبارک فرمايي چې د لمانځه له پاره کيلي اودس دی او تحريم ددې تکبير دی او تحليل ددې سلام دی يعني په سلام سره ورته مباح شيان حلاليږي.

وهي قوله... الخ او دا تکبير تحريمه دا قول دی چې الله اکبر او هغه څه چې ددې قائمقام وي، ځکه وربک فکبر دلالت په فرضيت د مطلق هغه الفاظو سره کوي چې هغې سره تعظيم راځي اما د الله اکبر ويل سنت دي او تکبير تحريمه زمونږ د احنافو په نزد شرط ده له وجې د الله

تعالی ددې قول نه چې (وذکراسم ربه فصلی) ځکه الله تعالی صلوة په فاء سره په ذکر اسم باندې عطف کړی دی او فاء دلالت په تعقیب باندې کوي او اصل په عطف کې مغائرت دی نو معلومه شوه چې تحریمه د صلوة نه متغائره ده او صلوة به د تحریمې ځخه وروسته وي او متصل به وي د تحریمې سره او امام شافعي وايي چې تحریمه رکن دی ځکه حدیث کې راځي ان هذه الصلوة لایصلح فیها شئ من کلام الناس انما هی التکبیر والتسبیح وقرأة القرآن، له دې نه احناف جواب کوي چې ظاهر ددې حدیث مراد نه دی، ځکه که دا مراد شي نو بیا به تسبیح په کې هم فرض شي؟ فاما رفع.....الخ او د لاسونو پورته کول د تکبیر تحریمه په وخت کې سنت دي.

والقیام والقرأة والرکوع والسجود بالجبهة والانف وبه أُخذ یجوز عند ابی حنیفة الاکتفاء بالانف عند عدم العذر خلافاً لهما والفتوی علی قولهما والقعدة الاخیرة قدر التشهد والخروج بصنعه.

تتهیم البیان فی بیان الارکان:

بل فرض یا رکن د لمانځه قیام دی، د الله تعالی ددې قول له مخې چې فرمايي: (وقوموا لله قانتین) د مفسرینو په اجماع سره دلته قیام مراد دی. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۰۹)

والقرأة او مطلق قرأة رکن د لمانځه دی، فرضیت يې په دې ایت سره ثابت دی، فاقرؤا ما تیسر من القرآن، والرکوع والسجود، رکوع فرض ده او سجده هم فرض ده په تندي او پوزې دواړو سره او په دې باندې علماوو عمل کړی دی او له امام ابو حنیفه ځخه یو روایت راغلی دی چې بلاعذره یواځې اکتفاء په پوزه هم جایز ده او سره د عذر نه خو بالاتفاق جایز ده، خو صاحبین وايي چې بلاعذره یواځې اکتفاء په پوزې جایز نه ده. حاصل د خبرې دا دی چې دټولو علماؤ اتفاق پدی خبره راغلی چې د تندي او پوزې دواړه ایښودل په سجده کې سنت دي او یواځې اکتفا په پوزه جایز ده خو مکروه ده، والفتوی ..... الخ. فتوای د صاحبینو په قول ده.

والقعده.... الخ او اخرنی قعده فرض ده د تشهد له اندازې پورې په اجماع د علماوو ځکه دېر دلایل چې د تواتر اندازې ته رسیږي په فرضیت د قعده باندې دلالت کوي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۱۲ صفحه)

والخروج..... الخ او وتل له لمانځه نه هم فرض دي په قصد سره د لمونځ کوونکي فعل وي او که هغه عمل وي چې مخالف وي د لمانځه سره خو د السلام علیکم لفظ واجب دی او که په بل عمل یا قول سره د لمانځه څخه خارج شي نو دا به فوت کوونکی د واجبو وګرځي چې هغه السلام علیکم دی (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۱۳)

وواجبها قرأة الفاتحة وضم سورة ورعاية الترتيب فيما تكرر في الهداية ومراعاة الترتيب فيما شرع مكررا من الافعال وذكر في حواشي الهداية نقلا عن المبسوط كالسجدة فانه لو قام الى الثانيه بعد ما سجد سجدة واحدة قبل ان يسجد الاخرى يقضيها ويكون القيام معتبراً لانه لم يترك الا الواجب اقول قوله فيما تكرر ليس قيداً يوجب نفي الحكم عما عداه فان مراعات الترتيب في الاركان التي لا تتكرر في ركعة واحدة كالركوع ونحوه واجب ايضاً على ما سياتي في باب سجود السهوان سجود السهو يجب بتقديم ركن الى اخره.

د لمانځه واجبات: د لمانځه د واجباتو څخه یو لوستل د سورة فاتحې یعنې الحمد لله دي، ائمه ثلاثه وايي چې د فاتحې لوستل فرض دي ددې حدیث له وجې نه چې: لاصلوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب زمونږ د احنافو له پاره دليل دا ايات دى فاقرؤ اما تيسر من القرآن، نو الله ﷻ او رسول الله ﷺ امر په مطلق قرأة د قرآن سره کړی دی، نو نص د کتاب الله چې قطعي دی موافق شو د نص د حدیث سره نو که فاتحه فرض کړای شي نو نص د کتاب الله چې قطعي دی دا به مقید شي په نص د هغه حدیث سره چې هغه ظني الثبوت دی نو داسې طریقه اختیارول په کار دي چې په دواړو عمل راشي نو نص د کتاب الله سره به مطلق قرأة فرض شي او نص د حدیث سره به فاتحه واجب شي. **وضم سورة** او پیوسته کول د یو سورت یا ددې په مقدار ایاتونه هم واجب دي، **ورعاية الترتيب**..... الخ او واجب دي ساتل د ترتیب په هغو افعالو کې چې په یو رکعت کې مکرر وي لکه سجده، نو که یو کس یوه سجده وکړي او دویمه سجده ترې هیره شي او دویم رکعت ته ودریږي نو دغه قیام اوس معتبر دی یعنې قیام به نه پرېږدي او ددې سجدې قضايي به په اخر کې راوړي لانه لم يترك الا الواجب، ځکه ده پرېښې نه ده مګر واجب چې هغه

ترتيب دی او په ترک د واجبو سره لمونځ نه باطليږي مګر سجده سهوه وربانديږ لازميږي. اقول قوله: شارح وايي چې دا قول د مصنف چې فيما تکرر دی قيد احترازي نه دی چې نفي د حکم د عما عدا څخه راولي ځکه کوم ارکان چې په يو رکعت کې مکرر نه دي په هغه کې هم رعايت د ترتيب واجب دی لکه رکوع وغيره چې په باب د سجده السهو کې به راشي چې سجده سهوه په تقديم د رکن سره هم واجبيږي.

واوردوا النظير تقديم الركن الركوع قبل القرأة وسجدة السهو لا تجب الا بترك الواجب فعلم ان الترتيب بين الركوع والقرأة واجب مع انهما غير مكرر في ركعة واحدة وقد قال في الذخيرة اما تقديم الركن نحو ان يركع قبل ان يقرأ فلان مراعاة الترتيب واجبة عند اصحابنا الثلاثة خلافاً لزفر رحمه الله فانها فرض عنده فعلم ان رعاية الترتيب واجبة مطلقا فلا حاجة الى قوله فيما تكرر فلهذا لم اذكره في المختصر ويخطر ببالي ان المراد بما تكرر ما تكرر في الصلوة احترازاً عما لا يتكرر في الصلوة على سبيل الفرضية وهو تكبير الافتتاح والقعدة الاخيرة فان مراعاة الترتيب في ذلك فرض.

توضيح المسئلة: او علماء د تقديم د رکن له پاره مثال راوړی دی چې رکوع مخکې د قرأت د قرآن څخه وکړي نو سجده سهوه وربانديږ لازميږي او سجده سهوه په ترک د واجبو سره لازميږي نو معلومه شوه چې ترتيب د رکوع او قرأت ترمنځ واجب دی، سره له دې نه چې دا دواړه مکرر نه دي په يو رکعت کې او ذخيره کې ليکلي چې د تقديم د رکن مثال لکه رکوع چې د قرأت څخه مخکې وکړي ځکه لحاظ ساتل د ترتيب زمونږ د دريو علماوو په نزد چې امام ابو حنيفه رحمه الله، امام محمد رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله دي واجب دي او د امام زُفر رحمه الله په نزد فرض دي، فعلم..... الخ نو معلومه شوه چې رعايت د ترتيب مطلقاً واجب دي يعنې چې رکن مکرر وي او که غير مکرر وي نو دې قول ته ضرورت نشته چې فيما تکرر نو همدا وجه ده چې ماپه مختصر کې هم ذکر نه کړ. ويخطر ببالی .... الخ غرض د شارح له دې نه توجيه بيانول دي ددغه قول د مصنف چې فيما تکرر دی يعنې زما په زړه کې يوه توجيه ددې ګرځي چې مراد د ماتکرر نه هغه ده چې په ټول لمانځه کې تکراروي ا ودا به قيد احتراز شي د هغه افعالو نه چې په لمانځه کې على سبيل الفرضية مکرر نه وي، لکه تکبير

افتتاح او اخرنی قعده ځکه په دې کې رعایت د ترتیب فرض دی.

والقعدة الاولى والتشهد ان ذكر فى الزخيرة ان القعدة الاولى سنة والثانية واجبة وفى الهداية ان قرأة التشهد فى القعدة الاولى سنة وفى الثانية واجبة لكن المصنف لم يأخذ بهذا لان قوله عليه السلام لابن مسعود قل التحيات لله لايوجب الفرق فى قرأة التشهد فى الاولى والثانية بل يوجب وجوب فى كليهما ولما كانت القرأة فى القعدة الاولى واجبة كانت القعدة الاولى ايضاً واجبة لاسنة.

تنقیح المسئله: او اولنۍ قعده واجب ده او دواړه تشهده یعنې التحیات لله.... الخ لوستل په دواړو قعدو کې په ذخیره کې ذکر شوې چې اوله قعده سنت ده او دویمه واجب ده او په هدایه کې ذکر دی چې تشهد لوستل په اوله قعده کې سنت دي او په دویمه قعده کې واجب دي، مګر مصنف رحمه الله نه د ذخیرې په قول عمل وکړ او نه د هدایې په قول عمل وکړ ځکه دا قول د رسول الله ﷺ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته چې التحیات لله ووایه فرق نه واجبوي په قرأت د تشهد کې په اوله قعده کې او په دویمه کې مګر وجوب ثابتوي په دواړو کې نو هر کله چې قرأت د تشهد په اوله قعده کې واجب شو نو اوله قعده هم واجب شوه او سنت نه شوه.

ولفظ السلام خلافاً للشافعى فانه فرض عنده وقنوت الوتر وتكبيرات العيدين وتعين الاوليين للقرأة وتعديل الاركان خلافاً للشافعى وابى يوسف فانه فرض عندهما وهو الاطمينان فى الركوع وكذا فى السجود وقُدر بمقدار تسبيحة وكذا الاطمينان بين الركوع والسجود وبين السجدتين والجهر والاخفاء فيما يجهر ويُخفى.

توضیح المسئله: او لفظ د سلام هم واجب دی یعنې سلام ګرځول هم واجب دي، خو په دې کې اشاره دې ته ده چې د السلام لفظ صرف واجب دی او د علیکم ورحمة الله لفظ سنت دی او بله اشاره دې ته ده چې مخ ګرځول ښي او چپ طرف ته واجب نه دي بلکې سنت دي او امام شافعي رحمه الله وایي چې لفظ د السلام علیکم فرض دی، وقنوت الوتر.... الخ او قنوت په وترو کې واجب دی، قنوت مطلق دعا ته ویل کیږي او دلته هم د یوې دعا پورې خاص نه ده، چې مشهوره دعا اللهم ان نستعینک..... الخ وویل شي او که بله دعا وویل شي ټولې جایز دي، خو

غوره خبره داده چې د يوې دعا پورې خاص نه شي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۲۶ صفحه)

وتکبيرات العيدين الخ او په دواړو اخترونو کې شپږ زوائد تکبيرونه واجب دي او په ترک سره يې سجده سهوه لازميږي. وتعيين الاولیين.... الخ او معلومول د لومړنيو دوو رکعتونو د قرأت له پاره واجب دي يعنې په فرضو رباعيو او ثلاثيو کې اولني دوه رکعته د قرأت له پاره مقررول واجب دي او په ثنايي يعنې دوه رکعتيز لمانځه کې قرأت په دواړو رکعتونو کې فرض دی، همدا رنګه د نفلو په ټولو رکعتونو کې رباعي وي او که ثنايي وي قرأت فرض دی او همدا رنګه د وترو په ټولو رکعتونو کې قرأت فرض دی. نو د فرضو په اولنيو رکعتونو کې که قرأت پريږدي او په وروستيو دوو رکعتونو کې يې ووايي نو سجده سهوه پرې واجب ده، وتعديل الارکان...... الخ او برابرول د رکنونو واجب دي. د امام شافعي او امام ابو يوسف په نزد فرض دي د وجې ددې حديث نه (صل فانك لم تصل) او امر په اعادې د لمانځه سره هلته وي چې فساد دلمونځ راشي او مطلق امر فرضيت راولي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۲۲ صفحه)

د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمه الله له پاره دليل (وارکعوا واسجدو) دی او دواړه لفظه خاص لفظونه دي او معنا يې معلومه ده نو ادنی ددې به فرض وي او کوم چې په خبر واحد سره ثابت دی هغه به واجب وي نو اوس که مونږ طمانيه په خبر واحد سره فرض کړو نو دا به زيادت په کتاب الله باندې په خبر واحد سره راشي او دا جايز نه ده، **وهوالاطمينان** طمانيه په رکوع او سجده کې اطمينان ته ويل کيږي. وقدر... الخ ددغه اطمينان اندازه داده چې يو ځل تسبيح په رکوع يا سجده کې ووايي او له دې نه زيات ويل مستحب دي، همدا رنګه اطمينان په مابين د رکوع او سجده کې او په مابين د دوو سجدو کې واجب دي. والجهر ولاخفاء.....الخ او جهر سره قرأت کول واجب دي په جهري لمونځ کې صرف د امام له پاره او د منفرد له پاره په جهري لمانځه کې جهر غوره دی، جهر لمونځونه لکه د سهار لمونځ، د ماښام لمونځ او د ماخستن لمونځ کې دوه اولني رکعتونه وغيره او په پټه قرأت لوستل په خفيه لمونځونو کی واجب دي، لمونځ کوونکی که امام وي او که منفرد وي، خفيه لمونځونه لکه ماسپښين او

مازیگر وغیره لمونځونه. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۲۷) نو که څوک په جهري لمونځونو کې جهر ونه کړي او یا په خفیه لمونځونو کې قرأت ووایي نو سجده سهوه به ورباندې لازمیږي.

وسنن غیرهما اونُدب ای ما عدا الفرائض والوجبات اما سنة اومندوب وعند الشافعی رحمه الله لافرق بین الفرض والواجب علی ما عُرف فی اصول الفقه فعنده افعال الصلوة اما فرائض اوسنن اومستحبات.

توضیح المسئلة: او سنت کړای شوي ما سیوا ددې دواړو نه او یا مستحب کړی شوي یعنې د د فرضو او واجباتو نه ما سوا یا سنت مؤکد دي او یا مستحب دي د امام شافعي رحمه الله په نزد د فرضو او واجبو ترمنځ فرق نشته. یعنې زمونږ د احنافو په نزد فرض دې ته ویل کیږي چې په دلیل قطعي سره ثابت وي او منکر ددې کافر دی او واجب دې ته وایي چې په دلیل ظني سره ثابت وي لکه خبر واحد او منکر ددې به کافر نه وي خو مستحق د عذاب به وي. امام شافعي دغه دواړه قسمه یعنې چې په دلیل قطعي سره ثابت وي او که په دلیل ظني سره ثابت وي دې دواړو ته فرض وایي نو د امام شافعي رحمه الله په نزد افعال د لمانځه به یا فرض وي یا به سنت وي او یا به مستحب وي او واجب په فرضو کې داخل شو.

فاذا اراد الشروع کبّر حاذفاً بعد رفع یدیه المراد بالحذف ان لایأتی بالمد فی همزة الله ولافی باء اکبر غیر مفرج اصابعه ولا ضام بل یترکها علی حالها ماسًّا بابهامیه شحمتی اذنیه والمرأة ترفع حذاء منکبیها فان ابدل التکبیر بالله اجل اواعظم اوالرحمن اکبر اولا اله الا الله اوبالفارسیة اوقرأبها بعذر اوذبح وسمّی بها جاز وباللهم اغفرلی لا فالحاصل انه یجوز ان یبدل بذکر ما یدل علی مجرد التعظیم ولایشوب بالدعا.

حصول مرضات الله فی بیان کیفیة الصلوة لله: کله چې اراده د شروع د لمانځه وکړي نو الله اکبر به ووایي، حاذفاً په داسې حال کې چې حذف کوونکی د مد به وي یعنې په لفظ د الله کې به په همزه مد نه راولي او نه به په باء د اکبر باندې مد راولي بلکه بلامده به یې وایي. بعد رفع یدیه... الخ د تکبیر په ویلو کې درې قوله دي اول دا چې د لاسونو له پورته کولو څخه وروسته به تکبیر وایي دوهم داچې د لاسونو پورته کولو سره به تکبیر وایي دریم دا چې اول به تکبیر وایي او بیا به لاسونه پورته کړي. درې واړه طریقې له رسول الله ﷺ څخه ثابتې دي خو غوره

طریقه په کې داده چې اول لاسونه پورته کړي او بیا تکبیر ووایي، غیر مفرج..... الخ په وخت د لاسونو پورته کولو کې به نه ګوتې ډېرې پراخه کوي او نه به یې ډېرې یو ځای کوي،مګر په خپل حال به یې پرېږدي.

ماسابا بهامیه..... الخ او مس کوونکی به وي یعنې لګونکی د غټو ګوتو به وي د نرمۍ د غوږونو پورې، له وجې د هغه حدیث د انس رضی الله عنه نه. عن انس رضی الله عنه قال رأیت النبیﷺ کبر فحاذی بابهامیه اذنیه، رواه الحاکم وصححه مراد د محاذاة څخه دادی چې غټې ګوتې د نرمۍ د غوږو پورې ولګیږي او کوم حدیث چې راغلی چې رسول اللهﷺ به د اوږو پورې لاسونه پورته کول نو هغه په حالت د عذر باندې حمل دی، چې د ژمي په موسم کې به یې لویې کورتۍ او خولۍ اغوستې وې او یا په حدیث د حذا اذنیه سره د ګوتو سرونه مراد دي او په حدیث الی منکبیه سره د لاسونو ورغوي او مړوندونه مراد دي، یا دا چې حدیث د حذاء اذنیه د نارینه وو له پاره او حدیث الی منکبیه د زنانه وو له پاره دي ځکه دا طریقه د زنانه وو له پاره ډېره دستر ده. والمرأة .....الخ ښځه اصیله وي او که وینزه وي لاسونه به د اوږو په برابرۍ پورته کوي.

فان ابدل..... الخ او که په بدل د الله اکبر کې الله جل یاالله اعظم یا الرحمن اکبر یا لااله الاالله وویل نو هم جایز ده، یایې په فارسي ژبه کې تکبیر وویلې لکه خدا بزرګ است دا هم جایز ده او قرء بها بعذر او یا قرأت د قران په لمانځه کې په فارسي ژبې سره یا په یوه بلې ژبې سره چې د عربي نه ما سوا وي ولولي نو که بې له عذر څخه وي نو دا د امام ابو حنیفه په نزد هم جایز دي خو د صاحبینو په نزد جائز نه دي او که د عذر له وجې یې ووایي نو بیا بالاتفاق جائز دي ځکه چې قرآن نوم د لفظ او معنا دواړه دي نو چې من کل وجه د قرآن د لوستلو څخه عاجزه شو نو پده لازم دي چې من وجه یې ولولي ځکه انسان د خپل طاقت په اندازه مکلف دی خو په هغه صورت کې چې عذر نه وي نو نو مشهور مذهب د امام ابوحنیفهؒ دا دی چې قراءت په غیر عربۍ ژبه دقادر او عاجزه دواړو لپاره جائز دی ځکه اعتبار معنی ته دی خو د امام صاحبؒ رجوع د صاحبینو قول ته ثابته ده هغه داسی چې صرف دعاجزه لپاره جائز ده او ذبح وستمی بها .....الخ او یا یې ذبح د حیوان وکړه او بسم الله یې په فارسي سره وویلې نو دا هم جایز ده، خو که

عذر نه و نو بيا مکروه ده او د صاحبينو په نزد کوم سړی چې په عربي قدرت لري نو د هغه له پاره په بله ژبه بسم الله ويل نه صحيح کيږي وبا اللهم اغفر لی..... الخ او که الله اکبر په ځای اللهم اغفرلی ووايي نو دا جائز نه دي فالحاصل... الخ. حاصل د خبرې دادی چې د الله اکبر په بدل کې که داسې ذکر راوړي چې دلالت په خالص تعظيم د الله ج کوي او دعا ورسره مخلوطه او ګډه نه وي نو دا جائز دی او که دعا ورسره مخلوطه وه نو بيا جائز نه دی.

ويضع يمينه على شماله تحت سرته والقنوت وصلوة الجنازة ويرسل في قومة الركوع وبين التكبيرات العيدين فالحاصل ان كل قيام فيه ذكر مسنون ففيه الوضع وكل قيام ليس كذا ففيه الارسال ثم يثنّى ولا يُوجّه اراد بالثناء سبحانك اللهم الى اخره والتوجه قرأة انى وجهت وجهى الاية بعد التحريمة.

القول الراسخ للعمال في وضع اليمين على الشمال

ويضع.....الخ او ښى لاس به په چپ لاس باندې کيږدي په بعض رواياتو کې راغلي چې رسول الله ﷺ به ښى لاس په چپ لاس کېښودلو او په بعضې رواياتو کې راغلي چې رسول الله ﷺ به په ښي لاس سره چپ لاس نيوه، نو ددې له پار چې په دواړو رواياتو باندې عمل راشي، علماء وايي چې د ښي لاس ورغوی به د چپ لاس د ورغوي په شا کيدي او خنصره يعني کچه ګوته او ابهامه به د مړوند څخه حلقه کړي. چې وضع او قبض دواړه راشي.

تحت سرته.... الخ لاندې د نامه څخه په بعض رواياتو کې داسې راغلي چې رسول الله ﷺ د نامه څخه لاندې لاسونه ايښي دي، عن وائل بن حجر قال رائت رسول الله ﷺ وضع يمينه على شماله تحت السرة. رواه ابن ابي شيبة بسند صحيح ورجاله ثقات. (فقه حنفي لومړي توک ۱۷۶ صفحه)

په بل روايت کی راغلی دی چی په لمانځه کی دنامه څخه لاندی لاسونه ايښودل وانبياؤ کار دی کنز العمال صفحه ۹۲ ،ج ۱۲.

په ځينې رواياتو کې راغلي چې رسول الله ﷺ د نامه څخه پاس د سينې سره لاسونه ايښي دي نو ددې له پاره چې په دواړو حديثونو عمل راشي احنافو علماو وويل چې نارينه به د نامه لاندې لاسونه کيږدي او زنانه به له نامه نه پورته په سينه باندې لاسونه کيږدي او دا د زنانه وو

له پاره ډېر ستر دی. **والقنوت**..... الخ او په دعا قنوت د وترو کې به لاسونه هم د نامه لاندې کېږدي او د جنازې په لمانځه کې به هم لاسونه له نامه څخه لاندې کېږدي. **ويرسل**..... الخ او په قومه د رکوع کې به لاسونه زوړند نیسي، قومه دې ته وايي چې کله لمونځ کوونکی له رکوع څخه پورته شي. **وبين تكبيرات**.... الخ او په مابين د تکبیراتو زوائد د اخترونو کې به لاسونه زوړند نیسي فالحاصل.... الخ حاصل د خبرې دادی چې هر قیام چې په هغې کې ذکر مسنون وي او اوږد وي نو په هغې کې به وضع وي او که ذکر مسنون په کې نه وي نو هلته به ارسال وي. ثم يثنى بيا به **سبحانك اللهم الى اخره**...ووايي. **ولايوجه**: د امام ابوحنیفه او امام محمد په نزد به د تکبیر تحریمې څخه وروسته توجیه نه وايي، توجبه دې ته وايي چې انى وجهت وجهى..... الخ ووايي او د امام ابو یوسف په نزد بعد التحریمه مستحب دي او همدا د رسول الله ﷺ څخه په نفلي لمانځه کې ثابت دي. نسايي (فقه حنفی لومړی ټوک ۱۷۷ صفحه) او د تحریمې څخه مخکې متأخرینو علماوو غوره ګڼلې چې توجیه ووايي څکه چې دې سره د زړه حضور ښه راځي او جمع بين العزيمت به شي.

ويتعوذ للقرأة لا للثناء المختار ان التعوذ تبع للقرأة لا تبع للثناء فيقوله المسبوق لا الموتم بناءً على ان المسبوق يقرأ ولا يثنى فيتعون والموتم يثنى ولايقرأ فلايتعوذ واما من جعله تبعاً للثناء فالحكم عنده على عكس ماذكر ويؤخر عن تكبيرات العيدين لان التكبيرات بعد الثناء فينبغى ان يكون التعوذ متصلا بالقرأة لا باالثناء ويسمى لابين الفاتحة والسورة ويسرّهن اى الثناء والتعوذ والتسمية خلافاً للشافعى فى التسمية بناء على انه اية من الفاتحة عنده لاعندنا وكثير من الاحاديث الصحاح وارد فى انه عليه السلام والخلفاء الراشدين كانوا يفتتحون بالحمدلله رب العلمين ثم يقرأ ويومن بعد ولا الضالين سراً كاالمؤتم.

احكام القنطرة فى احكام التعوذ والبسملة: او اعوذ باالله به ووايي د قرأت له پاره نه د سبحانک اللهم له پاره، امام ابو یوسف رحمه الله فرمايي چې اعوذ باالله تابع د ثناء ده او امام محمد رحمه الله وايي چې اعوذ باالله تابع د قرأت ده خو غوره او صحيح قول د امام محمد

رحمه الله دی ځکه الله تعالی فرمايي چې فاذا قرأت القرآن فاستعذبالله يعني کله چې ته اراده د قرآنکريم د قرأت لرې نو اعوذ باالله ووايه نو اعوذباالله تابع د قرأت وګرځېده، فيقوله المسبوق..... الخ مسبوق هغه چاته وايي چې اول لمونځ د امام ترې فوت شوی وي، مؤتم د مقتدي ته وايي، نو مسبوق به قرأت وايي او ثناء به نه وايي او اعوذ باالله تابع د قرأت ده او مقتدي به ثناء وايي او قرأت به نه وايي نو اعوذباالله به هم نه وايي. وامامن جعله.... الخ او څوک چې اعوذباالله د ثناء تابع ګرځوي نو بيا به حکم على العکس وي يعني مسبوق به اعوذباالله نه وايي او مقتدي به اعوذباالله ووايي، ويؤخر.... الخ اعوذباالله به د اختر له تکبيرونو څخه وروسته وي، ځکه تکبيرونه له ثناء څخه وروسته دي، نو په کار ده چې اعوذبالله د قرأت پورې پيوسته شي، نه د ثناء پورې، ويسمى.... الخ او د اعوذباالله څخه وروسته د قرأت نه مخکې به بسم الله الرحمن الرحيم ووايي او په اول رکعت کې د بسم الله ويل بالاتفاق سنت دي او په نورو رکعتونو کې غوره خبره داده چې بسم الله ويل هم سنت دي او اعوذباالله ويل په نورو رکعتونو کې جايز نه دي، لابين الفاتحة... الخ او د الحمدلله او سورة ترمنځ به بسم الله نه وايي يعني سنت نه ده او که چا وويله نو مکروه نه ده بلکه د امام صاحب په نزد مستحسنه ده. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۴۵ صفحه) ويسرهن.... الخ او په پټه به وايي دغه مذکوره يعنې ثناء، تعوذ،تسميه، خو امام شافعي وايي چې بسم الله به په جهر وايي، په دې بناء چې بسم الله د امام شافعي په نزد د فاتحې څخه يو جزء دی نو چې فاتحه جهراً ويل کيږي نو بسم الله به هم جهراً ويل کيږي او د احنافو په نزد بسم الله د فاتحې څخه جزء نه دی، بلکې دا يو ايات د قرآنکريم څخه دی او د يو معلوم سورت جزء نه دی بلکې د ختم په صورت کې چې يو سورة په سر کې چې يو ځل بسم الله وويل شي نو ختم مکمل کيږي، نو کله چې د فاتحې جز نه شو نو په پټه به ويل کيږي او ډېر صحيح احاديث په دې کې راغلي چې رسول اللهﷺ او خلفاء راشيدينو يعني ابوبکر صديق، عمر فاروق، عثمان ذوالنورين، علي کرم االله وجهه به شروع د لمانځه په الحمدلله رب العالمين وکړه او بيا به يې قرأت ولوست. ويؤمن..... الخ او د ولاالضالين څخه به وروسته په پټه امين ووايي له وجې د حديث د وائل بن حجر نه چې رسول اللهﷺ به مونږ ته لمونځ راکړ نو هر کله چې به يې غير المغضوب عليهم ولاالضالين

وويلې نو امين به يې وويل او په ټيټ اواز به يې وويل. (الحديث)

او طبراني په کبير کې روايت کړی دی چې د ابي اوائل څخه چې حضرت علي رضی الله عنه او عبدالله بن مسعود به نه په بسم الله سره جهر کاوه او نه به يې په اعوذبالله سره او نه په امين سره جهر کاوه. (فقه حنفي لومړی ټوک ۱۷۹ صفحه) نو امام به هم امين وايي لکه مقتدي چې امين وايي.

ثم يكبر للركوع خافضاً ويعتمد بيديه على ركبتيه مفرجاً اصابعه باسطاً ظهره غير رافع ولا مُنكس راسه ويسبح ثلثاً وهو ادناه ثم يسمع اى يقول سمع الله لمن حمده رافعاً راسه ويكتفى به الامام وبالتحميد الموتم والمنفرد يجمع بينهما ويقوم مستوياً ثم يكبر ويسجد فيضع ركبتيه اولاً ثم يديه ثم وجهه بين كفيه ويديه حذاء اذنيه ضاماً اصابعه مُبدُئاً ضبعيه مجافيا بطنه عن فخذيه موجها اصابع رجليه نحو القبلة ويسبح فيه ثلثاً.

توضيح المسئله: ثم.... الخ د قرأت څخه وروسته به تکبير د رکوع له پاره ووايي، په داسې حالت کې چې ښکته کېدونکی وي د رکوع له پاره يعنې سنت طريقه داده چې تکبير به د ښکته کېدو سره وايي، ويعتمد.... الخ او وبه نيسي زنګنونه په لاسونو سره او تکيه به ورباندې وکړي يعنې لږ زور به ورباندې وکړي په داسې حالت کې چې خورونکی د ګوتو به وي، او غوړونکی د شا به وي يعنې هواره به يې کړي، غير رافع..... الخ نه به پورته کوونکی د سر وي له ملا څخه ولا منكس الخ او نه به ټيټونکی د سر وي د ملا څخه او درې کرتې به تسبيح ووايي او دا يې کمه اندازه ده، خو غوره داده چې پنځه يا اوه يا نهه کرته يې ووايي او که د درې کرتو څخه يې کم کړي نو بيا يې سنت ترک کړل، همدا اندازه په سجده کې هم سنت دي. ثم يُسمع.... الخ دا د تسميع څخه ده يعنې سمع الله لمن حمده به ووايي، خو په داسې حالت کې چې پورته کوونکی د سر وي د رکوع څخه ويكتفى به..... الخ او امام به صرف اكتفاء په سمع الله لمن حمده سره کوي يعنې ربنا لک الحمد به نه وايي ځکه چې رسول الله ﷺ فرمايي، چې کله امام سمع الله..... الخ ووايي نو تاسې ربنا لک الحمد ووايئ نو دا تقسيم شو د امام او مقتدي ترمنځ او تقسيم منافي د شرکت وي او بل دا حديث دليل دی په صاحبينو چې

هغوی وایي چې رسول الله ﷺ به دواړه ویل ځکه قول مقدم وي په فعل باندي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۵۲ صفحه) وبالتحمید..... الخ او مقتدي به صرف په ربنا لک الحمد سره اکتفاء کوي او منفرد یعني یواځې لمونځ کوونکی به سمع الله..... الخ او ربنا لک الحمد دواړه وایي ځکه رسول الله ﷺ څخه دواړه ثابت دي او دا په حالت د انفراد باندې حمل کیږي، د دې له پاره چې توفیق د حدیثو ترمنځ راشي او ربنا لک الحمد په څلورو طریقو جائز دی.

۱: اللهم ربنا ولک الحمد. ۲: اللهم ربنا لک الحمد، ۳: ربنا ولک الحمد، ۴: ربنا لک الحمد. خو غوره په کې اول دی. (بحر الرائق لومړی ټوک ۵۵۳ صفحه) ویقوم.... الخ او سم نیغ به ودریږي بیا به تکبیرووایي او سجده به وکړي، فیضع.... الخ دې سره د سجدې طریقه بیانوي چې اول به هغه اندام لګوي چې ځمکې ته نژدې وي نو اول به زنګنونه کیږدي، بیا به لاسونه کیږدي بیا به پوزه کیږدي بیا به تندی کیږدي د دواړو ورغوو او لاسونو ترمنځ د غوږو په برابرۍ، ضاماً... الخ د لاسونو ګوتې یو ځای کوونکې به وي. مبدئاً ضبعیه: ازادوونکی به وي د متو خپلو یعني د تخرګونو څخه به یې لرې ساتي، مجافیاً.... الخ او لرې ساتونکی به وي د ګېډې خپلې د ورنونو څخه او مخ کوونکی به وي د ګوتو دپښو خپلو په طرف دقبلې،او په سجده کې به درې کرتې تسبیح ووایي او دا یې کمه اندازه ده، له دې نه کم د سنتو خلاف ده او زیاتی د دریو څخه غوره ده چې پنځه واري وي یا اووه واري وي یا نهه واري وي وغیره.

فایده: په پنځه وخته فرض لمانځه کې ۹۴ تکبیرونه دي. (بحر الرائق ۵۵۳ صفحه لومړی ټوک)

فان سجد علی کور عمامة او فاضل ثوبه او شئ یجد حجمه ویستقر جبهته جاز وان لم یستقر لا وکذا لو سجد للزحام علی ظهر من یصلی صلاته لا من لا یصلیها ای لا علی ظهر من لا یصلی صلاته وهو اما ان لا یصلی اصلاً او یصلی ولکن لا یصلی صلاته والمرأة تنخفض وتلزق بطنها بفخذیها ویرفع راسه مکبراً ویجلس مطمئناً ویکبر ویسجد مطمئناً ویکبر ویرفع راسه اولا ثم یدیه ثم رکبتیه ویقوم مستویاً بلا اعتماد علی الارض ولا قعود وفیه خلاف الشافعی رحمه الله ویسمّی جلسة الاستراحة والرکعة الثانیة کالاولی لکن لا ثناء ولا تعوذ ولا رفع یدیه فیه.

تنقیح المسئله: که سجده یې وکړه په ول د پټکي سره او یا په زیاتې جامې سره او یا په

داسې شي سره چې د هغې کلک والی وموومي او تندی يې ځای ونيسي نو دا جائز دي، د پګړۍ په ول باندې سجده کول د بعضې روايتونو له مخې جايز دي چې صحابه فرمايي چې مونږ به د رسول الله ﷺ سره لمونځ کولو نو د سختې ګرمۍ څخه به مونږ په زياتې جامه تندی کېښوده او په بل روايت کې راځي چې رسول الله ﷺ به د پټکي په ول باندې سجده کوله او په ځينې رواياتو کې ددې کراهت معلوميږي لکه صالح بن حيوان روايت کوي چې رسول الله ﷺ يو سړی وليده چې د پټکي په ول يې سجده کوله نو رسول الله ﷺ د هغه تندی لوڅ کړ، همدا رنګه په کنز کې هم دې ته مکروه ويلي. نو علماء وايي چې رسول الله ﷺ د پټکي په ول باندې باندې سجده د جواز له پاره کړې او منع يې ددې له پاره کړې ده چې په افضل باندې عمل راشي، دويم دا چې د پټکي په ول باندې سجده د عذر له وجې جايز ده، مثلاً ځمکه يا فرش ډېر ګرم وي او بلا عذره جائز نه ده، دريم دا چې که ددې له پاره يې په ول باندې د پټکي تکبر سجده کوله چې تندی يې په خاورو نشي نو بيادا مکروه ده ځکه دا يو قسم تکبر دی او که قصد يې ترفع او تکبر نه و خو د ضرري شي څخه وېرېده، مثلاً د اغزي وغيره څخه نو بيا پروا نه لري.

څلورم دا چې که ول د پټکي په تندي باندې په داسې طريقه و چې تندی د ول له پاسه راتلو او تندي ته زور ورتلو نو بيا جائز دی او که ول د پټکي په داسې طريقه و چې ول په سر راتلو او تندی نه په ځمکه لګېدو او نه تندی ته په ول سره زور ورتلو نو بيا دا جائز نه ده، لکه بحر الرائق کې ليکي:

وهو ان صحة السجود على الكور اذا كان الكور على الجبهة او بعضها اما اذا كان على الرأس فقط وسجد عليه ولم تصب جبهته الارض على القول بتعينها ولا انفه على القول بعدم تعينها فان الصلوة لا تصح لعدم السجود على محله وكثير من العوام يتساهل فى ذلك ويظن الجواز «بحر الرائق لومړی ټوک ۵۵۷» وان لم يستقر لاو که تندي يې زور نه مونده نو بيا جايز نه ده و كذا لو سجد الخ يعنې جايز ده که يو کس د ډېر ازدحام او ګڼوالي څخه د بل هغه لمونځ کوونکي په شا سجده وکړي چې دده لمونځ کوي يعنې چې دده او د هغه لمونځ يو وي لامن... الخ خو د هغه کس په شا سجده جايز نه ده

چې دده لمونځ نه کوي يعني دا دوه صورته لري يا دا چې هغه کس بالکل لمونځ نه کوي او يا لمونځ کوي خو دده لمونځ نه کوي يعني دده او د هغه لمونځ يو نه وي او که د ازدحام په صورت کې نه خالي ځای وي چې سجده په کې وکړي او نه مخکې سړی وي چې د هغه په شا سجده وکړي، بلکې مخکې زنانه وي نو بيا به د زنانه په شا سجده نه کوي بلکې په خپل ورون دې سجده وکړي لکه غه حالت په حرمينو کې بعض وخت پېښيږي. والمرأة تنخفض....الخ او ښځه به ښکته کيږي يعني اندامونه به نه پورته کوي، وتلزق الخ او پيوسته به کړي ګېډه خپله د خپلو ورنونو سره، ويرفع رأسه..... الخ او سر به د سجدې څخه راپورته کړي په داسې حالت کې چې تکبير ويونکی وي او په اطمينان سره به د دواړو سجدو ترمنځ کيني بيا به تکبير ووايي او په اطمينان به سجده وکړي، بيا به تکبير ووايي او د دويمې سجدې څخه به اول سر راپورته کړي بيا به لاسونه او بيا به زنګنونه راپورته کړي او سم به پورته شي نه به په لاسونو سره په ځمکه تکيه کوي لکه د بوډا په شان او نه به کيني چې دمه وکړي خو امام شافعي رحمه الله وايي چې په لاسونو سره په ځمکه باندې تکيه کول غوره دي، همدا رنګه ناسته کول هم غوره دي چې امام شافعي رحمه الله دې ته د استراحت جلسه وايي، دليل يې حديث د مالک ابن الحويرث دی، چې د رسول الله ﷺ د لمانځه کيفيت يې بيانولو چې کله به د دويمې سجدې څخه پاڅېدلو نو په لاسونو به يې تکيه وکړه او بيا به يې لږ شان دمه وکړه د احنافو له پاره دليل دا حديث دی چې رسول الله ﷺ به دقدمو په سينو پاڅېدلو او حديث دمالک حمل دی په جواز باندې يا په حالت د عذر باندې والركعة الثانية.... الخ او دويم رکعت د اول رکعت په شان دی، مګر په دويم رکعت کې نه سبحانک اللهم شته او نه اعوذبالله شته او نه به په کې لاسونه پورته کوي، ځکه لاسونه پورته کول د استفتاح يعني لمانځه شروع کولو له پاره و او په دويم رکعت کې استفتاح نشته نو لاسونه به هم نه پورته کوي.

واذا اتمها افترش رجله اليسرى وجلس عليها ناصبا يمناه موجها اصابعه نحو القبلة واضعاً يديه على فخذيه موجها اصابعه نحو القبلة مبسوطة وفيه خلاف الشافعي فان عنده يعقد الخنصر والبنصر ويحلق الوسطى والابهام ويشير بالسبابة عند التلفظ بالشهادتين ومثل هذا جاء عن علمائنا ايضاً.

الاصابة في بيان الاشارة باالسبابة= كله چې دويم ركعت پوره كړي نو چپه پښه به وغوړه وي او په هغې دې كيني او ښى پښه به اودره وي او د ګوتو مخ به په طرف د قبلې كړي او لاسونه به يې په ورنونو ايښي وي او ګوتې به د قبلې طرف ته مخامخ كړي او پراخه به وي، دا د سنت طريقې مطابق د ناستې بيان دى، اما كه څوك تورك وكړي يعنې په چپ كناټى كيني او پښې يو طرف ته وباسي نو دا هم جائز دي. (بحر الرائق لومړى ټوک ۵۶۴ مخ) وفيه خلاف الشافعى رح... الخ او په خورولو د ګوتو د دواړو لاسونو كې او قبلې ته د ګوتو مخ كولو كې د امام شافعى رح خلاف دى يعنې د امام شافعى رح په نزد به د اول ناستې څخه خنصر او بنصر ګوتې راټولې كړي او وسطي او ابهامه ګوتې به حلقه كړي او په سبابه ګوتې سره به اشاره كوي په كوم وخت كې چې په شهادتينو تلفظ كوي او دا اشاره ددې له پاره چې دلالت په توحيد وكړي چې فعل د قول سره موافق شي او د نفې سره به ګوته پورته كوي او د اثبات سره به يې ښكته كوي، دغه د اشارې طريقه سنت ده او د رسول الله ﷺ څخه ثابته ده، خو شارح په مثل هذا كې اشاره دېته كوي چې زمونږ او د امام شافعي رحمه الله ترمنځ لږ فرق شته، هغه داسې چې د امام شافعي په نزد به د اول څخه خنصره او بنصره ګوتې عقد كوي او وسطي او ابهامه به حلقه كړي او د شهادتينو په وخت به په مسبحه ګوتې سره اشاره كوي او زمونږ د احنافو په نزد به له اول څخه ګوتې وغوړوي او ګوتې به قبلې ته مخ كړي خو د اشارې په وخت كې به ګوتې عقد كوي.

فائده: په مسبحه ګوتى سره ځكه اشاره كولى شى چې نورمحمدى صلى الله عليه وسلم د ادم عليه السلام په تندى كې ؤ بيائى الله تعالى ته سوال وكړو. چې ماته دا نور داسې ځاى ته راوله چې زه ئې وګورم نو الله تعالى مسبحى ګوتى ته ورته راوستو (طحطاوى)

ويتشهد كابن مسعود ولا يزيد عليه في القعدة الاولى ويقرأ فيما بعد الاوليين الفاتحة فقط وهي افضل وان سبح اوسكت جاز ويقعد كا الاولى خلافاً للشافعي رحمه الله فان السنة عنده في التشهد الثاني التورك وهو هيأة جلوس المرأة في الصلوة وهي هذه والمرأة تجلس على اليتها اليسرى مخرجة رجليه من الجانب الايمن فيها اى في التشهدين ويتشهد ويصلى على النبى عليه السلام ويدعو بما

يشبه القرآن والمأثور من الدعاء لاكلام الناس فلاى يسأل شيأ مما يسأل من الناس.

القول المعتمد فى بيان التشهد: بيا به تشهد ووايي يعني التحيات لله.... الخ به ووايي په شان د تشهد د عبدالله بن مسعود، تشهد په درې قسمه دى. ۱ تشهد د عبدالله بن مسعود رضى الله عنه، التحيات لله والصلوة والطيبات السلام عليک..... الخ. ۲ تشهد د حضرت عمر رضى الله عنه دى، التحيات لله الزاكيات لله الطيبات الصلوة لله السلام عليک.... الخ ۳ تشهد د عبدالله بن عباس التحيات المباركات الصلوة الطيبات لله السلام عليک..... الخ احنافو علماوو تشهد د عبدالله بن مسعود ته ترجيح ورکړې ځکه ائمه سته په خپلو کتابونو کې په دې حديث باندې لفظاً او معناً متفق دي او محدثينو په دې اتفاق کړى چې په احاديثو د تشهد کې دا صحيح حديث دى د نورو ځخه تر دې چې امام ترمذي وايي چې اکثره اهل علمو د صحابه او تابعينو ځخه په دې عمل کړى او ابوبکر رضى الله عنه هم په دې عمل کړى دى او په منبر باندې به يې د قرآنکريم په شان خلکو ته ښوده. (بحر الرائق لومړى ټوک ۵۶۷ صفحه) ولايزيد عليه.... الخ په اوله قعده کې به په تشهد باندې زيادت نه راولي يعني درود شريف به نه وايي.

ويقرأ فيما.... الخ او د دوو اولنيو رکعتونو ځخه وروسته په نورو رکعتونو کې به صرف فاتحه وايي او سورة به ورسره نه وايي او دغه فاتحه لوستل غوره دي، که په دې کې تسبيح يعني سبحان الله ووېلي يا چپ ودرېدلو د تسبيح په مقدار نو دا هم جايز دي، دا د حضرت علي او عبدالله بن مسعود ځخه ثابت دى خو دا په فرضو کې دي. (بحرالرائق لومړى ټوک ۵۶۸) اما په نفلو کې به په وروستنيو رکعتونو کې فاتحه او سورة دواړه وايي، ويقعد..... الخ او په دويمه قعده کې به په شان د اولى قعدې کيني او امام شافعي رحمه الله وايي چې په اخرنۍ قعده کې به تورک کوي يعني په چپ کوناټي به کيني او پښه به يو طرف ته وباسي او همدا طريقه د زنانوو هم ده خو زنانه به په دواړو قعدو کې تورک کوي. ويتشهد.... الخ بيا به التحيات لله ووايي او بيا به درود په رسول اللهﷺ ووايي بيا به هغه دعاګانې ووايي چې د قرآن سره مشابه وي او د حديثو ځخه نقل کړاى شوي وي، لاكلام الناس... الخ هغه دعاګانې به نه وايي چې د خلکو د خبرو سره مشابه وي، يعني د هغه شي سوال به نه کوي چې کوم د خلکو ځخه غوښتلى شي، لکه اللهم اعطنى زوجة ونحوه.

ثم یسلم عن یمینه بنیة من ثمه من البشر والملك ثم عن یساره کذلك والمؤتم ینوی امامه فی جانبه وفیهما ان حاذاه والامام بهما ای ینوی الامام بالتسلیمین وعند البعض الامام لاینوی لانه یشیر الی القوم والاشارة فوق النیة وعند البعض الامام ینوی بالتسلیمة الاولی والمنفرد الملك فقط.

توضیح المسئله: بیا به ښي طرف ته سلام ګرځوي او په نیت کې به هغه څوک راولي چې کوم لمونځ کونکی دلته حاضر وي او همدا رنګه به فرشتې هم په نیت کې راولي.

بیا به په همدې طریقه چپ طرف ته سلام وګرځوي، والمؤتم... الخ او مقتدي به د امام نیت کوي په کوم طرف چې امام وي یعنې که ښي طرفته امام وي نو په ښي سلام کې به د امام نیت کوي او که چپ طرف ته امام وي نو په چپ طرف سلام کې به د امام نیت وکړي. وفیهما..... الخ او په دواړو سلامونو کې به د امام نیت کوي که چېرې مقتدي له امام سره برابر و یعنې مقتدي پسې ولاړ و ، والامام.... الخ او امام به په دواړو سلامونو کې د خلکو او فرشتو نیت کوي، وعند البعض.... الخ او بعض علماء وايي چې امام به نیت نه کوي ځکه امام په خپله قوم ته اشاره کوي یعنې چې تاسې سلام وګرځوئ او اشاره د نیت څخه زیاته وي نو نیت ته ضرورت پاتې نشو او ځینې علماء وايي چې امام به په اول سلام سره نیت کوي، والمنفرد.... الخ او یواځې لمونځ کوونکی به یواځې د فرشتو نیت کوي ځکه دده سره انسانان نه وي.

فصل فی القرأة

یجهر الامام فی الجمعة والعیدین والفجر واولی العشائین اداءً وقضاءً لا غیر والمنفرد خیر ان ادی وخافت حتمًا ان قضی وادنی الجهر اسماع غیره وادنی المخافتة اسماع نفسه هو الصحیح احترازعما قیل ان ادنی الجهر اسماع نفسه وادنی المخافتة تصحیح الحروف.

تزیین العبارات في بیان کیفیة القرأة: مصنف رحمه الله د قرأت بیان کوي او د هغې طریقه بیانوي، نو امام به جهر کوي د جمعې او اخترونو په لمونځونو کې او په سبا کې او اولی العشائین....الخ او په اولینو دوو رکعتونو د ماښام او ماخوستن کې، اداء او قضاء دغه لمونځ کول په طریقه د اداء سره وي او که قضاء سره وي خو اداء په ټولو لمونځونو کې راځي او

قضاء د جمعې او اختر لمونځونو څخه ماسوا په نورو لمونځونو کې راځي څکه د جمعې او اختر د لمانځه قضاء نه وي، لاغير ددغه مذکوره لمونځونو څخه ما سواء په نورو لمونځونو کې جهر نشته، والمنفرد.... الخ خير ان ادى او يواځې لمونځ کوونکى که د لمانځه اداء کوي نو په جهري فرضي لمانځه کې اختيار مند دى چې په جهر سره لمونځ کوي او که په خفيه سره څکه وجوب د جهر د خصوصياتو د جمع څخه دى نو کوم ځاى کې چې جمع نه وي نو هلته وجوب هم نه وي خو جهر په کې غوره دى، اما په اداء د خفيه فرضي لمانځه کې صحيح خبره داده چې اخفاء واجب ده. (بحر الرائق لومړى ټوک ۵۸۶ صفحه)

او په اداء د نفلو کې نو په ورځ کې اخفاء واجب ده، او د شپې اختيار دى چې جهر کوي او که اخفاء کوي خو جهر غوره دى. وخافت حتماً ان قضى که د خفيه لمانځه قضاء يې راوړه نو لازماً به قرأت خفيه وايي او که د جهري لمونځ قضاء يې راوړه نو بيا دا اختيار مند دى چې جهر کوي او که اخفاء کوي، وادنى الجهر الخ مصنف رحمه الله په دې سره حد دجهر او اخفاء بيانوي چې کمه اندازه د جهر داده چې بل کس ته يې واورولى اګر چې د کوڼ والى په وجه يې خپله وانه وري او کمه اندازه د اخفاء داده چې خپل ځان ته يې واوروي.

هو الصحيح.... الخ او دا قول صحيح دى په دې قيد سره شارح وايي چې احتراز راغى د قول د امام کرخي څخه چې هغه وايي چې کمه اندازه د جهر داده چې خپل ځان ته يې واوروي او کمه اندازه د اخفاء داده چې صرف حروف صحيح کړي. مصنف رحمه الله اګر چې قول اول ته ترجيح ورکړې خو زه بنده عاجز (عبدالرشيد صافى) وايم چې ماته د استادانو له خولې دا ويل شوي دي چې اخرنى قول چې قول د کرخي دى، غوره دى، هغه داسې چې د وخت په تېرېدو سره کله چې انسان بوډا شي او په غوږو کوڼ شي نو بيا په زوره قرأت وايي، ددې له پاره چې هغه يې ځانته واوروي خو دا بيا په ضرر تمامه شي چې نور خلک ترې په تنګ وي، لکه په ډېرو ځايو کې مونږ په سترګو هم ليدلي دي.

وكذا فى كل ما تعلق بالنطق كالطلاق والعتاق والاستثناء وغيرها اى ادنى المخافتة فى هذه الاشياء اسماع نفسه حتى لو طلق او اعتق بحيث صحح الحروف لم لمن يسمع نفسه لا يقع ولو طلق جهراً

ووصل به ان شاء الله بحيث لم يسمع نفسه يقع الطلاق ولم يصح الاستثناء فان ترك سورة اولى العشاء قرأها بعد فاتحة اخرييه وجهر بهما ان ام ولو ترك فاتحتهما لم يعد لانه يقرأ الفاتحة في الاخريين فلو قضى فيهما فاتحة الاوليين يلزم تكرار الفاتحه في ركعة واحدة وذا غير مشروع.

توضيح المسئله: كذا ... الخ يعني لكه څرنګه چې په قرأت كې د اخفاء كمه اندازه دا وه چې خپل ځان ته يې واوروي نو همدا اندازه د اخفاء په ټولو هغو شيانو كې هم معتبره ده چې تعلق د نطق پورې لري لكه طلاق، عتاق، استثناء وغيرها.

نو كه يو سړى خپلې ښځې ته طلاق وركړي يا غلام ازاد كړي په داسې شان سره چې حروف يې صحيح ويلي وي خو ځان ته يې وانه وراوه، نو طلاق او عتاق نه واقع كيږي، ځكه چې د طلاق اوعتاق واقع كېدلو كې شرط دادى چې په دې الفاظو باندې تلفظ وشي او محض حروف صحيح كېدل تلفظ نه دى. ولو طلق جهراً.. الخ او كه ښځې ته يې طلاق جهراً وركړ يعنې په داسې طريقه چې بل ته يې واوروه خو ان شاء الله يې په داسې طريقه ورپورې پيوسته كړ چې خپل ځان ته يې هم وانه وروله نو طلاق واقع شو او استثناء صحيح نشوه ځكه ده تلفظ پرې كړى نه دى او كه تلفظ يې پرې كړى واى نو دا به بيا معلق طلاق واقع نه و.

فان ترك.... الخ كه د ماخوستن په اولنيو دوو ركعتونو كې قصداً يا په هيره سره سورة پرېښوده نو په اخرنيو دوو ركعتونو كې به يې د فاتحې څخه وروسته ووايي او جهراً به يې ووايي، كه امامت يې كاوه. اوكه د اولنيو دوو ركعتونو فاتحه يې پرېښوده نو بيا به يې اعاده نه كوي ځكه په وروستنيو دوو ركعتونو كې هم فاتحه وايي نو كه د اولنيو دوو ركعتونو قضاء هم پكې راوړي نو تكرار د فاتحې به په يو ركعت كې راشي او دا تكرار شريعت كې روا نه دى.

وفرض القرأة اية وللمكتفي بها مُسئ لترك الواجب وسنتها في السفر عجلةً الفاتحة واىّ سورة شاء وامنةً نحو البروج وانشقت وفي الحضر استحسنوا طوال المفصل في الفجر والظهر واوساطه في العصر والعشاء وقصاره في المغرب ومن الحجرات طواله الى البروج ومنها اوساطه الى لم يكن ومنها قصاره الى الاخر وفي الضرورت بقدر الحال وكره توقيت سورة للصلوة اى تعين سورة للصلوة بحيث لايقرأ فيها الا تلك السورة.

توضيح المسئله..... الخ په لمانځه کې فرض قرأت د امام ابوحنيفه په نزد يو ايت دی، چې کمه اندازه يې شپږ حروف وي، خو که کوم کس يواځې په يو ايت اکتفاء کوي نو که قصداً وه نو بيا ګناهګار شو، ځکه ترک د واجبو يې وکړو چې هغه فاتحه ويل دي او يو سورت د هغې سره او که سهواً وه نو بيا سجده سهوه لازميږي ځکه په ترک د واجبو سره سجده سهوه لازميږي، خو د صاحبينو په نزد د فرض قرأت کمه اندازه درې اياته يا ددې په مقدار يو سورت دی. وسنتها...... الخ او سنت قرأت يعنې هغه اندازه چې په لمانځه کې سنت دي، په سفر کې د عجلت او تلوار په حالت کې سورة فاتحه او د هغې ځخه وروسته هر سورت چې يې خوښه وي، وامنه .... الخ او په سفر کې په حالت د امن کې د فاتحې ځخه وروسته سنت مقدار لکه سورة بروج او وانشقت دی. وفی الحضر.... الخ او په کور او کلي کې يعنې په حالت د اقامت کې علماء وايي چې په سهار او ماسپښين کې طوال مفصل غوره دی او په مازيګر او ماخستن کې اوساط مفصل غوره ګڼل کيږي او په ماښام کې قصار مفصل غوره ګڼل کيږي چې له سورة حجرات ځخه تر سورة بروج پورې طوال مفصل دي او د سورة بروج نه تر سورة لم يکن پورې اوساط مفصل دی او د لم يکن نه تر اخر پورې قصار مفصل دی.

فايده: علماوو قرآنکريم په اوو برخو کړی دی. ۱: طوال د سورة بقرې ځخه تر سورة يونس پورې. ۲: مئون هغه دی چې طوال ته نژدې وي. ۳: مثاني هغه دی چې مئون ته نژدې وي، ۴: مفصل چې مثاني ته نژدې دي مفصل بيا په درې قسمه دي. ۱: طوال مفصل. ۲: اوساط مفصل، ۳: قصار مفصل «الاتقان لومړی ټوک ۱۲۸»

وفی الضرورة.... الخ او د ضرورت په مقام په سفر کې وي او که په حضر کې وي د لمونځ کوونکي د حال مطابق دې ووايي، وکره.... الخ او مکروه ده مقررول د يو سورة د لمانځه له پاره خو په داسې طريقه چې ددې سورة نه ماسوا په کې نور نه وايي خو دا مکروه والی په هغه صورت کې دی چې کوم ځای کې د شارع له طرفه تعين نه وي اما که تعين وي نو بيا هلته کراهت نشته بلکه هغه بيا سنت ده، لکه رسول اللهﷺ ځخه د جمعې په سهار چې سورة سجده او سورة هل اتی علی الانسان ثابت دي.

ولايقرأ المؤتم بل يستمع وينصت قال الله تعالى واذا قرء القرآن فاستمعوله وانصتوا. وقال عليه السلام من كان له امام فقراءة الامام قرأة له وقال عليه السلام مالى أنازع فى القرآن وسكوت الامام ليقرأ المؤتم قلب الموضوع وان قرأ امامه اية ترغيب اوترهيب اوخطب اوصلى على النبى ﷺ الااذا قرأقوله تعالى صلواعليه فيصلى سرًا.

اتباع الامام فى بيان قرأة خلف الامام:

مقتدي به له امام څخه وروسته قرأت نه وايي مګر غوږ به نيسي او چپ به اوسي، الله ﷻ فرمايي چې کله قرآن لوستل کيږي نو تاسو چپ اوسئ، دا ايت کريمه په قرأت د صحابه وو کې چې وروسته د رسول الله ﷺ څخه ويلی نازل شوی، بهر حال اعتبار عموم د الفاظو ته دی نه خصوصيت د سبب ته، که څوک ووايي چې استماع او انصات تر جهری لمانځه پورې خاص دی نو خفيه لمانځه کې خو دا نشي راتلای، نو ځواب دادی چې دلته مامور به دوه شيان دي ۱: استماع او دا په جهري لمانځه کې راځي، ۲: انصات او دا په خفيه لمانځه کې راځي د امام ابوحنيفه مذهب دادی چې په جهري او خفيه دواړو لمونځونو کې به مقتدي قرأة خلف الامام نه وايي، امام محمد په کتاب الاثار کې ويلي دي چې دا د امام صاحب مذهب دی او زمونږ په دې عمل دی، کوم روايت چې هدايه کې ذکر دی چې د امام محمد رحمه الله په نزد په خفيه کې قرأتَ خلف الامام مستحسن دی هغه صحيح نه دی(فتح القدير)

په بل روايت کې رسول الله ﷺ فرمايي چې کله امام تکبير ووايي نو تاسې هم تکبير ووايئ او کله چې امام قرأت ووايي نو تاسو چپ واوسئ، همدا رنګه رسول الله ﷺ فرمايي چې چا لره امام وي نو قرأت د امام قرأت دی مقتدي له پاره، همدا رنګه يو صحابي د رسول الله ﷺ څخه وروسته قرأت ووايه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې مالى انازع... الخ چې ولې له ماسره په قرأت کې مداخله کولی شي، نو ددې احاديثو د قرأت خلف الامام منع معلوميږي.

وسکوت الامام..... الخ دا دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چې امام د قرأت ترمنځ سکته وکړي چې مقتدي قرأت ووايي لکه د شوافعو طريقه چې ده، نو کله چې مقتدي قرأت ووايي نو نه مخالفت د ايات څخه راځي او نه د حديث څخه، نو شارح رحمه الله جواب ورکړو چې

موضوع د امام داده چې امام به په حالت د قيام کې قرأت وايي او مقتدي به چپ ودريږي، نو که امام چپ شي او مقتدي قرأت شروع کړي نو دا به عکس د موضوع راشي. وان قرأ.... الخ ان وصيله دی يعني مقتدي به قرأت خلف الإمام نه کوي اګر چې امام ايات د ترغيب يعني چې په بشارت د جنت باندې دلالت کوي ولولي يا ايات د ترهيب يعني د وېرولو په ذکر دجهنم سره ولولي او خطب... الخ يا خطبه ووايي او يا درود په رسول اللهﷺ ووايي نو بيا به هم مقتدي غوږ ږدي او چپ به اوسي الا اذا قرأ... الخ مګر که خطيب په خطبه کې دا قول د الله تعالى ووايي چې صلو عليه نو مقتدي به په خفيه سره په رسول اللهﷺدرود ووايي.

فصل في الجماعة

الجماعة سنة مؤكدة وهو قريب من الواجب والاولى بالامامة الاعلم بالسنة ثم الاقرأ ثم الاورع ثم الاسن فان ام عبدٌ او اعرابي او فاسق او اعمى او مبتدع او ولد الزنا كُره

احسن الهداية في سنية الجماعة.

په جمع سره لمونځ سنت مؤکد دی چې واجبو ته نږدې دی، تارک ددې مستحق د وعيد دی او که ګاونډيانو سکوت وکړ هغوی هم ګناهګار دي، والاولى... الخ کله چې د يو مسجد خپل امام وي نو بيا همدا د جمع حقدار دی، اګر چې بل دده نه په علم کی زيات وي او کله چې مقرر امام ونه لري نو بيا به امامت ته د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله په نزد هغه کس مخکې کيږي چې هغه په هغه احکام شرعيه باندې عالم وي چې د لمانځه سره زيات تعلق ولري اګر چې په نورو علومو کې مهارت ونه لري، امام ابويوسف رحمه الله وايي چې کوم کس زيات قاري وي نو هغه به مخکې کيږي، له وجې ددې حديث نه يوم القوم اقرأ هم الحديث طرفين ددې ځنه دا جواب کوي د ښه مجود قاري حضرت ابی رضی الله عنه په وجود کې رسول اللهﷺ ابوبکرؓ لمانځه ته مخکې کړ، چې خلکو مروا ابابکر فليصل بالناس. (الحديث)

ثم الاقرأ.... الخ: که په علم کې سره برابر و نو بيا به ښه قاري مخکې کيږي، خو قرأة دوه احتماله لري. ۱: چې زيات حافظ د قرآن وي، ۲: چې ښه تلاوت کوونکی د قرآنکريم وي، په

اعتبار د تجوید او ترتیل سره (بحر الرائق لومړی ټوک ۲۰۸ صفحه) **ثم الاورع** که په قرأت کې هم برابر و نو بیا اورع ای الاکثر اجتناباً للشبهات یعنې هغه کس چې د شبهاتو څخه هم ځان ساتي امامت کوي، د ورع او تقوی ترمنځ فرق دادی چې ورع ځان ساتل د شبهاتو څخه دي او تقوی ځان ساتل دي د حرامو څخه په حدیث کې ورع ذکر نه ده بلکه د قرأت څخه وروسته هجرت ذکر دی، ځکه هجرت په ابتداء د اسلام کې د فتح مکې څخه مخکې فرض و نو هر کله چې هجرت منسوخ شو نو مونږ د هجرت په ځای ورع قائم کړه. (بحر الرائق لومړی ټوک ۶۰۸) ثم الاسن... الخ که په ورع کې هم برابر و نو بیا به مشر امامت کوي ددې حدیث له وجې ولیؤ مکما اکبر کما (الحدیث)

خو مراد د اسن نه دادی چې په اسلام کې مشر وي یعنې په اسلام کې یې زیات وخت تېر شوی وي.

فان ام عبد... الخ که غلام امامت وکړي نو دا مکره ده په دې مقام کې دوه شیان ذکر کیږي اول صحت د لمانځه دا تعلق لري د وجود د اهلیت پورې چې د لمانځه اهلیت په کې وي سره د اداء د ارکانو دا په مذکوره کسانو کې موجود دی. دوهم: کراهت دا مبنی ده په دې چې ددې کسانو پسې اقتداء کولو کې د خلکو مینه او رغبت کمیږي ځکه غلام د بادار خدمت کوي او دعلم زده کړې ته نه وزګاریږي او اعرابی اعرابي هغه کس ته ویل کیږي چې په دشتو یا باندو او کلیو کې اوسیږي او د ښار څخه لرې وي، دده امامت ځکه مکروه دی چې په اعرابیانو باندې اکثراً جهالت غالبه وي او فاسق....الخ فاسق هغه کس ته ویل کیږي چې په شریعت برابر نه وي، دده پسې امامت ځکه مکروه دی چې دا د دین د کارو څه پروا نه لري او اعمی د ړانده پسې ځکه امامت مکروه دی چې دا د پلیتۍ څخه ځان ساتلی نشي او مبتدع: بدعتي هغه کس ته ویل کیږي چې په دین کې له ځان څخه نوي کارونه پیدا کوي.

یعنې په دین کې یا زیادت کوي او یا نقصان کوي، نو ده پسې لمونځ مکروه دی، خو په دې شرط چې کفر ته یې نه رسوي او که کفر ته یې رساوه نوبیا دده پسې لمونځ جائز نه دی. او ولدالزنا د زنا څخه پیدا شوی بچی دده پسې لمونځ کول مکروه دي ځکه چې دده پلار نه وي

چې ده ته تربيت ورکړي او ادب ورته وښايي او يا علم ورته وښايي نو په دې جهالت غالب وي. (بحر الرائق لومړی ټوک ۶۱۰ صفحه)

فايده: په ړانده پسې په هغه صورت کې لمونځ مکروه دی چې په قوم کې دا غوره کس نه وي اما که په قوم کې دا غوره کس و نو بيا دده امامت اولی دی لکه ابن ام مکتوم او عتبان بن مالک، همدا راز که يو اعرابي حاضرينو کې غوره و نو بيا دده امامت غوره دی، همدا وجه ده چې په منية المصلی کې راوړي چې مراد د اعرابي څخه جاهل دی. (بحر الرائق لومړی ټوک ۶۱۰ صفحه)

كجماعة النساء وحدهن ويقف الامام وسطهن لو فعلن لفظ الامام يستوى فيه المذكر والمؤنث فهلذا لم تدخل تاء التأنيث فيه وكحضور الشابة كل جماعة والعجوز الظهر والعصر لا الباقية اى لابأس للعجوزات بالخروج في المغرب والعشاء والفجر ويقتدى المتوضئ بالمتيمم لان التيمم طهارة مطلقة عند عدم الماء والخليفة في التراب عندنا والغاسل بالماسح لان الخف مانع من سراية الحدث الى الرجل وما على الخف طهر بالمسح.

تحفة النبلاء في مسألة جماعة النساء: لکه د ښځو جمع چې مکروه ده، وحدهن چې يواځې ښځې وي او که چېرته يې جمع کوله نو بيا به دديږ ښځو امام د دوی په منځ کې اودريږي، د امام په لفظ کې مذکر او مؤنث يو برابر دي، يعنې د نر له پاره هم د امام لفظ استعماليږي او د ښځې له پاره هم د امام لفظ استعماليږي لکه په دې مقام کې نو همدې وجې څخه تاء د تانيث په کې داخله نه شوه، كحضور الشابة... الخ لکه د ځوانې ښځې حاضريدل چې مکروه دي د سړيو جمع ته په هر وخت کې يعنې ځوانې ښځې ته په هر وخت کې د سړيو جمع ته حاضريدل مکروه دي او د بوډۍ ښځو له پاره د ماسپښين او مازيګر مانځه ته حاضريدل مکروه دي ځکه چې په دې کې د فتنې ويره ده. لاالباقية ... په نورو لمونځونو کې مکروه نه ده يعنې د بوډۍ ښځو له پاره په ماښام لمانځه کې، ماخوستن او سهار لمانځه کې وتل څه پروا نه لري ځکه په دې کې فتنه کمه وي اما په نن زمانه کې د ښځو له پاره وتل باالکل په کار نه دي ځکه چې د فتنو دور دی، ويقتدى المتوضئ.... الخ او جائز ده اقتداء د اودس کوونکي د تيمم کوونکي پسې او امام محمد رحمه الله وايي چې جائز نه ده ځکه تيمم طهارت

ضروریه دی او اودس اصلي دی او تیمم خلف دی د اودس ځکه نو لاړمیږي اقتداء د صاحب الاصل چې اعلی حال والا دی د صاحب د خلف پسې چې هغه ادنی حال والا دی نو ددې ځخه جواب دادی چې تیمم خلف د اودس ځخه نه دی بلکه خاوره خلف د اوبو ځخه ده لکه شارح ورته اشاره په دې الفاظو کړې چې **والخلفية في التراب عندنا** او بل دا چې لکه څرنګه چې اودس طهارت اصلیه مطلق عند القدرت دی نو همدا رنګه تیمم هم طهارت مطلقه عند العجز ده د اودس ځخه نو اودس او تیمم سره برابر شو لکه شارح په دې الفاظو اشاره کړې، لان التيمم... الخ والغاسل..... الخ او د پښو وینځونکو اقتداء جایز ده د هغه کس پسې چې په پښو یې مسح کړې وي، ځکه چې موزه منع کوونکی ده د رسېدلو د حدث نه پښې ته او کوم حدث چې په موزه باندې نازل شوی نو هغه په مسح سره پاکیږي.

والقائم بالقاعد بناءً على فعل الرسول ﷺ والمؤمي بالمؤمي والمتنفل بالمفترض لارجل بامرأة او صبي لان الواجب تأخيرهن بالنص وطاهر بمعذور وقارء بأمي ولا بس بعار وغير مؤمي بمومئ ومفترض بمنفل لان بناء القوي على الضعيف لايجوز ومفترض فرضاً اخر لان الاقتداء شركة فيجب الاتحاد.

توضيح المسئله: د ولاړ لمونځ کوونکي لمونځ له ناست لمونځ کوونکي پسې جایز دی ځکه چې رسول الله ﷺ په مرض الموت کې په ناسته لمونځ کاوه او قوم ولاړ و. والمؤمي..... الخ او د یو اشاره کوونکي لمونځ صحیح دی د بل اشاره کوونکي پسې ځکه دواړه یو برابر دي. والمتنفل.... الخ او د نفل کوونکي اقتداء صحیح ده د فرض کوونکي پسې، ځکه امام قوي حالت والا دی او اقتداء د ضعیف له قوي پسې جایز ده. لارجل.... الخ له ښځې پسې د سړي اقتداء جایز نه ده. لان الواجب... الخ دا دلیل دی له پاره د اقتداء د سړیو د ښځو پسې چې د ښځو وروسته کول واجب دي په نص سره هغه دلنې چې اخر وهن من حيث اخرهن الله یعنې وروسته کړئ دا زنانه څرنګه چې الله ﷻ وروسته کړي او صبي همدا رنګه د سړی اقتداء د ماشوم پسې هم صحیح نه ده، شارح ددې دلیل ذکر نه کړ ځکه چې د وروسته عبارت ځخه معلومیږي (ومفترض بمتنفل) هغه داسې چې په ماشوم لمونځ فرض نه وي ځکه دده لمونځ

نفل دي او د وروسته خلکو لمونځ فرض دی او د مفترض لمونځ د متنفل پسې نه کيږي.

وطاهر بمعذور... الخ او نه صحيح کيږي اقتداء د غير معذور د معذور پسې، معذور هغه چاته وايي چې په هميشه بې اودسی مبتلا وي، لکه مستحاضه او هغه کس چې په هغه د سلسل البول مرض وي وغيره، دا ځکه نه صحيح کيږي چې روغ انسان د قوي حال والاوي د معذور څخه، ځکه طهارت د معذور ضروري او مؤقت وي او طهارت دروغ مطلق او کامل وي، وقارئٌ بأمي او نه صحيح کيږي اقتداء د قاري له امي پسې، قاري هغه کس ته ويل کيږي چې د امام صاحب په نزد يې يو ايات او د صاحبينو په نزد درې اياته ياد وي او امي هغه چاته ويل کيږي چې يو ايات يا درې اياته يې ياد نه وي ځکه نه صحيح کيږي چې د قاري حالت د امي څخه اوچت وي او اقتداء د قوي ضعيف پسې جائز نه ده. ولابس بعأر او جائز نه ده اقتداء د هغه کس چې عورت يې پټ وي د هغه کس پسې چې عورت يې پټ نه وي ځکه عاري نه موندونکی د يو شرط د لمانځه دی. اولابس قادره دي په دې شرط باندې نو لابس قوی شو دعاري څخه ولايجوز اقتداء القوي باالضعيف.

وغير مؤمي بمومئ او جايز نه ده اقتداء د هغه کس چې اشاره نه کوي بلکه په رکوع او سجدې سره لمونځ کوي د هغه کس پسې چې په اشارې سره لمونځ کوي ځکه د مقتدي حال قوي شو دامام څخه ولايجوز اقتداء القوی باالضعيف ومفترض بمتنفل او د فرض کوونکي لمونځ د نفل کوونکي پسې نه صحيح کيږي ځکه بناء د قوي له ضعيف پسې جايز نه ده، لان بناءالقوي دا دليل د ټولو مخکنيو هغو مسائلو له پاره دي چې کومو کسانو پسې اقتداء نه صحيح کيږي.

ومفترض... الخ او جايز نه ده اقتداء د هغه کس چې د يو وخت لمونځ کوي لکه ماسپښين د بل هغه کس پسې چې د بل وخت لمونځ اداء کوي لکه د مازيګر وغيره ځکه اقتداء شرکت دي د امام سره نو واجب دي چې دواړو کې اتحاد او توافق وي په وصف د لمانځه کې او کله چې اتحاد فوت شو نو شرکت هم ختم شو او اقتداء صحيح نه شوه.

والامام لایطیلها ولاقرأة الاولی الافی الفجر ویقیم مؤتماً توحد عن یمینه ای اذا کان الموتم واحداً یأمره الامام بأن یقوم عن یمینه وفیه اشارة الی ان الامام اٰمِرٌ والماموم مامور یجب ان یکون منقاداًله ویتقدم ان زاد فیه اشارة الی ان القوم اذا کانوا کثیراً فا!الاولی ان یتقدم الامام لاان یأمرهم الامام باالتاخیر عنه فان ذلك ایسر من هذا ونوظهر حدثه یعید المؤتم لان صلوة الامام متضمن صلوة المقتدی ففسادہ یوجب فسادہ.

توضیح المسئله: او امام به قرأت زیات نه اوږدوي چې خلکو باندې بوج راشي ځکه په قوم کې بوډا او مریض وي نو د دوی به هم لحاظ ساتي. ولاقرأة.... الخ او نه به اول رکعت په دویم اوږدوي مګر په صبا لمانځه کې به اول رکعت اوږدوي ځکه دغه وخت د خوب او د غفلت وي چې خلک اول رکعت راونیسي او په نورو وختونو کې خوب او غفلت دومره نه وي. ویعلم... الخ او امام به اودروي مؤتما مقتدي توحد چې یواځې یو کس وي عن یمینه ښي طرف د امام ته یعني که مقتدي یو کس و ن وامام به ورته امر وکړي چې دده ښي خوا کې ودرېږي، که د لمانځه څخه مخکې و نو په خوله به ورته ووایي او که په داخل د لمانځه کې ؤ نو بیا به یې په داسي طریقه پوه کړي چې هغه ښي طرف ته راوګرځي، وفیه اشارة...... الخ شارح وایي چې په دې قول کې چې یقیم دي او نسبت یې امام ته وشو اشاره دې خبرې ته ده چې امام اٰمر دی او مقتدي مامور دی او مأمور باندې لازم دي چې د امر تابعداري وکړي، ویتقدم ان زاد..... الخ او امام به مخکې کیږي که قوم زیات و، ددې عبارت دوه مقصده دي.

اول: چې د لمانځه په منځ کې مقتدي له یو کس نه زیات شي نو یا به دغه یو سابقه مقتدي وروسته کیږي چې وروسته صف جوړ شي او یا به امام د خپل ځای څخه مخکې کیږي خو د امام مخکې کېدل غوره دي.

دوهم: چې د لمانځه له پاره شروع کې مقتدي له یو څخه زیات وي نو غوره داده چې امام په قوم مخکې شي ځکه دا اسانه ده د هغې څخه چې قوم ته امر وکړي چې تاسې وروسته شئ، نو شارح هم د مصنف دغه عبارت هم په دویم احتمال حمل کړی دی.

ولو ظهر.... الخ که دا ښکاره شوه چې امام بې اودسه دی په حدث اصغر سره یا په حدث

اکبر سره نو امام به هم لمونځ راګرځوي او مقتدي به هم لمونځ راګرځوي ځکه د امام لمونځ متضمن دی د مقتدي د لمانځه لره، نو فساد د لمانځه د امام واجبوي فساد د لمانځه د مقتدي لره.

ويصف الرجال ثم الصبيان ثم الخناثی ثم النساء الخناثی باالفتح جمع الخنثی کالجبالی جمع الحبلی فان حاذته فی صلوة مشترکة تحريمة واداءً فسدت صلاته ان نوی امامتها والا صلاتُها ای ان صلت علی جنب رجل امرأة مشتهاة بحيث لاحائل بينهما والصلوة مشترکة تحريمة واداءً فسدت صلوة الرجل ان نوی الامام امامة المرأة وان لم ينو تفسد صلوة المرأة وفسروا الاشتراك فی التحريمة بان يکونا بانيين تحريمتهما علی تحريمة الامام.

اتيان النصوص فی بيان تسوية الصفوف: اول به سړي صف جوړ کړي بيا ماشومان بيا خنثاګان. خنثی هغه چاته ويل کيږي چې نه نر وي نه ښځه وي بيا به صف د زنانوو وي، فان حاذته .....الخ که ښځه برابره شي د لمونځ کوونکي سره په هغه لمانځه کې چې مشترکه وي تحريمه او اداء نو د سړي لمونځ فاسد شو که امام د ښځې د امامت نيت يې کړی و او که امام د ښځې د امامت نيت کړی نه و، نو بيا د ښځې لمونځ فاسد شو، ای ان صلت... الخ يعني که چېرته لمونځ وکړي په څنګ د سړي کې يوه ښځه چې مشتهاته وي په دې طريقه چې د دواړو ترمنځ څه پرده نه وه او لمونځ هم سره شريک په تحريمي او اداء کې نو که امام د ښځې د امامت نيت کړی و نو د سړي لمونځ فاسد شو او که د ښځې د امامت نيت يې نه و کړی نو د ښځې لمونځ فاسد شو.

په محاذات سره هلته لمونځ فاسديږي چې دغه لس شرايط په کې وي. ۱: چې ښځه به يا مشتهاته وي او يا به بالغه وي. ۲: چې په لمانځه پوهيږي. ۳: چې محاذات په اندازه د يو رکن وي. ۴: چې لمونځ به خاوند د رکوع او سجدې وي ځکه د جنازې په لمانځه کې او په سجده تلاوت کې په محاذات سره لمونځ نه فاسديږي. ۵: ددغه لمانځه تحريمه به يې شريکه وي. ۶: په دغه لمونځ کې به من حيث الاداء شريکان وي. ۷: مکان د دواړو به يو وي، که يو په اوچت ځای وي او بل په ښکته ځای نو محاذات نه راځي. ۸: جهت او طرف به يې يو وي که په داخل د

بيت الله کې دواړه لمونځ وکړي او يو کس يو طرف ته مخ کړي او بل کس بل طرف ته مخ کړي نو لمونځ نه فاسديږي ځکه جهت يې بدل شو. ۹: د دواړو ترمنځ به حائل او پرده نه وي، که پرده وه لکه ستن وغيره نو بيا فساد نه راځي. ۱۰: چې امام د ښځو د امامت نيت وکړي. تلک عشرة کاملة او د ښځې څخه مطلق ښځه مراد ده، اجنبيه وي که خپله ښځه وي محرمه وي حالاً مشتهاته وي او که ماضياً مراهقه وي او که بالغه وي (بحرالرائق لومړی ټوک ۶۲۲ مخ) او اشتراک ځکه شرط شوه چې محاذات د يوې لمونځ کوونکې زنانه د لمونځ کوونکي سړي سره چې لمانځه کې سره شريک نه و نو د سړي لمونځ نه فاسدوي، مګر مکروه ده. (فتح القدير، بحرالرائق)

له محاذات څخه مراد دادي چې د ښځې ځينې اندامونه د سړی د اندام سره برابر شي، بعض علماوو بيا اعتبار قدم ته ورکړی يعنې که د ښځې قدم د سړي له قدم سره برابر شو نو محاذات راغی لکه په فتاوی قاضيخان کې ليکي چې که يوه ښځه د خپل خاوند سره په کوټه کې لمونځ کوي نو که د ښځې قدم د خاوند له قدم سره برابر شو نو ددې دواړو لمونځ په جمع سره جائز نه دی. (بحرالرائق لومړی ټوک ۶۲۰) همدارنګه په خانيه او ظهيريه کې راغلي که يوه ښځه د خپل خاوند سره په کوټه کې په جمع سره لمونځ کوي او د ښځې قدمونه د خاوند څخه وروسته وو خو ښځه اوږده وه او له امام څخه يې وړاندې سر کېښوده نو لمونځ د دوی جايز دی ځکه اعتبار قدم ته دی. (بحرا الرائق لومړی ټوک) اما که ښځه او خاوند بغير د جمع څخه څنګ په څنګ لمونځ وکړي نو لمونځ د يو هم نه فاسديږی (صافی)

په محاذات سره د لمانځه فساد زموږ د احنافو علماوو رايه ده او د ائمه ثلاثه او جمهورو علماوو په نزد په محاذات سره د سړی لمونځ هم نه فاسديږي لکه څرنګه چې د ښځو نه فاسديږي خو احنافو علماوو په استحسان عمل کړی دی له وجې ددې حديث نه. اخر وهن.....الخ په دې کې خطاب سړيو ته دی، نوکله چې سړيو تاخير ترک کړ د دوی لمونځ هم فاسد شو ځکه تاخير د ښځو فرض و او په ترک د فرضو سره لمونځ فاسديږي. والله اعلم

وفسروا ... الخ علماوو د اشتراک فی التحريمي تفسير داسې کړی چې سړی او ښځه متحاذيان دواړه خپله تحريمي د امام باندې بناء کړي.

والشركة في الاداء بان يكون لهما امام فيما يؤديانه اما حقيقة كالمقتدين واما حكما كاللاحقين يعني رجل وامرأة اقتديا برجل فسبقهما حدث فتوضأ وبنيا وقد فرغ الامام فحاذت المرأة الرجل فسدت صلوة الرجل فاللاحق وان لم يكن له امام حقيقة فله امام حكما فانه التزم ان يؤدي جميع صلاته خلف الامام فاذا سبقه الحدث فتوضأ وبنى يُجعل كانه خلف الامام حتى يثبت له احكام المقتدين كحرمة القرأة ونحوها بخلاف المسبوق وهو الذي ادرك اخر صلوة الامام فلم يلتزم اداء الكل خلف الامام فهو في اداء مالم يدركه مع الامام منفرد حتى يجب عليه القرأة فالمسبوقان وان كانا مشتركين في التحريمة اذ بنيا تحريمتهما على تحريمة الامام فليسا مشتركين اداء فان حاذت امرأة رجلاً في اداء ماسُبقا لم تفسد صلوة الرجل لعدم الشركة في الاداء.

توضیح المسئله: ۱ مدرک هغه مقتدي ته ویل کیږي چې ټول رکعتونه یې له امام سره نیولي وي.

۲: لاحق هغه مقتدي ته ویل کیږي چې اول رکعت یې له امام سره نیولی وي بیا ورته حدث پیښ شي یا د لمانځه په منځ کې ویده شي او بیا د اودس کولوله پاره لاړ شي نو بیرته چې راځي نو امام له لمانځه څخه فارغ شوی وي نو دا به خپل لمونځ پوره کوي او قرأت به نه وایي.

۳: مسبوق هغه مقتدي ته وایي چې اول د لمانځه ترې فوت شوی وي، وللشرکت في الاداء... الخ شرکت په اداء کې داده چې د دواړو متحاذیینو له پاره په هغه لمانځه کې امام وي چې کوم دوی اده کوي، اما حقیقة یا حقیقة امام ولري، کاالمقتدین لکه مقتدیان یعنې مدرک. واما حکما او یا حکما امام ولري لکه دوه لاحقین یعني رجل.... الخ شارح په دې سره صورت د لاحق بیانوي چې یو سړی او یوه ښځه دواړه له یو سړي پسې اقتداء وکړي. فسبقهما نو بیا دواړو ته بې اودسی پیښه شوه دواړه لاړل او اودس یې وکړو خو چې راغلل نو امام فارغ شوی و نو دواړو په خپل لمانځه بنا وکړه، بنا دې ته وایي چې په کوم ځای کې بې اودسه شوی وي د همغه ځای څخه یې شروع کړي. فحاذت المرأة نو د لمانځه په منځ کې دغه ښځه د سړي سره څنګ کې ودریده نو د سړي لمونځ فاسد شو.

فاللاحق..... الخ نو لاحق اګر چې حقیقةً امام نه لري، مګر حکما امام لري. فانه التزم ځکه دې لاحق په ځان دا لازم کړي وو چې ټول لمونځ به له امام څخه وروسته اداء کوي خو غیر اختیاري عذر ورته پیښ شو، نو کله چې ده ته بې اودسي ورسیده او بیا یې اودس وکړو او په

لمانځه یې بناء وکړه نو شرعاً دا داسې وګرځېده لکه دا چې اوس هم له امام ځخه وروسته دی
حتی یثبت الخ تردې چې ده لره احکام د مقتدینو یعنې د مدرک ثابتیږي لکه حرمت د
قرأت یعنې څرنګه چې مدرک ته د امام پسې وروسته قرأت جایز نه دی، نو همدا رنګه لاحق ته
هم جایز نه دی بخلاف المسبوق او د مسبوق په خان باندې د ټول لمانځه اداء کول وروسته له
امام ځخه لازم کړي نه دي ځکه دا له اول ځخه د امام سره داخل نه و، فهو فی اداء .... الخ نو دا
مسبوق په اداء کولو د هغه لمانځه کې چې ده ځخه فوت شوی حقیقةً او حکماً منفرد دی تردی
چې پده قرأت هم واجب دی لکه په منفرد چې واجب وی ، فاالمسبوقان، نو دوه مسبوقه اګر چې
په تحریم کې سره شریک دي نو ځکه دواړو خپله تحریمه د امام په تحریمه بناء کړې وه، خو په
اداء کې سره شریک نه دي، فان حاذت نو که د مسبوق سره په اداء کولو د فوتي لمانځه کې
ښځه څنګ کې ودرېده نو د سړي لمونځ نه فاسدیږي ځکه د دواړو ترمنځ شرکت فی الاداء نشته.

اقول فی تفسیر الشرکة فی التحریمه والاداء تساهل وینبغی ان یقال الشرکة فی التحریمة ان یبنی احدهما تحریمة علی تحریمة الاخر او بنیا تحریمتهما علی تحریمة ثالث والشرکة فی الاداء ان یکون احدهما اماماً للاخر فیما یؤدیانه اویکون لهما امام فیما یؤدیانه حتی یشمل الشرکة بین الامام والماموم فان محاذاة المرأة الامام مفسدة صلوة الامام مع انه لا اشتراك بینهما تحریمة واداء باالتفسیر الذی ذکروا.

الایراد الاول علی تفسیر الشرکة: خلاصه د اعتراض داده چې تاسې د شرکت کوم تفسیر
ذکر کړی دی د هغې ځخه هغه معلومیږي چې یوه ښځه مقتدی د سړي مقتدي سره په څنګ
کې راشي او دا حکم له دې ځخه نه معلومیږي چې محاذاة د ښځې راشي له امام سره او مونږ
چې کوم تفسیر د شرکت بیانوو نو هغه دواړو حکمو ته شامل دي. اقول شارح وايي چې په
سابقه تفسیر د شرکت کې چشم پوشي ده، وینبغي.... الخ شارح له دې سره خپل تفسیر بیانوي
چې شرکت فی التحریمه دې ته وايي چې یو لمونځ کوونکی خپله تحریمه د بل لمونځ کوونکي
په تحریمه باندې بنا کړي او یا دا دواړه لمونځ کوونکي خپله تحریمه په تحریمه د یو دریم کس
چې امام دی بناء کړي او شرکة فی الاداء دېته وايي چې یو کس د بل له پاره امام وګرځي په هغه
لمانځه کې چې اداء کوي یې او یا ددې دواړو له پاره په دې کې بل امام وي حتی یشمل.
فایده ددې تفسیر داده چې دغه شرکت به د امام او مقتدي ترمنځ راشي، فان محاذاة....
الخ ځکه د ښځې مُحاذات د امام سره فاسدونکي دي، د لمانځه د امام لره یعنې که یوه ښځه

د امام سره محاذات کې راشي نو د امام لمونځ فاسدیږي او د امام د لمانځه په فساد سره د ټولو مقتدیانو لمونځ فاسدیږي، سره ددې نه چې په سابقه تفسیر د اشتراک سره د امام او مقتدي ترمنځ په تحریمه او اداء کې شرکت نشته.

وایضاً لا اجد فائدة فی ذکر الشرکة فی التحریمة بل یکفی ذکر الشرکة فی الاداء فان الامام اذا سبقه الحدث فاستخلف اخر فاقتدی احد بالخلیفة فالشرکة فی الاداء ثابتة بین الذی اقتدی بالخلیفة وبین الامام الاول وکل من اقتدی به باعتبار ان لهم اماماً فیما یؤدونه وهو الخلیفة ولا شرکة بینهم فی التحریمة لان المقتدی بالخلیفة بنی تحریمته علی تحریمة الخلیفة والامام الاول ومن اقتدی به لم یبنوا تحریمتهم علی تحریمة الخلیفة فلم توجد بینهم الشرکة فی التحریمة ومع ذلك لو کانت المرأة من احدی الطائفتین امامن المقتدین بالامام الاول او من المقتدین بالخلیفة فحاذت الطائفة الاخری تفسد الصلوة باعتبار الشرکة فی الاداء لا التحریمة.

الا راد الثانی علی تفسیر الشرکة: خلاصه داده چې کله محاذات راشي نو د فساد له پاره شرکت فی الاداء کافي ده او اشتراک فی التحریمه شرط نه دی. فان الامام.... الخ ځکه کله چې امام ته په لمانځه کې بې اودسي ورسیږي او بل کس خلیفه کړي بیا یو دریم کس راشي او دې خلیفه پسې اقتداء وکړي نو په دې صورت کې شرکت فی الاداء د هغه مقتدي ترمنځ چې د خلیفه پسې اقتداء کړې او د امام اول او د هغه کسانو چې امام اول پسې یې اقتداء کړې ثابته ده خو د دوی ترمنځ شرکت فی التحریمه نشته ځکه چاچې خلیفه پسې اقتداء کړې نو هغه خپله تحریمه په تحریمه د خلیفه بناء کړې او امام اول او هغه کسانو چې امام اول پسې اقتداء کړې دوی تحریمه خپله بناء کړې نه ده، په تحریمه د خلیفه باندې نو د دوی ترمنځ شرکت فی التحریمه رانغی، نو سره له دې نه که ښځه د یوې ډلې ځخه وه یعنې یا دهغه کسانو ځخه چې د امام اول پسې یې اقتداء کړې، او یا دهغه کسانو ځخه چې دخلیفه پسی اقتدأ کړی په دې دوو ډلو کې د یوې ډلې ځخه وه خو محاذات یې له بلې سره راغی یعنې یا دا ښځه د من المقتدین بالامام الاول ځخه وه خو محاذات یې د مقتدین باالخلیفه سره راغی او یا دا ښځه د مقتدین باالخلیفه ځخه وه خو محاذات یې د مقتدین باالامام الاول سره راغی نو په دې صورت کې لمونځ فاسد شو ځکه شرکت فی الاداء راغی او شرکت فی التحریمه نشته نو که شرکت فی التحریمه شرط وای نو فساد د لمانځه بیا نه راتلو.

ولو قیل الشرکة فی التحریمة ثابتة تقدیراً فاقول الشرکة فی الاداء لاتوجد بدون الشرکة فی

التحريمة والشركة فى التحريمة قد توجد بدون الشركة فى الاداء كما فى المسبوق فلاحاجة الى ذكر الشركة فى التحريمة هذا اذا نوى الامام امامة المرأة اما اذا لم ينولم يصح اقتداء المرأة فتفسد صلاتها لانها لم تقرأ بناء على ان قرأة الامام قرأة لها ولم يكن كذلك فبقيت بلا قرأة وعُلم من هذه المسألة ان المرأة اذا اقتدت بالامام محاذيةً لرجل لايصح اقتداؤها الا ان ينوى الامام امامتها اما اذا لم تقتد محاذية هل يشترط نية الامام ففيه روايتان.

توضيح المسئله: د ايراد اول جواب دادى چې شركت د امام او د مقتدي ترمنځ ښكاره و نو په همدې وجه يې بيان نه كړ ځكه مقصود د بيان نه شركت په مابين د مقتدينو كې و او دا ايراد ثاني ځخه جواب شارح په لو قيل سره كوي چې شركت فى التحريمه عام دى تحقيقاً وي او كه تقديراً وي په مذكوره صورت كې كه تحقيقاً شركت فى التحريمه د دواړو تحريمو ترمنځ نشته خو تقديراً شته ځكه د خليفه تحريمه مبنى،وه په تحريمه د امام اول باندې او مبنى على المبنى على الشئ، دا مبنى على الشئ وي نو تحريمه د هغه چا چې اقتداء يې د خليفه پسې كړې ده مبنى شوه په تحريمه د امام اول باندې نو د دواړو طائفو يعنې د مقتدي باالخليفه او مقتدي باالامام الاول ترمنځ شركت فى التحريمه موجود شوه.

فاقول.... الخ خو شارح په دې سره په دې جواب باندې اعتراض كوي، خلاصه داده چې كله شركت فى التحريمه عام شوه تحقيقي او تقديري ته نو د شركت فى الاداء سره شركت فى التحريمه لازم دي يعنې شركت فى الاداء بې له شركت فى التحريمې ځخه نه موجوديږي او شركت فى التحريمه كله بغير له شركت فى الاداء ځخه موجوديږي لكه مسبوق چې فوتې لمونځ اداء كوي نو شركت فى التحريمه شته خو شركت فى الاداء نشته.

فلاحاجة.... الخ نو كله چې شركت فى التحريمه په هر وخت كې موجود وي نو بيا ذكر د شركت فى التحريمې ته څه ضرورت نه و؟ ددې اعتراض جواب دادى چې علماوو شركت فى التحريمه د وضاحت او تصريح له پاره ذكر كړى ده.

هذااذانوى.... الخ په محاذات سره لمونځ هلته فاسديږي چې امام د ښځې د امامت نيت وكړي او كه نيت ونه كړي نو بيا د ښځې اقتداء نه صحيح كيږي نو د ښځې لمونځ فاسد شو، ځكه ښځې قرأت ونه ويلې يعنې ښځې نه خپله قرأت وويلې او نه امام ددې له پاره وويلې ځكه امام ددې د امامت نيت نه دى كړى. نو د امام قرأت ددې له پاره قرأت ونه ګرځېده نو ښځه بلاقرأة پاتې شوه او بې له قرأته لمونځ فاسد دى.

وعُلم من هذى ..... الخ له دې ځخه يوه مسئله معلومه شوه چې که يوه ښځه له ابتداء ځخه د يو سړي په څنګ کې له امام پسې اقتداء وکړي نو ددې ښځې اقتداء صحيح نه شوه، مګر که امام د ښځې د امامت نيت وکړي نو بيا د سړي لمونځ فاسد نه دی بلکې د ښځې لمونځ فاسد شو اما اذالم تقتد..... الخ او که ښځې اقتداء وکړه خو غير محاذ يه يعنې د سړي په څنګ کې ونه کړه نو په دې کې ايانيت د امام شرط دی او که نه؟

ففيه روايتان نو په دې کې دوه روايته دي په يو روايت کې نيت د امام شرط دی ځکه احتمال لري چې ښځه مخکې شي او د لمانځه په منځ کې د سړي په څنګ کې ودريږي او په بل روايت کې دادي چې نيت د امام شرط نه دی ځکه فی الحال لمونځ نه فاسديږي او اينده کې ددې تحقيق وهمي دی.

صلى امى بقارئ او استخلف فى الاخيرين اميا فسدت للكل اى ان امرامى قارئاً واميأ فسدت صلوة الكل اما صلوة القارى فانه ترك القرأة مع القدرة عليها واما صلوة الاميين فلانهما لما رغبا فى الجماعة وجب ان يقتديا باالقارئ ليكون قرأته قرأة لهما فتركا القرأة التقديرية مع القدرة عليها ولو استخلف القارئ فى الاخريين امياً فسدت صلوة الكل خلافاً لزفر رحمه الله فان فرض القرأة قد أدى فى الاولیین قلنا يجب القرأة فى جميع الصلوة تحقيقاً اوتقديراً ـ لم توجد.

نصرت الالهى فى صلوة القاري خلف الامي: صلى فى..... الخ يعنې که امي سړي امامت وکړ د قاري او امي سړي نو د ټولو لمونځ فاسد شو اما صلوة القاري د قاري لمونځ ځکه فاسد شو چې ده قرأت پرېښود سره د قدرت نه په قرأت باندې. واما صلوة الاميين او ددې دواړو اميانو چې يو مقتدي دی او بل امام دی لمونځ ځکه فاسد شو چې هر کله د دوی مينه له جمعې سره وه نو په کار وه چې دوی اقتداء له قاري پسې کړې وای.

ددې له پاره چې د هغه قرأت د دوی له پاره قرأت ګرځېدلی وای. نو کله چې دوی له قاري پسې اقتداء ونه کړه نو دوی قرأت تقديري پرېښوده سره له قرأت نه په هغې باندې. او استخلف..... الخ همدارنګه که يو قاري په اخرينو دوو رکعتونو کې امي سړی خليفه کړ نو بيا هم د ټولو لمونځ فاسد شو خو امام زُفر رحمه الله وايي چې د دوی لمونځ صحيح دی ځکه چې قرأت په اولنيو دوو رکعتونو کې فرض و او هغه اداء شوی نو لهذا لمونځ صحيح شو. قلنا..... الخ مونږ وايو چې قرأت په ټول لمانځه کې تحقيقاً يا تقديراً واجب دی او دلته په وروستنيو دوو رکعتونو کې موجود شوی نه دی.

باب الحدث في الصلوة

دا باب په بيان د هغې بې اودسۍ کې ده چې په لمانځه کې واقع شي

مصل سبقه الحدث توضأ واتم خلافاً للشافعي ولو بعد التشهد خلافاً لهما فانه اذا قعد قدر التشهد تمت صلاته وعند ابي حنيفة لم يتم لان الخروج بصنعه فرض عنده والاستيناف افضل.

توضيح المسئله: لمونځ کوونکي ته چې په لمانځه کې بې اودسي پېښه شي نو لاړ به شي اودس به وکړي بيا که دده خوښه وي هغه باقي لمونځ به پوره کړي چې همدې ته بناء وايي او يا دې له سره لمونځ راوګرځوي خو استيناف غوره دی خلافاً للشافعی.... الخ امام شافعي وايي چې استيناف ضروري دی او بناء جايز نه ده ځکه په وجود د منافي د لمانځه سره لمونځ فاسد شو چې هغه اودس ماتېدل دي تګ کول دي او بيرته راتلل دي ولو بعد.... الخ اګر که بې اودسي د تشهد څخه وروسته پيښه شي نو بيا به هم اودس کوي او سلام به ګرځوي ځکه چې سلام واجب دی، خلافاً لهما... الخ صاحبين وايي چې په اندازه د تشهد کښناسته نو لمونځ يې پوره شو ځکه ارکان ختم شو نو که له دې څخه وروسته بې اودسه شي نو بناء ورباندې نشته ځکه فرض پاتې نه دی او امام صاحب وايي چې لمونځ پوره شوی نه دی ځکه وتل د لمانځه څخه په فعل د لمونځ کوونکي سره د امام صاحب په نزد فرض دي.

لما ذكر حكما اجماليا شاملاً لجميع المصلين فصّل حكم كل واحد من الامام والمنفرد والمقتدى فقال والامام يجُر اخر الى مكانه هذا تفسير الاستخلاف ثم يتوضأ ويتم ثمه او يعود اى ان شاء يُتم حيث توضأ وان شاء عاد الى المكان الاول وانما خير لان في الاول قلة المشي وفي الثاني اداء الصلوة في مكان واحد فيميل الى ايهما شاء وكذا المنفرد ان شاء يتم حيث توضأ وان شاء عاد ان فرغ امامه متصل بقوله ويتم ثمه اويعود والضمير في امامه يرجع الى الامام الاول وامامه هو الذى استخلفه فان الخليفة امام للامام الاول والقوم والاعادة اى وان لم يفرغ امامه وهو الخليفة يعود الامام ويتم خلف خليفته وكذا المقتدى اى ان فرغ امامه تتم ثمه اويعود وان لم يفرغ يعود.

غاية البيان: مصنف رحمه الله چې هر کله اجمالاً داسې حکم بيان کړ چې ټولو لمونځ کوونکو ته شامل و چې امام وي که مقتدي وي که منفرد وي. فصل حکم .... الخ نو اوس تفصيلاً حکم د هر يو بيانوي. والامام.... الخ امام چې کله بې اودسه شي نو بل کس به راکش کړي خپل ځای ته دا د استخلاف معنا شوه، بيا به اودس وکړي. ويتم ثمه.... الخ يعني يادې

لمونځ په هغه ځای کې پوره کړي په کوم ځای کې يې چې اودس کړی. او يعود... الخ يا دې بېرته اولني ځای ته راوګرځي او لمونځ دې اداء کړي. وانما خير... الخ دغه اختيار دې امام ته ددې له پاره ورکړل شو چې په اول صورت کې يعني چې د اوداسه په ځای کې چې لمونځ وکړي قلة المشئ کم تګ راځي او په دويم صورت کې يعني چې بېرته خپل ځای ته راشي لمونځ په يو ځای کې اداء کيږي فيميل... الخ نو کوم طرف ته يې چې خوښه وي ميلان دې وکړي. وکذالمنفرد... الخ همدا رنګ يواځې لمونځ کوونکي ته هم اختيار دی چې د اودس په ځای کې لمونځ کوي او که خپل ځای ته بېرته واپس کيږي. ان فرغ... الخ دا متصل دی له دې پورې چې ويتم ثمه او يعود ضمير په امامه کې امام اول ته راجع دی، دغه اختيار دې امام ته په هغه صورت کې دی چې ددې امام اول امام چې خليفه دی فارغ وي د لمانځه څخه. ځکه خليفه د امام اول له پاره او د قوم له پاره امام دی. والاعاد... الخ او که د امام اول امام چې خليفه دی له لمانځه څخه فارغ نه و نو بيا به امام بېرته راځي او باقي لمونځ به له خليفه پسې پوره کوي.

وکذالمقتدی... الخ يعني که د مقتدي امام فارغ و نو بيا ده ته اختيار دی چې که د اودس په ځای کې لمونځ کوي او که بيرته خپل ځای ته راګرځي او که امام يې له لمانځه څخه فارغ نه و نو بيا به لازماً خپل ځای ته راګرځي او له امام پسې به باقي لمونځ کوي.

فايده: د جواز د بناء له پاره يو څو شرايط دي: اول: له بې اودسۍ څخه وروسته به د يو رکن په اندازه وخت نه تېروي او که تېر يې کړ نو لمونځ فاسد شو. ۲: په تګ او راتګ کې به هغه کار نه کوي چې د لمانځه مخالف وي. ۳: هغه کار به هم نه کوي چې د هغه څخه خلاصی وي. ۴: د اودس له فراغت څخه وروسته به ځنډ نه کوي.وغيره.

ولو جُن او أُغمي عليه اواحتلم اي نام في صلاته نوماً لاينقض به وضوءه فاحتلم او قهقه او احدث عمداً او اصابه بول کثير او شج فسال او ظن انه احدث فخرج من المسجد او جاوز الصفوف خارجه ثم ظهر طهره بطلت ولو لم يخرج اولم يتجاوز بنى اعلم ان هذه الحوادث نادرة فلم تکن في معنى ما ورد به النص وهو قوله عليه السلام من قاء اورعف في صلاته فلينصرف وليتوضأ وليبن على صلاته مالم يتکلم

نهایة البیان:

ولو جُن او که یو سړی په لمانځه کې لیونی شو نو لمونځ یې باطل شو ځکه چې په لیونتوب سره اودس ماتیږي. او اغمی علیه یا پرې بېهوشي راغله نو لمونځ یې باطل شو ځکه په بېهوشۍ سره اودس ماتیږي. او احتلم... الخ یا یې لمانځه کې احتلام وشو ای نام..... الخ دا دفعه د یو وهم ده هغه داسې چې احتلام خو په خوب کې وي او په خوب سره خو اودس ماتیږي نو په لمانځه کې احتلام څنګه راځي؟ نو شارح ددې دفع وکړه چې په لمانځه کې په داسې خوب سره ویده شو چې په هغې اودس نه ماتیږي لکه په رکوع یاسجده کې چې ویده شي او احتلام یې وشي نو په دې احتلام سره لمونځ دده باطل شو. او **قهقه** یا یې په زوره وخندل. قهقه هغه خندا ته وایي چې خپله یې هم واوري او څنګ کې بل ګاونډی یې هم واوري نو په دې سره لمونځ هم باطلیږي او اودس هم پرې ماتیږي او ضحک دې ته وایي چې خپله یې واوري او ګاونډی یې وانه وري په دې سره یواځې لمونځ باطلیږي او اودس نه ماتیږي. **اواحدث عمداً...** الخ یا یې قصداً ځان بې اودسه کړ نو لمونځ یې باطل شو. **اواصابه بول کثیراً.** یا ورته ډېرې متیازې ورسیږي، له بول نه مراد هر ډول نجاست دی او کثیر نه هغه مقدار مراد دی چې مانع وي د صحت د لمانځه څخه نو په دې سره لمونځ باطلیږي. **اوشج فسال** او یا په سر زخمي شو او وینه ترې وبهېده نو لمونځ یې باطل شو. اوظن .... الخ یا دا ګمان ورغی چې زه بې اودسه شوم له مسجد څخه ووت او جاوز.... الخ او یا له صفونو څخه تېر شو، **خارجه** د مسجد نه بهر یعنې که د مسجد څخه بهر په صحرا کې ورته داګمان ورغی او د صفونو څخه تېر شو **ثم ظهر طهره** بیا دده پاکوالی معلوم شو یعنې ده ته دا معلومه شوه چې زما اودس مات نه دی **بطلت** داجزاء ده د لوجن څخه تر اخره پورې یعنې په دې ټولو صورتونو کې دده لمونځ باطل دی. **ولولم یخرج** او که د مسجد څخه ونه وتلو یا د صفونو څخه یې تجاوز ونه کړ نو باقي لمونځ دې پوره کړي.

اعلم ان هذا.... الخ پوه شه چې دا مذکوره حوادث نادر دي یعنې ډېر کم واقع کیږي. نو د هغه حدیث په معنا کې داخل نه دي چې هغه مجوز د بناء دي چې هغه دا حدیث دی. چې رسول الله ﷺ فرمایي چې څوک قی وکړي او یا یې په لمانځه کې پوزه وینې شي نو ودې ګرځوي او اودس دې وکړي او بناء دې په لمانځه وکړي ترڅو چې یې خبرې نه وي کړې، یعنې باقي لمونځ دې پوره کړي.

ولو احدث عمداً بعد التشهد او عمل ماینافیها تمت لوجود الخروج بصنعه ویبطلها بعده ای بعد التشهد عند ابی حنیفة رؤیة المتیمم الماء ونزع الماسح خفه بعمل یسیر انما قال بعمل یسیر لانه لو عمل هناك عملاً کثیراً یتم صلاته ومضیّ مدة مسحه وتعلم الامی سورة ونیل العاری ثوباً وقدرة المؤ می علی الارکان وتذکر فائتة ای لصاحب الترتیب وتقدیم القاری امیاً وطلوع ذکاء فی الفجر ودخول وقت العصر فی الجمعة وزوال عذر المعذور وسقوط الجبیرة عن برءٍ الخلاف فی هذه المسائل الاثنی عشر بین ابی حنیفة وصاحبیه مبنی علی ان الخروج بصنعه فرض عنده لاعندهما.

مسائل الاثنی عشر: ولو احدث.... الخ که یو لمونځ کوونکی له تشهد څخه وروسته قصداً ځان بې اودسه کړي یا داسې عمل یې وکړ چې هغه له لمانځه سره مخالف وي نو دده لمونځ پوره شو ددې مقصد دادی چې دده ذمه د لمانځه څخه په اداء کولو د ارکانو او د فرائضو سره فارغه شوه خو په ګناه کې اخته شو او یو حرام کار یې وکړو ځکه وتل د لمانځه څخه په سلام سره واجب دي او ترک د واجبو حرام دی. لوجود الخروج... الخ ځکه وتل د لمانځه څخه په فعل د لمونځ کوونکي سره فرض دي او په دې صورت کې دا موجود شو.

ویبطلها بعده..... الخ د امام ابوحنیفه په نزد د تشهد څخه وروسته په دغه دولس مسائلو کې لمونځ باطلیږي. ۱: **رؤیة التیمم الماء** یعنې چې تیمم کوونکی سړی چې کله په اندازه د تشهد کینې او بیا اوبه وګوري او په استعمال یې قادر وي او د سلام څخه مخکې وي نو لمونځ دده باطل شو ځکه په اوبو لیدلو سره تیمم مات شو.

۲: **ونزع الماسح**.. الخ او ویستل د مسح کوونکې موزې خپلې لره یعنې چې یو سړی په موزې باندې مسح کړې وي او بیا په لږ عمل سره د تشهد څخه وروسته د سلام څخه مخکې موزه وباسي نو مسح یې باطله شوه او د پښو وینځل ورباندې واجب شول نو لمونځ یې هم باطل شو. انما قال.... الخ عمل یسیر یې ځکه وویلې چې که په عمل کثیر سره موزه وباسي نو لمونځ یې پوره کیږي ځکه چې خروج په فعل د لمونځ کوونکي سره د تشهد څخه وروسته موجود شو. ومضیٔ مدة مسحه.... الخ او تیریدلو د مودې د مسحې سره لمونځ باطلیږي. یعنې کله چې مسح کوونکی په موزو باندې لمونځ وکړي او په اندازه د تشهد کینې او له سلام څخه مخکې موده د مسحې پوره شوه چې د مقیم له پاره یوه شپه او یوه ورځ ده او د مسافر له پاره درې شپې او درې ورځې دی نو دده مسح باطله شوه او په ده باندې د پښو وینځل لازم شو نو لمونځ یې هم باطل شو. **وتعلم الامی**.... الخ او زده کیدل د امي سړي یو سورت لره یعنې امي

سړی بلا قرأة لمونځ وکړ له تشهد څخه وروسته ورته هغه اندازه قرآن یاد شو چې لمونځ پرې روا کېده مثلاً یو قاري نه یې سورة اخلاص واورېده او ورته یاد شو نو دغه لمونځ یې باطل شو څکه عجز دده ختم شو او په قرأت باندې قادر شو. **ونیل العاري ثوباً** او مونده کول د بربنډ سړي جامې لره یعنې یو کس دومره جامه هم ونه مونده چې عورت پرې پټ کړي او په بربنډه یې لمونځ وکړ د تشهد څخه وروسته یې جامه ومونده، مثلاً یو کس ورباندې جامه واچوله نو دده لمونځ باطل شو څکه عجز ختم شو. **وقدرة المؤمي**... الخ او قادره کېدل د اشاره کوونکي په رکنونو باندې یعنې یو کس د اداء د ارکانو څخه عاجز و او په اشارې سره یې لمونځ وکړ د تشهد څخه وروسته په اداء کولو د رکنونو قادره شو نو دده لمونځ باطل شو. **وتذکر فائتة**... الخ او یادېدل د قضایي لمانځه خاوند د ترتیب ته یعنې یو کس څخه پنځه لمونځونه قضاء شوي وو خو قضایي لمونځونه ورڅخه هېر وو او وختي لمونځ یې اداء کړ خو له تشهد څخه وروسته ورپه یاد شو چې په ما قضایي لمونځ دی نو دغه وختي لمونځ دده باطل شو نو اول به قضایي لمونځ اداء کړي او بیا به ورپسې وختي لمونځ اداء کړي.

وتقدیم القاري امیاً او مخکې کول د قاري امي لره یعنې یو قاري د امي امام و د تشهد څخه وروسته قاري بې اودسه شو او امي سړی یې خلیفه کړ نو د قاري لمونځ باطل شو. **وطلوع ذکاء في الفجر** او راختل د لمر په سبا کې یعنې د سهار لمونځ یې د لمر ختلو ته نژدې وخت کې اداء کاوه او د تشهد څخه وروسته ورباندې لمر راوختلو نو لمونځ یې باطل شو څکه وخت ختم شو. **ودخول وقت العصر في الجمعة** او داخلېدل د وخت د مازیګر په لمانځه د جمعې کې یعنې د جمعې لمونځ یې اداء کاوه چې د تشهد څخه وروسته ورباندې د مازیګر وخت داخل شو نو د جمعې لمونځ یې باطل شو. **وزوال عذر المعذور** او ختمیدل د عذ د معذور سړي یعنې یو معذور کس لکه د سلسل البول والا یا مستحاضه وغیره لمونځ په طهارت ضروري سره اداء کولو چې د تشهد څخه وروسته دده عذر ختم شو یعنې جوړ شو نو لمونځ یې باطل شو څکه عذر لرې شو. **وسقوط الجبیرة عن برءٍ** او غورځېدل د پټۍ د جوړوالي له امله. یعنې یو سړي په اندام پټۍ لګولې وه او په هغه یې مسح کړې وه او لمونځ یې اداء کړی خو د تشهد څخه وروسته د زخم د جوړوالي په وجه پټۍ ولوېده نو اودس یې مات شو او لمونځ یې باطل شو. **الخلاف**.... الخ د امام ابوحنیفه او صاحبینو ترمنځ په دغه دولس مسائلو کې اختلاف مبنی دی په دې باندې چې د امام صاحب په نزد وتل له لمانځه څخه په فعل د لمونځ کوونکي سره

فرض دي او په مذکوره مسائلو کې خروج بصنعه موجود شوی نه دی نو لمونځ دده فاسد شو او د صاحبینو په نزد خروج بصنعه فرض نه دی بلکه د تشهد څخه وروسته که د لمانځه يو منافي عمل موجود شي نو لمونځ تماميږي او په مذکوره صورتونو کې د صاحبینو په نزد لمونځ پوره شوی دی.

وكذا قهقة الامام وحدثه عمداً صلوة المسبوق اي يبطل بعد التشهد صلوة المسبوق لوقوعه في خلال صلاته لا كلامه وخروجه من المسجد اي ان تكلم الامام بعد التشهد لا يبطل صلوة المسبوق لان الكلام كالسلام مُنْهٍ للصلوة.

الكفاية للبيان: که امام له تشهد څخه وروسته په زوره خندا وکړي او يا قصداً ځان بې اودسه کړي نو د مسبوق لمونځ باطلوي. **لوقوعه** ځکه خندا او بې اودسي هر يو د لمانځه په منځ کې واقع شول. **لا كلامه**... الخ که امام له تشهد څخه وروسته خبرې وکړې او يا له مسجد څخه ووځي نو د مسبوق لمونځ نه باطليږي. **لان الكلام**... الخ لکه څرنګه چې سلام سره لمونځ پوره کيږي نو همدارنګه خبرې هم تماموونکې د لمانځه دي.

مُنه: دا د اسم فاعل صيغه ده د انهاء څخه په معنی د پوره کولو سره او د مسجد څخه په وتلو سره د مسبوق لمونځ ځکه نه باطليږي چې له امام څخه خروج د لمانځه څخه بصنعه موجود شو نو د امام لمونځ تمام شو.

امام حصر عن القرأة فاستخلف صح عند ابي حنيفة خلافاً لهما وهذا اذا لم يقرأ قدر ما يجوز به الصلوة اما اذا قرأ تفسد صلاته لان الاستخلاف عمل كثير فيجوز حالة الضرورة كتقديمه مسبوقاً اي كتقديم الامام مسبوقاً سواء احدث الامام او حصر فانه ينبغي ان يقدم مدركا لا مسبوقاً ومع ذلك ان قدم مسبوقاً يصح.

توضيح المسئله: حصر په معنی د بندېدلو او منع کېدلو سره راځي که يو امام د قرأت څخه بند شي د څه مرض په وجه يا د څه خجالت يا ويرې په وجه او بل کس يې خليفه ونيو نو د امام ابوحنيفه په نزد صحيح ده ځکه دا د قرأت څخه عاجزه شواو د عجز په صورت کې استخلاف صحيح ده. او له قرأت څخه بندېدل غير نادر دي. او صاحبين وايي چې دا استخلاف صحيح نه ده ځکه حصر يعني له قرأت څخه بندېدل ډېر کم واقع کيږي. **هذا اذا**... الخ دا د استخلاف جواز د امام صاحب په نزد په هغه صورت کې ده چې هغه اندازه قرأت يې

لوستلی نه وي چې لمونځ پرې اداء کیږي او که دومره اندازه قرأت یې لوستلی و چې لمونځ پرې روا کېده او بیا ده خلیفه ونیو نو لمونځ یې فاسد شو ځکه استخلاف عمل کثیر دی په حالت د ضرورت کې جائز دی او بل ددې وجې څخه چې استخلاف په غیر موضعه کې منافي دی د لمانځه سره، نو لمونځ فاسدوي کتقدیمه... الخ لکه څرنګه چې صحیح دي مخکې کول د امام مسبوق لره یعنې که امام بې اودسه شي یا د قرأت څخه بند شي نو په کار ده چې مدرک مخکې کړي او که سره له دې نه یې مسبوق مخکې کړ نو دا هم صحیح ده.

فیتم صلوة الامام اولًا ویقدم مدرکا یسلم بهم وحین اتمها یضره المنافی والاول الاعند فراغه لاالقوم ای حین اتم المسبوق صلوة الامام لووجد منه منافی الصلوة کالقهقة والکلام والخروج من المسجد تفسد صلوته وصلوة الامام الاول لانه وجد فی خلال صلوتهما الا عند فراغ الامام الاول بأن توضأ وادرك خلیفته بحیث لم یفته بشیئ واتم صلاته خلف خلیفته ولا تفسد صلوة القوم لانه قد تمت صلاتهم.

توضیح المسئله: نو دا مسبوق به اول د امام لمونځ پوره کړي کله چې د سلام وخت راغی نو یو مدرک به مخکې کړي چې قوم ته سلام وګرځوي چې کله مدرک سلام وګرځاوه نو مسبوق به بیا خپل لمونځ پوره کړي. **وحین اتمها...** الخ کله چې مسبوق د امام لمونځ پوره کړي او مدرک لاسلام نه وي ګرځولی. **یضره المنافی** ضرر کوي ده لره منافي د لمانځه یعنې که په دغه وخت کې له مسبوق څخه د لمانځه یو منافي عمل موجود شي لکه په زوره خندا یا خبرې کول یا له مسجد څخه وتل نو د مسبوق لمونځ ته هم ضرر کوي یعنې فاسدوي یې. **والاول:** او د امام اول لمونځ هم فاسدوي ځکه دغه منافي عمل د دواړو د لمانځه په منځ کې موجود شو. **الا عند فراغه** مګر د امام اول لمونځ به په هغه صورت کې فاسد نه وي چې امام اول له لمانځه څخه فارغ وي په دې شان چې اودس وکړي او خپل خلیفه یعنې مسبوق راګیر کړي یعنې یو شی هم له ده څخه فوت نشي او خپل لمونځ له خلیفه یعنې مسبوق پسې پوره کړي نو د امام اول لمونځ پوره شو خو د مسبوق لمونځ فاسد شو، ځکه دده د لمانځه په منځ کې منافي عمل موجود شو. لاالقوم او د قوم لمونځ هم نه فاسدیږي ځکه د دوی لمونځ پوره شوی دی.

من رکع او سجد فاحدث او ذکر سجدة فسجدها یعید ما احدث فیه ان بنی حتماً وما ذکرها فیه ندبا ای من احدث فی رکوعه او سجوده وتوضأ وبنی فلابدله ان یعید الرکوع والسجود الذی احدث

فيه وان تذكر في ركوع او سجوده انه ترك سجدة في الركعة فقضاها لايجب عليه اعادة الركوع او السجود الذي تذكر فيه لكن ان اعاد يكون مندوباً.

توضيح المسئله: من ركع... الخ يعني چا چې ركوع يا سجده وكړه او په ركوع يا سجده كې **بې اودسه شو او** بيا يې اودس وكړ نو بناء يې كوله يعني همدغه لمونځ يې پوره كاوه نو وجوباً **به هغه** ركوع يا سجده راګرځوي چې دا په كې بې اودسه شوی دی او ذكر سجدة.... الخ او كه په ركوع يا سجده كې ورته ياد شو چې له مانه په اول ركعت كې سجده پاتې ده او په همدې وخت كې يې اداء كړه نو اوس د هغه ركوع يا سجدې قضاء ورباندې لازم نه ده، چې په كومه كې ورته پاتې شوې سجده ياده شوې وه لكن كه اعاده يې وكړه نو مستحب ده.

وان امر واحداً فاحدث فالرجل امام بلا نية ان كان والا قيل تبطل صلاته اي ان امر واحداً فاحدث الامام فان كان الموتم رجلاً يصير اماماً من غير ان ينوي الامام امامته لان النية للتعين وههنا هو متعين وان كان امرأة او صبياً قيل تفسد صلوة الامام لان المرأة او الصبي صار اماماً له لتعينه وقيل لا تفسد لانه لم يوجد منه الاستخلاف وفي صورة الرجل انما يصير اماماً لتعينه وصلاحيته وههنا لم يصلح فلم يصر اماماً والامام امام كما كان لكن المقتدي بقي بلا امام فتفسد صلاته.

توضيح المسئله: كه څوك د يو كس له پاره امام ؤ او امام بې اودسه شو او د اودس له پاره له جومات څخه بهر لاړو او دغه مقتدي يې خليفه ونه ټاكه نو همدغه سړی يعني دا يو مقتدي امام وګرځېده. بلانية ان كان... الخ يعني بغير له دې نه چې امام دده د امامت نيت وكړي. لان النية.. الخ ځكه نيت د تعين له پاره وي چې مزاحمت ختم شي او په دې ځای كې مزاحمت نشته نو دغه يو مقتدي په خپله متعين شوخو په دې شرط چې دغه مقتدي سړی وي. والا او كه چېرته دغه يو مقتدي سړی نه ؤ مګر زنانه يا ماشوم و نو بيا د امام لمونځ فاسد شو ځكه چې ښځه يا ماشوم دده له پاره امام ګرځي ځكه همدا متعين دی. وقيل.... الخ او ځينې علماء وايي چې د امام لمونځ نه فاسدېږي ځكه امام دغه ښځه يا ماشوم خليفه نه دی ګرځولی. اما كه سړی يې مقتدي وي نو بيا خو هغه ځكه امام ګرځي چې هغه متعين هم وي او صلاحيت د امامت هم په كې وي. وههنا او وينزه او ماشوم كې خو صلاحيت د امامت نشته نو امام ونه ګرځېده نو سابقه امام همغسې امام دی لكه څرنګه چې و مګر مقتدي بلا امامه پاتې شو، نو ددې مقتدي لمونځ فاسد شو.

باب ما یفسد الصلوٰة وما یکره فیها

باب دی په بیان د هغه څه کې چې لمونځ فاسدوي او په هغه څه کې چې په لمانځه کې مکروه دي.

یفسدها الکلام ولو سهواً او فی نوم والسلام عمداً قید بالعمد لان السلام سهواً غیر مفسد لانه من الاذکار ففی غیر العمد یجعل ذکراً وفی العمد کلاماً ورده ولم یقید الرد باالعمد ویخطر ببالی انه انما اطلق لانه مفسد عمداً کان او سهواً لان رد السلام لیس من الاذکار بل هو کلام یخاطب به والکلام مفسد عمداً کان او سهواً.

د لمانځه مفسدات:

د حدث پېښېدل یو اسماني عارض دی او مفسدات عارض کسبي دي او عارض سماوي مقدم وي په عارض کسبي باندې نو په همدې وجه یې بیان د حدث فی الصلوة مقدم کړ او فساد او بطلان په عباداتو کې یو برابر وي. (بحر الرائق دوهم ټوک دریمه صفحه)

یفسدها: لمونځ په دنیاوي خبرو سره فاسدیږي اګر که سهواً هم وي او فی نوم او یا په لمانځه کې په داسې طریقه ویده شي چې لمونځ پرې نه باطلیږي او په خوب کې یې خبرې وکړې نو لمونځ فاسد شو. والسلام..... الخ او قصداً سلام اچول هم لمونځ فاسدوي ځکه دا هم په کلام الناس کې داخل دی. (بحر)

قیدباالعمد: قید د عمد یې ځکه ورسره ولګولو چې په سهواً سلام سره لمونځ نه فاسدیږي ځکه چې سلام من وجه ذکر دی او من وجه کلام دی نو په غیر عمد حالت کې یعنې سهوه او نسیان کې به ذکر ګرځولی شي او په عمد کې به کلام ګرځولی شي نو د ذکر په حالت کې لمونځ نه فاسدوي او د کلام په حالت کې لمونځ فاسدوي. **ورده**: او په خوله سره د سلام ځواب ورکولو سره هم لمونځ فاسدیږي.(بحر الرائق دوهم ټوک ۱۴ صفحه) ولم یقدر الرد باالعمد او جواب ورکولو سره یې قید د عمد ونه لګولو خو زما په زړه کې یوه خبره تیریږي چې دا یې مطلق ځکه ذکر کړو چې د سلام جواب ورکول په خولې سره مفسد د لمانځه دي قصداً وي او که سهواً وي ځکه د سلام جواب ورکول د اذکارو څخه نه دي بلکې دا یوه خبره ده چې خلکو ته پرې خطاب کولی شي او کلام خو مفسد وی قصداً وي او که سهواً وي.

والانین والتأوه والتأفیف وبکاء بصوت من وجع او مصیبة وتنحنح بلا عذر وتشمیت عاطس

وجواب خبر سوءٍ بالاسترجاع وسارٍ بالحمدلة وعجيب بالسبحلة والهيللة.

توضيح المسئله: په ژړا او په آه کولو سره لمونځ ماتيږي. والتاوّه او په اوه ويلو سره **والتأفيف** او په اف کولو سره لمونځ ماتيږي **وبكاء** او په اوچت اواز ژړا کولو سره لمونځ فاسديږي **من وجع** د درد څخه په بدن کې او **مصيبة** يا د مصيبت څخه په مال کې او که ژړا د **جنت** يا دوزخ د يادولو په وجه وه نو بيا لمونځ نه فاسديږي ځکه دا دلالت په عاجزۍ کوي. **وتنحنح** او بلا عذره غاړه تازه کولو سره لمونځ فاسديږي **وتشميت**.... الخ او په څواب ورکولو سره پرنجېدونکي ته لمونځ فاسديږي. **وجواب**.... الخ او د بدخبر په جواب ورکولو سره په انا لله... الخ سره لمونځ فاسديږي. **وسار** او د خوشالۍ د خبر په جواب ورکولو په الحمدلله سره لمونځ فاسديږي، **وعجيب** او د يو نا اشنا خبر په جواب ورکولو په **بالسبحلة** په الحمدلله سره **والهيللة** او په لا اله الاالله سره هم لمونځ فاسديږي. **وفتحه على غير امامه انما قال على غير امامه لان فتحه على امامه لايفسد قال بعض المشائخ اذاقرأ امامه مقدار مايجوز به الصلوة اوانتقل الى اية اخرى ففتح تفسد صلوة الفاتح وان اخذ الامام منه تفسد صلوة الامام ايضاً وبعضهم قالوا لاتفسد فى شئٍ من ذلك وسمعت ان الفتوى على ذلك.**

قوت المغتذين بفتح المقتدين:

بل د مفسداتو د لمانځه څخه فتح ورکول دي غير د خپل امام نه، ددې څو صورتونه جوړيږي ياداچې يو مقتدي بل مقتدي ته فتح ورکړي،يا يو مقتدی منفرد ته فتح ورکړي يا غير لمونځ کوونکي ته فتح ورکړي يا بل امام ته فتح ورکړی وغيره نو په دې ټولو صورتونو کې فتح ورکولو سره لمونځ ځکه فاسديږي چې فتح ورکول يو قسم تعليم او تلقين دی نو دا مشابه د کلام سره شو او خپل امام ته له وجې د ضرورت نه جايز دي، او په غير د ضرورت نه او غير د خپل ځای نه فاسدونکی د لمانځه دي. **انما قال**... شارح رحمه الله فرمايي چې د غير امامه قيد ځکه ولګولو چې خپل امام ته فتح ورکولو سره لمونځ نه فاسديږي.

قال بعض.... الخ بعضې علماء وايي چې که امام هغه اندازه قرأت لوستلی و چې لمونځ پرې روا کيده او يا بل ايات ته منتقل شو او مقتدي فتح ورکړه نو د فتح ورکوونکي لمونځ فاسد شو او که امام ترې فتح واخيسته نو د امام لمونځ هم فاسد شو.

وبعضهم قالوا خو ځينې علماء بيا وايي چې خپل امام ته فتح ورکولو سره په يو صورت

کې هم لمونځ نه فاسديږي.... **وسعمت**... الخ او ما له خپلو استادانو څخه اورېدلي چې فتوا په دې ده چې مطلقاً لمونځ نه فاسديږي له وجې د هغه حديث نه چې ابوداود روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ باندې د قرأت څه خلط راغی، هر کله چې لمانځه څخه فارغ شو نو ابی بن کعب ته يې وويل چې لمانځه کې حاضر وې؟ هغه ورته وويل هو. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې د فتح څخه کوم شي منع کړی وې؟ يعنې ماته به دې فتح راکړې وه.

فصار الحاصل ان الصحيح من المذهب ان الفتح على امامه لايوجب فساد صلاة احد لا الفاتح ولا الآخذ مطلقاً في كل حال. (بحر الرائق، دوهم ټوک ۱۰ صفحه)

وقرأته من مصحف وسجوده على نجس والدعاء بما يُسأل عن الناس نحو اللهم زوجني فلانة او أعطني الف دينار ونحو ذلك واكله وشربه وكل عمل كثير اختلف مشايخنا في تفسير العمل الكثير فقيل هو ما يحتاج فيه الى اليدين وقيل ما يعلم ناظره ان عامله غير مصل وعامة المشايخ على هذا وقيل ما يستكثره المصلي قال الامام السرخسي هذا اقرب الى مذهب ابي حنيفة رح فان دابه التفويض الى رأي المبتلي به.

القول الاشرف في بيان قرأته من المصحف.

وقرانه...الخ او قرأت لوستل دلمونځ کوونکي د قرآنکريم نه يعنې چې مخې ته يې قرآنکريم غوړولی وي او هغې څخه قرأت وايي نو له دې سره لمونځ فاسديږي، ځکه چې له قرآنکريم څخه ويل دا له خارج څخه تلقين دی او له هغې سره لمونځ فاسديږي او د صاحبينو په نزد لمونځ نه فاسدوي خو مکروه دی، **وسجوده**... الخ او په پليت ځای باندې سجده کولو سره لمونځ فاسديږي ځکه پاکوالی د ځای د سجدې شرط دی له پاره د صحت د لمانځه، **والدعاء**..... الخ او په هغه دعا سره لمونځ فاسديږي چې په کومو الفاظو سره چې له خلکو څخه سوال کولی شي لکه داسې چې يا الله ماته فلانۍ ښځه راکړې. يا ماته زر دیناره راکړې وغيره خو دا په هغه صورت کې لمونځ فاسدوي چې د فرائضو له پوره کولو نه مخکې وی اما که له تشهد څخه وروسته وي نو بيا لمونځ نه فاسدوي. بل دا چې له هغو دعاګانو سره هم لمونځ نه فاسديږي چې په قرآن يا احاديثو کې راغلي وي. **واكله وشربه** او په خوراک او څښاک سره هم لمونځ فاسديږي قصداً وي او که سهواً وي. ځکه دا عمل کثير دی او د لمانځه حالت وريادوونکی دی، نو نسيان هم په کې معاف نه ده. **وكل عمل كثير** او هر هغه عمل چې ډېر وي

او د اعمالو د لمانځه څخه نه وي نو دا فاسدونکی د لمانځه دی. اختلف... الخ په عمل کثير کې د علماوو اختلاف دی، شارح په دې کې درې قوله ذکر کړي دي.

۱ فقيل هو... الخ ځينې علماء وايي چې عمل کثير دې ته وايي چې دواړو لاسونو ته په کې ضرورت وي

۲ وقيل ما يعلم بعض علماء وايي چې عمل کثير دې ته وايي چې گمان کوي کتونکي ددې چې دا عمل کوونکی ددې لمونځ کوونکي نه ده، اکثره علماوو دا قول غوره کړی دی.

۳ وقيل ما... الخ بعضې علماء وايي چې عمل کثير دې ته وايي چې په خپله لمونځ کوونکي ته ډېر ښکاره شي، امام سرخسي وايي چې دا قول د امام ابوحنيفه مذهب ته ډېر نژدې دی ځکه د امام صاحب طريقه داده چې خبره به سپارلی شي رايه د مبتلي به ته يعنې هغه چاته چې په خپله په دې مشکل کې اخته وي.

من صلى ركعة ثم شرع صلي كُملاً ان شرع فى اخرى والا اتم الاولى اى صلى ركعة من صلوة ثم شرع اى نوى وجدد التحريمة من غير رفع اليدين فان شرع فى صلوة اخرى يُتم هذه الاخرى ولا يحتسب منها الركعة التى صلاها محسوبة فيتم الاولى.

توضيح المسئله: که يو کس يو رکعت لمونځ وکړي مثلاً د ماسپښين ثم شرع بيا يې شروع وکړه يعنې نيت يې په زړه سره وکړو او تحريمه نوی کړې بې له لاسونو پورته کولو څخه صلی کاملاً نو پوره لمونځ به اداء کړي. ان شرع... الخ که په بل لمانځه کې يې شروع کړې وه. مثلاً د مازيگر په لمانځه کې يا په نفلو کې د پوره لمونځ دا معنا چې مخکنی رکعتُ به حسابولی نشي. والاتم... الخ او که په بل لمانځه کې يې شروع کړې نه وه بلکې په هم‌هغه مخکني لمانځه کې يې تحريمه نوې کړه نو صرف اولنی لمونځ به پوره کړي يعنې هغه مخکنی رکعت به حسابولی شي.

ولا يفسدها بكاؤه من ذكر الجنة او النار والعمل القليل وهو ضد الكثير على اختلاف الاقوال ومرور احد ويأثم ان مرّ فى مسجده على الارض بلا حائل المسجد من الالفاظ التى جاءت على المفعل بالكسر ويجوز فيها الفتح على القياس فالفقهاء اذا قالوا بالفتح ارادوا موضع السجود وان قالوا بالكسر اراد المعنى المشهور فانهم لم يجد الكسر وهو خلاف القياس الا فى المعنى المشهور ففى المعنى الاول استمر واعلى القياس والمراد من المسجد ههنا موضع السجود فان المرور فى موضع السجود يوجب الاثم.

توضيح المسئله: او د لمونځ کوونکي په هغه ژړا سره لمونځ نه فاسديږي چې د وجې د

يادولو د جنت يا جهنم څخه وي ، ځکه دا ژړا دلالت په خشوع او عاجزی کوي. **والعمل القليل** او په لږ عمل سره لمونځ نه فاسديږي. عمل قليل دې ته وايي چې د عمل کثير د درې وارو اقوالو ضد وي. **ومرور احد..... الخ** او نه فاسدوي لمونځ د لمونځ کوونکي په تېرېدلو د يو کس سره يعنې که د لمونځ کوونکي مخې ته څه شي تير شي، مثلاً سړی يا ښځه يا يو حيوان نو دده لمونځ نه فاسديږي.

ويأثم..... الخ خو تېرېدونکی انسان که د لمونځ کوونکي د سجدې په ځای په ځمکه تير شي او په منځ کې څه پرده هم نه وي لکه ستن وغيره نو دغه تېرېدونکی ګناه ګار شو.

المسجد: مسجد لفظ په کسری د جيم سره په وزن د مفعِل په کسری د عين سره مخالف القياس راغلی او په فتحې د جيم سره موافق القياس راغلی او په فتح د جيم سره موافق القياس دی، نو فقهاء چې کله په مسجد باندې په فتحې د جيم سره تلفظ کوي نو د دوی مراد ددې څخه ځای د سجدې وي او که د مسجد لفظ په کسري د جيم سره وايي نو د دوی مراد بيا هغه معنا مشهوروي چې جماعت ته وايي ځکه علماوو کسره د جيم چې خلاف القياس ده د معنا مشهور څخه ماسوا بل ځای کې موندلې نه ده. نو له همدې پورې خاص شوه او اوله معنا چې ځای د سجدې ده د قياس مطابق ده چې فتح د عين ده او د باب د نصر ينصر څخه ده.

نو په متن کې له مسجد نه مراد ځای د سجدې دی ځکه په ځای د سجدې کې تېرېدلو سره ګناه ده.

وفى تفسير موضع السجود تفصيل فاعلم ان الصلوة ان كانت فى المسجد الصغير فا المرور امام المصلى حيث كان يوجب الاثم لان المسجد الصغير مكان واحد فامام المصلى حيث كان فى حكم موضع سجوده وان كانت فى المسجد الكبير اوفى الصحراء فعند بعض المشائخ ان مر فى موضع السجود يأثم والا فلا وعند البعض الموضع الذى يقع عليه النظر اذا كان المصلى ناظراً فى موضع سجوده له حكم موضع فان كان موضع المصلى على دُكان ويمر الاخر امامه تحت الدكان فلا شك انه لم يمر فى موضع سجوده حقيقة فلا يأثم على الرواية الاولى واما على الثانية فالمار تحت الدكان ان مر فى موضع النظر اذا نظر فى موضع السجود فح ان حاذى بعض اعضاء المار بعض اعضاء المصلى يأثم والا فلا فلهذا قال وحاذى الاعضاء لاعضاء لوكان على دكان اخذاً بالرواية الثانية.

عون المعبود فى تفسير موضع السجود: شارح وايي چې د موضع السجود په بيان کې څه تفصيل شته، که په وړوکي جوماتو کې يې لمونځ کاوه نو د لمونځ کوونکي مخې ته يعنې د

پښو څخه تر د قبلې د دیوال پورې تېرېدلو کې ګناه شته، وړوکی مسجد دې ته وايي چې د څلوېښتو ګزو مربع څخه وړوکی وي. لان المسجد ځکه وړوکی مسجد په منزله د مکان واحد کې دی. فامام المصلی نو د لمونځ کوونکي مخه څومره چې وي په حکم د موضع السجود کې ده او که په لوی مسجد یا صحرا کې يې لمونځ کاوه نو د ځینې علماوو په نزد که د سجدې په ځای کې تیر شي نو ګناهګاریږي او که د سجدې په ځای کې تېر نشي نو بیا نه ګناهګاریږي. وعند البعض: او ځینې علماء وائی هغه ځای چې د لمونځ کوونکي نظر ورباندې لګیږي. کله چې لمونځ کوونکی خپل ځای د سجدې ته وګوري نو دغه ځای لره حکم د موضع السجود دی، نو په دې ځای کې تیرېدلو سره ګناه ده، اذا عرفت.... الخ شارح وايي کله چې په دې تفصیل پوه شوې نو که لمونځ کوونکی په دوکان کې ولاړ و او بل کس له دوکان څخه لاندې دده مخې ته تېرېدلو نو د اول تفسیر مطابق دغه تېرېدونکی نه ګناهګاریږي ځکه دا حقیقة په موضع السجود کې تېر نه شو او د دویم تفسیر مطابق نو تېرېدونکی لاندې د دوکان څخه که په هغه ځای کې تیر شي چې د لمونځ کوونکي نظر ورباندې ولګیږي په هغه صورت کې چې لمونځ کوونکی خپل د سجدې ځای ته نظر کوي. فح... الخ نو په دې وخت کې بعضې اندامونه د تېرېدونکي د بعض اندامونو د لمونځ کوونکي سره برابر شي نو ګناهګاریږي. او که برابر نشي نو نه ګناهګاریږي، فلهذا نو له همدې وجې څخه مصنف وویلې چې وحاذی الاعضاء.... الخ نو مصنف هم په دویم روایت باندې عمل وکړو اول روایت نه مراد فعند بعض المشایخ.... الخ دي او د دویم روایت نه مراد وعند البعض... الخ دی. لکه بحر الرائق هم همدې ته ترجیح ورکړې، **فحاصل المذهب علی الصحیح ان الموضع الذی یکره المرور فیه هو امام المصلی فی مسجد صغیر وموضع سجوده فی مسجد کبیر او فی الصحراء او اسفل من الدکان امام المصلی لو کان یصلی علیها بشرط محاذاة اعضاء المار اعضاءه.**

ویغرز امامه فی الصحراء سترة بقدر ذراع وغلظ اصبع بقربه علی احد حاجبیه ولا توضع ولا یخط ویدرأه بالتسبیح او الاشارة لا بهما ان عدم سترة او مر بینه وبینها وکفی سترة الامام وجاز ترکها عند عدم المرور والطریق.

ابلاغ السنة فی بیان السترة: یغرز، ښخ به کړي سترة هغه شی چې ځای پرې پټولی شي خو دلته تري هغه شی مراد دي چې لمونځ کوونکي مخې ته درول کیږي، غلظ اصبع په اندازه د غټې والی د ګوتې ، ویدرأه دفع به کړي یعني منع به کړي. حاصل د خبرې دادی چې په صحرا

کې که لمونځ کوي خپلې مخې ته به ستره خښه کړي. **بقدر ذراع** او ږدوالی د سترې به په اندازه د یو ګز وي. **وغلظ اصبع** او پلن والی د سترې به د یوې ګوتې په اندازه وي. **بقربه** مونځ کوونکی ته به نژدې وي **علی احد...** الخ یو وریځې یعنې سترګې ته به مخامخ وي ښۍ وریځې ته یا چپې وریځې ته. **ولا توضع** او ستره به په ځمکه نه اچوي بلکه دروي به یې ځکه چې په اچولو سره مقصود نه حاصلیږي.

ولا یخط او نه به د سترې په ځای خط راکاږي ځکه چې په خط راکاږلو سره مقصود نه حاصلیږي. **ویدرأه...** الخ که د لمونځ کوونکي مخې ته ستره نه وه یا وه خو یو تېرېدونکی د سترې څخه د لمونځ کوونکي خواته تیر شو نو دا لمونځ کوونکی به دا تېرېدونکی منع کړي په تسبیح یا سبحان الله ویلو سره یا په اشارې کولو سره. په دې دواړو کې لمونځ کوونکی اختیار مند دی **لابهما** خو په تسبیح او اشارې دواړو سره به یې نه منع کوي ځکه چې یو کافي دی او له ضرورت نه زیات عمل مکروه دی او که لمونځ کوونکې زنانه وه نو هغه به تېرېدونکی په تصفیق سره منع کوي یعنې له یو لاس سره به د بل لاس څخه ټک وباسي او تسبیح به نه وایي او نه به اشاره کوي خو که تسبیح یې وویلې یا یې اشاره وکړه نو لمونځ یې نه فاسدیږي خو په سنتو عمل رانغی.

وکفی سترة الامام... الخ که په جمع سره یې لمونځ کاوه نو امام به صرف ستره ودروي او د امام ستره د قوم له پاره کافي ده، **وجاز ترکها...** الخ که داسې ځای کې یې لمونځ کاوه چې هیڅوک نه تېرېدل یا لاره بالکل نه وه نو د سترې پرېښودل هم جایز دي ځکه ضرورت ورته نشته، خو سره له دې نه بیا درول هم غوره دي.

وکره سدل الثوب فی المغرب هو ان یرسله من غیر ان یضم جانبیه وقیل هو ان یلقیه علی رأسه ویرخیه علی منکبیه اقول هذا فی الطیلسان اما فی القبا ونحوه فهو ان یلقیه علی کتفیه من غیر ان یدخل یدیه فی کمیه ویضم طرفیه وکفه وهو ان یضم اطرافه اتقاء التراب ونحوه وعبثه به وبجسده وعقص شعره فی المغرب هو جمع الشعر علی الرأس وقیل لیه وادخال اطرافه فی اصوله.

میزان العدل في بیان السدل: او سدل یعنې ځوړندول د جامې مکروه دي، په مغرب کتاب کې راغلي چې سدل دې ته وایي چې په ځان جامه راواچوي او دواړه طرفونه یې خوشې کړي، اما که یو طرف یې په اوږه واچوي نو دا بیا سدل نه دی، **وقیل هو** بعض علماء وایي چې سدل

دې ته وايي چې په سر باندې جامه واچوي **ويرخيه** او په اوږو باندې يې زوړند کړي. اقول... الخ شارح رحمه الله وايي چې دغه دوه تفسيره خو صرف په څادرونو او دسمالونو کې راځي.

طيلسان څادرونه: **اما في القباء** او دغه دوه تفسيره په چپن کې نه راځي ځکه په چپن کې سدل دادی چې په اوږو باندې راواچوي او په لستوڼو کې لاسونه ورداخل نه کړي او نه يې طرفونه خان ته راجمع کړي.

وکفه او مکروه دي راټولول د جامې يعني کوم وخت کې چې سجدې ته ښکته کيږي او خپله جامه له مخکې طرف نه ياله وروسته طرفنه راټولوي، ددې له پاره چې په خاورو ککړه نشي نو دا مکروه ده، **وعبثه** او په جامه يا بدن باندې لوبې کول مکروه دي، **وعقص شعره** او غوټه کول د ويښتانو مکروه دي، په مغرب کتاب کې راغلي چې عقص دېته وايي چې د سر په منځ ويښتان راجمع کړي **وقيل ليه** او بعض علماء وايي چې تاوول د ويښتانو او سرونه د ويښتانو داخلول په بيخونو د ويښتانو کې دېته عقص وايي، ددې منع ځکه حکمت دادی چې د انسان سره دده ويښتان هم سجده وکړي. (بحرالرائق دوهم ټوک ۴۱ مخ)

وفرقعة اصابعه هو ان يغمزها او يمدها حتى تصوت والتفاته وهو ان يتظر يمنة ويسرة مع لي عنقه واما النظر بمؤخر عينه بلالي العنق فلا يكره وقلب الحصى يسجد الامرة وتخصره اي وضع اليد على الخاصرة وتمطيه اي تمدده واقعاوه وهو القعود على اليتيه ناصبا ركبتيه وافترش ذراعيه وتربعه بلا عذر.

توضيح المسائل: **وفرقعة اصابعه** او مکروه دی ټکونه ويستل د ګوتو ځکه. **هوان يغمزها** دا د فرقعة تفسير دی چې فرقعت دې ته وايي چې ګوتې زور کړي او يا يې کش کړي تر دې پورې چې اواز وکړي. **والتفاته** او کتل په لمانځه کې مکروه دي. **وهوالتفات** دېته وايي چې ښي او چپ طرف ته وګوري مع لي عنقه سره د تاوولو د غاړې نه واما النظر او د سترګو په کونجونو کتل بې له غاړې تاوولو ځکه مکروه نه دي.

مؤخر عينيه د سترګو هغه کونجو ته وايي چې غوږ طرفته وي او موق د سترګو هغو کونجونو ته وايي چې پوزې طرف ته وي، نو التفات په درې قسمه دی. ۱: که له کتلو سره يې ښي يا چپ طرف ته يې سينه هم تاو کړه نو دې سره لمونځ فاسديږي. ۲ او که مخ يې وګرځاوه بيا مکروه ده. ۳: چې مخ ونه ګرځوي خو د سترګو په کونجو سره وګوري نو دا مکروه نه ده. وقلب الحص..... الخ او اړول د شګو د سجدې کولو له پاره مکروه دي، مګر يو کرت مکروه نه

دي. هغه هم په هغه صورت کې چې سجده په هغه ځای کې نشي کيدای.

وتخصره او په تشي کې لاسونه اېښودل هم مکروه دي، **وتمطيه** او غزونکې کول مکروه دي يعنې ناراستي ويستل مکروه دي، واقعاؤه او د سپي په شان کېناستل مکروه دي، **وهوالقعود اقعاء** دېته وايي چې په کوناټيو باندې کيني او زنگنونه ودروي **وافترش ذراعيه** او غوړول د متيو دي يعنې چې په حالت د سجده کې وغوړولې او د ځمکې څخه يې نه اوچتوي، **وتربعه** او بلاعذره پلتۍ وهل مکروه دي.

وقيام الامام في طاق المسجد اى في المحراب بأن يكون المحراب كبيراً فيقوم فيه وحده او على دكان اوالارض وحده اى يقوم الامام على الارض والقوم على الدكان او بالعكس والقيام خلف صف وجد فيه فرجة وصورة اى صورة الحيوان امامه او بحذائه اى على احد جنبيه او في السقف او معلقة فان كانت خلفه او تحت قدميه لايكره وصلاته حاسراً راسه للتكاسل او للتهاون بهاليس المراد بالتهاون الاهانة بالصلوة فانها كفر بل المراد قلة رعايتها ومحافظة حدودها لا للتذلل وفي ثياب البذلة وهي مايلبس في البيت ولا يذهب بها الى الكبراء ومسح جبهته من التراب فيها.

ايضاح المسائل: وقيام الامام او د امام اودرېدل د مسجد په محراب کې مکروه دي، يعنې چې محراب لوی وي او امام يواځې په کې ودرېږي نو دا مکروه ده ځکه دا مشابهت د اهل کتابو سره راځي. (بحرالرائق دوهم ټوک ۴۵ صفحه)

اما که د محراب څخه امام بهر و خو سجده يې په محراب کې کوله نو بيا دا مکروه نه ده او على دکان....الخ او دا مکروه ده چې امام په دوکان يا ځمکه يواځې وي يعنې چې امام يواځې په ځمکه اودرېږي او قوم په دوکان کې ودرېږي او يا امام په دوکان کې ودرېږي او قوم په ځمکه باندې ولاړ وي نو دا هم مکروه ده.

والقيام... الخ او د هغه صف څخه وروسته اودرېدل مکروه دي چې په هغې کې خالي ځای وي. وصورة... الخ تمثال خاص دی د تصوير د ذی روح پورې او صورت عام دی شامل دی ذی روح لره او غير ذی روح لره خو مکروه والی صرف په ذی روح کې دی نو د همدې وجې څخه شارح د صورت تفسير وکړو په اي صورة حيوان سره يعني لمونځ مکروه دی په هغه صورت کې چې تصوير د لمونځ کوونکي مخې ته وي او **بحذائه** او يا په څنګ دده کې وي، ښي طرفته يا چپ طرفته او **في السقف** يا په سر له پاسه دده په چت کې تصوير وي او **معلقة** او يا

تصوير په چت يا پرده کې زوړند وی نو لمونځ مکروه دي، **فان کانت** او که تصوير دده شاته وي يا د پښو څخه لاندې وي نو بيا لمونځ مکروه نه دی، مګر که د سجدې په ځای کې وه نو بيا مکروه دی وجه د کراهت داده چې په دې کې مشابهت د عبادت د بتانو سره راځي. وصلوته حاسراً او مکروه ده لمونځ په لوڅ سر سره، التکاسل د وجې د سستی څخه او **للتهاون** يا دبی پروائي د وجې څخه د لمانځه نه. د تهاون څخه اهانت او سپک والی د لمانځه مراد نه دی ځکه اهانت د لمانځه خو کفر دی، مګر ددې څخه مراد د لمانځه پروا نه ساتل دي او نه د لمانځه د حدودو ساتنه کول دي، **لاللتذلل** په لوڅ سر سره لمونځ کول مکروه نه دي چې د وجې د خشوع او عاجزی څخه وي.

وفی ثياب البذلة: او په هغه جامو کې لمونځ مکروه دی چې د خدمت او کاروبار له پاره وي، وهی شارح ددې تفسير داسې کوي چې په کور کی اغوندي خو لويو مجلسونو او لويو خلکو ته په کې نه ځي يعنې هلته په دې کې شرميږي وجه د کراهت داده چې په دې کې د لمانځه اهتمام ترک کيږي خو دا کراهت په هغه صورت کې ده چې نورې جامې لري او که نورې جامې نه لري نو بيا مکروه نه ده. ومسح الجبهة او مکروه ده پاکول د تندي د خاورې څخه په لمانځه کې ځکه رسول الله ﷺ ددې څخه منع کړې لاتمسح الحصی وانت تصلی.

والنظر الی السماء والسجود علی کور عمامة وعدی الای والتسبيح فيها ولبس ثوب ذی صورة والوطئ والبول والتخلي فوق المجسد وغلق بابه لانقشه بالجص والساج وماء الذهب وقيامه فيه ساجداً في طاقه وصلاته الی ظهر قاعد يتحدث الا اذا رفع صوته بالحديث لانه ربما يصير ذلک سبباً لقطع الصلوة وعلی بساط ذی صورة لايسجد عليها وصورة صغيرة لا تبدوللناظر وتمثال غير حيوان او حيوان محی رأسه وقتل حية اوعقرب فيها والبول فوق بيت فيه مسجد ای مکان أُعد للصلوة وجعل له محراب وانما قلنا هذا لانه لم يُعط له حکم المسجد.

ايضاح البيان: والنظر او په لمانځه کې اسمان ته کتل مکروه دي ځکه په دې کې ترک د خشوع راځي او بې ادبي هم راځي او د سترګو نظر هم ورسره ختميږي. لکه څرنګه چې په حديث شريف کی ددی څخه منع راغلی ده والسجود.... الخ او د پټکي په ول باندې لمونځ مکروه دی يعنې چې ول په داسې طريقه وي چې نه تندی په ځمکه لګيږي او يا نه تندي ته زور ورځي او که تندي ته زور ورشي نو بيا مکروه نه ده نوره خبره مونږ مخکې بيان کړې وه، وعد

الاي او شمیرل د ایاتونو او تسبیحاتو په لمانځه کې مکروه دي په ژبه سره شمیرل لمونځ فاسدوي او په ګوتو سره شمیرل مکروه دي او صرف ګوتې زور کولو سره یا په زړه کې ساتلو سره مکروه نه ده او د لمانځه څخه خارج په یوه طریقه هم د ذکر شمارل مکروه نه دي، **ولُبس**.... الخ او مکروه دي اغوستل د هغې جامې چې هغې کې تصویران وي، که په جیب کې یا بټوه کې تصویران وي نو پروا نه لري. (خلاصة) بحر الرائق دوهم ټوک ۴۸ صفحه)

والوطی...... الخ او وطې کول، **والبول** او تشې متیازې کول، **والتخلی** او ډکې متیازې کول مکروه دي، **فوق المسجد** د مسجد له پاسه ځکه دا هم په حکم د مسجد کې دي، **وغلق بابه** او مکروه دي بندول د دروازې د مسجد ځکه دا مشابه کیږي د منع کولو د لمانځه سره خو که ویره ددې وي چې د مسجد سامان به ورک شي نو بیا د لمانځه وخت نه ماسواء د دروازو بندول مکروه نه دي. **لانقشه بالجص**.... الخ مصنف رحمه الله هرکله چې د مکروهاتو د لمانځه څخه فارغ شو نو شروع یې وکړه په هغه څه کې چې په لمانځه کې مکروه نه دي نو ویې ویل چې لانقشه یعنې مکروه نه ده نقش کول او ښایسته کول د مسجد په ګچ باندې **والساج** او په ساج لرګي باندې هم نقش کول جائز دي، ساج د لرګي یو قسم ده، ساج یو قسم ونه ده چې ډېره زیاته لوئیږي طولاً او عرضاً او غټې پاڼې لري. (معجم الوسیط ۴۶۰ صفحه) **وماءالذهب** او په اوبو د سرو زرو سره هم د مسجد ښایسته کول جائز دي **وقیامه** او مکروه نه ده اودرېدل د امام په مسجد کې په داسې حالت کې چې سجده په محراب کې کوي ځکه په دې حالت کې مشابهت د اهل کتابو سره نه راځي، **وصلاته** او مکروه نه ده لمونځ د لمونځ کوونکي شا د هغه سړي ته چې ناست وي او خبرې کوي مګر که په اوچت اواز سره یې خبرې کولې نو بیا مکروه ده ځکه ډېر کرتې بیا دا خبرې سبب د قطع کېدلو د لمانځه ګرځي، **وعلی بساط** او په هغه فرش باندې لمونځ مکروه نه دی چې په هغې باندې د حیوان تصویرونه وي او که د سجدې په ځای تصویر و نو بیا مکروه ده، **وصورة** او هغه تصویر مکروه نه دي چې داسې وړوکی وي چې کتونکي ته نه ښکاره کیږي یعنې داسې تصویر په حکم د بت کې نه راځي **وتمثال** هغه بتانو ته ویل کیږي چې د تیږو او قلعی څخه جوړ شوی وي نو د غیر حیوان عکسونه لکه د ونې، ګلانو وغیره په کور کې مکروه نه دي، همدا رنګه د هغه حیوان چې سر یې وران شوی وي تصویر مکروه نه دی، **وقتل حیة** او مکروه نه دي وژل د مار یا لړم په لمانځه کې کله چې ویره د ضرر وي.

والبول او د هغه کور له پاسه متیازې کول مکروه نه دي چې په هغې کې مسجد وي يعنې هغه ځای چې د لمانځه له پاره تيار شوی وي او محراب ورته جوړ شوی وي وانما قلنا هذا او مونږ د جواز حکم په دې ځکه وکړو چې دې لره حکم د مسجد نشته، ځکه د کور د خرڅولو سره ددې خرڅول هم جائز دي.

باب الوتر والنوافل

دا باب دی په بیان د لمانځه د وتروکې او د نفلوکې

وتر په لغت کې طاق ته وايي چې ضد د جفتو راځي خو په باب د لمانځه کې ترې مراد هغه درې رکعته لمونځ دی چې د ماخوستن د لمانځه څخه وروسته اداء کيږي او نفل په لغت کې زيادت ته وايي او شرعاً هغه لمونځ ته وايي چې الله ﷻ زمونږ له پاره روا کړی نه فرض دی او نه واجب دی چونکې وتر غوره ؤ د نفلو څخه ځکه وتر واجب دي نو مصنف رحمه الله وتر مقدم کړل **الوتر ثلث رکعات وجبت هذا عند ابی حنیفة واما عندهما وعند الشافعی فهو سنة بسلام ای بسلام واحد خلافاً للشافعی رحمه الله فان القنوت عنده بعد الرکوع ویکبر رافعاً یدیه ثم یقنت فیه ابداً خلافاً للشافعی فان قنوت الوتر عنده فی النصف الاخیر من رمضان فقط دون غیره خلافاً للشافعی رحمه الله فی الفجر ویقرأ فی کل رکعة منه الفاتحة وسورة ویتبع القانت بعد رکوع الوتر لا القانت فی الفجر بل یسکت ای ان قرأ الامام قنوت الوتر بعد الرکوع یتبعه المقتدی وان قنت الامام فی الفجر لا یتبعه المقتدی بل یسکت والاصح انه یسکت قائماً.**

نزهة الفکر فی بیان الوتر:

وتر درې رکعته واجب دي. امام ابوحنيفه رحمه الله په خپل سند سره روايت کړی چې رسول الله ﷺ به د وترو په اول رکعت کې سبح اسم ربک الاعلی ویلې او په دويم رکعت کې قل یاایها الکفرون ويلې او په دريم رکعت کې قل هو الله احد ويلې. بي بي عايشه رضی الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به درې رکعته وتر کول او سلام به يې په اخر کې ګرځاوه. هذا دا وجوب د امام ابوحنيفه رح په نزد دی اما د امام شافعي رحمه الله او د صاحبينو په قول وتر سنت مؤکد دي.

بسلام په يو سلام سره به وي يعنې په منځ کې به سلام نه ګرځوي بلکې په اخر کې به سلام ګرځوي، **خلافاً للشافعی** د امام شافعی په يو قول کې داسې دي چې وتر به په دوه سلامونو سره کوی يعنی د دوو رکعتونو څخه به وروسته کله چې تشهد ووايي سلام به وګرځوي او بيا به يو

رکعت وکړي، دويم قول د امام شافعي زمونږ په شان دی، دريم قول کې لمونځ کوونکی اختيار مند دی چې په يو سلام سره وتر کوي او که په دوه سلامونو سره **ويقنت** او په دريم رکعت کې د لاسونو پورته کولو نه وروسته د رکوع نه مخکې به دعا قنوت ووايي يعنې اللهم انا نستعينک.... الخ يا **اللهم اهدني فيمن هديت**.... الخ يا **اللهم ربنا اتنا الخ يا اللهم اغفرلي** درې کرتې يا رب درې کرتې ووايي خو د امام شافعي رحمه الله په نزد به دعاء قنوت د رکوع څخه وروسته وايي، **ويكبر** او تكبير به ووايي په داسې حالت کې چې پورته کوونکی د لاسونو وي. **ثم يقنت** بيا به دعاء قنوت په وترو کې د هميشه له پاره وايي يعنې په ټول کال کې به يې وايي **خلافاً للشافعي** د امام شافعي په نزد به دعاء قنوت صرف د رمضان په اخرني پنځلس ورځو کې وايي په نورو ورځو کې به يې نه وايي. **دون غيرة** د وترو نه بغير په نورو لمونځونو کې به دعاء قنوت نه وايي، **خلافاً للشافعي** د امام شافعي په نزد به دعاء قنوت د سبا په لمانځه کې د دويم رکعت د رکوع څخه وروسته وايي. **ويقرأ** او د وترو په هر رکعت کې به فاتحه او يو سورت وايي **ويتبع** که يو حنفي سړی د يو داسې کس پسې اقتداء وکړه چې هغه په وترو کې د رکوع څخه وروسته دعا قنوت ويلی نو دا حنفي به دده تابعداري کوي. **لا القانت** او که حنفي سړي د داسې کس پسې اقتداء وکړه چې په سبا لمانځه کې دعاء قنوت وايي نو دده تابعداري به نه کوي بلکه چپ به شي. خو پوښتنه داده چې په ولاړه به چپ کيږي او که کيني به، يو قول دادی چې کيني به خو دا قول ضعيف دی، صحيح قول دادی چې په ولاړه به چپ دريږي.

وسن قبل الفجر وبعد الظهر والمغرب والعشاء ركعتان وقبل الظهر والجُمعة وبعدها اربع بتسليمة وحُبب الاربع قبل العصر والعشاء وبعده وكره مزيد النفل على اربع بتسليمة نهاراً وعلى ثمان ليلاً والاربع افضل في الملوين وفرض القرأة في ركعتى الفرض وكل من الوتر والنفل ولزم اتمام نفل شرع فيه قصداً احترازعن الشروع ظناً كما اذا ظن انه لم يصل فرض الظهر فشرع فيه فتذكر انه قد صلاه صار ما شرع فيه نفلا لايجب اتمامه حتى لو نقضه لايجب القضاء ولو عند الطلوع والغروب

القرب الى الله في سنة رسول الله.

وسن.... الخ مصنف رحمه الله چې هرکله د بيان د واجبو څخه فارغ شو نو شروع يې وکړه په سنت مؤکد باندې نو سنت کړای شوی. مخکې د سبا د لمانځه څخه او وروسته د ماسپښين د لمانځه څخه او وروسته د ماښام د لمانځه څخه او وروسته د ماخوستن له لمانځه څخه دوه

رکعته او د ماسپښین له لمانځه څخه مخکې څلور رکعته او د جمعې د لمانځه څخه مخکې څلور رکعته او د جمعې د لمانځه څخه وروسته څلور رکعته په یو سلام سره سنت دي، **وحُبب الاربع** بیان د مستحباتو کوي چې مستحب دی څلور رکعته مخکې دمازیګر څخه او څلور رکعته مخکې له ماخوستن څخه او څلور رکعته وروسته د ماخوستن څخه. **وکره مزید النفل... الخ** د ورځې په نفلو کې د څلور رکعتو څخه زیات په یو سلام سره مکروه ده او د شپې په نفلو کې د اتو رکعتونو څخه زیات په یو سلام سره مکروه ده، **والاربع** او څلور رکعته په یو سلام سره غوره دي. **فی الملوین** په شپه او ورځ کې دا د امام صاحب په نزد باندې اما د صاحبینو په نزد د شپې دوه دوه رکعته غوره دي.

وفرض القرأة او قرأت فرض کړای شوی په دوه رکعتونو دفرضو کی اولنی وی کې او که اخرني وي خو تعین د اولنیو دوو رکعتونو د قرأت له پاره واجب دي او د وترو او نفلو په ټولو رکعتونو کې قرأت فرض دي څکه هره شفعه ځانته لمونځ دی، **ولزم اتمام** او لازم دي پوره کول د هغه نفلو چې په هغې کې قصداً شروع وکړي په قصداً سره احتراز دي د هغه شروع نه چې ظناوي مثلاً دا ګمان یې وکړو چې ما د ماسپښین فرض نه دي کړي او شروع یې په کې وکړه، وروسته وریاد شو چې ما خو د ماسپښین فرض کړیدي نو دغه لمونځ دده نفل وګرځېده ددې پوره کول پده واجب نه دي تر دې که مات یې کړي نو قضاء یې وربانديې واجب نه ده.

ولوعند یعنې د نفلو پوره کول وربانديې لازم دي، اګر چې شروع په نفلو کې په وخت د لمر ختلو او لمر ډوبېدلو کې وي.

وقضی رکعتان لونقض فی الشفع الاول اوالثانی یعنی شرع فی اربع رکعات من النفل وافسدها فی الشفع الاول یقضی الشفع الاول لا الثانی خلافاً لابی یوسف رحمه الله لانه لم یشرع فی الشفع الثانی وان قعد علی الرکعتین وقام الی الثالثة وافسدها یقضی الشفع الاخیر فقط لان الاول قد تم وهذا ابناءً علی ان کل شفع من النفل صلوة علی حدة.

ایضاح البیان: وقضی.... الخ او قضی به راوړلی شي د دوو که لمونځ یې فاسد کړو په اوله شفع کې یا په دویمه کې یعنې په څلورو رکعتونو نفلو کې شروع وکړه او په اوله شفع کې دغه لمونځ فاسد کړو نو د امام ابوحنیفه او امام محمد رحمه الله په نزد به د اولې شفع قضاء راوړي د دریمې شفعې قضاء وربانديې نشته، **خلافاً لابی یوسف** د امام ابو یوسف په نزد به د څلورو

ركعتونو قضاء راوړي ځكه كله چې ده د څلورو ركعتونو نيت وكړ نو اوس ورباندې ددې پوره كول لازم دی، خو طرفين وايي چې په شروع سره هغه لازميږي چې په هغې سره يې شروع كړې وي او هغه څه چې د هغې نه بغير صحت نه وي لكه دويم ركعت چې اوله شفعه بغير د دويم ركعت څخه نه صحيح كيږي او صحت د شفع اول تعلق نه لري د دويمې شفع پورې نو په اوله شفعه كې شروع كولو سره نه لازميږي، شروع په دويمه شفعه كې نو د دويمې شفعې قضاء به هلته لازميږي چې شروع په كې وشي، وان قعد... الخ او كه د دوو ركعتونو څخه وروسته يې قعده وكړه او دريم ركعت ته پاڅېده او دغه دريم ركعت يا څلورم ركعت يې فاسد كړ نو صرف د دويمې شفعې قضاء به راوړي ځكه اوله شفعه پوره شوې ده خو كه د دوو ركعتونو څخه وروسته يې قعده ونه كړه نو بيا ورباندې د څلورو واړو ركعتونو قضاء لازم ده. وهذا بناء او دا د يوې شفع قضاء راوړل صرف په دواړو صورتونو كې مبنى ده په دې خبره چې هره شفعه د نفلو خاتته لمونځ دی.

كما لو ترك قرأة شفعيه اوالاول اوالثانی اواحدی الثانی اواحدی الاول اوالاول واحدی الثانی لاغيره ای قضاء الركعتين ليس فی غير هذه الصور واربع لو ترك القرأة فی احدی كل شفع اوفی الثانی واحدی الاول.

توضيح المسئله: كما لو ترك..... الخ لكه د دوو ركعتونو قضاء چې راوړلی شي په هغه صورت كې چې په دواړو شفعو كې قرأت د قرآن باالكل پريږدي. **اوالاول** يا د اولې شفعې قرأت باالكل پريږدي او **الثانی** يا د دويمې شفعې قرأت باالكل پريږدي او **احدی الثانی** يا د دويمې شفعې په يو ركعت كې قرأت پريږدي او **احدی الاول** يا د اولې شفعې په يو ركعت كې قرأت پريږدي او **الاول واحدی الثانی** يا د اولې شفعې قرأت پريږدي او د دويمې شفعې په يو ركعت كې پريږدي نو په دې ټولو صورتونو كې د دوو ركعتونو قضاء شته. **لاغير** ددې صورتونو څخه بغير په نورو صورتونو كې د دوو ركعتونو قضاء نشته.

واربع..... الخ او د څلورو ركعتونو قضاء به لازم وي كه د هرې شفعې په يو ركعت كې قرأت پرېښوده او **فی الثانی واحدی الاول** يائی په دويمه شفعه كې قرأت پرېښوده او د اولې شفعې په يو ركعت كې پرېښوده نو په دې دوو صورتونو كې د څلورو ركعتونو قضاء لازم ده.

فاعلم ان الاصل عند ابی حنيفة ان ترك القرأة فی ركعتی الشفع الاول يبطل التحريمة حتی

لايصح بناء الشفع الثاني على الشفع الاول وفي ركعة واحدة لابل يفسد الاداء فيصح بناء الشفع الثاني وعند محمد رحمه الله الترك في ركعة واحدة يبطل التحريمة ايضاً حتى لايصح بناء الشفع الثاني وعند ابي يوسف لايبطل التحريمة اصلاً بل يوجب فساد الاداء فقط فيصح بناء الشفع الثاني سواء ترك القرأة في ركعة من الشفع الاول اوفي ركعتيه.

ايضاح البيان: كوم اختلاف چې مخكې تير شو په بعض صورتونو كې د څلورو ركعتونو قضاء لازميږي او په بعضو كې د دوو قضاء لازميږي، دغه اختلاف زمونږ د امامانو ترمنځ په يوه بله قاعده مبنى دى هغه داسې چې د امام محمد رحمه الله په نزد ترك د قرأت په دواړو ركعتونو د شفعې كې يا په يو ركعت د شفعه كې واجبوي بطلان د تحريمې چې تحريمه باطله شوه نو په دويمه شفعه كې شروع صحيح نه شوه نو په افساد سره قضاء هم وربانديې نه لازميږي او د امام ابويوسف په نزد ترك د قرأت په دواړو ركعتونو د شفعه كې يا په يو ركعت كې بطلان د تحريمې نه واجبوي مگر فساد د اداء واجبوي چې تحريمه باطله نشوه نو په دويمه شفعه كې شروع صحيح شوه نو په فساد سره قضاء وربانديې لازميږي او د امام ابوحنيفة په نزد كه په دواړو ركعتونو كې قرأت ترك كړو نو بطلان د تحريمې ورسره راځي نو شروع په شفع ثاني كې نه صحيح كيږي نو په افساد سره قضاء هم نه لازميږي او كه په يو ركعت كې قرأت ترك كړو نو بيا بطلان د تحريمې نه راولي مگر فساد د اداء راولي نو شروع په شفع ثاني كې صحيح شوه.

اذا عرفت هذا فاعلم ان المسائل ثمانية لان ترك القرأة اما مقتصر على شفع واحد وهذا في اربع صور وهي ما قال في المتن او الاول او الثاني او احدى الثاني او احدى الاولى وفي هذه الاربع قضاء الركعتين بالاجماع واما غير مقتصر بل هو موجود في الشفعين وهذا ايضاً في اربع مسائل لانه اما ان يكون الترك في كل الاول مع كل الثاني وهو ما قال في المتن كما لو ترك قرأة شفعيه اومع بعض الثاني وهو ما قال في المتن او الاول مع احدى الثاني وفي هاتين المسألتين قضاء الركعتين عند ابي حنيفة ومحمد رحمه الله لبطلان التحريمه عندهما فلايصح الشروع في الشفع الثاني فعليه قضاء الشفع الاول فقط وعند ابي يوسف قضاء الاربع لانه صح الشروع في الشفع الثاني وقد افسد الشفعين بترك القرأة فيقضي اربعاً وعند محمد في جميع الصور ليس الا قضاء الركعتين فظهر ما قال في المختصر فيقضي اربعاً عند ابي حنيفة فيما ترك في احدى الاول مع الثاني اوبعضه اي في ركعة من الشفع الاول مع كل الشفع الثاني اوركعة منه وعند ابي يوسف في اربع مسائل يوجد الترك في الشفعين وفي الباقي ركعتين

وهوست مسائل عند ابی حنیفة واربع عند ابی یوسف وعند محمد رکعتین فی الکل.

المسائل الثمانیة: اذاعرفت شارح وايي چې کله ته په دې اختلاف پوه شوې نو ځان خبر کړه چې ټول مسائل اته دي. **لان ترك القرأة** ځکه قرأت پرېښودل به یا په یوه شفعه کې منحصر وي یعنې په دویمه کې به نه وي نو دا په څلورو صورتونو کې راځي چې مصنف دغه په دې عبارت سره نقل کړی.

۱: او الاول، ۲: اوالثانی، ۳: او احدی الثانی، ۴: او احدی الاول په دغه څلورو صورتونو کې قضاء د رکعتونو باالاجماع واجب ده یعنې په اجماع د ائمه ثلاثه وو زموږه. **واما غیرمقتصر** او یا به دغه ترک د قرأت د یوې شفعې پورې منحصر نه وي مګر دواړو شفعو کې به ترک د قرأة موجود وي نو دا هم په څلورو مسائلو کې راځي ځکه ترک د قرأت به یا په ټوله اوله شفعه کې وي سره د ټولې دويمې شفعې لکه مصنف رحمه الله چې په دې عبارت سره ورته اشاره کړې ده، کما لوترک قرأة شفعیه، ۲: او یا به ترک د قرأت په ټوله اولنۍ شفعه کې وي سره د بعض د دویمې لکه مصنف چې په دې عبارت سره ورته اشاره کړې ده او الاول مع احدی الثانی په دې دواړو مسئلو کې قضاء د دوو رکعتینو ده په نزد د امام ابوحنیفه او امام محمد ځکه د دوی په نزد تحریمه باطله ده نو په دویمه شفعه کې شروع نه صحیح کیږي نو په دې باندې صرف قضاء د اولې شفعې واجب ده.

او د امام ابي یوسف رحمه الله په نزد په دې کې دوه مسئلو کې قضاء د دواړو شفعو یعنې څلور رکعتو واجب ده ځکه دده په نزد په دویمه شفعه کې شروع صحیح ده او د لمونځ کوونکي دواړه شفعې په ترک د قرأت سره فاسدې کړې وې نو قضاء به د څلورو رکعتونو راوړي. ۳: واما ان یکون..... الخ یا به ترک د قرأت د اولې شفعې په یو رکعت کې وي سره د ټولې دویمې شفعې نه. ۴: او **معرکعةمنه** یعنې ترک د قرأت به په یو رکعت د اولې شفعې کې وي سره د یو رکعت د دویمې شفعې څخه، دا دواړه صورتونه په متن کې مصنف په دې عبارت سره ذکر کړي واربع لوترک فی احدی کل شفع او فی الثانی واحدی الاول.

په دې دوو صورتونو کې د امام ابوحنیفه او امام ابو یوسف په نزد د څلورو رکعتونو قضاء واجب ده ځکه د دوی په نزد تحریمه باقي ده، د امام ابو حنیفه په نزد ځکه تحریمه باقي ده چې ترک د قرأت د اولې شفعې په یو رکعت کې راغلی او تحریمه په دې سره نه باطلیږي ځکه دده په نزد تحریمه هلته باطلیږي چې ترک د قرأت په دواړو شفعو کې راشي او د امام ابویوسف په نزد

څکه تحريمه باقي ده چې تحريمه په ترک د قرأت سره دده په نزد باالکل نه باطليږي په يو رکعت کې وي او که په دوو رکعتو کې وي خو په ترک د قرأت سره يې دواړه شفعې فاسدې کړي نو د څلورو رکعتونو قضاء ورباندې واجب ده. وعند محمد رحمه الله او د امام محمد په نزد په ټولو صورتونو کې صرف قضاء د دوو رکعتونو شته څکه دده په نزد ترک د قرأت په اوله شفعه کې په يو رکعت کې وي او که په دواړو رکعتونو کې وي تحريمه باطليږي نو چې تحريمه باطله شوه نو بناء د دويمې شفعې ورباندې صحيح نه شوه نو قضاء د دويمې شفعې هم نشته صرف قضاء د اولې شفعې واجب ده. فظهر ما قال في المختصر يعني په دې مخکيني تفصيل سره د هغې خبرې مقصد معلوم شو چې کوم په مختصر الوقايه کې ؤ فيقضي اربعاً يعني د امام ابوحنيفه په نزد د څلورو رکعتونو قضاء واجب ده په هغه صورت کې چې د اولې شفعې په يو رکعت کې سره دټولې دويمې شفعې قرأت پريږدي او بعضه يا ترک قرأت د اولى شفعې سره د يو رکعت د دويمې شفعې وي، وعند ابي يوسف او د امام ابو يوسف په نزد د څلورو رکعتونو قضاء واجب ده په څلورو هغو مسائلو کې چې ترک د قرأت په دواړو شفعو کې وي، کُلا وي او که بعضاً وي. وفي الباقي او په باقي صورتونو کې چې د دوو قضاء په کې واجب ده د امام ابوحنيفه په نزد شپږ صورتونه جوړيږي او د امام ابي يوسف په نزد څلور صورتونه جوړيږي خو د امام محمد په نزد په ټولو صورتونو کې قضاء د دوو رکعتونو واجب ده.

ولا قضاء لو تشهد اولاً ثم نقض اي نوى اربع ركعات من النفل وقعد على الركعتين بقدر التشهد ثم نقض لا قضاء عليه لانه لم يشرع في الشفع الثاني فلم يجب عليه او شرع ظاناً انه عليه هذه المسئلة وان فهمت مما سبق وهو قوله ولزم اتمام نفل شرع فيه قصداً فههنا صرح به اولم يقعد في وسطه اي اذا صلى اربع ركعات من النفل ولم يقعد في وسطه كان ينبغي ان يفسد الشفع الاول ويجب قضاؤه لان كل شفع من النفل صلوة على حدة ومع ذلك لا يفسد الشفع الاول قياساً على الفرض.

ازالة العلل في بيان النفل

ولا قضاء..... الخ او قضاء ورباندې نشته که اول يې تشهد وويلى او بيا يې لمونځ مات کړ يعني د څلورو رکعتونو نفلو نيت يې وکړو او د دوو رکعتونو څخه وروسته په اندازه د تشهد قعده وکړه د تشهد څخه وروسته او د دويمې شفعې د شروع څخه مخکې لمونځ مات کړ نو په ده قضاء نشته څکه ده په دويمه شفعه کې شروع کړې نه وه نو ورباندې واجب هم نشوه. او شرع

ظاناً انه عليه پاتې په لمانځه کې په دې نيت شروع وکړه چې مثلاً ما د ماسپښين لمونځ نه ده کړې خو وروسته ورياده شو چې ما خو کړی و نو دغه لمونځ يې نفل وګرځېده، خو که فاسد يې کړي نو قضاء ورباندې نشته، دغه مسئله اګر چې مخکې ضمناً تيره شوې وه خو دلته يې صراحت بيا ذکر کړه. **اولم يقعد في وسطه**.... الخ او يا په منځ ددې کې کېښی نه ناسته يعنې څلور رکعته نفل لمونځ يې وکړو خو په منځ کې يې قعده ونکړه، **وكان ينبغي**... الخ مناسب خو دا وه يعنې د قياس تقاضا دا وه چې اوله شفع فاسده شي او قضاء يې لازم شي ځکه د نفلو هر شفع ځانته لمونځ دی نو د دوو رکعتونو څخه وروسته قعده فرض شوه، ځکه قعده اخيره فرض وي او په ترک د فرضو سره لمونځ باطليږي، دا د امام محمد او امام زُفر قول دی او د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمه الله په نزد په نفلو کې د دوو رکعتو څخه وروسته قعده بعينها فرض نه ده بلکې د غير له وجې څخه ده چې هغه وتل له لمانځه څخه دي، که چېرته لمونځ قطع کوي نو کله چې ده لمونځ قطع نه کړو او څلور رکعته لمونځ يې وکړو نو قعده هم فرض نه شوه د وجې د قياس نه په فرضو باندې.

ويتنفل قاعداً مع قدرة قيامه ابتداء وكره بقاء الا بعذر اى ان قدر على القيام يجوز ان يشرع في النفل قاعداً وان شرع في التنفل قائماً كره ان يقعد فيه مع القدرة على القيام الا بعذر فاراد بحال الابتداء حال الشروع وبحال البقاء حال وجوده الذى اخذ الشروع.

توضيح المسئله: نفل کولی شي په ناسته سره ، سره د قدرت نه په ولاړه باندې، ابتداء چې د اول نه په ناسته شروع وکړي، وکره بقاء خو چې په ولاړه نفل لمونځ شروع کړي نو بيا مکروه ده چې باقي لمونځ په ناسته وکړي سره د قدرت نه په ولاړه باندې؛ **الا بعذر** مګر که د لمانځه په منځ کې ورته عذر پيښ شي نو بيا پروا نه لري چې باقي لمونځ په ناسته سره وکړي، فاراد..... الخ د مصنف رحمه الله له ابتداء څخه حالت د شروع مراد دی او له بقاء نه مراد شروع څخه وروسته حالت دی.

وراكبا مؤمئاً خارج المصر الى غير القبلة انما قال خارج المصر لقول ابن عمر رأيت رسول الله ﷺ يصلى على حمار وهو متوجه الى خيبر يؤمى ايماء ولما كان هذا الفعل مخالفاً للقياس اقتصر على مورده فلوا فتتحه راكباً ثم نزل بنى وبعكسه فسد لان في الاول ما يؤديه اكمل مما وجب عليه وفي الثاني انعقد التحريمة موجبة للركوع والسجود فلا يجوز اداؤه بالايماء.

تنقیح المسئله: او نفل کول د سورلۍ په حالت کې په اشارې سره هم جایز دي، د ښارونو څخه بهر مسافر وي او که غیر مسافر وي او غیر قبلې ته هم جایز دي یعنې کوم طرفته چې سورلۍ مخ کړي جایز ده، **انما قال** دخارج المصر قید یې ځکه ورسره ولګولو چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه وایي چې ما رسول اللهﷺ ولیدلو چې په خره باندې یې لمونځ کولو او مبارک متوجه ؤ د خیبر خوا ته او په اشارې سره یې لمونځ کولو، **ولما کان** هر کله چې د نفلو اداء کول غیر قبلې ته خلاف القیاس د شارع علیه السلام له طرف ثابت شو نو ځکه نصوصو کې قبلې طرفته مخ فرض دي نو دغه فعل د رسول اللهﷺ تر خپل مورد پورې خاص شو چې هغه اداء کول د نفلو دي خارج د ښار نه او دا حکم به نه جاري کیږي په ښار کې د سورلۍ له پاسه په نفلو کولو کې، همدا رنګه فرائض او واجب بې له عذره څخه په سورلۍ باندې جایز نه دي. (بحر الرائق دوهم ټوک ۱۱۳ صفحه) چې هغه عذرونه بحر ذکر کړي دي.

فلوافتتحه.....الخ که نفل د سورلۍ له پاسه شروع کړي بیا راښکته شي نو بناء به وکړي یعنې همغه لمونځ دې مکمل کړي. **وبعکسه فسد** او که نفل یې بې له سورلۍ شروع کړه او بیا سورلۍ ته وختلو نو دا نفل فاسد شول ځکه ده تحریمه واجبونکی د رکوع او سجدې له پاره تړلې وه نو اوس ددې اداء کول په اشارې سره جائز نه دي نو له سره به نفل لمونځ وکړي او په اول صورت کې یعنې چې شروع د نفلو یې په سورلۍ کړې وه او بیا راښکته شو نو ده په ځان نفل لمونځ په اشارې سره واجب کړی و او اداء یې له دې نه په کامله طریقه وکړه چې د [illegible]وع او سجدې سره ده نو دا صحیح ده.

سُن التراویح عشرون رکعة بعدالعشاء قبل الوتر وبعده خمس ترویحات لکل ترویحة تسلیمتان وجلسة بعدهما قدر ترویحة والسنة فیها الختم مرة ولایترك لکسل القوم ولایوتر بجماعة خارج رمضان وانما کانت التراویح سنة لانه واظب علیها الخلفاء الراشدون والنبی علیه السلام بین العذر فی ترك المواظبة وهو مخافة ان تکتب علینا.

تراویح شل رکعته سنت دي:

تراویح سنت مؤکد دي شل رکعته دي، وروسته د ماخوستن له لمانځه څخه د وترو څخه مخکې او وروسته ، د وروسته مقصد دادی که تراویح ترې فوت شي او امام وترو ته ودریږي نو دا دې امام سره وتر اداء کړي او فوت شوې تراویح دې له وترو څخه وروسته وکړي.

خمس..... الخ پنځه ترویحې دي، یو ه ترویحه څلور رکعته ده او ترویحه ځکه ورته وایي چې له

دې څخه وروسته څه راحت حاصليږي چې دمه وکړي او د هرې ترويحې له پاره دوه سلامه دي يعني د هر دوو رکعتونو څخه وروسته به سلام وګرځوي. **وجلسة** د دوه سلامو څخه وروسته به په اندازه د يوې ترويحې جلسه وکړي، **والسنة** او په تراويحو کې يو ځل ختم کول سنت دي او که زيات ې وکړل نو هغه خو ډېر غوره ده.

ولايترک... الخ او ختم د قرآن به د قوم د سستوب له وجې نه پرېږدي، **ولايوتر** او د رمضان نه ماسوا به وتر په جمع سره نه کوې، **وانما کانت... الخ** او تراويح ځکه سنت شوي دي چې اکثره خلفاء راشدينو په دې عمل کړی دی او تراويح حضرت عمر رضی الله عنه له خپل ځان نه نه دي فرمايلي او نه دا د عمر رضی الله عنه بدعت و او د عمر رضی الله امر خالي نه و د يو اصل او عهد د رسول الله ﷺ څخه يعني حضرت عمر رضی الله عنه او نور صحابه کرامو به هغه کار کاوه چې اصل ددې د رسول الله ﷺ له طرفه موجود و. (بحر الرائق دوهم ټوک ۱۱۷ صفحه)

والنبي عليه السلام او نبي عليه السلام چې په تراويحو همېشه والی ونه کړ نو رسول الله ﷺ په خپله د هغې عذر بيان کړو چې دا وېره ده چې بيا به په تاسې فرض شي.

فصل عند الكسوف يصلى امام الجمعة بالناس ركعتين كالنفل اى على هيأة النافلة بلا اذان واقامة عندنا فى كل ركعة ركوع واحد وعند الشافعى ركوعات مخفياً مطولاً قرأته فيهما وبعدهما يدعو حتى تنجلى الشمس ولايخطب وان لم يحضر اى امام الجمعة صلوا فرادى كالخسوف ولا جماعة فى الاستسقاء ولا خطبة وان صلوا وحدانا جاز وهو دعاء واستغفار ويستقبل بهما القبلة بلا قلب رداء وحضور ذمى.

قول العطوف فى بيان صلوة الكسوف:

کسوف د لمر تورېدل او خسوف د سپوږمۍ تورېدلو ته وايي، اصل ددې دا حديث دی چې رسول الله ﷺ فرمايي چې لمر او سپوږمۍ د چا د مرګ له وجې نه نه توريږي مګر دا علامې دي د علامو د الله ﷻ څخه کله چې تاسو دا وګورئ نو تاسو لمونځ کوئ. (رواه البخاری، بحر الرائق دوهم ټوک ۲۹۱ صفحه)

يصلى د صلوة کسوف لمونځ به هغه امام خلکو ته اداء کوي چې د جمعې لمونځ ورکوي، **ركعتين** او اقلاً به دوه رکعته وي **كالنفل** په شکل د نفلو به يې اداء کوي بې له اذان او اقامت څخه او په هر رکعت کې به يوه رکوع او دوه سجدې وي او د امام شافعي رحمه الله په نزد په هر

رکعت کې به دوه رکوع وي او دوه سجدې وي، **مخفیاً** په پټه به قرأت وايي، **مطولاً** اوږدونکی د قرأت به وي په دواړو رکعتونو کې، **وبعدهما** او وروسته له لمانځه څخه به دعا غواړي تر دې چې لمر روښانه شي او خطبه به هم نه وايي، وان لم يحضر... الخ او که د جمعې امام نه و نو بيا دې خاتته خاتته لمونځ وکړي، **کالخسوف** لکه د سپوږمۍ په توريدو کې چې خاتته خاتته لمونځ کولی شي ځکه سپوږمۍ د شپې توريږی او د شپې د خلکو راجمع کيدل محال دي.

ولاجماعة فى الاستسقاء: استسقاء په شريعت کې طلب د باران ته وايي د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په استسقاء کې جمع مسنونه نشته بلکې خاتته لمونځ به کوي خو که چا په جمع سره اداء کړو نو دا هم جايز ده او خطبه هم نشته او دا دعاء او استغفار دی خو د صاحبينو په قول په جمع سره صلوة استسقاء سنت ده او د لمانځه څخه به وروسته خطبه هم ووايي، **ويستقبل** او ددعا او استغفار په وخت کې به قبلې ته مخ کړي، **بلاقلب** بې له اړولو د څادر څخه يعنې څادر به هم نه اړوي وحضور ذمي او ذمي به هم نه حاضريږي ځکه استسقاء د رحمت د نازلېدو له پاره وي او په کفارو رحمت نه نازلېږي.

باب ادراك الفريضة

دا باب دی په بيان د لاندې کولو د فرض لمانځه کې په جمع سره

من شرع فى فرض فأقيمت له ان لم يسجد للركعة الاولى اوسجد وهو فى غير الرباعى اوفيه وضم اليها اخرى قطع واقتدى اى من شرع فى فرض منفرداً فاقيمت لهذا الفرض والضمير فى اقيمت يرجع الى الاقامة كما يقال ضُرب ضربٌ فان لم يسجد للركعة الاولى قطع واقتدى وان سجد فان كان فى غير الرباعى فكذا لانه ان لم يقطع وصل ركعة اخرى يتم صلاته فى الثنائى ويوجد الاكثر فى الثلاثى وللاكثر حكم الكل فتفوته الجماعة اولانه يصير متنفلاً بركعتين بعد الغروب فى المغرب والقطع وان كان ابطالاً للعمل وهو منهى لقوله تعالى ولا تبطلوا اعمالكم فالابطال لقصد الاكمال لايكون ابطالاً وان كان فى الرباعى يضم ركعة اخرى حتى يصير ركعتان نافلة ثم يقطع ويقتدى فقوله وضم اليها حال من قوله اوفيه تقديره اوسجد للركعة الاولى وهو حاصل فى الرباعى وقد ضم الى الركعة الاولى ركعة اخرى فقطع واقتدى حتى لولم يضم اليها اخرى لايقطع بل يضم فاذا ضم قطع واقتدى.

الدرة العجيبة فى بيان ادراك الفريضة: من شرع که يو کس په فرض لمانځه کې خاتته

شروع وکړي **فاقيمت له** بيا اقامت شروع شي د لمانځه له پاره يعنې امام په لمانځه کې شروع وکړي نو که دغه منفرد د اول رکعت له پاره سجده نه وه کړې او يا يې سجده کړې وه، **وهو خو** حال دا چې په غير رباعي کې وه لکه د سهار يا ماښام لمانځه کې **اوفيه** او يا په رباعي کې وه خو بل رکعت يې ددې سره يو ځای کړ نو دغه لمونځ به قطع کړي او امام پسې به اقتداء وکړي. **والضمير** په اقيمت کې ضمير اقامت ته راجع دی يعنې اقامت شروع شو لکه ضُرب ضربٌ کې چې معنی داده چې فعل د ضرب وشو **فان لم يسجد** که يواځې لمونځ کوونکی د اول رکعت له پاره سجده کړي نه وه نو لمونځ به قطع کړي او امام پسې به اقتداء وکړي.

وان سجد او که په اول رکعت کې سجده کړې وه نو که غير رباعي لمونځ و لکه د سهار يا ماښام لمونځ نو بيا به هم خپل لمونځ قطع کړي او امام پسې به اقتدا وکړي ځکه که لمونځ قطع نه کړي او بل رکعت هم ورسره وکړي نو په ثنايي يعنې دوه رکعتيز لمانځه کې لمونځ پوره کيږي او په ثلاثيو اکثريت موجوديږي لکه د ماښام په لمانځه کې او اکثر لره حکم د کل وي نو جمع به دده ځخه فوت شي اولانه او يا دا چې که دوه رکعته لمونځ په ماښام کې پوره کړي نو دا به نفل کوونکی وګرځي وروسته د لمر ډوبيدلو ځخه نفل کول زمونږ د جمهورو علماوو په نزد مکروه دي ځکه دې سره د ماښام لمونځ وروسته کيږي، **والقطع** سوال راځي چې کله دغه لمونځ قطع کوي نو دا خو ابطال د عمل راځي او ددې ځخه منع شوې لکه په قرانکريم کې الله تعالی فرمايي. ولاتبطلوا اعمالکم يعنې تاسې خپل نيک عملونه مه باطلوئ نو شارح ددې سوال ځواب وکړو چې قطع اګر چې ابطال د عمل دی خو دا ابطال د اکمال له پاره ده او ابطال د قصد اکمال له پاره شرعاً ابطال نه شمېرل کيږي، **وان کان فی الرباعی** او که د اول رکعت سجده يې په رباعيو کې وکړه لکه د ماسپښين، مازيګر، ماخوستن لمونځ نو بل رکعت دې هم ورسره يو ځای کړي چې دا دواړه نفل شي، بيا دې لمونځ قطع کړي او امام پسې دې اقتداء وکړي نو د ابطال د عمل نه به هم بچ شي او د جمعې ثواب به هم رالاندې کړي، فقوله وضم اليها شارح د مصنف د عبارت ترکيب بيانوي چې وضم اليها حال دی د او فيه د لفظ ځخه نو تقدير د عبارت داسې راځي او سجد... الخ يا سجده وکړي د اول رکعت له پاره او دا حاصل يعنی شروع کوونکی وي په رباعيو کې او حال دا چې د اول رکعت سره يې بل رکعت هم يو ځای کړی و نو دغه لمونځ به قطع کړي او امام پسې به اقتدی وکړي تر دې که بل رکعت يې ورسره يو ځای نه کړو نو لمونځ به نه قطع کوي، لازماً به بل رکعت ورسره يو ځای کړي او بيا به يې قطع کړي او اقتدی به وکړي.

قطع په څلور قسمه ده. ۱: حرام چې بلاعذره لمونځ قطع کوي، ۲: مباح چې کله يې مال تلف کيږي نو بيا قطع د لمانځه مباح ده، ۳: مستحب چې قطع د اکمال د لمانځه له پاره وي لکه مخکې تېر شو، ۴: واجب د يو نفس د بچ کولو په خاطر لکه مثلاً يو کس کوهي ته غورځيږي نو په دې صورت کې د هغه د بچ کولو په وجه د لمانځه قطع کول واجب دي.

وان صلى ثلثا منه اى من الرباعي يتمه ثم يقتدى متنفلا لانه قد ادى الاكثر وللاكثر حكم الكل الا في العصر اى لايقتدى فان النافلة بعد اداء العصر مكروه وكره خروج من لم يصل من مسجد اذن فيه لا لمقيم جماعة اخرى اى الذى ينتظم به امر جماعة اخرى بأن يكون مؤذن مسجد اوامامه او من يقوم بأمره جماعة يتفرقون اويقلون بغيبته.

ايضاح البيان: او که د رباعی لمانځه څخه يې درې رکعته کړي وو نو پوره به يې کړي بيا دې امام پسې د نفلو اقتداء وکړي څکه ده زيات رکعتونه اداء کړي ؤ او اکثر لره حکم د کل وي **الا في العصر** مګر په مازيګر کې به اقتداء نه کوي څکه د مازيګر د لمانځه نه وروسته نفل کول مکروه دي، **وكره خروج** او مکروه ده وتل د هغه کس چې لمونځ يې کړی نه دی د هغه مسجد څخه چې په هغې کې اذان شوی وي يعنې په کوم مسجد کې چې اذان وکړای شي نو بې لمانځه نه به له مسجد څخه نه وځي، **لالمقيم** خو د هغه کس له پاره وتل مکروه نه دي چې انتظام کوونکی د بلې جمعې وي مثلاً د بل مسجد اذان کوونکی يا امام وي. **او من يقوم** يا هغه کس چې دده په امر جمع اودريږي، **يتفرقون** خلک خوريږي نورو مسجدونو ته **او يقلون** او يا کميږي دده په غائبېدو سره نو د داسې کس له پاره د هغه مسجد نه وتل جائز دي چې اذان په کې شوی وي او خپل مسجد ته لاړ شي.

ثم عطف على قوله لالمقيم جماعة قوله ولمن صلى الظهر اوالعشاء مرة الاعند الاقامة اى لايكره له الخروج الاعند الاقامة فالاستثناء متعلق بقوله ولمن صلى الظهر اداء العشاء مرة ولا تعلق له بقوله لالمقيم جماعة اخرى فان مقيم الجماعة الاخرى لايكره له الخروج وان اقيمت والفرق بين مقيم جماعة وبين من صلى الظهر اوالعشاء مرة ان هذا انما يكره له الخروج لانه ان خرج عند الاقامة يتهم بمخالفة الجماعة ولولم يخرج ويصلى يحرز فضيلة الموافقه وثواب النافلة فايثار التهمة والاعراض عن الفضيلة والثواب قبيح جداً واما مقيم الجماعة الاخرى فانه ان خرج عند الاقامة لايتهم لانه يقصد الاكمال وهو الجماعة التى تتفرق بغيبته وان لم يخرج لايحرز ماذكرنا بل يختل امر الجماعة الاخرى.

ايضاح البيان: ولمن صلى ..... الخ دا عطف دى په لالمقيم جماعة باندې يعني د مسجد څخه وتل مکروه نه دي د هغه کس له پاره چې د ماسپښين يا ماخوستن لمونځ يې يو ځل اداء کړې وي، ځانته وي او که په جمع سره وي مګر په وخت د اقامت کې وتل بيا مکروه دي. الا عند... الخ دا استثناء تعلق لري د لمن صلى الظهر..... الخ پورې نه د لالمقيم جماعة پورې څکه کوم کس چې په بل ځاى کې انتظام د جمع کوي نو دده له پاره وتل مکروه نه دي اګر چې اقامت وشي. **والفرق** فرق دادى چې کوم کس يو ځل لمونځ کړى دى دده له پاره وتل څکه مکروه دي چې که دا د اقامت په وخت کې وځي نو په مخالفت د جمع سره متهم کيږي او که د مسجد څخه ونه وځي او د امام پسې د نفلو نيت وکړي، **يحرز** نو دا راجمع کوي يو فضيلت د موافقت د جمع سره او بل ثواب د نفلو، **فايثار** نو د تهمت غوره کول او د فضيلت او ثواب څخه مخ اړول ډېر قبيح او بد دي **واما مقيم الجماعة** او کوم کس چې په بل ځاى کې انتظام د جمع کوي نو که د اقامت په وخت کې د مسجد څخه ووځي نو دا نه متهم کيږي څکه دا قصد دا کمال لري چې هغه جمع ده چې دده په نه موجوديت سره خرابيږي.

وان لم يخرج او که ددې مسجد څخه ونه وځي نو فضيلت او ثواب پوره نشي راجمع کولى. **بل يختل** بلکه د بلې جمع کار کې خلل وغورځاوه، نو څومره ثواب چې په خپل ځاى کې ورته رسيده نو هغه مقدار دلته نشته.

ومن صلى الفجر او العصر او المغرب يخرج وان اقيمت لانه ان صلى يكون نافلة والنافلة بعد الفجر والعصر مكروه واما في المغرب فان النافلة لاتُشرع ثلث ركعات ويترك سنة الفجر ويقتدى من لايدركه الفجر والمراد فرضه بجمع ان اداها ومن ادرك ركعة منه صلاها ولا يقضيها الا تبعا لفرضه اى ان فاتت سنة الفجر فان فاتت بدون الفرض لايقضى قبل طلوع الشمس وكذا بعد الطلوع عند ابى حنيفة وابى يوسف واما عند محمد يقضيها الى الزوال لابعده وان فاتت مع الفرض فان قضى قبل الزوال يقضيهما جميعاً وكذا بعد الزوال عند بعض المشايخ وعند البعض لابل يقضى الفرض وحده.

توضيح المسئله: که چا د سهار لمونځ وکړو يا د مازيګر يا د ماښام لمونځ وکړو نو بيا د مسجد څخه وتلى شي اګر چې اقامت شروع شي څکه که بيا لمونځ کوي نو هغه نفل راځي او د سهار او مازيګر نه وروسته نفل مکروه دي او که د ماښام په لمانځه کې بيا اشتراک کوي نو نفل خو درې رکعته جايز نه دي، **ويترك سنة** که کوم کس د سهار سنت کړي نه وي او امام په

فرضو کې شروع وکړي نو که سنت کوي نو جمع ترې فوت کېږي نو سنت به پرېږدي د لفظ معنی داسې ده **ويقتدی** او اقتداء به امام پسې وکړي **من لايدرکه** هغه کس چې د سهار فرض نه شي رالاندې کولی، **بجمع** په جماعت سره **ان اداها** که سنت اداء کړي، **ومن ادرك** که چا يو رکعت رالاندې کولی شو د فرضو نه هم **صلاها** سنت به اداء کوي او بعض علماء وايي چې که **تشهد** يې را لاندې کولی شو نو هم سنت به نه پرېږدي خو غوره قول اولنی دی، **ولايقضيها** او د **سهار** د سنتو قضاء به نه راوړي مګر تابع د فرضو يعنې که صرف د سهار سنت ترې فوت شو او فرض يې اداء کړل نو په اتفاق سره د ائمه ثلاثو زموږه د لمر ختلو څخه مخکې د سنتو قضاء نشته. **وکذا بعد.. الخ** او د لمر ختلو څخه وروسته د امام ابوحنيفه او امام ابو يوسف رحمه الله **په نزد** بيا هم د سنتو قضاء نشته، اما د امام محمد رحمه الله په نزد تر زواله پورې د سهار د سنتو قضاء راوړلی شي، خو د زوال څخه وروسته ددې قضاء نشته **وان فاتت مع..... الخ** او که د سهار سنت سره د فرضو فوت شي نو که د زوال څخه مخکې قضاء راوړله نو د سنتو او فرضو دواړو قضاء به راوړي، **وکذا بعد الخ** او که د زوال نه وروسته يې قضاء راوړله نو د بعض علماوو په نزد د فرضو سره د سنتو قضاء به هم راوړي او د بعض علماوو په نزد صرف د فرضو قضاء به راوړي او د سنتو به نه راوړي.

ورسول الله صلى الله عليه وسلم لما فاته الفجر ليلة التعريس قضاه مع السنة قبل الزوال بالاذان والاقامة جماعة وجهر بالقرأة فعلم من فعله عليه السلام شرعية القضاء بالجماعة والجهر فيه والاذان والاقامة للقضاء وان السنة تقضى مع الفريضة فمن هذه الاحكام عُلم عدم اختصاصه بمورد النص فعدى عنه الى غيره من الصلوة وهي ما عدا قضاء السنة فعدى عن مورد النص وهو قضاء الفجر الى قضاء سائر الصلوة واما قضاء السنة فقد علم ان سنة الفجر اكد من سائر السنن فلا يلزم من شرعية قضائها شرعية قضاء سائر السنن ولا قضائها بتبعية الفرض قبل الزوال قضاؤها بتبعية الفرض بعد الزوال كما هو مذهب بعض المشايخ لان اختصاصه بتبعية الفرض بكونه قبل الزوال لامعنى له.

ايضاح البيان: شارح رحمه الله ددې وجه بيانوي چې د سنتو قضاء د فرضو په تابع کې ولې شته او چې يواځې سنت قضاء شي نو بيا د سنتو قضاء نشته وجه دا ده چې رسول الله ﷺ په **ليلة التعريس** کې تعريس د شپې په اخره حصه کې دمه کولو ته او يو ځای کې اړولو ته وايي،

نو رسول الله ﷺ هم په دغه شپه سره د صحابه وو ویده پاتې شوي وو تر دې چې د لمر حرارت راوینښ کړل.بیا له دې ځای څخه لاړل چې دا د شیطانانو مرکز دی او په بل ځای کې یې دېره واچوله. مؤذن اذان وکړ، رسول الله ﷺ او صحابه کرامو اول سنت اداء کړل او بیا یې په جمع سره په جهراً قر اءت سره دسهار لمونځ اداء کړ، فعلم.... الخ نو رسول الله ﷺ ددې فعل څخه رواء والی د قضاء د فرضو په جماعت سره معلوم شو، والجهر همدا رنګه جهر کول په قضاء کې هم معلوم شو او اذان او اقامت کول د قضاء له پاره هم معلوم شو. وان السنة او دا هم ترې معلوم شو چې د فرضو سره د سنتو قضاء هم راوړلی شي، فمن هذه نو ددې احکامو یعنی دجهر او اذان او اقامت او قضاء باالجماعت څخه معلومه شوه چې دا حکم ترمورد د نص پورې خاص نه دی یعنې تر سبا لمانځه پورې خاص نه دي فعدی عنه نو دا حکم متعدي شو د سبا د لمانځه نه، الی غیره غیر د سبا نه یعنې د سبا د لمانځه نه بغیر نورو فرض لمونځونو ته لکه ماخوستن ماښام وغیره متعدي شو، وهی ما عدا قضاء السنة خو هغه احکام ماسودا د سنتو نه یعني دقضاء دسنتو څخه ما سوا نور احکام لکه جهر اذان اقامت وغیره.د مورد دنص څخه چې دسحر لمونځ دی متعدی شوی نورو فرض لمونځونو ته فعدی شارح ددې مخکې عبارت وضاحت لپ نور هم کوي یعنې دغه حکم د مورد نص نه چې قضاء د سبا ده متعدی شو الی قضاء هغه قضاء د نورو فرضي لمونځونو ته، واما قضاء السنة او قضاء د سنتو چې ده نو په تحقیق سره معلومه ده چې د سبا سنت محکم دي د نورو سنتو څخه، فلا یلزم نو د شرعیت او روا والی د قضاء د سبا د سنتو څخه نه لازمیږي شرعیت د قضاء د نورو سنتو بعدالوقت یعني چې د سهار د سنتو قضاء راوړل پس له وخت نه اداء شو نو ددې څخه دا نه لازمیږي چې د نورو سنتو قضاء به پس له وخته هم راوړلی شي، ولا من قضائها همدا رنګه د سنتو قضاء په تبعیت د فرضو یعني چې د سهار د فرضو سره د سنتو قضاء راوړلی شي نو ددې څخه دا نه لازمیږي چې د سهار د سنتو قضاء به بې له فرضو هم راوړلی شي، لکن.... الخ دا دفع د یو اعتراض ده چې هرکله حکم د مورده پورې خاص شو نو د سهار په سنتو کې خو دا راغلي چې ددې قضاء به قبل الزوال وي نو په کار ده چې بعدالزوال د سنتو قضاء د فرضو سره رانه وړل شي، لکه څرنګه چې ځینې علماء وایي چې بعد الزوال به هم د سنتو قضاء د فرضو سره وي؟ نو شارح جواب وکړو چې د سهار د سنتو قضاء په تبعیت د فرضو کې قبل الزوال راوړلی شي، نو ددې څخه دا هم لازمیږي چې بعد الزوال به هم د سهار د سنتو قضاء په تبعیت د فرضو کې راوړلی

شي لکه د ځینې مشائخو مذهب همدا دی ځکه د سهار د سنتو قضاء په تبعیت د فرضو کې چې قبل الزوال پورې خاص شي نو ددې څه معناده یعنې په قضاء کې قبل الزوال او بعدالزوال خاص نه دي مګر برابر دي.

ویترك سنة الظهر في الحالين اي سواء یدرك الفرض ان اداها اولا وایتم ثم قضاها قبل شفعه اي قبل الرکعتین اللتین بعد الفرض وغیرهما لایقضی اصلاً ومُدرك رکعة من ظهر غیر مصل جماعةً بل هو مدرك فضلها اي ان حلف لیصلین الظهر بجماعة فادرك رکعة یحنث لانه لم یصل جماعة لکن ادرك فضیلة الجماعة.

اعلاء السنن في توضیح السنن:

د ماسپښین سنت به په دوارو حالاتو کې پرېږدي. یعنې برابره خبره ده چې فرض په جمع سره رالاندې کولی شي. **ان اداها** که سنت اداء کړي اولا او که فرض را لاندی کولی نشی **وایتم** او امام پسی به اقتداء وکړی بیا دقضاء د سنتو راوړي **قبل شفعه** مخکې د هغه دوه رکعتو څخه چې له فرضو څخه وروسته دي، یعنې اول به قضاء د څلورو رکعتونو وکړي بیا به دوه رکعته سنت اداء کړي دا د امام ابویوسف قول دی او د امام محمد په قول اول به دوه رکعته سنت اداء کړي بیا به د څلورو رکعتو قضاء راوړي ځکه څلور رکعته خو له خپل ځای څخه فوت شوي نو اوس ضرورت نشته چې هغه دوه رکعته هم له خپل ځای څخه فوت شي او په فتح القدیر کې هم د امام محمد قول ته ترجیح ورکړې. (بحر الرائق دوهم ټوک ۱۳۲ مخ)

وغیرهما د سهار دسنتو څخه ماسوا او د ماسپښین د مخکنیو، څلورو رکعتونو څخه ماسوا د نورو سنتو قضاء بالکل نشته، **ومدرك رکعة** او رالاندې کوونکی د یو رکعت د ماسپښین یعنې که یو چا د ماسپښین د لمانځه یو رکعت د امام سره ونیو **غیرمصل جماعة** نو ده په جمع سره لمونځ اداء نه کړو **بل هو** مګر دا رانیوونکی ده د فضیلت دجمعې شو ، **اي ان حلف** .... الخ ددې عبارت څخه مقصد دادی چې ددې مسئلې ذکر کول په دې ځای کې ددې له پاره وشو چې دغه حکم په الجامع الکبیر کې په بله مسئله کې ذکر شوی ؤ که یو سړی قسم وخوري چې زه به د ماسپښین لمونځ په جمع سره کوم نو یو رکعت یې د امام سره ونیو نو دا حانث شو او کفاره د قسم ورباندې واجب شوه ځکه ده په جمع سره لمونځ اداء نه کړو مګر د جمع فضیلت یې راګیر کړو.

وأيُّ مسجد صلى فيه يتطوع قبل الفرض الا عند ضيق الوقت اى من اتى مسجدا صلى فيه فاراد ان يُصلى فرضه منفرداً فهل يأتي بالسنن قال بعض شايخنا ومنهم الكرخي رحمه الله لا فان السنن انما سُنت اذا ادى الفرض بالجماعة اما بدونه فلا وقال الحسن بن زياد من فاتته الجماعة فاراد ان يصلى فى مسجد بيته يبدأ بالمكتوبة لكن الاصح ان يأتي بالسنن فان النبي ﷺ صلى الله عليه وسلم واظب عليها وان فاتته الجماعة لكن اذا ضاق الوقت يترك السنة ويؤدى الفرض حذراً عن التفويت.

توضيح المسئله: واتى.... الخ او راتلونكي كس داسې مسجد ته چې په هغې کې لمونځ شوى وي، سنت به كوي مخكې له فرضو څخه، مگر په وخت د تنگ والي د وخت کې، يعنې كه يو كس مسجد ته راشي او په دې کې لمونځ اداء شوى وي او دا غواړي چې خپل فرض ځانته وكړي، **فهل يأتى** نو ايا اوس به سنت كوي او كه نه؟ بعض علماء وايي چې يو د هغوى څخه امام كرخي دى چې سنت به اداء كوي ځكه سنت په هغه صورت کې سنت كړاى شوي چې كله فرض په جمع سره اداء كړاى شي، **واما بدونه فلا** او كله چې فرض په جمع سره اداء نه كړاى شي نو بياد سنتو كول نشته، **وقال الحسن بن زياد** او حسن بن زياد وايي چې چا څخه جمع فوت شوه او غوښتل يې چې د كور په مسجد کې لمونځ وكړي نو سنت به پريږدي او په فرضو به شروع وكړي، لكن الاصح لكن صحيح خبره داده چې سنت به نه پريږدي اگر چې دده څخه جمع فوت شوې وي،ځكه رسول الله ﷺ په دې سنتو كولو همېشه والى كړى دى او په نه كولو کې بلا عذر ملامتيا ده، عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فرمايي كه تاسې د خپل پيغمبر سنت پرېږدئ نو تاسې به گمراه شئ، **لكن اذا ضاق الوقت** لكن سنت به هلته پريږدي چې وخت دومره تنگ وي كه دا سنت كوي نو فرض ترې فوت كيږي نو سنت به پريږدي او فرض به اداء كړي، حذراً .... الخ د وجې د ځان بچ كولو د فوت كېدو د فرضو څخه يعنې چې فرض د خپل وخت فوت نشي.

من اقتدى بامام راكع فوقف حتى رفع رأسه لم يدركه ركعة خلافاً لزفر رحمه الله من ركع فلحقه امامه فيه صح خلافاً لزفر فان ما اتى به قبل الامام غير معتد به فكذا ما بنى عليه قلنا وُجدت المشاركة فى جزء واحد.

توضيح المسئله: امام د ركوع په حالت کې و چې يو كس راغى او د امام پسې يې اقتداء وكړه خو لږ ساعت ودريدو تر دې چې امام د ركوع څخه سر راپورته كړو نو دغه مقتدي ركعت

راګير نه کړو، امام زفر رحمه الله وايي چې ده رکعت راګير کړو من رکع که يو کس د امام څخه مخکې رکوع وکړي، فلحقه بيا امام د پسې رکوع وکړي يعني ده سره په رکوع کې يو ځاى شو نو د مقتدي دغه رکوع صحيح ده. امام زفر رحمه الله وايي چې دا رکوع يې صحيح نه ده ځکه ده چې کومه رکوع له امام څخه مخکې کړى غيرمعتدبه هغه غير معتبره ده نو نور لمونځ چې په دې بناء کوي هغه هم غير معتبر شو ځکه بناء په فاسد فاسدوي، قلنا مونږ وايو چې د امام مقتدي ترمنځ په يو جزء کې مشارکت موجود شوى دى لکه رکوع وغيره نو په سبب د نه شرکت باندې چې يو جزء غير معتبر شو دا نه لازميږي چې بل جز دې هم غير معتبر شي.

باب قضاء الفوائت

باب دى په بيان د قضاء د فوتي لمونځونو کې: مصنف تعبير په فوائت سره وکړو نه په متروکات سره له پاره د حسن ظن نه په مسلمان باندې چې مسلمان لمونځ قصداً نه پريږدي مګرکه ترې فوت شي.

فرض الترتيب بين الفروض الخمسة والوتر فائتاً كلها او بعضها اى ان كان الكل فائتاً فلابد من رعاية الترتيب بين الفروض الخمسة وكذا بينها وبين الوتر وكذا ان كان البعض فائتاً والبعض وقتيا لابد من رعاية الترتيب فيقضى الفائتة قبل اداء الوقتية.

ايضاح البيان: او فرض کړاى شوى ترتيب په مابين د پنځه وخته فرضي لمونځونو کې او وترو کې په داسې حالت کې چې ټول فوت شوي وي او که بعض فوت شوي وي يعني که ټول پنځه وخته لمونځونه فوت شوي وو نو بيا ددې پنځه وخته لمونځونو ترمنځ هم د ترتيب رعايت کول لازم دي، يعني کوم چې مخکې قضاء شوي وي نو اول به د هغې قضاء راوړي بيا به وريسې د دويم بيا به دريم الى اخره.

همدا رنګه د پنځه وخته لمونځونو او وترو ترمنځ ترتيب ضروري دى، وروسته تفريع کې بيان راځي او همدا رنګه که په پنځه وخته لمانځه کې بعضې قضاء شوي و او بعض وقتي ؤ نو ددې ترمنځ ترتيب هم لازم دى چې اول به د فوتي لمانځه قضاء راوړي او بيا به وختي لمونځ اداء کوي.

فلم يجز فرض فجر من ذكر انه لم يوتر هذا تفريع لقوله والوتر وهذا عند ابى حنيفة خلافاً لهما بناء على وجوب الوتر عنده ويعيد العشاء والسنة لا الوتر من علم انه صلى العشاء بلا وضوء والاخريين به يعنى تذكر انه صلى العشاء بلا وضوء والسنة والوتر بوضوء يعيد العشاء والسنة لانه لم يصح اداء السنة

مع انها أُديت بالوضوء لانها تبع للفرض اما الوتر فصلوة مستقلة عنده فصح اداؤه لان الترتيب وان كان فرضاً بينه وبين العشاء لكنه ادى الوتر بزعم انه صلى العشاء بالوضوء فكان ناسياً ان العشاء كان في ذمته فسقط الترتيب وعندهما يقضي الوتر ايضاً لانه سنة عندهما.

التفريع على الوتر: غرض د مصنف ددې څخه تفريع ده په والوتر لفظ باندې يعنې چې د پنځه وختـه لمانځه او وترو ترمنځ هم ترتيب لازم دی. له يوکس څخه وتر قضاء شوي وو خو چې د سهار لمونځ يې کاوه نو دا ورته ياد وو چې ما وتر کړي نه دي نو د سهار فرض لمونځ يې نه صحيح کيږي تر دې چې اول به د وترو قضاء راوړي او بيا به د سهار فرض لمونځ اداء کړي، دا د امام ابوحنيفه قول دی ځکه وتر دده په نزد واجب دي او واجب په حکم کې په شان د فرضو دي عملاً نو د وترو او فرائضو ترمنځ ترتيب داسې فرض دی لکه د فرائضو ترمنځ چې فرض وي. او د صاحبينو په نزد وتر سنت دي او د سنتو او فرائضو ترمنځ ترتيب اتفاقاً فرض نه دي.

ويعيد العشاء او راوبه گرځوي د ماخستن فرضي لمونځ **والسنة** او دوه رکعة سنت د ماخستن، **لاالوتر** وتربه نه راگرځوي **من علم** هغه څوک چې پوه نه ؤ **انه صلى الخ** چې د ماخوستن لمونځ يې بې اودسه کړی ده ، **والاخريين** او دوه نور يعنې سنت او وتر يې کړي په اوداسه سره يعني يو کس ته وریاد شو چې ما د ماخوستن لمونځ په بې اودسې سره کړی او دوه رکعتـه سنت او وتر مې په اودس سره کړي دي نو اوس به د ماخستن فرض ا وسنت راوگرځوي، سنت اگر چې په اوداسه سره اداء شوي خو بيا هم ددې اداء کول صحيح نه دي ځکه سنت تابع د فرضو دي او د فرضو څخه وروسته اداء کيږي، نو کله چې فرض اداء نه شو نو سنت هم اداء نه شو نو د اعادې د ۀ ضو سره اعاده د سنتو هم لازم ده. **اما الوتر** او وتر د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد يو مستقل لمونځ دی يعنې د ماخوستن د لمانځه تابع نه دی نو د وترو اداء کېدل صحيح شو **لان الترتيب** ځکه ترتيب اگر چې د وترو او ماخوستن د فرضو ترمنځ فرض دی مگر دغه کس وتر په دې گمان اداء کړي چې ما د ماخوستن لمونځ په اوداسه سره کړی دی، **فكان ناسياً** خو دا ترې هيره وه چې ماخوستن لمونځ زما په ذمه پاتې دی او په نسيان سره ترتيب ساقطيږي، **وعندهما** صاحبين وايي چې د وترو قضاء به هم راوړي ځکه وتر د صاحبينو په نزد سنت دي او سنت تابع د فرضو وی نو چې د ماخوستن د لمانځه اعاده کولی شي نو د وترو اعاده به هم ورسره کوي.

الا اذا ضاق الوقت الاستثناء متصل بقوله فُرض الترتيب والمعنى انه ضاق الوقت عن القضاء

والاداءوان كان الباقي من الوقت بحيث يسع فيه بعض الفوائت مع الوقتية فانه يقضي مايسعه الوقت مع الوقتية كما اذا فات العشاء والوتر ولم يبق من وقت الفجر الا ان يسع فيه خمس ركعات يقضي الوتر ويؤدي الفجر عند ابي حنيفة وان فات الظهر والعصر ولم يبق من وقت المغرب الا مايصلي فيه سبع ركعات يصلي الظهر والمغرب او نُسِيت، الفجر المستطير في بيان ما يسقط الترتيب: الا اذا ضاق..... الخ مګر ترتیب فرض نه دی کله چې په وخت د شروع کولو کې وخت تنګ شو والمعنی مقصد دادی چې وخت مره تنګ شي چې قضاء او اداء دواړه په کې ځايېږي، نو قضاء به پرېږدي او اداء يعنې وختي لمونځ وکړي وان کان.... الخ او که باقي وخت دومره و چې د وختي لمانځه سره بعض فوتي لمونځونه هم کېدل کما اذا مثلاً د ماخوستن لمونځ او وتر تري قضاء شو، ولم يبق او د سهار وخت صرف دومره پاتې و چې پنځه رکعاته په کې کېدل نو د وترو قضاء به راوړي او د سهار لمونځ به اداء کړي او د ماخوستن د فرضو قضاء به بيا د سهار ځخه وروسته راوړي، دا د امام ابوحنيفه په نزد باندې دی، اما د صاحبينو په نزد وتر سنت دي او تابع د فرضو دي نو اول به د ماخوستن د لمانځه قضاء راوړي بيا به د سهار لمونځ اداء کړي. وان فات... الخ او که د ماسپښين او مازيګر لمونځ ترې فوت شو ولم يبق...... الخ او د ماښام وخت نه و پاتې مګر صرف دومره پاتې و چې اوو رکعاته په کې کېدل نو د ماسپښين لمونځ او د ماښام لمونځ به اداء کړي او د مازيګر لمونځ به وروسته اداء کړي. او نسيت: يا ترې فوتي لمونځ هېر شو يعنې په نسيان سره هم ترتيب ساقطېږي، نسيان دې ته وايي چې په وخت د ضرورت کې د يو شي نه يادېدلو ته وايي، دا يو سماوي عذر دی له انسان نه مکلفيت لرې کوي ځکه دا د انسان په وس کې نه وي او هر وخت د فوتي لمانځه له پاره په يادېدلو سره وخت دی او چې ياد نه شو نو وخت نه دی. ددې له پاره بحر الرائق دوهم ټوک ۱۴۶ صفحه.

او که يو سړی په فرضيت د ترتيب باندې نه پوهېږي نو دا هم په شان د ناسي دی. بحر الرائق دوهم ټوک ۱۴۹ صفحه، وهامش بحر دوهم ټوک ۱۴۴ صفحه، ومثله فی التاتارخانيه.

او فاتت ستة حديثة كانت او قديمة قيل الستة وما دونها حديثة وما فوقها قديمة كذا في فوائد الجامع الصغير الحسامي قلت بعد الكثرة اولا فيصح وقتي من ترك صلوة شهر فندم واخذ يؤدي الوقتيات ثم ترك فرضاً هذا تفريع لقوله قديمة كانت اوحديثة فانه اذا اخذ يؤدي الوقتيات صارت فوائت الشهر قديمة وهي مسقطة للترتيب فاذا ترك فرضاً يجوزمع ذكره اداءوقتي بعده.

توضيح البيان: اوفاتت او ترتيب ساقطېږي په مابين د فوتی او وقتی لمونځونو کې او

همدا رنګه په مابین د فوتیو کې چې کله شپږ لمونځونه فوت شي نوي وي او که زاړه وي، **قیل** په یو قول کې راغلي چې شپږ او د شپږو نه کمو ته نوي وايي او د شپږو نه زیاتو ته قدیمي یعنې زاړه وايي. د جامع الصغیر په شرح فوائد کې حسام وېلي دي **قلت** یعني زیات فوتي لمونځونه ترتیب ساقطوی برابره خبره ده چې ډېر والي څخه وروسته لږ وګرځي او که ونه ګرځي **فیصح** غرض د مصنف ددې عبارت څخه یوه تفریع ده په دې قول باندې چې قدیمة کانت او حدیثة. فیصح نو صحیح ده وختي لمونځ د هغه چا چې پرېږدي د یوې میاشتې لمونځ بیا پښېمانه شي او شروع وکړي چې وختي لمونځونه اداء کړي، بیا یو فرض لمونځ پرېږدي، **فانه اذا** کله چې دا کس وختي لمونځونه اداء کوي نو هغه د یوې میاشتې فوتي لمونځونه ددې قدیمي وګرځېده او دې سره ترتیب ساقطېږي، خو کله چې بیا یو فرض لمونځ پرېږدي نو سره دده چې ده ته دغه فرض لمونځ یادوي چې قضاء شوی، روا دي ده لره چې ددې څخه وروسته وختي لمونځ اداء کړي.

او قضی صلوة الشهر الافرضاً اوفرضین هذا تفریع لقوله قلت بعد الکثرت اولا فانه لما قضی صلوات الشهر الافرضاً اوفرضین قلت الفوائت بعد الکثرة فلا یعود الترتیب الا ان یقضی الکل وعند بعض المشائخ ان قلت بعد الکثرة یعود الترتیب واختار الامام السرخسی الاول وقال صاحب المحیط علیه الفتوی.

التفریع الثانی: **اوقضی** یا یې قضاء د یوې میاشتې د لمانځه راوړله مګر د یو لمونځ یا دوه لمونځونو قضاء یې رانه وړه دا دویمه تفریع ده ددې له پاره چې قلت بعد الکثرة اولا یعني چې د یو سړي څخه د یوې میاشتې لمونځونه قضاء شو او د ټولو قضاء یې راوړه مګر صرف د یو یا دوه لمونځونو قضاء رانه وړه نو دغه فوائت خو د ډېر والي نه وروسته کم شو خو سره له دې ترتیب نه راګرځي تردې چې د ټولو قضاء رانه وړي او بعض علماء وايي چې کله د ډېر والي نه وروسته کم شو نو ترتیب بیرته راګرځي، امام سرخسي اول قول غوره کړی او صاحب د محیط وايي چې په همدې فتوی ده.

من صلی خمساً ذاکراً فائته فسد الخمس موقوفاً ان ادی سادساً صح الکل وان قضی الفائتة بطل فرضیة الخمس لا اصلها رجل فاتته صلوة فادی مع ذکرها خمساً بعدها فسدت هذه الخمس لوجوب الترتیب لکن عند ابی یوسف ومحمد فساداً غیر موقوف وهو القیاس وعند ابی حنیفة فساداً موقوفاً ان

ادی سادساً صح الکل وان قضی الفائتة فالخمس التی اداها بطل وصف فرضیتها لا اصلها فانه لایلزم من بطلان الفرضیة بطلان اصل الصلوة عند ابی حنیفة وابی یوسف خلافاً لمحمد رحمه الله وانما قال ابوحنیفة بالفساد الموقوف لانه ان فسد کل واحد منها لوجوب رعایة الترتیب فساداً غیر موقوف فحین ادی السادس تبین ان رعایة الترتیب کانت فی الکثیر وهذا باطل فقلنا بالتوفیق حتی یظهر ان رعایة الترتیب ان کانت فی الکثیر فلا تجوز وان کانت فی القلیل فتجوز.

البیان الکافی: من صلی.... الخ چاچې پنځه وخته لمونځونه وکړل، **ذاکراً فائتة** په داسې حالت کې چې یادېدونکې د قضایې لمانځه ؤ. فسد الخمس.... الخ نو پنځه لمونځونه فاسد شول په فساد موقوف سره تر شپږم لمانځه پورې، **ان ادی** که شپږم لمونځ یې اداء کړ نو ټول پنځه واړه لمونځونه صحیح شول او که د فوتې لمانځه قضایې راوړه نو ددغه پنځه لمونځونو فرضیت ئی باطل شو خو اصل یې باطل نشو یعنې لمونځ نفل شو.

رجل یوسړی ځخه یو لمونځ قضاء شو دا ورته په یاد ؤ او سره ددې نه یې پنځه لمونځونه وروسته نور وکړل نو دغه پنځه لمونځونه فاسد شول، **لوجوب** ځکه ترتیب واجب و او علت د سقوط د ترتیب هم نه و لکن.... الخ لکن د امام ابو یوسف او امام محمد رحمه الله په نزد په فساد غیر موقوف سره فاسد شو یعنې فی الحال فاسد شو ځکه ترتیب هلته ساقطیږي چې د یو لمانځه د کولو ځخه مخکې د پنځو لمونځونو ځخه لمونځ زیات شي او د لمانځه د کولو ځخه وروسته کثرت سره ترتیب نه ساقطیږي نو په موجوده صورت کې دغه پنځه واړه لمونځونه فی الحال فاسد شو، **وعند ابی حنیفة** د امام ابوحنیفه په نزد دغه پنځه لمونځونه فاسد شول خو په فساد موقوف سره یعنې تر شپږم لمانځه پورې موقوف دی که شپږم لمونځ یې وکړونو هغه پنځه لمونځونه صحیح شول او که شپږم لمونځ یې ونه کړ بلکه قضایې لمونځ یې اداء کړو نو هغه پنځه لمونځونه چې ده اداء کړي ؤ وصف د فرضیت یې باطل شو خو اصل یې باطل نه دي یعنې لمونځ یې نفل وګرځېده ځکه د فرضیت د بطلان ځخه نه لازمیږي، بطلان د اصل لمانځه په نزد د شیخینو او په نزد د امام محمد سره د وصف د فرضیت سره وصف د اصل لمانځه هم باطل شو ځکه ده تحریمه منعقد کړی وه، د فرضو له پاره او کله چې تحریمه باطله شوه نو اصل لمونځ هم باطل شو، **وانما قال امام ابوحنیفة** د فساد موقوف خبره ځکه کوي چې که د وجې د وجوب د رعایت د ترتیب نه فاسد شي په فساد غیر موقوف سره لکه صاحبین یې چې وایي نو کله چې شپږم لمونځ اداء کړي نو معلومه شوه چې رعایت د

ترتيب په کثرت کې ده او دا خو صراحة باطله ده ځکه چې کثرت سره رعايت د ترتيب نه راځي بلکه ترتيب ورسره ساقطيږي، فقلنا نو د همدې وجې نه مونږ د توقف حکم وکړو تر دې چې دا معلومه شي چې رعايت د ترتيب که په کثرت کې و نو دغه رعايت جايز نه دی او که رعايت د ترتيب په قليل کې و نو بيا جايز دی هغه داسې چې د فوتي لمانځه قضاء مخکې ددې ځخه راوړي چې حد د کثرت ته ورسيږي.

باب السجود السهو

دا باب دی په بيان د احکامو د دوه سجدو د سهوه کې

يجب له بعد سلام واحد سجدتان وتشهد وسلام اذا قدم ركنا اواخره اوكرره اوغيرواجبا اوتركه ساهيا كركوع قبل القرأة وتأخير القيام الى الثالثة بزيادة على التشهد روى عن ابى حنيفة ان من زاد على التشهد الاول حرفاً يجب عليه سجود السهو وقيل لايجب عليه سجود السهو بقوله اللهم صلى على محمد ونحوه وانما المعتبر مقدار ما يؤدى فيه ركن وركوعين الجهر فيما يخافت وعكسه وترك القعود الاول وقيل كل هذه يؤل الى ترك الوجب.

ايضاح البيان: **يجب له** واجب ده لمونځ کوونکي لره **بعد سلام** وروسته د سلام ځخه **واحد** د يو سلام ځخه يعنې ښي طرفته **سجدتان** دوه سجدې دي. **وتشهد** او تشهد به بيا هم ووايي **وسلام** او سلام دی په اخر کې له پاره د وتلو د لمانځه ځخه يعنې يو طرف ته به سلام وګرځوي او بيا به دوه سجدې وکړي او تشهد به ووايي ځکه سجده سهوه سره مخکنې تشهد ختميږي او اخر کې به سلام وګرځوي. سجده سهوه په هغه صورت کې واجبيږي چې يو رکن مخکې کړي او اخره يا يو رکن وروسته کړي **اوكرره** يا يو رکن تکرار کړي او **غيرواجباً** يا يو واجب بدل کړي او **تركه ساهياً** يا يو رکن په هيره پريږدي، **كركوع قبل القرأة** دا د هغې مثال دی چې يو رکن مخکې کړي يعنې چې د قرأت ځخه رکوع مخکې وکړي نو سجده سهوه پرې واجب ده. **وتأخير**... الخ دا د تاخير د رکن مثال دی چې په اوله قعده کې د تشهد نه زياتوالی وکړي يعنې اللهم صل... الخ ووايي نو په دې سره تاخير د قيام راځي د دريم رکعت له پاره او په دې تأخير سره سجده سهوه لازميږي، د امام ابوحنيفه رحمه الله ځخه روايت دی چې ځوک په اوله قعده کې په تشهد باندې يو حرف زيات کړي نو هم سجده سهوه واجب ده او بعض علماء وايي چې په اللهم صل على محمد سره سجده سهوه واجبيږي او بعض علماء وايي چې په اللهم صل على

محمد سره سجده سهوه نه واجبيږي ترڅو چې وعلى ال محمد ونه وايي ، وانما المعتبر خو معتبر په سجده سهوه کې هغه اندازه ده چې په هغې کې رکن اداء کولی شي لکه قيام وغيره ورکوعين دا مثال د تکرار د رکن دی چې په يو رکعت کې دوه رکوع وکړي نو په دې سره سجده سهوه واجبيږي.

والجهر..... الخ دا مثال د تغير د واجبو ده چې په خفيه ځايو کې په جهر سره قرأت ووايي او يا په جهري ځای کې په خفيه سره قرأت ووايي، وترك القعود الاول. دا مثال د ترک د واجبو دی چې اوله قعده په سهوې سره پريږدي نو سجده سهوه ورباندې واجبيږي او که اخره قعده پريږدي نو لمونځ يې باطل دی ځکه اخره قعده فرض ده او په ترک د فرضو سره لمونځ باطليږي. وقيل كل .... الخ بعضې علماء وايي چې دغه ټول موجبات د سجده سهوې يؤل..... الخ راجع کيږي ترک د واجبو ته يعني ټول په ترک د واجبو کې داخل دي.

ولايجب بسهو المؤتم بل بسهو امامه ان سجد والمسبوق يسجد مع امامه ثم يقضى مافات عنه ومن سها عن القعدة الاولى وهو اليها اقرب عاد ولا سهو والا قام وسجد للسهو وان سها عن الاخيرة عاد مالم يقيد بالسجدة وسجد للسهو وان قيد تحول فرضه نفلاً وضم سادسة ان شاء انما قال ان شاء لانه نفل لم يشرع فيه قصداً فلم يجب عليه اتمامه.

تنوير البيان: ولايجب او سجده سهوه نه واجبيږي، په سهوه د مقتدي سره نه په امام باندې او نه په مقتدي باندې، په امام باندې ځکه نه واجبيږي چې مقتدي تابع وي او تبع په اصل باندې څه شی نه واجبوي او په مقتدي ځکه نشته چې مخکې د سلام نه مخالفت د امام راځي او وروسته د سلام نه د امام په سلام سره د لمانځه څخه خارجيږي. **بل بسهو امامه ان سجد** بلکې سجده سهوه واجبيږي په سهوې د امام سره خو چې امام سجده د سهوې وکړي او که امام سجده سهوه ونه کړي نو بيا هم په مقتدي نه واجبيږي. **والمسبوق** هغه کس چې څه لمونځ ترې د جمع فوت شوي وي د امام سره به سجده سهوه وکړي، بيا به قضاء د فوت شوي لمانځه راوړي. ومن سها... الخ که يو کس د اولې قعدې څخه سهوه شي يعنې دريم رکعت ته اودريږي نو که قعدې ته نږدې وٌ نو بېرته به قعدې ته راوګرځي او سجده سهوه ورباندې نشته. **والاقام** او که سجدې ته نږدې نه وٌ نو دريم رکعت ته به پاڅيږي او اخر کې به سجده سهوه وکړي. وان سهاعن... الخ او که د اخرې قعدې څخه سهوه شو يعنې پنځم رکعت ته پاڅېده نو وجوبابه بېرته قعدې ته راګرځي ترڅو چې يې په پنځم رکعت کې سجده نه وي کړي او سجده سهوه به

وکړي، وان قید او که پنځم رکعت یې مقید کړی ؤ په سجدې سره یعنې سجده یې په کې کړې وه نو دده فرض نفل وګرځېده او شپږم رکعت به ورسره یو ځای کړي که دده خوښه شي، د خوښې خبره یې ځکه وکړه چې ده قصداً په نفلو شروع نه وه کړې نو ددې پوره کول هم ورباندې واجب نه دي.

وان قعد الاخيرة ثم قام سهواً عاد مالم يسجد للخامسة وسلم وان سجدلها تمّ فرضه وضم سادسة وسجد للسهو والركعتان نفل ولاقضاء لوقطع ولا تنوبان عن سنة الظهر فان قلت لم قال قبل هذه المسألة وضم سادسة ان شاء وقال في هذه المسألة وضم سادسة ولم يقل ان شاء مع ان الركعتين نفل في الصورتين بحيث لوقطع لا قضاء فيكون في هذه المسألة ضم السادسة مقيداً بمشيته قلت ضم السادسة في هذه المسألة اكد من ضم السادسة في تلك المسألة مع انه لو قطع لاقضاء في المسألتين وذلك لان فرضه قدتم في هذه المسألة لكن بتاخير السلام يجب سجود السهو في هاتين الركعتين فسجود السهو لتدارك نقصان الفرض واجب في هاتين الركعتين فلو قطع هاتين الركعتين بأن لايسجد للسهو يلزم ترك الواجب ولوجلس من القيام وسجد للسهو لم يؤد سجود السهو على الوجه المسنون فلا بد من ان يضم سادسة وجلس على الركعتين وسجد للسهو بخلاف تلك المسألة فان الفرضية قد بطلت فما ذكرنا من تدارك نقصان الفرض غير موجود ههنا علا ان اصل الصلوة باطل عند محمد رحمه الله فعلم ان ضم السادسة صيانة عن البطلان اكد في هذه المسألة فلهذا لم يقل ان شاءوانما قال لاتنوبان عن سنة الظهر لان النبي عليه السلام مواظب عليها بتحريمة مبتدأة.

تنقيح المسئلة: **وان قعد** او که اخره قعده یې وکړه په اندازه د تشهد بیا پنځم رکعت ته پاڅېده په سهوې سره نو که د پنځم رکعت له پاره یې سجده کړې نه وه نو بېرته به راوګرځي او سلام به وګرځوي او که د پنځم رکعت له پاره یې سجده کړې وه نو فرض دده پوره شو او شپږم رکعت به ورسره یو ځای کړي او بیا به سجده سهوه وکړي او دا وروستني دوه رکعته دده نفل وګرځېدل. **ولاقضاء** او که دغه دوه رکعته قطع کړي نو ددې قضاء ورباندې نشته ځکه په دې کې قصداً ده شروع کړې نه وه. **ولا تنوبان** او که دغه واقعه په ماسپښین کې وه نو دغه دوه رکعته د ماسپښین د هغه وروستنیو دوه رکعتو سنتو په ځای نه درېږي بلکه هغه به بیا کوي، **فان قلت** که ته یو سوال وکړې چې مصنف په مخکې مسئله کې ولې د ان شاء لفظ وویلو او په دویمه مسئله کې یې د ان شاء لفظ ونه ویلو سره له دې نه چې په دواړو صورتونو کې دواړه

رکعته نفل دي که قطع يې کړې نو قضاء هم ورباندې نشته، **قلت** شارح جواب کوي چې په دواړو صورتونو کې نفل که قطع کړای شي نو قضاء يې نشته خو په وروستنۍ مسئله کې د شپږم رکعت يو ځای کول ورسره ضروري دي، **وذلك لان**.... الخ ځکه ضروري دي چې په دې مسئله کې د قعدې اخرې په کولو سره دده فرض تمام شوي مګر په دوو رکعتونو کې تاخير د سلام سره سجده سهوه واجب شوه، ددې له پاره چې په فرضو کې کوم نقصان شوی چې هغه په سجده سهوې سره په دې دوه رکعتو کې را لاندې شي، **فلوقطع** نو که دغه دوه رکعته قطع کړي او سجده سهوه ونه کړي نو ترک د واجبو لازميږي، **ولوجلس** او که د قيام ځخه کيني او سجده سهوه کوي نو سجده سهوه په سنت طريقه نه اداء کيږي، **فلا بد** نو ضروراً به شپږم رکعت ورسره يوځای کوي او بيا به د دوو رکعتو په سر کيني او سجده سهوه به کوي، **بخلاف** په خلاف د مخکينۍ مسئلې چې هلته فرضيت باطل شوی و نو تدارک د نقصان د فرضو هلته موجود نه و، علا علاوه لا دا چې د امام محمد په نزد اصل لمونځ هم باطل ؤ، **فعلم** نو معلومه شوه چې په دې مسئله کې د شپږم رکعت يو ځای کول ډېر ضروري ؤ ددې له پاره چې د بطلان ځخه محفوظ شي د همدې وجې نه يې ان شاء ونه ويل، وانما قال او دا خبره يې ځکه وکړه چې دغه دوه رکعته د ماسپښين د دوه رکعتو سنتو ځخه نه قائميږي ځکه چې رسول الله ﷺ په دغه دوو رکعتونو سنتو سره همېشه والی په نوې تحريمې سره کړی يعنې ځانته تحريمې سره يې اداء کړي دی.

ومن اقتدى به فيهما صلاهما ولو افسد قضاهما لانه شرع قصداً وعند محمد يصلى ستاً ولو افسد لايقضى كما ان الامام لايقضى من تنفل ركعتين وسهاً فسجد لايبنى لان سجود السهو يقع فى خلال الصلوة فان بنى صح اى ان صلى بهذه التحريمة نافلة من غير ان يجدد التحريمة يجوز سلام من عليه السهو يخرجه عنها موقوفاً حتى يصح الاقتداء به ويبطل وضوؤه بالقهقة ويصير فرضه اربعاً بنية الاقامة ان سجد بعده والا فلا اى المصلى الذى عليه سجدة السهو ان سلم فى اخر صلاته قبل ان يسجد للسهو يخرجه عن الصلوة خروجاً موقوفاً فينظر انه ان سجد للسهو بعد ذلك السلام يحكم بانه لم يخرج عن الصلوة وان لم يسجد بل رفض الصلوة يحكم بانه قد كان خرج عنها حتى ان سلم ثم اقتدى به انسان ثم سجد للسهو يكون الاقتداء صحيحاً ولو لم يسجد بل رفض الصلوة لم يصح الاقتداء واذا سلم ثم قهقه ثم سجد يحكم ببطلان وضوئه اذالقهقة وجدت فى خلال الصلوة ولو لم

يسجد بل رفض لم يبطل وضوؤه ولو سلم ثم نوى الاقامة ثم سجد للسهو صار هذا الفرض اربعاً لان نية الاقامة كانت فى خلال الصلوة ولو لم يسجد بل رفض لم يصر فرضه اربعاً لان نية الاقامة وجدت بعد الصلوة.

ایضاح البیان: که یو کس له امام پسې په دغه دوو رکعتونو کې اقتداء وکړي یعنې په هغه صورت کې چې امام مثلاً په رباعیو کې قعده وکړه او بیا پنځم رکعت ته پاڅېدلو او یو کس وریسې اقتداء وکړه نو دغه کس به هم دغه دوه رکعته لمونځ کوي او که فاسد یې کړ نو قضاء به یې هم راوړي ځکه دغه مقتدي په دې دوه رکعتو کې قصداً شروع وکړه او که امام اخره قعده نه وه کړې نو مقتدي به شپږ رکعته کوي، د لفظ معنا داسې ده، **ومن اقتدى** چاچې اقتداء وکړه به د امام پسې **فيهما** په دې دُوو زیاتي رکعتو کې **صلاهما** دا دوه رکعته به اداء کړي.... الخ، وعند **محمد**، امام محمد وایي چې مقتدیان به په امام قیاس وي یعنې امام چې شپږ رکعته کوي او که فاسد یې کړي دا دوه رکعته نو قضاء وربانديې نشته، همدارنګه مقتدي به هم شپږ رکعته کوي او که فاسد یې کړ نو قضاء هم وربانديې نشته، **من تنفل** څوک چې دوه رکعته نفل وکړي او سهوه شي بیا سجده سهوه وکړي نو **لايبنى** نو نور لمونځ په دې تحریمه نشي بناء کولی ځکه بیا سجده سهوه د لمانځه په منځ کې راځي، **فان بنى صح** او که بناء یې وکړه یعنې په همدې تحریمې یې نفل وکړل بې له دې چې تحریمه نوې کړي نو صحیح ده، خلاصه دا شوه چې په همدې تحریمه نور نفل کول مکروه دي، خو که ویې کړي نو صحیح کیږي خو سجده سهوه به بیا د لمانځه په اخر کې راوګرځوي. ځکه مخکینی سجده سهوه په دې خاطر چې د لمانځه په منځ کې راغله، باطله شوه.

یجوز سلام... الخ یو کس باندې سجده سهوه وه او سلام یې د لمانځه په اخر کې وګرځاوه او سجده سهوه یې نه وه کړې نو دې سلام سره له لمانځه څخه وځي په خروج موقوف سره یعنې ګوري به که ددې سلام څخه وروسته یې سجده سهوه وکړه نو په دې به حکم کولی شي چې دا د لمانځه څخه وتلې نه ده او که سجده سهوه یې ونه کړه بلکې لمونځ یې پرېښود نو حکم به کولی شي چې دا لمانځه څخه وتلی دی، حتی تر دې که سلام یې وګرځاوه او بیا وریسې یو انسان اقتداء وکړه بیاً یې سجده سهوه وکړه نو دغه اقتداء به صحیح وي او که سجده یې ونه کړه بلکې لمونځ یې پرېښود نو اقتداء صحیح نه شوه.

ويبطل همدا رنګه که سلام یې وګرځاوه او بیا یې په زوره خندا وکړه نو دده اودس به

باطل وي ځکه خندا قهقه په منځ د لمانځه کې راغله او که سجده ونه کړي بلکې لمونځ پرېږدي نو اودس يې نه ماتيږي، **ويصيرفرضه** که يو مسافر سړي باندې سجده سهوه وه او سلام يې وګرځاوه بيا يې نيت د اقامت وکړ بيا يې سجده سهوه وکړه نو دده فرض په نيت د اقامت سره څلور وګرځېدل ځکه نيت د اقامت د لمانځه په منځ کې وګرځېد او که د نيت د اقامت نه وروسته سجده سهوه ونه کړي بلکه لمونځ پرېږدي نو دده فرض څلور نه ګرځي ځکه نيت د اقامت وروسته له لمانځه څخه موجود شوی دی.

سهوا وسلم بنية القطع بطل نيته حتى يكون تحريمته باقية كما مر شك اول مرة انه كم صلى استأنف وان كثر اخذ ما غلب على ظنه لانه اذا كثر كان في الاستيناف حرج وان لم يغلب اخذ الاقل وقعد في كل موضع ظنه اخر صلاته يعني ان شك انه صلى ثلث ركعات او اربع ركعات ولم يغلب على ظنه احدهما اخذ بالاقل وهو الثلث لكن يقعد ثم يصلي ركعة اخرى وانما يقعد لانه يمكن ان يكون اخر صلاته والقعدة الاخيرة فرض وقوله ظنه اخر صلاته ليس المراد بالظن رجحان احد الطرفين بل المراد الوهم لان المفروض انه لم يغلب احد الطرفين على الاخر.

نهاية البيان: يو کس سهوه شو يعني سجده سهوه وربانديې واجب شوه، خو سلام يې وګرځاوه په نيت د قطع کولو سره له لمانځه نه، نو دغه نيت يې باطل شو تر دې چې تحريمه دده باقي ده خو په دې شرط چې د قبلې څخه ګرځېدلی نه وي او نه يې خبرې کړې وي، که خبرې يې وکړې يا له قبلې څخه وګرځېد نو تحريمه يې باطليږي. شک اول.. الخ يو سړي ته اول ځل شک ورولوېده، يعني له بلوغ نه وروسته دا اول ځل شک و چې ور ولوېده او مخکې يې عادت نه و، **انه کم صل** شک دا و چې ما څومره لمونځ وکړو؟ استأنف نو لمونځ به بيا له سره راوګرځوي. وان اکثر.... الخ او که شک ورته زيات واقع کېده، اخذ .....الخ عمل دې کوي په هغه څه چې غالب وي په ګمان دده ځکه کله چې چې شک زيات وي نو بيا په هر وار له سره لمونځ راګرځولو کې حرج او تکليف وي.

وان لم يغلب او که يو شی هم دده په غالب ګمان کې نه و نو **اخذ بالاقل** نو عمل دې په کمو باندې وکړي، ځکه چې کم يقيني وي. وقعد..... الخ او کيني دې په هر هغه ځای کې چې دده ګمان دا وي چې دا اخر د لمانځه دي، يعني مقصد دا چې که شک يې دا و چې ما درې رکعته لمونځ کړی او که څلور رکعته او يو يې هم په غالب ګمان کې نه و نو عمل دې په اقل وکړي چې درې دي خو د درې رکعتونو څخه وروسته دې هم قعده وکړي بيا دې يو رکعت وکړي.

وانما یقعد ...الخ د دري رکعتونو څخه وروسته ځکه کیني چې امکان لري چې دا اخر لمونځ دده وي او قعده اخره فرض ده، وقوله ظنه..... الخ دا دفع د یو اعتراض ده هغه داسې چې تا مخکې وویلې چې ددغه کس یو طرف ته غالب ګمان نه و نو عمل به په اقل کوي خو په کوم ځای کې چې دده ظن وي نو چې دا اخر لمونځ دی نو هلته به کیني، نو سوال دادی چې ظن ویل کیږي یو طرفته ترجیح ورکولو ته او په دې صورت کې خو ترجیح یو طرفته نشته او که یو طرفته ترجیح وای نو بیا خو عمل په همدې کېده نه په اقل باندې، نو شارح جواب وکړو چې د ظن نه یو طرفته ترجیح مراد نه ده بلکې وهم ترې مراد ده ځکه په دې صورت کې فرض کړای شوې دا خبره چې یو طرف د ظن په بل طرف د ظن غالب نه وي.

باب صلوة المریض

باب دی په بیان د لمانځه د مریض کې:

ان تعذر القیام لمرض حدث قبل الصلوة اوفیها صلی قاعداً یرکع ویسجد وان تعذرا ای الرکوع والسجود او مأ برأسه قاعداً وجعل سجوده اخفض من رکوعه ولایرفع الیه بشئ للسجود وان تعذر القعود اومأ مستلقیاً ورجلاه الی القبلة اومضطجعاً ووجهه الیها والاول اولی وان تعذر الایماء اخرت ولایؤمی بعینیه وحاجبیه وقلبه وان تعذر الرکوع والسجود لاالقیام قعد واومأ وهو افضل من الایماء قائماً لان القعود اقرب من السجود وهوالمقصود لانه غایة التعظیم.

القول البلیغ فی بیان صلوة المریض: ان تعذرا ...الخ او که په فرض لمانځه کې ورته دربدل ګران و د یو داسې مرض له وجې چې مخکې د لمانځه څخه پیدا شوی و او یا په لمانځه کې پیدا شو نو په ناسته دې لمونځ وکړي رکوع او سجده دې کوي. **وان تعذر** او که په ناسته هم ورته رکوع او سجده ګرانه وه بیا دې په ناسته په سر سره اشاره کوي خو سجده به ښکته ګرځوي د رکوع نه، **ولایرفع** او نه به راپورته کوي خپل مخ ته هیڅ یو شی د سجدې له پاره. **وان تعذرالقعود** او که ناسته هم ورته ګرانه وه نو ستوني ستاغ دې اشاره کوي او پښې به قبلې خواته وغځوي یا دې په ښي اړخ څملي او مخ د قبلې خواته کړي خو اوله طریقه غوره ده او که اشاره هم ورته ګرانه وه نو بیا دې لمونځ وروسته کړای شي یعنې اوس دې پرېږدي کله چې په اداء کولو قادره شو نو بیا دې اداء کړي خو په سترګو سره اشاره کول یا په ورځو سره یا په زړه سره اشاره کول جایز نه دي، **وان تعذرالرکوع** او که صرف رکوع او سجده ورته ګرانه وه نه ولاړه،

یعنې اودریدلی شو خو رکوع او سجده یې نه شوه کولای نو په ناسته دې اشاره وکړي او په ناسته اشاره کول غوره دي، د ولاړې د اشارې کولو نه ځکه ناسته سجدې ته نژدې ده او همدا سجده مقصود ده ځکه سجده یو لوی تعظیم دی.

ومؤمی صح فی الصلوة استأنف ای ابتدأ وقاعدٌ یرکع ویسجد وصح فیها بنی قائماً صلی قاعداً فی فلك جارٍ بلا عذر صح وفی المربوطة لا الا بعذر جن او أُغمی علیه یوماً ولیلة قضی مافات وان زاد ساعة لا هذا عند ابی حنیفه وابی یوسف واما عند محمد فالمعتبر الاوقات ای ان استوعب وقت ست صلواة تسقط وقوله وان زاد ساعة ای زماناً لاما تعارفه المنجمون.

توضیح المسئله: ومؤمی... الخ یو سړي په اشارې سره په لمانځه کې شروع وکړه د مرض له وجې خو د لمانځه په منځ کې روغ شو او مرض یې ختم شو په رکوع او سجده قادر شو نو دغه لمونځ یې باطل شو او بیا به له سره لمونځ راوګرځوي او په تیر لمانځه به بناء نه کوي ځکه بناء د قوي راځي د ضعیف پسې او بناء د قوي ضعیف پسې نه صحیح کیږي. وقاعدٌ.... الخ یو سړي په ناسته رکوع او سجده کوله او د لمانځه په منځ کې روغ شو، **بنی قائماً** په ولاړه دې په لمانځه بناء وکړي یعنې له سره به لمونځ نه راګرځوي بلکې همغه لمونځ دې په ولاړه پوره کړي.

صلی قاعداً یو سړي په ناسته سره په روانه کښتۍ کې بې له څه عذره لمونځ کاوه یعنې بې له سرګرځېدلو وغیره نه نو دا لمونځ یې صحیح دی خو په ولاړه غوره دی، وفی المربوطة.... الخ او په تړل شوې کښتۍ کې چې د دریاب په غاړه ولاړه وي په ناسته لمونځ بلا عذره نه صحیح کیږي. جن که یو سړی ته د لیونتوب مرض پیښ شو یا بې هوشي پرې راغله یوه شپه او ورځ نو کوم لمونځونه چې په دې یو شپه او روز کې ترې فوت شوي د هغې قضاء به راوړي او که یو ساعت هم په دې شپه او روز زیات شو نو بیا قضاء نشته دا د امام ابوحنیفه او امام ابو یوسف رحمه الله قول دی او د امام محمد په نزد اعتبار وختونو ته دی یعنې که د شپږو لمونځونو وخت یې راګیر کړو نو لمونځ به ساقط وي او که کم وي نو ساقط به نه وي. **وقوله وان زاد ساعة** د ساعت نه مراد څه زمانه او وخت مراد دی نه هغه ساعت چې د علم نجوم والا یې وایي چې شپېته دقیقې دي.

وعبارة المختصر هکذا وان تعذر مع القیام او ما برأسه قاعداً ان قدر ولا معه فهو احب وجعل سجوده اخفض من رکوعه ولا یرفع الیه شئ یسجد علیه والا فعلی جنبه متوجهاً الی القبلة او ظهره کذا وذا اولی والایماء بالرأس فان تعذر أُخرت ومؤمی صح الی اخره ای ان تعذر الرکوع والسجود مع القیام

اومأ قاعداً ان قدر علی القعود ولا معه ای لا مع القیام ای ان تعذر الرکوع والسجود لا القیام رمز فا الایماء قاعداً احب وقوله والا فعلی جنبه ای وان لم یقدر علی القعود اومأ علی جنبه متوجها الی القبلة او علی ظهره متوجهاً بأن یکون رجلاه الی القبلة وقوله والایماء مبتدأ وبالرأس خبره.

توضیح المسئله: د مختصر عبارت ددې له پاره راوړی چې لنډ هم دی او سره ددې پوره مقصد هم ترې حاصلیږي، **ان تعذرا** که رکوع او سجده د قیام سره ګرانې وي نو اشاره به په سر سره په ناسته وکړي، **ان قدر** که په ناسته قادر و، **ولا معه ای لا مع القیام** یعنې که رکوع او سجده ګرانه وه خو قیام ګران نه ؤ فهو احب نو بیا په ناسته اشاره کول غوره دي خو سجده به د رکوع څخه ښکته وګرځوي او منځ ته به څه نه راپورته کوي چې په هغې سجده وکړي. **والا فعلی جنبه** یعنې که په ناسته هم قادر نه و نو بیا دې اشاره وکړي په څنګ باندې چې مخ به یې قبلې ته وي، یا دې په شاه څملي چې مخ یې قبلې ته وي: هغه داسې چې پښې قبلې ته وغځوي، والایماء مبتدأ ده او باالرأس خبر دی.

باب سجود التلاوة

باب دی په بیان د سجده تلاوت کې

هو سجدة بین تکبیرتین بشروط الصلوة بلا رفع ید وتشهد وسلام وفیها سبحة السجود وتجب علی من تلا آیة من اربع عشرة التی فی اخر الاعراف والرعد والنحل وبنی اسرائیل ومریم واولی الحج احتراز عن الثانیة وهی قوله تعالی. وارکعوا واسجدوا فانه لا سجدة عندنا خلافاً للشافعی ففی کل موضع من القرآن قُرن الرکوع بالسجود یراد به السجدة الصلوتیة والفرقان والنمل والم السجدة وص وحم السجدة والنجم وانشقت واقرأ وعند الشافعی فی اربع عشرة ایضاً ففی ص عنده لیس سجدة وفی الحج عنده سجدتان.

عون المعبود فی بیان السجود: هو سجدة سجدة تلاوت یوه سجده ده په مابین د دوه تکبیرونو کې چې یو تکبیر د ښکته کېدو له پاره دی او بل د پورته کېدو له پاره دی سره د شرائطو د لمانځه لکه د ځای پاکوالی، د جامو پاکوالی د بدن پاکوالی د حدث حکمي لکه جنابت وغیره څخه پاکوالی، قبلې ته مخ کول وغیره، د سجدې کولو له پاره اودرېدل مستحب دي، ځکه خرور یعنې ښکته کېدل د قیام څخه راځي لکه قرآن کریم هم په دې راغلی ویخرون

للاذقان الاية خو كه په ناسته يې وكړي نو هم څه ضرر نه لري. (بحر الرائق دوهم ټوک ۲۲۳ صفحه) بلا رفع يد ..... الخ بې له پورته كولو د لاس څخه يعني لاس پورته كول د تكبير په وخت كې سنت نه دي ځكه دا تكبير د ښكته كېدو له پاره دى نه د تحريمې له پاره، **وتشهد** او بې له تشهد څخه يعني تشهد به په كې نه وايي، **وسلام** او بې له سلام ګرځولو څخه يعني سلام ګرځول هم په كې نشته، ځكه سلام د تحليل له پاره راځي او هغه تقاضا ددې كوي چې مخكې تحريمه وي او دلته تحريمه نشته. (بحر الرائق دوهم ټوک ۲۲۳)

وفيها سبحه السجود او په سجده تلاوت كې به هغه تسبيحات وايي چې په نورو سجدو كې يې وايي، وتجب على من الخ او په هغه چا واجبېږي چې يو ايات د څوارلسو اياتو څخه تلاوت كړي.

۱: په اخر د سورة اعراف كې ده **ان الذين عند ربك لايستكبرون عن عبادته ويسبحونه وله يسجدون**. ۲: په سورة الرعد كې ده ولله يسجد من فى السموت الاية،. ۳ په سورة النحل كې ده ولله يسجد مافى السموت الاية. ۴: په سورة بنى اسرائيل كې يخرون للاذقان الاية. ۵: په سورة مريم كې اذا تتلى عليهم الاية. ۶: د سورة حج اولنى سجده الم تر ان الله يسجد او دويمه زمونږ په نزد سجده تلاوت نه ده چې هغه يا ايها الذين امنو اركعو واسجدو الاية ځكه كوم ځاى كې چې قرآنكريم كې ركوع سجدې سره يوځاى شوي وي نو هلته مراد د سجدې څخه سجده د لمانځه مراد ده.

خلافاً للشافعى د امام شافعى په نزد د سورة حج دواړه سجدې سجدې د تلاوت دي. (بحر دوهم ټوک ۲۱۲ صفحه) خو په سورة ص كې د هغه په نزد سجده نشته. ۷: په سورة فرقان كې واذا قيل لهم اسجدوا للرحمن الاية. ۸: په سورة النمل كې الا يسجد لله الاية. ۹: په سورة الم السجدة كې **انما يؤمن بأياتنا الاية**. ۱۰: په سورة ص كې وخروا راكعاً واناب. ۱۱: په حم السجده كې د اختلاف بيان وروسته دى. ۱۲: په سورة النجم كې واسجدو واعبدوا. ۱۳: په سورة وانشقت كې واذا قرئ عليهم القرآن لايسجدون. ۱۴: په سورة اقراء كې واسجد واقترب.

واختلف فى موضع السجدة فى حم السجدة فعند على رضى الله عنه هو قوله تعالى ان كنتم اياه تعبدون، وبه اخذ الشافعى وعند ابن مسعود هو قوله تعالى وهم لايسأمون فاخذنا بهذا احتياطاً فان تأخير السجدة جائز لاتقديمه اوسمعها وان لم يقصده اى السماع تلا الامام سجد المؤتم معه وان لم يسمع وان تلا المؤتم لم يسجد اصلاً اى لافى الصلوة ولافى بعدها وسجد السامع الخارجى.

توضيح المسئله: د حم السجدة په سورة کې د سجدې په ځای کې اختلاف دي، د حضرت علی رضی الله عنه په نزد دا قول د الله تعالى دی **ان کنتم اياه تعبدون** او امام شافعی رحمه الله په همدې قول عمل کړی دی او د عبدالله بن مسعود رضی په نزد دا قول د الله تعالى دی وهم لايسأمون نو مونږ احنافو په همدې قول عمل کړی دی د وجې د احتياط نه ځکه تأخير د سجدې د وخت د وجوب نه جائز دی خو تقديم د سجدې په وخت د وجوب جايز نه دی. **اوسمعها** او سجده واجب ده په هغه چا چې ايات د سجدې واوري اګر که قصد د اورېدلو يې نه وي کړی، **تلاالامام** چې امام ايات د سجدې تلاوت وکړي نو مقتدي به هم سجده کوي د امام سره اګر چې وانه اوري، وان تلاء المؤتم.... الخ او که مقتدي ايات د سجدې تلاوت کړي نو نه په مقتدي سجده واجب کيږي او نه په بل مقتدي او نه په امام واجب کيږي نه په لمانځه کې اونه وروسته له لمانځه ځکه ځکه مقتدي د قرأت ځخه منع شوی دی نو دده قرأت په منزله د نه قرأت دی. وسجد .. الخ خو ددغه مقتدي قرأت که يو خارجي کس يعنې چې په لمانځه کې ورسره داخل نه وي واوري نو هغه خارجي کس به سجده کوي.

سمع المصلى ممن ليس معه سجد بعدها ولو سجد فيها اعادها لاالصلوة سمعها من امام ولم يدخل معه اودخل في ركعة اخرى سجد لافيها وان دخل في تلك الركعة ان كان اى الدخول قبل سجود امامه سجد معه والالايسجد والسجدة الصلوتية لاتقضى خارجها اى سجدة التلاوة التى محلها الصلوة لاتقضى خارج الصلوة وانما قُلت محلها الصلوة ولم اقل التى وجبت في الصلوة احترازعما وجبت في الصلوة ومحل ادائها خارج الصلوة كما اذا سمع المصلى ممن ليس معه او سمع من امامه واقتدى به في ركعة اخرى.

توضيح المسئلة: **سمع المصلى** يو لمونځ کوونکي ايات د سجدې واورېده د هغه کس ځخه چې له ده سره په لمانځه کې شريک نه و نو د لمانځه ځخه به وروسته سجده وکړي، ولو سجد او که په لمانځه کې يې همدغه سجده وکړه نو بيا به يې راوګرځوي لا الصلوة خو د لمانځه اعاده ورباندې نشته، **سمعها** يو کس د امام ځخه ايات د سجدې واورېده او په لمانځه کې ورسره داخل نه شو يا ورسره داخل شو خو په بل رکعت کې **سجدلافيها** نو دغه سجده به له لمانځه ځخه وروسته وکړي، نه په لمانځه کې ځکه کوم شی چې خارج له لمانځه ځخه واجب شي نو د هغې قضاء په لمانځه کې نشي راوړلی. **وان دخل** او که په همدغه رکعت کې ورسره

داخل شوی ؤ يعنې په کوم رکعت کې چې ايات د سجدې تلاوت کړی ؤ نو که داخلېدل د مقتدي د امام د سجدې څخه مخکې و نو امام سره به سجده وکړي، **والالايسجد** او که د امام د سجدې څخه مخکې داخل شوی نه و يعني امام سجدة تلاوت وکړه او بيا مقتدي ورداخل شو نو بيا به مقتدي سجده تلاوت نه کوي. والسجدة الصلوتية... الخ او د سجدې صلاتی قضاء به د لمانځه څخه بهر نشي راوړلی، يعني هغه سجده تلاوت چې ځای د اداء ددې لمونځ وي ددې قضاء به د لمانځه څخه بهر نشي راوړلی، **وانماقلت** شارح وايي چې ما ولې وويل چې محلها الصلوة او دا مې ونه ويل چې التی وجبت فی الصلوة ددې له پاره مې داسې وويل چې هغه سجده په کې داخله نشي چې په لمانځه کې واجب شوې وي اود محل د اداء ددې خارج د لمانځه څخه وي لکه يو لمونځ کوونکی چې ايات د سجدې د هغه کس څخه واوري چې له ده سره په لمانځه کې شريک نه وي او يا يو لمونځ کوونکی د خپل امام څخه واوري خو په بل رکعت کې ورپسې اقتداء وکړي نو داسې سجده په لمانځه کې واجب شوه او محل د اداء ددې خارج د لمانځه څخه دی.

تلاها ثم شرع فی الصلوة واعادها کفته سجدة وان تلاها وسجد ثم شرع فيها واعاد سجد اخری لان فی الصورة الاولی غيرالصلوتية صارت تبعاً للصلوتية وان لم يتحد المجلس وفی الصورة الثانية لما سجد قبل الصلوة لايقع عما وجبت فی الصلوة قط ولفظ المختصروان اعاد فی مجلس اوفی صلوة کفی سجدة ای قرأفی غيرالصلوة ثم اعادها فی الصلوة وفهم من تخصيص المعاد بکونه فی الصلوة ان الاولی فی غيرالصلوة.

توضيح المسئلة: **تلاها** ايات د سجدې د لمانځه څخه بهر تلاوت کړو بيا يې په لمانځه کې شروع وکړه **واعادها** او همدغه ايات يې په لمانځه کې بيا تلاوت کړو نو يوه سجده د دواړو له پاره کافي ده. **وان تلاها** او که ايات د سجدې يې تلاوت کړو او سجده يې وکړه بيا يې په لمانځه کې شروع وکړه بيا يې دغه ايات په لمانځه کې تلاوت کړو نو بله سجده به کوي يعني مخکينی سجده ددې له پاره کافي نه ده، لان ځکه په اول صورت کې غير صلاتيه سجده تابع د صلوتيه وګرځېده اګر چې مجلس يې يو نه دی او په دويم صورت کې کله چې د لمانځه څخه مخکې سجده وکړي نو د هغه څخه نه کافي کېږي کومه چې په لمانځه کې واجب شوې ده.

ولفظ المختصر: د مختصر عبارت ددې له پاره راوړی چې هغه سره ددې چې لنډ دی تولو

مسائلو ته شامل دی، وان اعاد او که ايات د سجدې يې تلاوت کړو په غير لمانځه کې بيا يې په همدې مجلس کې اعاده وکړه يا يې په لمانځه کې بيا ولوسته نو يوه سجده کافي ده، **وفهم** دتخصيص د معادنه يعني چې ده وويل چې وان اعاد.... الخ دا معلوميږي چې اوله په غير لمانځه کې وه او دويمه په لمانځه کې.

کررها في مجلس کفته سجدة ولا فرق بين ما قراء مرتين ثم سجد او قراء وسجد ثم قرأها في ذلك المجلس فعلى هذا ان کررها في رکعة واحدة تکفي سجدة واحدة سواء سجد ثم اعاد او اعاد ثم سجد و ان کرر في رکعة اخرى هکذا عند ابي يوسف خلافاً لمحمد رحمه الله وان بدلها اي اية السجدة او المجلس لا اي قرأ ايتين في مجلس واحد او اية واحدة في مجلسين لا تکفي سجدة واحدة.

توضيح المسئلة: کررها که ايت د سجدې يې په يو مجلس کې تکرار کړو نو يوه سجده کافي ده، **ولافرق** که داسې وکړي چې يو ايات دوه کرتې ووايي او بيا سجده وکړي او يا داسې وکړي چې يو ايات يو کرت ووايي او سجده وکړي بيا هماغه ايات په همدې مجلس کې ووايي نو د دواړو صورتونو کې فرق نشته، چې يوه سجده کافي ده، **فعلى هذا** نو بناء په همدې که يو کس ايات د سجدې په يو رکعت کې تکرار کړي نو يوه سجده کافي ده، برابره خبره ده چې يو ځل سجده وکړي بيا ايات ولولي او يا ايات ولولي او بيا سجده وکړي او که په بل رکعت کې ايات د سجدې تکرار کړي نو د امام ابويوسف په نزد بيا هم يوه سجده کافي ده او د امام محمد په نزد يوه کافي نه ده، بلکې بله سجده هم ورباندې واجب ده، او که په دويمه شفعه کې تکرار کړي نو بيا بالاتفاق بله واجب ده، **وان بدلها** او که ايات د سجدې بدل کړي او يا مجلس بدل کړي نو بيا يوه سجده کافي نه ده يعنې که په يو مجلس کې دوه اياته ووايي او يا يو ايات په دوه مجلسونو کې ووايي نو بيا يوه سجده کافي نه ده.

واسداء الثوب والانتقال من غصن الى اخر تبديل واسداء الثوب ان يغرز الحائك في الارض خشبات ليسوي فيها سدى الثوب في ذهابه ومجيئه فان مجلسه يتبدل بالانتقال من مکان الى مکان.

کفاية البيان: اسداء الثوب اوبدل د جامې، **ان يغرز** چې خښ کړي **الحائك** جولا **في الارض** په ځمکه کې خشبات لرګی، **ليسوي فيها** ددې له پاره چې برابر کړي په دې کې **سدى الثوب** اوبدل د جامې يعنې تان د جامې **في ذهابه ومجيئه** په تللو او راتللو کې.

خلاصه د خبرې دا شوه چې جولا کله جامه اوبدي او د يو لرګي څخه ځي او بيرته راځي نو

په دې سره هم مجلس بدلیږي، ځکه انتقال د یو ځای څخه بل ځای ته راځي نو که د یو لرګي سره یو ایات د سجدې ووایي او د بل لرګي سره بیا هم دغه ایات ووایي نو یوه سجده کافي نه ده مګر دوه به کوي، **والانتقال من غصن** همدا رنګه د یو منډه یعنې د ونې شاخ څخه بل شاخ ته نقل کېدلو سره مجلس بدلیږي که په یو شاخ یو ایات د سجدې ووایي او په بل شاخ بیا همدغه ایات ووایي نو په ده دوه سجدې واجب شوې ځکه مجلس بدل شو.

وتجب اخری ای علی السامع لو تبدل مجلس السامع دون الثانی لافی عکسه ای لاتجب سجدة اخری علی السامع دون الثانی ان تبدل مجلس التالی دون السامع واعلم ان المجلس ههنا یتبدل بالشروع فی امر اخر بالانتقال من مکان الی مکان لایتحدان حکماً اما زوایا البیت والمسجد ففی حکم مکان واحد بدلالة صحة الاقتداء واغصان شجرة واحدة امکنة مختلف فی ظاهر الروایة وفی روایة النوادر مکان واحد وبالقیام ههنا لایتبدل المجلس بخلاف المخیرة فان القیام ثم دلیل الاعراض.

توضیح المسئله: وتجب اخری او په اورېدونکي باندې بله سجده واجبیږي که د اورېدونکي مجلس بدل شي او د ویونکي مجلس بدل نشي، **لافی عکسه** خو په اورېدونکي باندې ددې په عکس کې نه واجبیږي چې د تلاوت کونکي مجلس بدل شي او د اورېدونکي مجلس بدل نه شي نو په اورېدونکي باندې بله سجده نه واجبیږي.

واعلم.... الخ شارح وایي چې مجلس نه څه مراد دی او په کوم شي مجلس بدلیږي چې په یو کار کې لګیا وي او هغه پرېږدي او په بل کار کې شروع وکړي نو مجلس بدل شو یا په یو ځای کې وي او د هغه ځای څخه بل ځای ته لاړ شي نو مجلس بدلیږي خو شرط په کې دادی چې دا حکمًا یو ځای نه وي که حکما یو ځای وي نو بیا په انتقال سره د یو ځای څخه بل ځای ته مجلس نه بدلیږي.

اما زوایا البیت او کونجونه د کوټې **والمسجد** اود جماعت په حکم د یو مکان کې دي، **بدلالة.... الخ** په دې دلیل سرَه چې که امام په یو کونج کې وي او مقتدي د بل کونج څخه ده پسې اقتداء وکړي نو اقتداء صحیح ده.

واغصان شجرة او څانګې د ونې جدا جدا ځایونه حسابیږي په ظاهر الروایت کې او په نادر الروایت کې د ونې څانګې په منزله د یو ځای حساب شوی دی، **وبالقیام** او صرف په اودرېدلو سره په همدې ځای کې مجلس نه بدلیږي یعنې چې په ناسته د سجدې یو ایات ولولي او بیا

ولاړ شي په همدې ځای همغه ایات ولولي نو مجلس نه بدلیږي یعنې صرف یوه سجده وربانديې واجب شوه، بخلاف المخیرة الخ مخیره هغې ښځې ته وايي چې د خاوند له طرفه ورته د ځان د طلاقولو اختیار ورکړل شوی وي نو دې ښځې ته تر هغې اختیار دی چې مجلس بدل شوی نه وي یا هغه فعل موجود نشي چې ددې په اعراض او مخ اړولو دلالت کوي نو که یوې ښځې ته میړه اختیار ورکړ او دا ناسته وه او ددې خبرې سره اودریده نو خیار یې باطل شو ځکه قیام ددې په حق کې دلیل د اعراض او نه منلو دی.

وکُره ترك السجدة ای ترك اية السجدة وقرأة باقي السورة لانه یشبه الا ستنکاف لاعکسه ای لایکره قرأة اية السجدة وترك باقي السورة ونُدب ضُم اية او ایتین قبلها الیها دفعا لتوهم التفضیل واستحسن اخفاوها عن السامع لئلا تجب علی السامع فانه ربما یکون السامع غیر متوضئ.

البیان الکافی: وکُره... الخ او دا مکروه دي چې ایات د سجدې پریږدي او باقي سورة ووایي ځکه دا مشابه کیږي د استنکاف یعنې انکار او اعراض سره د سجدې نه **لاعکسه** خو عکس یې مکروه نه دی یعنې چې صرف د سجدې ایات ووایي باقي سورت پریږدي ځکه دا نور هم عبادت طرفته چالاکي ده، **وندب** خو مستحب داده چې یو ایات یادوه ایاته مخکې د ایات د سجدې ځخه **الیها** د ایات د سجدې سره یو ځای شي **دفعاً** له پاره د ختمولو د وهم د تفضیل یعنې یو ایات ته فضیلت ورکول په بل ایت باندې ځکه ټول قرآنکریم ددې حیثیت ځخه چې د الله تعالی کلام دی په یوه رتبه کې دی اګر چې په نورو اعتبارو ځخه بعض فضیلت لري.

واستحسن د نورو اوریدونکو ځخه د سجدې ایات پټ لوستل غوره دي، ددې له پاره چې په اوریدونکو واجب نشي ځکه ډېر کرته اوریدونکي بې اودسه وي بیا به سجده پرې واجب شي او اداء کول یې ورته سخت وي نو په ګناه کې اخته شي.

فایده: که د سجدې ټول ایاتونه په یو مجلس کې تلاوت شي او د هر یو له پاره سجده وکړي نو الله تعالی به یې د ټولو مقاصدو نه کافي شي، کذا فی الکافی.(بحر الرائق دوهم ټوک ۲۲۴ صفحه)

باب صلوة المسافر

باب دی په بیان د لمانځه د مسافر کې

۱ **هومن قصد سیراً وسطاً ثلثة ایام ولیالیها وفارق بیوت بلده واعتبر فی الوسط للبر سیر الابل والراجل وللبحر اعتدال الریح وللجبل مایلیق به وله رُخص تدوم کالقصر فی الصلوة والافطار فی الصوم وان کان عاصیاً فی سفره حتی یدخل بلده حتی یدخل متعلق بقوله تدوم او ینوی اقامة نصف شهر ببلدة اوقریة.**

شق القمر فی بیان مدة السفر: سفر په لغت کې د مسافې قطع کولو ته وایي په معنی د ظهور او کشف سره هم راځي، **هو من قصد** مسافر هغه چاته وایي چې قصد او اراده د تګ کولو وکړي په درمیانه تګ سره درې ورځې او درې شپې **وفارق** او جدا شي د کورونو د خپل ښار نه. په سفر کې دوه کارونه معتبر دي. ۱: قصد د تګ کولو. ۲: د ښار نه وتل نو که یو سړی د ښارنه جدا شي او نیت د سفر یې نه وي کړی نو دا مسافر نه دی او که نیت د سفر هم وکړي او د ښار نه هم جدا شي خو نیت د مودې د سفر څخه کم و، نو بیا هم سفر نه دی د ښار نه وتل د هغه چا له پاره دي چې په ښار کې اوسیږي اما که څوک په قریه یعنې کلیو کې اوسیږي نو د هغه له پاره بیا دسفر شروع کېدو او د سفر د ختمېدو حد د خپل کلي ساحه ده یعنې که د خپل کلي د ساحې څخه په نیت د سفر خارج شي نو دا مسافر دي اګر چې خپل کورونه ورته ښکاري، همدا رنګه د بېرته راتلو په وخت کې چې خپلې ساحې ته نه وي رسېدلي نو دا مسافر دي اګر چې خپل کورونه ورته ښکاري. فتاوی دارالعلوم دیوبند. (څلورم ټوک ۴۶۲صفحه)

همدا رنګه فتاوی هندیه کې همدا مفهوم راغلی **الصحیح ماذکر انه یعتبر مجاوزة عمران المصر لاغیر الا اذا کان ثمة قریة اوقری متصلة بربض المصر فحینئذٍ تعتبر مجاوزة القری** فتاوی هندیه (۱۳۹مخ لومړی ټوک) سیراً وسطاً درمیانه تګ چې نه ډېر تیز وي او نه ډېر سست وي، ثلثة ایام.... الخ درې ورځې او درې شپې وي چې دغه اندازه د میلو په حساب سره اته څلوېښت (۴۸) میله ده او د کیلو متر په حساب سره ۷۵ کیلو متره راځي او فقه حنفي کې لیکلي دي چې ۸۴ کېلو متره راځي. (فقه حنفی لومړی ټوک ۲۹۱صفحه)

خو دا اختلاف په دې وجه دی چې بعضې علماء دغه اندازه ۲۱ فرسخه وایي چې ۵۳ میله راځي او بعض ۱۸ فرسخه وایي چې ۵۴ میله راځي او بعض ۱۵ فرسخه وایي چې ۴۵ میله راځي خو صحیح قول په کې دویم یا دریم دی. (شامي، فتاوی دارالعلوم دیوبند)

وفارق بیوت بلده او چې جدا شي د کورونو د ښار خپل نه د ښار نه مراد د اوسېدو ځای دی اگر چې ښار نه وي بلکې قریه او یا د خپل وطن ښار نه بغیر بل ښار وي خو چې دا پکې اوسیږي، واعتُبر که تګ په وچه یعنې صحراء کې وي نو بیا درمیانه تګ په دې کې تګ د اوښ دی او پیاده تګ دی او که په دریاب کې و نو بیا معتبر تګ په درمیانه باد سره دی او که په غره کې وي نو معتبر تګ هغه دی چې دغره سره مناسب وي، **وله رُخصٌ** او مسافر لره شته رخصت لکه په لمانځه کې قصر او په روزه کې افطار. **تدوم** خو دا رخصت به همېشه وي اگر چې مسافر په خپل سفر کې ګناه ګار وي لکه سفر کول د قطاع طریقی له پاره وغیره، امام شافعی رحمه الله وایي چې رخصت یو نعمت دی او د ګناه ګار له پاره نعمت نه رسیږي احناف وایي چې د رخصت په باره کې چې کوم احادیث راغلي هغه مطلق دي او رخصت تعلق د سفر پورې لري او وروسته ګناه کول بیا یوه زیاتي خبره ده.

حتی یدخل دا رخصت به تر هغې همېشه وي چې خپل ښار ته داخل شي او ینوی..... الخ او یا نیت د اقامت د پنځلس ورځو په یو ښار یا قریه کې وکړي.

منها اي من الرخص قصر فرضه الرباعي فيقصران نوى اقل من نصف شهر اونوى مدتها اى مدة الاقامة وهى نصف شهر بموضعين اودخل بلداً عازماً خروجه غداً اوبعد غدٍ وطال مكثه وكذا عسكر دخل ارض حرب اوحاصر حصناً فيها اواهل البغى فى دارنا فى غير مصر وان نووا اقامة مدتها اى يقصر الجماعة المذكورون وان نووا اقامة نصف شهر لانهم لم يصيروا مقيمين بنية الإقامة.

طلوع الفجر في بيان القصر:

منها بعض له رخصت څخه په فرض رباعي يعني څلور ركعتي لمانځه كې قصر كول دي دقصر معني داچه دڅلورو فرضو ركعتونو په ځاي به دوه ركعته فرض لمونځ اداء كوې خوپه ثلاثي اوثنائي كې قصر نشته ثلاثي لكه دماښام لمونځ اوثنائي لكه دسحر لمونځ **فيقصر** قصر به **هلته** كوي چې په يوځاي كې دنيمي مياشتې څخه يعني دپنځلس ورځو څخه كم نيت داقامت وكړي اونوي يانيت دمودي داقامت وكړي چې هغه پنځلس ورځي ده خوپه دوه ځايوكې مثلاً په يوځاي كې لس ورځي اوپه بل ځاي كې پنځه ورځي نوبيابه هم قصر كوې **اودخل** يايو ښارته داخل شي **عازماً** الخ قصد دوتلوئي كړي وي چې نن ځم اوياسبا ځم خودپنځلس ورځو داقامت نيت ئي نه وي كړي په همدې كې ډير وخت ورباندې تير شي نوبيابه هم قصر كوې وكذا عسكر همدارنګه كه عسكر يعني دمسلمانانو فوجيان دحربيانو يعني كفارو ځمكې ته داخل شي ياپه دارالحرب كې يوه قلعه محاصره كړي **اواهل البغي** يامجاهدين باغيانو لره په دارالاسلام كې محاصره كړې نو په دري واړو صورتونو كې به دمسلمانانو فوجيانو قصر كوي اګر چه دغه عسكر نيت داقامت دپنځلس ورځو وكړي ځكه داعسكر په نيت داقامت سره مقيم نه ګرځي ځكه دوې په مابين دقرار اوفرار كې دې يعني كه كامياب شي نودلته به قرار وي اوكه شكست وخوري نوفرار يعني تيښته كې به وي نوددوي نيت ته اعتبار نشته.

لا اهل اخبية نووها في الاصح اى لايقصر اهل اخبية نووا اقامة نصف شهر في اخبيتهم لان نية الاقامة تصح منهم في الصحراء لان الاقامة اصل فلا تبطل بأنتقالهم من مرعى الى مرعى هذا هو الصحيح وقيل لاتصح نية اقامتهم فان الاقامة لاتصح الا في الامصار والقرى ولفظ المختصر وبصحراء دارنا وهو خبائيء لابدار الحرب اوالبغي محاصراً كمن طال مكثه بلانية اى يقصر الرباعي الى ان ينوي الاقامة بصحراء دارنا.........والحال انه خبائي اى من اهل الخباء وهو الخيمة فانه لايقصر فان نية الاقامة منهم في صحراء دارنا صحيحة واما غير اهل الخباء لونوى الاقامة في صحراء دارنا لاتصح فعلم منه ان من حاصر اهل البغي في دارنا لايصح منه نية الاقامة اذا كان في الصحراء

الفوائد البهية في بيان حكم اهل الاخبية:

لا اهل الاخبية قصر به نكوي دخيمو والا يعني كوچيان **نووها** چې نيت داقامت وكړي په

صحيح قول کې ای لايقصر دخيمو اوليدونکي خلک که نيت داقامت دپنځلس ورځو په هغه ځاي کې وکړي چې کوم ځاي کې خيمي اودرولې وي نو قصر به نکوی ځکه داقامت نيت ددوي ښخه په صحراء کې صحيح دي ځکه اقامت اصل دي **فلاتبطل** نونه باطليږي په نقل کيدو سره ديوځراه ګاه ښخه بلي ځراه ګاته همدا صحيح قول دي . **وقيل:** بعض علماء وائي چې نيت داقامت ددوي ښخه نه صحيح کيږي ځکه اقامت په ښار ياکلي کې صحيح کيږي نه په صحراء کې.**ولفظ المختصر** دمختصر عبارت ددي لپاره راوړي چې لنډ دي اوښه ناښه مغلق دي چې وضاحت ئي وکړي **وبصحراء دارنا** اوقصر به کوي کوچيان تردي چې نيت داقامت وکړي په دشته دارالاسلام زمونږ کې وهوښائي حال داچه دغه کس دخيمو والاښخه وي کوچيان به ترهغي قصر کوي چې نيت داقامت وکړي اوکله چې ئي نيت داقامت وکړو نوبيا به قصرنه کوي **لابدار الحرب** الخ عطف دي په بصحراء دارالاسلام باندې اودمعطوف عليه نه چې بصحراء دارالاسلام دي معلومه شوه چې نفي دقصر ده دهغه چالپاره چې نيت داقامت وکړي اودا داهل خيمو ښخه وي په صحراء ددار الاسلام کې نولابدار الحرب الخ ئي عطف کړو پدي باندې په کلمي دنفی سره نونفي چې په نفی داخله شي اثبات فائده کوي نوخلاصه داشوه چې قصر به کوي هغه مجاهدين چې په دارالحرب کې ئي کفار محاصره کړي وي اوياني دارالاسلام کې باغيان محاصره کړي وي يعني که دوي اقامت دپنځلس ورځو هم وکړي نوقصربه کوي **کمن طال** قصربه کوي په شان دهغه چاچه اوږد شي وخت تيريدل دده په يوښار ياکلي کې **بلانية** بي له نيت دوخت تيرولو ښخه يعني لکه يوکس چې په يوښار ياکلي کې دسفر په حالت کې اوسيږي اونيت ئي دوخت تيرولونه وي بلکي داوائي چې نن ځم اوصبا ځم نودابه قصر نه کوي نوهمدارنګه به عسکر هم قصر کوي واما غير اهل الخباء دخيمو والانه بغير نور خلک لکه دښار ياکلي خلک که په صحراء ددارالاسلام کې نيت داقامت وکړي نونه صحيح کيږي . فعلم دخبائي دقيد ښخه دامعلوميږي چې کوم عسکر چې باغيان محاصره کړي په دارالاسلام کې نوپه صحراء کې ددوي نيت داقامت نه صحيح کيږي . ۱۲صافي .

وقوله لابدار الحرب عطف على قوله بصحراء دارنا فانه جعل نية الاقامة فى صحراء دارنا غاية للقصر وحكم الغاية مخالف لحكم المغيا فيكون حكمه عدم القصر ثم قوله لا بدار الحرب محاصرأ نفي لذالك

النفی فیکون حکمه القصر ای یقصر ان نوی اقامة نصف شهر بدار الحرب اوالبغی محاصراً وقوله کمن طال مکثه بلانیة لما فهم من قوله لابدار الحرب حکم القصر قال کمن طال مکثه ای یقصر من طال مکثه فی بلدة اوقریة بلانیة المکث.

توضیح المسئلة: لابدار الحرب عطف دي په بصحراء دارنا باندې اوپه معطوف علیه کې نیت داقامت غایة دقصروه یعني قصربه کوې تردې چې نیت داقامت وکړي اوحکم دغائي مخالف وي دحکم دمغیا څخه نونتیجه داراغله چې قصربه نکوي بیالابدار الحرب نفي شوه ددې نفي لپاره نونتیجه ئي اثبات راځي یعني قصربه کوي که نیت داقامت ئي وکړ په دارالحرب کې یادباغیانو په محاصره کې نووضاحت مخکې تیرشو ،صافي.

فلو اتم مسافروقعد فی الاول تم فرضه واساء لتاخیر السلام وشبهة عدم قبول صدقة الله تعالی ومازاد نفل وان لم یقعد بطل فرضه لترك القعدة وهی فرض علیه مسافر امه مقیم یتم فی الوقت وبعده لایؤمه اذ فی الوقت یصیر فرضه اربعاً بالتبعیة وبعد الوقت لایتغیر فرضه اصلاً وفی عکسه ای فی امامة المسافر المقیم قصر المسافر واتم المقیم ویقول ندباً اتموا صلاتکم فانی مسافر.

توضیح البیان:

قصر دسفر په مانځه کې عزیمت دي اوکه رخصت دي پدیکي دعلماء اختلاف دي دامام شافعي رحمه الله په نزد دمسافر فرض څلور رکعته دي اوقصرپکي رخصت دي اواحناف علماء وائي چې فرض په حق دمسافر کې دوه رکعته دي اوقصر پکي عزیمت دي نودامام شافعي رحمه الله په نزد قصر اواتمام دواړه جائز دي.

خواتمام پکي غوره دي اوداحنافو په نزد قصر ضروري دی که څلور رکعته پوره کړي نوګناه ګاریږي ثمره داختلاف په هغه قعده کې معلومیږي. چې ددوو رکعتونو څخه وروسته وي په رباعي لمانځه کې چې داحنافو په نزد فرض ده په ترک سره ئي لمونځ فاسدیږي فلواتم نوکه یومسافر څلور رکعته لمونځ پوره کړو اوپه اوله قعده کې کیناسته نوفرض ئي پوره شو خو ګناه ګار شو ځکه سلام یي وروسته کړو اورخصت دالله تعالي له طرفه صدقه وه داشبه راځي چې الله تعالي صدقه ئي قبوله نکړله ومازاد اوهغه زیاتي دوه رکعته نفل وګرځیده اوکه ددوو رکعتو څخه وروسته ئي قعده ونه کړه نوفرض ئي باطل شو ځکه قعدئی پر ینبوده اوهغه پده فرض ده مسافر امه دیومسافر لپاره امامت مقیم سړي وکړي یعني مسافر سړي اقتداء مقیم پسي وکړله نومسافر به هم پوره لمونځ کوي که اقتداء په وخت کې وه ځکه

فرض دمسافر دوجې دمتابعت دامام نه خلور وګرځيدل **وبعده لايؤمه** اودوخت وتلو څخه وروسته دمسافر اقتداء دمقيم پسې نه صحيح کيږي ځکه دوخت څخه وروسته دمسافر په فرضوکې تغير نه راځې ځکه سبب ختم شوې دې وفي عکسه اوکه مقيم دمسافر امام پسې اقتداء کړې وه نومسافر به قصر وکړي اومقيم به خپل لمونځ پوره کړې **ويقول** اوامام به دسلام څخه وروسته ووائي

چې تاسې خپل لمونځ پوره کړي زه مسافر يم اوداوينا دامام مستحب ده .

ويبطل الوطن الاصلى مثله لا السفر ووطن الاقامة مثله والسفر والاصلى الوطن الاصلى هوالمسكن ووطن الاقامة هوموضع نوى ان يستقر فيه خمسة عشر يوماً اواكثر من غيران يتخذه مسكنا فاذا كان للانسان وطن اصلى ثم اتخذ موضعاآخر وطناً اصلياً سواء كان بينهما مدة السفر اولم يكن يبطل الوطن الاصلى الاول حتى لودخله لايصير مقيماً الابنية الاقامة لكن لايبطل الوطن الاصلى بالسفر حتى لوقدم المسافر الوطن الاصلى يصير مقيماً بمجرد الدخول واما وطن الاقامة فانه يبطل بوطن الاقامة فانه اذا كان له وطن ثم اتخذموضعاً آخر وطن الاقامة وليس بينهما مدة سفر لم يبق الموضع الاول وطن الاقامة حتى لودخله لايصير مقيماً الابالنية وكذا ان سافر عنه وكذا ان انتقل الى وطنه الاصلى والسفر وضده لايغير ان الفائتة اى اذاقضى فائتة السفر فى الحضر يقصروان قضى فائتة الحضر فى السفر يتم.

توضيح المسئلة:

وطن په دوه قسمه دي: ۱-وطن اصلي ۲-وطن اقامت.

وطن اصلي: ديته وائي چې په کوم ځاي کې پيداشوي وي اوهلته دده کور او اهل وي اواراده دژوندئي همدلته وي اودکوچ اراده تري نه لري .

وطن اقامت : ديته وائي چې هلته پنځلس يادپنځلس ورځو څخه زياته داوسيدو اراده لري

،ويبطل الخ اوباطلوي وطن اصلي لره **مثله** پشان ددي يعني وطن اصلي باطليږي په وطن اصلي سره که يوسړی په يو وطن کې خپل کور لري اوهلته اوسيږي بيا ددي ځاي څخه مکمل لاړشي اوپه بل ولايت کې کور جوړ کړي اوهلته اوسيږي نوکه هغه مخکې ولايت ته بيرته راشې نودابه مسافر وي ځکه مخکې وطن دده ختم شو اوبل ولايت دده وطن وګرځيده .

لاالسفر وطن اصلي په سفر سره نه باطليږي ووطن الاقامة او وطن اقامة په دری شيانو سره باطليږی اول په بل وطن اقامت سره مثلاً په کابل کې په يومدرسه کې اوسيږي اوددي څخه

لاړو اوننګرهار کې يوې مدرسې ته ورغي نوکابل دده وطن اقامت ؤ خو په ننګرهار سره ختم شو اوس که کابل ته ورځي نو دامسافر دي خو پدې شرط چې کورئې په يودريم ولايت کې وي.
۲-وطن اقامت په سفر سره باطليږي ديوکس کور په کنړ کې ده اوپه جلال آباد کې مدرسه کې درس وائي دجلال آباد څخه کابل ته سفر وکړي نودکابل په سفر سره وطن اقامت دده ختم شو چې جلال آباد دي نوکه بيا جلال اباد ته راشي پديکې دپنځلس ورځو يازياتو داقامت نيت نه لري نوپه جلال آباد کې دامسافر دي.
۳-وطن اقامت په وطن اصلي سره ختميږي مثلاً خپل وطن ئې ننګرهار دي اوپه کابل کې درس وائي کله چې ننګرهار ته راشي نووطن اقامت ئې ختم شو بيا که هلته ورشي اودپنځلس ورځو يازياتو نيت داقامت ونکړي نوقصر به کوي ،**الوطن الاصلی الخ**وطن اصلي ځاي داوسيدو ته وائي اووطن اقامت هغه ځاي دي چې دپنځلس ورځو يازياتو داوسيدلو نيت پکې وکړي ،**من غير الخ** خود هميشه اوسيدلو نيت ئې نوي **فاذا کان الخ** کله چې ديوسړي لپاره وطن اصلي وي هغه ځاي پريږدي اوبل ځاي وطن اصلي وګرځوي ددواړو ترمنځ فاصله په اندازه دمودي دسفر وي اوکه نه وي نو اول وطن اصلي باطل شو ترديي که بيا اول وطن اصلي ته داخل شي نودابه مقيم نه ګرځي مګر په نيت داقامت سره به مقيم ګرځي لکن **لايبطل** لکن وطن اصلي په سفر سره نه باطليږي ترديي که يومسافر خپل وطن اصلي ته راشي نوصرف په داخليدو سره مقيم ګرځي اګر چې نيت داقامت ونه کړي **واما وطن الاقامة** وطن اقامت په وطن اقامت سره باطليږي کله چې يوکس لره وطن اقامت وي يعني هلته اوسيږي بيا دهغه ځاي څخه لاړشي اوپه بل ځاي کې وطن اقامت جوړکړي.

وليس بينهما اوددواړو ترمنځ فاصله په اندازه دمودي دسفر نه وي ، نو اول ځاي وطن اقامت پاتې نه شو، ترديي که اول وطن اقامت ته بيا ورشي ،نوهلته به مقيم نه ګرځي ،مګر په نيت سره ،**وکذا ان سافر** همدارنګه وطن اقامت باطليږي که ددي څخه سفر وکړي وکذاالخ،

همدارنګه وطن اقامت باطليږي که وطن اصلي ته لاړشي، **والسفر وضده** سفر اوضد دسفر چې اقامت دي په قضائي مانځه کې تغير نه راولي که په حضر کې يعني په اقامت کې تري لمونځ قضاء شي اوپه سفر حالت کې قضاء راوړې نودپوره لمونځ قضاء به راوړي اوکه دسفر په حالت کې تري لمونځ قضاء شي اوپه حضر کې ئې قضاء راوړي نوقصر به کوي يعني ددوه رکعتو قضاء به راوړي په رباعي لمانځه کې ۱۲صافي عفي عنه.

باب الجمعة

دا باب دي په بيان د احکامو د جمعه کې

شرط لوجوبها لا لأدائها الاقامة بمصر والصحة والحرية والذكورة والعقل والبلوغ وسلامة العين والرجل فتقع فرضا ان صلاها فاقدها وان لم تجب عليه قوله فتقع فرضاً تفريع لقوله لا لأدائها.

توضيح المسئلة: يو شرائط د وجوب دي او بل شرائط د اداء دي فرق دادي که شرائط د وجوب نه وي کلا يا بعضاً نو وجوب هم نه راځي لکن که اداء ئي کړي نو صحيح کيږي او شرائط د اداء که نوي نو اداء بلکل نه صحيح کيږي بلکې بيا به د ماسپښين لمونځ پړي واجب وي **شرط لوجوبها** شرط کړاي شوي لپاره د وجوب د جمعې نه لپاره د اداء د جمعې **الاقامة بمصر** او سيدل په ښار کې يعني په مسافرو واجب نده **والصحة** اوروغ والي شرط دي په مريض واجب نده **والحرية** او ازادوالي شرط دي ،نو په غلام باندې د جمعې لمونځ واجب نده ،**والذكورة** ،نارينه والي شرط دي نو په زنانه واجب ندي **والعقل** عقل شرط دي په ليوني واجب نه ده **والبلوغ** بالغ والي شرط دي په ماشوم واجب نه ده ، **وسلامة العين** او دسترګو روغ والي شرط ده په ړانده واجب نه ده ، **والرّجل** اوروغ والې د پښو شرط دي په شل او ګوډ باندې چې تګ نشي کولي د جمعې لمونځ واجب ندې **فتقع الخ**، نو د فرضو ښخه واقع کيږي ،که د جمعې لمونځ وکړې فاقدها نه موندونکې د دې شرائطو يعني د جمعې د وجوب شرائط که په چا کې نه وي او د جمعې لمونځ اداء کړي نو د جمعې د فرضو ښخه واقع کيږي يعنى د ماسپښين لمونځ ترى ساقطيږى اګر چى د جمعى لمونځ پده واجب هم نه و ، قوله فتقع الخ .شارح وائي چې دا تفريع ده د دي قول د مصنف لره چې لا لادائها يعني که دغه مذکوره شرائط شروط د اداء واى نو بيا به د جمعې لمونځ د هغه چا ښخه صحيح شوي نه و چې دغه شرائط پکې نه وي لکه راتلونکې شرائط .

او د جمعې د مانځه لپاره نور شرائط هم شته لکه د عامو لمونځونو لپاره چې دي خو مصنف دلته صرف هغه ذکر کړل چې غالباً د جمعې پوري خاص دي .

وشرط لادائها المصر اوفناؤه واختلفوا في تفسير المصر فعند البعض هو موضع له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود وعند البعض هو موضع اذا اجتمع اهله في اكبر مساجده لم يسعهم فاختار المصنف هذا القول فقال وما لا يسع اكبر مساجده اهله مصر وانما اختار هذا القول دون التفسير الاول

لظهور التوانی فی احکام الشرع لاسيما فی اقامة الحدود فی الامصار ومااتصل به معدًّا المصالحه فناؤه مصالح المصر كركض الخيل وجمع العساكر والخروج للرمی ودفن الموتی وصلوة الجنازة ونحوذلك.

توضيح المسئلة: اوداداء كولود جمعي لمانځه لپاره شرط دي **المصر** ښار **اوفناؤه** يااطراف دښار **واختلفوا الخ** دښار په تفسير كې دعلماء اختلاف دي **فعند البعض** دبعض علماء په نزد **مصر** هغه دي چې حاكم اوقاضي ولرې چې احكام نافذ اوجاري كړې اوحدود قائم كړي **وعند البعض** اوبعض علماء وائي چې مصر ديته وائي چې ددې اوسيدونكې خلك ددي په يولوي مسجد كې راجمع شې اوپكې ځاي نشې نومصنف هم همداقول غوره كړو اووي **ويل ومالايسع** اوهغه چې ځاي نكړي اكبر مساجدهغه لوي جماعت ددي اهله اوسيدونكي ددي ښار **مصر** نوداښار دي ،**وانما اختار** دادفع ديواعتراض ده چې مصنف ولي اولني تفسير غوره نه كړو اودويم تفسير ئي غوره كړو نوشارح جواب وكړو چې دويم تفسير ئي ځكه غوره كړو **لظهور التواني** چې په خلكو كې سستوب ښكاره شوي ده دشريعت په احكامو كې **لاسيما** خاص طور دحدود په قائمولو كې په ښارياتو كې اوپه هغه علاقو كې چې هلته دجمعي په مانځه كولو كې دهيچاشك هم نشته نوكه اول تفسير باندې عمل وكړو نوپه ډيرو ځايونو كې به دجمعي لمونځ بندشي ځكه دښار تعريف پري نه صادقيږي زه بنده عاجز عبدالرشيد الصافي وايم چې په نن زمانه كې ديهودو اونورو كفارو لپاره مختلف چينلونه لكه تي وي ،رادوگاني ، مجلي،وغيره مطبوعات داسلام په خلاف دعوتونه كوي نوددي دمخنيوي لپاره مسلمانان يوچينل اورادوهم نلري اوكه لري هم نو دكفارو د اثر ځخه لاندي وي صرف اوصرف علماؤ ته دجمعي په ورځ داسلام لپاره دعوت پاتې دي نوپكار ده چې علماء په لويو قريو كې هم دجمعي دمانځه په ممانعت كې ډيره سختې ونكړې چې دمفقود اوممتدا الطهر په مسئله كې احناف علماء دامام مالک په مذهب عمل كوي نودجمعي په مانځه كې هم دامام شافعي په مذهب عمل وكړي چې دامام شافعي په نزد چې په يو كلي كی څلويښت كسان وي نوهلته لمونځ دجمعي جائز دي اوبل طرفته نن دمسلمانانو جمعه واري هم فرض ده چې دمسلمانانو دجمعه واري همدغه يوطريقه پاتې ده چې دجمعي لمونځ دي والله الموفق للسداد **ومااتصل به الخ** دا دفناء تعريف دي چې هغه ځاي چې دښار پوري پيوسته وي اودښار دمصالحو لپاره تيار كړاي شوي وي ديته فناء دښار وائي ، مصالح دښار **كركض الخيل** لكه داسونو زغلول **وجمع العساكر** او دفوجيانو جمع كول .

والخروج للرمي اووتل داند اخت لپاره يعني چې غشي يامرميو سره نښه وولي ودفن الموتى اوخښول دمړو وصلوة الجنازة اودجنازي لمونځ كول وغيره.

وجازت بمنى في الموسم للخليفة اولامير الحجاز لا لامير الموسم ولابعرفات والسلطان اونائبه ووقت الظهر والخطبة نحو تسبيحة قبلها في وقتها هذا عندابي حنيفة واما عندهما فلابد من ذكر طويل يسمى خطبة وعند الشافعي رحمه الله لابد من خطبتين يشتمل كل واحد منهما على التحميد والصلوة والوصية بالتقوى والاولى على القراءة والثانية على الدعاء للمؤمنين.

تحفة اعيان الغنى في بيان الجمعة في المنى:

جازت الخ دجمعي لمونځ په منى کې جائز دي في الموسم په موسم دحج کې للخليفة دلوي بادشاه امير المؤمنين ياجمهور رئيس لپاره كه حاضر وي خونن زمانه جمهور رئيسان ددين څخه بلكل ناخبره دي اوفسق اوفجور پري غلبه کړيده دوي ددي لائق ندې چې دجمعي لمونځ اداء کړي اولامير الحجاز يادحجاز امير اووالي لره حجاز دمکې معظمې اومديني منوري اوددي شاوخوا ځمکې ته وائي لا لامير الموسم دبادشاهانو داعادت وي چې دحج په موسم کې يوکس دحج دامورو دانتظام لپاره امير مقرر کړي نودغه امير ته جائز نه دي چې دجمعي لمونځ ورکړي ځکه دده پوره ولايت نه وي ولابعرفات اوپه عرفات کې دجمعي لمونځ جائز نه دي ځکه نبي ﷺ دحجة الوداع په کال کې دجمعي په ورځ په عرفات دصحابوو سره ولاړو اودجمعي لمونځ ئي اداء نه کړو اودماسپښين لمونځ ئي وکړو که دجمعي لمونځ دلته جائز واي نونبي عليه السلام ولي پريښوده ؟ والسلطان داعطف دي په المصر باندې ، يعني شرط داداء کولو. دجمعي مانځه لپاره بادشاه هم دي، يعني دبادشاه حاضريدل ، او يا دده دنائب حاضريدل شرط دي ، ووقت الظهر اووخت دماسپښين شرط ده دجمعي مانځه لپاره والخطبة اوخطبه هم شرط ده دجمعي لمانځه لپاره نحو تسبيحة داندازه دخطبي بيانوي چې خطبه به په اندازه ديوځل سبحان الله يا الحمدلله سره وي ددی مقصد دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دادي چې سنت طريقه خطبه داده چې دوه خطبې وي اوپه منځ کې جلسه وي خودضرورت په مقام يوځل الحمدلله ويل هم كافي دي لكه حضرت عثمان رضي الله عنه دخلافت په اوله جمعه کې چې منبر ته وختلو او وي وئيل الحمدلله اونوره خطبه ئي بنده شوله يعني دهغې په پوره کولو قادره نه شو اوهيڅوا دده انكار ونه کړو اوصاحبين وائي چې دخطبې لپاره اوږد ذکر شرط دي چې

عرف کې ورته خلک خطبه وائي اوصرف الحمدلله ته عر ف کې خطبه نه وائي بحرالرائق صفحه ۲۵۸جلد ۲. ۲۲۱جلد ۲ اوامام شافعي رحمه الله وائي چې دوه خطبي شرط دي چې هره يوه په الحمدلله اودرود اوپه وصيت باندې چې په تقوي سره وي مشتمله وي اواولنۍ به په قراءت باندې اودويمه په دعاء باندې مسلمانانو ته مشتمله وي ۱۲صافي عفي عنه.

والجماعة وهم ثلثة رجال سوى الامام عندهما وعندابى يوسف اثنان سوى الامام فان نفروا بعد سجوده اتمها والاذن العام ومن صلح اماماً فى غيرها صلح فيها اى ان ام المسافر اوالمريض اوالعبد فى الجمعة صحت خلافاً لزفر رحمه الله لانها ليست واجبة عليهم قلنا اذا حضروا وادوا صلوة الجمعة صارت فرضاً عليهم.

توضيح المسئلة: اوبل شرط د اداء دجمعي لپاره جماعت ده يعني په جمعي سره لمونځ کول شرط دي دامام ابوحنيفة رحمه الله اوامام محمدٌ رحمه الله په نزد جماعت دري سړي دي بغير له امام څخه اوامام ابويوسف رحمه الله وائي چې دري دي خوسره له امام نه يعني دامام نه بغير دوه کسان دي. **فان نفروا** که دغه دري کسان هم دسجدي نه مخکې وتښتيدل بدأ بالظهر بيابه امام دماسپښين په مانځه شروع وکړي وان بقى اوکه دري سړي پاتي ؤ اونفروا يادسجدي څخه وروسته وتښتيدل اتمها نوبيابه دجمعي لمونځ پوره کړي ځکه جماعت اگر چې دصحت دجمعي لپاره شرط ؤ لکن تراخره پوري پاتي کيدل لازم نه دي.

والاذن العام اوبل شرط داداء دجمعي لپاره عام اجازت دي يعني چې په کوم ځاي کې دجمعي لمونځ کيږي چې هلته هرسړي په ازاده توګه ورتللي شي ،**ومن صلح الخ** کوم سړي چې صلاحيت دامامت په نورو لمونځونو کې لري هغه صلاحيت دامامت دجمعي هم لري يعني که مسافر سړي يامريض ياغلام دجمعي امامت وکړي ،نوصحيح کيږي خو امام زفر رحمه الله وائي چې ددې کسانو دجمعي امامت نه صحيح کيږي ،ځکه دجمعي لمونځ په دوي واجب نه دي ،**قلنا الخ** دامام زفر رحمه الله دخبري جواب کې مونږ وايو چې دجمعي لمونځ ددغي کسانو څخه ساقطيدل يورخصت دي خوچې کله حاضر شي اودجمعي لمونځ اداء کړي نودجمعي لمونځ په دوي فرض وګرځيده.

وكره، ظهر، معذور اومسجون بجماعة فى مصر يومها لان الجمعة جامعة للجماعات فلايجوز الاجماعةً واحدةً ولهذا لاتجوز الجمعة عندابى يوسف بموضعين الا اذا كان مصر له جانبان فيصير فى حكم

مصرین کبغدا د فیجوز حینئذٍ فی موضعین دون الثلثة وعند محمد رحمه الله لا بأس بأن یصلی فی موضعین اوثلثة سواء کان للمصر جانبان اولم یکن وبه یفتی ولمّا ذکر حکم المعذور اعلم منه کراهة ظهر غیر المعذور بالطریق الاولی.

توضیح المسئلة: وکره ،مکروه تحریمي ده ماسپښین لمونځ دمعذور خلکو اودبندیانو په جمع سره په ښار کې په ورځ دجمعې یعني معذور خلک لکه ګوډ ، ړانده شل وغیره اوبندیان دجمعې په ورځ په هغه ساحو کې چې دجمعې لمونځ پکې اداء کیږي په جمع سره دماسپښین لمونځ نه شي کولې ځکه دجمعې لمونځ جمع کونکي دټولو جمعو ده نوکه پدې ورځ دجمعې دمانځه ځخه مخکې دماسپښین لمونځ په جمع سره اداء کړي نودجمعې په جمع کې به کموالي راشي اوچې دمعذور لپاره مکروه تحریمي شو نودغیر معذور لپاره په طریقه اولي سره مکروه تحریمي ده اوپه کومو کلواوباندو کې چې دجمعې لمونځ نشي کیداي نوهلته دماسپښین لمونځ په جمع سره جائز دي ،ولهذا دهمدې وجې ځخه چې دجمعې جمع جامع دټولو جمعو ده دامام ابویوسف رحمه الله په نزد دجمعې لمونځ په یوښار کې په دوه ځایونو کې جائز نه دي مګر هلته جائزده چې یوښار دوه طرفونه ولري یعنې چې منځ کې نهر وي لکه بغداد دابیاپه حکم ددوو ښارونو کې ده بیاپکې دوه ځایه دجمعې جمع جائز ده خودریم ځاي جائز نه ده .

اودامام محمد رحمه الله په نزد په یوښار کې په دوه ځایو کې هم دجمعې لمونځ په جمع کولې شي اوپه دریو کې هم برابره خبره ده چې یوښار دوه طرفه ولري اوکه وي نه لرې اوهمدا مفتٰی به قول دي .

فائده: مریض سړي ته مستحب ده چې دجمعې دجمع ځخه مخکې لمونځ ونه کړي بحر جلد ۲ ، ص،۲۹۹.

وظهر من لاعذر له فیه قبلها قوله فیه اي فی المصر ثم سعیه الیها والامام فیها یبطله ادرکها اولا هذا عند ابی حنیفة وامام عندهما فلا یبطل ظهره الا ان یقتدي ومدرکها فی التشهد اوسجود السهو یتمها واذا اذن الاول ترکوا البیع وسعوا واذا خرج الامام حرم الصلوة والکلام حتی یتم خطبته واذا جلس علی المنبر اذن ثانیاً بین یدیه واستقبلوه مستمعین ویخطب خطبتین بینهما قعدة قائماً طاهراً واذا تمت اقیمت وصلی الامام رکعتین.

توضيح المسئلة: **وظهر** اوماسپښين لمونځ دهغه چاچه عذر نه لري **فيه** په ښار کې **قبلها** مخکې دجمعې دمانځه څخه ،**ثم سعيه** ،بيا تګ کول دجمعې لمانځه ته **والامام فيها** پداسې حال کې چې امام په مانځه کې وي **يبطله** دماسپښين لمونځ باطلوي **ادركها** اولا دجمعې لمونځ رالاندې کړې اوکه ؛ يعنې که يوکس غير معذور دجمعې په ورځ په ښار کې يعنې په هغه علاقه کې چې دجمعې لمونځ پکې کولې شې دجمعې دمانځه څخه مخکې خپل لمونځ دماسپښين ځانته اداء کړي اوبيا دجمعې دمانځه لپاره روان شې خوپداسې حالت کې چې امام دجمعې دمانځه څخه فارغ شوې نه وي نوددې غير معذور سړې دماسپښين لمونځ باطل شو برابره خبره ده چې دجمعې لمونځ راګير کړې اوکنه؛

دادامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد باندې اودصاحبينو په نزد صرف په تګ کولو سره دجمعې لمانځه ته د ماسپښين لمونځ نه باطليږي ،مګر هلته باطليږي چې امام پسې اقتدا وکړي

ومدركها الخ اورالاندې کونکې دجمعې لمونځ دتشهد په حال کې يادسجده سهوې په حالت کې **يتمها** دجمعې لمونځ به پوره کړي يعنې که څوک امام لره په تشهد کې يا سجده سهوه کې راګير کړي نوبيابه هم دجمعې لمونځ پوره کوي يعنې دماسپښين لمونځ به پرې نه بناء کوي **واذا اذن** کله چې اول اذان وشې نوخلک به بيع اونور دنياوي معاملات پريږدي اودمانځه خواته به سعي وکړي .

سوال: دنبي عليه السلام په زمانه کې خودويم اذان ؤ اواول اذان خودحضرت عثمان رضي الله عنه په دورکې شروع شو اوامت پدې عمل وکړو خودجمعې اذان دايات دنازليدو په وخت کې دويم اذان ؤ نوسعې اوترک دبيع ددويم اذان سره په کار دې نه داول اذان سره جواب دادې چې په قرانکريم کې داول اذان اودويم اذان ذکر نشته بلکې دادې چې کله اذان دجمعې وشې نوتاسې خپل دنيوي معاملات پريږدې اودمانځه خواته روان شې نودا ايات دنبي عليه السلام په زمانه کې په دويم اذان صادق ؤ خوکله چې اول اذان زيات شو نوداهم د ايات نه لاندې راغې نودايات حکم پدې اول اذان هم مرتب کيږي .

واذا خرج الامام کله چې امام راووځي دخپل کورنه يادخطيب له کوټي څخه يادامعنې چې په منبر اودريږي حاصل دخبرې دادې که امام ځانته کوټه درلوده نوبيا دهغې څخه دده جدا کيدل مراد دې اوکه کوټه ئې نه وه نوبيا دخطيب اودريدل په منبر مراددې (بحر ج۲،ص۲۷۱)نوکله چې امام دخطبې لپاره راووتلو اوپه منبر اودريدلو **حرم الصلوة** نوبيا

لمونځ کول سنت وي اوکه نفل وي مکروه تحريمي دي والکلام اوخبري هم حرامي دي حتي تردي چې خطبه پوره کړې اوکله چې دويم اذان وشې واستقبلوه اوخلک به خطيب ته مخ کړي اوغوږ به ورته کيږدي اوخطيب به دوه خطبي ووائي بينهما قعدة ددواړو خطبو ترمنځ به لږه ناسته وي قائماً خطبه به په ولاړه وي طاهراً پاک به وي دحدث اصغر اوحدث اکبر څخه واذا تمت اوکله چې خطبه پوره شي اقيمت اقامت به وشې اوامام به دوه رکعته لمونځ په جهر سره اداء کړي .صافي .

﴿باب العيدين﴾

حُبّب يوم الفطر ان ياكل قبل صلاته ويستاك ويغتسل ويتطيب ويلبس احسن ثيابه ويؤدي فطرته ويخرج الى المصلى غير مكبر جهراً في طريقه نفى التكبير بالجهر حتى لوكبر من غير جهر كان حسناً ولايتنفل قبل صلوة العيد.

توضيح المسئلة: حبب غوره کړای شوې په ورځ دواړه اختر چه دمانځه څخه مخکې خوړ شئ وخوري لکه خرما ، دري ياپنځه يا اوه داني چې تاق وي او دا درسول الله ﷺ څخه ثابت ده که خرما نه وي ، نوبل خوړ شي دوخوري «بحر ۲۷۷، ۲» **ويستاك** اومسواک به ووهي اوغسل به وکړي **ويتطيب** اوخوشبوئي به ولګولې اوښکلي جامي به واغوندې که نوې وی خوډيره ښه اوکه نوې نه وي نوبيا وينځل شوي جامي دي واغوندي **ويؤدي** اواداء به کړي **فطرته** سرسايه خپله دسرسائي څلورحالته دي :

۱-داختر دورځي نه مخکې جائز ده .

۲-داختر په ورځ دمانځه نه مخکې مستحب ده .

۳-داختر په ورځ دمانځه څخه وروسته جائز ده .

۴-دواړه اختر دورځي نه وروسته صحيح ده خوګناهګار شو په تاخير سره لکن که ورېي کړي نوګناه ئي ختميږي . «بحرالرائق ص،۲۷۸ ،ج۲» **ويخرج** اووبه وځي عيدګاه ته اوتکبير به په زورسره په لاره کې نه وائي **غير مکبر** دامقصد نه ده چې بلکل به تکبير نه وائي بلکي مطلب ئي دادي که په خفيه سره تکبير ووائي نوداډير ښکلي دي ،**ولايتنفل قبل صلوة العيد** اوداختر دمانځه څخه مخکې به نفل نکوی نه په کور کی او نه په عيدګاه کی او د اختر دمانځه څخه وروسته په عيدګاه کې بياهم مکروه دي اما په کور کې داختر دمانځه څخه

وروسته جائز دي لکه حديث دابن ماجه پدي دليل دي چې نبي ﷺ به داختر دمانځه څخه وروسته کله چې کور ته راغي نودوه رکعته لمونځ به ئي وکړو ((بحرص، ۲۸۰،ج،۲)).

فائده: داختر په ورځ مبارکي په دي الفاظو سره ويل څه باک نه لري چې تقبل الله منا ومنكم يعني الله ﷻ دي له تاسي څخه هم عبادتونه قبول کړي اوله مونږ څخه هم ((بحر ص، ۲۷۷،ج۲))

وشرط لها شروط الجمعة وجوباً واداء لاالخطبة افادهذه العبارة ان صلوة العيد واجبة وهورواية عن ابي حنيفة رحمه الله وهوالاصح وقد قيل انها سنة عند علمائنا فان محمد رحمه الله قال عيدان اجتمعا في يوم واحد فالاول سنة والثاني فريضة فاجيب بأن محمداً انما سماها سنة لان وجوبها ثبت بالسنة ووقتها من ارتفاع ذكاء الى زوالها ويصلي بهم الامام ركعتين يكبر للاحرام ويثني ثم يكبر ثلثاً ويقرأ الفاتحة وسورة ثم يركع مكبراً وفي الثانية يبدأ بالقراءة ثم يكبر ثلثاً واخرى للركوع ويرفع يديه في الزوائد ويخطب بعدها خطبتين يعلم فيها احكام الفطرة.

توضيح المسئلة: څه شرائط چې دجمعي لپاره دي هغه شرائط داختر مانځه لره هم دي وجوباً وي اوکه اداءً وي يعني کوم شرائط چې دوجوب دجمعي لپاره ؤ هغه دوجوب داختر مانځه لره هم دي نوداختر لمونځ هم په مسافر ،ښځه ،ماشوم، ليوني ، مريض، اومعذور باندې واجب نه ده اوکوم شرائط دجمعي داداء کولو لپاره ؤ هغه به داختر لمانځه داداء کولو لپاره هم وي نوداختر لمونځ به هم صرف په ښار يادښار په اطرافو يالويو قريو کې ،ياکلو کې صحيح کيږي لاالخطبة خوخطبة داختر دمانځه لپاره شرط نده يعني دجمعي لمونځ بغير دخطبي نه نه صحيح کيږي اوداختر په مانځه کې که څوک خطبه پريږدي نوګناهګار شو خولمونځ ئي صحيح کيږي د اددواړو خطبو ترمنځ يوفرق دي بل فرق دادي چې دجمعي خطبه به دمانځه څخه مخکې وي ځکه دجمعي خطبه شرط ده دجمعي دمانځه لپاره اوشرط مقدم وي اوپه اختر کې خطبه شرط نه ده نوداختر دلمانځه څخه به وروسته وي افادهذه ددي عبارت نه چې وجوباً دي دامعلوميږي چې داختر لمونځ واجب دي دايوروايت دي دامام ابوحنيفة رحمه الله څخه اوهمدا صحيح دي ،وقد قيل بعض وائي چې داختر لمونځ زمونږ داحنافو علماؤ په نزد سنت دي ځکه امام محمد رحمه الله په الجامع الصغير کې ويلي دي چې دوه اختره چې کوچني اختر دي يالوي اختر دي اوبل دجمعي ورځ ده چې دواړه يوځاي شي په يوه ورځ کې يعني چې دجمعي په ورځ دواړه اختر ورځ راشي يادلوي اختر نواول سنت دي چې دورکوچني اختر لمونځ دي يادلوي اختر لمونځ دي اودويم فرض دي چې دجمعي لمونځ

دي نوددينه معلومه شوه چې داختر لمونځ سنت دي اوواجب نه دي **فاجيب** ددي استدلال څخه داجواب دي چې امام محمد رحمه الله داختر لمانځه ته سنت پدي اعتبار ويلي چې وجوب ددي په سنتو يعني احاديثو سره ثابت دي **ووقتها** اوداختر دمانځه وخت دوخت دپورته کيدو دلمر څخه الي زوالها ترزوال دلمر پوري يعني تر استواء پوري دي ويصلي الخ اوامام به خلکر ته دوه رکعته لمونځ ورکړي يکبر اول به تکبير وائي د تحريمی لپاره اوسبحانک اللهم الخ به ووائي بيا به دري تکبيره ووائي بيا به سورة فاتحة اوسورة ووائي بيابه رکوع وکړي په تکبير ويلو سره **وفي الثانية** په دويم رکعت کې به اول قراءت ووائي بيابه دري تکبيره ووائي څلورم تکبير به درکوع لپاره ووائي اوپه تکبير زوائدو کې به لاسونه پورته کوي اوامام به دمانځه څخه وروسته دوه خطبي ووائي اوپه دي خطبه کې به خلکو ته دسرسائي احکام بيان کړي.

ومن فاتته مع الامام لم يقض اي ان صلى الامام ولم يصلى رجل معه لايقضى ويصلى غداً بعذر لابعده والاضحى كالفطر احكاما لكن ههنا ندب الامساك الى ان يصلى ولايكره الاكل قبلها وهو المختار ويكبر جهراً في الطريق ويعلم في الخطبة تكبيرات التشريق والاضحية ويصلى بعذر اوبغيره ايامها لابعدها.

توضيح المسئلة: که ديوکس څخه داختر لمونځ دامام سره قضاء شو يعني امام لمونځ وکړو خوديوکس څخه داختر دلمانځه جمع لاړه نوقضاء ددي مانځه وربانديي نشته ويصلي اوکه داختر لمونځ داختر په اوله ورځ دڅه عذر دوجې ونه شو لکه باران ،وغيره نوسباته يعني په دويمه ورځ دوکړي .

لابعده خوددويمي ورځي څخه وروسته جائز نه دي ځکه دواړه اختر دوه ورځي وي **والاضحى** اولوي اختر په شان دورکوټي اختر دي په احکامو کې لکن ههنا لکن په لوي اختر کې **ندب الامساك** مستحب دي چې دخوراک څخه ځان بند کړي تردي پوري چې لمونځ داختر وشي اوداختر دلمانځه څخه وروسته قرباني وکړي اودقرباني څخه خوراک وکړي ددي لپاره چې دلوي اختر په ورځ مسلمانان دالله تعالي له طرفه ميلمانه وي چې اول خوراک دقرباني څخه وکړي بعض عوام دي امساک ته روژه وائي داغلطه ده ځکه داروژه نه ده بلکي ترمانځه پوري دخوراک څخه ځان بندول دي **ولايكره الاكل** خو دلوي اختر دمانځه څخه مخکې خوراک

مکروه تحريمي نه دي ځکه خوراک وروسته کول مستحب دي اوپه ترک دمستحبو سره کراهت نه ثابتيږي ځکه دکراهت لپاره دليل خاص ته ضرورت وي نوغوره عدم کراهت دي دخوراک مخکې دمانځه نه ((بحرص، ۲۸۴،ج،۲))نوشارح هم وويلي چې وهو المختار ويکبر جهراً اوپه لاره چې عيدګاه ته ځي نوپه زوره به تکبير وائي اوپه خطبه کې به خطيب خلکو ته تکبيرات دتشريق اوښائي والاضحية اودقرباني احکام به هم درته وښايي ويصلي اوداختر لمونځ دعذر دوجې اوبغير دعذر نه ترديي ورځو پوري جائز دي خوددري ورځو ځخه وروسته جائز نه دي لکن چې عذر نه وي نو داولي ورځي ځخه داختر لمونځ وروسته کول بيا مکروه دي ((بحر الرائق ص، ۲۸۵،ج۲بنايه))فتاوي هنديه ص۱۵۲،ج۱)

والاجتماع يوم عرفة تشبهاً بالواقفين ليس بشيئ اي ليس بشيئ معتبر يتعلق به الثواب فان الوقوف في مكان مخصوص وهو عرفات قد عرف قربة اما في غيرها فلا وتجب تكبيرات التشريق وهو قوله الله اكبر الله اكبر لااله الا الله والله اكبر الله اكبر ولله الحمد من فجر عرفة عقيب كل فرض ادي بجماعة مستحبة احترازعن جماعة النساء وحدهن على المقيم بالمصر ومقتدية برجل ومسافر مقتدٍ بمقيم الى عصر العيد وقالا الى عصر اخر ايام التشريق وبه يعمل ولايدعه المؤتم ولوترك امامه.

مذهب ابي حنيفة في الاجتماع يوم عرفة:

اواجتماع يعني دخلکو راجمع کيدل په يوه غونډي باندې تشبهاً ددي لپاره چې ځان مشابه کړي دهغه حاجيانو سره چې په عرفات ولاړوي ليس بشيئ هيڅ شيئ ندي يعين هيڅ ثواب نه لري اونه ځه په شريعت کې اعتبار لري ځکه په هغه خاص ځاي باندي چې عرفات دي اودريدل ثواب لري اوپه نورو ځايونو کې اودريدل دشريعت لخوانه ځه ثواب نشي ګڼلي بلکي مکروه ده همدارنګې که دلوي اختر په ورځ څوک چرګ ذبح کړي پدي نيت چې دقرباني کونکو سره مشابه شي داهم مکروه دي ځکه دمجوسو يعني داور عبادت کونکو رسم اورواج دي ((بحر الرائق ص۲۸۲،ج۲))

وتجب اوتکبيرات تشريق واجب دي تشريق په لغت کې وائي غوښه خورول په څرمن باندې ددي لپاره چې اوچه شې نودي ورځوته تشريق ځکه وائي چې پدي ورځو کې خلک غوښې خوره وي اواوچه وي اوتکبيراتو ته ئي نسبت ځکه وشو چې تکبيرات پدي ورځوکي واقع وي همدارنګې نضيربن شميل اوخليل وائي چې په تکبير سره اواز پورته کولوته هم تشريق

وائي بحر ۲ ـ ۲۸۶ وهو تكبير تشريق ديته وائي الله اكبرالخ **من فجر يوم عرفة** تكبيرات تشريق به دعرفي دورځي دسحر دمانځه څخه وروسته شروع كيږي دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دلوي اختر اولي ورځي دمازيگر لمانځه پوري ويل كيږي چې اته لمونځوكې راځي اودصاحبينو په نزد داختر دڅلورمي ورځي دمازيگر لمانځه پوري ويل كيږي چې په درويشت لمونځو كې راځي اودصاحبينو په قول فتوي ده عالمگيري ص۱۵۲، ج ۱، بحر ص. ۲۸۸ ـ ج۲ اوتكبيرات زمونږ داحنافو په نزد يوځل سنت دي اودامام شافعي رحمه الله په نزد دري واري ويل سنت دي بحر ص، ۲۸۸ ـ ج، ۲، **كل فرض** دهر فرض عين څخه وروسته ويل كيږي **ادى بجماعة** خوهغه فرض چې په جمع سره اداء شوي وي يعني په يواځي لمونځ كونكي باندي نشته **مستحبة** هغه جمع چې مستحبه جمع وي يعني ديواځي ښځو دجمع نه وروسته نشته ځكه دښځو يواځي جمع چې سړي ورسره نه وي مكروه ده **على المقيم** په هغه كس شته چې ښار كې مقيم وي په مسافر باندې واجب ندي **ومقتدية برجل** په هغه ښځه هم واجب دي چې دسړي پسي اقتداء وكړي دوجي دتابعيت دسړي نه لكن په جهر سره به ئي نه وائي بلكي پټ به ئي وائي مسافر اوپه هغه مسافر باندې هم واجب دي چې دمقيم پسي اقتداء وكړي دوجې دتابعيت دمقيم نه الي عصر العيد ترمازيگر لمانځه داختر داولي ورځي پوري دي اته لمونځو كې راځي اودصاحبينو په نزد دايام تشريق داخرني ورځي تر مازيگر لمانځه پوري دي چې دايام تشريق دري ورځي دي ۱۲، ۱۱، ۱۳، چې ټول درويشت لمونځونه راځي اودصاحبينو په قول عمل دي فتاوي هنديه ص، ۱۵۲، ج، ۱، بحر، ص، ۲۸۸، ج، ۲. **ولايدعه المؤتم** اومقتدي به تكبيرونه نه پريږدي اگر چې دامام څخه پاتې شي ځكه په مقتدي باندې تدا اومستقل واجب دي.

﴿باب صلوة الخوف﴾

باب دي په بيان دمانځه ويري كې

اذا اشتد خوف عدو جعل امة نحو العدو وصلى باخرى ركعة ان كان مسافراً وركعتين ان كان مقيماً ومضت هذه اليه اي الى العدو وجاءت الاولى واتمت بلاقراءة ثم الاخرى بقراءة.

توضيح المسئلة: كله چې ددشمن ويره زياته شي جعل نوامام به وگرځوي امة يوه ډله **نحو العدو** په طرف ددشمن وصلي باخري اولمونځ به وركړي دي بلي ډلي ته يوركعت كه مسافرؤ اوكه

مقیم ؤ نودوه رکعته به ورکړي اوداطائفة یعني ډله به په طرف ددشمن لاړه شي اوهغه بله ډله به راشي اولمونځ به بلاقراءته پوره کړي ځکه دوي لاحقین دي اولاحق باندې قراءت نه وي بیابه هغه بله ډله راشي اولمونځ به دقراءت سره پوره کړي ځکه دوي مسبوقین دي خوداصلاة خوف پدي طریقه باندي هلته ده چې قوم په مانځه کې د امام په اختلاف وي اوکه اختلاف اوجګړه ئي نه وي نوبیا غوره داده چې یوه ډله دیوامام سره پوره لمونځ وکړي اوبله ډله دبل امام سره پوره لمونځ وکړي .((فتح القدیر بحر،ص، ۲۹۲،ج،۲)).

وفي المغرب يصلي بالاولى ركعتين وبالاخرى ركعةً اعلم انه لم يذكر الفجر لكنه يفهم حكمه من حكم المسافر فالعبارة الحسنة ماحررت في المختصر وهو قوله صلى باخرى ركعة في الثنائي وركعتين في غيره فالثنائي يتناول الفجر وظهر المسافر وعصره وعشاؤه وغير الثنائي يتناول الثلاثي اي المغرب وظهر المقيم وعصره وعشاؤه وان زاد الخوف صلوّا ركباناً فراداً بايماء الى ماشاؤا ان عجزوا عن التوجه ويفسدها القتال والمشي والركوب.

توضیح المسئلة: اوپه ماښام کې به امام اولني ډلي ته دوه رکعته لمونځ ورکړي اوبلي ډلي ته یورکعت اعلم دادفع داعتراض ده هغه داسې چې مصنف دنورو لمونځونو حکم بیان کړو خودسحر دمانځه حکم ئي بیان نکړو نوشارح جواب وکړو چې سحرئي ذکر نکړو پدي خاطر چې ددي حکم دحکم دظهر دمسافر څخه معلومیږي چې داولي ډلي سره یورکعت وکړي اوددوهمي سره بل رکعت وکړي شارح وائي چې ښکلي عبارت هغه ده چې ماپه مختصر کې لیکلي دي چې دسحر لمونځ ته هم شامل ده صلى باخرى چې امام به بلی ډلی ته لمونځ یورکعت ورکړي په ثنائي کې اودوه رکعته په غیر ثنائي کې نوثنائي دسحر لمانځَ ته هم شاملیږي اودمسافر ماسپښین ،مازیګر اوماسختن ته هم شاملیږي ،اوغیر ثنائي ثلاثي ته هم شاملیږي ،لکه ،دماښام لمونځ اودمقیم ماسپښین ،مازیګر اوماخوستن ته هم شاملیږي

وان زاد الخوف اوکه ویره ددشمن نوره زیاته شوه نوبیا دي په سورلي باندي ځانته لمونځ وکړي په اشارې سره که قبلي ته دمخ کولو څخه عاجزه ؤ نوبیا چه کوم خواته مخه وي جائز دي خودجنګ په حالت کې لمونځ فاسدیږي یعني که دشمن سره جنګ شروع کړي نودجنګ په حالت کې لمونځ فاسدیږي همدارنګي دتګ کولوسره هم لمونځ فاسدیږي په سوریدلو سره یعني چې دلمونځ نیت وکړي اوبیا په سورلی سورشي نولمونځ ئي فاسد شو ځکه عمل کثیر موجود شو ،صافي .

﴿باب الجنائز﴾

باب دي په بيان داحکامو دجنازه کې جنازه په فتح دجيم سره مړي ته وائي اوپه کسري دجيم سره هغه کټ ده وائي چې مړي پکې وړي.

سن للمحتضران يوجه الى القبلة على يمينه واختير الاستلقاء ويلقن الشهادة فان مات شد لحياه ويغمض عيناه ويجمر تخته وكفنه وتراً ويوضع على التخت ويجرد ويستر عورته ويوضأ بلامضمضة واستنشاق خلافا للشافعي رحمه الله ويفاض عليه ماء مغلى بسدر اوحرض والا فالقراح اى وان لم يكن فالماء القراح ويغسل راسه ولحيته بالخطمى ثم يضجع على يساره ويغسل حتى يصل الماء الى التخت ثم على يمينه كذلك وانما قدم الاضجاع على اليسار لتكون البداية فى الغسل بجانب يمينه ثم يجلس مستنداً ويمسح بطنه برفق وماخرج يغسل ولم يعد غسله ثم ينشف بثوب ولايقص ظفره ولايسرح شعره خلافاً الشافعى رحمه الله ويجعل الحنوط على راسه ولحيته والكافور على مساجده.

توضيح المسئلة:

سن سنت کړاي شوي **للمحتضر** هغه کس لپاره چې مرګ ورته حاضر شوي وي **ان يوجه** چې وګرځولي شي مخ دده قبلي ته **على يمينه** په ښي طرف باندې يعني سردده به شمال خواته شي اوپښي ئي جنوب خواته اوپه ښي اړخ به واچولي شي چې مخ ئي قبلي ته راشي.

واختير الاستلقاء اومتاخرينو علماء استلقاء غوره کړي يعني چې په شاځملولي شي مخ ئي اسمان ته شي اوپښي قبلي ته شي ځکه داطريقه دروح وتلو لپاره ډيره اسانه ده **ويلقن** اوتلقين به ورکړاي شي يعني حاضرين به ورته شروع کړي **الشهادة** کلمه دشهادت چې اشهد ان لااله الاالله الخ خومحتضر ته به داسې نه وائي چه کلمه ووايه ځکه امکان لري چې ووائي چې نه وايم ځکه په هغه باندې حالت سخت وي **فان مات** که مړشي **شد لحياه** وبه تړلي شي زنې دده **ويغمض** اوسترګي به ئي پټې کړاي شي.

ويجمر اوخوشبويه به کړاي شي **تخته** دغسل دده **وكفنه** اوکفن دده **وتراً** تاق **ويوضع** اوکېښودلي به شي **على التخت** په تخت باندې ونيِ.. اوجامې به تري ويستلي شي اوکه جامې ئي پاکې وي اووئي نه باسي نوهم څه باک نه لري خوويستل ئي ښه دي ځکه چې ښه پاکوالي راځي اونبي ﷺ ته چې په قميص کې غسل ورکړل شو دادهغه خصوصيت و بحر

ص. ۳۰۱ ،ج۲ **ويستر** او پټ به کړاي شي عورت دده يعني دنامه څخه تر زرګنو پورې **ويوضأ** او اودس به ورکړل شی بې له خولي وينځلو اوپوزي وينځلو څخه خوبعض علماء وائي چې دګوتې څخه به ټوټه تاؤ کړي اوپه هغې به ئي غاښو پاک کړي اوپه پوزه کې به ئي هم ووهي ،**وعليه عمل اليوم** ((بحر ص. ۳۰۱ ،ج. ۲))خوامام شافعي ﷫وائي چې خوله اوپوزه به ورته **پري مينځي** لکه په ژوند کې چې وينځل مونږ ورته وايو چې دمړي له خولي اوبه راويستل بيا سخت دي **ويفاض** وبه اړولي شې پده باندي اوبه **مغلى** چې جوش کړاي شوي وي **بسدر**. دبيري پاڼي سره اوحرض ياپه زني سره حرض هغه زني ته وائي چې ميده شوي نه وي بحر ص. ۳۰۲ ،ج. دا يو قسم بوټی ده چی دجامو پاکوالی لپاره استعمالولی شی والا که دبيري د پاڼي اوبه يادزني اوبه نه وي **فالقراح** نوبيا خالص اوبه دي پري واچولي شي **ويغسل** اوسراوګيره به ئي ووينځل شي **بالخطمى** په کل خطمي سره **ثم يضجع** بيا به په چپ اړخ واچولي شي او وبه وينځلي شي تردي پوري چې اوبه ورسيږي الي التخت هغه طرف ته چې دتخت پوري نښتي وي ((بحر ۲ ،۳۰۲))ثم علي يمينه بيابه په ښي طرف واچولي شي ،په همدي طريقه ،**وانما قدم** دادفع ديواعتراض ده چې په کار ده چې اول ئي په ښي طرف واچوي ځکه ښي طرف اشرف وي نوشارح جواب وکړو چې اول په چپ اړخ سره څملول ئي ځکه مخکې کړ چې په غسل کې شروع په ښي طرف راشي ثم يجلس بيابه لږ کينولي شې **مستنداً** چې يوشي ته به ئي تکيه کړي **ويمسح** اوګيډه به په نرمي سره ورته ومږي که څه ګندګي تر ووځي نوهغه به ووينځلي شي **ولم يعد** اوبيا به غسل نه راګرځوي **ثم ينشف** بيابه وچ کړاي شې په جامي سره يعني دسمال سره ولايقص اونوکان به ئي نه کمه وي ولايسرح اونه به ئي ويښتان ګومنزه وي ځکه دادزينت لپاره وي اودمړګ نه وروسته زينت ته ضرورت نشته خوامام شافعي ﷫ وائي چې دنوکانو اخيستل اودويښتانو ګومنزول مستحب دي **ويجعل الحنوط** اوخوشبوئي به واچوي په سر اوږيره دده **والكافور** دادخوشبوئي يوقسم ده **مساجد** جمع دمسجد ده هغه اندامونه چې په کومو سجده کولې شې چې هغه تندي پوزه دواړه لاسونه ،زنګنونه ،اوقدمونه دي يعني دکافور خوشبوئی به پدی اندامونو واچولی شی،دا اندامونه ئی ځکه خاص کړو چې دوجې کرامت ددينه اوددي لپاره چې زرخراب نه شې . صافي .

وسنة الكفن له ازار وقميص ولفافة واستحسن المتاخرون العمامة ولها درع وازار وخمار ولفافة وخرقة

يربط بها ثديها وكفايته له ازار ولفافة ولها ثوبان وخمار الثوبان اللفافة والازار وتبسط اللفافة ثم الازار عليها ثم يقمص ويوضع على الازار ثم يلف يسار ازاره ثم يمينه ثم اللفافة كذلك وهى تلبس الدرع ويجعل شعرها ضفيرتين على صدرها فوقه ثم الخمار فوقه ثم الازار تحت اللفافة ويعقد الكفن ان خيف انتشاره.

القول الحسن فی بیان الکفن:

مطلق کفن فرض کفائي ده او په اعتبار د عدد سره په دري قسمه ده

۱-سنت کفن ۲-کفايه ۳-ضرورت.

۱-سنت: کفن د سړي لپاره يو لنګ دي بل قميص دي او بل لفافه ده او متاخرينو علماء پټکي (پګړي) هم خوښه کړي ده د هغي وجه بعض علماء بيا دا بيانوي چې عبد الله بن عمر رضي الله عنه به مړي ته پګړي وو هله او شمله به ئي په مخ ورته واچوله (فتح القدير) او بعض علماء بيا وائي چې د علماء او شريفو خلکو لپاره غوره ده ظهيريه (بحر ۳۰۸، ج، ۲). وروى البزار انه ﷺ كفن فى سبعة اثواب يعنى ثلاثة سحولية وقميصه وعمامته وسراويله وقطيفته التى جعلت تحته رواه احمد ص ۹۴، ج: ۱ عن حماد بن سلمة واسناده حسن (بنايه ص ۱۵۲، ج: ۳.

او کفن بايد چې ښائسته کېږه وي ځکه حديث کې راځي چې **حسنوا اكفان الموتى لانهم يتزاورون فيما بينهم ويتفاخرون بحسن اكفانهم** (بحر الرائق ص، ۳۰۸، ج ۲).

ترجمه: تاسي د مړو کفنونه ښايسته کړي ځکه دوي په خپل منځ کې سره ملاقات کوي او يو په بل باندي فخر کوي په ښايسته والي د کفن سره ولها او سنت کفن د ښځي لپاره يو قميص دي بل لنګ دي بل د سر لپاره ټکري ده بل لفافه ده پنځم يو ټوټه ده چې په هغي سره د ښځي سيني وتړلي شي.

۲-کفن کفائي ده يعني که پديکي کفن کړاي شي نو دا کافي کيږي د سړي لپاره دوه دي يو لنګ دي او بل لفافه ده او د ښځي لپاره دري دي چې دوه جامي دي يعني يو لفافه او بل لنګ دي او دريم ټيکري دي.

۳-کفن ضرورت چې يوه جامه ده چې زياته پيدا نشي وتبسط دي سره د کفن ورکولو طريقه بيانوي چې اول به لفافه خوره کړاي شي بيا به د هغي له پاسه لنګ واچولي شي بيا به مړي ته قميص واغوندلي شي او په لنګ به واچولي شي اول به د لنګ چپ طرف راواړه ولي شي بيا ښي طرف په همدي طريقه به لفافه هم راواړه ولي شي وهي او ښځي ته به اول قميص

واغوستلي شي اوويښتان ددي په دوه کمسی کړي دسيني له پاسه دواچوي بيا ددي له پاسه ټيکري واچوي ثم الازار بيابه لنګ واچوي بيا به لفافه چې په را اړه ولو کې لنګ دلفافي څخه لاندي راشي ويعقد اوکفن به غوټه کړاي شې که ويره دخوريدلو دکفن وه ،عبدالرشيد صافي عفي عنه .

وصلاته فرض كفاية اى ان ادى البعض سقط عن الباقين وان لم يؤد احد يأثم الجميع وهى ان يكبر رافعاً يديه ثم لا يرفع بعدها خلافاً للشافعى ويثنى ثم يكبر ويصلى على النبى ﷺ ثم يكبر ويدعو ثم يكبر ويسلم ولا قراءة فيها خلافاً للشافعى ولا تشهد ويقول فى الصبى بعد الثالثة اللهم اجعله لنا فرطاً اللهم اجعله لنا ذخراً اللهم اجعلنه لنا شافعاً ومشفعاً اى اجراً يتقدمنا واصل الفارط والفرط فيمن يتقدم الواردة كذا فى المغرب المشفع الذى يعطى له الشفاعة والدعاء للبالغين هذا اللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا وكبيرنا وذكرنا وانثانا اللهم من احييته منا فاحيه على الاسلام ومن توفيته منا فتوفه على الايمان.

الحجة البالغة فى صلاة الجنازة:

دجنازي لمونځ فرض کفائي ده يعني که بعض خلک ئې اداء کړي دنورو خلکو دذمي څخه ساقطيږي اوکه هيڅوک ئې اداء نکړي نوټول ګناهنګاريږي وهي دي سره طريقه دمانځه بيانوي چې په ولاړه به تکبير ووائي اولاسونه به غوږوته پورته کړي اوداول تکبير څخه وروسته به لاسونه پورته کوي اودامام شافعي رحمه الله په نزد به په هر تکبير کې لاسونه پورته کوي ويثنى اوداول تکبير نه وروسته به سبحانک اللهم ووائي الخ ،بيابه تکبير وکړي اوپه نبي ﷺ به درود ووائي بيابه تکبير ووائي اودمړي لپاره اوځان لپاره اودنورو مسلمانانو لپاره به دعاء وغواړي بيابه تکبيروکړي اوسلام به وګرځوي ولاقراء فيها اودجنازي په مانځه کې قراءت دقران زمونږ په نزد نه واجب دي اونه سنت دي ځکه جنازه محل ددعاء ده نه قراءت اما که فاتحه په نيت ددعاء ووائي نوبيا څه باک نشته خوپه پټه به ووائي دامام شافعي رحمه الله په نزد به داول تکبير څخه وروسته فاتحه لولي ولاتشهد او دڅلورم تکبير څخه وروسته دتشهد ويل هم نشته ويقول اودماشوم په جنازه کې به ددريم تکبير څخه وروسته دادعاء وائي اللهم اجعله لنا الخ يا الله وګرځوي دغه ماشوم مونږ لره فرطاً اي اجر يتقدمنا يعني هغه ثواب چې له مونږ څخه مخکې دارالبقاء ته لاړشي فارط اوفرط ويل کيږي فيمن يتقدم الواردة

هغه کس ته چې دمسافرو يوجماعت څخه يادقافلې څخه الواردة چې اوبوته راروان وي مخکې لاړشي اوددي ډلي لپاره ځاي او اوبه تياري کړي لکه نبي ﷺ فرمائي چې انافرطکم علي الحوض ،زه ستاسي څخه مخکې حوض کوثر ته ځم چې تاسې ته اوبه برابري کړم اجعله لنا يا الله ﷻ وګرځوي داماشوم زمونږ لپاره ذخراً ذخيره داخرت لپاره اجعله لنا اويا الله تعالي وګرځوي داماشوم زمونږ لپاره شافعاً سفارش کونکي مشفعاً المشفع الذى يعطى له الشفاعة مشفع هغه ته ويل کيږي چې دده سفارش قبول کړاي شي والدعاء وللبالغين يعني مړي «نر»وي که ښځه خوچې بالغ وي دهغي لپاره به دادعاء وائي : اللهم اغفر يا الله ببښنه وکړي لحينا زمونږ ژونديو لره ،وميتنا اوزمونږ مړوته ،وشاهدنا اوزمونږ حاضروته وغائبنا ،زمونږ غائبو لره وصغيرنا اوزمونږ ماشومانو ته يعني نابالغوته وکبيرنا اوزمونږ بالغوخلکوته وذکرنا اوزمونږ نارينه ؤ ته وانثانا اوزمونږ زنانو ته اللهم يا الله من احييته منا څوک چې تاژوندي پريښوده زمونږنه فاحيه نوژوندورکړه ده ته په ده ته په اسلام باندې ومن توفيته منا څوک چې ته وفات کوي زمونږنه فتوفه على الايمان نووفات ئي کړي دايمان په حالت کې. صافي .

انما قال في الاول الاسلام وفي الثاني الايمان لان الاسلام والايمان وان کانا متحدين فالاسلام ينبئ عن الانقياد فکانه دعاء في حال الحيوة بالايمان والانقياد واما عند الوفات فقد دعى بالتوفى على الايمان وهو التصديق والاقرار واما الانقياد وهو العمل فغير موجود في حال الوفات وبعده.

تحسين المقام في الفرق بين الايمان والاسلام:

په اول دعاء کې داسلام لفظ راوړو «فاحيه علي الاسلام» اوپه دويمه دعاء کې لفظ دايمان راوړو ديکې حکمت څه ؤ؟ نوشارح وويلي چې داسلام اوايمان اګر چه شرعاً يوشي دي ځکه هر مسلمان مومن دي اوهرمومن مسلمان دي خوداسلام معني غاړه ايښودل دي لکه قرآن کې الله ﷻ فرمائي قالت الاعراب آمنا قل لم تؤمنوا ولکن قولوا اسلمنا.

ترجمه : اعرابو وويلي چې مونږ ايمان راوړي ته ورته ووايه اي نبي ﷺ چې تاسي ايمان راوړي نه دي ځکه ايمان تعلق دزړه پوري لري لکن داسي ووائي چې مونږ اسلام راوړي ځکه اسلام تعلق داندامو پوري لري نوچه داسلام معني غاړه ايښودل شو فکانه نوګويا چې دادعاء ده دژوند په حالت کې په ايمان اوغاړه ايښودلو سره يعني الله ﷻ دي په ژوند کې ددين اسلام تابعدار وګرځوي اودمرګ په حالت کې دالله ﷻ تعالي په ايمان وفات کړي

ایمان تصدیق اوباور ته وائي یعني چې دمرګ په وخت کې په کلمه د لااله الاالله محمد رسول الله باندي ګویا وي او تصدیق ئي ورباندي وي او انقیاد یعني په جوارحو عمل کول نه دمرګ په وخت کې شته اونه دمرګ نه وروسته شته .

ویقوم المصلی بحذء صدر المیت والاحق بالامامة السلطان ثم القاضی ثم امام الحی ثم الولی علی ترتیب العصبات ولابأس باذنه فی الامامة فان صلی غیرهم یعید الولی ان شاء ولایصلی غیره بعده ومن لم یصلّ علیه فدفن صلی علی قبره مالم یظن انه تفسخ وقد قدر بثلثه ایام ولم تجز راکباً استحساناً الاستحسان هوالدلیل الذی یکون فی مقابلة القیاس الجلی الذی یسبق الیه الافهام فا القیاس ههنا ان یجوز راکبا لانه لیس بصلوة لعدم الارکان بل هو دعاء والاستحسان انها صلوة من وجه لوجود التحریمة فلایترک القیام من غیر عذر احتیاطاً .

توضیح المسئلة: ویقوم او اودریږي به هغه کس چې په جنازه لمونځ کوي یعني امام بحذاء مخامخ سیني دمړي ته دامام ابوحنیفة مذهب دادي .

چه امام به دسړي سرته مخامخ اودریږي اودښځي سینو ته به مخامخ اودریږي والاحق دجنازي په مونځ کې زیات حقدار دامامت بادشاه دي بیا په دویمه مرتبه کې قاضي دي بیا په دریمه مرتبه کې دمحلي امام دي ،که دمحلي امام دولي ښخه غوره وي نوبیا دمحلي امام مخکي کول غوره دي اوجوامع الفقه کې دي چې دجامع مسجد امام دمحلي دامام ښخه غوره دي «بحر ۲، ۳۱۲» ،**ثم الولی** دمحلي دامام ښخه وروسته حق دمړي دولي دي یعني خپلوان د مړی په ترتیب دعصبیت سره یعنی نژدی خپلوان به مقدم وی په لری خپلوان باندی **ولابأس** خوکه ولي بل کس ته دجنازي دامامت اجازه وکړي نوڅه پروانلري **فان صلی غیرهم** که دمذکورو کسانو ښخه ماسوابل چادجنازي امامت وکړو اوولي ورپسي اقتداء هم نه وه کړي نوولي ته داحق شته چې جنازه بیا راوګرځوي اوکه ولي ورپسي اقتداء کړي وه نوبیا حق دار ګرځولو نلري ،**ولایصلی** خوکه ولي جنازه وکړه نوبل څوک ئي راګرځولي نشي،**ومن لم یصل** که په یومړي باندي دجنازي لمونځ ونشي اوبي له مانځه دفن شي **صلی** نودده په قبر به لمونځ وکړای شي ترڅو چې ګمان داوي چې وجودئي رژیدلي نه ده نودابه څومره موده وي ،نوعلماء ددي اندازه په دري ورځو لګولي ده یعني چې دري ورځو پوري کولي شي لکن صحیح خبره داده چې دابه غالب ګمان ته کتلي شي څکه دوجود پوري هم

فرق وي اودخمكي پوري هم فرق وي اودزماني پوري هم فرق وي اوكه قبر كښ ايښي ؤ خوخاوري وربادني اړلي نه وي نوبيابه ئي راوباسي اولمونځ به پري وكړي همدارنګه كه مړي رژيدلي ؤ نوبيابه پري هم لمونځ نه كوي ځكه لمونځ دمړي په بدن جائز دي اودرژيدلو څخه وروسته بدن نه پاتي كيږي .

كه څوک سوال وكړي چې نبي ﷺ خودشهداء داحد باندي اته كاله بعد لمونځ وكړو ؟ نوجواب دادي چې هلته دصلوة نه مراد دعاء ده اوبل داچه دشهداء وجود نه خاوري كيږي دهغوي بدنوته روغ ؤ نوځكه ئي پري لمونځ وكړو بحر ((۲، ۳۲۰))

ولم تجز راكباً اودجنازي لمونځ دسورلي په حالت كښ جائز ندي يعني چې امام يابل كس په سورلي سور وي او دمړي جنازه كوي داجائزه نه ده استحساناً دوجي داستحسان نه استحسان هغه دليل دي دځلور دلائلوڅخه چې په مقابله دقياس جلي كي وي قياس جلي هغه دی چې دانسان ذهن او فهم ورته زر رسيږی نواستحسان قياس خفي شو چې دانسان فهم ورته زرنه رسيږي ،فاالقياس نوقياس عذره په باب دجنازه كښ داده چې جنازه دسورلي په حالت كښ هم جائز ده ځكه جنازه لمونځ نده ځكه پديكي اركان دمانځه نشته چې ركوع اوسجده اوجلسه ده بلكي دادعاء ده اواستحسان داوائي چې دالمونځ دي من وجه ځكه تحريمه پكي شته شرائط دمانځه پكي هم موجود دي نوقيام بلاعذر نشي پريښودلي يعني په سورلي لمونځ جائز نه ده احتياط له وجي داحتياط څخه ځكه قيام فرض دي اوفرض بلاعذره پريښودلي نشي .

وكرهت في مسجد جماعة ان كان الميت فيه وان كان خارجه اختلف المشائخ اختلاف المشائخ بناء على ان علة الكراهة عند البعض توهم تلويث المسجد فأن كان الميت خارجه لاتكره عندهم وعند البعض ان المسجد لايبنى الا للصلوات الخمس فالميت وان كان خارجاً تكره عندهم ايضاً ومن ولد فمات سمي وغسل وصلي عليه ان استهل والا ادرج في خرقة ولم يصل عليه وغسل وهو المختار وفي ظاهر الرواية انه لايغسل لكن المختار هوالاول .

توضيح المسئلة:

په هغه مسجد كښ جنازه مكروه ده چې په هغي كښ جمع كولي شي كه مړي په داخل دمسجد كښ ؤ اوكه مړي دمسجد څخه خارج ؤ نوبيا پديكي دعلماء اختلاف دي اودا اختلاف ددوي پدي مبني ده چې دبعض علماء په نزد دكراهت علت توهم تلويث وهم دككړيدلو دمسجد دي

نوکه مړي دمسجد څخه بهروي نوبيا ددوي په نزد مکروه ندي **وعند البعض** اودبعض علماء په نزد دادي چې مسجد نده جوړ شوي مگر دپنځه وخته لمانځه لپاره نوکه مړي دمسجد څخه بهر هم وي خوددوي په نزد بيا پکي هم جنازه مکروه ده .

ومن ولد که کوم ماشوم پيداشي اومړ شي نونوم به ورته کيښودلي شي اوغسل به ورکړای شي که دپيداکيدو په وخت کې اواز کړي ؤ نودجنازي لمونځ به وربانديې وکړي اوکه اواز ئي نه ؤ کړي نودغسل څخه وروسته به ئي په يوه ټوټه کې تاؤ کړي اولمونځ به پري نکوي اوپه ظاهر الروايت کې راغلي چې غسل به نه ورکوي خوغوره اول قول دي چې غسل ورکړای شي اوکه ماشوم دوخت څخه مخکې پيداشو خواندامونه ئي پوره ؤ نوبيا به هم غسل ورکړای شي اوکه اندامونه ئي پوره نه ؤ نوغسل به نشي ورکولي ((بحر ص، ۳۳۰،ج،۲))

صبي سبي فمات ان سبي بلا احد ابويه اومع احدهما فاسلم عاقلا اواحدهما صلى عليه فانه ان سبي بلا احد ابويه يكون مسلماً تبعاً للدار فيصلى عليه وان سبي مع احد ابويه فحينئذٍ لايكون تبعاً للدار فان اسلم هو والحال انه عاقل فاسلامه صحيح فيصلى عليه وان اسلم احدهما يكون مسلماً تبعاً لاحدهما فيصلى عليه والا فلا اي ان سبي مع احد ابويه ولم يسلم احد من ابويه ولا هو عاقل لايصلى عليه فهذا يشتمل ما اذا لم يسلم اصلاً اواسلم وهو غير عاقل.

توضيح المسئلة:

که يوماشوم دمسلمانانو په محبس کې په دارالاسلام کې بندی شو اومړ شو نوکه بي له يو مور اوپلار څخه بندي شوي ؤ اويا ورسره يودمور اوپلار نه بندي ؤ خودي ماشوم اسلام قبول کړو اوداسلام په صفت پوهيدو **اواحدهما** اويادمور اوپلار دده نه يوکس اسلام قبول کړو **صلى عليه** نوپدی ماشوم باندې به دجنازي لمونځ وشي ،**فانه ان سبي** ځکه که ماشوم بي له مور اوپلار څخه بندي شي نوداماشوم هم مسلمان گرځي دوجي تابعيت ددارالاسلام نه نوبيا دجنازي لمونځ پري کولې شي ،**وان سبي** اوکه ديو مور اوپلار سره بندي شي نوپدي صورت کې ماشوم تابع د دارالاسلام نه گرځي **فان اسلم هو** نوکه دي ماشوم پخپله اسلام راوړو خوپداسې حال کې چې په اسلام پوهيږي نودده اسلام صحيح دي دجنازي لمونځ به پري کولي شي **وان اسلم** اوکه مور اوپلار کې يوکس اسلام راوړي نوبيا هم داماشوم مسلمان وگرځيده ځکه داتابع ديوشو چې هغه مسلمان دي نودجنازي لمونځ به پري کولې شي ،والا

فلا اوكه ماشوم ديومور اوپلار سره بندي شو اوپه مور اوپلار كې يوهم اسلام قبول نكړو ولاهو عاقل يادي ماشوم اسلام قبول كړو خوداسلام په صفت نه پوهيدو نوبيا به پدي ماشوم دجنازي لمونځ نشي كولي ، فهذا شارح وائي چې دمصنف داقول والافلا دوه خبروته شامل ده.

۱-چې ماشوم بلكل اسلام قبول نه كړو . ۲-چه اسلام قبول كړي خوغير عاقل وي يعني داسلام په صفت نه پوهيږي نوپه دواړو صورتو كې به پده لمونځ نشي كولي ځكه اسلام دغيرعاقل هم شرعا معتبر نه دي . صافي

كافر مات يغسله وليه المسلم غسل النجس اى يصب عليه الماء على الوجه الذى يغسل النجاسات لاكما يغسل المسلم بالبداية بالوضوء وبالميامن ويلفه فى خرقة ويحفر حفرة ويلقيه فيها.

يومسلمان ولي ب خپل كافر خپلوان ته غسل څنګه وركوي ،كه يو كافر مړ شې اوولي دده لكه ځوي وغير مسلمان وي نوغسل به په داسې طريقه وركوى لكه يوپليټ شي چې مينځي يعني اوبه به پرى په داسي طريقه اړه وي لكه چې پليتي مينځي اوداسي غسل به نه وركوي لكه مسلمان ته چې ئي وركوي چې په اودس شروع وكړي اويا په ښي طرف شروع وكړي **ويلفه** اوراتاؤ به ئي كړي په يوه ټوټه كې **ويحفر حفرة** اوكنده به ورته وباسي **ويلقيه فيها** اوپدي كنده كې به ئي واچوي اوخاوري دپري واړه وي اولحدبه ورته نه اوباسي «بحر ۲، ۳۳۴»

وسن فى حمل الجنازة اربعة وان تضع مقدمها ثم مؤخرها على يمينك ثم مقدمها ثم مؤخرها على يسارك ويسرعون بها لاخببا وكره الجلوس قبل وضعها والمشى خلفها احب ويحفر القبر ويلحد ويدخل فيه ممايلى القبلة ويقول واضعه بسم الله وعلى ملة رسول الله ويوجه الى القبلة ويحل العقدة اى العقدة التى على الكفن خيفة الانتشار ويسوى اللبن والقصب ويسجى قبرها بثوب لاقبره اى يغطى قبرها بثوب عند دفنها ويكره الاجر والخشب ويهال التراب ويسنم القبر ولايسطح.

توضيح المسئلة: سنت كړاي شوي دجنازي په وړلوكې يعني دهغه كټ په وړلو كې چې مړي يځم و ي ا دعه ځلور كسان وان تضع الخ سنت طريقه په وړلو كې داده چې اول به دكټ مخكې ښه په خپله ښي اوږه وړى بيا وروستني ښه په ښي اوږه باندې بيا به مخكې ښه دكټ بل طرفته په چپه اوږه وړي بيا وروستني ښه دكټ په چپه اوږه وړي خود كټ ښه به په لاسونو اوچته وي په اوږه به ئي نه ګدي «بحر ۳۳۵، ۲» اوماشوم چې وركوټي وي نويو كس

به ئي په لاسونو کې واخلې اونور خلک به ئي هم چې دده څخه په لاره خلي نوپه لاسونو وړي «بحر ۲، ۳۳۵»**ويسرعون** اوپه تيزي سره به جنازه وړي لاخبباً نه په ټوپونوسره ،**وكره الجلوس** اومکروه ده کيناستل مخکې داينبودلو دجنازي څخه ځکه بعض وخت کومک کولو ته ضرورت راځي په ولاړه کومک ته زر رسيږي .

والمشي خلفها دجنازي څخه وروسته تلل غوره دي **ويحفر القبر** اوقبر به ورته وايستلى شي دقبر دويستلو اندازه دبعض علماء په نزد دانسان دقد په نيمائي ده اودبعضو په نزد ترسيني پوري ده «بحر ۲، ۳۳۸»**ويلحد** اولحد به ورته ووهلي شي لحد ديته وائي چې دقبر دکنستلو څخه وروسته دقبر قبلي طرفته دمړي داينبودلو لپاره ځاي جوړشي چې ورکوټې کنده وي اوشق ديته وائي چې دقبر دکنستلو څخه وروسته دقبر په منځ کې دويالي په شکل کنده وباسي چې مړي پکې کيږدې نولحد غوره دي خو که ځمکه نرمه وه نوبيا شق جائز دي اوتابوت هم جائز دي بحر «۲، ۳۳۸»**ويدخل** اومړي به قبرته دهغه طرف نه داخلوي **يلي القبلة** چه قبلي ته نژدي وي **ويقول** اووائيي به **واضعه** اينبودونکي دمړي **بسم الله** يعني په نوم دالله تعالي موکيښودي **وعلى ملة رسول الله** اوپه دين درسولﷺ وسپارلي قاله السرخسي بحر«۲، ۳۳۹**ويوجه** اومخ به وګرځولي شې دمړي قبلي ته **ويحل** اوخلاصه به کړاي شې **العقدة** هغه غوټه چې په کفن باندې وي **خيفة الانتشار** دوجې دويري دخوريدلو دکفن نه **ويسوى** اوبرابري به کړي **اللَّبِنَ** خامي خښتي **والقصب** اودرمي يعني دخښتو ترمنځ به درمي اوچوي چې درزونه بند کړي **ويسجى** اوپټ به کړي دښځي قبر په جامي يعني څادرونو سره په کوم وخت کې چې دفن کولې شې **يغطى** يعني پټ به کړاي شي **ويكره الاجر والخشب** اومکروه دي پخې خښتي اولرګي ځکه لرګي اوپخه خښته دابادي دمضبوطولو لپاره ده اوقبر ځاي دامتحان دي اوپه خښته اثر داورهم دي نوتفاولاً مکروه دي بحر «۲، ۳۳۹»**ويهال التراب** اوخاوري به پري راواړولي شې اوپه لپو سره يعني لاسو سره پري خاوري اچول مستحب دي **ويسنم القبر** اوقبر به ماهي پشته کړي ولايسطح اومسطح به نه ګرځوي .

فائده: که څوک په کشتي کې مړ شي نوغسل به ورکړاي شي اوکفن به ورکړل شې اولمونځ به ورباندي وکړي اودرياب ته به ئي وغورځوي بحر «۲، ۳۳۸»

باب الشهيد

داهل السنت والجماعة عقيده داده چې مقتول په خپله نيته باندې مړ شوې دې سره ددې ئې ځانته باب ورته مقرر کړو دوجې دفضيلت دشهيد څخه نوشهيد فعيل وزن دي په معني دمفعول سره ځکه فرشتې دده مرګ ته حاضريږي دوجې دعزت دده نه نوشهيد مشهود شو اويادې وجې چې شهيد مشهود له دي په جنت سره اويا شهيد فعيل وزن دي په معني دفاعل سره نومعني داشوه چې داد الله تعالي په نزد ژوندي دي اوحاضر دي

«بحر الرائق ، ۲، ۳۴۳».

هو كل طاهر بالغ قتل بحديدة ظلماً ولم يجب به مال اووجد ميتاً جريحاً في المعركة فالطاهر احتراز عمن وجب عليه الغسل كالجنب والحائض والنفساء والبالغ احتراز عن الصبي وبالحديدة احتراز عن القتل بالمثقل وظلماً احترازعن القتل حداً وقصاصاً ولم يجب به مال احترازعن قتل وجب به مال والمراد ان المال لايجب بنفس هذا القتل فان الاب اذا قتل ابنه بحديدة ظلماً يكون الابن شهيداً لان المال وان وجب فانه لم يجب بنفس هذا القتل وقوله اووجد ميتاً فان من وجد ميتاً جريحاً في المعركة فهو شهيد لان الظاهران اهل الحرب قتلوه ومقتولهم شهيد باي شيء قتلوه وانما شرط الجراحة فيمن وجد في المعركة ليدل على انه قتيل لاميت حتف انفه فالحاصل ان الشهيد من قتل بحديدة ظلماً ولم يجب به مال اومن وجد ميتا جريحاً في المعركة سواء قتل بحديدة اولاً لكن في هذا التعريف نظر وهو انه لايشمل ما اذا قتله المشركون اواهل البغي اوقطاع الطريق بغير الحديدة فان قتيلهم شهيد باي الة قتلوه فالتعريف الحسن والموجز ماقلت في المختصر.

اعزازالحميد في بيان الشهيد: شهيد په دوه قسمه ده : ۱-حکماً شهيد چې په دنيا کې دشهيد احکام پرې نه جاري کيږي خوپه اخرت کې دشهيد ثواب ورکول کيږي لکه مطعون ،مبطون ،حريق ،غريق وغيره .

۲-حقيقي شهيد چې غسل به نه شي ورکولې اوپه خپلو جاموکې په دفن کولې شي ددي تعريف مصنف «پدې الفاظو سره وکړو چې **هو كل طاهر** هرهغه پاک مسلمان چې بالغ وي قتل کړاي شي بحديدة په اوسپنه باندې يعني په زخمي کونکي الى باندي ظلماً په ظلم سره **ولم يجب** اوواجب نشي په قاتل باندي به په قتل دده سره مال يعني ديت اووجد اويا موندلې شي ميتاً مړ جريحا زخمي يعني چې دزخم نښه ورباندې وي ، مصنف رحمه الله اوس دقيوداتو فائد

بیانوي **فالطاهر** دپاک مسلمان سره احتراز راغي دهغه کس څخه چې غسل پرې واجب وي لکه جنب حائضه ښځه دنفاس والا ښځه چې دوي ته به غسل ورکولي شي ځکه حضرت حنظله دجنابت په حالت کې شهید شو نوفرشتو غسل ورکړو **والبالغ** په بالغ سره احتراز دي دماشوم نه ځکه دشهداؤ داحد په باره کی توره ددي لپاره کافي ده چې ددوي ګناهونه ختم کړي اودماشوم لپاره ګناه نه وي نوشهید نه دي یعني غسل به ورکولي شي **وبالحدیدة** په زخمي کونکي الي سره احتراز راغي دهغه قتل نه چې په درانده شي سره وي لکه غټه تیږه وغیره ځکه دیته شبه عمد وائي اوپدیکي قصاص نشته بلکي مال واجب دي نوداشهید ندي یعني غسل به ورکولي شي **وظلماًاحتراز عن القتل حداً وقصاصاً** یعني که یوکس دزنا په حدکې مړشي اویاقتل وکړي اودمقتول په عوض کې قصاص شي نو داشهید ندي غسل اوکفن به ورکولي شي **ولم یجب به مال** اوپدي سره احتراز کوي دهغه قتل څخه چه په هغې مال واجب وي **والمراد** اودلم یجب به مال نه مراد داده چې مال په نفس قتل سره واجب نه وي بلکه په صلح سره واجب وي یاپه قتل دپلار سره زوي لره ځکه دامقتول شهید دي ځکه نفس قتل دیت نه واجبوي بلکي قصاص واجبوي لکه پلار چې زوي مړکړي په الي جارحي سره په ظلم باندي نوزوي ئي شهید شو ځکه مال په نفس قتل سره واجب نه دي بلکي قصاص واجب دي خوقصاص دیو نص دوجي ساقط شو چې پلار به په ځوي نشي قصاص کولې دوجي داکرام دپلارنه نومال ورباندي واجب شو چې ددي ځوي مقتول وینه هم عبثه نه شي **وقوله اووجد میتاً** ځکه دجنګ په ځاي کې چې څوک مړ وي اودزخم اثر ورباندي وي نودابه شهید وي **لان الظاهر** ځکه داښکاره خبره ده چې کفارو قتل کړي ده **ومقتولهم** اودکفارو له لاس څخه قتل کړاي شوي مسلمان شهید دیٔ په هر شئ چې قتل کړي وي **وانما شرط** خودجنګ په ځاي کې که کوم کس مړوموندلي شي نو دشهادت لپاره زخم ځکه شرط کړاي شو لیدل چې دلالت پدي وکړي چې داوژل شوي دي لامیت اومړ نه دي حتف انفه په خپل مرګ باندي حتف په لغت کې هلاکت ته واتي دجاهلیت دزماني د خلکو داعقیده وه چې دانسان روح دپوزي څخه دمرګ په وخت کې وځي نوکه کوم کس به بغیر دسبب ظاهري څخه مړ شو نودوي به ویل چې مات حتف انفه یعني په خپل مرګ مړ شو نوخلاصه داشوه چې دجنګ پد میدان کې که کوم کس باندي اثر دزخم نه وي نوامکان لري چې دویري دوجي مړ شوي وي نوبیا به هغه دشهیداحکام نه جاري کیږي.

فالحاصل حاصل دخبري دادي چې شهيد هغه څوک دي چې قتل کړاي شي بحديدة په زخمي کونکي آلې باندې ظلماً په ظلم سره اودده په قتل سره په قاتل باندې مال هم واجب نه وي اومن وجد ياشهيد هغه دي چې دجنګ په ميدان کې مړ ومونډلی شی اودزخم اثرات ورباندې وي برابره خبره ده چې په زخمي کونکي آلې سره زخمي شوي وي ياپه بل شي سره آله لرګي وغيره لکن غرض دشارح ددې څخه يواعتراض دي چې تعريف دمصنف جامع نه دي وهو دمصنف تعريف شامل نه دي ماإذا قتله هغه کس ته چې مشرکانو قتل کړي وي ياباغيانو وژلي وي اوقطاع الطريق يالاره شکونکو وژلي وي بغير الخ بې له آلې جارحې نه نو ددوي قتيل يعني چې ددوي وژلي وي شهيد وي په هره آله چې ئې قتل کړي وي نوښکلي تعريف الموجز چې لنډ دي هغه دي چې ماپه مختصر کې ويلي دي .

وهو مسلم طاهر بالغ قتل ظلماً ولم يجب به مال ولم يرتث من غير ذكر الحديدة والواجد ان في المعركة فيشمل قتيل المشركين واهل البغي وقطاع الطريق بأي آلة قتلوه ويشمل الميت الجريح في المعركة لانه مسلم مقتول ظلماً ولم يجب بقتله مال واما مقتول غير هولاء وهو مسلم قتله مسلم غير باغ وغير قطاع الطريق ومسلم قتله ذمي فانه انما يكون شهيداً عند ابي حنيفة اذا قتل بحديدة ظلما فلما قال ولم يجب به مال علم انه مقتول بحديدة لانه لوقتل بغير حديدة لوجب المال عنده لان الدية واجبة عنده في القتل بالمثقل واما عندهما فلااحتياج الى ذكر الحديدة لان المقتول بالمثقل عندهما شهيد ولم يجب بقتله مال بل الواجب قصاص عندهما واما قوله ولم يرتث فسيجئ فائدته.

توضيح المسئلة: ومختصر ښکلي عبارت داسې دي وهو داشهيد مسلمان وي پاک وي بالغ وي چې قتل کړاي شي په ظلم سره اودده په قتل سره مال واجب نه وي ولم يرتث اوڅه فائده وانخلي من غير دامتعلق دي ترقلت پورې يعني ماپه مختصر کې قيد دحديدة اووجدان في المعركة ذکر کړي نه دي فيشمل نودمختصر داعبارت هغه قتيل ته شامل دي چې مشرکانو اوباغيانو اوقطاع الطريقو قتل کړي وي په هرې آلې سره چې وي حديدة وي اوکه غير حديدة وي اوهغې مړي ته هم شامل دي چې دزخم اثرات ورباندې وي اوپه ميدان جنګ کې شهيد شوي وي لانه مسلم ځکه دامسلمان دي اوپه ظلم سره وژل شوي ده اودده په قتل سره مال هم واجب نه ده واما مقتول اوکه مشرکانو اوباغيانو اوقطاع الطريقو وژلي نه وي بلکې نورو وژلي وي مثلاً يومسلمان دبل هغه مسلمان له لاسه چې نه باغي ؤ اونه قطاع الطريق ؤ

ووژلي شو، **ومسلم** يامسلمان لره قتل کړي ذمي نودغه مسلمان په دواړو صورتونو کې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد شهيد دي خوچه په الى جارحي سره ظلماً قتل کړاي شي ،**فلما قال** نوهرکله چې په مختصر کې داسي وويلي چې ولم يجب به مال نومعلومه شوه چې داپه آلي جارحي سره وژل شوي ده ځکه که بغير دآلي جارحي نه وژل شوي واي نوبيا به دامام **ابوحنيفة** په نزد مال واجب ؤ ځکه دامام صاحب په نزد ديت واجب دي په هغه قتل سره چې **لمثقل** چې په درانده شي ووژلي شي لکه غټه تيږه وغيره **واما عندهما** اودصاحبينو په نزد ذکر دحديدة ته ضرورت نشته ځکه دصاحبينو په نزد دمقتول بالمثقل شهيد دي اودده په قتل سره مال واجب نه دي بلکي دصاحبينو په نزد قصاص واجب دي يعني دامام صاحب په نزد قصاص په قتل عمدکي په آلي جارحي پوري خاص دي اوکه آله جارحه نه وي اويا په خطاء سره وي نوبيا ديت واجب دي اودصاحبينو په نزد په قصاص کې قيد دحديدة شرط نه دي چې قتل عمداً وي په آلي جارحي سره وى اوکه په مثقل سره وي قصاص واجب دي اومال واجب نه دي **واماقوله ولم يرتث** شارح وائي چې دويم يرتث فائدوروسته بيا نيږى . صافي

فينزع عنه غير ثوبه اى غير ثوب يختص باالميت کالفرو والحشو والقلنسوة والسلاح والخف ويزاد وينقص ليتم کفنه اى لولم يکن معه مايکون من جنس الکفن کازارونحوه يزاد ولوکان ماليس من جنسه ينقص ولايغسل ويصلى عليه ويدفن بدمه.

توضيح البيان: دشهيد دتکفين په باره کې مصنف رحمه الله بيان کوي **فينزع عنه** دشهيد څخه به وئي ايستلي شي ، غير ثوبه غير دخپلي هغي جامي څخه چې دمړي پوري خاص وي **کالفرو** لکه پوستين **والحشو** اوجبن **والقلنسوة** اوخولى **والسلاح** اووسله **والخف** اوموزه يعني دغه شيان به تري لري کولي شي ويزاد وينقص که کوم شيئ دسنت کفن څخه کم ؤ نو زيات به کړاي شي اوکه زيات ؤ نوکم به کړاي شي چې سنت کفن پوره شي اي لولم يکن يعني که هغه شيئ يکي نه ؤ چې دکفن له جنس څخه وي لکه لنګ وغيره نوزيات به کړاي شي **ولوکان** اوکه هغه شيئ پکي ؤ چې دجنس دکفن څخه نه ؤ نوکم به کړاي شي **ولايغسل** اوشهيد ته به غسل نشي ورکولي اولمونځ به پري وکړاي شي اودخپلو وينو سره به دفن کړاي شي .

سوال: که څوک ووائي چې شهيد خوژوندي وي اوپه ژوندي باندي لمونځ نه شي کولي ؟

جواب: هغه ژوند ددوي حکم اخروي ده نه دنيوي ځکه په دنيا کې پدوي احکام دمړو جاري کيږي .

۲ -**سوال**: لمونځ د استغفار لپاره وي او شهيد ته خوټول ګناهونه ښنلي شوي وي ؟
جواب : که لمونځ د استغفار لپاره شي نو بيا خو پکار ده چې په پيغمبر او ماشوم باندي لمونځ ونه شي ځکه هغوي هم د ګناه څخه پاک دي او مغفور لهم دي بلکي لمونځ پدوي باندي د اعزاز او درجي د اوچتوالي لپاره دي . بحر ۲، ۳۴۲،»
سوال: که په کوم کس د قتل څخه وروسته د احتلام اثرات وی نو ايا دا شهيد دی او کنه؟ او وجه ئی څه ده او غسل ورکولی شی او کنه؟جواب د قتل څخه وروسته احتلام دليل د شهادت نشی کيدلی ځکه امکان لری چی د مرمی د زور د وجی دده احتلام شوی وی او وجه ئی هم معلومه نده او غسل نشی ورکولی ځکه غسل د هغه احتلام پوری تعلق لری چی په ژوند کی شوی وی ۱۲ عبدالرشيدصافی.

وغسل صبی وجنب وحائض ونفساء ومن وجد قتيلاً فی مصر لايعلم قاتله فانه اذا لم يعلم قاتله غسل سواء علم ان قتله وقع بالحديدة اوبالعصا الکبير او الصغير لان الواجب الدية والقسامة هکذا ذکر فی الذخيرة ولم يذکر انه وجد فی موضع تجب القسامة اولا اقول ان المراد به انه وجد فی موضع تجب القسامة اما اذا وجد فی موضع لاتجب القسامة کالشارع والجامع فان علم انه قتل بالحديدة لايغسل لانه شهيد وان علم انه قتل بالعصا الکبير ينبغی ان يغسل عند ابی حنيفة اذ ليس شهيداً عنده خلافاً لهما وان علم انه قتل بالعصا الصغير ينبغی ان يغسل اتفاقاً لان نفس القتل اوجب الدية فعدم وجوبها بعارض جهل القاتل لايجعله شهيداً.

توضيح المسئلة: او غسل به ورکولی شی ماشوم ته جنب ته او حائضی ته او دنفاس والاته **ومن وجد** او هغه کس ته به هم غسل ورکولی شی چې وموندلې شی په ښار کې او وژل شوي وي خو قاتل ئي معلوم نه وی ، **فانه اذا لم يعلم** ځکه کله چې ئی قاتل معلوم نه وی نو غسل به ورکولی شي برابره خبره ده چې آلی جارحي سره وژل شوي وی او که په لويه امسا سره او که په وړه امسا سره وژل شوي وي ځکه پديکي ديت او قسامت واجب دی ، ديت ديته وائی چې د مقتول دويني بدل په بعض مال سره واجب شي لکه سل اوښان يازر ديناره يالس زره درهمه او قسامت ديته وائي چې په يوه محله کې يو مړي پيداشی او د زخم وغيره اثر ورباندی وی او قاتل ئی معلوم نه وی نو د محلی پنځوسو کسانو ته به قسم ورکولې شې چې مانه وژلی ده او نه په پوه يم کله چې قسم وخوړو نو دمحلی په خلکو به د ديت حکم وکړای شې **هکذا**

همداسې په ذخيره کې ذکر شوي خودائي ذکر کړي نه دي چې داقتيل په داسې ځاي کې وموندلې شي چې هلته قسامت واجبيږي يانه اقول شارح وائي چې د ذکر دقسامت نه دا مراد دی چې په داسې ځای وموندلی شی چې هلته قسامت واجبيږی لکه کور يامحله اما اذا وکه پداسې ځای کې وموندلی شي چې هلته قسامت نه واجبيږی کالشارع لکه عامه لاره کې والجامع اوجامع مسجد کې فان علم نوکه دامعلومات ؤ چې داپه الی جارحی سره وژل شوی ده نوغسل به نه شي ورکولي ځکه داشهيد دی وان علم اوکه داپته وه چې داپه لويه امسا سره وژل شوی ده نوپکار ده چې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد غسل ورکړای شي ځکه دا دامام صاحب په نزد شهيد نه دي ځکه مقتول بالمثقل کې دامام صاحب په نزد ديت واجب دی نه قصاص اود صاحبينو په نزد داشهيد دی ځکه ددوی په نزد مقتول بالمثقل اوبالحديدة يوشيئ دی په دواړوکې قصاص دی نه ديت وان علم انه اوکه معلومات ؤ چې داپه ورکوتي امساسره وژل شوي ده نوپکار ده چې بالاتفاق غسل ورکړاي شي ځکه نفس قتل په ورکوتي امسا سره ديت واجب کړو فعدم وجوبها نواوس نه واجب والی ددی په سبب ديوعارض سره چې جهالت يعنی نامعلوموالی دقاتل دی لايجعله شهيد داشهيد نه ګرځوي يعنی اصل کې خوديت واجب دی خوپدی سبب سره واجب نه شو چې قاتل ئی نامعلوم دی اودقاتل دنامعلوموالی په وجه داشهيد نه ګرځي. صافی.

اما اذا علم القاتل فان علم ان القتل بالحديدة لم يغسل عند ابی حنيفة خلافاً لهما وان علم انه قتل بالعصا الصغير يغسل اتفاقاً وقد قال فی الهداية ومن وجد قتيلاً فی المصر غسل لان الواجب فيه الدية والقسامة فخف اثر الظلم الا اذا علم انه قتل بحديدة ظلماً.

توضيح المسئلة: په هغه صورت کې چې مقتول په هغه ځای کې وموندلې شي چې قسامت هلته واجب نه وي که قاتل معلوم ؤ نوکه داپته وه چې داقتل شوي په آلي جارحي سره نوغسل به نه شي ورکولي ځکه داشهيد دي اوکه داپته وه چې داپه لويه امسا سره وژل شوي ده نومناسب ده چې دامام صاحب په نزد غسل ورکړای شي ځکه دامام صاحب رحمه الله په نزد په قتل بالمثقل سره ديت واجب دی اودصاحبينو په نزد په قتل بالمثقل سره قصاص واجب دی اوکه داپته وی چې داپه ورکوتی امسا سره وژل شوی ده نوبالاتفاق به غسل ورکولی شي ،وقد قال فی الهداية الخ ددي عبارت دراوړلو څخه مقصد دادي چې دهدائي اوذخيری دعبارت ترمنځ فرق دی په هداية کې ويلي دی څوک چې په ښار کې مړو موندلی شي

نوغسل به ورکولې شي ځکه پديکي ديت اوقسامت واجب دي نوپدى مال سره اثر دظلم کميږى الا اذا علم مگر که داپته وه چې داپه آلي جارحي سره وژل شوي دي نوبيا پديکي قصاص دي.

اقول هذه الرواية مخالفة لما ذکر فی الذخيرة لان رواية الهداية فيما اذالم يعلم قاتله لانه علل بوجوب القسامة ولاقسامة الا اذا لم يعلم القاتل ففی صورة عدم العلم بالقاتل اذا علم ان القتل بالحديدة ففی رواية الهداية لايغسل لان نفس هذا القتل اوجب القصاص واما وجوب الدية والقسامة فلعارض العجز اقامة القصاص فلا يخرجه هذا العارض عن ان يکون شهيداً واما علی رواية الذخيرة فيغسل وعبارة الذخيرة هذه وان حصل القتل بحديدة فان لم يعلم قاتله تجب الدية والقسامة علی اهل المحلة فيغسل وان علم القاتل لم يغسل عندنا.

توضيح المسئلة: شارح وائي چې دهدائي داروايت مخالف دي دروايت دذخيري سره ځکه دهدائي روايت په هغه صورت کې دى چې قاتل ئى معلوم نه وى لانه ځکه دهدائى والا علت ددى وجوب دقسامت بيان کړى دى اوقسامت نه واجبيږى مگر په هغه صورت کې چې قاتل ئى معلوم نه وى ففی صورة نو په کوم صورت کی چی دقاتل معلومات نوى نوکه داپته وه چې قتل په آلي جارحي سره شوي **ففی رواية الهداية** نوبيا دهدائي په روايت کې غسل نه شي ورکولې ځکه په نفس دي قتل سره قصاص واجب شو، **واما** وجوب اوددیت اوقسامت واجبيدل خوديو عارض دوجې وشو چې هغه دقصاص دقائمولو څخه عاجز والي ؤ ځکه قاتل دده معلوم نه ؤ فلايخرجه نوددي عارض دوجى دشهادت څخه نه وځى **واما علی رواية الذخيرة** اودذخيري په روايت سره غسل ورکولې شي **وعبارة الذخيرة هذه** ذخيري عبارت داسې دي چې که قتل په آلي جارحې سره ؤ نوکه قاتل ئې معلوم نه ؤ نوديت اوقسامت دمحلي په خلکو واجب دي اوغسل به ورکړاي شي اوکه قاتل ئي معلوم ؤ نوزمونږ په نزد به غسل نه شي ورکولې.

ففی الذخيرة لم يعتبر القتل فوجوب الدية وان کان بالعارض اخرجه عن الشهادة وفی المتن اخذ بهذه الرواية هذا اذا اعلم انه بای آله قتل اما اذا لم يعلم فاقول يجب ان يغسل لانه لم يعلم ان موجب نفس هذا القتل ماهو فلم يمکن اعتباره فلا بدان يعتبر ماهو الواجب فی مثل هذا القتل سواء کان اصليا اوعارضيا فالواجب الدية فلايکون شهيداً.

توضیح المسئلة:

نوپه ذخیره کې ئی نفس قتل ته اعتبار ورکړی نه ده نوددیت واجبیدل اګر چې دعارض دوجې نه ؤ اخرجه خو دشهادت څخه ئی وباسی اوپه متن کېئ دذخیری په همدي روایت ئی عمل کړی دی هذا دغه تفصیل دهدائی اوذخیری په هغه صورت کې ده چې داپته وی چې داپه کومه آلی سره وژل شوی دی اما المر یعلم اوکه دآلی معلومات نه وی فاقول نوبیازه وایم چې واجب ده چې غسل ورکړای شی لانه لم یعلم ځکه داپته نه لګیږي چې موجب ددی قتل څه شئ دي یعنی قصاص دی اوکه دیت دی نوپه باب دشهادت اوعدم شهادت کې مونږ ددي موجب ته اعتبار ورنکړو فلابد خوداضروري ده چې هغه شئ ته خواعتبار ورکړاې شي چې پداسي قتل کې واجب وي برابره خبره ده چې اصلي وي اوکه عارضي وي فالواجب نوهغه واجب دیت دي نوچې دیت واجب شونو دغه مقتول شهید نه شو .

اوقتل بحد اوقصاص لان هذا القتل لیس بظلم اوجرح وارتث بأن نام اواکل اوشرب اوعولج اواواه خیمة عن المعرکة حیاً اوبقی عاقلا وقت صلوة او اوصی بشیئ غسل وصلی علیهم ارتث الجریح ای حمل عن المعرکة وبه رمق والارتثاث فی الشرع ان یرتفق بشئ من مرافق الحیوة اویثبت له حکم من احکام الاحیاء فاذا بقی عاقلاً وقت صلوة وجب علیه الصلوة وهذا من احکام الاحیاء والایصاء ارتثاث عندابی حنیفة وعندابی یوسف خلافاً لمحمد رحمه الله وان قتل لبغی اوقطع طریق یغسل ولایصلی علیه.

توضیح المسئلة:

اوقتل یعنی غسل به ورکولی شي هغه کس ته چې په حد کې ووژلی شي لکه حد دزنا او یاپه قصاص کې ووژلی شی ځکه داسی قتل ظلم نه دي بلکي جزاء دخپل عمل ده نوداشهید نه شو نو غسل به ورکولاي شی اوجرح یازخمی کړای شې وارتث اوڅه دنیوی فائده واخلی بأن نام دابیان دارتثاث دی چې خوب وکړي یاخوراک وکړی یاڅښل وکړی اوعولج یادده علاج اودارو وشی اواواه یا پناء راوړي خیمي ته یعنی هلته پده خیمه ووهلي شي یایوی کوټي ته راوړلې شي اونقل اویانقل کړای شې دغه زخمی دجنګ دځای څخه حیا ژوندی خوپدی شرط چې پوهیږی یعنی بي هوشه نه وي ځکه که بی هوشه وي دمرګ تروخته پوري نوبیا غسل نه

شي ورکولي بحر ۲، ۳۴۸. اوبقي عاقلاً او که په هوش کې دیومانځه دوخت په اندازه پاتي شو نوبیابه هم غسل ورکولې شي اویائی په یوشئ سره وصیت وکړو یانوري خبري وکړي نوغسل به ورکړاي شي اولمونځ به پري وشي ارتث دارتثاث لغوی اواصطلاحی معنی ذکر کوی ارتث الجریح یعنی چې دجنګ دځای څخه راوړلی شي ویه رمق اوپه ده کې څه ساه وی اوپه شریعت کې ارتثاث دیته وائی چې ان یرتفق چې څه فائده واخلی من مرافق الحیوة د دنیوی فائدو څخه اویثبت اویا یوحکم ثابت شي ده لره داحکامو دژوندیو څخه لکه لمونځ وغیره فاذا بقي نو که دیومانځه دوخت په اندازه په هوش کې ژوندی پاتی شونولمونځ پری واجب دی اودلمونځ واجبیدل دژوندیو داحکامو څخه یوحکم دی اووصیت کول هم دامام ابوحنیفة رحمه الله اوامام ابویوسف رحمه الله په نزد دارتثاث دی اودامام محمد رحمه الله په نزد وصیت ارتثاث نه دی خودا اختلاف په هغه وصیت کې دی چې داخرت دامورو په باره کې وی او که ددنیوی امورو په باره کې وصیت وکړو نوبیا دابالاتفاق ارتثاث دی.

وان قتل او که یوباغی یاقطاع الطریق قتل کړای شي نوغسل به ورکړای شي خولمونځ به پری نه شی کولې زجراً اوسیاسة خوبحر الرائق لیکلی چې غسل به نه شی ورکولی اوچه غسل نه شی ورکولی نولمونځ به هم نه شی کولی ځکه حضرت علی رضی الله عنه په باغیانو لمونځ ونه کړو اوهیچا دده انکار ونه کړو نودا اجماع شوه اوقطاع الطریق په منزله دباغیانو دی بحر ۲، ۳۵۰.

باب الصلوة فی الکعبة

داباب دی په بیان دمانځه کې په داخل دکعبی شریفی کې کعبه مأخوذ ده دارتفاع نه هی البناء المرتفع داکعبه اوچته ابادی ده خوقبله بیا دغه ابادی نه ده بلکی هواءده تراسمان پوری ځکه ابادی نقل کولی شی او که یوسړی په جبل ابی قبیس باندی لمونځ وکړی نوداجائز دی اوسره ددینه چې دده مخی ته ابادی دبیت الله نشته.

صح فیها الفرض والنفل. المذکور فی الهدایة خلافاً للشافعی رحمه الله فیهما والمذکور فی کتب الشافعی رحمه الله الجواز اذا توجه الی جدار الکعبة حتی اذا توجه الی الباب وهو مفتوح ولایکون ارتفاع العتبة بقدر مؤخرة الرحل لایجوز وفی کتبه ایضاً انه ان انهدمت الکعبة والعیاذ بالله یجوز الصلوة خارجها متوجها الیها ولایجوز فیها الااذا کان بین یدیه سترة اوبقیة جدار وهذا حکم عجیب لان جواز الصلوة خارجها علی تقدیر الانهدام یدل علی ان القبلة اما ارض الکعبة اوهواؤها فیجب ان یجوز فیها من غیر

اشتراط ان يكون بين يديه شيئ مرتفع مثل مؤخرة الرحل ولو ظهره الى ظهر امامه لا لمن ظهره الى وجهه لان هذا تقدم وكره فوقها تعظيما للكعبة وفى الهداية انه لايجوز عند الشافعي رحمه الله وفى كتبه انه لايجوز الا ان يكون بين يديه شيئ مرتفع

تقبيل العتبة في بيان الصلوة في الكعبة:

دبيت الله په داخل كښې فرض اونفل دواړه صحيح دى په هدايه كښې دامام شافعي رحمه الله اختلاف زمونږ سره په فرضو اونفلو دواړو كښې ذكر شوى ده يعنى دامام شافعي رحمه الله په نزد په داخل دكعبه كښې فرض اونفل دواړه نه صحيح كيږى .

اودشوافعو په كتابونو كښې ددى جواز ذكردى فرض وى اوكه نفل خوپدى شرط چې دلمونځ كونكى مخ دكعبى ديوال ته وى تردى كه دبيت الله دروازه خلاصه وه اودروازى ته ئى مخ كړو اولاندى درشائى ددروازى په اندازه دپالان اوچته نه وى لايجوز نوبيا دالمونځ جائز نه دى .

مؤخرة الرحل داوښ په كته كښې چې كوم لرګى وى چې فارسى كښې ورته پالان وائى وفى كتبه اودامام شافعي رحمه الله په كتابونو كښې داهم شته چې العياذ بالله كه دبيت شريف ديوالونه بلكل وغورزيږى اوصرف لاندى ميدان ئى پاتى شي نودبيت الله شريف نه خارج لمونځ جائز دى چې دبيت الله طرفته مخ كړى خوپه داخل دبيت الله كښې جائز نه دى مګر هلته جائز دى چې دلمونځ كونكښې مخى ته ستره وى اوياڅه حصه دديوال وى ،وهذا غرض دشارح يواعتراض دى په شوافعو باندى چې كله ددوى په نزد دبيت الله څخه خارج لمونځ صحيح شو په هغه صورت كښې چې بيت الله وران شوى وى نو داخو دلالت په دى كوى چې قبله ياد كعبى ځمكه ده اويا هغه هواء ده چې تراسمانه پورى رسيږى اودكعبى هغه خاصه ابادى قبله نه ده ځكه كه صرف بناء دكعبى قبله شى نوبيا صرف ميدان ته مخ كول جائز نه دى اوچه په داخل دكعبه كښې چې لمونځ كوى نوبيا هلته ورسره داشرط ولى لګولى چې مخى ته به ياستره وى اويابه څه ديوال وى بايد چې بى له شرط نه پكى لمونځ جائز شى؟ جواب دامام شافعي رحمه الله په نزد قبله ابادى دكعبى ده خودضرورت په اساس چې ديوالونه نه وى نوبيا صرف ميدان ته مخ كول هم جائز دى اوپه داخل دبيت الله كښې دجواز دلمانځه لپاره دسترى شرط ئى ځكه كينبوده چې توجه دلمونځ كونكى خارج دبيت الله ته رانه شى . همداوجه ده چې كه دبيت الله ابادى جوړه وى اودروازى طرفته لمونځ كوى اودروازه خلاصه وى نوشوافعو شرط دجواز دلمانځه لپاره داولګولو چې درشائى ددروازى به دمؤخرة الرحل په اندازه اوچته وى

ولوظهره الخ يعنى په داخل دكعبه كښ لمونځ صحيح دى اګر چې شادمقتدى شادامام ته وى مثلا امام شرقى ديوال ته مخ كړى اومقتدى غربى ديوال ته مخ كړى لالمن خودهغه مقتدى لمونځ جائز نه دى چې شادده دامام مخ ته راشى ځكه دابيا په امام مخكى والى دى وكره فوقها اودبيت الله په چت باندې لمونځ مكروه دى فرض وى كه نفل دوجى دتعظيم دكعبى شريفى نه خوكه چاپه وكړو نوجائز دى يعنى لمونځ ئى وشو ځكه قبله هغه هواء ده تراسمانه پورى اوپه هدايه كښ ذكر دى چې دامام شافعى رحمه الله په نزدجائز نه دى خودشوافعو په كتابوكى مطلقا ممنوع نه دى بلكى هلته ممنوع دى چې دده مخى ته اوچت شيئ نه وى كه ؤ نوبيا جائز دى.

اقتدوا متحلقين حولها وبعضهم اقرب من امامه اليها جاز لمن ليس فى جانبه اعلم ان للكعبة اربعة جوانب بحسب جدارنها الاربعة فالواقف فى الجانب الذى يكون الامام فيه اذا كان اقرب اليها من الامام يكون متقدما على الامام بخلاف الواقف فى الجوانب الثلثة الاخر فان من هو اقرب اليها من الامام لايكون متقدما على الامام.

توضيح المسئلة:

اقتدوا خلكو دامام پسى اقتداء وكړه ګير چاپيره دكعبى شريفى نه خوبعض خلك دامام نه كعبى ته نژدى ؤ په نورو طرفو دكعبه كښ نوداجائز دى خوكه دامام په طرف كښ څوك دامام څخه كعبى ته نژدى ؤ نودهغه لمونځ صحيح نه دى ځكه داپه امام مخكښ والى راځې اعلم ان دكعبى شريفى څلور طرفونه دى په اعتبار دڅلورو ديوالونو ددى سره فالواقف نوكوم كس چې دامام په طرف كښ دامام څخه كعبى ته نژدى وى نوداپه امام مخكښ شو اودامام څخه مخكى لمونځ نه كيږى بخلاف الواقف او كوم خلك چې په نورو دريو طرفو كښ ولاړ دى اودامام څخه كعبى ته نژدى وى نوداپه امام مخكښ والى نه راځې نو ددوى لمونځ جائز دى.

كتاب الزكاة

داكتاب دى په بيان دزكاة كښ مصنف رحمه الله چې هركله ديوركن داسلام څخه فارغ شو چې لمونځ دى نوشروع ئى وكړه په دويم ركن داسلام باندى چې زكاة دى لمونځ ئى ځكه مخكښ كړ چې هغه اهم اوادوم عبادت دى.

اوزكاة ئى دمانځه سره ځكه يوځاى كړ چې دا دواړه قرآن كريم كښ په دوه ديرش ځايو كښ

راغلي دی اوزكاة دهجرت په دويم كال دروژی څخه مخكی فرض شوی دی زكوة په لغت كې په معنى دزيات سره راځي اوزكاة ته زكات ځكه وائی چې داهم مال زياتوی اويا په معنى دپاكوالی سره راځي نوزكاة ته بيازكاة ځكه وائی چې داهم مال پاكوی اوپه معنى دبركت سره هم راځی لكه راځی زكت البقعة يعنى په ځمكه كې بركت واچولی شو اواصطلاحی معنى هغه ده چې مصنف ذكر كړی چې هی تمليك الخ بحر الرائق ۲. ۳۵۲. فقه حنفى ۳۳۲.

۱. زكاة دنبى ﷺ په زمانه كې اودابوبكر الصديق په زمانه كې اودعمر رضي الله عنه په زمانه كې واليانو اخيسته ځكه ددی اخستلو حق امام لره ؤ خو بيا حضرت عثمان رضي الله عنه خپلوخاوندانو او مالكانو ته دزكاة وركول وسپارل ددی لپاره چې دغه مال دظالمانو لاسوته ونه رسيږی نو دمال خاوندان داسی شو لكه دامام له طرفه چې وكيلان وی خوكه دمال خاوند زكاة نه وركاوه نوبيابه تری مطالبه كولی شی فقه حنفى ص ۳۳۸ ج ۱.

هی لاتجب الا فی نصاب حولی فاضل عن حاجته الاصلية اعلم ان الزكاة لاتجب الافی نصاب نام والحول هو الممكن من الاستنماء لاشتماله علی الفصول الاربعة والغالب فيها تفاوت الاسعار فاقيم مقام النماء فادير الحكم عليه هذا هو المذكور فی الهداية.

توضيح المسئلة:

هی لاتجب زكوة نه فرض كيږی دوجوب نه مراد واجب اصطلاحی نه دی بلكی مراد تری فرض ده ځكه دزكوة فرضيت په نصوصو قطعيو سره ثابت دی **الا فی نصاب** مگر په هغه نصاب كې نصاب هغه مقدار ته وائی چې دهغی څخه په كم كې زكوة نه فرض كيږی **حولی** چې كال پری تير شې په كوم نصاب چې كال تير نشې په هغی كې زكاة نه فرض كيږی **فاضل** چې دانصاب زياتی وی **عن حاجته الاصلية** دضرورت اصلی نه لكه دكور نفقه جامی وغيره چې وروسته ددی بيان راځي **اعلم** زكوة په هغه نصاب كې فرض كيږی چې نام نمو او زيادت كونكی وی تحقيقاوی اوكه تقديراً وی ځكه كه نموپكی نه وی نوبيا په زكاة سره مال ختميږی اوداپولوی حرج دی **والحول** اوكال چې دی **هو الممكن** په همدی سره قدرت حاصليږی **من الاستنماء** طلب دنمو اوزياتوالی دمال يعنى په كال تيريدلو سره مال كې زيادت راځی **لاشتماله** ځكه كال مشتمل وی په څلورو فصلونو سره ۱) پسرلی ۲) اوړی ۳) منی (۴) ژمی كه په يو فصل كې دتجارت كاروبار برابر نشی نوپه بل كې برابريږی.

والغالب اواكثره په دی څلوروفصلونو كې **تفاوت الاسعار** فرق دنرخونو وی په بعض فصلو كې

ارزانه وی په بعض کې گران وی نو دغه استنماء یعنی دمال زیادت ترکاله پوری معلق شو.
فاقیم نو کال قائمقام دنماء وگرځیده فادیرالحکم علیه نوحکم دزکاة به هم په کال گرځی یعنی
چې کال پرې تیر شي نوزکاة پرې واجب وی او همدا خبره په هدایه کې ذکر ده.

وفیه نظر لان هذا یقتضی انه اذا حال الحول علی النصاب تجب الزکاة سواء وجد النماء اولم یوجد کما فی السفر فانه اقیم مقام المشقة فیدار الرخصة علیه سواء وجدت المشقة ام لا لکن لیس کذالك بل لابد مع الحول من شیئ آخر وهو الثمنیة کما فی الثمنین ای الذهب والفضة اوالسوم کما فی الانعام اونیة التجارة فی غیر ماذکرنا حتی لوکان له عبد لا للخدمة اودار لا للسکن ولم ینو التجارة لاتجب فیهما الزکوة وان حال علیهما الحول ولابد ان یکون فاضلاً عن حاجته الاصلیة کالاطعمة والثیاب واثاث المنزل ودواب الرکوب وعبید الخدمة ودور السکنی وسلاح یستعملها وآلات المحترفة والکتب لاهلها مملوك ملکا تاما ای رقبة ویداً علی حر مکلف ای عاقل بالغ مسلم.

توضیح المسئلة: وفیه نظر شارح رحمه الله دهدائی په عبارت اعتراض کوی خلاصه داعتراض داسې ده چې دهدائی عبارت پدی دلالت کوی چې کال قائمقام دنماء دی او دکال په تیریدو سره زکاة واجبیږی خو داصحیح نه ده ځکه دزکاة دفرضیت لپاره یواځې حولان حول په نصاب باندې کافی نه دی بلکی نورشرائط هم ورسره ضروری دی چې دهغې څخه بغیر زکاة نه واجبیږی.
دعبارت تشریح **لان هذا** ځکه دهدائی دغه خبره داتقاضا کوی چې کله په نصاب باندې کال تیر شي نوزکاة پرې واجبیږی **سواء** برابره خبره ده چې حقیقة نماء پکی موجود شي اوکه موجود نه شي **کمافی السفر** لکه په سفر کې چې رخصت راغلی دوجې دمشقت نه بیا نفس سفر قائمقام دمشقت وگرځیده **فیدار الرخصة** نورخصت گرځی په سفر باندې یعنی چې سفر ؤ نورخصت به ورسره وی برابره خبره ده چې مشقت وي اوکنه **لکن** نویواځې حولان حول هم دزکاة دفرضیت لپاره کافی نه ده **بل لابد** بلکی دحولان حول سره یوبل **شیئ** هم ضروری ده ، **وهو الثمنیة** چې یو ثمنیت دی چې پیدائشي ثمن اوعوض وی په عقود اوتجاراتو وغیره کې اوپدی شیان واخستلې شي **ای الذهب والفضة** داتفسیر دثمنینو ده چې هغه سره زر اوسپین زر دی **اوالسوم** اودویم څرول دی **کمافی الانعام** لکه په څاریو کې دی یعنې په څارویو کې دزکاة دفرضیت لپاره دحولان حول سره څرول هم شرط دی یعنی چې دکال اکثره حصه په صحراء وڅرېږی.
اونیة التجارة اودریم نیت دتجارت دی یعنی دسروزو اوسپینو زرو اوڅارویو څخه ماسوا په

نوروشیانو کښې دزکاة دفرضیت لپاره دحولان حول سره نیت دتجارت هم شرط دی که نیت
دتجارت پکښې ؤ نوزکاة وربانديې فرض دی اوکه نوو نوفرض نه دی **حتی لوکان** داتفریع پدی
دری شرائطو ذکر کوی که دیوکس لپاره غلام وی اودخدمت لپاره نه وی **اودار** یاکور
خوداستوګنی لپاره نه وی **ولم ینو** اونیت دتجارت ئی پکی نه ؤ نو په دواړو کښې زکاة نشته
اګر چې کال وربانډی تیر شې؟ ددی اعتراض جواب بعض علماء بیا داسې کوی چې صاحب
دهدائی چې دنصاب ذکر وکړو نودنصاب نوم ضمنا دغی ټولو شرائطو ته شامل شو.

ولابد اوپه زکاة کښې داضروری ده چې مال به دحاجت اصلی څخه زیاتی وی **کالاطعمة** دامثال
دحاجت اصلی دی لکه طعام داحاجت اصلی دی پدیکی زکاة واجب نه دی اګر چې قیمت
ددی نصاب ته ورسیږی **والثیاب** اوجامی داهم حاجت اصلی دی **اواثاث المنزل** دکور سامان لکه
لوښی وغیره **ودواب الرکوب** او د سورلۍ څاروی لکه اس،خر وغیره چې اوس موټر او
موټرسائکل هم پکښې شامل دی **وعبید الخدمة** دخدمت لپاره غلامان **ودورالسکنی**
اواستوګنی لپاره کورونه **وسلاح** اوهغه وسله کښې زکاة نشته چې استعمالوی ئی.

سوال : داستعمال قید دمستدرک اولغوه دی ځکه وسله چې دتجارت لپاره نوی نوهغی کی
زکاة نشته ځکه په هغی کی نماء نشته اوکه دتجارت لپاره وه نوبیاپکښې زکاة شته ؟ جواب
داستعمال قیدائی ددی لپاره ذکر کړو چې کوم خلک دوسلی استعمال ته ضرورت لری لکه
مجاهدین وغیره نودهغوي په وسلو کښې زکاة نشته اګر چې دتجارت په نیت ئی اخستی وی
ځکه دادحاجت اصلی څخه زیاتی نه دی ، **والات** اوهغه سامان **المحترفة** چې کسب کښې ورته
ضرورت وی چې دهر کسب ګر خپل سامان وی **والکتب لاهلها** اوکتابونه هم په حاجت اصلی کښې
دی **لاهلها** اهل دکتابو لره یعنی څوک چې ورته ضرورت لرې تعلیم وی اوکه تدریس وی مملوک
په هغه مال کښې زکاة فرض دی چې په ملکیت کښې وی په ملکیت تامه سره ای رقبة ویداً داتفسیر
دملک تام لپاره ذکر کوی چې **رقبة** یعنی ذاتاً **یداً** تصرفاً یعنی چې ددې مال مالک وی ذاتاً
اوتصرفاً نوکه ذاتاً نه وی اوتصرفاً وی لکه مغصوبه مال نوبیا په هغې کښې زکاة نشته.

علی حرہ مکلف زکاة فرض دی په اصیل بانديې په غلام نشته اوپه مکلف یعنی عاقل بالغ
مسلمان بانديې فرض دی په لیونی ماشوم اوکافر بانديې نشته. صافی.

فلا تجب علی مکاتب لعدم الملك التام فأن له ملك الید لاملك الرقبة ومدیون مطالب من عبدٍ بقدر

دینه لان ملکه غیر فاضل عن الحاجة الاصلیة وهی قضاء الدین وانما قید بکونه مطالباً من عبد حتی لوکان مطالباً من الله تعالی لایمنع وجوب الزکاة کمن ملك نصاباً بعضه مشغول بدین الله تعالی کالنذر اوالکفاة اوالزکاة تجب فیه الزکاة ولایشترط لوجوب الزکاة فراغه عن هذالدین وقوله بقدر دینه متعلق بقوله لاتجب ای لاتجب علی المدیون بقدر مایکون ماله مشغولا باالدین.

التفریع : فلاتجب غرض دمصنف ددی عبارت څخه تفریع ده په ملک تام باندې چې زکوة په مکاتب نه واجبیږی ځکه هغه ملک تام نلری مکاتب هغه غلام ته وائی چې بادار ورته ووائی که تاماته دومره مال راکړو نوته ازادئی نوترڅو چې پده یوه روپی پاتی وی نوداغلام دی نوکوم مال چې ده ته راځي چې خپله غاړه پری ازاده کړی.

په هغې کې داغلام صرف دتصرف واک لري اوپذات واک نه لري ځکه دغلام ټول مال دبادار وي ،ملك الید یعنی ملک دتصرف ملك الرقبة ملک دذات ومدیون اوپه هغه قرض دار باندې زکاة نشته مطالباً چی دده نه غوښتنه کولی شی من عبد دبنده له طرفه بقدر دینه په اندازه دقرض دده یَعنی څومره قرض چې په ده باندې وی دهمغه قرض په اندازه پده باندې زکاة نشته اودزیاتو روپیو شته مثلا دیوسړی سره نو دپنځوس زرو زکاة ورنه ساقط دی اودباقی پنځوس زرو زکاة به ورکړی لان ملکه ځکه دده ملک دحاجت اصلی څخه زیات نه دی چې هغه قرض پوره کول دی اوشرط په زکاة کې دادې چې دحاجت اصلی څخه به زیاتی وی وانما قید اوداقید ئی ورسره ولګولو چې ددی قرض غوښتنه دبنده له طرفه کیږی ددی لپاره که دقرض دار څخه غوښتنه دالله تعالی له طرفه وه نوبیا دامانع دوجوب دزکاة نه ګرځی کمن ملك لکه یوکس چې دیونصاب خاوند شی خوبعض ددی مشغول وی دالله ﷻ په قرض سره کاالنذر لکه نذر مثلاً یوسړی دوه سوه روپی لری اودایې نذر ومانه چې سل روپی به صدقه کوم کله چې کال په تیر شي نوددوه سوه روپیو زکاة به ورکوی چې پنځه روپي راځی خوپه سلو روپیو نذرانه کې به نذر $\frac{1}{2}$ ۹۷ ورکړی ځکه دوه نیمې روپی ترې زکاة ساقطی کړی.

اوالکفارة یالکه کفاره هره کفاره چې وی مثلاً کفاره دقسم دظهار وغیره چې ددی مطالبه دالله تعالی له طرفه ده نووجوب دزکاة نه منع کوی اوالزکاة یاقرض دزکاة مثلاً دوه سوه روپي زکاة ورباندې واجب شو بیائی دغه دوه سوه روپي هلاکې کړی نوددغی روپی زکاة ورباندې قرض شو بیا دبل نصاب خاوند شو نوهغه قرض دزکاة مانع دزکاة نه ګرځی دهغې مطالبه دالله تعالی

له طرفه کولې شي ولايشترط دوجوب دزكاة لپاره دمال فراغت ددى قرض نه شرط نه دى وقوله بقدر دينه شارح رحمه الله وائى چې بقدر دينه متعلق دى ترفلاتجب پورى يعنى په مديون باندې زكاة په هغه اندازه نشته چې دده مال مشغول دقرض پورى وى اوپه زياتى کې شته . صافى .

ولافى مال مفقود وساقط فى بحر ومغصوب لابينة عليه ومدفون فى برية نسى مكانه ودين جحده المديون سنين ثم اقربعدها عند قوم وماأخذ مصادرة ثم وصل اليه بعد سنين هذه الامثلة امثلة المال الضمار وعندنا لاتجب الزكاة فى المال الضمار خلافاً للشافعى فهى بناء على اشتراط الملك التام فهومملوك رقبة لايداً والخلاف فيما اذا وصل المال الضمار الى مالكه هل تجب عليه زكوة السنين التى كان المال فيها ضمارا املا.

كشف الاسرار فى بيان مال الضمار:

ولافى مال اوپه هغه مال کې زكوة نشته چې **مفقود** ورک شوى وى يعنى كه څه مال لكه سره زر وغيره څوكاله ورک شوى وى اوبيا پيدا شي نودتيرو كلونو زكاة ورباندې نشته **وساقط فى بحر** اوپه هغه مال کې هم زكاة نشته چې په درياب کې غورزېدلې وى اوبيا څوكاله وروسته پيدا شي نودتيرو كلونو زكاة ورباندې نشته **ومغصوب لابينة عليه** اوپه هغه مال کې زكاة نشته چې يوكس ترې غصب کړى وى اودمالک لپاره څه ګواهان پرى نه وى خوپه څه طريقى سره ئى ترى مال واخسته نودتيرو كلونو زكاة ورباندى نشته اوكه ګواهان ئى لرل نوبيا دتيرو كلونو زكاة هم ورباندى شته ،**ومدفون** اوپه هغه مال کې زكاة نشته چې دفن کړاى شوى وى **فى برية** په دشته اوصحراء کې **نسى مكانه** خوځاى ئى هير شوى ؤ بيا ورته څوكاله وروسته معلومات وشو اومال ئى راويستو .

نودتير كلونو زكاة ورباندې نشته اوكه كور ياباغ کې ئى دفن کړى ؤنوبيا دتيروكلونو زكاة ورباندې شته ځكه داخمار نه دى **ودين جحده المديون** الخ اوپه هغه قرض کې زكاة نشته چې قرض داورڅخه انكار وکړى وى څوكاله بيا دهغې څخه وروسته دخلكو په مخكې اقرار وکړى چې دفلانى په ما دومره روپې قرض دى خوچې د نصاب په مقدار وى نودانكار دزمانى زكوة ورباندى نشته **وماأخذ مصادرة** اوپه هغه مال کې زكاة نشته چې دمالک نه مصادرة واخستلې شي مصادره ديته وائى چې باچا يا والى ترې په زوره واخلې اودغصب اومصادرى ترمنځ فرق دادى چې غصب ديته وائى چې په خپله ديوچاڅخه يوشيئ په زور

واخلی او مصادر دیته وائی چې بادشاه دمال مالک نه امر وکړی چې دومره مال راوړه نوکوم مال چې بادشاه واخیسته دیته مصادره وائی ثم وصل الخ بیا بیرته مالک ته دبادشاه لخوا څخه څوکاله وروسته ورسیږی نوددغی کلو زکاة پکی نشته هذه الامثلة دامثالونه مثالونه دمال خمار دی ضمار هغه ورک مال ته ویل کیږی چې دموندلو امید ئی هم نه وی څکه که دموندلو امید ئی وی نوبیا ضمار نه دی وعندنا زموږ په نزد په مال ضمار کې زکاة نشته خلافا للشافعی رحمه الله دامام شافعی رحمه الله په نزد په مال ضمار کې زکاة شته څکه دادده په ملکیت کې دی ،بناءً دازموږ لپاره دلیل بیانوی چې زموږ په نزد په مال ضمار کې څکه زکاة نشته . چې دابناء ده پدی چې په وجوب دزکوة کې داشرط دی چې نصاب به مملوک وی په ملک تام سره فهو او دغه مال ضمار رقبة یعنی ذاتًا خو مملوک دی دی خو یدا یعنی په تصرف کې دذه مملوک نه دی والخلاف زموږ اودامام شافعی رحمه الله ترمنځ دااختلاف په هغه صورت کې دی چې کله مال ضمار خپل مالک ته ورسیږی نوایا پدی کې د تیرو هغو کلونو چې مال پکې ضمار ؤ زکاة واجب دی اوکنه ؟ نوزموږ په نزد واجب نه دی اودامام شافعی رحمه الله په نزد واجب دی اوکه مالک ته ونه رسیږی نوبیا وربانديې بلاخلافه زکاة نشته اودکومې ورځی څخه چې مال ورته ورسیږی نودهغی څخه وروسته بیا بالاتفاق زکاة پری واجب دی .صافی .

بخلاف دین علی مقر مَلِیءٍ اومعسر اومفلس اوجاحد علیه بینة اوعلم به قاض فانه اذا وصل هذه الاموال الی مالکها تجب زکوة الایام الماضیة.

توضیح المسئلة: غرض دمصنف ددی عبارت څخه بیان دحکم دهغه مالونو دی چې دضمار څخه شمیرلی نه شې اګر چې حالاً دمالک په لاس کې نه وی **بخلاف** دین په هغه قرض کې زکاة شته **علی مقر ملی** چې چې په اقرار کونکې مال دار بانديې وی یعنی داقرض په داسې یوغنی وی چې اقرار کوی چې فلانی په ما داقرض شته **اومعسر** یاغریب وی خو اقرار کوی چې دفلانی په ماقرض شته **اومفلس** اویا په هغه مقر بانديې وی چې مفلس وی یعنی چې قاضی پدی بانديې فیصله دمفلسی یعنی غریبی وکړی **اوجاحد** یاپه هغه کس دا قرض وی چې هغه ددی څخه انکار کوی خوګواهان وربانديې وی چه په فلانی کس دفلانی قرض شته اویاوربانديې قاضی پوه وی نوپدی ټولو صورتونو کې که دغه مال خپل مالک ته ورسیږی نودتیرو ورځو زکوة وربانديې واجب دی .

ولا یبقی للتجارۃ ما اشتراہ لها فنوی خدمته ثم لا یصیر للتجارۃ وان نواہ لها مالم یبعه وما اشتراہ لها کان لها لا ما ورثه ونوی لها وما ملکه بهبة اووصیة اونکاح اوخلع اوصلح عن قود ونواہ لها کان لها عند ابی یوسف رحمه الله لا عند محمد رحمه الله وقیل الخلاف علی عکسه فالحاصل ان ما عدا الحجرین والسوائم انما تجب فیه الزکوۃ بنیة التجارۃ ثم هذہ النیة انما تعتبر اذا وجدت زمان حدوث سبب الملک حتی لو نوی التجارۃ بعد حدوث سبب الملک لا تجب فیه الزکوۃ بنیة وهذا معنی قوله ثم لا یصیر للتجارۃ وان نواہ لها ثم لابد ان یکون سبب الملک سببا اختیاریا حتی لو نوی التجارۃ زمان تملکه بالارث لا تجب فیه الزکوۃ ثم ذلک السبب الاختیاری هل یجب ان یکون شراء ام لا فعند ابی یوسف لا وعند محمد تجب وقیل الخلاف علی العکس فعند ابی یوسف لابد ان یکون شراءً وعند محمد لا

الحدائق ذات بهجة فی بیان اموال التجارۃ:

ولا یبقی اونه پاتی کیږي دتجارت لپاره ما اشتراہ لها هغه مال چې ده اخیستی ؤ دتجارت لپاره فنوی خدمته نونیت ئی دخدمت دهغی وکړو یعنی که یوکس غلام یاوینزه یاموټر وغیره دتجارت په نیت واخلي اوبیا نیت دخدمت پکې وکړي نودا دتجارت څخه ووتل اوزکوۃ پکې نه واجبیږي.

ثم لا یصیر بیادغه موټر وینزه غلام وغیره دتجارت لپاره هیڅکله نه ګرزیږي اګر چې نیت دتجارت پکې وکړي ترڅو چې خرڅ ئی نه کړي یعنی که خرڅ ئی کړو اوبیائی په نیت دتجارت واخلي نوبیا دتجارت لپاره ګرزیږي وما اشتراہ کوم شیئ چې دتجارت لپاره واخلی نو دابه دتجارت لپاره وی اوزکاۃ پکې واجبیږي.

لا ما ورثه هغه مال چې په سبب غیر اختیاری سره ورته حاصل شي لکه میراثه یعنی چې دده مؤرث مړشي اودهغه څخه ورته مال پاتې شي نودغه مال دتجارت لپاره نه ګرزیږي اګر چې نیت دتجارت پکې وکړي وما ملکه بهبة اوهغه مال چې دائی مالک شي په هبی سره یعنی یو انسان ئی ورته هبه کړي اودائی قبض کړي اووصیة یاپه وصیت سره د مال مالک شي مثلاً چې یوکس دده لپاره دمرګ په وخت کې وصیت وکړي اودهغه دمرګ نه وروسته ورته ورسیږي اونکاح یاپه نکاح سره دمال مالک شي چې یوه ښځه وکړي اودهغې په مهر کې مال ورکړي اوخلع یاپه خلع سره دمال مالک شي مثلاً چې یوه ښځه دخاوند سره خلع وکړي اوطلاق ترې وغواړي اوخاوند ته مال ورکړي اوصلح یاپه صلح سره دمال مالک شي عن قود دقصاص څخه یعنی چې یوسړی قصداً قتل وکړي اوپه قاتل قصاص واجب شي بیا قاتل

د مقتول د ورثو وسره په مال باندی صلح وکړی او مال وركړی **ونواه لها** کله چې پدغی مذكوره اسبابو سره مالک راشي اونیت تجارت پکې وکړی نو دابه دتجارت لپاره وی دامام ابی یوسف رحمه الله په نزد باندي اودامام محمد رحمه الله په نزد دتجارت لپاره گرځیږی اوبعض علماء وائی چې اختلاف ددی په عکس کې دی یعنی دامام محمد رحمه الله په نزد دتجارت لپاره گرځی اودامام ابویوسف رحمه الله په نزد نه گرځی **فالحاصل** خلاصه دخبری داده چې دحجرینو یعنی دسروزرو اوسپینو زرو اوسوائمو یعنی څریدونکې څارویو څخه ماسوا په نورو شیانو کې هلته زکاة واجبیږی چې نیت دتجارت پکې وشې **ثم هذه النية** بیا نیت دتجارت هلته معتبر دی چې په وخت دحدوث دسبب دملک کې ومونډلې شې **حتی** لونوی تردی که دتجارت نیت دسبب دملک دپیداکیدو څخه وروسته وکړی نوپدیکې پدی نیت سره زکوة نه واجبیږی مثلا یوسړی یوغلام دخدمت لپاره واخلی بیا پکې نیت دتجارت وکړی **وهذا معنى** اوهمدامقصد ددی قول دمصنف دی **ثم لايصير للتجارة وان نواه لها ثم لابد** سبب دملک په دوه قسمه ده اختیاری یعنی چې دبنده په اختیار اوفعل سره راځی اوترایجاب اوقبول پوری موقوف وی . ۲-غیراختیاری چې بنده ته پکې اختیار نه وی لکه وراثت چې دوارث په ملک کې بی له صنع دده څخه راځی الغرض نیت دتجارت په سبب اختیاری کې راځی په غیر اختیاری کې نه راځی **حتی** لونوی تردي که په سبب غیر اختیاری کې نیت دتجارت وکړی مثلا په میراث کې ورته څه مال لاس ته راغی اوددی په مالک کیدو سره نیت دتجارت وکړی نوپدی مال کې زکوة نه واجبیږی **ثم ذلك** بیا دغه سبب اختیاری ایا دالازم ده چې داشراء وگرځی اوکنه ؟

یعنی دکوم مال چې مالک گرځی په هبې یاصلح وغیره سره نوداشراء گرځی اوکنه ؟

نودامام ابویوسف رحمه الله په نزد نه گرځی ځکه هر عمل چې ملک فائده کوی نوکله چې ددی سره نیت دتجارت یوځای شي همدا کافی ده ځکه تجارت کسب دمال ته وائی اوکسب دده په وینا سره راځی نونیت یوځای کول ورسره صحیح دی وعند محمد تجب اوامام محمد رحمه الله وائی چې دشراء نه بغیر نور عقود لکه هبه وصیت صلح وغیره دتجارت دعقودو څخه نه دی نویواځی دتجارت نیت ددی پوری یوځای کیدل کافی نه دی ترڅو چې داسبب شراء وگرځیږی وقیل بعض علماء وائی چې دا اختلاف په عکس ددی ده یعنی دامام ابویوسف رحمه الله په نزد داشراء گرځی اودامام محمد رحمه الله په نزد داشراء نه گرځی .

ولا اداء الا بنية قرنت به اويعزل قدر ما وجب وتصدقه بكل ماله بلانية مسقط وببعضه لاعند ابي يوسف اي اذا تصدق بجميع ماله بلانية الزكاة تسقط الزكاة وان تصدق ببعض ماله تسقط زكاة المؤدي عند محمد خلافا لابي يوسف حتى لوكان له مائتا درهم فتصدق بمائة درهم تسقط عند محمد زكاة المائة المؤداة وعند ابي يوسف لاتسقط عنه زكاة شيئ اصلاً.

توضيح المسئلة: ولااداء اواداء كول دزكاة نه صحيح كيږي الابنية مګر په هغه نيت سره قرنت چې پيوسته وي به داداء سره يعنې چې فقير ته داداء كولو په وخت كې نيت دزكاة وكړي **اويعزل** اويانيت وكړي په وخت دراجدا كولو قدرما مادهغه اندازه روپيو كې وجب چې پده زكاة فرض شوي ده . يعنې چې كوم وخت دنورو روپيو څخه دزكاة روپي راجدا كوي نوپدې وخت كې چې نيت دزكاة وكړي .

خلاصه داچه يادزكاة وركولو وخت كې نيت دزكاة وكړي اويا په وخت دراجدا كولو دهغه روپيو كې چې پده فرض شوي دي **وتصدقه** اوصدقه كول دده ټول مال لره بې له نيت دزكاة نه **مسقط** ساقطونكې دزكاة دي يعنې كه يوكس دنصاب خاوند وي مثلاً دوه سوه روپي اوټول مال خپل خيرات كړي نودده څخه زكاة ساقط شو **وببعضه لاعندابي يوسف** رحمه الله اوكه بعض مال خيرات كړي نوبياتري دامام ابويوسف رحمه الله په نزد زكاة ساقط نه دي يعنې كه دوه سوه روپۍ ئې درلودلې اوسل ئې پكې خيرات كړي نودامام ابويوسف په نزد ددوه سوه روپو زكاة به وركوي اودامام محمد رحمه الله په نزد كومې روپي چې وركړي دهغې زكاة ترې ساقط دي نواوس به صرف دسلو روپيو زكاة وركوي .

﴿باب زكاة الاموال﴾

داباب دي په بيان دزكاة دمالونو كې چې څاروي دي حجرين دي وغيره **نصاب الابل خمس والبقر ثلثون والغنم اربعون سائمة ففي كل خمس من الابل بخت اوعراب شاة ثم في خمس وعشرين بنت مخاض ثم في ست وثلثين بنت لبون ثم في ست واربعين حقة ثم في احدى وستين جذعة ثم في ست وسبعين بنتا لبون ثم في احدى وتسعين حقتان الى مائة وعشرين.**

اعطاء النوال في بيان زكاة الاصول:

داوښانو نصاب پنځه دي دپنځو څخه په كمو كې زكاة نشته اودغوايانو نصاب ديرش دي

د دیرشونه په کمو کې زکاة نشته والغنم او په میږو او اوزو کې نصاب څلویښت دی د څلویښتو نه په کمو کې زکاة نشته سائمة داقید د ټولو لپاره دی یعنی په اوښانو اوغوایانو اومیږو اواوزو کې هلته زکاة واجبیږی چې څرېدونکې په صحراء وی . ففی کل پدی دری واړو کې دزکاة ودجوب تفصیل بیانوی بخت هغه اوښ ته وائی چې دوه قبه یعنې دوه بوکانه لری اودامنسوب دی بخت نصرته څکه هغه عربی اوعجمی اوښان سره یوځای کړی ؤ چې دهغې څخه دابختی پیداشو اوعراب هغه اوښ ته وائی چې یوقب یعنی بوکان لری نوپه هرپنځو اوښانو کې چې بختي وی اوکه عرابی وی یوګډ دی ثم فی خمس وعشرین بیا په هر پنځه ویشتو اوښانو کې یوبنت مخاض دی بنت مخاض هغه اوښ ته وائی چې یوکال ئی پوره شوې وی اوپه دویم کال کې ورداخله شوې وی په بنت مخاض سره څکه مسمی شوه چې ددی مور په بل بچی سره حامله شوه ثم فی الخ بیا په شپږدیرشو کې یوبنت لبون دی بنت لبون هغه اوښی ته وائی چې دوه کاله ئی پوره شوې وی اوپه دریم کال کې داخل شوی وی وجه دتسمی داده چې ددی مور غالباً دبل بچې لپاره دشیدو والا وګرځیده ثم بیا په شپږ څلویښتو کې یوه حقه ده حقه دیته وائی چې دری کاله ئی پوره شوی وی اوپه څلورم کال کې داخله شوی وی حقه څکه ورته وائی چې داحق داره ددی ده چې پدی سورلی وورلی شی ثم بیا به یوشپیتو کې جذعه ده جذعه دیته وائی چې څلور کاله ئی پوره شوی وی اوپه پنځم کال کې ورداخله شوی وی جذعه څکه ورته وائی چې دادشیدو غاښونه وغورزوی ثم بیا په شپږو اویاوو کې دوه بنت لبون دی بیا په یونوې ۹۱ کې تریوسلو اوشلو ۱۲۰ پوری دوه حقی دی .

۱سوال : شریعت ولی زکاة دوړو اوښانو په نصاب کې مقرر کړو ؟

جواب : څکه چې په وړو اوښانو قربانی جائز نه ده نودائی دزکاة لپاره نصاب مقرر کړو اوبل دمال په خاوندانو هم دا اسانه وی .

۲-سوال : شریعت ولی زکاة په ښځو اوښانو :کې وګرځاوه نه په نرانو کې؟

جواب : څکه ښځی اوښانی اکثره خلک زیاتی بولی نونر اوښ په زکاة کې نه شې ورکولې اوکه ورکوئی نوبالقیمت به ئی ورکړی . صافی .

ثم فی کل خمس شاة ثم فی مائة وخمس واربعین بنت مخاض وحقتان ثم فی مائة وخمسین ثلث حقاق ثم تستأنف ففی کل خمس شاة ثم فی خمس وعشرین بنت مخاض ثم فی ست وثلثین بنت لبون ثم فی مائة وست وتسعین اربع حقاق الی مئتین ثم تستأنف ابداً کما فی الخمسین التی بعد المائة والعشرین

والاخر بعد المئة والخمسين فبعد المئتين يستأنف استينافاً مثل ماذكر بعد المائة والخمسين حتى تجب في كل خمسين حقة.

توضيح المسئلة: ثم في كل خمس الخ بيا ديو سلو اوشلو ښخه وروسته په هر پنځو اوښانو کې يو ګډ يعنې پسه دی بيا په ۱۴۵ کې يو بنت مخاض اودوه حقې دی بيا په ۱۵۰کې دری حقې دی بيا به له سره حساب شروع شي نو په هر پنځو کې به يو ګډ اودری حقې وی اوپه ۲۵ کې به يو بنت مخاض اودری حقې وی اوپه ۳۰ يعنې ۱۸۶ کی به يو بنت لبون اودری حقې وی بيا په ۱۹۶ کې څلور حقې دی تردوه سوه پوری ثم تستانف ددوه سوه نه وروسته بيا زکاة له سره کړی خو په هغه طريقه چې د ۱۵۰ ښخه ديخواته دی خودا اختيار مند دی چې څلور حقې ورکوی دهر پنځو سو ښخه يوه حقه اوکه پنځه بنت لبون ورکوي چې دهر ۴۰ ښخه يوه بنت لبون ده اعلم انه الخ مصنف رحمه الله دوه استينافه ذکر کړو ۱-۱۲۰ښخه وروسته ۲- ۱۵۰ ښخه وروسته نو ۲۰۰ ښخه وروسته به داسې استيناف کولې شي لکه د ۱۵۰ ښخه وروسته ئی کوی حتی تجب تردې چې به هر پنځوسو ۵۰ کې يوه حقه ده اويا په هر ۴۰ کې يوه بنت لبون ده قاضی خان».

وفي ثلثين بقراً اوجاموساً اوتبيعة ثم في اربعين مسن اومسنة التبيع الذی تم عليه الحول والتبيعة انثاه والمسن الذی تم عليه الحولان والمسنة انثاه وفيما زاد يحسب الی ستين وفيها ضعف ما في ثلثين ثم في کل ثلثين تبيع وفي کل اربعين مسنة ای في ستين تبيعان الی تسع وستين ثم في سبعين تبيع ومسنة ثم في ثمانين مسنتان ثم في تسعين ثلثة اتبعة ثم في مائة تبيعان ومسنة ثم في مائة وعشرة تبيع ومسنتان ثم في مائة وعشرين اربعة اتبعة اوثلث مسناة وهکذا الی غيرالنهاية.

توضيح المسئلة: په ۳۰ غوايانو يامينبو کې يوتبيع ياتبيعه ده تبيع هغه غواياته وائی چې يو کال پرې پوره شوی وی اوتبيعه ښځی يوکلنی غواته وائی ثم في اربعين بيا په ۴۰ غوايانو کې يومسن يامسنه ده مسن هغه نرغوايانو ته وائی چې دوه کاله پرې پوره شوی وی اومسنه ښځی دوه کلنی غواته وائی وفيما زاد اوچه د ۴۰ ښخه زيات شی تر ۶۰ پوری به په حساب وی نوکه د ۴۰ ښخه يوه زياته شی نوربع دعشر دمسنی يعنی څلويښتمه روپې به ورکوې اوکه دوه زياتی شوی نوشلمه دمسنې به ورکوې اوکه دري زياتی شی نو دری ربع دعشر دمسنی به ورکوی دادامام صاحب قول دی اودصاحبينو په قول د ۴۰ ښخه تر ۶۰ پوری زيادت کې څه

نشته او په همدی قول فتوی ده «بحر ص ۲، ۳۷۷. وفیها خو په ۶۰ کې دوه چنده دديرشو ده یعنی دوه تبیعی دی بیا په هر ۳۰ کې یوه تبیعه ده او په هر ۴۰ کې یوه مسنه ده یعنی په ۶۰ کې دوه تبیعی دی تر ۶۹ پوری او په ۷۰ کې یوه تبیعه ده او یو مسنه ده ۳۰+۴۰=۷۰ بیا په ۸۰ کې دوه مسنی دی څکه په هر ه ۴۰ کې یوه مسنه ده بیا په ۹۰ کې دری تبیعی دی ۳۰x۳=۹۰ بیا په سلو ۱۰۰ کې دوه تبیعی او یوه مسنه ده ۴۰+۳۰+۳۰=۱۰۰ بیا په ۱۱۰ کې یوه تبیعه او دوه مسنی دی ۴۰+۳۰+۴۰=۱۱۰ بیا په ۱۲۰ کې ۴ تبیعی دی ۳۰×۴=۱۲۰ یا دری مسنی دی ۳×۴۰=۱۲۰ سره همدا رنګې نور هم پسې قیاس کوه.

وفی اربعین ضأناً او معزاً شاة ثم فی مائة واحدی وعشرین شاتان ثم فی مئتین وواحد ثلث شیاه ثم فی اربعمائة اربع شیاه ثم فی کل مائة شاة ولاشیئ فی بغل وحمار لیسا للتجارة ولا فی عوامل وحوامل وعلوفة العوامل التی اعدت للعمل کاثارة الارض والحوامل التی اعدت لحمل الاثقال والعلوفة التی تعطی العلف وهی ضد السائمة ولافی حمل وفصیل وعجیل الاتبعاللکبیر ولافی ذکور الخیل منفردة وکذا فی اناثها فی روایة وفی کل فرس من المختلط به الذکور والاناث سائمة دینارا او ربع عشر قیمته نصابا.

توضیح المسئلة: غنم جنس دی ګډ او اوری ته شامل دی او ضأن او معز انواع دي ضأن میږی ته وائی او معز اوزی ته وائی نو په ۴۰ میږو «ګډو» او اوزوکی یو ګډ دی خو شرط پکې دا دی چې یو کلن به وی بیا ۱۲۱ کې دوه ګډان دی بیا ۲۰۱ کې دری ګډان دی بیا په ۴۰۰ کې څلور ګډان دی بیا دهغې څخه وروسته په هر سلو «۱۰۰» کې یو ګډ دی ، **ولاشیئ** او په قچرو او خروکې چې دتجارت لپاره نه وی زکاة نشته او که دتجارت لپاره ؤ نو بیا پکی شته **ولافی عوامل** او په هغه څارویو کی زکاة زکاة نشته چې دکار لپاره تیار شوی وی **کاثارة الارض** لکه دځمکې اړول وغیره **وحوامل** او همدا رنګې په هغه څارویو کې زکاة نشته چې بار وړونکې وی یعنی چې دباروړلو لپاره تیار شوی وی **وعلوفة** په هغه څارویو کې هم زکاة نشته چې په کورکې وابنه ورکولی شي . **التی تعطی العلف** علوفة هغه ده چې په کور کې وابنه ورکولی شي په علوفه کې هغه وخت زکاة نشته چې دتجارت لپاره نوی او که دتجارت لپاره ؤ نو بیا پکی زکاة شته اګر چې په کور کی وابنه ورکړی او عوامل او حوامل دتجارت لپاره نه ګرځي اګر چې دتجارت نیت پکی وکړی څکه دا په حاجت اصلی سره مشغول دی بحر ۲، ۳۸۱ نهر ولافی

حمل اوزکاة نشته دميږو په بچيانو کښ يعنې وريانو کښ چې يواځې وربانديوي حمل دګډې بچې ته وائي په اول کال کې (فقه حنفی صفحه ۲۴۷ ج۱ وفصيل او داوښ په بچيانو کښ هم زکاة نشته

فصيل داوښې هغه بچې ته وائي چې يوکال پرې پوره شوی نه وي اوعجيل دغوا بچې ته وائي تر يوي مياشتې پورې پديکې هم زکاة نشته الاتبعا للکبير مګر په وړوکې زکاة شته چې تابع دلوی وي يعنې چې لوی څاروي ورسره وي اګر چې يو دانه وي مثلا ۳۹ دانې واړه وري وي او يوپکې غټ وي نوددغې غټ دوجې په ټولو کې زکاة واجب دی او زکاة کې به ورکوټې ورکوی. همدارنګه په غوايانو اواوښانو کې ولافي ذکور الخيل اوپه نرانو اسونو کې منفردة چې يواځې نران وي اوښځې اسونه ورسره نه وي زکاة نشته ځکه په يواځې نرانو اسونو سره زيادت نه راځي وکذا في اناثها همدارنګې په يوروايت کې دی چې په يواځې ښځې اسونو کې هم زکاة نشته ځکه په يواځې ښځې اسونو کې زيادت نه راځي اوپه قول راجح کې دی چې پديکې هم زکاة شته ځکه کله دښځې اسونو لپاره په سوالي نر آس سره تناسل راځي وفي کل فرس اوکه نر آسونه اوښځې اسونه سره ګډ وي نوپه هرآس کې چې څريدونکې وي يو دينار زکاة دی اويا ربع دعشر دقيمت دآس يعنې دآس دقيمت څلويښتمه حصه ده نصابا خوپه داسې حالت کې چې دغه قيمت نصاب ته ورسيږي اوکه سائمه يعنې څريدونکې نه ؤ نوبيا پکې زکاة نشته اودصاحبينو په نزد په آسونو کې مطلقاً زکاة نشته يعنې يواځې نروی که ښځې اوکه مختلط وي واختلاف ددوی په سوائمو کې دی اماکه دتجارت لپاره ؤ نو بيا بالاتفاق پکې زکاة شته بحر ۲،۳۷۹)).

وجاز دفع القيم في الزكوة والكفارة والعشر والنذر ولا يأخذ المصدق الا الوسط وان لم يجد السن الواجب يأخذ الادنى مع الفضل او الاعلى ويرد الفضل ويضم المستفاد وسط الحول في حكمه الى نصاب من جنسه اي اذا كان له مئتا درهم وحال عليها الحول وقد حصل في وسط الحول مائة درهم يضم المائة الى المئتين وقوله في حكمه اي في حكم المستفاد وهو وجوب الزكاة يعني يعتبر في المستفاد الحول الذي مر على الاصل ويمكن ان يرجع ضمير حكمه الى الحول.

توضيح المسئلة: دقيمت ورکول په زکاة کې جائز دی يعنې چې دزکاة ميږه وغيره ورنکړي بلکې دهغې په ځای قيمت ورکړی هم جائز دی والكفارة په کفاره کې هم قيمت ورکول جائز

دی چې په کفاره ماليه کې قيمت ورکړی والعشر همدارنګې دځمکی په عشر کې که قيمت ورکړی هم جائز دی والنذر همدارنګی په نذر کې هم قيمت ورکول جائز دی مثلاً چې نذر ومنی چې ګډه به خيرات کړی نو ګډه قيمت ورکول هم جائز دی.

ولايأخذ المصدق مصدق : صدقه اخستونکې يعنی هغه عامل چې دصدقی اخستلو لپاره دبادشاه له طرفه مقرر شوی وی نو مصدق به مال والا څخه غوره مال نه اخلی اونه به ډير بيکاره اخلې بلکی درميانه به اخلې وان لم يجد السن که مسنه پيدانکړی سن غابن ته وائی مراد تري دلته خاوند دغاښونو ده دوجې داطلاق دبعض نه په کل باندې نو که هغه مسنه پيدانکړی چې کومه واجب وه نو مصدق به ددی نه ادنی څاروی واخلی مع الفضل سره دځه زياتی پيسو اوالاعلی ياد اوچت څاروی واخلی خوزياتی پيسی دی واپس کړی مثلا دزکاة څاروی په ۱۵ روپی کيده نوکه داپيدا نه شې نودلس روپيو څاروی دی واخلې اوپنځه روپې دنوری هم واخلی اوکه دشلو روپيو څاروی واخسته نوپنځه روپې به مالک ته واپس کړی ويضم اوپيوسته به کړای شې المستفاد هغه مال چې حاصل ئی کړی صاحب المال وسط الحول په مينځ دکال کې مراد دوسط نه دادی چې دکال دتمام والی څخه مخکې حاصل کړی وسط وی اوکه اخر وی فی حکمه په حکم دمال مستفاد کې چې هغه وجوب دزکاة دی الی نصاب من جنسه يعنی پيوسته به کړای شې دامال مستفاد دهغی نصاب سره چې دجنس دمال مستفاد څخه وی ای اذا کان که يوکس لره دوه سوه درهمه ؤ اوکال پری تير شو خو دکال په مينځ کې ورته سل درهمه نور پيداشو نودغه سل به ددوه سوو سره يوځای کړی اوددری سوو زکاة به ورکړی . من جنسه که داوښانو نصاب ئی درلوده او دکال په منځ کی ورته نور اوښان پيداشو نو دابه دهغی سره يوځای شی اوکه دکال په منځ کی ورته غوايان پيدا شو نو دابه د اوښانو سره نه يو ځای کوی. بلکی که دغوايانو خپل نصاب برابر شې نوبيا به دهغې زکاة ورکوی قوله فی حکمه شارح وائی چې حکمه ضمير مستفاد ته راجع دی يعنی په حکم دمستفاد کې اودمستفاد حکم وجوب دزکاة دی يعنی په حکم دمستفادکې اودمستفاد حکم وجوب دزکاة دی يعنی يعتبر يعنی په مستفاد کې هغه کال معتبر دی چې په اصل باندې مخکې تير شوی دی نه هغه کال چې ددی پوری متصل دی اوراروان دی. لکه د بحرالرائق دعبارت نه همداسې معلوميږي والمراد بالضم ان تجب الزكاة فی الفائدة عند تمام الحول علی الاصل بحر۳۸۸، ۲.

ويمکن امکان لري چې دحکمه ضمير حول ته راجع وی يعنی مال مستفاد به په حکم دحول

کې وی چه وجوب دزکاة دی زه بنده عاجز عبدالرشید صافی وایم چې دامقصد هم امکان لري چې وشې چې حقیقة پدی مال مستفاد خوکال تیر شوی نه ده خوکله چې په اصل مال باندې کال تیر شو نومال مستفاد هم په حکم دکال کې راغې گویا پدی هم کال تیر شو والله اعلم بالصواب وهو الموافق للسداد .

والزكاة في النصاب لا العفو فانه اذا ملك خمساً وثلثين من الابل فالواجب وهو بنت مخاض انما هو في خمس وعشرين لا في المجموع حتى لو هلك عشرة بعد الحول كان الواجب على حاله وهلاك النصاب بعد الحول يسقط الواجب وهلاك البعض حصته ويصرف الهلاك الى العفو اولاً ثم الى نصاب يليه ثم وثم الى ان ينتهي فبقي شاة لو هلك بعد الحول عشرون من ستين شاة اوواحد من ست من الابل .

توضيح المسئلة: اوزكاة په نصاب کې دی نه په هغه مال کې چې دنصاب څخه زیاتی وی فانه که یوسړی د۳۵ اوښانو مالک وی نوپدیکی واجب بنت مخاض په ، ۲۵ کې دی نه په مجموعه کې تردی که لس اوښان هلاک شې او۲۵ پاتې شې نوبیا به هم واجب په خپل حال وی یعنی همغه بنت مخاض به واجب وی ځکه نصاب پاتې دی اوعفوه هلاک شوه وهلاک النصاب که په یونصاب باندې زکاة واجب شې وروسته دکال پوره کیدو څخه اودغه نصاب هلاک شې نوبیا دهلاک شوې مال حصه تری زکاة ساقط شو مثلا ۴۰۰ روپې وی اودوه سوه تری هلاکی شوی نو د ۲۰۰ روپیو زکاة تری ساقط شو.

ویصرف الهلاك اوهلاکت گرزولی شې عفوی ته اولاً یعنی هغه مال ته چې دنصاب څخه زیاتی وی اونصاب ته نه رسیږی **ثم الى نصاب یلیه** بیا به هغی نصاب ته هلاکت گرزولی شې چې عفوی ته نژدی دی **ثم** بیا هغی نصاب ته چې دیته نژدی وثم بیا هغی نصاب ته چې دیته نژدی وی مثلاً دیوسړی سره دری نصابونه ؤ اوڅه نور زیاتی شیئ چې څلورم نصاب ته نه رسیده نوبیا څه مال هلاک شو نودغه هلاکت به اول عفوی یعنی زیاتی مال ته گرزولې شی نوکه هلاکت دعفوی په مقدارؤ نوپه هغه دری نصابونو کې به زکاة مکمل ورکړی اوکه هلاکت دعفوی څخه زیاتی ؤ نودریم نصاب ته به هلاکت وگرځولې شې ځکه هغه دعفوی سره نژدی دی او په دوو نصابونو کې به زکاة ورکړی که په دریم نصاب سره هم نه پوره کیدو نوهلاکت به دویم نصاب ته راکوز کړی همدارنگه الی اخره داد امام ابوحنیفة رحمه الله مذهب دی اودامام ابویوسف رحمه الله په نزد به هلاکت اول عفوی ته گرځولې شې اودهغی څخه وروسته به ټولو نصابوته په یوځل گرځولې شې یعنی علی الترتیب به نه وی اودامام محمد

رحمه الله په نزد به هلاکت عفوی اونصاب دواړوته گرځولې شې ځکه دزکاة تعلق د دواړو پورې دی فبقی شاة نو بیوگډ بیا هم پاتی کیږي یعنی که په ۲۰ گډو وکې ۲۰ هلاکې شې نو ۴۰ گډی پاتې کیږي نوبیابه هم په زکاة کی یوگډ ورکوی ځکه نصاب برابردی اوهمدارنگه که په شپږو اوښانوکې یواوښ مړشی نوپنځه پاتې کیږی اوپنځو کې یوگډ زکاة ورکول فرض دی ځکه هلاکت اول عفوی ته وگرځولی شو اودهغی څخه وورسته بیاهم نصاب برابر دی.

وتجب بنت مخاض لوهلك خمسة عشرمن اربعین بعیراً ای یصرف الهلاك الی العفواولا فان لم یجاوز الهلاك العفو فالواجب علی حاله کالمثالین الاولین وهما هلاك عشرین من ستین شاة اوواحدمن ست من الابل وان جاوز الهلاك العفو یصرف الهلاك الی النصاب الذی یلی العفو کما اذا هلك خمسة عشرمن اربعین بعیراً فالاربعة تصرف الی العفو ثم احد عشر یصرف الی النصاب الذی یلی العفووهو مابین خمس وعشرین الی ست وثلثین حتی تجب بنت مخاض الخ

توضیح المسئلة: اوبیا به هم بنت مخاض واجب وی که ۱۵ اوښان د ۴۰ څخه هلاک شې ځکه هغه نصاب اوس هم موجود دی چې هغې کې بنت مخاض واجب دی چې هغه ۲۵ دی **ای یصرف** یعنی هلاکت به اول عفوی ته گرځولی شې **فان لم یجاوز** که هلاکت دعفوی څخه زیاتی نه ؤ نوواجب به پخپل حال وی یعنی مخکې چې څه واجب ؤ هغه اوس هم واجب وی لکه په مخکنیو دوو مثالو کې چې د ۶۰ گډو څخه ۲۰ هلاکی شې یاد ۶ اوښانو څخه یو اوښ هلاک شې نوپه دواړو صورتونو کې یو گډ واجب دی **وان جاوز** اوکه هلاکت دعفوی څخه زیاتی ؤ نومابقی به هغه نصاب ته گرځولې شې چې عفوی ته نژدی وی **کما اذا هلك** مثلاً په ۴۰ اوښانو کې ۱۵ هلاک شې نوپدی صورت کې عفوه ۴ دی چې د ۳۶ څخه زیاتی دی ځکه ۳۶ نصاب دی او۴ پکې عفوه ؤ نوهلاکت به اول دغې عفوی یعنی څلوروته گرځی بیا به هغی نصاب ته چې دغی عفوی ته نژدی دی چې هغه د۲۵ څخه تر ۳۶ پوری دی چې هغه نصاب ۱۱ دی نوباقی اوښان ۲۵ دی اوپه ۲۵ کې یوبنت مخاض دی **ولاتقول** پدی سره دامام محمد رحمه الله په قول ردکوی چې ته داسی ونه وائی چې هلاکت عفوی اونصاب دواړوته گرځی **حتی نقول** داتفریع ده په منفی باندې یعنی چې بیا مونږ لاداهم ووایو چې په ۴۰ کې یو بنت لبون دی نوچې د ۴۰ څخه ۱۵ هلاک شې نو۲۵پاتې کیږی **فیجب نصف وثمن من بنت لبون** نوپه پنځه ویشتو کې نصف دبنت لبون اوثمن دبنت لبون دی نصف ددی ۲۰ راځی اوثمن دبنت لبون ۵ راځې ځکه د ۴۰ نصف ۲۰ دی اود ۴۰ ثمن پنځه دی **ولاتقول** دارد کوی په قول دامام ابویوسف

رحمه الله باندې چې هلاکت اول عفوی ګرځولی شي بيا مجموعه نصابونو ته حتی نقول تردی چې
دامام ابويوسف رحمه الله په شان مونږ هم ووايو چې په ۴۰ کې ۱۵اوښان هلاک شي نوځلور ۴ به
عفوی ته ګرځولی شي او ۱۱ به مجموعه ۳۲ ته ګرځولې شي ای کان الواجب نو په ۳۲ کې واجب
يعنی زکاة يوبنت لبون دی او ۱۱ تری هلاک شو نو۲۵ پاتې شو فالواجب نو په ۲۵ کې دوه
ثلثة دبنت لبون واجب دی چې ۲۴ راځي وربع تسع اوځلورمه دنهمی دبنت لبون نونهمه د ۳۲،
۴ راځي اود ۴ ربع يودی (۱) نويو (۱) چې د۲۴ سره يوځای کړی ۲۵ ګرځی.

واما قوله ثم وثم الى ان ينتهى فلم يذكر له فى المتن مثالاً فنقول لوهلك من اربعين بعيراً عشرون فاربعه تصرف الى العفو واحد عشر الى نصاب يلى العفو وخمسة الى نصاب يلى هذا النصاب حتى يبقى اربع شياه وقس على هذا اذا هلك خمسة وعشرون اوثلثون اوخمسة وثلثون.

توضيح المسئلة: شارح وائی چې دمصنف داقول چې ثم وثم الخ ددی لپاره مصنف په متن کې
مثال ذکر کړی نه ده فنقول نومونږ ددی لپاره مثال بيانوو چې که د ۴۰ اوښانو څخه ۲۰
اوښان هلاک شي نو۴ به عفوی ته ګرځی ۳۲ پاتې شو بيا به ۱۱ هغه نصاب ته ګرځی چې
عفوی ته نژدی دی نو۲۵ پاتی شو بيا ۵ هغه نصاب ته ګرځی چې دی دويم نصاب ته نژدی
وی نو ۲۰ اوښان پاتې شو.

اوپه ۲۰ اوښانو کې ۴ ګډان دی وقس علی هذا همدارنګې که د ۴۰ څخه ۲۵ هلاک شي
نوباقي ۱۵ اوښان راځی اوپه هغی کې دری ګډان واجب دی اوثلثون اويا په ۴۰ کې ۳۰
هلاک شي نو ۱۰ پاتې کيږی اوپه ۱۰ کې دوه ګډان دی اوخمسة وثلثون اويا په ۴۰ اوښانو کې
۳۵ هلاک شي نوپاتی ۵ اوښان شو اوپه هغي کې يو ګډ دی.

والسائمة هى المكتفية بالرعى فى اكثر الحول الرعى بالكسر الكلاء اخذ البغاة زكاة السوائم والعشر والخراج يفتى ان يعيد واخفية ان لم تصرف فى حقه لاالخراج اعلم ان ولاية اخذ الخراج للامام وكذا اخذ الزكاة فى الاموال الظاهر وهى عشر الخارج وزكاة السوائم وزكاة اموال التجارة مادامت تحت حماية العاشر فان اخذ البغاة اوسلاطين زماننا الخراج فلا اعادة على الملاك لان مصرف الخراج المقاتلة وهم من المقاتلة لانهم يحاربون الكفار وان اخذوا الزكاة المذكورة فان صرفوا الى مصارفها وهى مصارف الزكاة فلا اعادة على الملاك وان لم يصرفوا الى مصارفها فعليهم الاعادة خفية اى يؤدونها الى مستحقيها فيما بينهم وبين الله تعالى.

توضیح المسئلة: والسائمة دسائمه نه مراد دادی چې دکال په اکثره حصه کې په څرولو اکتفاء کوی که نیم کال یازیات ئی په کور کې واښه ورکړل نوبیا داسائمه نه ده پدیکی زکاة نشته **الرعی** په فتحی دراء سره مصدر دی په معنی دڅرولو سره اوپه کسری دراء سره واښوته وائی خومناسب پدی ځای کې فتح ده ځکه سائمه هغه ده چې په صحراء کې څری اوپه کور کې واښه ورنکړی اوکه په کور کې واښه ورکړی نوداسائمه نه ده خوکه رعی په کسری دراء سره واخلې نوبیا داهم سائمه ګرځی اودا صحیح نه ده ((بحر ۲،۳۷۳)).

اخذالبغاة باغیان هغه مسلمانانوخلکو ته وائی چې دحق امام دمتابعت څخه دڅه شبهی په خاطر ووځی نوکه دوی دسوائمو یعنی څریدونکو مالو زکاة واخلې یاعشر واخلې یاخراج واخلې نوکه باغیانو زکاة وغیره په خپل ځای کې ولګاوه نوپه مال مالکانو بیا دوباره ورکول نشته اوکه پخپل ځای کې ئی نه وی لګولی نو **یفتی ان یعیدوا** نوفتوی به ورکولې شې چې مالکان بیا زکاة ورکړی په پټه سره ځکه که په ښکاره ئی ورکړی نوباغیان ئی بیا تری اخلې **لاالخراج** مګر خراج یعنی ټکس دځمکې به دوباره نه ورکوی **اعلم** چې دخراج داخستلو واک اواختیار امام یعنی بادشاه لره دی **وکذا** همدارنګه په اموال ظاهره کې چې هغه عشر د حاصل دی دزکاة اخستلو واک امام لره دی.

وزکاة السوائم اودڅریدونکو څارویو زکاة اودتجارة دمالونو زکاة دامام په واک کې دی خوترڅو چې دعاشر په حمایت کې وی عاشر هغه کس ته وائی چې دبادشاه له طرفه په لاره اودرولی شوی وی چې دتجارت دمالونو زکاة اوعشر وغیره دخلکو څخه واخلې فان اخذالبغاة که واخلې باغیان اوسلاطین **زماننا** یازمونږ دزمانی ظالمان حاکمان **الخراج** ټکس دځمکې والا څخه نودځمکې په مالکانو بیا اعاده نشته **لان مصرف** ځکه مصرف دټکس یعنی په کوم ځای کې چې مصرف کولې شې **المقاتلة** هغه خلک دی چې دکفارو په مقابله کې جنګیږی یعنی اسلامی فوجیان **وهم** اودغه باغیان اوسلاطین هم دمقاتلو څخه دی ځکه دوی هم دکفارو سره جنګ کوی **وان اخذوا** اوکه باغیانو اوسلاطینو دسوائمو زکاة اوعشر اوزکاة دتجارت د مالو واخیسته نوکه دا زکاة وغیره ئی په خپل ځای کې لګولی ؤ چې هغه مصارف دزکاة دی چې فقراء مساکین وغیره دی **فلااعادة** نودمال په مالکانو بیا دوباره ورکول نشته ځکه مقصد دزکاة وغیره څخه ورکول دی فقراؤ وغیره ته اودا حاصل شوی ده

وان لم يصرفوا اوكه باغيانو اوسلاطينو دازكاة خپلو مصارفو ته رسولی نه ؤ فعليهم نو په مالکانو دوباره ورکول شته خفية په پټه سره ای يؤدونها يعنی زكاة به ورکړی الی مستحقيها خپلو حقدارانو ته چې خپلو وغيره دی فيما بينهم وبين الله خوپداسې طريقه چې دده اودالله تعالی ترمنځ راز وی يعنی بل څوک ددی په ورکولو خبر نه شي ځکه هغوې بيا ورته ضرر رسوی.

وانما قال يفتی ان يعيدوا خفية احترازعن قول بعض المشائخ انه لا اعادة عليهم لانهم لما تسلطوا على المسلمين فحكمهم حكم الامام ضرورة ولهذا يصح منهم تفويض القضاء واقامة الجمع والاعياد ونحوذلك والجواب عن هذا ماثبت بالضرورة يتقدر بقدرها يعنی نصب القضاة واقامة ماهو من شعائر الاسلام ضرورة بخلاف الزكاة فان الاصل فيه الاداء خفية قال الله تعالى وان تخفوها وتؤتوها الفقراء فهوخيرلكم.

توضيح المسئلة: وانما قال شارح رحمه الله چې مصنف رحمه الله وويلی چې يفتی ان يعيدوا خفية ددی لپاره چې احتراز راشي دقول دبعض علماؤ څخه چې هغوی وائی چې په مالکانو بيا دزكاة وغيره اعاده نشته لانهم ځکه باغيان اوظالمان حاکمان چې هرکله په مسلمانانو تسلط وکړی نوحکم ددوی په شان دحکم دامام دی ضرورة خامخا اولازماً ولهذا دهمدی وجې څخه باغيانو ته دقضاء سپارل هم صحيح دی اودجمعی لمونځ قائمول اوداخترونو لمونځ قائمول وغيره هم صحيح دی والجواب ددی بعض مشائخو دقول نه داجواب دی چې کوم شيئ په ضرورت سره ثابت وی نوهغه به په اندازه دضرورت وی يعنی نصب القضاة يعنی دقاضيانو مقررول اودشعائرو داسلام لکه دجمعی لمونځ وغيره قائمول دوجې دضرورت نه دی په خلاف دزكاة نه چې اصل په زكاة کې په خفيه سره ورکول دي لکه الله تعالی فرمائی چې که تاسې صدقی پټی ورکړی اوفقيرانو ته ئی ورکړی نوداستاسې لپاره غوره ده خوبيا د بعض خارجی وجوهاتو دوجې ښکاره ورکول علماؤو اولی ګڼلی دی.

وعن قول بعض المشائخ انه اذا نوى بالدفع اليهم التصدق عليهم سقط عنهم لانهم بما عليهم من التبعات فقراء والشيخ الامام ابومنصور الماتريدی زيف هذا فانه قال لابد من اعلام المتصدق عليه وايضاً لاخفاء فی ان الزكاة عبادة محضة كالصلوة فلايتادی الابالنية الخالصة لله تعالى ولم توجد.

تنقيح المسئلة: دمصنف داقول يفتي ان يعيدوا خفية دپاره داحتراز دی دقول بعض نورو علماؤ څخه هم چې هغوی وائی چې کله باغيانو وغيره ته زكاة ورکوی اودورکولو په وخت کې په باغيانو دصدقی کولو نيت وکړی نوزكاة تری ساقطيږی لانهم ځکه داباغيان

او ظالمان حاکمان بماعليهم په سبب دهغه څه چې پدوی باندې دی من التبعات چې هغه حقوق دخلکو دی فقراء داباغیان وغیره فقیران دی ځکه مظالم اوحقوق دخلکو ډیر دی چې دوی پایمال کړیدی اوددوی دومره نه دی چې دخلکو حقوق پوره کړی نودوی سره اګر چې ظاهراً مال شته خوحکما دوی فقیران دی والشيخ الامام الخ اوشیخ امام ابومنصور ماتریدی داقول ضعیف ګرځولی دی ځکه په زکاة کې دفقیر وغیره خبرول ضروری دی اوباغیانو اوظالمانو حاکمانوته خودامُمکنه نه ده چې ته ووائی چې داد زکاة مال دی اوتاته ئی درکوم چې ته غریب ئی نودوی ته په ورکولو سره به زکاة څنګه اداء شي ؟

وایضاً بله وجه دضعف دمشائخو دقول وائی چې عبادة په دوه قسمه ده :

۱-عبادة غیر محضه :یعنی چې پخپله عبادت نه وی خودبل لپاره وسیله وی لکه اودس وغیره.

۲-عبادت محضه : چې پخپله عبادت محضه او مستقله وی لکه لمونځ روژه زکاة وغیره نو زکاة هم عبادت محضه دی اوعبادت محضه نه صحیح کیږی مګر په خالص نیت سره چې دالله تعالی درضا لپاره وی اوکله چې باغیانو وغیره ته ورکوی نوهلته خالص نیت دالله تعالی درضا لپاره نشته.

ثم اعلم ان العبارة المذكورة فى الهداية هذه ولزكوة مصرفها الفقراء ولايصرفونها اليهم وقيل اذا نوى بالدفع التصدق عليهم سقط عنه وكذا الدفع الى كل سلطان جائر لانهم بما عليهم من التبعات فقراء والاول احوط فعليك ان تتامل فى هذه الرواية انه هل يفهم منها الا سقوط الزكاة عن المظلوم نظراً له ودفعاً للحرج عنه وهل لهذه الرواية دلالة على انه يجوز للخوارج واهل الجوران يأخذ الزكاة ويصرفونها الى حوائجهم ولا يصرفونها الى الفقراء بتأويل انهم فقراء فانظر الى هذه الذى ادرج فى الايمان ركناً اخرانه كيف يتمسك بهذه الرواية فسوغ لولاه هراة اخذ العشور والزكاة بالصفة المعلومة بل فرض عليهم ذالك وحكم بكفر من انكره والصفة المعلومة ان يحرض الاعونة فى اخذ الخارج عن الارض اضعافاً مضاعفة فيضعفوا على الملاك القيم ويأخذونها جبراً وقهراً ويصرفونها كما هو عادة اهل الاسراف والاتراف.

توضيح المسئلة: غرض دشارح دهدائی دعبارت راوړلو څخه رد دی په هم عصری دده چې نظام الدین هر وی دی اوکوم نسبت چې ده ته کیږدی چې دهراة والیانو ته ئی دزکاة اوعشر اخستل جائز کړی هغه نسبت ختم کړی ،دهدائی دعبارت مقصد داسې دی چې دزکاة مصرف فقراء دی اوباغیان وغیره ئی فقیرانو ته نه ورکوی وقیل اوبعض علماء وائی چې باغیانو وغیره ته دزکاة دورکولو په وخت کې چې پدوی دصدقې کولو نیت وکړی نودمالکانو څخه

زکاة ساقطیږی وکذالدفع همدارنګې هربادشاه ظالم ته چې دزکاة دورکولو په وخت کې نیت دزکاة وکړی نوزکاة تری ساقطیږی لانهم ځکه داظالمان په سبب دهغه حقوقو چې پدوی باندې دخلکو دی دوی فقیران دی والاول خواوله خبره چې اعاده دزکاة وشې زیاته داحتیاط خبره ده تردی ځایه پوری دهدائی دعبارت مقصد ؤ فعلیك لازم دی په تاباندې ای متعلمه چې ته دهدایې پدی عبارت کې سوچ اوفکر وکړی هل یفهم الخ چې ایام معلومیږی ددی نه یعنی نه معلومیږی دهدایې دعبارت څخه مګر داخبره چې زکاة دمظلوم نه ساقط دی کله چې ئی ظالم تری اخلی اودامظلوم نیت دزکاة وکړی نظراً له دوجې دشفقت نه په مظلوم باندې ودفعا الخ اولپاره ددفع کولو دحرج دمظلوم نه چې هغه دوباره بیا زکاة ورکول دی وهل هذه اوایا دهدایې داعبارت دلالت پدی خبره کوې چې دخوارجو اوظالمانو لپاره داجائز شې چې زکاة واخلی اوپه خپلو ضروریاتو کې ئی مصرف کړی اوفقیرانوته ئی نه ورکوې پدې تاویل سره چې مونږ یعنی ولیان صاحبان فقیران یو مونږ ددی حقدار یو ؟

فانظر الخ وګوره دغه کس ته چې داخل ئی کړو په ایمان کې بل رکن پدی عبارت سره شیخ نظام الدین هروی ته چې مشهور په شیخ تسلیم دی اشاره کوی اوپه هذا الذی سره ورته اشاره تحقیراً کوی اوبیائی تاکید ددی په وصف سره څکه وکړو چې ده داجماع دامت دعلماء څخه مخالفت وکړو چې په ایمان کې یوبل رکن زیاتی کړو چې تسلیم دی په همدې وجه شیخ تسلیم سره مشهورشو یعنی دایمان ارکان یو اقرار باللسان دی اوبل تصدیق بالقلب دی دده په نزد یوبل رکن هم پکې زیاتی شته چې تسلیم اوانقیاد دی یعنی ایمان یواځی په اقرار باللسان اوتصدیق بالقلب سره نه پوره کیږی ترڅو چې تسلیم اوانقیاد پکې نه وی انه کیف نوشارح وائی چې دغه شیخ تسلیم دهدائی پدغه مذکوره عبارت باندې څنګ دلیل نیولی ده فسوغ چې جائز کړی ده دهرات والیانو ته دعشر اوزکاة اخستل بالصفة المعلومة په هغه مشهور طریقه سره بلکې په حاکمانو ئی داد زکاة اوعشر اخستل فرض کړی ؤ وحکم اودکفر فیصله ئی کړی وه من انکره په هغه چاچه ددی داخستلو دجواز څخه انکار کوی والصفة المعلومة اوهغه مشهوره طریقه ددوی داوه ان یحرض چې تیز کړی الاعونة خپل مددګاران چې والیان وغیره دی فی اخذ الخارج الخ په اخستلو دهغه حاصلاتو کې چې دځمکې څخه راوځی اصعافامضاعفة دوه چنده په څو چندو سره یعنی کومه اندازه چې الله

تعالی ورباندې فرض کړی دهغې ځخه هم زیاتی په ځو چنده سره **فيضعوا** نودوی کیږدی اومقرر کړی **على الملاك** دځمکې اومال په مالکانو **القيم** قیمتونه دحاصلاتو **ويأخذونها** اودوی اخلې دغه حاصلات وغیره دمالکانو ځخه جبراً وقهراً په ظلم اوزور سره **ويصرفونها** اوبیا داحاصلات داسې مصرفوی **كما هو عادة اهل الاسراف والاتراف** لکه ځرنګه چې دا عادت داسراف والادی اسراف اواتراف په وزن اومعنی کې یوشان دی.

ولاشيئ في مال الصبي التغلبي وعلى المرأة ما على الرجل منهم تغلب بكسر اللام ابو قبيلة والنسبة اليها تغلبي بفتح اللام استيحاشا لتوالي الكسرتين وربما قالوا بالكسر هكذا في الصحاح وبنو تغلب قوم من مشركي العرب طالبهم عمر ﷺ بالجزية فابوا وقالوا نعطي الصدقة مضاعفة فصولحوا على ذالك فقال عمر هذه جزيتكم فسموها ما شئتم فلما جراى الصلح على ضعف زكاة المسلمين لا تؤخذ من صبيانهم ولكن توخذ من نسوانهم كالمسلمين مع ان الجزية لا توضع على النساء.

توضيح المسئلة: ولاشيئ اوهیڅ شیئ نشته یعنی زکاة نشته په مال دماشوم دبنو تغلب قبیلې کې اما دځمکې په حاصل کې بیا دوه چنده دلسمی دی یعنی پنځمه ده لکه دمسلمان دماشوم په دځمکی په حاصلاتو کی ځمکه کې چې لسمه حصه ده **وعلى المرأة** اودبنو تغلب قبیلې په ښځه باندې هغه اندازه خراج دی چې ددوی په نارینه وی تغلب په کسری دلام سره دیوی قبیلې پلار دی اوچه کله نسبت هغی قبیلې ته کیږی نوتغلبی په فتحی دلام سره ویلی شې **استيحاشاً** دوجی دبدګنلو دتوالی اوپرلپسی والی دکسرو دیاء نسبتیه سره **وربما قالوا** اودیر کم کرتې دوی په کسری سره وائی **وبنو تغلب** اوبنو تغلب دنصاری دعربو ځخه یوه قبیله ده **طالبهم** مطالبه وکړه ددوی ځخه حضرت عمر ﷺ دجزیه **فابوا** هغوی انکار وکړو اووئی ویل چې مونږ صدقه دوچنده ورکوو کومه چې په مسلمانانو مقرره ده په دی باندې صلح وشوه اوحضرت عمر ﷺ ورته وویل چې داستاسې جزیه ده **فسموها** تاسې چې کوم نوم ورته ګدی کیږدی نی نوهرکله چې صلح په دوچنده دزکاة دمسلمانانو وشوه نودهغوی دماشومانو ځخه به نه شې اخستلې لکن دهغوی دښځو ځخه به اخستلی شې **كالمسلمين** یعنی لکه ځرنګه چې زکاة دمسلمانانو ماشومانو ځخه نه شې اخستلې او د زنانوو او نارینوو ځخه اخستلې شی **مع ان الجزية** سره ددینه چې جزیه په زنانو نه شې اینبودلی جزیه په دوه قسمه ده:

۱-چې په رضا مندی اوصلح سره وی نو په خومره چې صلح راغله نو همغه به مقرروی
۲-چې مسلمانان په زور سره په کفارو غلبه وکړی اوکفار په خپلو مالو پریږدی یعنی مالونه تری وانخلی نو په زیات مالدار باندې دکال ۴۸ درهمه دی چې په هره میاشت کې ۴درهمه دی اوپه درمیانه مالدار باندې دکال ۲۴درهمه دی چې په هره میاشت کې ۲ درهمه دی اوپه فقیر کسب گر باندې دکال ۱۲ درهمه دی چې دمیاشتی یودرهم راځی.

وجاز تقديمها لحول ولاكثر منه ولنصب لذى نصاب الاصل فى هذا ان المال النامى سبب لوجوب الزكاة والحول شرط لوجوب الاداء فاذا وجد السبب يصح الاداء مع انه لم يجب فاذا وجد النصاب يصح الاداء قبل الحول وكذا اذا كان له نصاب واحد حتى اذ ملك الاكثر بعد الاداء اجزاه ما ادى من قبل اما ان لم يملك نصابا اصلا لم يصح الاداء.

تحسين القول فى بيان تقديم الزكاة على الحول:

وجاز جائزده ورکول دزکاة مخکې دکال تیریدلو څخه یعنی چه په نصاب باندې دکال تیریدلو څخه مخکې زکاة ورکړی نو جائز دی **ولاكثر منه** همدارنګې دیوکال نه زیات لپاره هم صحیح ده یعنی چې ددوو کلو یاددینه زیاتو کلو زکاة مخکې ورکړی نو جائز دی خوشرط پکې دادی چې د اداء کولو په وخت کې دیو نصاب مالک وی **لذى نصاب** داقید دی دماقبل لپاره اومتعلق دی ترجاز پوری یعنی دزکاة ورکول مخکې دحولان څخه اومخکې دډیرو کلونو څخه اودډیر نصابونو لپاره جائزی دهغه کس لپاره چې خاوند دیو نصاب وی **الاصل** یونفس وجوب دی اوبل وجوب الاداء ده سبب دنفس وجوب لپاره مال نامی دی اووجوب الاداء دحولان سره ثابتیږی یعنی مال نامی سبب دی لپاره دوجوب دزکاة اوحولان حول شرط دی لپاره دوجوب داداء نو اداء صحیح ده **مع انه** سره ددی چې اداء واجب نه ده ځکه وجوب الاداء دحولان سره تعلق لري **فاذا وجد النصاب** نوکله چې نصاب وموندلی شي نودحولان حول نه مخکې هم اداء صحیح ده **وكذا** همدارنګې که یوسړی یونصاب ولری مثلا دوه سوه درهمه **فیؤدی** اودا اداء کړی زکاة دیونصاب څخه زیات یعنی له ده سره یونصاب وی اودازکاة ددوه یادری نصابو ورکړی نوداهم جائز دی ځکه اول نصاب په سببیت کې اصل دی اونور نصابونه تابع ددی شو **حتى اذا ملك** تردی که دزکاة ورکولو څخه وروسته دیونه زیات یعنی دډیرو نصابو خاوند شي **مثلاً** دوه دري **اجزاه** نوددی دوه دری نصابونو څخه کافی ده هغه

زکاة چې ده مخکې اداء کړې ؤ یعنی دڅونصابو زکاة ئې چې مخکې اداء کړې ؤ اوبیا هغه اندازه نصابونه موجود شو نوهغه مخکنی زکاة ددی کافی دی اوبیا ورکولو ته ضرورت نشته خوداپه هغه صورت کې چې دزکاة دورکولو په وخت کې دیونصاب خاوند وی اوکه دزکاة ورکولو په وخت کې دیونصاب خاندهم نه وی نوبیا دزکاة اداء کول بلکل صحیح نه دی ځکه سبب دوجوب نشته.

وهو للذهب عشرون مثقالاً وللفضة مئتاً درهم كل عشرة منها سبعة مثاقيل اعلم ان هذا الوزن يسمى وزن سبعة وهو ان يكون الدرهم سبعة اجزاء من الاجزاء التي يكون المثقال عشرة منها ان يكون الدرهم نصف مثقال وخمس مثقال فيكون عشرة دراهم بوزن سبعة مثاقيل والمثقال عشرون قيراطاً والدرهم اربعة عشر قيراطاً والقيراط خمس شعيرات.

كنزالحسنات فی ایتاءالزكاة:

مثقال هغه مقدار معین دی چې په هغې سره سره زر اندازه کولې شې مثقال اودینار یو شیئ دی خودینارد هغې روپۍ نوم ده چې دسروزرو څخه جوړه شوی وی په اندازه دمثقال باندې نونن زمانه کې دسروزرونصاب ۸۷ گرامه دی چې دشل ۲۰ مثقالو یادشل دینارو سره برابردی اودسپینو زرو نصاب ۵۸۰ گرامه دی چې ددوه سوه ۲۰۰ درهمو برابر راځی «فقه حنفی» په بل اعتبار د سرو زرو نصاب $7\frac{1}{2}$ اوه نیمی تولی دی اودسپینو زرو نصاب دوه پنځوس نیمی $52\frac{1}{2}$ تولی دی په شلو مثقالو سروزرو کې زکاة نیم مثقال دی چې داوسنیو لوتو په حساب څلویښتمه روپې زکاة اوپه سپینو زرو کې هم په څلویښت روپیو کې یوه روپې زکاة چې په دوه سوه روپیو کې پنځه روپې راځې كل عشرة الخ درهم دنبی ﷺ اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې په دری قسمه ؤ:

۱-چې لس قیراطه ددی دیودینار په شان ؤ دیته وزن دعشره وائی یعنی لس دراهمه په وزن دلس دینارو ؤ.

۲- ۱۲قیراطه ددرهمو دری خمس ددینار ؤ دیته وزن سته وائی یعنی هر لس درهمه په وزن دشپږو دینارو ؤ

۳- چې لس قیراطه ددرهم په اندازه دنیم دینار ؤ دیته وزن دخمسه وائی یعنی هرلس درهمه په وزن دپنځو درهمو راتلل بیا دخلکو په منځ کې په ورکړه اوراکړه کې نزاع راغله نو

حضرت عمر ﷺ دهرقسم څخه یودرهم راوخستلو اوسره یوځای ئی کړو اودری دراهم په یوه اندازه تری جوړ کړو نوهر درهم څوارلس (۱۴) قیراط راغې بحر الرائق، ۲ج ، ص۳۹۲.
چې هر لس درهمه په وزن د اوه وو (۷) مثقالو راځی چې دیته اوس وزن سبعة وائی دسبعة دامعنی چې یودرهم په اندازه د اوه وو (۷) هغو اجزاؤ اوحصو سره وی چې دهغې مقدار دلس اجزاؤ اوحصو څخه یومثقال راشې نوچه یودرهم اوه (۷) حصی شوی نولس درهمه اویا (۷۰) حصی راځې ۱۰×۷=۷۰ اود اویا حصو (۷۰) څخه اوه (۷) مثقاله راځې ۷۰÷۱۰=۷ای یکون الدرهم یعنی یودرهم نیم مثقال اوپنځمه حصه دمثقال راځې نولس درهمه په وزن دا اوو مثقالو راځی والمثقال او یو مثقال سل (۱۰۰) اوربشی دی ځکه یومثقال ۲۰ قیراطه دی اویو قیراط ۵ اوربشی راځی نواوه مثقاله اوه سوه اوربشی راځې . ۱-مثقال × ۲۰ قیراط ×۵ اوربشی = ۱۰۰ اوربشی ×۷ مثقاله = ۷۰۰ اوربشی اویودرهم دحضرت عمر ﷺ په حساب ۱۴ قیراط راځي اویوقیراط پنځه اوربشی نو ۱درهم ×۱۴قیراط ۵ اوربشی = ۷۰ ×۱۰درهمه = ۷۰۰ اوربشی نواوه مثقاله دلس درهمو سره برابر شو چې هر یو اوه سوه ۷۰۰ اوربشی راځې نودسروزرو نصاب اوه نیمی تولی اودسپینو زرو نصاب دوه پنځوس نیمی تولی (۵۲/۵)راځي کوم فرق چې تاسې په حاشیه لکهنوی کې له دی سره ګوری هغه دهندوستان دجمهورو علماؤ سره مخالف دی دلازیاتو معلوماتو لپاره اوزان شرعیه دمفتی محمد شفیع وګوری .

وفی معموله وتبره وعرض تجارة قیمته نصاب من احدهما مقوما بالانفع للفقراء ربع عشرای ان کان التقویم بالدراهم انفع للفقیر قوم عروض التجارة بالدراهم وان کان بالدنانیر انفع قومت بها ثم فی کل خمس زاد علی النصاب فاذا زاد علی مئتی درهم اربعون درهماً زاد فی الزکاة درهم واذا زاد ثمانون درهماً زاد درهمان ولاشیئ فی الاقل.

توضیح المسئلة: **وفی معموله** اوپه هغه څه کې چې دسروزرو اوسپینو زرو څخه جوړولې شې چې دراهم اودنانیر دی زیورات لوښی وغیره دی پدیکی زکاة څلویښتمه روپې ده **وتبرة** اوسپینو زرو کې تبر هغه ټوټو ته وائی چې یوشیئ تری جوړ شوی نه وی پدیکې هم څلویښتمه روپې زکاة دی **وعروض تجارة** جمع دعرض ده په سکون دراء سره ((بحر))هغه سامان ته وائی چې نه پیمانه کولی شې اونه تللی شې اونه حیوان وی اونه څمکه وی په هغه څه به قیمت کولې شې چه نصاب ته رسیږی فقه حنفی ص،۳۵۳،ج۲ ، اوصاحب البحر وائی چې

دعرض صحیح تفسیر داده چې مالیس بنقد چې هغه سامان ته وائی چې دراهمو اودنانیرو څخه ماسوا وی قید دتجارت ئی ځکه ورسره ولګولو چې که دتجارت لپاره نه وی بلکې دکور لپاره وی نوبیا پکې زکاة نشته «بحر». **قیمته** چې قیمت ددی عروضو نصاب وی **من احدهما** دیو دنقدینو څخه چې سره زر دی اوسپین زر دی یعنی په عروضو دتجارت کې هلته زکاة شته چې قیمت ددی نصاب ته رسیږی چې هغه نصاب دسروزرو وی اوکه دسپینو زرو وی یعنی په کوم یوسره چې ددی قیمت نصاب ته رسیده نوپه هغی سره به قیمت کړای شي **مقوماً** چې په هغه قیمت سره به قیمت کړی چې زیاته فائده رسونکې وی فقیرانو ته یعنی که دسروزرو په قیمت کې زیاته فائده وه نوعروض به په سرو زرو سره قیمت کړی اوکه سپینو زرو په قیمت کې زیاته فائده وه نوعروض به په سپینو زرو سره قیمت کړی **ربع عشر** دامبتداء ده دخبر مقدم لپاره چې **وفی معموله** دی سره دمعطوفاتو یعنی په معمولو دنقدینو کې اوپه تیرو ددیکی اوپه عروض دتجارت کې څلورمه دلسمی ده یعنی څلویښتمه حصه اوروپی ده **ای ان کان التقویم** داد مقوما بالانفع تفسیر کوی مونږ ددی وضاحت وکړو **ثم فی کل خمس** بیا په هره پنځمه حصه کې چې په نصاب باندې زیاتی وی زکاة شته په خپل حساب سره یعنی ددوو نصابونو ترمنځ چې کوم زیادت وی هغه ته کسر وائی اوپه کسر کې زمونږ په نزد زکاة نشته مګر هلته شته چې دنصاب پنځمی حصتی ته ورسیږی نصاب دوه سو ۲۰۰ درهمه دی ددینه که څه زیاتی شي نوپه هغې کې ترهغې پورې زکاة نشته چې دنصاب پنځمی حصی ته ورسیږی چې څلویښت درهمه دی نوکله چې دوه سوو ۲۰۰ څخه څلویښت ۴۰ درهمه زیات شو نوپه زکاة کې به یودرهم زیات وی اوکه دنصاب څخه اتیا (۸۰) درهمه زیات شي نوپه زکاة کې به دوه درهمه زیات وی **ولاشیئ فی الاقل** خوچه دپنځمی حصی څخه کم شي یعنی دڅلویښتو درهمو څخه نوبیا په هغی کې زکاة نشته.

وورق غلب فضة فضة وماغلب غشه یقوّم ونقصان النصاب فی الحول هدر ای لوکان له فی اول الحول عشرون دیناراً ثم نقص فی اثناء الحول ثم تم فی آخر الحول تجب الزکاة.

البحر الرائق فی بیان حکم الذهب والورق : ورق هغه سپینو زرو ته وائی چې څه شیئ تری جوړ شوی نه وی او بحر کې دورق معنی کړی اسم للمضروب من الفضة کما فی المغرب بحر(ص۱۹۹ج۲)،او معجم الوسیط کې بیا لیکلی چې دا دسپینو زرو نوم دی مضروبه وی اوکه غیرمضروبه وی والله اعلم.۱۲. غش کوشیئ چې له دی سره ګډ شوی وی نوپه ورقو

دسپينو زرو كه سپين زر غالب ؤ اومخلوط شيئ كم ؤ نوداپه حكم دسپينو زرو كې دى اوكه غش پرى غالب ؤ نو بيا داپه حكم دعروضو كې دى قيمت كولى به شې نوكه قيمت ئى نصاب ته ورسيده نوزكاة پكې فرض دى همدارنګې كه دسروزرو سره يوشيئ مخلوط وى كه سره زر زيات ؤ نوداپه حكم دسروزرو كې ده اوكه غش پكې زيات ؤ نودابيا په حكم دعروضو كې ده قيمت كولې به شې الخ.

ونقصان النصاب : اوكموالى دنصاب دكال په منځ كې هدر لغوه دى يعنى دزكاة دفرضيت لپاره دنصاب پوره والى دكال په دواړو طرفوكې شرط ده يعنى اول اواخر كې په اول كې دانعقاد لپاره او په انتهاء كې دوجوب لپاره نو په منځ دكال كې كه كموالى كې كموالى راشې نوهغې كموالى ته اعتبار نشته مثلاً دكال په اول كې ورسره شل (۲۰) ديناره ؤ بيا دكال په منځ كې كم شو بيا دكال په اخر كې پوره شو نوزكاة پرى واجب دى يعنى دټولو مال زكاة پرى واجب دى اوپه نن زمانه كې چې كوم لوټونه دروپيو دى داد حكومت له طرفه دقرض يوسند دى نوددى حكم په شان دحكم دسروزرو اوسپينو زرو دى دزيات معلومات لپاره فقه حنفى وګوره (ص، ۳۵۲،ج۲) صافى.

ويضم الذهب الى الفضة والعروض اليها بالقيمة هذا عند ابى حنيفة واما عندهما فبضم الذهب بالفضة بالاجزاء حتى لوكان له عشرة دنانير وتسعون درهما قيمتها عشرة دنانير تجب عنده لاعندهما اما اذا كان له عشرة دنانير ومائة درهم تجب باتفاقهم اما عندهما فلضم بالاجزاء واما عند ابى حنيفة فمائة درهم ان كان قيمته عشرة دنانير فظاهر وان كانت اكثر فكذ الوجود نصاب الذهب من حيث القيمة فتجب الزكاة وان كانت اقل يكون قيمة عشرة دنانير اكثر من قيمة مائة درهم ضرورة فتجب باعتبار وجود نصاب الفضة من حيث القيمة.

توضيح المسئلة : **ويضم الذهب** كله چې سره زر ياسپين زر ياعروض نصاب ته نه رسيږى نوسپين زر به دسروزرو سره يوځاى كړاى شې اوسره زربه دسپين زرو سره يوځاى كړاى شى همدارنګې هغه عروض چې دتجارت لپاره وى دهغې قيمت به دسرو زرو ياسپينو زرو سره يوځاى كولې شې همدارنګې ددى عكس هم جائز دى **بالقيمة** دسروزرو دسپينو زرو سره يادذى عكس به دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په قيمت سره يوځاى كولې شې اودصاحبينو په نزد سره زرو به دسپينو زرو سره په اجزاؤ سره يوځاى كولې شې **حتى لوكان** تردى كه يوسړى لس ديناره ولرى چې هغه دسره زرو دنصاب نيمائى دى اونوي (۹۰) دراهم ئى هم درلودل چې قيمت ئى

لس دینارو ته رسیده نو د امام صاحب رحمه الله په نزد زکاة پکښې واجب دی ځکه د سروزرو نصاب برابر دی خو د صاحبینو په نزد پدیکښې زکاة نشته ځکه یو نصاب پکښې پوره نه دی او معتبر په دواړو کښې اندازه ده نه قیمت او که یو سړی لس دیناره درلودل او سل درهمه نو بالاتفاق پری زکاة واجب دی د صاحبینو په نزد ځکه واجب دی چې ضم بالاجزاء راغلی ځکه لس دیناره نیم نصاب د سروزرو دی او سل درهمه نیم نصاب د سپینو زرو دی نو په یو ځای کیدو سره یو نصاب پوره شو او د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد د سل درهمو قیمت که لس دیناره ؤ نو پدیکښې خوښکاره زکاة واجب دی ځکه د سروزرو نصاب ئی برابر شو وان کانت اکثر او که د سل درهمو قیمت دلس دینارو څخه زیات ؤ نو بیا هم زکاة واجب دی لوجود ځکه د سروزو نصاب من حیث القیمت موجود دی وان کانت اقل او که د سل درهمو قیمت دلسْ دینارو څخه کم ؤ یکون نو دلس دینارو قیمت به خامخا زیات وی د سل درهمو د قیمت څخه نو زکاة پری واجب شو په اعتبار پدی با اعتبار سره چې د سپینو زرو نصاب موجود شو من حیث القیمت. ۱۲.

باب العاشر

باب دی په بیان د عاشر کښې عاشر په لغت کښې من عشرة القوم اعشرهم چې کله د قوم څخه د مالو عشر واخلي (بحر) همدارنګې نصف د عشر، ربع د عشر، خو عاشر پدی اعتبار ورته وائی، چې د عشر نوم په ټولو کښې راځی، او په اصطلاح کښې هو من نصب الخ.

هو من نصب علی الطریق لاخذ صدقة التجار وصدق مع الیمین من انکر منهم تمام الحول او الفراغ عن الدین او ادعی اداءه الی فقیر فی مصر فی غیر السوائم حتی اذا ادعی الاداء الی فقیر فی مصر فی السوائم لایصدق اذ لیس له فی السوائم الاداء الی الفقیر بل یأخذ منه السلطان ویصرفه الی مصرفه او عاشر آخر ان وجد فی السنة ای اذا ادعی اداءه الی عاشر آخر والحال ان عاشراً آخر موجود فی هذه السنة بلا اخراج البراءة ای لایشترط ان یخرج البراءة من الاخر بل یصدق مع الیمین.

تقریب الشوارد والنوافر فی بیان العاشر: د عاشر او ساعی ترمنځ فرق دادی چې ساعی هغې ته وائی چې د حکومت له طرفه قبائلو وغیره ته ولیږلې شي چې د هغې ساحې د مالو عشر وغیره د خلکو څخه واخلي او عاشر هغه کس ته وائی من نصب چې اودرول شوی وی د حکومت له طرفه په لاره باندې لاخذ الخ د دی لپاره چې د تجارانو څخه زکاة واخلي وصدق او تصدیق به کولې شي مع الیمین سره د قسم نه من انکر منهم د هغه کس چې انکار وکړی د تجارانو څخه

تمام الحول دپوره کیدو دکال اوالفراغ عن الدين یاانکار ددی وکړی چې دده مال فارغ دی دقرض څخه یعنی چې زما مال دقرض څخه فارغ نه دی یعنی که تجارانو کې یو کس دادعوه وکړی چې زما په مال کال پوره شوی نده یادادعوه وکړی چې زما مال دقرض څخه فارغ نه دی یعنی په ماباندی دومره قرض دی چې زما مال خوری نوپه دواړو صورتونو کې به دده تصدیق کولې شي خوسره دقسم نه یعنی قسم به وخوری چې زه پخپله دعوه کې رشتینی یم .
اوادعی یاتجار دادعوه وکړی چې مازکاة اداء کړی الی فقير یوغریب سړی ته فی مصر پخپل ښار کې نوددی تجار تصدیق به هم کولی شی فی غیرالسوائم خو په هغه مال کی چې دخیریدونکو څارویو څخه بغیر وی اوکه دادعوه ئی وکړه چې ماپخپل ښار کې یوفقیر سړی ته په سوائمو کې زکاة ورکړی دی نوبیا به ددی تجار تصدیق نه شي کولې اذ ليس ځکه تجار ته داحق نشته چې په سوائمو کې فقیر ته زکاة ورکړی بلکې حکومت به ئی تری اخلې اوپه خپل ځای کې به ئی مصرفوی .
اوعاشر آخر اویادی تجار دادعوه وکړه چې مازکاة بل عاشر ورکړی ده نوددی تجار تصدیق به سره دقسم نه کولې شي خوان وجد فی السنة که چیرته پدی کال کې بل عاشر موجود ؤ یعنی ددی عاشر څخه مخکې بل عاشرؤ اوکه بل عاشر نه ؤ اویائی معلومات نه کیده نوبیا به دده تصدیق نه شي کولې بلا اخراج البراءة . براءت دبل عاشر خط اودستخط خط ته وائی چې په عرف کې ورته چیټ یاسند وائی یعنی په تجار داشرط نه دی چې دهغه بل عاشر څخه چیټ راوړی بلکی دقسم سره به دده تصدیق کولې شي یعنی دده قسم هم دده تصدیق لپاره کافی ده اوچیټ ته ضرورت نشته .
فائده : اموال په دوه قسمه دی :
۱-ظاهره لکه څاروی اوهغه مال چې تجارئی په عاشر تیره وی .
۲- باطنه لکه سره زر سپین زر اودتجارت مال چې پخپل ځای کې ایښې وی نوحکومت لره واک صرف داموال ظاهر و شته نه دباطنوو «بحر الرائق ص، ۴۰۳، ج۲».

وما صدق فيه المسلم صدق فيه الذمي لا الحربي الا في قوله لامته هي امولدي اي اذا ادعى الحربي ان هذه الامة امولد يصدق ولا يأخذ منه شيئاً وأخذ من المسلم ربع عشر ومن الذمي ضعفه ومن الحربي العشر ان بلغ ماله نصابه ولم يعلم قدر ما اخذ منا اي لم يعلم قدر ما اخذ منا اهل الحرب اذ امر تاجرنا عليهم وان علم اخذ مثله ان كان بعضاً لا كلا اي ان علم قدر ما اخذ منا اهل الحرب

فعاشرنا يأخذ من الحربي مثل ذلك ان كان بعضاً حتى انهم لوأخذوا كل اموالنا فعاشرنا لايأخذ كل اموال الحربي المار.

توضيح المسئلة: په کومو خبرو کې چې دمسلمان تاجر تصديق کولې شي نوپه هغې خبرو کې به دذمي کافر تصديق هم کولې شي ځکه دذمي څخه دوچنده دمسلمان اخستلې شي نوپده کې به هم ددغه خبرو لحاظ وی **لاالحربي** خودحربي کافر تصديق به په يوه خبره کې هم نه شي کولې دمذکوره خبرو څخه اونه به دده خبرو ته څه نظر کولې شي.

الا في قوله لامته، مګر دحربي داخبره به منلی شي چې دوينزی په باره کې ووائی، چې دازما ام ولده ده، اودتجارت لپاره نه ده، نوپدی کې به دده تصديق کولې شي **اوعاشر** به دده څخه يوشيئ هم نه اخلې **وأخذ** اودمسلمان تاجر څخه څلورمه دلسمې به اخلې يعنی څلويښتمه **ومن الذمي** اوذمي کافر څخه به دوچنده ددی يعنی نيم دلسمی چې شلمه روپۍ راځې **ومن الحربي** اودحربي کافر څخه به لسمه اخلې **ان بلغ ماله نصاباً** داقيد ددری واړو سره دی يعنی په مسلمان تاجر باندې څلويښتمه روپۍ زکاة اوپه ذمي کافر باندې شلمه روپۍ زکاة اوپه حربي کافر باندې لسمه روپۍ زکاة په هغه صورت کې ده چې ددوی مال نصاب ته رسيدلی وی **ولم يعلم** اودهغې اندازی معلومات نه وی چې کوم زمونږ دمسلمان تاجر څخه حربيان اخلې **وان علم** اوکه دهغې اندازی معلومات ؤ نوبيا به دحربي تاجرانو څخه همغه اندازه زمونږ عاشران هم اخلې **ان كان بعضاً** خوکه حربيانو زمونږ دتاجرانو څخه بعض مال اخستی ؤ لاکلا اوکه حربيانو زمونږ دتاجرانو څخه ټول مال اخستی ؤ نو زمونږ عاشر به دحربيانو دتاجرانو څخه ټول نه اخلې ځکه مونږ ته شريعت په ښکلو اخلاقو سره امر کړی اوکه حربيانو زمونږ دتجارانو څخه هيڅ شيئ نه اخسته نو زمونږ عاشر به هم ددوی دتجارانو څخه هيڅ نه اخلی ځکه مونږ ددوی څخه په ښو اخلاقو سره زيات حقدار يو .**الحربي المار**، هغه حربي چې تيريدونکې وی زمونږ په ښار باندې اوپه عاشر باندې .۱۲.

ولامن قليله وان اقربيا في النصاب في بيته القليل مالا يبلغ النصاب ولايأخذ شيئاً منه ان لم يأخذوا شيئاً منا الضمير في لم يأخذوا يرجع الى اهل الحرب وان لم يذكر هذا اللفظ ولو عشر ثم مر قبل الحول ان جاء من داره عشر ثانياً والا فلا اى ان اخذ من الحربي العشر ثانيا وان كان راجعاً من دارنا الى داره لايؤخذ منه شيئ.

توضيح المسئلة: ولامن قليله، اودحربي تاجر څخه به دهغه مال څخه زمونږ عاشر څه نه اخلي . چې له نصاب څخه کم وي ، وان اقر،اګر چې حربي تاجر پدې اقرار وکړي ، چې باقي نصاب زماپه کور کې دی ، القليل ، په بحث دزکاة کې دقليل څخه مراد دادی چې نصاب ته نه رسيږي، ولايأخذ اوزمونږ عاشر به دحربي تاجرانو څخه څه شيئ نه اخلي ، که حربيانو زمونږ دتاجرانو څخه څه نه اخستل ، ځکه مونږ دهغوی څخه په ښو اخلاقو زيات حقداريو ، الضمير، شارح وائي چې په ، لم ياخذوا ، کې ضمير اهل الحرب ته راجع دی وان لم يذکر اګر چې اهل الحرب صراحتاً ذکر نه دی بلکې ضمناً ذکر دی خوداهم دارجاع دضمير لپاره کافي ده ، ولوعشر که يوحربي کافر څخه عشر واخستلې شي ، ثم مر، بيادکال تيريدلو څخه مخکې دغه تجار په عاشر تير شي نوکه داخل هم ددار الحرب څخه راغلي ؤ عشر ثانيا نودويم ځل به تری عشر واخستلې شي والا فلا اوکه دادويم ځل د دارالحرب څخه راغلي نه ؤ بلکې ددار الاسلام څخه دار الحرب ته روان ؤ يا ددار الاسلام ديوښار څخه بل ښارته تلونو بيا به ترى هيڅ شيئ نه شي اخستلې . ۱۲ صافي .

وعشر خمر ذمي لاخنزيره مربهما اوبأحدهما هذا عندابي حنيفة رحمه الله واما عندالشافعي رحمه الله لايعشرهما وعند زفر يعشر كل واحد وعندابي يوسف ان مربهما يعشرهما فجعل الخنزير تبعا للخمر وان مربالخمر منفرداًيعشرها وان مربالخنزير منفرداًلا والفرق عندناان الخنزيرمن ذوات القيم فأخذ قيمته كأخذه والخمرمن ذوات الامثال فأخذ القيمة لايكون كاخذ العين.

توضيح المسئلة: وعشر اوعشر به واخستلې شي دشرابو دذمي څخه دعشر نه مراد شلمه حصه ده ځکه دذمي څخه نصف العشر اخستلې شي اودحربي تاجر څخه لسمه اخستلې شي لاخنزيره خودذمي دخنزير څخه به عشر اخستلې نه شي ، مر بهما ، چې دغه کافر تجار دواړه يعني شراب اوخنزير زمونږ په عاشر تير کړي ، اوبأحدهما يايو ددواړو څخه تير کړي دا دامام صاحب مذهب دی يعني دامام صاحب په نزد به دشرابو عشر تری واخستلې شي اودخنزير عشر به نه شي اخستلې برابره خبره ده چې دواړه زمونږ په عاشر تير کړي يايو . ،واما عندالشافعي رحمه الله اوداامام شافعي رحمه الله په نزد به نه دشرابو عشر اخستلې شي اونه دخنزير ځکه دادواړه په اسلام کې شرعاً قيمت نه لري اونه ددی ذات زمونږ لپاره روا دی اوددی قيمت اخستل داسې دی لکه ددی ذات اخستل .

وعند زفر اما زفر وائی چې ددواړو عشر به واخلې ځکه داهر یو اگر چې شرعاً قیمت نه لری خوددی قیمت اخستل داسې نه دی لکه ددی دذات اخستل اودکفارو په نزد قیمت لری نوددی حفاظت په مونږ باندې لازم دی نو ددغې حفاظت په خاطر به مونږ تری عشر اخلو وعند ابی یوسف اوامام ابویوسف رحمه الله وائی که زمونږ په عاشر ئی دواړه تیر کړو نوددواړو عشر به اخلې فجعل نوامام ابویوسف خنزیر تابع دشرابو گرځولې دی ، اوکه یواځې شراب تیر کړو ، نوبیابه دهغې عشر واخلې اوکه یواځې خنزیر ئی تیر کړو نو بیا به عشر نه اخلې ، والفرق ددی فرق څه دی چې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دشرابو عشر اخستلې شې اودخنزیر نه شې اخستلې؟

جواب : شیان په دوه قسمه دی :

۱-هغه چې مثل لری دیته ذوات الامثال وائی لکه مکیلی او موزونی شیان چې ددی دهلاکت په صورت کی به مثل ورکوی.

۲-هغه چې مثل نه لری چې دیته ذوات القیم وائی لکه حیوانات جامی وغیره نوخنزیر دذوات القیم څخه دی نوددی دقیمت اخستل داسې دی لکه عین دخنزیر اخستل اودخنزیر اخستل دمسلمان لپاره حرام دی نوددی قیمت هم حرام دی اوشراب دذوات الامثال څخه دی نوددی دقیمت اخستل په عشر کې داسې نه دی لکه عین دشرابو اخستل چې په مسلمان حرام دی نودشرابو عشر به تری اخلې. ۱۲.

ولابضاعة ولامضاربة ای مرّ المضارب بمال المضاربة لایؤخذ منه شیئ وکسب مأذون الاغیر مدیون معه مولاه ای ان مرّ عبد مأذون فان کان مدیوناً لایؤخذ منه شیئ وان لم یکن مدیوناً فکسبه ملك لمولاه فان کان المولی معه تؤخذ منه الزکاة وان لم یکن المولی معه لاتؤخذ.

توضیح المسئلة: ولابضاعة الخ ، بضاعة په لغت کې دمال یوی حصی ته وائی اوپه اصطلاح کې هغه مال ته وائی چې دمال مالک ئی یوانسان ته ورکړی دتجارت لپاره خوگټه ټوله دمالک وی اودتجار لپاره یوشیئ نوی اومضاربت دیته وائی چې دمال مالک څه مال دتجارت لپاره یوکس ته ورکړی اوگټه سره شریکه وی نوپدی دواړو صورتوکې که په عاشر باندې دبضاعة مال یادمضاربت مال تیر شې نوددوی څخه به عشر نه شې اخستلې ځکه دادواړه قسمه مال دتاجر په لاس کې امانت دی اودده ملکیت نه دی اوپه امانت کې عشر نشته .

وکسب مأذون اوعشر به نه شې اخستلې دهغه مال نه چې گټلې وی مأذون غلام مگر په هغه

صورت کې به عشر ترې اخستلې شي چې داغلام قرض دار نه وی اودده سره خپل بادار موجود وی ،ماذون غلام دیته وائی چې بادار ورته دتجارت لپاره اجازه کړی وی .

ای ان مر یعنی که یوماذونْ غلام په عاشر تیر شي اوداغلام قرض دار ؤ نوبیا به دده څخه عشر نه شي اخستلې **وان لم یکن** اوکه قرض دارنه ؤ نوبیا دده ګټه دبادار ګټه ده نوکه بادار ورسره ؤ نوزکاة به ترې واخستلې شي ځکه د مال مالک په خپله موجود دی اوکه بادار ورسره نه ؤ نوبیا به زکاة ترې نه شي اخستلې ځکه دامال بیا دمأذون غلام په لاس کې امانت شو.

﴿باب الرکاز﴾

رکاز په کسرى دراء سره په لغت کې اثبات اوخښولوته وائی په معنی دمذکور سره یعنی خښ کړای شوی سره رکاز عام دی شامل دی معدنٓ اوکنز ته خورکاز حقیقت دی په معدن کې اومجاز دی په کنز کې ځکه معدن په خاورو کې پیدایشی خښ وی اوکنز دمجاورت په خاطر ځکه کنز دبنده له طرفه ایخودلی شوی وی .

الرکاز هوالمال المرکوز فی الارض مخلوقاً کان اوموضوعاً والمعدن ماکان مخلوقاً والکنز ماکان موضوعاً معدن ذهب اونحوه وجد فی ارض خراج اوعشر خمس وباقیه للواجد ان لم تملك ارضه والا فلمالکها ولاشیئ فیه ان وجد فی داره وفی ارضه روایتان ولافی لؤلؤوعنبروفیروزج وجد فی جبل وکنز فیه سمة الاسلام کاللقطة ومافیه سمة الکفر خمس وباقیه للواجد ان لم تملك ارضه والا فللمختط له ای للمالك اول الفتح ورکاز صحراء دارالحرب کله لمستأمن وحده ای اذا دخل تأجرنا دارالحرب بامان فوجد فی صحرائها رکازاً فکله له وان وجد فی دارمنها رده الی مالکها وان وجد رکاز متاعهم فی ارض منها لم تملك خمس وباقیة

له الابراز فی بیان الرکاز:

الرکاز هغه مال ته وائی چې په ځمکه کې خښ شوی وی پیدائشی وی اوکه چا ایښی وی **والمعدن** هغه مال ته وائی چې الله تعالی په ځمکې کی پیدا کړی وی **والکنز** هغه مال ته وائی چې چا ایخی وی په ځمکه کې .

معدن ذهب : دسروزرو معدن اوداسې نور معدنونه چې وموندلې شي په خراجي یاعشری ځمکه کې نوددی څخه به امام پنځمه حصه واخلې اوباقی به دموندونکې وی، **ان لم تملك و**

خوپدی شرط چې دغه ځمکه دچا په ملکیت کې نه وی اوکه دچاپه ملکیت کې وه نوبیا به دخمس داخستلو څخه وروسته نورمال دځمکې دخاوندوی داداامام ابوحنیفة رحمه الله څخه یوروایت دی ولاشیئ فیه اوهیڅ نشته یعنی خمس په هغه معدن کې نشته چې چا په خپل کور کې وموندو ځکه داهم دکور یوه حصه ده نودکور مالک چې څوک وی هغه به دمعدن مالک هم وی ، وفی ارضه په مملوک ځمکه کې داامام ابوحنیفة رحمه الله څخه دوه روایته دی په یو روایت کې دځمکې اودکور ترمنځ فرق نشته یعنی په دواړو کې خمس واجب نه دی ځکه ځمکه هم په ټولو اجزاؤ سره دده په ملکیت کې راغلې اومعدن هم دځمکې یوه حصه ده نوپدیکې خمس واجب نه دی اوپه بل روایت کې دځمکې اوکور ترمنځ فرق شته هغه داسې چې په کور کې مؤنة یعنی عشر اوخراج نه وی نوخمس هم پکې نشته نوټول معدن به دموندونکې وی یعنی دکور دمالک اوپه ځمکه کې مؤنة دعشر اوخراج شته نودځمکې په معدن کې به هم خمس وی دامسائل په هغه صورت کې چې معدن په دارالاسلام کې موجودشې اوکه په دارالحرب کې موجود شې نوکه ځمکه دچاپه ملکیت کې نه وه نوبیا په هغې کې خمس نشته اوټول دموندونکې کیږی «بحر ۲، ۴۱۰.» اوخمس به بیت المال ته سپارلې شې خوکه مور اوپلارئی غریب ؤ یائی بچیان غریب ؤ نوبیا ئی دوی ته هم ورکولې شې همدارنګې که داسړی پخپله غریب ؤ نودائی هم پخپلو ضرورتونو کې لږولې شې لکه څرنګه چې غنیمت مجاهد په خپل حوائجو کې لږولی شې بحر «۴۰۹، ۲» ولا فی لؤلؤ اوهمدارنګې خمس نشته په ملغلرو کې وعنبر اوپه عنبروکې خمس نشته دایوقسم بوټی اوګیاه ده چې په دریاب کې راشنه کیږی اویا دبحری حیوان خوشائی دی .

وفیروزج اوپه فیروزه کې خمس نشته فیروزه یوه ځلیدونکې تیږه ده چې په غرو کې موندلې شي «بحر ۲، ۴۱۲.» په فیروزه کې ځکه خمس نشته چه دادغره تیږه ده اوپه تیږه کې خمس نشته اوپه مرغللواوعنبروکې ځکه خمس نشته چې دادریاب څخه راویستلې شي اوداامام ابوحنیفة رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نزد هرزیورات چې ددریاب څخه راویستلې شي په هغې کې خمس نشته ځکه ددریاب په بیخ باندې دچا تصرف نه وی اودوجوب دخمس لپاره شرط تصرف دی اوداامام ابویوسف رحمه الله په نزد په ټول هغه څه کې چې ددریاب څخه راویستلې شي خمس واجب دی ځکه پدې باندې دبادشاه لاس بری دی «بحر ۲، ۴۱۲» وجد فی جبل داصفت دی دفیروزج لپاره یعنی چې په غره کې وموندلی شي وکنز اوهغه خزانه فیه سمة الاسلام چې په هغې

کې علامه د اسلام موجوده وی لکه د کلمې شهادت لیکل یا وغیره **کاللقطة** د اپه حکم دلقطه کې ده لقطه دیته وائی چې په یو داسې ځای کې یوشیئ وموندلې شې چې د هغې مالک معلوم نه وی نو دهغې اعلان به خلکو ته کوی که خاوند ئی معلوم شو نوورته ئی کړی او که معلوم نه شو نو که موندونکې په خپله غریب ؤ نو په خپلو ضروراتو کې به ئی راولې او که غریب نه ؤ نو بل فقیر ته دی ورکړی نو داسې خزانه چې په هغې علامه د اسلام موجوده وی دلقطې حکم لری **ومافیه** او په کومه خزانه کې چې علامه دکفر موجوده وی لکه دبت نقش وغیره نو پدیکې خمس واجب دی اوباقی دموندونکې لپاره ده **ان لم تملك الخ** خو پدی شرطه چې داځمکه دچاپه ملکیت کې نه وی والا او که داځمکه دچاپه ملکیت وه **فللمختط له** نو بیا داخزانه دمختط له لپاره ده مختط له دیته وائی چې بادشاه دیو ښار دفتح کولو په ورځ دیو کس لپاره څه ځمکه مقرره کړی چې دا ستا شوه او خط یا څه علامه تری تاؤ کړی چې دا دفلانی حصه شوه نو دطرفینو په نزد دا دمختط لپاره ده او دامام ابویوسف رحمه الله په نزد دموندونکی لپاره دی ورکاز او هغه خزانه چې په دشتهددار الحرب کې وموندلې شې نوداټول یواځې دمستأمن لپاره دی یعنی چې زمونږ یو تاجر دارالحرب ته په امان یعنی ویزی سره داخل شې او هلته په یوه دشته کې خزانه پیدا کړی نو داټوله دهمدی موندونکې ده **وان وجد** او که مستامن د دار الحرب په یو کور کې خزانه وموندله نو دکور مالک ته به ئی وسپاری او که ددوی دکور څه خزانه لکه قلعي پیتل ، اوسپنه وغیره په داسې یوه ځمکه کې وموندلې شې چې دچاپه ملکیت کې نوی نو ددی څخه با خمس واخستلی شی اوباقی به دموندونکی وی ۱۲.

﴿باب زکاة الخارج﴾

داباب دی په بیان دزکاة دهغه څه کې چې دځمکې څخه راوځي.

فی عسل ارض عشرية اوجبل وثمرة وماخرج من الارض وان لم يبلغ خمسة اوسق ولم يبق سنة وسقاه سيح اومطر عشر عشر مبتدأ وقوله فی عسل ارض خبره وهذا عند ابی حنیفة رحمه الله **واما عندهما وعند الشافعی** رحمه الله **ليس فيما دون خمسة اوسق صدقة والوسق ستون صاعاً والصاع ثمانية ارطال وايضاً ليس عندهم فی الخضروات صدقة ولافيما لم يبق سنة صدقة واعلم ان عند ابی حنيفة يجب فی الخضروات صدقة يؤدها المالك الی الفقير لانه يأخذها السلطان هكذا فی الاسرار للقاضی الامام ابی زيد الدبوسی** رحمه الله.

الثلج البارد فی زکاة الخارج:

فی عسل په هغه شاتو کې چې دعشری ځمکې وی اوجبل یادغره وی وثمرة اوپه میوو دغره کې وماخرج اوپه هغه حاصلاتو کې چې دځمکې څخه راووځی وان لم یبلغ اګر چې پنځه وسقوته رسیدلی نه وی ولم یبق سنة اګرچې یو کال نه پاتې کیږی . وسقاه سیح اواوبه کړی دی فصل لره سیلاب اومطر یا باران عشر نوپدي شیانوکې عشر یعنی لسمه حصه ده خلاصه داده چې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد په شاتو کې عشرواجب دی لږ وی اوکه ډیر وی اوامام ابویوسف رحمه الله وائی چې په شاتو کې هلته عشر واجب دی چې لس (۱۰) زقو ته ورسیږی زق یولوښی ته وائی چې دڅرمنی څخه جوړولې شې چې کوچیان ورته ځای وائي چې پدغه زق کې ۳۷/۱۰ کیلو ګرام شات ځائیږی چې لس ازقاقه ۳۷۱ کیلو ګرامه کیږی اوامام محمد رحمه الله وائی چې په شاتو کې هلته عشر واجبیږی چې پنځه فرقو ته ورسیږی چې یوفرق ۳۲ رطله راځي اویورطل ۱۳۰ درهمه کیږی اولورطل ۳۷۷ ګرامو برابر راځي اویوفرق ۱۲ کیلو او ۵۷۲ ګرامه راځي نو دپنځو فرقو اندازه ۲۷ کیلو او ۸۲۰ ګرامه راځي .

فقه حنفی ۱،۳۵۹)) اوپه شاتو کې هلته عشر واجب دی چې مچۍ په عشری ځمکه کې وخریږی اګر که غر وی اوکه خراجي ځمکه کې وخریږی نوپه هغې کې نه عشر شته اونه خراج شته فقه حنفی ۱، ۳۲۰)) اودغره په میوه کې هلته عشر واجب دی ، چې ددی حفاظت پادشاه دکفارو اوباغیانو اوغلو څخه وکړی اوکه حفاظت ئی ونه کړی نوبیا پکې عشر نشته اودځمکې په حاصل کې چې په باران یا نهر باندې اوبه کیږی عشر واجب دی لږ وی اوکه ډیر وی اویوکال پوری پاتې کیدای شي اوکه نه شي پاتي کیدلې لکه ترکاری وغیره پدې ټولو کې عشر دی . اودصاحبینو په نزد عشر واجب نه دی مګر په هغه څه کې چې یو کال پوری بی له څه علاج نه اوبی له څه مشقت نه پاتې کیدلې شي لکه غنم اوربشې خرما وغیره اوبل داچه حاصل پنځو وسقو ته ورسیږی نوددوی په نزد په ترکاری کې عشر نشته ځکه چې هغه دیوکاله پوری نه شي پاتې کیدلي اوهمدارنګې دپنځو وسقوڅخه په کم حاصلاتو کې هم عشر نشته یووسق ۶۰ صاع دی اویو صاع ۳ کیلو او ۱۲ ګرامه دی فقه حنفی ،ص، ۳۷۸، ۳۹۷،۳۵۷ ،ج،۱ . ۶۰×۳/۱۲-۱۸۰/۹۶کیلو ګرام × ۵ وسق - ۹۰۴/۸ کیلو ګرامه دادامام شافعی رحمه الله هم یوقول دی فقه حنفی ((ص، ۳۵۷ ،ج، ۱)) واعلم دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد په ترکاری کی دعشر واجبیدلو مقصد دادی چې داعشر به ددی مالک فقیرته اداء کوي نه

داچه بادشاه به ئی اخلي خودغه سابقه اختلاف دامام صاحب اوصاحبينو ترمنځ په دوه شيانو کې دی

۱-نصاب شرطوالي دصاحبينو په نزد اونه شرطوالی دامام صاحب رحمه الله په نزد

۲- چې ددی بقاء تريوکاله پوری وی داشرط دصاحبينو په نزد نه دامام صاحب په نزد اما په عشر اونصف عشر کې دهيڅا اختلاف نشته اوراجح قول دامام ابوحنيفة رحمه الله دی ۱۲فقه حنفی ((ص،۳۵۸،ج.۱)).

الا في نحو حطب كالقصب والحشيش وفيما سقى بغرب اودالية نصف عشر بلارفع مؤن الزرع اى تجب الوظيفة وهى عشر الكل اونصفه لا انه يرفع مؤن الزرع كاجر الحصاد ونحوه ثم يعطى الوظيفة وهى عشرالباقي اونصفه.

توضيح المسئلة: **الا في نحو** مگر عشرواجب نه دی په هغه شيانو کې چې په شان دلرګيو وی لکه درمی و ګياه ، وغيره څکه پدي سره اکثراً دځمکې ګران والي مقصد نه وی يعنی اکثره خلک داددی لپاره نه کرئ چې خرڅ ئی کړی اوروپۍ پری واخلي خوکه چا دخرڅ په نيت وکرل اوخرڅ ئی کړل نو بيا پديکې عشر واجب دی ((بحر ۲، ۴۱۵)) دقصب نه مراد هغه کرکې يادرمی دی چې قلمونه تری جوړولی شي اما دقصب نه ګنی مراد نه دی څکه په ګنيو کې عشر واجب دی **وفيما سقى** اوپه هغه فصل کې چې اوبه کيږی **بغرب** په لويي بوقی سره **اودالية** يا په وړی بوقی سره لکه دارټ منګې چې په غوايه سره ګرځی **نصف عشر** نيم دعشر دی چې شلمه حصه راځي همدارنګې دنن زماني جرنيټرونه په ديکې شامل دی اوکه دکال څه حصه په بوقه وغيره سره اوبه شي اوڅه په نهر ياباران يادنهر په اوبو اوبه کيده نوبيا پديکې عشر دی اوکه اکثره په بوقو يا جرنيټرونو باندې اوبه کيده نوبيا پديکې شلمه ده اوکه دواړه برابر ؤ نوبيا پديکې شلمه حصه ده ((بحر ،ص، ۴۱۲،ج،۲)).

بلارفع يی له پورته کيدو **مؤن الزرع** دمشقت اوتاوان دفصل نه يعنی په ټول فصل کې به وظيفه يعنی عشر يانصف عشر واجب وی اودفصل مشقت اوتاوان به تری نه شي لری کولې **كاجر الحصاد** لکه دلوګرو يا دنورو مزدورانو مزدوری همدارنګه دغوايانو اوترکټور مزدوری وغيره تری نه شي لری کولې مثلا ديوکس سل (۱۰۰) منه غنم وشو اوشل (۲۰) منه غنم تاوان کې لاړل نودفصل مالک به دسل (۱۰۰) منو غنمو عشر يانصف عشر ورکوې داسې به نه کوې چې يوځل تری تاوان اوچت کړی **ثم يعطى الوظيفة** ،اوبيا دباقی حاصل عشر يانصف

عشر ورکړی ځکه نبی ﷺ چې دغه وظیفی ته فرق ورکړي چې لسمه اوشلمه ده د وجی دهغه مؤنة اومشقت د اوبونه نوکه مونږ نورتاوان تری هم اوچت کړو نوبیا به واجب یوشیئ وګرځي چې لسمه حصه ده اوشلمه حصه به ختمه شي ځکه دلسمي نه چې شلمي ته وظیفه راښکته شوی نوداد مؤنت دوجی نه اوکله چې تری تاوان اوچت کړای شي نوبیا خوپکي مؤنة پاتي نه شو نوبیا به دهمیشه لپاره عشر یعنی لسمه حصه وی اوحال داچې شریعت داوبو دمؤنة په سبب عشر اونصف عشر وظیفة مقرره کړیده.

وخمس تغلبی له ارض عشر رجله وطفله وانثاه سواء وان اسلم او شراها مسلم او ذمی اعلم ان العشر یؤخذ من اراضی اطفالنا فیؤخذ ضعف ذلك من اراضی اطفالهم ولایسقط عنهم العشر المضاعف بالاسلام عند ابی حنیفة رحمه الله وکذا عند محمد رحمه الله واما عند ابی یوسف رحمه الله فیوخذ عشر واحد.

توضیح المسئلة: خمس اوپنځمه حصه به واخستلې شي دهغه تغلبی نه له ارض عشر چې عشری ځمکه ولری ددی ځمکې مالك سړی وی ماشوم وی اوکه ښځه وی ټول یوبرابر دی اګر چې داتغلبی اسلام راوړی اوشراها اویا داځمکه ددی تغلبی څخه واخلې مسلمان سړی یاذمی سړی نوبیا به هم پدیکې خمس وی دلته دری مسائل دی (۱) چې عشری ځمکه تغلبی واخلې نوپدیکې خمس دی په اجماع دصحابوو سره چې مصنف پدی الفاظو تری تعبیر کړی له ارض عشر.

۲-چې تغلبی اسلام راوړی نوبیا به هم خمس ورکوی ځکه دغه خمس ددی ځمکې وظیفه ده دتغلبي داسلام څخه به وروسته هم پاتې کیږي چې مصنف پدي الفاظو تری تعبیر کړي وان اسلم. ۳- چې ددی تغلبی څخه ئی یومسلمان یاذمی واخلې نوبیا به هم خمس وی ځکه ددی ځمکې وظیفه مسلمان اوذمی ته منتقل کیږی اومسلمان اګر چې ابتداء دخمس لائق نه دی خوبقاءً لائق دی اعلم ان العشر زمونږ دماشومانو دځمکو څخه هم عشر اخستلی شی نو د تغلبیانو د ماشومانو دځمکی څخه به دوچنده ددی اخستلې شي چې پنځمه حصه راشي او داسلام په راوړلو سره به ددوی څخه داخمس نه شي لری کولې داداامام ابوحنیفة رحمه الله اوامام محمد رحمه الله مذهب دی اوداامام ابویوسف رحمه الله په نزد په دغی دوه وو صورتوکې یعنی چې تغلبي اسلام راوړي اویا داځمکه ددی تغلبي څخه مسلمان واخلې یوعشر دی ځکه دعشر ددوه چندی لپاره علت کفرؤ اوهغه لري شو نوتضعیف به هم نه وی

(بحر الرائق ص، ۴۱۲، ج، ص).

واخذ الخراج من ذمی اشتری عشریة مسلم وعشر مسلم اخذها منه شفعة اوردت علیه لفساد البیع ای ان اخذها من ذمی شفعة اواشتری الذمی من المسلم العشریة ثم ردت علی المسلم لفساد البیع عادت عشریة کما کانت وفی دار جعلت بستاناً خراج ان کانت لذمی اولمسلم سقاها بمائه ای بماء الخراج وان سقاها بماء العشر عشر.

توضیح المسئلة: اوخراج یعنی ټکس به اخستلې شي دهغه ذمي څخه چې دیو مسلمان څخه عشری ځمکه واخلې اوعشر به تری نه شي اخستلې ځکه عشر کې معنی دعبادت شته نودکافر څخه به نه شي اخستلې بلکې خراج به تری اخستلې شي ،**وعشر مسلم** ، اودهغه مسلمان څخه به عشر اخستلې شي چې دیوذمی څخه ځمکه په شفعی سره واخلې یعنی چې یوذمی په بل ذمی ځمکه خرڅه کړی اودمسلمان په هغې کې حق دشفعی ؤ اودمشتری څخه ئی ځمکه وګرځوله نودا ځمکه هم عشری وګرځیدله **اوردّت علیه** او یا مسلمان ته ځمکه بیرته واپس شوه دوجې دفساد دبیع څخه یعنی یوذمی دمسلمان څخه عشری ځمکه واخستله بیا دوجې دفساد دبیع څخه مثلاً یوشرط دشروطو دبیع پکې نه ؤ بیرته مسلمان ته واپس شوه نوداځمکه لکه څرنګه چې مخکې عشری وه اوس هم عشری ده وفی دار کوم کور چې باغ وګرزولې شي نوپدیکې خراج دی که دذمی ؤ برابره خبره ده چې په عشری اوبو اوبه شوی وی اوکه په خراجی اوبو اوبه شوی وی ځکه کافر اهل دخراج دی نه د عشر اولمسلم همدارنګه که داکور دمسلمان ؤ نوبیاهم پکې خراج دی خوپه هغه صورت کې چې په خراجی اوبوئی اوبه کړی اوکه په عشری اوبوئی اوبه کړی نوبیا پکې عشر دی .

وماء السماء والبیر والعین عشری وماء انهار حفرها الاعاجم خراجی کنهر یزدجر ونحوه وکذا سیحون وجیحون ودجلة والفرات عندابی یوسف رحمه الله وعشری عند محمد رحمه الله ولاشیئ فی عین قیرونفط فی ارض عشروفی ارض خراج فی حریمها الصالح للزراعة خراج لافیها ای ان کان حریم العین صالحاً للزراعة یجب فیه الخراج لافی العین.

توضیح المسئلة: مصنف رحمه الله دعشری اوبو اوخراجی اوبو ترمنځ فرق بیانوی چې کومې اوبه دکفارو په تصرف کې وې اوبیا مسلمانانو تری په هغې په زوره قبضه وکړله نوداخراجی دی اوددی څخه ماسوا عشری دی لکه دباران اوبه دکوهیانو اوبه دچینو اوبه اودهغه دریاب اوبه چې دچاپه تصرف کې نه وی عشری دی اودهغه نهرونو اوبه چې دعجمو کفارو ویستلې وی اوبیا

مسلمانان په هغی تصرف وکړی په زور سره نودا خراجی دی لکه دیزدجر نهر وغیره ،یزدجر دایران دپاچاهانو څخه اخرنی پاچاؤ چې دحضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کې ووژلي شو.

وسیحون دترکو دنهر نوم دی جیحون دبلخ دنهر نوم دی دجلة دبغداد دنهر نوم دی فرات دکوفی دنهر نوم دی نوداخلور نهرونه دامام ابویوسف رحمه الله په نزد هم خراجی دی پدی وجه چې دا امکان شته چې په دی تصرف راشي هغه داسې چې کشتئ یودبل سره وتړل شي اوپل تری جوړ شي اودامام محمد رحمه الله په نزد داخلور نهرونه عشری دی ځکه پدی باندې دچاتصرف نه شي راتللې ، ولاشیئ فی عین قیر،اوهیڅ شیئ نشته په چینه دقیر کې ونفط اوپه چینه دګازوکې چې په عشری ځمکه کې وی ، وفی ارض خراج،اوپه خراجې ځمکه کې فی حریمها دچینی په هغه حریم کې چې دزراعت لپاره صالحه وی خراج دی لافیها خوپه چینه کې خراج نشته . صافی.

﴿باب المصارف﴾

داباب دی په بیان مصارفو دزکاة کې یعنی په کوم ځای کې چې زکاة اوعشر لګولې شې اوورکولې شې مصارف دزکاة وغیره اته قسمه دی چې وروسته به ذکر شې خو مؤلفة القلوب تری ساقط دی اودامؤلفة القلوب دری قسمه ؤ :

۱-یوه ډله وه چې نبی صلی الله علیه وسلم ددی لپاره زکاة وغیره ورکولو چې ددوی داسلام سره مینه پیداشې.

۲-دویم ډله داسې وه چې نبی علیه السلام دوی ته زکاة وغیره ددی لپاره ورکولو چې ددوی له شر څخه بچ شې.

۳-دریم قسم داسې خلک ؤ چې اسلام ئی راوړی ؤ خوکمزوراتیا پکې وه نونبی صلی الله علیه وسلم ددی لپاره زکاة ورکولو چې په اسلام مضبوط شي «بحر ص، ۴۱۹،ج۲»فقه حنفی . دنبی صلی الله علیه وسلم درحلت څخه وروسته دحضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه په خلافت کې حضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه اوحضرت عمر رضي الله عنه ته دغه ډلی راغللی چی مونږ ته خپل سهم راکړی نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمائیل چې نبی علیه السلام تاسې ته زکاة ددی لپاره درکولو چې دستاسې مینه داسلام سره پیداشي امانن ورځ الله جل جلاله اسلام ته عزت ورکړی دی نوزمونږ اوستاسی ترمنځ نشته مګر توره یااسلام بیا دوی حضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه ته راغلل اوورته ئی وویل چې ته خلیفه ئی اوکه حضرت عمر رضي الله عنه نوحضرت ابوبکر رضي الله عنه دحضرت عمر رضي الله عنه رای تصویب کړه اودهغوي سهم ئی باطل کړو دابه حضور دډیرو صحابوو کې وه نودا اجماع

شو په سقوط د مؤلفة القلوب د زکاة څخه.

سوال: د مؤلفة القلوب سهم په قران سره ثابت دی نو د صحابوو په رايو سره د دوی سهم څرنګه منسوخ کولې شي دا خو نسخ د کتاب الله راځي په رای د صحابوو سره او دا صحيح نه ده ؟

جواب: دا نسخ نه ده بلکه دا حکم انتهاء ته ورسيدو په وجه دانتهاء د سبب د دی سره يعنی په وجه دانتهاء د سبب سره انتهاء د حکم راغله.

منهم الفقير وهو من له ادنى شيئ والمسكين من لاشيئ له وعامل الصدقة فيعطى بقدر عمله والمكاتب فيعان فى فك رقبته ومديون لايملك نصاباً فاضلاً عن دينه وفى سبيل الله وهو منقطع الغزاة عند ابى يوسف رحمه الله ومنقطع الحاج عند محمد رحمه الله وابن السبيل وهو من له ماله لامعه.

تحفة الفقهاء والغزاة فى بيان مصارف الزكاة:

منهم الفقير بعض د مصارفو د زکاة څخه فقير دی فقير هغه چاته وائی چې کم شيئ ولري يعنی د نصاب څخه کم وی او يا د نصاب په اندازه وي خو غير نامی وي يعنی زيادت پکې نه راځی او په حاجت اصلی کې مشغول وی **والمسكين** دويم مسکين دی مسکين هغه چاته وائی چې هيڅ شيئ نه لري **وعامل الصدقة** او دريم هغه کس دی چې مقرر وی په راجمع کولو د صدقو يعنی زکاة باندې **فيعطى** نو ده ته به ورکولې شي په اندازه د کار د ده نو هغه عامل ساعی وی او که عاشر وی د دی فرق مخکې ذکر شويدی **والمكاتب** څلورم هغه کس دی چې بادار ورسره عقد کتابت کړی وی يعنی که تا دومره مال ماته راکړو نو ته دی ازاد ئی **فيعان** نو د دی مکاتب سره به امداد کولې شي **فى فك رقبته** په ازادولو د غاړه د ده کې چې د بادار د غلامی څخه د ده غاړه خلاصه شي. **ومديون.**

او پنځم هغه کس دی چې قرض دار دی چې د دومره نصاب خاوند نه وی چې هغه د ده د قرض څخه زيات وی او په ايات کې د غارم څخه همدا مديون مراد دی او غارم هغه چاته وائي چې پر ده باندې قرض وی او د پوره کولو طاقت ئی نه وی په فتاوی ظهيريه کې راغلي چې زکاة ورکول هغه کس ته چې قرض ورباندې وي غوره دی د فقير څخه «بحر ص، ۲، ۴۲۲».

وفى سبيل الله او شپږم قسم د مصارفو د زکاة هغه خلک دی چې د الله تعالى په لاره کې وي د دی څخه څوک مراد دی د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد فی سبيل الله څخه د مجاهدينو فقراء چې د مجاهدينو څخه وروسته پاتې شوي وي مراد دی څکه چې فی سبيل الله مطلق ذکر شي

نومراد ترې مجاهدين وي اوامام محمد رحمه الله په نزد دفي سبيل څخه مراد هغه حاجي دي چې دنورو حاجيانو څخه وروسته پاتې شوي وي چې نه سورلې ورسره وي اونه خوراكې مواد ورسره وي.

دريم قول دادی چې دفي سبيل الله څخه مراد ددينی علومو طالبان دی په شرنبلاليه كې همدی ته ترجيح وركړی ده ځكه دبوی رتبی طلب كونكي هم دطالب العلم رتبی ته نه شي رسيدلې نودفي سبيل الله تفسير په طالب العلم سره ډير غوره دی همداوجه ده چې طالب العلم كه غنى هم وي دزكاة اخستل ورته جائز دی اوپه بدائع كې ليكلي چې دفي سبيل الله څخه مراد ټول ثوابونه دی نوهرهغه څوك چې دالله ﷻ په تابعداری كې كوشش كوی اوپه نيكو لاروكې منډې وهي نوهغه ټول په في سبيل الله كې داخل دی «بحر ،ص، ۴۲۲،ج،۲»فقه حنفي ص،۳۲۷ ،۳۷۲۷،ج،۱ .». وابن السبيل : اووم قسم دمصارفو دزكاة څخه مسافر دی مسافر هغه چاته وائی چې پخپل وطن كې مال لری خودده سره نه وی دخپل مال په وجه غنى دی خوپه سفر كې فقير دی نوده ته زكاة وركول جائز دی اوابن السبيل ځكه ورته وائی چې دادلاری سره لازم دی همدارنګه كه په خپل وطن كې ؤ اوپه خلكو دده ډير قرضونه ؤ خو په اخستلو ئی قادر نه ؤنوداهم يداً فقير دی اګر چې ظاهراً غنى دی نوده ته زكاة اخستل جائز دی. ۱۲صافی.

وللمزكى صرفها الى كلهم اوالى بعضهم احترازعن قول الشافعي رحمه الله اذعنده لابد ان يصرف الى جميع الاصناف فيعطى من كل صنف ثلثة لان اقل الجمع ثلثة ونحن نقول اذا دخل اللام على الجمع ولايمكن حملها على المعهود ولاعلى الاستغراق يرادبها الجنس وتبطل الجمعية كمافى قوله تعالى ولايحل لك النساءمن بعد فههنا لايراد العهد ولاالاستغراق لانه ان اريد هذا فلابدان يراد ان جميع الصدقات التي في الدنيا لجميع الفقراء الى آخره فلايجوزان يحرم واحد وليس هذا في وسع احد على انه ان اريد جميع الصدقات لجميع هؤلاء لايجب ان يعطى كل صدقة جميع الاصناف ولا ان يعطى ثلثة من كل صنف فصاركقوله الصدقة للفقيروالمسكين الى اخره ولايراد ان الصدقة مقسومة على هؤلاء لانها ان قسمت على الاصناف فما اصاب الفقير لاشك ان يطلق عليه اسم الصدقة فيجب ان يكون مقسوماً ايضاً بخلاف ماذاقال ثلث مالى للفقراء والمساكين فعلم ان المراد بيان المصرف لاالقسمة.

توضيح المسئلة: وللمزكي اوزكاة وركونكي ته داجائز دی چې زكاة وركړی ټولو ډلو مذكوروته اويابعض ددوی ته هرډله چې وی اوامام شافعي رحمه الله وائی چې زكاة به ټولو ډلوته وركوی

اوبیا به دهری ډلی شخه دری کسانوته ورکوي ځکه الله ﷻ هره ډله په صیغی دجمعی سره ذکر کړي ده او اقل دجمع دري دی ونحن نقول، مونږ د امام شافعی رحمه الله په جواب کې وایو چې اصل په لام کې داده چې دا دعهد لپاره وی که دعهد امکان نه ؤ نو داستغراق لپاره به وی او که داستغراق امکان هم نه ؤ نو دجنس لپاره به وی په مفرد داخل وی او که په جمع داخل وی او کله چې دجنس لپاره شي په جمع کې نو معنی دجمعیت باطلوی او مراد تری نفس جنس وی نو په ایات دمصارفو کې کوم لام چې الصدقات او الفقراء باندې دی په لام عهد خارجی سره نشي حمل کیدلې ځکه په خارج کې کوم معهود نشته اونه په استغراق باندې حمل کیدلې شي ځکه پدیکې لوی حرج دی او دادهیڅا په وسع او طاقت کې نشته ځکه ددی مقصد بیا داراځی چې ددنیا ټول صدقات به ټولو فقیرانو ته ورکولې شي او هیڅوک به تری محرومه کولې نه شي او داخودهیڅا په وسع کې نشته نوضروری ده چې دالام دجنس لپاره شي نوبیا جمعیت باطلوی نومعنی به ئی داسې شي چې جنس صدقه دجنس فقیر اومسکین وغیره لپاره ده نودلته جمعیت نشته چې اقل دجمع دری مراد شي لکه پدی ایات کې هم لایحل لك النساء من بعد. په نبی ﷺ دنهو (۹) بیبیانو شخه وروسته بل واده کول حرام شو نوددی ایات معنی داشوه چې حلال نه دی تاله ای محمد ﷺ جنس ښځه ددی نهو شخه وروسته او دامعنی مراد نه :ه چې تاته حلاله نه ده هریوه ښځه دټولی دنیا دښځو شخه ځکه داد چاپه وسع کې نشته اونه کوم معهود دلته مراد ؤ چې فلانی ښځه تاته حلاله نه ده .

علاانه علاوه دمخکې دلیل شخه راکه لام په استغراق حمل شي نودا هم زمونږ دمذهب تائید کوی هغه داسې چې الصدقات هم جمع راغلې او الفقراء الخ هم جمع راغلې اوجمع چه په مقابله دجمع کې راشي نوفائده کوی تقسیم داحادو په احادو باندې چې صدقه به دفقیر لپاره وی دمسکین لپاره به وی الی اخره اودانه فائده کوی چې هره صدقه به ټولو صنفونوته ورکوی اوبیابه ئی په هرصنف کې دری کسانوته ورکوي لکه څرنګه چې دامام شافعی رحمه الله مذهب دی . ولایراد امام شافعی رحمه الله وائی چې په للفقراء کې لام داستحقاق اوتقسیم لپاره دی ځکه کله چې اضافت دصدقی په حرف لام سره هغه چاته وشي چې دهغه شخه ملک صحیح وی نواستحقاق اوملک یاتقسیم فائده کوی لکه یوسړی وصیت وکړی چې زما دریمه حصه مال به فقراؤ اومساکینو ته ورکولې شي نوداد بیان دتقسیم لپاره دی نوداجائز نه دی چې یوه ډله تری محرومه کړی نوشارح رحمه الله په امام شافعی رحمه الله رد وکړو چې

مجهول كس صلاحيت داستحقاق نه لري دويم داچه لام داختصاص لپاره دی نه دملک اواستحقاق لپاره بل داچې تمليک دمجهول خو هم صحيح نه دي دريم داچې لام په الرقاب اوفی سبيل الله کې نشته نوخلاصه داچې لام دبيان دمصرف لپاره دی نه داستحقاق لپاره اوتقسيم لپاره ځکه که صدقه په ټولو احنافو تقسيم شې نوکومه صدقه چې فقيرته ورسيده نوبلاشکه دغی صدقی ته هم صدقه وائی نوپکار ده چې بيا دغه صدقه دوباره په نورو فقيرانو تقسيم کړای شې بخلاف ماداجواب کوی ددليل دامام شافعی رحمه الله نه چې کوم کس وصيت وکړی چې زما دريمه حصه مال به فقراؤ اومساکينو ته ورکولې شې نودلته لام دبيان دمصرف لپاره نه دی بلکې دبيان دتقسيم لپاره دی نويوه ډله به هم تری نه محرومه کوی ځکه دابيا مخالفت راځې دقصد اوارادی دوصيت کونکې نه اما په ايات دمصارفو کې لام دتقسيم لپاره نه دی بلکې دبيان دمصرف لپاره دی..

لاالی بناء مسجد وکفن ميت وقضاء دينه وثمن مايعتق لانه لابد ان يملك احد المستحقين فلهذا قال فی المختصر فيصرف الی الكل اوالبعض تمليكاً ولاالی من بينهما ولادة اوزوجية ای لايعطی اصله وان علاوفرعه وان سفل ولايعطی الزوج زوجته ولاالزوجة زوجها ومملوكه ایّ مملوك المزكی وعبداعتق بعضه وغنيّ ومملوكه ای مملوك الغنی والمراد غير المكاتب اذ يجوز ان يؤدی الی مكاتب الغنی وطفله ای طفل الرجل الغنی.

توضيح المسئلة: **لا الی بناء مسجد** اوزکاة به نه شې لګولې په جوړولو دمسجد کې همدارنګې به دمړی په کفن کې هم زکاة نه شې لګولې وقضاء دينه همدارنګې په زکاة سره دمړی قرض پوره کول هم جائز نه دی ځکه په دری واړو صورتونو کې تمليک نشته اوپه زکاة کې تمليک شرط دی مګر که يوفقير ئی قبض کړی اوپه مسجد کې ولګولې نوبيا جائز دی اويائی دمړی ولي ياوکيل قبض کړی اودمړی په کفن کې ياد مړی په قرض کې ولګولې نوبيا داجائز دی ((فقه حنفی ص، ۳۷۱، ۱)).

وثمن مايعتق اودزکاة ورکول جائز نه دی په قيمت دهغه غلام کې چې ازادولی شې يعنی چې دزکاة په روپيو غلام واخلې اوازاد ئی کړی اويا دا چې په ده ازاد کړای شې يعنی چې دزکاة په روپيو يو غلام واخلې چې خپلوان ولې محرم وی نوددی غلام په اخستلو سره هغه ازاد شو خو زکاة صحيح نه شو **لانه لابد** دادليل دعدم صحت دزکاة بيانوی په مذکوره جهتونو کې چې په زکاة کې تمليک شرط دی اوپه مذکوره صورتونو کې دزکاة مستحقين مالک نه

ګرځي فلهذا نو دهمدې وجې څخه ئې مختصر الوقايه كې ليكلې چې زكاة به ټولو ډلو ته يابعض ډلوته ورکړی خوپه طريقه دتمليک سره يعنې چې هغه ددې مالک وګرځي ولاالی من اوزكاة به نه ورکوی هغه کس ته چې ده اودهغه ترمنځ علاقه دولادت وی يعنی اصل خپل ته به ئې ورکوی چې هغه پلار ،نيکه ،غورنيکه اګر که پورته وی همدارنګه مور، نيا، اګرکه پورته وی همدارنګه فرع ته به ئې نه ورکوی لکه زوی دزوی زوی اګر که ښکته وی همدارنګه لورته دلورلورته اګر که ښکته وی اوزوجية يادذوی ترمنځ علاقه دزوجيت وی يعنی خاوند به ئې خپلې ښځې ته زكاة نه ورکوی اوښځه به خاوند ته زكاة نشې ورکولې.

ومملوكه اوزكاة ورکونکې به خپل مملوک ته زكاة نه ورکوی وعبد اعتق بعضه اوهغه غلام ته به زكاة ورکونکې زكاة نه ورکوی چې زكاة ورکونکې څه حصه دده ازاده کړې وی ځکه داسې غلام ((معتق البعض)) په منزله دمكاتب دی اوخپل مكاتب ته زكاة ورکول جائز نه دی وغنی اومالدارته زكاة ورکول جائز نه دی ومملوكه اودمالداره سړی غلام ته هم زكاة ورکول جائز نه دی والمراد خودمملوک نه مراد هغه غلام دی چې مكاتب نه وی ځکه دمالداره سړی مكاتب ته زكاة ورکول جائز دی ،وطفله اودمالداره سړی ماشوم ته هم زكاة ورکول جائز نه دی ځکه دمالداره سړی ماشوم چې ورکوټی وی هغه دپلار په وجه هم مالدار ګڼلې شې ځکه دپلار اودځوی ترمنځ منافع متصلې وی ۱۲. صافی عفی عنه.

وبني هاشم وهم ال علی ﷺ وعباس وجعفر وعقيل والحارث بن عبدالمطلب ومواليهم اى معتقی هؤلاء ولاالی ذمی وجاز غيرها اليه اى جاز ان يصرف الی الذمی صدقة غيرالزكاة دفع الی من ظن انه مصرف فبان انه عبده اومكاتبه يعيدها وان بان غناه اوكفره اوانه ابوه اوابنه اوهاشمی لم يعد خلافاً لابی يوسف رحمه الله وحبب دفع مايغنيه عن السؤال ليوم وكره دفع مئتی درهم الی فقير غيرمديون ونقلها الی بلد آخر الا الی قريبه اوالی احوج من اهل بلده.

توضيح المسئلة: اوزكاة ورکول جائز نه دی بنی هاشموته چې هغه اولاده دحضرت علی ﷺ ده دحضرت عباس ﷺ ده دحضرت جعفر ﷺ ده دحضرت عقيل ﷺ ده اودحضرت حارث بن عبدالمطلب ده حضرت عباس ﷺ دنبی ﷺ تره دی اوحضرت حارث ﷺ هم دنبی ﷺ تره دی اوحضرت علی ﷺ اوحضرت جعفر ﷺ اوحضرت عقيل ﷺ درې واړه سره ورونه دی اودابوطالب زامن دی چې دنبی ﷺ دتره زامن راځي نوزكاة دحضرت عباس

رضی اللہ عنہ اولادی ته او د حضرت حارث رضی اللہ عنہ اولادی ته او ابو طالب اولادی ته نشي ورکولې اودینه ماسوا که نور هاشمیان وی نوزکاة ورکولې شي لکه دابواللهب اولاده اودغه حرمت په واجباتو کې دی لکه زکاة نذر عشر .کفاره اما په نفلی صدقو یاوقفی کې بنی هاشموته هم ورکول جائز دی «فقه حنفی .ص، ۳۷۱،ج، ۱» بحرالرائق ص، ۴۳۰،ج۲».

ولاالی ذمی اوزکاة ورکول جائز نه دی ذمی ته ځکه نبی ﷺفرمائی چې دمسلمانانو مالدارو څخه زکاة واخلې اوددوی په فقیرانو ئی تقسیم کړی نوکه زکاة ذمی ته ورکړل شي نودادنبیﷺ دامر مخالفت راځي **وجاز غیرها** الخ خو دزکاة څخه ماسوا نورصدقات ذمی ته جائز دی .**دفع الی من ظن** یوسړی داسې یوکس ته زکاة ورکړو چې دده غالب ګمان داوو چې داد زکاة مستحق دی **فبان انه** بیا وروسته معلومه شوه چې دادده ځپل غلام ۇ یادده مکاتب ۇ نوبیا به دوباره زکاة ورکړی ځکه په زکاة کی تملیک کامل شرط دی اوهغه پدی صورت کی رانغی وان بان اوکه دامعلومه شوه ، چې داغنی دی اویا کافر دی یادده پلار ۇ یادده ځوی ۇ اویاهاشمی ۇ نوبیا دوباره دزکاة ورکول ورباندې نشته .

خلافاً لابی یوسف رحمہ اللہ دامام ابویوسف رحمہ اللہ په نزد به دوباره زکاة ورکوی ځکه دده ګمان په یقین ډول خطاء دی خوعلماء ددی داجواب کوی چې دده په ګمان هم داکس حقدار دزکاة ۇ اوهمدا دده په وس کې ۇ **وحبب** یعنی مستحب ده چې فقیرته دومره اندازه زکاة ورکړل شي چې دده کافی شي **یغنیه** اوفقیر لره بی پروا اوخلاص کړی دسوال څخه دیوی ورځی **وکره دفع** مأتی درهم الخ خودنصاب په مقدار یاددی څخه زیات ورکول مکروه دی اماکه قرض دار وی یاډیر عیال دار وی نوبیا پروانه کوی «فقه حنفی ،ص، ۳۷۲،ج۱» **ونقلها** اودزکاة نقل کول بل ښار ته هم مکروه دی مګرکه هلته ئی خپلوان فقیران وی نوبیا پرواه نه کوی **او الی احوج** اویا دهغه بل ښار خلک ددی ښار دخلکو څخه زیات محتاجه اوفقیران وی نوبیا هم پروانه کوی یاپه بل ښار کې زیات نیکان خلک وی یادمدرسې طالبان وی نوبیاهم دزکاة وړل بل ښار ته څه پروا نه کوی «بحر ص، ۴۳۲،ج، ۲».

باب صدقة الفطر

باب دی په بیان دصدقی دواړه اخترکې.

په کوم کال چې رمضان فرض شوی په همغی کال کې نبی ﷺ ددی امر وکړو چې دزکاة دفرضیت څخه مخکې ؤ ((بحر ص، ۴۳۸، ج، ۲)).

وهی من بر اودقیقه اوسویقه اوزبیب نصف صاع ومن تمر اوشعیر صاع مما یسع فیه ثمانیة ارطال من مج اوعدس الصاع کیل یسع فیه ثمانیة ارطال فقدر بثمانیة ارطال من المج وهو الماش اومن العدس وانما قدر بهما القلة التفاوت بین حباتهما عظما وصغرا وتخلخلاً واکتنازاً بخلاف غیرهما من الحبوب فان التفاوت فیها کثیر غایة الکثرة.

توجیه الفکر فی بیان صدقة الفطر:

وهی مصنف رحمه الله پدی عبارت سره کمیت اومقدار دصدقة الفطر بیانوی **من بر** چې دغنمو څخه **اودقیقه** یا دوړو دغنمو څخه **اوسویقه** یادستوانو دغنمو څخه **اوزبیب** یا دممیزو څخه **نصف صاع** نیمه پیمانه ده **ومن تمر** اودخرما څخه **اوشعیر** یاداوربشو څخه **صاع** یوه پیمانه ده **مما یسع** مصنف وائی چې دصاع کومه اندازه معتبره ده ؟

نوپه **مما یسع** سره ئی وضاحت کوی چې هغه صاع معتبره ده چې اته رطله یعنی چی زمونږ په افغانی پاؤ سره تقریباً یو پاؤ راځی مَیْ چی عام طور وریجو کی پخولی شی مې **اوعدس** یا دال پتی پکې ځائیږی . یوه صاع دامام ابوحنیفة رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نزد اته رطله دی په رطل عراقی سره اودامام ابویوسف رحمه الله په نزد یوه صاع پنځه رطله اودریمه حصه دیورطل ده په رطل مدنی یاحجازی سره اوهمدا قول دامام شافعی رحمه الله امام مالک رحمه الله اوامام احمد بن حنبل رحمه الله دی خوبعض علماء وائی چې دعراقی اومدنی صاع ترمنځ فرق نشته ځکه امام ابویوسف رحمه الله صاع په رطل مدنی سره اندازه کړی ده اودرطل مدنی وزن زیات دی درطل عراقی څخه ځکه رطل مدنی دیرش استاره دی اورطل عراقی شل استاره دی نوچه اته رطله عراقی دپنځو رطلو اودریمه حصه دیورطل سره مقابله کړی نودواړه یوبرابر دی اوهمدا قول صحیح دی فقه حنفی ،ص، ۳۷۸ج، ۱ ،)) **الصاع کیل** صاع یوه پیمانه ده چې اته رطله پکې ځائیږی **فقدر** خودصاع اندازه په اته رطلو دماش یعنی مَیْ یادال پتیو سره

شوی ده پدی دواړو ځکه اندازه شو چې ددی دواړو ددانو ترمنځ ډیرکم فرق دی عظما په غټ والې کې وصغرا په ورکوټوالی کې وتخلخلا په تش والی کې وا کتنازاً اوپه ډک والې کې بخلاف غیرهما ددی دواړونه ماسوا نورو دانو ترمنځ ډیر زیات فرق دی.

وانی قد وزنت الماش والحنطة الجیدة المکتنزة والشعیر وجعلتها فی المکیال فالماش اثقل من الحنطة والحنطة من الشعیر فالمکیال الذی یملاء بثمانیة ارطال من المج یملاء باقل من ثمانیة ارطال من الحنطة الجیدة لانه ان قدر بالحنطة الجیدة المکتنزة فطلما یجعل فیه ثمانیة ارطال من مثل تلك الحنطة یملاء بها وان کان یملاء باقل من تلك الحنطة اذا کانت الحنطة متخلخلة لکن ان قدر بالمج یکون اصغر من الاول ولا یسع فیه ثمانیة ارطال من انواع الحنطة فیکون الاول احوط.

توضیح المسئلة: شارح وائی چې **قد وزنت الماش** چې ما مَیٰ وزن کړی **والحنطة الجیدة** اوهغه ښه غنم **المکتنزة** چې ډک وی **والشعیر** اواوربشې اوپه پیمانه کې می بیا واچولې نومئ دغنمو څخه درندی وی اوغنم داوربشو څخه دراندهٔ **فالمکیال** نوهغه پیمانه چې په اتو رطلو دمئ باندې ډکیږی نوهغه پیمانه به په هغه غنمو سره چې ښه اوډک وی داتو رطلو څخه په کمو باندې ډکې کیږی مثلا په شپږو یا اوه رطلو سره به ډکې کیږی **فالاحوط** نواحتیاطی خبره داده دپیمانې په اندازه کولو کې چې پیمانه په اتو رطلو دډکو اوښو غنمو سره اندازه کړای شی ځکه کله چې پیمانه په ډکو اوښوغنمو سره اندازه کړای شې **فکلما** نوهرکله چې پدی پیمانه کې بیاهمداسی ډک اوښه غنم واچولی شې نوپیمانه پدی سره ډک کیږی اگر چې په متخلخل یعنی پوچو اوسپکو غنمو سره ددینه په کمو سره ډک کیږی لکن لکن که صاع په مَیٰ سره اندازه کړای شې نودمی صاع به ورکوټی راشې دغنمو دصاع څخه اودمی په صاع کې بیا اته رطله غنم نه ځائیږی **فیکون** نوچه صاع په غنمو اندازه کړای شې داغوره ده دهغې صاع نه چې په میو سره اندازه کړای شې ځکه په عباداتو کې عمل په زیاتو باندې داحتیاط اوغوره خبره ده.

ثم اعلم ان هذا الصاع هوالصاع العراقی واما الحجازی فهو خمسة ارطال وثلث رطل فالواجب عند الشافعی رحمه الله من الحنطة نصف صاع من الحجازی وعندنا نصف صاع من العراقی وهومنوان علی ان المن اربعون استاراً والاستار اربعة مثاقیل ونصف مثقال فالمن مائة وثمانون مثقالاً ومنوان براً جاز خلافاً لمحمد رحمه الله فان عنده لابد ان یقدر بالکیل.

توضيح المسئلة: اعلم شارح رحمه الله وائي چې کومه صاع مصنف رحمه الله ذکر کړيده نوداصاع عراقی ده او حجازی صاع پنځه رطله اودريمه حصه درطل ده نوداامام شافعی رحمه الله په نزد په غنمو کې نيمه صاع واجب ده په صاع حجازی سره اوزمونږ داحنافو په نزد نيمه صاع واجب ده دصاع عراقی څخه وهو دانيمه صاع دوه منه ده اومن ۴۰ استاره دی يو ½ استار څلورنيم مثقاله دی نومن ۱۸۰ مثقاله شو، په بل اعتبار سره يورطل ۲۰ استاره دی يو ¼ استار ( ) مثقاله دی ¼ ۴ نو ۲۰× ( ) = ۹۰ مثقال اودوه رطله يومن کيږی نو ۹۰ مثقاله ×۲=۱۸۰ مثقالو سره اونيمه صاع دوه منه ده نو ۱۸۰×۲منه = مساوی له نصف صاع سره. اودګرامو په حساب سره يوه صاع ۳ کيلو او ۱۲ ګرامه راځي چې نيمه صاع يوه نيمه کيلو ½ ۱) اواته ګرامه راځی ((فقه حنفی ص، ۳۷۸، ج، ۱)) ومنوان هرکله چې په صاع کې اختلاف ؤ چې صاع عراقی ده اوکه اختلافی ده نوپوره اعتبار وزن ته هم نشته خودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد که چا نيمه صاع غنم من حيث الوزن ورکړل يعنی دومنه نوداهم جائز ده لکن امام محمد رحمه الله وائي چې اعتبار پيمانی ته دی يعنی نصف صاع به خامخا په پيمانی سره اندازه کولې شي تردی که چاپه وزن سره څلور رطله يعنی دوه منه ورکړل نوداجائز نه دی ځکه بعض غنم درانده وی نصف صاع ته نه رسيږی.

واداء البر فی موضع يشتری به الاشياء احب وعند ابی يوسف رحمه الله اداء الدراهم احب وتجب علی حر مسلم له نصاب الزكاة وان لم ينمو وقد ذكرنا فی اول كتاب الزكاة ان النماء بالحول مع الثمنية اوالسوم اونية التجارة فمن كان له نصاب الزكاة ای نصاب فاضل عن حاجته الاصلية فان كان من احد الثمنين اوالسوائم اومال التجارة تجب عليه الصدقة وان لم يحل عليه الحول وان كان من غير هذه الاموال كدار لايكون للسكنی ولا للتجارة وقيمتها تبلغ النصاب تجب بها صدقة الفطر مع انه لاتجب بها الزكاة وبه تحرم الصدقة فهذا النصاب نصاب حرمان الزكاة ولايشترط فيه النماء بخلاف نصاب وجوب الزكاة.

واداء البر دغنمو ورکول يا داوربشو ورکول په هغه ځای کې چې پدی سره شيان اخستلې شي غوره دی يعنی په سرسايه کې دعين غنمو وغيره ورکول غوره دی اوکه دغنمو وغيره قيمت غوره دی ؟ نومصنف ووئيل چې په کوم ځای کې په غنمو اواوربشو سره شيان ورکولې شي نوهلته دغنمو اواوربشو ورکول غوره دی لکن دامام ابويوسف رحمه الله په نزد ددراهمو ورکول غوره دی ځکه پدی سره دفقير حاجت ښه پوره کيږی.

وتجب اوسرسايه واجبيږی په اصيل مسلمان باندې په غلام اوپه کافر باندې نشته **له نصاب**

الزكاة چې دغه مسلمان خاوند دنصاب وى وان لم ينم اگر چې دا مال نامى نه وى يعني زيادت پکښې نه راځې وقد ذكرنا شارح وائى چې مونږ دكتاب الزكاة په اول كې ذكر كړل چې نمو اوزيادت په كال سره دڅمنينو سره لكه په سروزرو اوسپينوزرو كې راځې يادسوم يعنې څرولو سره راځې په څارويو كې اويا په نيت دتجارت سره راځې په نورو عروضو كې فمن كان نوكه له چاسره نصاب دزكاة ؤ يعني هغه نصاب چې دحاجت اصلي څخه زيات وى نوكه دانصاب يو دڅمنينو څخه اويا دسوائمو څخه ؤ اويا مال دتجارت څخه ؤ نوپده باندې صدقه فطر واجب ده اگر چې پدى كال تير نشې اوكه ددى مذكوره نه ماسوا نور مالونه ورسره ؤ لكه كور چې داوسيدلو لپاره نه وى اونه دتجارت لپاره وى اوددى قيمت نصاب ته رسيږى نوپديكې صدقه فطر واجب ده د سره ددينه چې پديكې زكاة واجب نه دى. وبه تحرم الصدقة

نصاب په درى قسمه ده :

۱-هغه چې سوال ورباندې حرام دى خودزكاة اخستل ورته جائز دى هغه داده چې ديوى ورځې ولړى اوعورت ئى پټ وى .

۲-چې سوال ورباندې حرام دى اودزكاة اخستل ورباندى هم حرام دى خوصدقه فطر اوقربانى ورباندى واجب ده هغه داده چې دهغه نصاب مالك شې چې دضرورات اصليو څخه زيات وى لكه جامې ، څمكه ،اودكور نورسامان وغيره خوچه دمال دزكاة څخه بغير وى .

۳-هغه نصاب دى چې نامى وى اوتام دى نوپدې سره سوال ورباندې حرام دى همدارنگه دزكاة اخستل ورباندى هم حرام دى اوصدقه فطر اوقربانى اوزكاة وركول ورباندى لازم دى .

فهذا نوشارح رحمه الله وائى چې پدغه نصاب سره ورباندې زكاة اخستل حرام دى اوپدى نصاب كې نماء شرط نه ده بخلاف اوكوم نصاب چې دزكاة دوجوب لپاره وى په هغې كې نماء شرط ده .

لنفسه وطفله فقيرا وخادمه ملكاً ولومدبراً اوامولد اوكافراً لالزوجته وولده الكبير وطفله الغني بل من ماله ومكاتبه وعبده للتجارة وعبدله ابق الابعد عوده ولالعبد اوعبيد بين اثنين على احدهما هذاعند ابي حنيفة اماعندهما فتجب عليهما ولوبيع بخيار احدهما فعلى من يصيرله بطلوع فجر الفطر فتجب لمن اسلم اوولد قبله اى قبل الطلوع هذا عندنا واماعندالشافعي رحمه الله فتجب بغروب الشمس فمن اسلم في الليلة او ولد فيها لاتجب عليه عنده لا لمن مات في ليلة خلافاً للشافعي رحمه الله فانه تجب عليه لانه ادرك وقت الغروب اواسلم اوولد بعده اى بعد طلوع الفجر فانه لاتجب

عليهما اجماعاً اما عندنا فلانه لم يدرك وقت الطلوع واما عنده فلانه لم يدرك وقت الغروب ولوقدمت جاز بلا فصل بين مدة ومدة وندب تعجليها ولواخرت لاتسقط.

توضيح المسئلة: لنفسه صدقه فطر به دخپل ځان لپاره وباسي وطفله او دهغه ماشوم بچی څخه چې فقير وی وخادمه او دهغه غلام سرسايه به هم ورکوی چې دخدمت لپاره وی اوکه دتجارت لپاره ؤ نوبيا ددی غلام سرسايه ورباندی واجب نه ده ملكا هغه خادم چې دده په ملک کې وی اوکه دده په ملک کې نه ؤ مثلاً اجارة خادم ؤ نوبيا دهغه سرسايه وربانديې واجب نه ده ولومدبرا دخپل خادم غلام سرسايه به ورکوی اگر چې مدبر وی يا ام ولده وی ياکافر وی ځکه سبب دصدقه فطر سردی چې دائی بوج پورته کوی نوپه بادار بانديې صدقه فطر واجبه ده دخپل غلام اگر چې کافر وی لالزوجته اودښځی صدقه فطر په خاوند واجب نه ده که مالداره وه نوپه خپل مال کې به ئی وباسی ځکه په ښځه بانديې دخاوند ولايت اومؤنث کم وی وولده الكبير همدارنګه دهغه بچې چې بالغ عاقل وی په پلار صدقه فطر واجب نه ده ځکه ولايت اومؤنة دپلار قاصر دی وطفله اودهغه ورکوتی بچې نه به هم پلار صدقه فطر نه ورکوی چې هغه غنی وی بلکه دهمدی ورکوتی بچې دمال څخه به ئی ورکوی ومكاتبه اودخپل مکاتب نه به هم صدقه فطر نه ورکوی ځکه په مکاتب بانديې ولايت قاصر وی ځکه مکاتب يداً مملوک نه وی وعبده للتجارة اودهغه غلام څخه به هم صدقه فطر نه ورکوی چې دتجارت لپاره وی ځکه پديکې زکاة واجب دی وعبد له ابق اودهغه غلام صدقه فطر به هم نه ورکوی چې تښتيدلې وی الابعدعوده مگر که بيرته خپل بادارته راغې نوبيا به ددی غلام صدقه فطرهم ورکوی ولا لعبد اودهغه غلام ياډيرو غلامانو صدقه فطر په يوکس هم واجب نه ده چې ددووو کسانو ترمنځ شريک وی داد امام ابوحنيفة رحمه الله مذهب دی ځکه هريو شريک ته پديکې ملک تام نه رسيږی اوصدقة فطر په وجوب کې ملک تام شرط دی اودصاحبينو په نزد په دواړو شريکينو صدقه فطر واجب ده ولو بيع که يوغلام په خيارشرط سره خرڅ کړای شي ترددی ورځو پوری داخيار دبائع لپاره وی اوکه دمشتری لپاره وی نوکه اختر راغې اوخيار باقي ؤ نوددی غلام صدقه فطربه په هغه چاوی چې داغلام دچالپاره ګرځې يعنی دچا په ملکيت کې راځی بائع وی اوکه مشتری وی بطلوع فجر الفطر اوصدقه فطرواجبيږی په راختلو دصبا دواړه اختر سره يعنی دصبح صادق په راختلو سره فتجب نوکه

دصبا دراختلو څخه مخکې چا اسلام راوړو یاکوم ماشوم پیداشو نوپه ده باندې صدقه فطر واجب ده دازمونږ مذهب دی اوداامام شافعی رحمه الله په نزد صدقه فطر درمضان المبارک داخری ورځی دلمر ډوبیدلو سره واجبیږی نوکه داختر په شپه کې څوک اسلام راوړی اویاکوم ماشوم پیداشي نوداامام شافعی رحمه الله په نزد پدغه کس باندې صدقه فطر واجب نه ده ځکه دغه کس وخت دغروب موندلې نه دی لالمن مات فی لیله اوپه هغه کس باندې داحنافو په نزد صدقه فطر نشته چې داختر په شپه دصبا ختلو څخه مخکې مړ شي ځکه دغه کس داختر دورځی صبا راختل رالاندې نه کړ لوخلافا للشافعی رحمه الله لیکن دامام شافعی رحمه الله په نزد په دغه کس چې داختر په شپه مړ شوی صدقه فطر واجب ده ځکه ده وخت دغروب رالاندی کړیدی اواسلم اوولد بعده همدارنګې په هغه کس صدقه فطر واجب نه ده چې دصباح ختلو څخه وروسته اسلام راوړی اویادصباح ختلو څخه وروسته کوم ماشوم پیداشي نوپدی دواړو په اتفاق داحنافو اوشوافعو صدقه فطر واجب نده اماعندنا زمونږ په نزد ځکه واجب نه ده چې ده وخت دراختلو دصباح موندلې نه دی واما عنده اوداامام شافعی رحمه الله په نزد ځکه واجب نه ده چې ده وخت دغروب رالاندې کړی نه ده ولوقدمت که یوکس داختر دورځی څخه مخکې صدقه فطر اداء کړی نوداجائز ده بلافصل بی له تفصیل نه بین مدة ومدة په مینځ ددی موده کې اودهغی موده کې یعنی چې داختر دورځی څخه مخکې وی نوجائز ده هرڅو ورځی چې وی داضروری نه ده چې لس ورځی دی وی مثلا یاشل ورځی وی وغیره تردی که د رمضان څخه مخکې ورکړی نو داهم جائز ده خو مفتی به قول داد چې درمضان داخل شي نوبیا صدقه فطر ورکول جائز دی «بحر ص، ۴۴۵،ج۲» اووروسته داختر څخه هم جائز ده ځکه دایومالی ثواب دی نو د وجوب څخه وروسته نه ساقطیږی مګر په اداء سره لکه دزکاة په شان وندب تعجیلها اوداختر دمانځه څخه مخکې صدقه فطر ورکول مستحب دی زندوستی ذکر کړی چې زکاة اوصدقه فطر ورکول خپلو خپلوانو اوورونو ته چې فقیران وی غوره دی همدارنګې وریرو اوخوریونو ته بیا ترونو ته بیا ماماګانو ته بیا توریږ ګانو همدارنګې بیا نورو خپلوانو فقیرانو ته بیا ګاونډیانو ته وریسې دمحلې خلکوته ورکول غوره دی. «بحر ص، ۴۴۲،ج۲».

كتاب الصوم

دا كتاب دى په بيان د روژه كې

هو ترك الاكل والشرب والوطى من الصبح الى الغروب مع النية وصوم رمضان فرض على كل مسلم مكلف اداء وقضاء وصوم النذر والكفارة واجب وغيرهما نفل.

توضيح المسئلة: صوم په لغت كې مطلق امساك يعنى دخوراك وغيره څخه ځان منع كولو ته وائى او په شريعت كې صوم ځان منع كول دى دخوراك، څكاك ،جماع نه سره دنيت نه دصبح صادق څخه نيولى ترلمر ډوبيدو پورى خو په زنانه كې شرط دادى چې دحيض او نفاس څخه به پاكه وى وصوم رمضان رمضان درمض څخه دى او رمض سوزولوته وائى او رمضان هم ګناهونه سوزه وى «قرطبى» نو روژه درمضان فرض ده په هرمسلمان مكلف باندې يعنى عاقل بالغ باندې اداءً.

په طريقه داداء سره په رمضان كې وقضاء او په طريقه دقضاء سره په غير رمضان كې وصوم النذر او روژه دنذر او كفارى واجبه ده نذر ديته وائى چې شرعا يو عمل درباندى واجب نه وى اوته ئى په ځان واجب كړى نو نذر مطلق وى او كه معين وى مطلق لكه الله ﷻ لپاره په ما روژه واجب ده او معين داسې لكه يوسړى ووائى چې دالله تعالى لپاره په ما دجمعى دورځى روژه لازم ده نو پدى دواړو صورتو كې پده روژه واجب شوه او كفاره چې هريوه وى لكه كفاره دقتل دظهار او دقسم وغيره وغيرهما دنذر او دكفارى دروژو څخه ماسوا نورى روژى لكه دعرفى دورځى يا دعاشورى دورځى وغيره روژې نفل دى

ذكر فى الهداية ان صوم رمضان فريضة لقوله تعالى كتب عليكم الصيام وعلى فريضته انعقد الاجماع ولهذا يكفر جاحده والمنذور واجب لقوله تعالى وليوفوا نذورهم وقد قيل فى الحواشى ان قوله تعالى وليوفوا نذورهم عام خص منه البعض وهو النذر بالمعصية والطهارة وعيادة المريض وصلوة الجنازة فلايكون قطعياً فيكون واجباً اقول المنذور اذا كان من العبادات المقصودة كالصلاة ،والصوم، والحج ونحو ذلك فلزومه ثابت بالاجماع فيكون قطعى الثبوت وان كان سند الاجماع ظنياً وهو العام المخصوص البعض فينبغى ان يكون فرضاً وكذا صوم الكفارة لان ثبوته بنص قطعى مؤيد بالاجماع فقول صاحب الهداية ان المنذور واجب يمكن انه اراد بالواجب الفرض كما قال فى افتتاح كتاب الصوم الصوم ضربان واجب ونفل.

توضيح المسئلة: په هدايه كې ذكر شوى چې درمضان روژه فرض ده دوجې ددى قول دالله

تعالی نه کتب علیکم الصیام ترجمه چې په تاسې روژه فرض کړای شوی ده او په فرضیت درمضان باندې اجماع دامت هم منعقد شوی، نو دهمدی وجې څخه به نسبت دکفر کولې شې منکر دروژی درمضان ته اونذر شوی روژه واجب ده دوجی ددی قول دالله تعالی والیوفوا نذورهم چې تاسې پوره کړی خپل نذرونه وقدقیل غرض دشارح رحمه الله ددی عبارت څخه توجیه بیانول دی په وجوب باندې اوتطبیق ددلیل دی په مدعی باندې ځکه په ظاهری کې ددی ایات څخه فرضیت دوفا بالنذر معلومیږی نوشارح رحمه الله وائی چې دهدائی په حواشیوکې لیکلې چې ایات دنذر عام دی ځکه صیغه دجمع «نذورهم» دالفاظو دعموم څخه دی لکن بعض افراد ددی تری خاص شوی دی چې هغه نذر بالمعصیة دی لکه دشرابو څښل دزنا کول وغیره یعنی که یوسړی نذر ومنی چې زه به شراب څښم نوپدی نذر به پوره والی نه کوی همدارنګې هغه نذر تری هم خاص دی چې په عبادت غیر مقصوده سره وی لکه نذر په اودس یاغسل سره همدارنګې هغه نذرهم تری خاص دی چې دجنس دهغې څخه واجب نه وی په ایجاب دالله تعالی سره لکه دمریض پوښتنه کول دجنازی لمونځ کول وغیره ځکه دداسې نذرونو پوره کول واجب نه دی ځکه داپه بل دلیل سره معلوم شوی دی دهغې نذرونو پوره کول لازم دی چې نذر په عبادت مقصودة سره وشې اودجنس دهغې څخه واجب وی نوهرکله چې داثابته شوه چې داعام مخصوص البعض دی نوداعام ظنی وګرځیده اوقطعی نه شو نوکوم شیئ چې په دلیل ظنی سره ثابت وی هغه واجب وی فرض نه وی اوول غرض دشارح ددی عبارت څخه یواعتراض دی په مصنف باندې چې هغه وویل چې دنذر روژه او دکفاری روژه واجب دی خلاصه داشوه چې نذر کړای شوی عبادت که دعبادات مقصوده څخه ؤ لکه روژه لمونځ ،حج ،وغیره نوپدی لزوم په اجماع سره ثابت دی اوکوم شیئ چې په اجماع سره ثابت وی نو هغه قطعی الثبوت وی اګر چې سند داجماع ظنی دی چې هغه عام مخصوص البعض دی نو پکار ده چې روژه دنذر اودکفاری فرض وګرځی ؟

خوصاحب الدرر شرح الغرر داجواب کړی چې دمصنف دفرضو څخه هغه فرض اعتقادی مراد دی چې منکر ته ئی نسبت دکفر کولې شې اودغه فرض په مطلق اجماع سره نه ثابتیږی بلکې په هغې اجماع سره ثابتیږی چې هغه اجماع په هغه فرضیت باندې وی چې په تواتر سره نقل کړای شوی وی لکه درمضان روژه نوهرکله چې دلته اجماع په فرضیت بالتواتر باندې نشته نوپه مرتبه دوجوب کې پاتی شو ځکه هغه اجماع چې په طریقه دشهرت یااحادو سره وی هغه وجوب راولی نه فرضیت فقول صاحب الهدایة :غرض دشارح ددینه یوه توجیه

بیانول دی دقول دصاحب دهدایي لپاره چې هغه ویلی ؤ چې نذر کړای شوی روژه واجب ده توجیه داده چې امکان لری چې دمصنف دواجبو څخه مراد فرض وی لکه څرنګه چې صاحب هدایه په اول دکتاب الصوم کې ویلي چې روژه په دوه قسمه ده یوه واجب اوبله نفل اوسره ددینه چې په وجب کې رمضان هم داخل کړی څکه رمضان ئی یوقسم دواجبو ګرځولی اوحال داچې رمضان واجب نه دی بلکې فرض دی.

ویصح صوم رمضان والنذر المعین بنیة من اللیل الی الضحوة الکبری لاعندها فی الاصح اعلم ان النهار الشرعی من الصبح الی الغروب فالمراد بالضحوة الکبری منتصفه ثم لابدان تکون النیة موجودة فی اکثر النهار فیشترط ان تکون قبل الضحوة الکبری وفی الجامع الصغیر بنیة قبل نصف النهار ای قبل نصف النهار الشرعی وفی مختصر القدوری الی الزوال والاول اصح.

توضیح المسئلة: **ویصح** اوصحیح کیږی اداء کول دروژی درمضان اودنذر معین بنیة په نیت دروژي سره داول دشپي څخه ترلوی څاښته پوری ،دعلماء پدی اتفاق دی چې اول وخت دنیت ددویم صبا راختل دی اودادروژی لپاره غوره دی خوچونکې چې اکثره خلک پدی نه پوهیږی نوددی حرج ددفع لپاره دشپی داولی حصی څخه وروسته دلمر ډوبیدلو څخه جائز شو اما انتهاء دوخت دنیت لږ مخکې دلوی څاښت څخه دی ددی لپاره چې اکثره حصه دورځی په نیت کې راشي اواکثر لره حکم دکل وی اودلوی څاښت څخه وروسته که نیت وکړی نوصحیح نه ده څکه اکثره ورځ دنیت څخه خالی شوه په محیط کې دنیت تعریف داسې کړی چې داپه زړه سره وپیژنی چې داروژه ده اوپه ظهیریه کې دالیکلی چې پیشمنی کول په خپله نیت دی «بحر ص، ۴۵۲ ،ج، ۲» نذر معین دیته وائی چې دیوی معلومی ورځی نیت وکړی چې فلانی ورځی روژه به زه نیسم **لاعندها** خوپه لوی څاښت کې نیت صحیح نه دی یعنی دلوی څاښت څخه مخکې به نیت کوی اوپه څاښت کې نه صحیح کیږی اعلم شارح وائی چې ورځ په دوه قسمه ده:

۱-عرفي دادلمر ختلو څخه ترلمر ډوبیدلو پوری ده.

۲-شرعي دصبح صادق څخه ترلمر ډوبیدلو پوری ده نوپدی مقام کې هم شرعی ورځ مراد ده اودضحوة الکبری څخه مراد دشرعی ورځی نیمائی مراد ده **ثم لابد** بیا داضروری ده چې نیت دورځی په اکثره حصه کې موجود وی نوشرط داده چې دلوی څاښت څخه به مخکې وی **وفی الجامع الصغیر** اوپه جامع الصغیر کې چې راغلي چې دنصف النهار څخه به نیت مخکې وی نوهلته هم دنهار څخه نهار شرعی مراد دی یعنی مخکې دنصف دنهار شرعی څخه اونصف

ددې لوی ثابت دی ندمتن اودجامع الصغير مقصد يودی **وفی مختصر القدوری** خوپه مختصر القدوری کښې بيا ويلی چې ترزواله پوری نيت صحيح دی اوزوال خونصف دنهار عرفی دی والاول نواول يعنی دمتن اوجامع الصغير خبره زياته صحيح ده ځکه دنيت ثبوت بايد دورځې په اکثر حصه کښې راشې اودا په نهار شرعی کښې راځې نه په نهار عرفی کښې.

وبنية مطلقة اوبنية نفل واداء رمضان بنية واجب اخر الافی مرض اوسفر بل عما نوی والنذر المعين عن واجب اخر نواه ای اداء رمضان يصح بنية واجب آخر الا فی المرض اوالسفر فانه يقع عن ذلك الواجب واذا نذر صوم يوم معين فنوی فی ذلك اليوم واجباً اخر يقع عن ذلك الواجب سواء کان مسافراً اومقيماً صحيحا اومريضاً وعبارة المختصر هذا ويصح اداء رمضان بنية قبل نصف النهار الشرعی وبنية نفل وبنية مطلقة وبنية واجب اخر الا فی سفر اومرض وکذا النفل والنذر المعين الا فی الاخير ای حکم النفل والنذر المعين حکم اداء رمضان الا فی الاخير وهو الواجب الاخر.

توضيح المسئلة: وبنية مطلقة درمضان روژه اودنذر معين روژه په مطلق نيت سره صحيح کيږی مطلق نيت ديته وائی چې داسی ووائی چې مانيت دروژی کړيده نه ورسره فرض ياد کړی اونه نفل يادکړی همدارنګې درمضان روژه اودنذر معين روژه په نيت دنفلو سره هم صحيح کيږی وجه ددی داده چې په رمضان کښې تعين دشريعت له طرفه راغلی ده دفرض روژی لپاره نودنورو روژو رواوالی پکښې ختم شو نودرمضان لپاره نيت دتعين ته ضرورت رانغی ځکه نيت دتعين هلته وی چې ازدحام وی اودلته ازدحام نشته نوکه دنفلو نيت هم وکړی خورمضان صحيح کيږی ځکه دنفلو جهت لغوه شو اومطلق روژه پاتی شوه اوپه نذر معين کښې ځکه صحيح کيږی چې هلته نيت معتبر دی په ايجاب دالله تعالی سره يعنی بنده چې کله دنذر معين نيت وکړو نوداد الله تعالی له طرفه پده واجب شو بيا پديکښې بله روژه نه صحيح کيږی اګر چې نيت دنفلو هم وکړی درمضان اونذر معين ترمنځ فرق دادی چې په رمضان کښې تعين دشارع له طرفه راغلی دی اوپه نذر کښې تعين دبنده له طرفه راغلې ده واداء رمضان اودرمضان روژه په نيت دبل واجبو سره هم صحيح کيږی مثلا دکفاری وغيره خودنذر معين روژه بيا دبل واجبو په نيت سره نه صحيح کيږی بلکی همغه بل واجب به صحيح وی الافی مرض مګر په رمضان کښې که دمرض په حالت کښې يادسفر په حالت کښې دبل واجب نيت وکړی نو دبل واجبو څخه صحيح کيږی اودرمضان څخه نه واقع کيږی ځکه په رمضان کښې ده ته دنيولو اونه نيولو اختيار دی اودواجبو نيول ورباندې لازم دی نوچه ده په اهم باندې وخت

مشغوله کړو نو دا جائز ده **والنذر المعین** او په نذر معین کې که دبل واجب نیت وکړی نو دبل واجب څخه واقع کیږی برابره خبره ده چې مقیم وی او که مسافروی روغ وی او که مریض وی ځکه دنذر معین تعین دده له طرفه شوی نو دا حق لری چې په خپله دا تعین باطل کړی او بل واجب پکې اداء کړی **وعبارة المختصر** دمختصر عبارت شارح ددی لپاره راوړی چې دا لنډ هم دی او ټولو ته شامل دی **ویصح** چې اداء درمضان صحیح کیږی په هغه نیت سره چې مخکې دنصف نهار شرعی څخه وی او په نیت دنفلو سره هم صحیح کیږی او په مطلق نیت سره او په نیت دواجبو سره هم صحیح کیږی مګر په سفر اومرض کې په رمضان کې دواجب آخرو څخه هم صحیح کیږی **وکذا النفل** همدارنګې حکم دنفلو اودنذر معین هم په شان دحکم درمضان دی **الا فی الاخیر** مګر نفل اونذر معین درمضان په شان نه دی په اخیرنی کې چې هغه واجب اخر دی یعنی لکه رمضان په نیت دواجب اخر سره هم صحیح کیږی یعنی درمضان څخه واقع کیږی مګر نفل اونذر معین په نیت دواجب اخر سره نه صحیح کیږی بلکه دواجب اخر څخه روژه واقع کیږی. ۱۲

والنفل بنیته وبنیة مطلقة قبل الزوال لا بعده وشرط للقضاء والکفارة والنذر المطلق التبیت والتعین المراد بالتبییت ان ینوی من اللیل وان غم لیلة الشك ای لیلة الثلثین من شعبان لایصام الانفلا ولوصامه لواجب اخر کره ویقع عنه فی الاصح ای یقع عن الواجب الاخر فی الاصح وقیل یقع تطوعا لان غیره منهی عنه فلایتادی به الواجب ان لم یظهر رمضانیته والا فعنه ای عن رمضان فان صوم رمضان یتادی بنیة واجب اخر.

توضیح المسئلة: **والنفل** اونفلی روژه صحیح کیږی په نیت دنفلو سره او په مطلق نیت سره **قبل الزوال** مخکې دزوال څخه یعنی مخکې دنصف نهار شرعی څخه **لابعده** اودنصف نهار شرعی څخه وروسته نه صحیح کیږی **وشرط** اوشرط کړای شوی ده دقضائی روژی لپاره اودکفاری لپاره اودنذر مطلق لپاره **التبیت** دشپې نه نیت کول اوبل تعین دورځی شرط دی ځکه هغه ورځ چې داپکې دقضاء روژه نیسی یادکفاری روژه یادنذر مطلق روژه نیسی داورځ ددی لپاره نه دالله تعالی له طرفه متعینه شوی اونه دبنده له طرفه نودازدحام دختمولو لپاره ددی تعین ضروری دی اودشپې لخوا نیت کول هم شرط دی.

ددی لپاره چې ددی تعین هم راشي ،**وان غم** اوکه میاشت ورکه شوه دوریځی دوجې

یاد کړد له وجی څخه لیلة الشک په شپه دشک یعنی په دیرشمه د شپه شعبان یعنی دوجې دنه لیدلو دمیاشتی نه شک واقع شو چې دادرمضان شپه ده اوکه دشعبان دیرشمه شپه ده په همدی وجه دشعبان صباح ته یوم الشک وائی نو لایصام الانفلا روژه به نه نیسی مګر نفلی روژه درمضان یا دواجب اخر څخه به ئی نه نیسی اوکه دواجب اخر څخه ئی ونیوه نودامکروه ده خودواجب اخر څخه واقع کیږی په صحیح قول سره وقیل یقع خوبعض علماء بیا وائی چې دشک دورځی روژه دنفلو څخه واقع کیږی لان غیره ځکه دنفلی روژی څخه بغیر دنورو روژو څخه منع راغلی نوپدی روژی سره واجب نه اداء کیږی ځکه واجب کامل وی اوهغه روژه چې دهغې څخه منع راغلې وی هغه ناقصه وی اوکامل په ناقص سره نه اداء کیږی ان لم یظهر پدغه ورځ واجب اخر هلته صحیح کیږی چې ددی ورځی رمضاني‌ل معلوم نه شې والا اوکه ددی ورځی رمضانیت معلوم شې فعنه نوبیا دادرمضان څخه واقع کیږی . اګر چې ده واجب اخر نیت کړی دی ځکه درمضان روژه په نیت دواجب اخر سره هم صحیح کیږی .

والتنفل فیه ای فی یوم الشك احب اجماعاً ان وافق صوماً یعتاده والا یصوم الخواص کالمفتی والقاضی ویفطر غیرهم بعد الزوال ولا صوم لونوی ان کان الغد من رمضان فانا صائم عنه والا فلا وکره لونوی ان کان الغد من رمضان فانا صائم عنه والا فعن واجب اخر والا فعن نفل ای لونوی ان کان الغد من رمضان فانا صائم عنه والا فعن نفل فان ظهر رمضانیته کان عنه لوجود مطلق النیة والا فنفل فیهما ای فیما قال والا فعن واجب اخر وفیما قال والا فعن نفل اما فی الصورة الاولی فلانه متردد فی الواجب الاخر فلا یقع عنه فبقی مطلق النیة فیقع عن النفل وفی الثانیة لوجود مطلق النیة ایضاً .

توضیح المسئلة: اودشک په ورځ نیت دنفلو روژه نیول غوره دی په اجماع دټولو علماؤ سره خوپه هغه صورت کې چې داروژه دده دهغې روژی سره موافق شې چې دائی عادت لری مثلا یوکس ددوشنبی یادپنج شنبی دورځی روژه عادت لری اوپه همدغه ورځ دشک ورځ هم راغله نودغه روژه دده باالکل صحیح ده والا اوکه دشک د ورځی روژه دده دعادت د ورځی سره موافق وه صحیح دعادت دورځی سره موافق نه وه نوبیا مستحب طریقه داده چې پدغه ورځ روژه صرف خواص ونیسی لکه مفتی ، قاضی ،یاعالم اوهرهغه کس چې دشک دورځی دروژی په طریقه پوهیږی ویفطر غیرهم اودخواصو څخه ماسوا نور خلک به ترزواله پوری صبر وکړی که درمضان معلومات ونه شو نودزوال څخه وروسته به روژه ماته کړی ځکه دعامی (امی) خلکو

لپاره پدغه ورځ روژه نه نیول غوره دی ولاصوم اوروژه نه صحیح کیږی که په نیت کې شک ؤ یعنی که صباته رمضان ؤ نوزه به روژه یم اوکه صباته رمضان نه ؤ نوزه به روژه نه یم وکره اوداروژه مکروه ده چې ووائی که صباح ته رمضان ؤ نوزه به روژه یم درمضان څخه اوکه رمضان نه ؤ نودبل واجب څخه به وی مثلاً کفاره وغیره .والافعن نفل اویاداسې ووائی چې که صباح ته رمضان ؤ نوزه به درمضان څخه روژه یم اوکه رمضان نه ؤ نونفلی به وی .

فان ظهر په مذکوره صورت کې که رمضان معلوم شو نود رمضان څخه به وی ځکه مطلق نیت موجود دی اودرمضان لپاره مطلق نیت هم کافی دی والافنفل فیهما اوکه رمضان ښکاره نه شو نو په دواړو صورتو کې به نفل وی .

۱-اول صورت والافعن واجب اخر .

۲-دویم صورت والافعن نفل اما فی الصورة الاولی په اول صورت کې ځکه نفل وګرځیدو ځکه دامتردد دی په واجب اخر کې نودواجب اخر څخه نه صحیح کیږی نومطلق نیت پاتې شو نودنفلو څخه واقع شو اوپه دویم صورت کې هم مطلق نیت موجود دی نودنفلو څخه واقع شو .

ومن رأى هلال صوم اوفطر وحده يصوم وان رد قوله وان افطر قضى ذكر القضاء فقط لبيان انه لاكفارة عليه خلافاً للشافعي رحمه الله وقبل بلادعوى ولفظ اشهد للصوم مع غيم خبر فرد بشرط انه عدل ولوقناً اوامرأة اومحدوداً فی قذف تائباً .

توضیح المسئلة: که یوکس چې عاقل بالغ مسلمان وی دروژی میاشت یواځی وګوری نودابه روژه نیسی اګر چې دده وینا دبادشاه له طرفه رد کړای شې اوکه پدغه ورځ روژه وخوړله نوقضاء به ددی ورځی راوړی خوکفاره وربانذی نشته ځکه چې هرکله دبادشاه له طرفه دده ګواهی رد کړای شوه نو دی یوقسم شبه دده په لیدلو کې پیداکړه اوپه داسی شبهی سره کفاری ختمیږی همدارنګه که دواړه اختر میاشت یواځی وګوری نوبیابه هم داکس روژه نیسی اګر چې دده ګواهی رد کړای شې خوکه روژه ئی وخوړه نوصرف قضاء وربانذي شته اوکفاره وربانذی نشته ځکه داورځ دده په نزد داختر ورځ ده نوددي شبهی دوجې څخه دده نه کفاره ساقطه شوه خلافاً للشافعی خوامام شافعی رحمه الله وائی چې هرکله دی کس دروژی میاشت ولیده نودده په نزد رمضان ثابت شو نوکه داروژه ئی په جماع سره ماته کړه نوپده باندې به کفاره او قضاء دواړه وی

وقبل بلادعوی اوقبلولی به شی بی له دعوی څخه ولفظ اشهد اوبی له لفظ داشهد څخه یعنی پدیکې داشرط نه دی چې یوسړی دعوه وکړی یعنی یوسړی ووائی چې زه دادعوه کوم چې

ماُمیاشت لیدلی ده اونه پکې داشرط دی چې لیدونکې ووائی چې زه ګواهی کوم په خپلو لیدلو سره ځکه دابو دینی امر دی په دینی امر کې دعوه اوشهادت ته ضرورت نه وی یعنی لفظ ددعوی او دشهادت ته پکی ضرورت نشته **للصوم** دمیاشت درمضان لپاره **مع غیم** دوریځی یادګردسره **خبر فرد** دانائب فاعل دی دقبل لپاره یَعنی قبلولی به شې بی له دعوی اوبی له لفظ داشهد ځکه دمیاشت درمضان لپاره چې وریځ یاګرد وی خبر دیوکس هم خوپدی شرط سره چې عادل وی یعنی ښکاره فاسق نه وی **ولوقنا** اګر چې **غلام** وی **اوامرأة** یاښځه وی **اومحدودا فی قذف** اویاحد پری جاری شوی وی په تهمت کې یعنی په یوکس ئی دزنا تهمت لګولی وی او دهغې ثبوت ئی ونه کړو نوقاضی دتهمت حدپری جاری کړو چې اتیا دوری دی **تائباً** اوبیائی توبه هم ویسته نودداسې محدود فی القذف خَبر به هم قبلولی شې دامام ابوحنیفة خپل مذهب دادی چې دمحدود فی القذف خبربه نشی قبلولې خوظاهر خلاف دده دقول دی ځکه دابی بکره خبر قبول شوی ؤ سره ددینه چې په تهمت کې حدپری جاری شوی ؤ اوبیا ئی توبه ویستلی وه .((بحر ۴۲۵،ج۲)) .

وشرط للفطر رجلان اورجل وامرأتان ولفظ اشهد لا الدعوی وبلاغیم شرط جمع عظیم فیهما الجمع العظیم جمع یقع العلم بخبرهم ویحکم العقل بعدم تواطئهم علی الکذب ویعد صوم ثلثین بقول عدلین حل الفطر وبقول عدل لا ای اذا اشهد واحد عدل بهلال رمضان وفی السماء علة فصاموا ثلثین یوماً لایحل الفطر لان الفطر لایثبت بقول واحد خلافاً لمحمد فان الفطر عنده یثبت بتبعیة الصوم وکم من شیئ یثبت ضمناً ولایثبت قصداً والاضحی کالفطر ای فی الاحکام المذکورة.

توضیح المسئلة: وشرط للفطر اودمیاشت دواړه اختر لپاره شرط کړای شوی دوه سړی عادلان یایو سړی اودوه ښځی همدارنګې لفظ داشهد هم شرط کړای شوی دی نه ددعوة یعنی چې داسې ووائی چې زه ګواهی کوم چې ما میاشت ولیدله دادوه سړی یعنی نصاب دشهادت اولفظ داشهد ځکه شرط شو چې پدیکې بنده ګانو ته یوه دنیوی فائده ده نو دا د دوی دحقوقو سره مشابه شو اودبنده ګانو په حقوقو کې چې کوم شیئ شرط ؤ هغه به پدیکې هم شرط وی اورمضان خالص امر دینی دی نوپه هغه کې به نصاب دشهادت اولفظ د اشهد شرط نه وی خوپه میاشت داختر کې دعوه ځکه شرط نه شوه چې داخالص حق دبنده هم نه دی بلکې په دیکې حق دالله تعالی هم شته اودعوه په حقوق العبادوکې راځې **وبلاغیم** اوکه اسمان کې

وريځ نه وه نوبيا درمضان اوداختر دمياشتې دواړو لپاره يوه لويه جمع شرط ده دلويې جمع نه مراد هغه جمع ده چې ددوی په خبر سره علم اويقين حاصليږی **ويحكم العقل** اوعقل فيصله کوی په نه موافقت ددوی په دروغو باندې يعنی چې دومره مقدار خلکو په دروغو راجمع کيدل محال وی **وبعد صوم** يعنی که دوه کسان ګواهی وکړی چې عادلان وی په ليدلو دمياشت درمضان اوددوی دشهادت په وجه په روژه فيصله وشوه اوخلکوديرش روژی پوره کړی نوديرش روژو څخه وروسته ورته روژی خوراک يعنی اختر جائز دی برابره خبره ده چې دواړه اختر مياشت وليدلې شې اوکنه ؟ځکه مياشت درمضان په ديرش ورځونه زياتيږی اودرمضان ثبوت په نصاب دشهادت سره راغلی دی ،**ويقول عدل لا** اوکه يو عادل کس درمضان دمياشتې ګواهی وکړه اوحال داچه په اسمان ګردهم ؤ اوخلکو ديرش روژی ونيولې نواختر يعنی دروژی خوراک ورته روا نه دی ځکه فطر ديوکس په وينا سره نه ثابتيږی **خلافاً للمحمد** دامام محمد ﷫ په نزد لکه څرنګه چې روژه ديوکس په ويناسر ثابتيدله نوهمدارنګې به فطر هم ديوکس په وينا سره په تابعيت دروژی کې ثابتيږی **وكم من شيئ** اوډير شيان داسې شته چې هغه ضمنا ثابتيږی خوقصداً نه ثابتيږی لکه شهادت ديوی قابلې ښځی په نسب کې قبول دی اوبيا په همدی شهادت سره ميراث هم ثابتيږی اوسره ددی چې ابتداءً ديوی ښځی په ګواهی سره ميراث نه ثاتبيږی خودلته ضمناً ثابتيږی اوداصحيح ده **والاضحی** اودلوی اختر احکام په شان دواړه اختر دی يعنی که اسمان کې وريځ ياګرد ؤ نوبيا به دذی الحجی دمياشتې ليدلو لپاره شرط دوه سړی عادلان يايوسړی اودوه ښځی وی اوکه وريځ ياګردنه ؤ نوبيا دډيرو خلکو عدد شرط دی چې دهغوی په خبر سره علم اويقين راشې .

﴿باب موجب الافساد﴾

داباب دی په بيان دموجب دفاسدولو دروژه کې يعنی کوم شيئ چې دروژی په فاسدولو سره واجبيږی چې هغه کفاره اوقضاء ده فساد اوبطلان په عباداتو کې يوشيئ دی .

بفتح الجيم ای مايوجبه الافساد كالقضاء والكفارة من جامع اوجومع فی احد السبيلين اواكل اوشرب غذاء اودواء عمداً اواحتجم فظن انه فطره فاكل عمداً قضی وكفر كالمظاهر ای كفارته مثل كفارة الظهار وهوای التكفير بافساد صوم رمضان لاغير ای بافساد اداء صوم رمضان عمداً.

توضيح المسئلة: بفتح الجيم موجب په فتحی دجيم سره دی معنی ئی مخکې ذکر شوه من جامع

چاچې کوروالی وکړو دهغه انسان سره چې مشتهی دکوروالی ؤ اوجومع اويا کوروالی وکړای شي ديوی زنانه سره په مخکې عورت کې يا وروستنی عورت کې يائی خوراک وکړو يائی ځنبل وکړو غذاً هغه شيئ چې دغذا په طور استعمالولی شي اودواء يادواء په طور استعمالولی شي عمداً داقيد دټولو لپاره دی يعنی قصداً ئی دا افعال وکړل اواحتجم يائی ښکر ولګولو خوده داګمان وکړو چې ماروژه ماته کړه بيائی قصدا خوراک وکړو نوپه ټولو مذکوره صورتونوکې به قضاء راوړی اوکفاره به هم ورکوی کالمظاهر يعنی کفاره ددی به په شان دکفاری دظهار وی چې غلام ازادول دی که دانه ؤ نوبيا دوه مياشتی پرلپسی روژه ده که ددی طاقت نه ؤ نوبيا شپيته مسکينانو ته طعام ورکول دی وهو اوداکفاره ورکول واجبيږی په فاسدولو داداء دروژی درمضان په قصد سره لاغير په نورو سره نه واجبيږی نوپه فاسدولو دنفلی روژی سره اودسنت روژی سره دواجب روژی سره همدارنګې په قضاء درمضان سره همدارنګې په فاسدولو دروژی درمضان سره په خطاء باندې اوپه زور باندی ياپه هيره باندې کفاره نه واجبيږی ځکه نص دکفاری صرف په اداء درمضان کې راغلې نه په نورو کې اوددی وجوب په قياس سره هم نه ثابتيږی چې نورو ته متعدی شي .

ای بافساد داداء صوم رمضان عمداً داتفسير د بافساد صوم رمضان لپاره دی نه دلاغير لپاره .

وان افطر خطاء وهو ان يکون ذاکراً للصوم فافطر من غير قصد کما اذا مضمض فدخل الماء فی حلقه اومکرها اواحتقن اواستعط ای صب الدواء فی الانف فوصل الی قصبة الانف اوافطر فی اذنه اوداوی جائفة اوامة فوصل الی جوفه اودماغه الجائفة الجراحة التی بلغت الجوف والامة الشجة التی بلغت ام الدماغ اوابتلع حصاة اواستقاء ملء فمه اوتسحر اوافطر بظنه ليلاً وهويوم اواکل ناسيا وظن انه فطره فاکل عمداً اوجومعت نائمة اولم ينو فی رمضان کله لاصوما ولافطراً اواصبح غيرناو للصوم فاکل قضی فقط.

توضيح المسئلة: اوکه په خطاء سره ئی روژه وخوړله خطاء ديته وائی چې روژه ئی ياده وی اوبی له قصده دخوړلو څخه ئی وخوری مثلاً مضمضه ئی کوله اواوبه ئی حلق ته تيری شوی .اومکرهاً يااوباندی زور وکړلی شو يعنی بل کس ورباندې په زوره روژه وخوړله اواحتقن يائی دډک اودس ماتی په ځای کې دواء واچوله اواستعط يائی پوزه کې دواء واچوله فوصل الی قصبة الانف اودپوزی هډوکې ته ورسيدله اوافطر يائی ددواء څاڅکې په غوږو کې واچول اوداوی جائفة يائی دواءوکړه دګيډی دزخم فوصل الی جوفه ګيډی ته ورسيدله اوامة يائی دواء وکړه

د سر د زخم اودماغو ته ئی ورسیدله فوصل الی جوفه متصل دی دجائفه سره اودماغه متصل دی دامة سره لف نشر مرتب دی الجائفة جائفه هغه زخم ته وائی چې داخل دګیډی ته ورسیږی اوامة هغه زخم ته وائی چې اصل ددماغو ته ورسیږی اوابتلع حصاة او یا داخلی کړی حلق ته یعنی تیری کړی شګې وغیره اواستقاء یاقصداً قیئ وکړی په ډکه خوله سره اوتسحر یائ پیشمنی وکړو پدی ګمان چې شپه پاتی ده بیاورته معلومات وشو چې صباح راختلی ؤ اوافطر یائی روژه ماته کړه پدی ګمان چې شپه داخله ده یعنی لمر ډوب شوی ده اوحال داچه لمر ډوب شوی نه ؤ اواکل ناسیاً یائی په هیره سره خوراک وکړو وظن بیائی داګمان وکړو چې ماروژه وخوړله نودهغی څخه ئی وروسته قصداً خوراک وکړو اوجومعت اویا دیوی روژه داری ښځی سره په داسې حالت کې جماع وشوه چې هغه اوده وه اولم ینو اویائی نیت ونه کړو په ټول رمضان کې نه دروژی ولا فطراً اونه دغیر روژی یعنی دخوراک اواصبح یائی صباح کړو یعنی دشپی څخه ئی نیت کړی نه ؤ کله چې صباح داخل شو نوبیا هم ده نیت نه ؤ کړی دروژی مبارکی فاکل نوبیائی پدی ګمان روژه وخوړله چې ماخونیت دروژی کړی نه ؤ نوزمابه روژه نه وی قضی فقط نوپه ټولو مذکوره صورتونو کې صرف قضاء دروژی ورباندې لازم ده اوکفاره ورباندی نشته قضاء ځکه ورباندی شته چې دده ګیډی یادماغوته دروژی ماتونکې شیئ داخل شوی دی اوکفاره ورباندی ځکه نشته چې کفاره دپوره اوکامل جنایت سره واجبیږی اودلته کامل جنایت نشته نوکفاره هم ورباندې نشته.

ولو اكل اوشرب اوجامع ناسيا اى غير ذاكر للصوم اونام فاحتلم اونظر فانزل اوادهن اواكتحل اواغتاب اوغلبه القيئ اوتقيا قليلا اواصبح جنبا اوصب فى احليله دهن اوفى اذنه ماء اودخل غبار اودخان اوذباب فى حلقه لم يفطر والمطر والثلج يفسد فى الاصح ولووطى ميتة اوبهيمة اوفى غيرفرج وهو التفخيذ اوقبل اولمس ان انزل قضى والا فلا ولو اكل لحما بين اسنانه مثل حمصه قضى وفى اقل منها لا الا اذا اخرجه واخذه بيده ثم اكل التقييد بالاخذ باليد وقع اتفاقاً ولو بدأ باكل سمسة فسد الا اذا مضغ فانه يتلاشى فى فمه بالمضغ.

توضيح المسئلة: **ولو اكل** كه خوراک یاڅکاک یاجماع ئی په هیره سره وکړه **اى غير ذاكر للصوم** دادنسیان تفسیر کوی چې روژه ئی یاده نه وی اوخوراک وغیره وکړی **اونام** یاخوب وکړی په روژه کې **فاحتلم** اوپه خوب کې احتلام وشو یعنی شیطان دوکه کړو **اونظر** یائی یوی ښځی ته

وکتل او انزال ئی وشو اوادهن یائی تیل استعمال کړه د سر په ویښتانو کې یا د ږیرې په ویښتانو کې اواکتحل یائی په سترګو کې رانجه واچول اواغتاب یائی دیو مسلمان غیبت وکړو نو غیبت اګر چې لویه ګناه ده خوروژه نه ماتوی اوغلبه القیئ اویا پده باندې قیئ غالبه شو یعنی بی غیر دده له اختیار ځخه قیئ تری راووته اوتقیا یائی قصداً قیئ وکړو قلیلاً لږ یعنی چې په ډکه خوله نه وی اواصبح اویائی صباح کړو یعنی صباح پری راوختلو پداسې حالت کې چې جنب ؤ اوصب اویاواچولی شو فی احلیله دذکر په سر کې دهن تیل اوفی اذنه ماء اویائی په غوږ کې اوبه واچولی شوی اودخل غبار اویاداخل شو ګرد اودخان یالوګې اوذباب یامچ فی حلقه دده مری ته لم یفطر نو پدغه مذکوره ټولو صورتونو کې روژه نه ماتیږی والمطر باران والثلج اواوره یفسد روژه ماتوی په صحیح قول سره ولووطی میتة اوکه دمړی ښځی سره ئی کوروالی وکړو اوبهیمة یادخاروی سره کوروالی وکړی اوفی غیر فرج اویائی دفرج نه بغیر کوروالی وکړو ،وهو التفخیذ چې هغه استعمال دذکر دی په ورانه دښځی کې اوقبل یائی ښځه ښکل کړه اولمس یائی لاس وروړو ان انزل که انزال ئی وشو نوقضی به راوړی اوکه ونشو نو قضی به نه راوړی ځکه پدی صورتو کې حقیقة جماع نشته چې هغه داخلول د ذکر دی په فرج کی نوکه انزال ئی وشو نومعنی دجماع به موجوده شې اوکه انزال ئی ونشو نومعنی دجماع نه موجودیږی نوروژه ئی نه ماتیږی ولو اکل اوکه هغه غوښه ئی وخوړه چې دغاښو ترمنځ ئی نښتی وه مثل حمصة په اندازه ددانی دنخود نوروژه ئی ماته شوه اوصرف قضاء وربان‍دی واجب ده وفی اقل منها لا اوکه دنخود ددانی ځخه کمه وه نوروژه ئی نه ماتیږی الا اذا مګر په هغه صورت کې بیا ماتیږی چې دغاښونو ځخه ئی راوباسی اوپه لاس کې ئی ونیسی اوبیائی وخوری نوبیا پدی سره روژه ماتیږی اګر چې دنخود ددانی ځخه کمه وی التقیید اوداخذ بالید قید یعنی چې په لاس سره ئی ونیسی دا اتفاقاً ذکر شوی اوقید احترازی ندی ولو بدأ اوکه دکنځلی یاسنزلې په خوراک ئی شروع وکړه نو روژه ئی فاسده شوه الا اذا مضع مګر که وئی ژوی بیا نه ماتیږی ځکه داپه ژولو سره په خوله کې ورک کیږی .

وقیئ کثیر عاد اواعید یفسد لا القلیل فی الحالین وعند محمد رحمه الله یفسد باعادة القلیل لا عود الکثیر اذا عاد القیئ فالمعتبر عند ابی یوسف رحمه الله الکثرة ای ملء الفم وعند محمد رحمه الله یعتبر الصنع ای الاعادة ففی اعادة الکثیر یفسد اتفاقاً وفی عود القلیل لایفسد اتفاقاً وفی اعادة القلیل لایفسد

عند ابی یوسف خلافا لمحمد رحمه الله **وفی عود الکثیر یفسد عند ابی یوسف لا عند محمد** رحمه الله.
دقیئ بیان وقیئ کثیر اوډیر قیئ عاد چې پخپله بیرته ګیډې ته واپس شي اواعید یا دده په قصد سره واپس کړای شو یفسد په دواړو صورتونو کې روژه ماتوی لا القلیل اولږ قیئ روژه نه ماتوی فی الحالین په دواړو حالتو کې یعنی چې پخپله واپس شي اویائی داواپس کړی وعند محمد رحمه الله یفسد اودامام محمد رحمه الله په نزد روژه فاسدیږی باعادة القلیل په بیرته ګرځولو دلږ قیئ سره هم چې دائی قصدا ګیډې ته واپس کړی نوروژه ئی ماته شوه اګر چې لږ قیئ ؤ لاعود الکثیر خوروژه نه ماتیږی په بیرته ګرځیدلو دډیر قیئ سره هم یعنی چې پخپله بیرته ګیډې ته واپس شي نوپدی سره روژه نه فاسدیږی اګر چې ډیر قیئ وی اذا عاد القیئ کله چې قیئ بیرته دخولی څخه ګیډې ته واپس شي نو دامام ابویوسف رحمه الله په نزد ډیروالی یعنی ډکه خوله معتبره ده یعنی چې په ډکه خوله سره وی نوداروژه ماتوی برابره خبره ده چې په خپله ګیډې ته بیرته واپس شي اوکه هغه ئی واپس کړی.
اودامام محمد رحمه الله په نزد دده صنع اوفعل ته اعتبار دی یعنی دده ګرځولو ته نوکه ډیر قیئ ئی واپس کړو نوبالاتفاق روژه فاسده شوه څکه دامام ابویوسف رحمه الله په نزد کثرت او ډیروالی موجود دی او دامام محمد رحمه الله په نزد صنع او اعاده موجوده ده وفی عودالقلیل اوکه لږ قیئ په خپله بیرته واپس شونو باالاتفاق روژه نه فاسده وی څکه د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد کثرت موجود نه دی اودامام محمد رحمه الله په نزد اعاده موجوده نه ده وفی اعادة القلیل اوکه لږ قیئ ئی واپس کړو نودامام ابویوسف په نزد روژه نه فاسده وی څکه کثرة نشته اودامام محمد رحمه الله په نزد روژه فاسده وی څکه اعاده موجوده ده وفی عودالکثیر اوکه ډیر قیئ په خپله واپس شي نودامام ابویوسف په نزد روژه فاسده وی څکه کثرة موجود دی اودامام محمد رحمه الله په نزد روژه نه فاسده وی څکه اعاده نشته.

وکره له الذوق ومضغ شیئ الاطعام الصبی ضرورة والقبلة ان لم یأمن لا الکحل ودهن الشارب والسواك ولو عشیا احترازعن قول الشافعی رحمه الله **اذ عنده یکره عشیا لانه یزیل الخلوف وشیخ فان عجزعن الصوم یفطر ویطعم لکل یوم مسکینا کالفطرة ویقضی ان قدر وحامل اومرضع خافت علی نفسها اوولدها اومریض خاف زیادة مرضه والمسافر افطروا وقضوبلافدیة.**

مكروهات دروژې مباركې:

وكره اومكروه ده روژه دارلره څكل اوژول ديوشيئ الاطعام مگر مكروه نه ده څكل اوژول دطعام دماشوم لپاره دضرورت په خاطر همدارنگه كه ديوى ښځى خاوند بداخلاقه وى نوبيا دى لره هم جائز دى چې كتغ وغيره وڅكې دضرورت په اساس ،والقبلة اودخپلى ښځى نه مچه اخستل مكروه دى خوپه هغه صورت كې چې دكوروالى يادانزال باورئى په ځان نه وى كه په ځان ئى داباورۇ چې نه راڅخه جماع كيږى اونه مى انزال كيږى نوبيا جائز دى لا الكحل اورانجه استعمالول مكروه نه دى ودهن الشارب همدارنگې دبريتانو غوړول هم مكروه نه دى والسواك اومسواك استعمالول هم مكروه نه دى ولو عشيا اگر چې دورځى په اخر كې وى يَعنى دزوال څخه وروسته وى ولوعشيا داقول احتراز دى

دقول دامام شافعى رحمه الله څخه ځكه دامام شافعى رحمه الله په نزد دورځى په اخر كې يعنى دزوال څخه وروسته مكروه ده لانه يزيل الخلوف ځكه پدى سره دروژه دار دخولى بوى ختميږى اودروژه دار دخولى بوى الله تعالى ته دمشكو څخه زيات خوښ دى خواحنافو لپاره بيا دليل داحديث مبارك دى چې خير خلال الصائم السواك يعنى بهترين خلال دروژه دار مسواك دى اوبل داچه دالازم نه ده چې دمسواك داستعمال سره دى دروژه دار خولى بوى ختم شي .

وشيخ فان اوهغه شيخ چې فانى وى يعنى طاقت دده ختم شوى وى عجز عن الصوم چې دروژى دنيولو څخه عاجزه وى: يفطر نودابه روژه خورى ويطعم اوطعام به وركړى دهرى ورځى لپاره يومسكين ته كالفطرة په اندازه دسرسايې ويقضى خودغه شيخ فانى به بيا دهمدى روژى قضاء راوړى كه په روژه قادر شو اود فديى حكم باطل شو ځكه فديه په هغه صورت كې ده چې عجز هميشه وى اوكه عجز هميشه نه وى نوبيا به اصل يعنى روژه نيول وى وحامل اوااميدواره ښځه اومرضع ياتى وركونكې ښځه چې په خپل ځان باندې ياپه بچې باندې ويريږى اومريض اوياهغه مريض چې دزياتوالى دمرض څخه ويريږى والمسافر اومسافر افطروا دغه كسانوته جائز دى چې روژه وخورى اودرمضان څخه وروسته به قضاء راوړى بلافدية اوفديه وباندې نشته .

قيل حل الافطار مختص بمرضعة اجرت نفسها للارضاع ولايحل للوالدة اذ لايجب عليه الارضاع اقول لوكان الافطار بناء على وجوب الارضاع فعقد الاجارة لوكان قبل رمضان يحل لها الافطار لكن لولم يكن قبل رمضان بل توجر نفسها في رمضان ينبغي ان لايحل لها الافطار اذ لايجب عليها الاجارة

الا اذا دعت الضرورة اليها اما للوالدة فلا يحل لها الافطار الا اذا تعينت فحينئذ يجب عليها الارضاع فيحل لها الافطار.

توضيح المسئلة: قیل بعض علماء وائی چې دروژې خوراک خاص دی ترهغې مرضعې یعنی تی ورکونکې پورې اجرت نفسها چې په اجاره ئی ورکړې وی خپل ځان للارضاع لپاره دتی ورکولو دبل بچې ته ځکه پدې ښځه باندې تی ورکول واجب دی خودمور لپاره روژه خوړل حلال نه دی ځکه په مور ارضاع یعنی تی ورکول واجب نه دی ځکه امکان شته چې خاوند بله مرضعه ورته ونیسی اقول شارح رحمه الله وائی چې که دروژې دخوراک جواز په وجوب دارضاع باندې بناء وی فعقد الاجارة نوعقد داجارې یعنی اجاره دمرضعې دارضاع لپاره که درمضان څخه مخکې ؤ نوبیا دی ښځې ته دروژې خوراک جائز دی لکن لکن که عقد داجارې درمضان څخه مخکې نه ؤ خوپه رمضان کې خپل ځان دارضاع لپاره په اجاره ورکوی ینبغی نوپکار ده چې دی ښځې لره دروژې خوراک جائز نه شی ځکه پدې ښځه باندې اجاره واجبه نه وه الا اذا مگر که دضرورت په وجه اجارې ته په رمضان کې مجبوره شې اماالوالدة اودخپلې مور لپاره دروژې خوراک جائز نه دی مگر په هغه صورت کې چې ددې تعین وشی هغه داسې چې دماشوم پلار غریب وی یاماشوم دبلې ښځې تی نه اخلی فحینئذ نوپدې صورت کې بیا په خپله مورهم واجب دی چې تی ورکړی اوکله چې ارضاع واجب شوه نودروژې خوراک هم ورته جائز دی. ۱۲.

وصوم مسافر لا يضره احب ولا قضاء ان مات في سفره اومرضه اي لاتجب الفدية وان صح اواقام ثم مات فدى عنه وليه بقدر ما فات عنه ان عاش بعده بقدره والا فبقدرهما اي بقدر الصحة والاقامة فانه اذا فاتت عشرة ايام فاقام بعد رمضان خمسة ايام ثم مات اوصح بعد رمضان خمسة ايام ثم مات فعليه فدية خمسة ايام وشرط لها الايصاء ويصح من الثلث وفدية كل صلوة كصوم يوم هو الصحيح وعند البعض فدية صلوات يوم واحد كفدية صوم يوم واحد.

توضيح المسئلة: وصوم مسافر اوروژه دهغه مسافر چې روژې ورته ضررنه رساوه احب نوروژه نیول دده غوره ده دضررنه مراد مشقت دی نه دبدن ضرر نوکه روژې ورته ضررنه رساوه نوروژه نیول ورته غوره دی اوکه ضررئی ورته رساوه نودروژې خوراک غوره دی ځکه دابیا په حکم دمریض کې شو.

ولاقضاء اود روژې قضاء یعنی فدیة وربان‌دی نشته که دسفر یامرض په حالت کې مړ شې حاصل

دخبرې دادې چې هرهغه معذور چې پداسې عذر سره معذور وي چې دروژې خوراک ورته روا وي نوکه دعذر په ورځو کې مړ شي اودومره وخت ئې پيدانکړو چه قضاء ئې پکې راوړې واى نوپده باندې دقضاء په عوض کې فديه نشته ځکه فديه مبنى ده په وجوب دقضاء باندې اووجوب دقضاء هلته وي چې دروژې په نيولو قادره وي اى **لاتجب الفدية** داتفسير دلاقضاء لپاره دى **وان صح** اوكه مريض جوړ شو **اواقام** يامسافر مقيم شو ثم مات بيا مړ شو **فدى عنه وليه**.

نوفديه به ورکړي دده څخه ولى دده **بقدر الخ** په هغه اندازه چې دده څخه فوت شوى دى **ان عاش** كه ژوندى ؤ **بعده** وروسته داقامت اوصحت نه ياوروسته درمضان څخه **بقدره** په اندازه دهغى ورځو چې له ده څخه ددى روژه فوت شوى وى يعنى څورځى روژه چې فوت شوى وى مثلا لس ورځى روژه قضاء شوى وه اودرمضان څخه وروسته داكس لس ورځى ژوندى ؤ نودده ولى به دده څخه دلس ورځو فديه ورکوى ، **والا فبقدرهما** اوكه په اندازه دقضاء شوو ورځو ژوندى نه ؤ نوبيا به فديه په اندازه دصحت اواقامت ورکوى يعنى څوروځى چې روغ ؤ يامقيم ؤ مثلا لس ورځى دده څخه قضاء شوى وى اودده صحت پنځه ورځى ؤ يااقامت دده پنځه ورځى ؤ نوبيا به صرف دپنځو ورځو فدي ورکوى او پنځه ورځى ترى ساقطى شوي وشرط او شرط کړاى شوى دى دفديي لپاره وصيت يعنى په ولى باندى فديه ورکول واجب دى ددى وجوب لپاره شرط دادى چې دمرګ څخه مخکې ولى ته وصيت وکړى ځکه اصل وجوب دفديي په وصيت کونکې ده او اداء دفديي په ولى ده نوكه دامريض وصيت وکړى خوولى به ئى اداء کړى اوكه وصيت ونه کړى اوولى ئى دخپل ځان څخه اداء کړى نودا د ولى له طرفه احسان اوتبرع ده .

ويصح من الثلث اووصيت ددريمى حصى دده دمال څخه صحيح كيږى . خودتجهيز اوتكفين اودقرض دپوره كيدو څخه وروسته به وى ځكه داحقوق العباد دى اوحقوق العباد په اداء کې مقدم دى وى په حقوق الله باندى ځكه الله تعالى مستغنى دى او بنده محتاجه دى وفدية دورځى شپږلمونځونه حسابيږى په شمول دوترو سره ځكه وتر ځانته لمونځ دى نوفديه د هر مانځه دومره ده لکه فديه دروژې ديوى ورځى نودروژې ديوى ورځى فديه دسرسايي په اندازه ده نوديو لمانځه فديه هم دسرسايي په اندازه ده **وهوالصحيح** اوهمدا قول صحيح دى **وعند البعض** اودبعض علماؤ په نزد لکه محمد بن مقاتل چې فديه ديوى ورځى دپنځه واړه لمونځونو دومره ده لکه فديه دروژې ديوى ورځي خوداقول صحيح نه دى اومحمد بن مقاتل بيا ددى څخه رجوع هم کړيده .كذا فى السراج الوهاج. بحر ص، ۴۹۹، ج، ۲».

ویقضی رمضان وصلاً وفصلاً فان جاء اخر صامه ثم قضی الاول بلافدیة وعند الشافعی رحمه الله تجب الفدیة ولا یصوم ولا یصلی عنه ولیه ویلزم صوم نفل شرع فیه اداء وقضاء ای یجب علیه اتمامه فان افسد فعلیه القضاء الا فی الایام المنهیة وهی خمسة ایام عید الفطر وعید الاضحی مع ثلثة ایام بعده ولا یفطر بلاعذر فی روایة ای اذا شرع فی صوم التطوع لایجوز له الافطار بلاعذر لانه ابطال العمل وفی روایة اخری یجوز لان القضاء خلفه ویباح بعذر ضیافة هذا الحکم یشمل المضیف والضیف.

توضیح المسئلة: **ویقضی** اوقضاء درمضان به رواړی وصلا پرلپسی وفصلا اوجدا جدا یعنی جائز ده چې درمضان قضاء راوړی پرلپسی وی اوکه جدا جدا یعنی څه قضاء راوړی بیائی وخوری بیا قضاء راوړی **فان جاء اخر** که ددی رمضان قضائی راوړی نه وه اوبل رمضان پری راغی **صامه** نوددی رمضان روژه به ونیسی بیابه داول رمضان قضاء راوړی اوفدیه وربانده نشته اودامام شافعی رحمه الله په نزد فدیه وربانده واجب ده خواحناف ورته وائی چې دفدیې وجوب هیڅ معنی نه لری ځکه تاخیر دقضاء جائز دی اواخرنی حد هم نلری **ولایصوم** اوروژه به نه نیسی اونه به لمونځ کوی دده څخه ولی دده ځکه په خالص عبادات بدنیة کې نیابت نه جاری کیږی اوکوم حدیث چې راغلی چې من مات وعلیه صیام صام عنه ولیه ‹اخرجه البخاری› څوک چې مړشي اوپه ده باندی روژی وی نودده څخه به دده ولی روژه نیسی نوداحدیث زمونږ په نزد په هغه طعام باندې حمل دی چې قائمقام دروژی دی ‹‹بنایه››

ویلزم اولازم دی پوره کول دهغې نفلی روژی چې په هغې کې شروع شوی وی په طریقه داداء سره وی اوکه قضاء سره وی یعنی په کومه نفلی روژه کې چې شروع وکړی هغه ابتداء نفلی روژه اداء کوی اوکه قضاء دنفلی روژی راوړی نوپه دواړو صورتو کې وربانده ددی روژی پوره کول واجب دی **ای یجب الخ** داتفسیر دیلزم کوی اواشاره دیته کوی چې اداء دنفلو ابتداء لازم نه ده بلکې بقاء واجب ده یعنی نفلی روژه واجب نه ده خوچې شروع دی کړه نوبیا ددی پوره کول واجب دی اوکه فاسده ئی کړه قضاء وربانده واجب ده.

الا فی الایام المنهیة مګر پوره کول دنفلی روژی لازم نه دی چې په هغه ورځو کې روژه ونیسی چې دهغې څخه منع راغلې وی اوکه فاسده ئی کړی نوقضاء وربانده هم نشته ځکه پدی ورځ کې په روژه نیولو سره مرتکب دنهی وګرځیده نوددی روژی ساتل واجب نه دی بلکه باطلول ئی پکار دی **هی خمسة ایام** دغه ایام منهیه پنځه ورځی دی یوه دواړه اختر اوله ورځ

دویمه دلوی اختر اوله ورځ اودری ورځی دایام تشریق چې هغه دلوی اختر دویمه ورځ دریمه روځ اوڅلورمه ورځ راځي چې دذی الحجی ۱۱-۱۲-۱۳راځي ولایفطر اوکوم سړی چې په نفلی روژه کې شروع وکړی نوبلاعذره به ئی نه ماتوی په ظاهرالروایت سره ځکه دادعمل باطلوالی راځي اوددینه الله تعالی منع کړیده ولاتبطلوا اعملکم اوخپل عملونه مه باطلوی اوپه بل روایت کې راغلې چې بی له عذره هم دنفلی روژی خوراک جائز دی ځکه قضاء ددی خلیفه ده یعنی که اوس ئی وخوری نوقضاء به راوړی وبیاح اودنفلی روژی خوراک دمیلمستیا په عذر سره جائز دی بعض علماء وائی چې که ددعوت خاوند صرف په حاضری کولو سره راضی کیده اوپه نه خوراک سره نه خفه کیده نوبیا به روژه نه ماتوی اوکه په نه خوراک سره خفه کیدو نوبیا به روژه ماتوی خوبعض علماء بیاوائی چې ضیافت عذر دی خودزوال څخه مخکې اودزوال څخه وروسته بیا عذر نه ده مګر که دزوال څخه وروسته په نه خوراک کولو کې دمور اوپلار نافرمانی راتلله نوبیابه ئی خوری خوشمس الائمة الحلوانی وائی چې ښکلی خبره داده چې که په ځان ئی داباور ؤ چې دروژی قضاء بیا راوړلی شې نوخوراک ورته جائز دی ددی لپاره چې مسلمان وروړ ئی خفه نشی اوکه په ځان ئی دقضاء راوړلو باور نه وی نوبیابه روژه نه ماتوی اګر چې په نه خوراک سره مسلمان وروړ خفه کیږی «بحر الرائق ص، ۵۰۲،ج،۲» **فهذا الحکم** دغه دروژی خوراک مضیف یعنی کوربنه ته **والضیف** اومیلمه دواړو ته شامل دی یعنی لکه څرنګه چې دکوربنه دخفګان په اساس میلمه ته دروژی خوراک جائز دی همدارنګه دمیلمه په خاطر کوربه ته هم دروژی خوراک جائز دی.

ویمسك بقیة یومه صبی بلغ وکافر اسلم وحائض طهرت ومسافر قدم ولایقضی الاولان یومهما وان اکلا فیه بعد النیة ای اذا حدث هذه الامور فی نهار رمضان یجب امساك بقیة الیوم لحرمة رمضان لکن لاقضاء علی الصبی الذی بلغ والکافر الذی اسلم لعدم الاهلیة فی اول الیوم فلم یجب الاداء فلا یجب القضاء وان کان البلوغ والاسلام قبل نصف النهار فنویا الصوم ثم اکلا.

توضیح المسئلة: **یمسك** مضارع معلومه ده دامساک څخه اوفاعل دی صبی سره د خپلو معطوفاتو دی یعنی وبه ساتی روژه دباقی ورځی هغه ماشوم چې بالغ شې اوهغه کافر چې پدی ورځ اسلام راوړی اوهغه حائضه چې پدی ورځ پاکه شې اوهغه مسافر چې پدی ورځ خپل وطن ته راشې یعنی که دغه امور چې بلوغ دی اسلام دی پاکوالی دی اوخپل وطن ته راتلل دی درمضان دروژی په ورځ کې پیښ شې نوروژه به نه خوری بلکې دباقی ورځی روژه

به ساتي دوجي داحترام درمضان نه اودروژه دارو سره دوجي دځان مشابه کولو نه ولایقضی الاولان لکن اول دواړه چې ماشوم بالغ شي اوکافر اسلام راوړي پدوی باندې ددی ورځی اودتیری شوو ورځو قضاء نشته ځکه دوی دورځی په اول کې دروژی اهل اولائق نه ؤ نواداء دروژی ورباندې واجبه نه شوه نوقضاء هم ورباندې واجبه نه شوه اګر چې بلوغ اواسلام دنصف نهار شرعی څخه مخکې وی اودوی نیت دروژی هم کړی وی اوبیائی دهغی څخه وروسته خوراک کړی وی نوبیا به هم پدی دواړو ددی ورځی دروژی قضاء نه وی اوکه دنصف نهار شرعی څخه ئی مخکې خوراک کړی نه ؤ اووروسته ئی هم خوراک ونه کړو اودروژی نیت ئی دنصف نهار شرعی څخه مخکې کړی ؤ نوداروژه دماشوم لپاره نفلی وګرځیده اودکافر لپاره روژه نه ګرځي ځکه ماشوم کې اهلیت د اداء څه نا څه ؤ اوپه کافر کې بالکل اهلیت دروژی نه ؤ .

نوی المسافر ثم قدم فنوی الصوم فی وقتها صح وفی رمضان یجب علیه الضمیر فی وقتها یرجع الی النیة وفی صح یرجع الی الصوم کما یجب الاتمام علی مقیم سافر فی یوم منه لکن لو افطر لاکفارة فیهما ای فی قدوم المسافر وسفر المقیم وقضی ایاما اغمی علیه فیها الایوما حدث فیه اوفی لیلته لانه اذا اغمی ایاما لم یوجد منه النیة فیما عدا الیوم الاول اما الیوم الاول فالظاهر انه قدنوی الصوم فیه هذا اذا لم یذکر انه نوی ام لا اما اذا علم انه نوی فلاشك فی الصحة وان علم انه لم ینو فلاشك فی عدم الصحة.

توضیح المسئلة: **نوی المسافر** یومسافر سړی سحر څخه دروژی دخوراک نیت وکړو **ثم قدم** بیا خپل وطن ته راغې یعنی مقیم شو **فنوی** نودنفلی روژی نیت ئی وکړو ،**فی وقتها** په وخت دنیت کې چې هغه دنصف نهار شرعی څخه مخکې دی نوداروژه ئی صحیح ده ځکه سفر منافی دروژی نه دی **وفی رمضان یجب علیه** اوکه په رمضان کې ئی دسفر په حالت کې نیت دخوراک وکړو بیا کورته راغې نواوس پده واجب دی چې روژه به نیسی ځکه دروژی دخوراک لپاره رخصت ورکونکې سفر ؤ اوهغه ختم شو **الضمیر** په **فی وقتها** کې ضمیر نیت ته راجع دی اوپه **صح** لفظ کې روژی ته راجع دی **کما یجب الاتمام** یعنی که یو مقیم سړی په رمضان کې یوه ورځ سفر وکړی نوپدی کس باندې ددی روژی پوره کول واجب دی ځکه سفر دروژی خوراک نه جائز کوی بلکه سفر دروژی نه شروع کول رواء کوی اوکه روژه کې شروع وکړی داقامت په حالت کې اوبیا سفر وکړی نواوس ورباندې دروژی پوره کول لازم دی لکن لکن که روژه وخوری

نو په دوارو صورتو کې وربانديې کفاره نشته یوصورت داچې مسافر خپل کورته راشي اودويم صورت داچې مقيم سفر وکړی کماذکر وقضی که یوسړی باندې درمضان په ورځو کې بی هوشی راشي نوددغه ورځو قضاء وربانديې لازم ده اګر چې تولہ میاشت وی ځکه دایو قسم مرض دی اوسبب دروژی موجود دی چې شهود داشهر دی الا یوما مګر دهغې ورځې قضاء وربانديې نشته چې په کومه ورځ وربانديې بی هوشی راغلې وی اويا ددی ورځی په شپه بی هوشی راغلی وی ځکه په دغه ورځ امساک راغلې سره دنیت دروژی ځکه دهر مسلمان داقصد وی چې صبا به زه روژه نیسم نوددغی ورځ روژه ئی صحیح ده اوقضاء وربانديې ددی ورځی نشته لانه اذا ځکه کله چې په ده باندې ځوورځې بی هوشی راغله نوداول ورځی ځخه ماسواء په نورو ورځوکې دروژی نیت موجود شوی نده او په اوله ورځ کی د روژی نیت خو ښکاره خبره ده چې موجود شوی ده چې دهر مسلمان دا اراده وی چی زه به صبا روژه نیسم اقول شارح وائی چې داخبره ستاسی چې په اوله ورځ ده نیت ښکاره خبره ده داخو په هغه صورت کې ده چې دامعلومات نه وی چې ده نیت کړیده اوکنه؟

اوکه دامعلومات ؤ چې ده نیت کړی ده نوداخوبلا شک صحیح ده اوکه دامعلومات ؤ چې ده نیت کړی نه ده نوبیا خوبلاشک داروژه هم صحیح نه ده اوقضاء پری واجب ده ځکه نیت موجود نه شو.

ولو جن کله لم یقض وان افاق بعضه قضی مامضی سواء بلغ مجنونا اوعاقلا ثم جن فی ظاهر الروایة المجنون اذا استغرق شهر رمضان سقط الصوم وان لم یستغرق لابل یجب علیه القضاء ولافرق فی هذا بین ما اذا بلغ مجنونا اوبلغ عاقلاً ثم جن وعند محمد رحمه الله اذا بلغ مجنونا لایجب علیه الصوم مع انه لایکون مستغرقاً فان الجنون اذا اتصل بالصبا لم یجب الصوم فهذا الجنون یکون مانعاً فیکفی للمنع الجنون الضعیف وهو غیر المستغرق اما اذا جن البالغ فانه رافع للصوم الواجب فلابد ان یکون جنوناً قویاً وهو المستغرق.

توضیح المسئلة ولوجن اوکه یو کس تول رمضان درمضان داولی شپی دلمر پریوتلو ځخه مخکې لیونی شو لم یقض نودتول رمضان قضاء وربانديې نشته ځکه پده باندې سبب دروژی رانغی چې هغه دمیاشتی درمضان راتلل دی اوکه درمضان په اوله شپه لیونی نه ؤ بلکې وروسته لیونی شو نوددغی شپې دورځی ځخه ماسو دتولو ورځو قضاء وربانديې لازم ده ځکه سبب موجود شو چې هغه شهود الشهر دی وان افاق اوکه درمضان په بعض ورځو کې دلیونتوب ځخه خلاص شو

نودتیرو ورځو قضاء به راوړی ځکه سبب چې میاشت ده موجود شو اواهلیت دوجوب هم موجود دی اوڅه مانع هم نشته «فقه حنفی» سواء بلغ برابره خبره ده چې دلیونتوب په حالت کې بالغ شې اویامخکې عاقل وی خودبلوغ نه وروسته لیونی شې الجنون لیونتوب که درمضان ټوله میاشت راګیره کړی نوروژه ساقطیږی ځکه دروژی په واجبولو کې بیالوی حرج راځي اوکه ټوله میاشت ئی ونه نیوله نوبیا تری روژه نه ساقطیږی بلکې قضاء به ورباندې واجب وی برابره خبره ده چې دبلوغ څخه مخکې لیونی وی او یا دلیونتوب په حالت کې بالغ شې اویا دبلوغ په وخت کې عاقل وی خوبیا وروسته لیونی شي . وعند محمد اوامام محمد رحمه الله وائی چې دلیونتوب په حالت کې بالغ شي نوپده باندې روژه واجب نه ده سره ددینه چې دالیونتوب دماشوم والی پوری پیوسته شي نوپه ماشوم خورروژه واجب نه وی نودغه لیونتوب مانع دوجوب څخه وګرځیده نودمنع لپاره هغه ضعیف لیونتوب هم کافی دی چې هغه لیونتوب غیر مستغرق دی «امااذا جن البالغ اوکه دبلوغ څخه وروسته لیونی شې نودغه رافع اوختمونکې دهغې روژی دی چې پده واجب وه نوددی وجوب درفع لپاره قوی لیونتوب پکار دی چې هغه لیونتوب مستغرق دی یعنی هلته به دده څخه درمضان وجوب ساقط وی چې ټوله میاشت راګیره کړی .

نذربصوم يومي العيد وايام التشريق اوبصوم السنة صح وافطر هذه الايام وقضاها ولاعهدة ان صامها فرقوابين النذر والشروع في هذه الايام فلايلزم بالشروع لانه معصية ويلزم بالنذر اذلامعصية في النذر ثم ان لم ينوشيئاً اونوى النذر لاغير اونوى النذر ونوى ان لايكون يميناً كان نذرافقط وان نوى اليمين ونوى ان لايكون نذراً كان يميناً وعليه كفارة يمين ان افطر وان نواهما اونوى اليمين اى من غيران ينفي النذر كان نذراً ويميناً حتى لوافطر يجب عليه القضاء للنذر والكفارة لليمين وعندابى يوسف رحمه الله نذر في الاول ويمين في الثاني المراد بالاول مااذانواهما وبالثاني مااذانوى اليمين واعلم ان الاقسام ستة مااذا لم ينوشيئاً اونوى كليهما اونوى النذر بلانفي اليمين اومع نفيه اونوى اليمين بلانفي النذر اومع نفيه.

توضيح المسئلة نذر که يو کس نذر ومنی چې زه به روژه نيسم ددووه ورځو داخترونو يعنی دواړه اختر دورځی اودلوی اختر دورځی اودورځو دتکبير تشريق چې ۱۱-۱۲-۱۳ دذی الحجی راځي اوبصوم السنة یانذر ومنی چې زه به دټول کال روژه نیسم نودانذر صحیح دی ځکه نذر دروژی فی نفسه عبادت دی نودنورو نذرونو پشان به پدی هم پوره والی کولې شي لکن دمنهی عنه کیدل ورسره راځي چې هغه ددی ورځو دروژو څخه منع ده خودغه نهی ئی په وفا اوپوره

والی کې ده نوددی ورځې روژه به وخوری اوبیابه ئی قضاء راوړی ځکه دفی نفسه نذر څخه منع نه ده راغلې ولاعهدة اونشته ذمه واری اوقضاء دده په ذمه که روژه ئی ونیوه ددی منع شوو ورځو یعنی که په خپل نذر پوره والی وکړی اوددی منع شو ورځو روژو ونیسې نوذمه ئی خلاصیږی اوبیا وربانديې قضاء نشته فرقوا علماء فرق کړی ده په مابین دنذر دمنع شوو ورځو کې اوپه مابین دشروع دروژه کې په دی ورځو کې نوعلماء فیصله کړی چې اول صحیح دی یعنی چې دمنع شو ورځو دروژو نذر ومنی نوداصحی دی اولازم دی چې قضاء به ئی راوړی اودوهم صحیح نه دی چې هغه شروع ده په نفلی روژه کې په دی ورځو کې نوپه شروع سره دغه روژی نه لازمیږی ځکه شروع دروژی پدغه ورځو کې گناه ده خوپه نذر سره دغه روژی ځکه لازمیږی چې نذر معصیت نه دی بلکې معصیت په روژه کې دی .

ثم ان لم ینو غرض دمصنف پدی عبارت سره بیان دهغه صورتونو دی چې کله په صیغه دنذر باندې تلفظ وکړی .مثلا داسې ووائی چې لله علی ان اصوم یوم کذا نوددی څو صورتونه دی .

۱ -ان لم ینو شیئاً چې دیو شیئ نیت ئې هم نه وی کړی .

۲ -اونوی النذر لاغیر یائی دنذر نیت کړی وی فقط .

۳ -اونوی النذر ونوی الخ یائی نیت دنذر کړی وی اودانیت ئی هم کړی وی چې زما کلام قسم نه دی نوپدی دری واړو صورتوکې به دانذروی فقط .

۴ -وان نوی الیمین ونوی الخ چې نیت دقسم وکړی اودانیت هم وکړی چې نذربه نوی نوپدی صورت کې به دا الفاظ قسم وی اوکه داروژه ئی وخوړه نوبیا به په ده کفاره دقسم وی چې هغه غلام ازادول دی یالسو غریبوته ډوډی ورکول اویا لسو غریبوته جامی ورکول دی .

۵- وان نواهما اوکه دنذر اوقسم دواړو نیت ئی وکړو .

۶ -اونوی الیمین یائی صرف دقسم نیت وکړو بغیر ددینه چې نفی دنذر وکړی نوپدی دواړو صورتونو کې به دده کلام نذر اوقسم دواړه وی حتی لوافطر تردی که روژه ئی وخوړه نوقضاء پری واجب ده دنذر دوجی نه اوکفاره دقسم په واجب ده دقسم دوجی نه امام ابویوسف وائی چې په اول صورت کې نذر دی اوپه دویم صورت کې قسم دی داول صورت نه مراد هغه دی چې دنذر اودقسم دواړو نیت وکړی اوددویم صورت نه مراد هغه دی چې نیت دقسم وکړی واعلم شارح دنذر اویمین شپږ واړه اقسام بیانوی کماذکرنا سابقا اوبیا ددوی ترمنځ نسبت بیانوی .

ففی الهدایة جعل الیمین معنی مجازیا والعلاقة بین النذر والیمین ان النذر ایجاب المباح فیدل علی

تحريم ضده وتحريم الحلال يمين لقوله تعالى لم تحرم ما احل الله لك الى قوله قد فرض الله لكم تحلة ايمانكم فاذا كان اليمين معنى مجازيا يرد عليه انه يلزم الجمع بين الحقيقة والمجاز فلدفع هذا قيل في كتب اصولنا ليس اليمين معنى مجازيا بل هذا الكلام نذر بصيغته يمين بموجبه والمراد بالموجب اللازم كما ان شراء القريب شراء بصيغته اعتاق بموجبه فيخطر ببالي ان اليمين لو كانت موجبه الثبت بلانية كشراء والقريب بل هي معنى مجازيٌّ فالواجب عن الجمع بين الحقيقة والمجاز ان الجمع بينهما في الارادة لايجوز وههنا ليس كذلك فان النذر لايثبت بارادته بل بصيغته فان صيغته انشاء للنذر فيثبت النذر سواء اراد اولم يرد مالم ينوانه ليس بنذر اما اذا نوى انه ليس بنذر يصدق فيما بينه وبين الله تعالى فان هذا لامدخل فيه لقضاء القاضي والمعنى المجازي يثبت بارادته فلا جمع بينهما في الارادة وتفريق صوم الستة في شوال ابعد عن الكراهة والتشبه بالنصارى.

توضيح المسئلة: ففي الهداية يعنى په هدايه کې دلله على ان اصوم يوم كذا لپاره نذر معنى حقيقى ګرځولى اودقسم لپاره ئى معنى مجازي ګرځولې اودمعنى حقيقي اومعنى مجازي ترمنځ نسبت څه ناڅه موجود وى تردې پورې چې کله امکان ددى نه وى چې په معنى حقيقى استعمال شې نوپه معنى مجازى به استعماليږى نودغه نسبت دنذر اويمين ترمنځ څه شيئ ده ؟ ان النذر الخ هغه داده چې نذر عبارت دى ايجاب المباح د ايجاب مباح څخه يعنى واجبول دبنده په خپل ځان باندى هغه څه چې شريعت ورباندې لازم کړى نه وى اودهغې ضد په ځان باندې حرام کړى مثلا يوکس ديوى ورځې دروژى نذر ومنى نوده په ځان باندې خوراک اوڅښل حرام کړل وتحريم الحلال اوتحريم دحلالولو ته قسم وائي دوجې ددى قول دالله تعالى څخه لم تحرم ما احل الله لک الاية چې ته ولې حراموې په ځان باندې هغه څه چې الله تعالى تاته حلال کړى دى اوبيا الله تعالى دغې تحريم ته يمين وويلې قد فرض الله لكم تحلة ايمانكم. په تحقيق سره الله تعالى بيان کړى دى ستاسى لپاره حلالول دقسم ستاسې نودادنذر اويمين ترمنځ مناسبت شو، فاذا كان اليمين نو کله چې ددى الفاظو څخه يمين معنى مجازى وګرځيده نوپدى يو اعتراض واردېږى چې داخو جمع دحقيقت اومجاز ترمنځ راځې هذا نوددى اعتراض ددفع لپاره زمونږ داصولو په کتابونو کې داويلى شوى چې په صيغې سره يمين معنى مجازى نه دى بلکه داکلام «لله على ان اصوم» په اعتبار دصيغې سره نذر دى اوپه اعتبار دموجب اولازم سره يمين دى اودلالت دلفظ په معنى لازمى باندې په طريقه دمجاز سره نه وى ترڅو چې په معنى لازمى کې استعمال نه شې كما ان شراء

یعنی چې یو کس خپل خپلوان چې محرم وی واخلي لکه پلار ،خوی وغیره نوداپده ازادیږی نوداپه صیغی سره شراء ده اوپه موجب اولازم سره اعتاق یعنی ازادول دی یعنی دشراء سره اعتاق لازمیږی خوددینه جمع بین الحقیقت والمجاز نه راځي **فیخطر ببالی** شارح دمخکښې جواب په رد کې وائی چې زماپه زړه کې یوه خبره تیریږی هغه داسې که یمین دموجب اولوازمو ددی لفظ څخه وای نوبیا پکار ده چې بلانیته ثابت شي څکه ثبوت دلوازمو ترارادی اونیته پوری موقوف نه وی **کشراء القریب** لکه اخستل دخپلوان چې عتق ورسره لازم دی دده نیت وی اوکنه وی نودامعنی لازمی نه شوه بلکې معنی مجازی شوه نوبیاهم جمع بین الحقیقت والمجاز راغې؟ **فالجواب الخ** نوصحیح جواب دادی چې جمع په مابین دحقیقت اومجاز کې په اراده کې جائز نه دی یعنی چې دیولفظ څخه هم معنی حقیقی مرادشي اوهم معنی مجازی په یو وخت کې **وههنا** اوپدی مسئله کې جمع په منځ دحقیقت اومجازکې په اراده کې نه راځي څکه نذر په ارادی سره نه ثابتیږی بلکې په صیغی سره نذر ثابتیږی څکه صیغه ددی دنذر لپاره انشاء ده یعنی وضع شوی ده نونذر به ثابتیږی برابره خبره ده چې قصدئی دنذر کړی وی اوکه ئی نوی کړی **مالم ینو** خوترهغې پوری چې دانیت ئی نه وي کړی چې دابه نذر نه وي یعنی ترڅو پوری چې نفی دنذر نه وی کړې **اما اذا نوی** اوکه ددی نیت وکړی ،چې دابه نذر نه وی یعنی دلله علی ان اصوم الفاظ حقیقت دی په نذر کې اومجاز دی په یمین کې نوکله چې دحقیقت یعنی نذر نفی وکړی اومجاز یعنی یمین اراده کړی نودیانة به دده تصدیق کولې شي یعنی دده اودالله تعالی ترمنځ داراز دی اوددی تصدیق به کولې شي اومفتی هم پدی فیصله کولې شي **فان هذا** خوپدی کار کې قضاء دقاضی ته مدخل نشته اومعنی مجازی په ارادی سره ثابتیږی نوجمع بین الحقیقة والمجاز رانغله ،**وتفریق صوم** درمضان څخه وروسته په شوال کې شپږ روژی ډیر عظیم ثواب لری چې نبی ﷺ فرمائی چې ددغه شپږ روژو ثواب دومره دی لکه ټوله زمانه چې سړی روژه ونیسی خوددی شپږ روژو جداجدا نیول غوره دی اودکراهت څخه لری دی اودنصاری سره دمشابهت څخه هم لری دی څکه نصاری ؤ درمضان سره دځان نه زیاتی روژی یوځای کولی اوپنځوس ورځې پرلپسی روژه نیسی نومسلمان ته پکار دی چې دغه شپږ ورځې روژه جداجدا ونیسی چې ددوی سره مشابهت رانه شي اگر چې پرلپسې هم جائز دی خوجدا والی غوره دی .

باب الاعتكاف

داباب دی په بيان داعتكاف كې اعتكاف افتعال وزن دی متعدی هم راځي نومصدر ئی عكف راځي په معنی دحبس اومنع سره لكه قران كې الله تعالی فرمائی ((والهدی معكوفاً اواعتكاف فی المسجد هم دمتعدی څخه دی اولازم هم راځي چې مصدر ئی عكوف راځي خوپه معنی دتوجه كولو سره يوشيئ ته په طريقه دهميشه والی سره لكه قران كې الله تعالی فرمائی ((يعكفون علی اصنام لهم يعنی دغه كفار هميشه په عبادت سره دی بُتانو ته متوجه ؤ اوپه شريعت كې ديته وائی چې په مسجد كې وخت تيرول دی په نيت داعتكاف سره ((بحر الرائق ص، ۵۲۲،ج۲ اعتكاف په دری قسمه دی:

۱-واجب چې داعتكاف نذر ومنلی شي ۲-سنت درمضان په اخرنيو لسو ورځو كې ۳-مستحب چې ماسوا ددی لس ورځونه په هروخت كې چې خوښه شي اومسجد ته داخل شي اونيت داعتكاف وكړی ترڅو چې په مسجد كې وی ((فقه حنفی ص، ۴۱،ج۱)).

هوسنة مؤكدة وهولبث صائم فی مسجد جماعة بنيته واقله يوم فيقضی من قطعه فيه ای اذا شرع فی الاعتكاف فقطعه قبل تمام يوم وليلة فعليه القضاء خلافاً لمحمد فان اقله ساعة عنده وقد حصلت ولايخرج منه الالحاجة الانسان اوالجمعة وقت الزوال ومن بعد منزله عنه فوقتاً يدركها ويصلی السنن علی الخلاف وهو ان يصلی قبلها اربعا وفی رواية ستاً ركعتين تحية واربعاً ستة وبعدها اربعا عند ابی حنيفة رحمه الله وفی رواية ستا ركعتين تحية واربعاً ستة وبعدها اربعاً عند ابی يوسف وستاً عندهما ولا يفسد بمكثه اكثر منه فلو خرج ساعة بلاعذر فسد ويأكل ويشرب وينام ويبيع ويشتری فيه بلا احضار مبيع لاغيره ای لايفعل غير المعتكف هذه الافعال فی المسجد

الانصاف فی حكم الاعتكاف : **هوسنة** دااعتكاف سنة مؤكد دی يعنی چې درمضان په اخرنيو لسو ورځو كې وی سنت مؤكد دی اودا سنت مؤكد عينی نه دی ، يعنی چې دهرسړی په خپله دمه وی بلكې كفايي دی يعنی چې په كلی كې بعض خلك اعتكاف وكړی نودنورو غاړه خلاصيږی **وهو لبث** دااعتكاف شرعی تعريف دی چې اعتكاف په شريعت كې وخت تيرول دروژه دار دی په هغه مسجد كې چې جمع په كې كولې شي په نيت داعتكاف سره نوپه اعتكاف كې خويو روژه شرط ده ځكه سنت اعتكاف بې روژی څخه نه صحيح كيږی بل پكې هغه مسجد شرط دی چې امام اومؤذن ولری دريم داچه نيت داعتكاف به وی واقله

او کمه موده داعتکاف شرعی یوه ورځ ده ځکه روژه پکښې شرط ده اوروژه یوه ورځ وی فیقضی نو که یو کس په اعتکاف کښې شروع وکړی او مخکښې دپوره کولو دیوی شپې اوورځې څخه قطع کړی نوپه ده باندې قضاء داعتکاف ده سره دروژی نه خلاف لمحمد خوداامام محمد رحمه الله په نزد ورباندی قضاء نشته ځکه دده په نزد داعتکاف کمه موده یوساعت ده یعنی لږ وخت څه حصه دزمانی نه او هغه حاصله شوی یعنی په هغه اندازه اعتکاف دغه داداء کړی ده ولایخرج منه اودمسجد څخه به نه راوځې مگر دضرورت انسانی دوجی نه چې هغه تشې متیازی کول دی اوډکې متیازی کول دی یاداحتلام نه غسل کول دی چې مسجد کښې ددی انتظام نه وی همدارنگې داختر لمانځه ته اودجمعی لمانځه ته وغیره وقت الزوال خودجمعی لمانځه ته به په وخت دزوال کښې راوځې اوددینه مخکښې به نه راوځې ځکه ضرورت نه وی ومن بعد اودچا چې کور یعنی د اعتکاف ځای لری وی عنه دجامع مسجد نه فوقتاً نوپداسې وخت کښې به داعتکاف دځای څخه راوځې یدرکها چې دجمعی لمونځ رالاندې کړی ویصلی السنن اوسنت اداء کړی علی الخلاف سره داختلاف نه یعنی په سنتو کښې دعلماؤ اختلاف دی چې دجمعی دلمانځه نه مخکښې څلور رکعته وکړی او په یوروایت کښې شپږ راغلې دی رکعتین تحیة دوه رکعته دتحیة المسجد لپاره واربعاً سنة اوڅلور رکعته سنت اودجمعی دلمانځه نه وروسته داامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد به څلورکوی اودصاحبینو په نزد به شپږ رکعته کوی.
ولایفسد بمکثه . او که دجمعی دمانځه او ددی سنتو د اندازی څخه زیات وخت په جامع مسجد کښې تیر کړی نواعتکاف ئی نه فاسدیږی ځکه هر مسجد داعتکاف لپاره ځای دی خوغوره داده چې زیات وخت تیرنه کړی ځکه ده په ځان باندې اعتکاف په یومسجد کښې لازم کړی دی نوپه دوه مسجدو کښې به ئی بلاضرورته نه پوره کوی وان خرج او که دمسجد څخه څه وخت بلاعذره ووته نواعتکاف ئی فاسد شو ویأکل اومعتکف ته په مسجد کښې خوراک جائز دی ویشرب اوڅښل جائز دی وینام اوخوب کول جائز دی .
ویبیع ویشتری فیه اوخرڅول اواخستل په جماعت کښې ورته جائز دی بلا احضار مبیع خوبی له حاضرولو دمبیعی نه یعنی مسجدته به مبیعه نه حاضره وی ځکه اعتکاف کونکې مذکوره شیانوته ضرورت لری خودضرورت په اندازه ورته جواز شته چې سامان به مسجد ته نه حاضره وی لاغیر خوداعتکاف کونکې نه بغیر بل چاته ددی شیانو جواز نشته .

ولایصمت ولا یتکلم الا بخیر ویبطله الوطئ ولو لیلا اوناسیاً ووطیه فی غیر فرج اوقبلة اولمس ان انزل والا فلا وان حرم والمرأة تعتکف فی بیتها نذر اعتکاف ایام لزمه بلیالیها ولاء بلا شرطه وفی یومین بلیلتهما وصح نیة النهر خاصة.

توضیح المسئلة: **ولایصمت** اوچپ به نه کینی اومکروه والی ددی په هغه صورت کې دی چې دچپ کیناستلو دثواب عقیده لری اوزمونږ په شریعت کې ددینه منع راغلی لکه نبیﷺ فرمائی چې دیوی ورځې چپ کیناستل ترشپې پوری زمونږ په شریعت کې نشته خوکه څوک عقیده دثواب نه لری نوبیا مکروه نه ده ځکه نبیﷺ فرمائی چې من صمت نجا څوک چې چپ شونو هغه نجات وموندو ۱۲ بحر ص، ۵۳۱،ج،۲».

ولایتکلم اوخبری به نه کوی مګر نیکې خبری **ویبطله** اوباطلوی اعتکاف لره کوروالی اګر چې دشپې وی اویا په هیری سره هم وی **ووطیه** او اعتکاف باطلیږی په کوروالی سره په غیر دفرج نه لکه په ورانه یاخیټه کې **اوقبلة** یاپه مچه «چپه» اخستلو سره **اولمس** یاپه لاس وروړلو سره خوپه هغه صورت کې چې انزال ئی وشې **والا فلا** اوکه انزال ئی ونه شې نواعتکاف ئی نه باطلیږی خودا افعال حرام دی داعتکاف په حالت کې **والمرأة** اوښځه به په کورکې اعتکاف کوی نذرکه یوکس نذر ومنی داعتکاف دورځو فقط یعنی چې زه به صرف دری ورځې مثلا اعتکاف کوم نوپه ده باندې دری ورځې اعتکاف سره دشپو لازم دی ولاءً اودا دری ورځې به پرلپسې وې **بلا شرطه** بې له شرطه دولاء نه یعنی اګر چې ده شرط دولاء لګولی نه وی خوبیاهم ولاء پکې ضروری ده **وفی یومین** همدارنګې که ددوو ورځو داعتکاف دغه نیت وکړی نوددوو ورځو اعتکاف سره ددوه شپو پرلپسې لازم دی **وصح نیة النهر خاصة** اوکه دیوم نه مرادئی خاص ورځې وی نودانیت ئی هم صحیح دی ځکه یوم په نهار کې حقیقت دی اوده دحقیقت اراده کړی ده.

الفائده: داعتکاف په حالت کې قراءت دقران به کوی دحدیثو اودعلم اوتدریس اوسیرت دنبیﷺ اوقصص دانبیاؤ اودصحابوؤ اوددینی امورو وغیره دلیکلو سره به ځان لازم کړی. «بحر الرائق».

﴿کتاب الحج﴾

مصنف رحمه الله چې هرکله دبیان دارکان ثلثه ځخه چې لمونځ روژه زکاة دی فارغ شو نوشروع ئی وکړه په څلورم رکن باندې چې حج دی.

حج په لغت کې قصدته وائی اوپه اصطلاح کې دیو خاص ځای زیارت کول دی په خاص

وخت کښې حج دهجرت په نهم کال فرض شوی دی اوبعض وائی چې دهجرت په شپږم کال فرض شوی ده او په ټول عمر کښې یوځل فرض دی اوزیاتی نفل دی.

اعلم ان الحج فریضة یکفر جاحده لکن اطلق علیه لفظ الوجوب واراد به الفرضیة حیث قال یجب علی کل حر مسلم مکلف صحیح بصیر له زاد وراحلة فضلا عما لابد منه وعن نفقة عیاله الی حین عوده مع امن الطریق والزوج اوالمحرم للمرأة ان کان بینهما وبین مکة مسیرة سفر فی العمر مرة علی الفور هذا عند ابی یوسف رحمه الله واما عند محمد رحمه الله فعلی التراخی وزعم بعض المتأخرین ان هذا الخلاف بینهما مبنی علی ان الامر المطلق عند ابی یوسف رحمه الله للفور وعند محمد رحمه الله لا وهذا غیر صحیح لان الامر المطلق لایوجب الفور باتفاق بینهما.

البحر الحج فی بیان الحج : **اعلم** دا دفع دیو اعتراض ده چې حج خو فرض دی ځکه په نص دقران سره ثابت دی او مصنف خو ورته واجب وائی ،نو شارح وویل چې ځان پوه کړه چې حج فرض دی او که دفرضیت څخه ئی څوک انکار وکړی نو نسبت دکفر به ورته کولې شي خو مصنف پدی باندې اطلاق دلفظ دوجوب وکړو او مرادئی تری فرض دی **یجب** یعنی حج فرض دی په هر اصیل مسلمان نروی او که ښځه **مکلف** چې عاقل بالغ وی صحیح چې دهغه مرضونه څخه روغ وی چې دولاړی اودتګ مانع وی لکه فالج وغیره **بصیر** چې په سترګو بیناوی **له زاد وراحلة** چې ده لره توښه یعنی دخوراک وغیره خرچه وی او سورلی وی **فضلا** پداسې حالت کښې چې دغه نفقه زیاتی وی **عما لا بدمنه** دهغه څه نه چې ضروری وی یعنی چې دحوائج اصلیو څخه زیاتی وی لکه د کورجامې دکورسامان وغیره . **وعن نفقة عیاله** اوزیاتی وی دنفقی دکوروالا دده نه عیال هغه چاته وائی چې دچانفقه ستا په غاړه وی لکه اولاد مور اوپلار وغیره **الی حین عوده** تر وخت دبیرته راګرځیدلو پوری دحج څخه **مع امن الطریق** دی سره شرائط دحج بیانوی خودا دامام صاحب رحمه الله په نزد دشرائطو دوجوب څخه ده اودصاحبینو په نزد دشرائطو دوجوب الاداء څخه ده یعنی حج فرض دی خو سره دامن دلاری نه **والزوج** اوبل شرط داده چې خاوند یا یو بل محرم به دښځی سره وی که چیرته ددی داوسیدلو اودمکې معظمې ترمنځ فاصله دسفر په اندازه وه **فی العمر مرة** دامتعلق دی تریجب پوری یعنی حج په عمر کښې یوځل فرض ده **علی الفور** دا هم تریجب پوری متعلق دی معنی ددی تلوار اوچالاکي ده یعنی حج فرض دی په هغه کال چې داپری قادره شي اوبل کال ته به ئی نه وروسته کوی **هذا**

داوجوب علی الفور دامام ابویوسف رحمه الله په نزد باندې دی واما عند محمد رحمه الله اودامام محمد رحمه الله په نزد حج فرض دی په تراخی اومهلت سره یعنی که سړ کال ئی ونه کړو نوکال ته دحج په وروسته کولو نه ګناهګاریږی وزعم بعض المتاخرین اوبعض متاخرینو علماؤ داګمان کړیده چې ددوی ترمنځ دا اختلاف مبنی دی پدی باندې چې امر مطلق یعنی چې مقید ترزمانی پورې نه وی په نزد دامام ابویوسف رحمه الله دفور لپاره دی اودامام محمد رحمه الله په نزد دفور لپاره نه دی بلکې دتراخی لپاره دی خودغه ګمان دبعض متاخرینو صحیح نه دی ځکه امر مطلق فور نه واجبوی په اتفاق ددواړو سره .

فمسألة الحج مسئلة مبتدأة فقال ابویوسف وجوبه بالفور احترازاً عن الفوت حتی اذا اتی به بعد العام الاول کان اداء عنده وعند محمد رحمه الله وجوبه علی التراخی بشرط ان لایفوت حتی لولم یؤد فی العام الاول وادی فی الثانی اوالثالث یکون اداء اتفاقاً ولولم یؤد ومات یکون اثما اتفاقاً اما عند ابی یوسف فظاهر واما عند محمد رحمه الله فلانه فات عن العام الاول وعدم فوته فی العمر مشکوك فیکون اثما موقوفا فان ادی بعد ذلك یرتفع الاثم عنده وعند ابی یوسف لایرتفع الاثم للمتأخیر فثمرة الخلاف انه ان اداه بعد العام الاول یأثم بالتاخیر عند ابی یوسف خلافا لمحمد رحمه الله.

توضیح المسئلة: **فمسألة الحج** نو دحج مسالة **مبتدأ** ابتدائی مسئلة ده یعنی په هغه اختلاف مبنی نه ده کوم چې په امر مطلق کې دی نوامام ابویوسف رحمه الله وائی چې ددی وجوب بالفور دی احترازاً یعنی امام ابویوسف رحمه الله دوجوب علی الفور خبره ددی لپاره وکړه چې فوت کیدو ځخه بچ کیدل راشي ځکه حج په عمرکې یوځل فرض دی اودآینده عمر پورې پاتې کیدل مشکوک دی خود فور مطلب دانه دی چې دحج وخت تنګ دی اوکه ددی کال ځخه وروسته شي نودابه قضاء وی بلکې وخت دحج پراخه دی چې هغه ټول عمر دی **حتی اذا** تردی که داول کال نه وروسته په دویم دریم کال ئی اداء کړی نودابه هم اداء وی اوقضاء به نه وی بلکې مقصد ددی دادی چې که په اول کال کې ئی اداء نه کړی نودابه په تاخیر سره ګناهګاروی **وعند محمد** رحمه الله اودامام محمد رحمه الله په نزد وجوب ددی په تراخی سره دی یعنی که داول کال نه وروسته هم شي نوپدی تاخیر سره نه ګناهګاریږی لکن پدی شرط چې تری فوت نه شي **حتی لولم یؤد** تردی که په اول کال کې اداء نکړی اوپه دویم دریم کال کې ئی اداء کړی نودابه بالاتفاق اداء وی اوکه په ټول عمر کی ئی اداء نکړی او مړشی نو دا باالاتفاق

ګناه ګار شو **اما عندابی یوسف** رحمه الله دامام ابو یوسف رحمه الله په نزد ځکه ګناهګاریږی چې دده په نزد وجوب علی الفور دی او په تاخیر سره ګناهګاریږی **واماعند محمد** او دامام محمد رحمه الله په نزد وجوب اګر چې علی التراخی دی لکن پدی شرط چې فوت ئی نه کړی او که فوت ئی کړی نو ګناهګار شو ځکه یو فرض ئی پریښوده **وعدم** او نه فوتیدل په ټول عمر کې مشکوک دی نو چې داول کال نه وروسته شو نو داګناهګار شو په ګناه موقوفی سره یعنی که ددی ځخه وروسته ئی اداء کړو نودامام محمد رحمه الله په نزد ګناه تری لری شوه اودامام ابو یوسف رحمه الله په نزد دتاخیر دوجې ګناه تری نه اوچتیږی **فثمرة** نوثمره داختلاف ددواړو ترمنځ داسې ده چې که داول کال نه وروسته ئی اداء کړی نودتاخیر دوجې ګناهګار شو دامام ابو یوسف په نزد اودامام محمد رحمه الله په نزد نه ګناهګاریږی.

فلواحرم صبی فبلغ اوعبد فعتق فمضی لم یؤد فرضه فلو جدد الصبی احرامه للفرض ثم وقف جاز عنه بخلاف العبد لان احرام الصبی لم یکن لازماً لعدم الاهلیة واحرام العبد لازم فلا یمکنه الخروج عنه بالشروع فی غیره وفرضه الاحرام والوقوف بعرفة وطواف الزیارة واجبه وقوف جمع وهو المزدلفة والسعی بین الصفا والمروة ورمی الجمار وطواف الصدر للافاقی والحلق وغیره سنن واداب واشهره شوال وذوالقعدة وعشر ذی الحجة وکره احرامه له قبلها والعمرة سنة وهی طواف وسعی ولاوقوف لها وجازت فی کل السنة وکرهت فی یوم عرفة واربعة بعدها.

توضیح المسئلة: فلواحرم مصنف رحمه الله په مخکنی عبارت باندې تفریع کوی چې مخکې ذکر شوی چې حج په مکلف اوحرباندې فرض دی په غیر مکلف اوغلام باندې نشته نو که یوماشوم دحج احرام وتړی اوداحرام دتړلو ځخه وروسته بالغ شې اویاغلام احرام وتړی اوداحرام دتړلو ځخه وروسته ازاد شې **فمضی** او په همدی احرام کې تګ وکړی یعنی دحج افعال اداء کړی **لم یؤد فرضه** نو دیو فرض هم اداء نه شو ، **فلوجدد** نو که ماشوم خپل احرام دفرضی حج لپاره دبلوغ ځخه وروسته نوی کړی **ثم وقف** اوبیا په عرفات اودریږی **جازعنه** نودفرضو ځخه جائز کیږی **بخلاف العبد** خوکه غلام دفرضو لپاره احرام نوی هم کړی نودفرضو ځخه نه جائز کیږی ځکه دماشوم احرام لازم نه ؤ ځکه اهلیت پکې نشته نودماشوم یواحرام پریښودل اوبل نوی کول جائز دی **واحرام العبد** اودغلام احرام لازم ؤ ځکه غلام عاقل بالغ مکلف ؤ **فلا یمکنه** نوغلام لره دمخکنی احرام ځخه وتل اوپه بل کې شروع کول ممکن نه دی . **وفرضه** اوفرائض دحج دری دی :

۱-احرام دی احرام دیته وائی چې نیت دحج کولو دی په زړه سره سره دتلبیې نه اوددینه مخکې چې کوم شیان دی چې هغه لنګ اغوستل دی اوڅادر اوغوستل دی اوویستل دګنډل شوو جامو دی نوهغه مقدمه اوتمهید داحرام لپاره دی «فقه حنفی ص،۴۱۴،ج۱» ۲-اودریدل دی په عرفات باندې چې دذی الحجی په نهم باندې اویاپه شپه دلسم دذی الحجی باندې اودریږی ۳-وطواف الزیارة دریم طواف زیارت دی چې دبیت الله شریفې څخه طواف کول دی داختر په ورځ اودوه ورځی وروسته ددینه وواجبه اودحج واجبات پنځه دی.

۱-وقوف جمع اودریدل په مزدلفه باندې جمع دیوځای نوم دی چې دمکې اوعرفات ترمنځ واقع دی اوپه مزدلفی باندې مشهور دی مزدلفه دازدلاف څخه ده په معنی د اجتماع سره اودلته هم خلک راجمع کیږی. ۲-والسعی اوسعی ده په مابین دصفا اومروه کې ۳-ورمی الجمار اوویشتل دشیطانانو دی په منی کې داختر په ورځ اودوه ورځې یادری ورځې ددینه وروسته جمار دجمری جمع ده په معنی دشګو سره یعنی چې په شګو سره به هغه ویشتلی شې ۴-وطواف الصدر اوطواف درجوع دی داطرافی خلکولپاره صدر په معنی درجوع سره دی یعنی اطرافی خلک چې کله دمکې معظمی څخه بیرته وطن ته رجوع کوی نوپده باندې په اخر کې طواف واجب دی چې دی طواف ته طواف الصدر وائی. ۵-والحلق اوسرکلول دی دادحج بعض واجبات دی اګر چې نور هم شته وغیرها اودمذکوره څخه ماسوا سنت اومستحبات دی واشهره اودحج لپاره میاشتی یوشوال ده دویمه ذوالقعدة ده اودریم ذی الحجی دمیاشتی لس ورځې دی وکره له اودحج لپاره ددی میاشتو څخه مخکې احرام تړل مکروه تحریمی دی والعمرة اوعمره کول سنت مؤکد ده وهی ددی عمری لپاره داحرام تړلو څخه وروسته دوه رکنونه دی. ۱- طواف دبیت الله شریف ۲-سعی په مابین دصفا اومروه کې اوپه اخر کې دحلالی لپاره دسر ویښتان به یاکل کړی اویابه ئی لنډ کړی ولاوقوف لها اودعمری لپاره په عرفات اومزدلفه باندې اودریدل نشته انه منی ته پکې تګ شته وجازت اوپه ټول کال کې یعنی په ټولو ورځو کې جائزده وکرهت اومکروه تحریمی ده عمره په ورځ دعرفې اوخلور ورځې ددینه وروسته چې ۱۰-۱۱-۱۲-۱۳ذی الحجی راځې څکه پدی ورځوکې نور افعال دحج کولی شې اودعمری افعال پکې نه ځائیږی.

ومیقات المدنی ذوالحلیفة والعراقی ذات عرق والشامی جحفة والنجدی قرن والیمنی یلملم وحرم تاخیر الاحرام عنها لمن قصد دخول مکة لاالتقدیم وحل لاهل داخلها دخول مکة غیرمحرم

فميقاته الحل اى من هوداخل المواقيت لكنه خارج مكة فميقاته الحل اى خارج الحرم ولمن سكن بمكة للحج الحرم وللعمرة الحل لان الحج فى عرفات وهى فى الحل فاحرامه من الحرم والعمرة فى الحرم فاحرامه من الحل ليتحقق نوع سفر.

توضيح المسئلة: ومیقات میقات هغه ځای ته وائی چې اطرافي خلک دحج اوعمری لپاره دهغې ځنې احرام تړی **المدنی** دامنسوب دی مدینه منوری ته اودمدنی نه مراد هر هغه څوک دی چې دمدینی منوری له طرفه مکې معظمی ته راځې نودمدنی خلکو لپاره میقات **ذوالحلیفة** ده ذوالحلیفة دیوځای نوم دی چې دډی اومدینی ترمنځ شپږ میله فاصله ده **والعراقی** «دعراق دخلکو لپاره میقات اوهمدانګه دټول اهل مشرق لپاره لکه افغانستان پاکستان ایران وغیره میقات . **ذات عرق** ذات عرق دی عرق یوځای دی چې ددی اومکې ترمنځ دوه څلویښت میله فاصله ده **والشامی** اومیقات دهغه خلکو چې دشام څخه راځې **جحفه** ده جحفه دیوځای نوم دی چې ددی اومکی ترمنځ دری مرحلی فاصله ده اومکی څخه دمغرب اوشمال ترمنځ قریه ده دتبوک په لاره چې نن دشام دخلکو لارده او دا جحفه دمصر دخلکو دمغرب والا اودشام دخلکو میقات دی **والنجدی** اودنجد لپاره میقات قرن دی چې ددی اومکی ترمنځ دوه مرحلی فاصله ده چې اُویس القرنی ته منسوب دی **والیمنی** اودیمن دخلکو لپاره میقات **یلملم** دی یلملم دیوغره نوم دی چې دمکی څخه دوه مرحلو کې پروت دی بحر ص،۵۵۵،ج۲»**وحرم** اوحرام ده وروسته کول داحرام ددی میقاتونو څخه یعنی تجاوز به نه کوی ددی میقاتونو څخه هغه څوک چې اراده دداخلیدو لری مکی معظمی ته **لا التقدیم** خومخکې والی مکروه نه دی مثلا چې یو افغانی ئی دکابل څخه احرام وتړی نوهیڅ پروانلری **لمن قصد** دیکې دیته اشاره ده چې څوک مکې ته داخلیږی دحج اوعمری اراده لری اوکنه خو بلااحرامه به نه داخلیږی **وحل لاهل داخلها** اوحلال دی دهغه خلکو لپاره چې په داخل دمیقات کې وی داخلیدل مکی ته **غیر محرم** بلااحرامه نوبیا ددوی میقات حل دی ترکوم ځای پوری چې دحرم اندازه ده دهغې اندازی نه اخوا ترمیقاته پوری حل دی نوکوم کس چې په داخل دمیقات کې یعنی دمیقات او دحرم تر منځ ساحه کی اوسیږی نو دده لپاره میقات یعنی داحرام دتړلو ځای حل دی **ولمن سکن** اوڅوک چې په مکه کې اوسیږی **للحج الحرم** دحج لپاره به دحرم څخه احرام تړی **وللعمرة** اودعمری لپاره به دحل څخه احرام تړی ځکه حج په

عرفات کې دی اوهی فی الحل اوعرفات په حل کې دی نودحج احرام به دحرم څخه وی والعمرة اوعمره په حرم کې ده نواحرام دعمری به دحل څخه وی لیتحقق داعلت دحج اوعمری دواړو لپاره بیانوی یعنی ددی لپاره چې یوقسم سفر راشي.

ومن شاء احرامه توضأ وغسله احب ولبس ازاراً ورداءً طاهرين وتطيب وصلى شفعاً وقال المفرد بالحج اللهم انی ارید الحج فیسره لی وتقبله منی ثم لبی ینوی بها الحج وهی لبیك اللهم لبیك لبیك لاشریك لك لبیك ان الحمد والنعمة لك والملك لك لاشریك لك ولاینقص منها وان زاد جاز واذا لبی ناویاً فقد احرم فیتقی الرفث والفسوق والجدال الرفث الجماع اوالکلام الفاحش اوذکر الجماع بحضرة النساء.

هداية الانام في بيان الاحرام

من شاء څوک چې اراده لری چې احرام وتړی نواودس به وکړی خوغسل کول مستحب دی ولبس اولنګ اوڅادر به واغوندی طاهرین چې پاک وی نوی وی اوکه وینځل شوی وی وتطیب اوخوشبوئی به ولګوی وصلی شفعاً اودوه رکعته نفلی لمونځ به اداء کړی وقال المفرد اووبه وائی هغه کس چې یواځې ئی احرام تړلی وی بالحج په حج سره یعنی دعمری احرام ئی ورسره نوی تړلی اللهم یاالله تعالی انی ارید الحج بیشکه زه اراده لرم دحج فیسره لی نو زما لپاره دا اسانه کړی وتقبله منی اوزما څخه ئی قبول کړی ثم لبی بیا به تلبیه ووائی اوپه تلبیې سره به نیت دحج وکړی وهی تلبیه داده لبیک قبول می کړو دعوت ستا یاالله تعالی قبول می کړو حاضر یم ستا طاعت ته لاشریك لك نشته شریک تالره قبول می کړو دعوت ستا ان الحمد بیشکه ثناء اونعمت تالره دی اوبادشاهی تالره ده نشته شریک تالره ولاینقص اوددی الفاظو څخه به په کموالی نه راولی وان زاد اوکه څه الفاظ پکې زیاتی کړی چې له دی سره مناسب وی نوداهم جائز دی لکه لبیك وسعدیک والخیر بیدیک الخ «بحر ۲، ۵۲۵»واذا لبی اوکله چې ئی تلبیه وویله ناویاً چې نیت کونکې دحج وی فقد احرم نوپه تحقیق سره داکس احرام وتړلو یعنی محرم وګرځیدو فیتقی نواوس به ځان ساتی الرفث دکوروالی نه والفسوق اودګناهونو څخه والجدال اودجنګ اوجګړو څخه الرفث جماع یعنی کوروالی ته وائی لکه قران کې الله تعالی فرمائی احل لکم لیلة الصیام الرفث الی نسائکم اوالکلام الفاحش بعض علماء وائی چې رفث بی حیا خبرو ته وائی څکه داهم دکوروالی ددواعیو څخه دی اوذکر الجماع اویارفث دکوروالی یادولوته وائی بحضرة النساء په

حضور دښځو کې ځکه دجماع خبرې هلته جماع ته داعي او بلونکې دی چې دښځو په حضور کې وی همدا وجه ده چې عبدالله بن عباس کله داشعر وهن یمشین الخ ولوستو اوپدیکې دجماع خبری هم وی نو پدی ئې څه باک رانه وړ صافی عفی عنه.

فقد روی عن ابن عباس لما انشد قوله شعر وهن یمشین بنا همیساً ان یصدق الطیر ننك لمیساً، قیل له اترفث وانت محرم فقال انما الرفث ماخوطب به النساء والضمیر فی هن یرجع الی الابل والهمیس صوت نعل اخفافها واللمیس اسم جاریة والمعنی نفعل بها ماترید ان یصدق الفال والفسوق هی المعاصی والجدال ان یجادل رفیقه وقیل مجادلة المشرکین فی تقدیم وقت الحج وتأخیره.

توضیح المسئلة: فقد روی شارح پدی دلیل پیش کوی چې دجماع خبری دښځو په حضور کې منع دی چې دعبدالله بن عباس څخه روایت دی چې **لما انشد** چې هرکله عبدالله بن عباس داشعر وویلی **وهن** اودا اوښان **یمشین بنا** چې تګ کوی په مونږ سره **همیساً** په نرمی نرمی سره **ان یصدق الطیر** که رښتیا شې **فال ننك** نو مونږ به کوروالی وکړو **لمیساً** دلمیس ونیزی سره **قیل له** چا وویلی عبدالله بن عباس ته **اترفث** ایاته دجماع خبری کوی **وانت محرم** حال داچه ته محرم ئې؟ **فقال** نو عبدالله بن عباس ورته وویل چې **انما الرفث** بیشکه هغه رفث چې منع تری راغلی هغه هغه ده چې په هغی سره ښځو ته خطاب وکړای شي یعنی دښځو په حضور کې وکړای شي **والضمیر** او ضمیر په هن کې اوښانو ته راجع دی **والهمیس** هغه اواز دنعل یعنی دپښو داوښانو ته وائی اخفاف جمع دخف ده خودلته داوښ پښه تری مراد ده **واللمیس** دادعبدالله بن عباس دوینزی نوم دی **والمعنی** اومقصد دادی چې مونږ به کوو ددی وینزی سره څه مو چې زړه غواړی که فال رشتیاشې **والفسوق** داګناهونو ته وائی ګناه په هرحالت کې حرامه ده خو داحرام په حالت کې ډیره زیاته ګناه لری **والجدال** یو مقصد ئې دادی چې دخپل ملګری خادم وغیره سره جنګ حرام دی اوبعض علماء وائی چې ددینه مراد دمشرکانو سره جنګ کول دی دحج په مخکې کولو اووروسته کولو کې یعنی مشرکان حج د ذی الحجی په میاشت کله مخکې کوی او کله وروسته کوی نو دمشرکانو سره جنګ کول داحرام په حالت کې ناروا دی.

وقتل صید البر لا البحر والاشارة الیه والدلالة علیه والتطیب وقلم الاظفار وستر الوجه والرأس وغسل راسه ولحیته بالخطمی وقصها وحلق راسه وشعر بدنه ولبس قمیص وسراویل وقباء وعمامة وقلنسوة وخفین وثوب صبغ بماله طیب الابعد زوال طیبه لا الاستحمام والاستظلال ببیت ومحمل بفتح المیم الاول وکسر الثانی وعلی العکس الهودج الکبیر وشد همیان فی وسطه یعنی الهمیان مع انه مخیط لابأس بشده علی حقوه

فتح الملهم في بيان ما يمتنع عنه المحرم:

وقتل صيد البر اوځان به ساتي وژلو دښکار دوچې اودصحرانه لاالبحر اوحرام نه دی په محرم باندې ښکار دبحری حیواناتو والاشارة اوځان به ساتي داشاری کولو نه ښکارته چې کله حاضر وی والدلالة اوځان به ساتي دښودنی نه په ښکار باندې چې کله غائب وی مثلا هغه داسې لاړو ،والتطیب اوځان به ساتي دخوشبوئی لګولو څخه وقلم الاظفار اودنوکانو غوڅولونه وستر الوجه اومخ پټولونه والرأس اودسر پټولونه وغسل راسه اودسر دوينځلو نه ولحيته اودږیری دوینځلو نه بالخطمی په ګل خطمی سره همدارنګې نن وخت کې شامپو صابون وغیره هم پدیکې شامل دی ځکه کوم شیئ چې خیری لری کوی نو هغه خطمی کې داخل دی اما صرف وینځل څه پروانلری وقصها اودلنډولو دږیری څخه به ځان ساتي نو لنډول ئی چې حرام شو نوکلول ئی په طریقه اولی سره حرام شو وحلق راسه اودسر کلولو نه به ځان ساتي وشعر بدنه اودبدن دویښتانو څخه ولبس قمیص اودقمیص داغوستلو څخه اودپرتوګ اغوستلو څخه وقباء اودچپنی داغوستلو څخه وعمامة اودپټکی داغوستلوڅخه وقلنسوة اودخولۍ داغوستلو څخه وخفين اودموزو داغوستلو څخه وثوب اودهغې جامی داغوستلو څخه صبغ چې رنګ شوی وی بماله طيب په هغه څه سره چې خوشبوئی لری الا بعدزوال طیبه مګر وروسته دخوشبوئی دختمیدونه پروانه لری لا الاستحمام اوحمام کول مکروه نه دی والاستظلال اوسیوری ته کیناستل مکروه نه دی په کوټی سره وی ومحمل او که په لوئی کجاوی سره وی لکه نن زمانه کې چې چتری دهغه په مثال ده الهودج الکبیر لویه کجاوه وشدهميان اومکروه ندی تړل دبټوی في وسطه په ملا خپله کې یعنی الهمیان یعنی همیانی یعنی بټوه اګر چې ګندل شوی ده خوسره ددینه دبډی پوری تړل پروانه لری حقوه هغه ځای ته وائی چې کوم ځای کې پرتوغانې تړلی شي چې پښتوکې ورته بډه وائی.

واكثر التلبية متى صلى اوعلا شرفا اوهبط واديا اولقي ركبانا اواسحر واذا دخل مكة بدأ بالمسجد وحين رأى البيت كبر وهلل ثم استقبل الحجر وكبر وهلل ويرفع يديه كالصلوة واستلمه اى تناوله باليد اوبالقبلة اومسحه بالكف من السلمة بفتح السين وكسر اللام وهي الحجران قدر غير موذ اى من غير ان يوذي مسلماً ويزاحمه والا يمس شيئاً في يده ثم قبله وان عجز عنهما استقبله وكبر وهلل وحمد الله تعالى وصلى على النبي ﷺ وطاف طواف القدوس للافاق.

الفوائد البهية في بيان التلبية:

واکثر او تلبیه به زیاته وائی متی صلی کله چې لمونځ کوی اوعلا شرفاً اویا په یو اوچت ځای خیژی اوهبط اویاښکته کیږی وادیاً یوی کندی یاخوړ ته اولقی اویا مخامخ شي رکباناً دسورلی سره اواسحر اویا په وخت دسحر کې داخل شي ،واذا دخل کله چې مکی معظمی ته داخل شي بدأ بالمسجد نو اول به مسجد حرم ته داخل شي وحين الخ اوکله چې بیت الله شریف وګوری نو الله اکبر به ووائی اولااله الاالله به ووائی ثم استقبل بیا به مخامخ حجر اسود ته اودریږی اوتکبیر اولااله الا الله به ووائی اولاسونه به پورته کړی ددعاء لپاره لکه څرنګه چې په مانځه کې پورته کولې شي یعنی چې داوږو یاغوږو په برابر وی واستلمه اوحجر اسود به ښکل کړی ای تناوله باليد یعنی په لاس به ئی ونیسی اوبالقبلة یاپه مچه کولو سره اومسحه بالکف اویابه ئی په لاس ورغوی سره مسح کړی من السلمة داماخوذ ده دسلمه نه اوداتیرې ته وائی ان قدر حجر اسود به ښکل کړی که قدرت ئی ؤ غیر موذ بغیر ددینه چې مسلمان ته ضرر ورسوی ويزاحمه اویا مسلمان دیکه کړی والا اوکه امکان دښکلولونه ؤ يمس شيئاً في يده نو په حجر اسود دولګوی داسې یوشیئ چې دده په لاس کې وی مثلا امسا دپه حجر اسود ولګوی ثم قبله بیا دهغه شیئ ښکل کړی یَعنی لکه امسا وغیره وان عجز اوکه دډیر ګڼ والی دوجی نهُ ددواړو طریقونه عاجزه ؤ نوبیادی حجراسود ته مخامخ اودیږی اوپه لاس دورته اشاره کوی چې ورغوی دلاس دحجر اسود طرف ته وی اوشائی دده طرفته وی اوالله اکبر به ووائی اولااله الاالله به وائی اودالله تعالی ثناء به ووائی اوپه نبی ﷺ به درود ووائی وطاف اوطواف قدوم به وکړی طواف قدوم دیته وائی چې کوم کس دخارج نه مکی ته داخلیږی نو ددا خلیدو سره به طواف وکړی اوداد اطرافی خلکو لپاره سنت دی اومکی خلکو لپاره نشته.

واخذ عن يمينه فيبتدئ مما يلي الباب الضمير في يمينه يرجع الى الطائف فالطائف المستقبل للحجر يكون يمينه الى جانب الباب فيبتدئ من الحجر ذاهباً الى هذا الجانب وهو الملتزم اى مابين الحجر الى الباب جاعلا رداءه تحت ابطه اليمنى ملقيا طرفه على كتفه اليسرى وفي المختصر قلت مضطبعا ومعنى الاضطباع هذا وراء الحطيم سبعة اشواط الحطيم مشتق من الحطم وهو الكسر وهو موضع فيه الميزاب سمى بهذا لانه حطم من البيت اى كسر.

الاعتراف في بيان الطواف:

مصنف رحمه الله د طواف طریقه بیانوی چې طواف به ونیسی د ښی طرف خپل نه نو اول به شروع دهغه طرفنه وکړی چې دروازی دبیت الله ته نژدی دی الضمیر په یمینه کې ضمیر طواف کونکي ته راجع دی فالطائف نو طواف کونکې چې حجر اسود ته مخامخ ولاړوی نو د طواف کونکې ښی طرف د دروازی خواته راځي فیبتدء نو د طواف شروع به د حجر اسود څخه وکړی ذاهباً اوتلونکي به وی دغه ښی طرف ته وهو الملتزم او همدغه ښی طرفته ملتزم دی یعنی دحجر اسود څخه تردروازی پوری ملتزم دی ملتزم ځکه ورته وائی چې خلک ددی سره لازم وی اوپه دغه ځای کې دطواف څخه وروسته دعاء او زاری کوی او همداځای دقبلیدو دی جاعلاً پداسې حالت کې چې گرځونکې به وی رداءه دځادر خپل لاندې دخپل ښی ترخ نه «تخرگ څخه »ملقیا اواچونکې به وی بل طرف دځادر په چپه اوږه باندې وفی المختصر شارح وائی چې په مختصر کې مامضطبعا ویلی او داضطباع هم همدغه معنی ده کومه چې مصنف ذکر کړیده وراء الحطیم وروسته دحطیم نه سبعة اشواط اوه گردشه دکعبی شریفی نه یوځل گیرچاپیره تاویدلو ته گردش وائی چې کله اوه گردشه پوره شې نو یو طواف کیږی . الحطیم دحطم څخه مشتق دی اوحطم ماتولوته وائی او دافعیل وزن ده په معنی دمفعول سره چې داهم دبیت الله څخه جدا شوی دی اویاپدی وجه ورته حطیم وائی چې څوک پدی ځای کې ظالم ته ښیرا وکړی نو الله تعالی به ئی مات کړی نو بیا حطیم فعیل وزن په معنی دفاعل سره شو ددی دری نومونه دی ۱-حطیم ۲-حظیرة ۳-حجر داهغه ځای دی چې دبیت الله سره دغرب لخوانه پیوسته دی چې دبیت الله او دحطیم ترمنځ لږ جدائی شته او ټول حطیم دبیت الله څخه نه دی بلکه دشپږ مترو (۲) په اندازه دبیت الله څخه دی اوپدیکې بی بی هاجره او اسماعیل علیهما السلام دواړه دفن دی او میزاب الرحمة یعنی درحمت ناوه هم په حطیم کې ده بحرالرائق، ص ۵۷۴، ج۲». فقه حنفی ص، ۴۳۱، ج، ۱».

روی عن عائشة انها نذرت ان فتح الله تعالی مكة علی رسول الله ﷺ ان تصلی فی البیت ركعتین فلما فتحت مكة اخذ رسول الله ﷺ بیدها وادخلها الحطیم وقال صلی ههنا فان الحطیم من البیت الا ان قومك قد قصرت بهم النفقة فاخرجوه من البیت ولولا حدثان عهد قومك بالجاهلیة لنقضت بناء الكعبة واظهرت قواعد الخلیل وادخلت الحطیم فی البیت والصقت العتبة علی الارض وجعلت

له بابین بابا شرقیا وبابا غربیا ولئن عشت الی قابل لافعلن ذلک فلم یعش ولم یتفرغ لذلک الخلفاء الراشدون حتی کان زمن عبدالله بن الزبیر وکان سمع الحدیث منها ففعل ذلک واظهر قواعد الخلیل وبنی البیت علی قواعد الخلیل بمحضر من الناس وادخل الحطیم فی البیت فلما قتل کره الحجاج ان یکون بناء البیت علی ما فعله ابن الزبیر فنقض بناء الکعبة واعاده علی ما کان فی الجاهلیة فلما کان الحطیم من البیت یطاف وراء الحطیم حتی لو دخل الفرجة لایجوز لکن ان استقبل المصلی الحطیم وحده لایجوز لان فرضیة التوجه ثبت بنص الکتاب فلا تأدی بما ثبت بخبر الواحد احتیاطاً والاحتیاط فی الطواف ان یکون وراء الحطیم.

اعلام الاعلام ببناء مسجد الحرام

روی عن عائشة دبی بی عائشی ﷺ څخه روایت دی چې مانذر ومانه چې که الله تعالی نبي ﷺ ته مکه فتح کړه نوزه به په داخل دبیت الله کې دوه رکعته لمونځ کوم. فلما فتحت نوهرکله چې دهجرت په شپږم کال په رمضان کې مکه فتح شوه نونبی علیه السلام بی بی عائشه دلاس څخه ونیوه اوپه حطیم کې ورداخله کړه وقال اونبی ﷺ ورته وفرمائل چې دلته لمونځ وکړه ځکه حطیم دبیت الله څخه دی مګر ستاقوم قریش ته قدقصرت بهم په تحقیق سره دوی ته کمه شوه النفقة خرچه اوچنده دمسجد فأخرجوه نوقریشو حطیم دبیت الله څخه ویسته ولولا حدثان عهد قومک که چیرته نه وای نژدی زمانه دقوم ستا بالجاهلیة جاهلیت اوکفرته یعنی اګر چې دوی مسلمانان ؤ خوتازه مسلمانان شوی ؤ هسی نه چې ددوی په زړه کې څه تیرشي اوپه نبی ﷺ څه عیب ولګوی چې داپیغمبر ولی کعبه وزانه وی لنقضت نومابه ورانه کړی وه دغه ابادی دکعبی واظهرت اومابه راښکاره کړی ؤ قواعد الخلیل بنیاذونه دابراهیم ﷺ وادخلت اوحطیم به می په بیت الله کې داخل کړی ؤ والصقت العتبة اومابه پیوسته کړی وه لاندې درشایي دبیت الله دزمکې سره وجعلت له اومابه ګرځولی ؤ دبیت الله لپاره دوه دروازی یوه دروازه مشرق خواته اوبله دروازه مغرب خواته ولئن عشت اوکه چیرته زه ژوندی پاتی شوم الی قابل ترراروان کاله پوری لافعلن ذلک نوزه به داکار کوم ((ځکه دابراهیم ﷺ ابادی هم پدی طریقه وه فلم یعش خونبی ﷺ ترراروان کاله پوری په دنیا کې پاتی نه شو ولم یتفرغ اوددی ابادی لپاره وزګار نه شو خلفاء الراشدون یعنی حضرت ابوبکر الصدیق حضرت عمر الفاروق حضرت عثمان ذی النورین اوحضرت علی

المرتضی رحمه الله حتی کان تردی پورې چې زمانه دحکومت دعبدالله بن الزبیر رضی الله عنه راغله وکان اوعبدالله بن الزبیر دغه حدیث دخپلې تروربی بی عائشې څخه اوریدلی ؤ اوپه هغه طریقه ئی جوړه کړه چې دنبی ﷺ څه تمنی اوارزو وه واظهر اودابراهیم خلیل الله بنیادونه ئی راښکاره کړل اودابراهیم علیه السلام په بنیادونو بیت الله جوړ کړو بمحضر من الناس داپه حضور دډیر صحابو کې ؤ اوحطیم ئی په داخل دبیت الله کې راوست اودغه سنه څلور شپیته ۶۴ وه فلما قتل بیا چې عبدالله بن الزبیر په سنه ۷۳ه کې دحجاج بن یوسف ظالم له لاسه په شهادت ورسولی شو نوحجاج بده ګڼله چې دبیت الله ابادی په هغه طریقه پاتی شې چې عبدالله بن الزبیر جوړه کړی وه فنقض نودبیت الله ابادی ئی ورانه کړه اوپه هغه طریقه ئی بیرته جوړه کړه چې کومه دجاهلیت زمانه کې وه روایت دی چې هارون الرشید مالک بن انس ته وویل چې دکعبې شریفې کومه ابادی چې حجاج جوړه کړی هغه به زه ورانه کړم اودعبدالله ابن الزبیر دابادی په طریقه به ئی جوړه کړم چې دنبی ﷺ څخه روایت وه او عبدالله بن الزبیر دنبی ﷺ دامر تابعداری کړی وه نومالک بن انس ورته وویلی چې زه په الله تعالی سره تاته قسم درکوم ای امیر المؤمنین چې کعبه دپاچاهانو لپاره دلوبی ځای مه ګرځوه هرپاچا به ئی دخپلې خوښې مطابق ورانوی اوجوړه وی اودخلکو دزړونو څخه به دبیت الله رعب اوهیبت ختم شې «قرطبی ص، ۱۲۴، ج، ۲.».

فلما کان الحطیم نوهر کله چې حطیم دبیت الله شریف حصه شوه نودحطیم څخه وروسته به طواف کولی شې حتی لودخل تردی که طواف کونکې داخل شې الفرجة په هغه خالی ځای چې دبیت الله اوحطیم ترمنځ دی اوپه بل طرف تری ووځی نودا طواف ئی جائز نه دی ځکه داپه داخل دبیت الله کې راغې لکن غرض دشارح ددی عبارت څخه دفع دیودوهم اواعتراض ده چې کله حطیم دبیت الله څخه وګرځیده نوکه یولمونځ کونکې یواځې حطیم ته مخ کړی نوپکار ده چې لمونځ ئی صحیح شې نوشارح دفع ددی وهم وکړ چې داصحیح ده چې حطیم دبیت الله څخه دی لکن که یولمونځ کونکې یواځې حطیم ته مخ وګرځوی نولمونځ ئی نه صحیح کیږی لان فرضیة ځکه فرض والی دمخ ګرځولو کعبې ته په نص دکتاب الله سره ثابت دی فول وجهک شطر المسجد الحرام اوثبوت ددی چې حطیم دبیت الله یوجزء دی داپه خبرواحد سره دی فلایتادی نولمونځ نه اداء کیږی په هغه څه سره چې په خبرواحد سره ثابت وی احتیاطاً اودادنه جواز حکم دوجی داحتیاط څخه دی ددی وجی نه نه دی چې حطیم ته به مخ نه ګرځوی اویائی حطیم ته لمونځ نه کیږی بلکې حطیم ته لمونځ که چاو کړو نوجائز دی

خودنه جواز حکم په احتیاط مبنی دی والا حتیاط دهمدی وجی څخه مونږ په طواف کښ هم احتیاط وکړو اوپه طواف کښ احتیاط دادی چې دحطیم نه اخوا وی . **ورمل فی الثلثة الاول من الحجر الی الحجر وهو ان یمشی سریعا ویهز فی مشیه الکتفین کالمبارز بین الصفین وذلك مع الاضطباع وکان سببه اظهار الجلادة للمشرکین حیث قالوا اضناهم حمی یثرب ثم بقی الحکم بعد زوال السبب فی زمن النبی ﷺ وبعده وکلما مر بالحجر فعل ماذکر ویستلم الرکن الیمانی وهو حسن وختم الطواف باستلام الحجر ثم صلی شفعا یجب بعد کل اسبوع عند المقام اوغیره من المسجد ثم عاد واستلم الحجر وخرج فصعد الصفا واستقبل البیت وکبر وهلل وصلی علی النبی ﷺ ورفع یدیه ودعا بما شاء ثم مشی نحو المروة ساعیا بین المیلین الاخضرین وصعد علیها وفعل مافعله علی الصفا یفعل هکذا سبعا یبدأ بالصفا ویختم بالمروة ای السعی من الصفا الی المروة شوط ثم من المروة الی الصفا شوط آخر فیکون بدایة السعی من الصفا وختمه وهو السابع علی المروة وفی روایة الطحاوی رحمه الله السعی من الصفا الی المروة ثم منها الی الصفا شوط واحد فیکون اربعة عشر شوط علی الروایة الثانیة ویقع الختم علی الصفا والصحیح هوالاول.**

لباب المناسك فی احکام المناسك:

ورمل اوپهلوانی به وکړی په دری اولنیو ګردشونو کښ فقط نه په څلورو باقیو کښ **من الحجر الی الحجر** دحجر اسود څخه ترحجر اسوده پوری به پهلوانی کوی **وهو** دادرمل تفسیر کوی چې رمل دیته وائی **ان یمشی سریعا** چې تګ به کوی په چالاکښ سره **ویهز** اوخوزه وی به **فی مشیه** په تګ خپل کښ **الکتفین** اوږی **کالمبارز** پشان دتګ دهغه کس چې دجنګ میدان ته راوتونکښ وی **بین الصفین** په مابین ددوو صفو کښ یعنی دمسلمانانو اوکافرو دصفو ترمنځ دجنګ لپاره راووځي اوخپل طاقت ښکاره کړی اواوږی خوزه وی **وذلك** اودغه پهلوانی به کوی **مع الاضطباع** داضطباع سره داضطباع تعریف مخکښ ذکر شوی ده **وکان سببه** اوسبب درمل اوډپهلوانی داؤ چې نبی ﷺ اوصحابه کله دصلحی حدیبی څخه وروسته دعمری لپاره راغلل نوکفارو وویلی چې **اضناهم حمی یثرب** دامسلمانان دیثرب یعنی مدینی منوری تبوکمزوری کړیدی نونبی ﷺورته امر وکړو چې خپل طاقت مشرکانوته ښکاره کړی اودهغوی ګمان ختم کړی نودرمل دروا والی سبب همداؤ اورمل سنت وګرځیدو اګر چې اوس سبب هم نشته خوحکم ئی دسبب دختمیدو څخه وروسته هم پاتی شو دنبی ﷺ په زمانه کی اودهغی څخه وروسته هم **وکلما مر** اوهرکله چې په حجر اسود باندې تیریږی **فعل**

ماذکر نوذکر شوی افعال به کوی یعنی دحجر اسود ښکلول اولاس وروړل وغیره **ویستلم** اوښکلوی به رکن یمانی اوددی ښکلول غوره اومستحب دی رکن یمانی هغه دی چې دحجر اسود څخه جنوب طرفته کونج دبیت الله ته وائی **وختم الطواف** اوطواف به ختموی په ښکلولو دحجر اسود سره **ثم صلی شفعاً** بیا به دطواف څخه وروسته دوه رکعته لمونځ وکړی **یجب** داصفت دی دشفعا لپاره یعنی داسی دوه رکعته لمونځ چې واجب دی وروسته دهراوه گردشو څخه چې اوه گردشه یوطواف راځي **عند المقام** دمقام ابراهیم ﷺ سره به ئی وکړی اوغیره اویابل ځای کې دمسجد نه یعنی په مسجد حرم کې چې هرځای خوښه وی ودی کړی خودمقام ابراهیم سره سنت دی **ثم عاد** بیابه راواپس شي اوحجر اسود به ښکل کړی **وخرج** اودطواف نه وروسته به دمسجد حرم څخه ووځي **اوجبل** صفا ته ورشي **فصعد الصفا** په صفا غونډۍ به وخیژی اوبیت الله ته به مخ کړی اوالله اکبر به ووائی اولااله الا الله به ووائی اوپه نبی ﷺ به درود ووائی اولاسونه به په دعاء کې پورته کړی اودعاء به وغواړی څه ئی چې زړه وی بیابه په طرف دمروه غونډۍ ورشي **ساعیاً** اوسعی به کوی ددووشنو میلینو ترمنځ یعنی پدغه ځای کې به لږ منډه کوی **اومیلین اخضرین** دصفا اومروه ترمنځ دوه علامی دی چې یوه شنه ده او بله زیړه ده خو تغلیباً ورته اخضرین وائی چې هلته به حاجی منډه کوی **وصعد علیها** اوپه مروه به وخیژی **وفعل** اودلته به هغه څه کوی چې دصفا په غونډۍ ئی کوله چې هغه بیت الله ته مخ کول اذکار کول دعاء کول وغیره دی **یفعل** په همدی طریقه به اوه کرتی کوی سعی به دصفا څخه شروع کوی اوپه مروه به ئی ختموی یعنی دصفا څخه ترمروه پوری سعی کول یوگردش دی بیا دمروه څخه ترصفا پوری بل گردش دی نوشروع دسعی دصفا څخه ده اوختمیده دسعی په مروه دی چې هغه اوم گردش راځي اوکه چادمروه څخه شروع دسعی وکړه نودغه گردش ئی غیر معتبر دی بلکی هغه گردش به معتبر وی چې دصفا څخه شروع شي ځکه نبی ﷺ فرمائی چې دهغه ځای څخه شروع وکړی دکوم ځای څخه چې الله تعالی شروع کړیده ان الصفا الایة بحر ، ص،۵۸۴،ج۲».

اودطحاوی په روایت کې دصفا څخه سعی تر مروه پوری اوبیا دمروه څخه ترصفا پوری یوگردش حسابیږی نوټوله سعی دطحاوی په روایت سره څوارلس «۱۴» گردشه راځي اودسعی شروع په صفا اوختمیدل ئی هم په صفا سره راځي خواول قول چې سعی به اوه گردشه وی صحیح قول دی .

ثم سكن بمكة محرماً وطاف بالبيت نفلا ماشاء وخطب الامام سابع ذي الحجة وعلم فيها المناسك وهي الخروج الى منى والصلوة والوقوف بعرفات والافاضة ثم التاسع بعرفات ثم الحادي عشر منى يفصل بين كل خطبتين بيوم ثم خرج غداة التروية وهي اليوم الثامن من ذي الحجة سمي بذلك لانهم يروون الابل في هذا اليوم الى منى مكث فيها الى فجر يوم عرفة ثم منها الى عرفات وكلها موقف الابطن عرفة واذا زالت الشمس منه خطب الامام خطبتين كالجمعة وعلم فيها المناسك وهي الوقوف بعرفة والمزدلفة ورمى الجمار والنحر والحلق وطواف الزيارة.

توضيح المسئلة: ثم سكن بیا به په مکه معظمه کې د احرام په حالت کې او سیږی ځکه دامحرم بالحج دی او د احرام نه به هلته حلالیږی چې د حج څخه فارغ شې اومخکښې طواف خودده دراتلو لپاره یوتحیه وه **وطاف** اونفلی طوافونه دی کوی ځومره چې ئی خوښه وی **وخطب** اوامام به په مسجد الحرام کې په اوم دذی الحجی خطبه ووائی اودغه خطبه یوه ده یعنی ددی په منځ کې ناسته نشته اودزوال څخه به وروسته وی **وعلم** اوو به ښايي خلکو ته پدی خطبه کې احکام دحج **وهي** چې هغه منی ته تلل دی اولمونځ او اودریدل دی په عرفات باندې **والافاضة** اودعرفات څخه بیرته تلل دی **ثم التاسع** بیابه په نهم دذی الحجی په عرفات کې دزوال وروسته اودماسپښین دمانځه څخه مخکې دوه خطبې ووائی یعنی چې منځ کې ئی جلسه وی **ثم الحادي عشر منى** بیابه په یولسم «۱۱»دذی الحجی په منی کې یوه خطبه ووائی چې جلسه به پکې نه وی اودماسپښین څخه به وروسته وی **يفصل** جدا والی به راولی دهر دوو خطبو ترمنځ په یوی ورځی سره یعنی چې په اوم دذی الجی ئی خطبه ولوستله نوپه اتمه ورځ به ئی نه وائی بیا به ئی په نهمه خطبه ووائی په لسم دذی الحجی به خطبه نه وائی بیا به په یولسم باندې خطبه ووائی **ثم خرج** بیا به راووځي **غداة التروية** صبا داتمی ورځې یعنی وروسته دصبا لمانځه داتمی ورځې دذی الحجی څخه **سمي** دذی الحجی اتمی ورځې ته ترویه ولی وائی **لانهم يروون** ځکه داخلک اوبه کوی الابل اوښان **في هذا اليوم** پدی ورځ کې ددی لپاره چې عرفی ته ځان تیار کړی ځکه په عرفات کې روانی اوبه نه وی .

الى منى دامتعلق دی ترخرج پوری یعنی به منی ته به راووځي **مكث فيها** اوپه منی کې به وخت تیر کړی تر صبا دورځې دعرفی پوری بیا دمنی نه عرفات ته لاړشي **وكلها** اوټول عرفات ځای داوریدلو دی یعنی کوم ځای کې چې اودریږی نو اوریدلی شې مګر بطن عرنه کې به نه

اودرېږي عرنه په عرفات کې يوځاى دى دمؤقف څخه چپ طرفته چې تصغير ئى عرينه راځې اودعرنيونو نسبت همدى ته کيږي ددى وجه څه ده چې دبطن عرنه کې د اودريدلو څخه منع شوى ده ؟الجواب ځکه چې نبى ﷺ پدى ځاى کى شيطان ليدلى ؤ نو بيائى امر وکړو چې دلته به څوک نه اودرېږي طحطاوى ص ۷۳۰بنايه ص ۲۴۱/۴ خطب واذا زالت اوکله چې دلمر زائله شې يَعنى دلمر زوال وشې منه دعرفى په ورځ خطب نوامام به خطبه ووائى دوه خطبى کالجمعة لکه دجمعى خطبه چې دمانځه څخه مخکې ده اودوه خطبى دى وعلم اوپدي خطبه کې به وښايي دحج احکام وهى چې هغه اودريدل دى په عرفه باندې اوپه مزدلفه باندې ورمى الجمار اوويشتل دجمرودى والنحر اوذبح په منى کې اوسرکلول اوطواف زيارت کول دى.

وصلى بهم الظهر والعصر اى فى وقت الظهر بأذان واقامتين وشرط الامام والاحرام فيهما فلايجوز العصر للمنفرد فى احدهما ولالمن صلى الظهر بجماعة ثم احرم الا فى وقته هذا استثناء من قوله فلايجوز العصر وانما خص العصر بهذا الحكم لان الظهر جائز لوقوعه فى وقته اما العصر فلايجوز قبل الوقت الابشرط الجماعة فى صلوة الظهر والعصروكونه محرما فى واحد من الصلاتين.

توضيح المسئلة: **وصلى بهم** اولمونځ به خلکو ته ورکړى دماسپښين اودمازيګر يَعنى دماسپښين په وخت کې په جمع تقديم سره يعنى چې دمازيګر لمونځ به رامخکې کړى اودماسپښين په وخت کې به ئى اداء کړى په ي، اذان اودوه اقامتونو سره **وشرط** هرکله چې داجمع بين الصلاتين دقياس څخه مخالفه وه نو ترمورده پورى به خاص وى اومورد ئى دادى چې امام به وى اوداحرام په حالت کې به وى نوپدى وجه علماؤ ددى لپاره داشرط ولګولو چې پدواړو لمونځونو کې يوشرط امام دى يعنى چې په جمع سره وشې اوبل احرام دى **فلايجوز العصر** همدا وجه ده چې دمازيګر لمونځ جائز نه دى **للمنفرد** ديواځې لمونځ کونکې لپاره **فى احدهما** په يو،دواړو کې يعنى ماسپښين اومازيګر کې يعنى که يوکس پدى دواړو لمونځونو کې يولمونځ هم بى جمع وکړى نوبيابه ددواړو ترمنځ جمع والى نه کوى بلکى هر يولمونځ به په خپل وخت کې کوى **ولالمن** همدا رنګې جمع په مابين دماسپښين اومازيګرکې جائز نه ده دهغه چالپاره چې دماسپښين لمونځ دامام سره وکړى اواحرام ئى تړلى نه وى اوبيا دهغى نه وروسته احرام وتړى **الافى وقته** يعنى کوم کس چې احرام تړلى نه وى اويايو لمونځ په جمع سره ونه کړى نومازيګر لمونځ دده جائز نه دى په يووخت کې هم مګر په وخت

دمازیګرکی الافی وقته دامستثنی ده ددی قول نه چې فلایجوز العصر وانما خص اودمازیګر لمونځ ددی حکم پوری یعنی چې صرف په خپل وخت کې بیا جائز دی ځکه خاص شو لان الظهر ځکه دماسپښین لمونځ جائز دی چی هغه په خپل وخت کې واقع شوی دی اماالعصر اودمازیګر لمونځ دخپل وخت نه مخکې جائزنه دی مګر په دوه شرائطو سره .

۱ ـ الجماعة : چې یو په جماعت سره اداکول دماسپښین اومازیګر دی .

۲ ـ وکونه محرما اوبل داچه احرام به ئی تړلی وی په دواړو لمونځونو کې اوکه پدی شرائطو کی یونه ؤ نوبیابه هریولمونځ په خپل وخت کې کوی .

ثم ذهب الی الموقف بغسل سن ووقف الامام علی ناقته بقرب جبل الرحمة مستقبلا ودعا بجهد وعلم المناسك ووقف الناس خلفه بقربه مستقبلین سامعین مقوله واذا غربت اتی مزدلفة وكلها موقف الا وادی محسر ونزل عند جبل قزح وصلی العشائین بأذان واقامة ههنا جمع المغرب والعشاء فی وقت العشاء واعاد مغربا من اداه فی الطریق اوبعرفات مالم یطلع الفجر لابعده فانه ان صلی المغرب قبل وقت العشاء لایجوز عند ابی حنیفة رحمه الله ومحمد رحمه الله فیجب الاعادة مالم یطلع الفجر فان الحكم بعدم الجواز لادراك فضیلة الجمع وذا الی طلوع الفجر فاذا فات امكان الجمع سقط القضاء لانه ان وجب القضاء فاما ان وجب قضاء فضیلة الجمع وذا لایمكن اذ لا مثل له وان وجب قضاء نفس الصلوة فقد اداها فی الوقت فكیف یجب قضاؤها .

توضیح المسئلة: **ثم ذهب** یعنی کله چې دماسپښین اومازیګر لمونځ دواړه په جمع تقدیمی سره دامام پسې اداء کړ نوبیا به امام سره دقوم نه دمسجد څخه لاړ شي **الی الموقف** ځای داودریدو ته **بغسل سن** سره دداسې غسل نه چې سنت کړای شوی دی یعنی دمانځه څخه مخکې به غسل وکړی چې دمانځه څخه وروسته موقف ته لاړشي **ووقف الامام** اوامام به په اوښه باندې اودریږی نژدی جبل الرحمت ته اوکعبی ته به مخامخ اودریږی اودعاء به وغواړی **بجهد** په ښه کوشش اوزاری سره **وعلم المناسك** اودحج احکام به خلکو ته وښائی **ووقف** اوخلک به وروسته دامام څخه اودریږی **بقربه** خوامام ته نژدی چې دعائی واوری **مستقبلین** پداسې حالت کې چې خلک به بیت الله ته مخ کونکې وی **سامعین** اوریدونکې به وی **مقوله** دوینا دامام **واذا غربت** کله چې لمر ولویږی مزدلفی ته به راشي اوټوله مزدلفه ځای

داودريدو دى يعنى په هرځاى كې چې اودريږى نو جائز دى الاوادى محسر مګر وادى محسر كې جائز نه دى وادى محسر پنځه سوه او پنځه څلويښت ‹۵۴۵› ګزه دى وجه دممانعت داده چې پدى ځاى كې فيل اودفيل خاوندان چې ابرهه وغيره هلاک شوى دى اوپه كوم ځاى چې عذاب راغلې وي نو دهغې څخه په چالاكۍ سره تيريدل پكاردى .زادالمعاد لابن القيوم ص. ۲۵۰ ،ج.۲›› بحر ص. ۲۰۰ ،ج.۲طحطاوى ص.۷۳۲››ونزل اوښکته به شي جبل قزح طرفته جبل قزح په مزدلفه كې يوغر دى چې مشعر الحرام ورته وائى وصلى العشائين اودماښام اودماخوستن لمونځ به اداء كړى په يواذان اويواقامت سره .

سوال: څه وجه ده چې عرفات كې هم جمع بين الصلاتين شته خوهلته دوه اقامته كيږى اودلته په مزدلفه كې هم جمع بين الصلاتين شته خودلته يواقامت كيږى ؟

جواب : ځكه په عرفات كې دمازيګر لمونځ دخپل وخت څخه بى ځايه شو نويواقامت دماسپښين دلمانځه لپاره اوبل دمازيګر لپاره وشو اوپه مزدلفه كې خودماخوستن لمونځ په خپل وخت كې اداء كيږى نوچې دماښام لمونځ لپاره اقامت وشو نودماخوستن لمونځ لپاره هم كافى دى ،ههنا جمع په مزدلفه كې دماښام اوماخوستن لمونځ به يوځاى دماخوستن په وخت كې اداء كولې شې په جمع تاخيرى سره يعنى چې دماښام لمونځ وروسته كړاى شې ددى دواړو لمونځونو لپاره امام شرط نه دى يَعنى كه ځانته وى نوهم به دواړه يوځاى كوى خواحرام شرط دى اوددينه مخكې په عرفات اودريدل شرط دى واعاد اولازما به بياراګرځوى مغرباً دماښام لمونځ من اداه هغه څوک چې دماښام لمونځ ئى اداء كړى وى فى الطريق په لاره كې اوبعرفات ياپه عرفات كې مالم يطلع الفجر ترڅو چې صبا راختلى نه وى لابعده خودصبا دختلونه وروسته به بيا قضاء نه راوړى يعنى كه يوكس دماښام لمونځ په لاره كې ياپه عرفات كې دماخوستن څخه مخكې وكړى نودغه كس به دماښام لمونځ بيا راګرځوى ترڅو چې داختر دورځې صبا راختلى نه وى ځكه دماښام لمونځ پدغه شپه مشروط دى په دوه شرائطو :

۱-دماخوستن په وخت كې به كولى شې ۲-چې په مزدلفه كې به كولى شې .

فانه ان صلى ځكه كه دماښام لمونځ دماخوستن دوخت نه مخكې وكړى نودامام ابوحنيفة اوامام محمد په نزد جائز نه دى نواعاده ئى واجب ده ترڅو چې صبا راختلى نه وى فان الحكم ځكه فيصله بعدم الجواز په نه جواز دماښام دمانځه يَعنى چې دماښام لمونځ جائز نه دى لادراك ددى لپاره چې فضيلت دجمع بين الصلاتين رالاندي شې وذا الى اودغه فضيلت تردصبا

راختلو پورې ممكن دى فاذا فات خو هر كله چې امكان د جمع بين الصلاتين فوت شي يعنى چې صبا را وخيژى سقط القضاء نو د ماښام د مانځه قضاء ساقطيږى لانه ان وجب ځكه كه د صبا د ختلو څخه وروسته د دى ماښام قضاء واجب شي نو د غه قضاء به يا د فضيلت د جمع بين الصلاتين لپاره وى او دا خو غير ممكن ده ځكه قضاء د هغه څه وى چې مثل ولرى او فضيلت د جمع بين الصلاتين خو مثل نه لرى نو اداء ئې هم ممكن نه ده او يا به دا قضاء د نفس مانځه وى نو بيا هم غير معقول ده ځكه نفس لمونځ خو په خپل وخت كې اداء شوى چې هغه ماښام دى نو بيا قضاء د دى څنګه واجب شوه او امام ابويوسف رحمه الله وائى چې د دى قضاء واجب نه ده بلكې همدغه كافى ده ځكه نفس لمونځ په خپل وخت كې اداء شوى ده خو ګناهګار شو ځكه سنت طريقې څخه ئې مخالفت وكړو .

وصلى الفجر بغلس ثم وقف ودعا وهو واجب لاركن واذا اسفر اتى بمنى ورمى جمرة العقبة من بطن الوادى سبعاً خذفاً وكبر بكل منها وقطع تلبية باولها ثم ذبح ان شاء ثم قصر وحلقه افضل وحل له كل شيئ الا النساء ثم طاف للزيارة يوماً من ايام النحر سبعة بلارمل وسعى ان كان سعى قبل والا فمعهما واول وقته بعد طلوع فجر يوم النحر وهو فيه افضل اى فى يوم النحر وحل له النساء فان اخره عنها كره اى عن ايام النحر ووجب دم ثم اتى بمنى وبعد زوال ثانى النحر رمى الجمار الثلث يبدأ بما يلى المسجد اى مسجداً الخيف ثم ما يليه ثم بالعقبة سبعا سبعاً وكبر بكل حصاة ووقف بعد رمى بعده رمى فقط اى يقف بعد الرمى الاول وبعد الثانى لابعد الثالث ولابعد رمى يوم النحر ودعا ثم غدا كذلك ثم بعده كذلك ان مكث وهو احب وان قدم الرمى فيه اى فى اليوم الرابع على الزوال جاز.

توضيح المسئلة: **وصلى الفجر** او د سحر لمونځ به په تياره كې اداء كړى په دغه ځاى كې اسفار غوره نه دى **ثم وقف** بيا به مزدلفه كې اودريږى اګر چې لږ وخت وى او دغه اودريدل واجب دى **لاركن** خو ركن نه دى چې د دى په پريښودلو سره حج فاسد شي بلكې واجب دى او د دى جبيره به په دم سره وى **واذا اسفر** او كله چې ښه رڼا شي نو منى ته به راشي. **اوجمرة عقبه** يعنى وروستنى جمره به وولى ځكه درې جمرى دى اوله دويمه دريمه خو دريمه د مكى خواته ده **من بطن الوادى** د منځ د وادى او خوړ څخه به ئې وولى **سبعاً** په اووشګو سره **خذفا** په ويشتلو سره خو خذف هغه ويشتلو ته وائى چې ګوتى په سرئى وولى **وكبر بكل منها** او هرى شګى د ويشتلو سره به الله اكبر وائى **وقطع** او تلبيه به بنده كړه **باولها** د اولى شګى سره **ثم ذبح** بيا به ذبح وكړى كه چيرته ئې خوښه شي

ځکه په حاجی مفرد باندې ذبح واجب نه ده نوکه په خپله خوښه ئی وکړی نوځه پروا نه لری اوقربانی دلوی اختر په هغه صورت کې پده واجب ده چې مسافر نه وی لکه دمکی خلک اوکه مسافر ؤ نوبیآ دلوی اختر قربانی هم وربانډی واجب نه ده . «بحرالرائق ۲، ۲۰۲»په حدیث شریف کې راځي چې نبی ﷺ په خپل لاس ۶۳ اوښانی حلالی کړی بیا ئی حضرت علیؓ ته امر وکړو اوهغه باقی هغه حلالی کړی اوځان سره ئی په قربانی کې شریک کړو بیائی دهری اوښی څخه لرلږ غوښه راواخیسته اوپخه ئی کړه اودواړو وخوړه اوشوروائی وڅښله بیا په سورلی سواره شو اودماسپښین لمونځ ئی مکه کې وکړو ابن حبان وائی چې حکمت پدیکې څه ؤ چې نبی ﷺ ۶۳اوښانی حلالی کړی ؟هغه داؤ چې دنبی ﷺ ۶۳ کاله عمرؤ اودهر کال لپاره ئی یوه اوښه ذبح کړه «بحر ص، ۲۰۲،ج، ۲»ثم قصر بیا به دسرویښتان کم کړی دګوتی دبند په اندازه خوکلول ئی غوره دی وحل له اوددی افعالو نه وروسته ورته هرڅه حلال شو کوم چې دممنوعاتو داحرام څخه ؤ الا النساء مګر دښځو سره کوروالی وغیره حلال نه شو ثم طاف بیابه طواف زیارت وکړی په هره ورځ چې خوښه ئی شي دورځو داختر نه چې هغه دری ورځې دی سبعة اوه ګردشه . بلا رمل بی له پهلوانی کولونه ځکه رمل هلته کولې شي چې دطواف نه وروسته سعی وی اودلته نشته وسعی اوسعی به هم نه کوي که چیرته ئې مخکې په طواف قدوم کې سعی کړې وه والا اوکه مخکې ئی سعی کړی نه وه فعهما نوبیا به طواف کوي سره درمل اوسعی نه واول وقته اواول وخت دطواف زیارت چې ده نوهغه وروسته دراختلو دصبا دورځې داختر څخه دی وهو اوداطواف فیه داختر په ورځ کې افضل ډیر غوره دی وحل له خودطواف زیارت څخه وروسته ورته دخپلې ښځې سره کوروالی هم جائز شو فأن اخرة خوکه طواف زیارت وروسته کړی عنها داختر ددری ورځونه کره نوبیا مکروه ده ووجب دم او دم یعنی ذبح کول دحیوان وربانډي لازم دی چې ادنی ئی ګډ دی ځکه ترک دواجبو راغې اوپه ترک دواجبو دم لازمیږی .

ثم اتی بیا به منی ته دطواف زیارت څخه وروسته لاړشي وبعد زوال اوورسته دزوال ددویمی ورځې داخترنه چې ۱۱دذی الحجی راځې دری واړه جمری به وولی یبدأ نواول به په هغې جمره شروع کوی چې مسجد خیف ته نژدی وی ثم مایلیه بیا په هغه جمره چې اولی جمری ته نژدی وی دیته درمیانه جمره وائی ثم بالعقبة بیا به وروستنی جمره وولی سبعا سبعا هره جمره به اوه کرتی ولی اودهر وار سره به الله اکبر وائی ووقف اووبه اودریږی وروسته دهغې رمی نه چې دهغې نه

وروستـه بلـه رمي وي يعني چې هغه اوله رمي ده اودويمه رمي ده څکه داولي نه وروستـه دويمه امي ده او د دويمي نه وروستـه دريمه رمي ده خو د دريمي امي څخه وروستـه به نه اودريږي څکه د دريمي امي څخه وروستـه بله رمي نشته اونه به دهغې رمي څخه وروستـه اودريږي چې داختر په ورځ باندې وي څکه داهم يوه رمي ده وروستـه ترى بله رمي نشته . **لابعد الثالث الخ تفسير دلفظ** دفقط دى ودعا اودعاء به وغواړى **ثم غدا كذالك** بيا به صباته يعني داختر په دريمه ورځ به همدارنګې درى واړه جمرى وولي اودادمنى څخه مكى ته دګرځيدلو اول ورځ ده نوپدى ورځ كه مكى ته لاړو نو حج ئى پوره شو اوكه په منى كې پاتې شو نو بيا به داختر په څلورمه ورځ چې دذى الحجى ديارلسم ﴿۱۳﴾راځي هم درى واړه جمرى وولي چې مصنف ورته اشاره په ثم بعده كذلک سره كړيده ان مكث كه دذى الحجى په ديارلسم هم په منى كې پاتې شې اوترديارلسم ﴿۱۳﴾دذى الحجى پورى پاتې كيدل ډير غوره دى څكه نبى ﷺ هم پاتې شوى ؤ **وان قدم** اوكه رمي ئى مخكې كړه **فيه** داختر په څلورمه كې يعني دذى الحجى په ديارلسمه ورځ كې په زوال باندې نوداهم جائزده خودزوال څخه وروستـه سنت دى .

وله النفر قبل طلوع فجر اليوم الرابع النفر خروج الحاج من منى لابعده فانه ان توقف حتى طلع الفجر وجب عليه رمي الجمار وجاز الرمي راكباً وفى الاوليين ماشيا احب لاالعقبة الا ولان مايلى مسجد الخيف ثم مايليه ولوقدم ثقله الى مكة واقام بمنى للرمى كره واذا نفر الى مكة نزل بالمحصب ثم طاف للصدر سبعة اشواط بلارمل وسعى وهو واجب الاعلى اهل مكة شرب من زمزم وقبل العتبة ووضع صدره ووجهه على الملتزم وهو مابين الحجر والباب وتشبث بالاستار ساعة ودعا مجتهداً ويبكى ويرجع قهقرى حتى يخرج من المسجد ويسقط طواف القدوم عمن وقف بعرفة قبل دخول مكة ولاشيئ عليه بتركه اذلايجب عليه شيئ بترك السنة.

توضيح المسئلة: **وله النفر** اوجائز دى ده لره رجوع اوبيرته تګ دمنى څخه مكى معظمى ته مخكې دراختلو دصبا دڅلورمى ورځ داختر يعني ديارلسم ﴿۱۳﴾دذى الحجى لكه الله تعالى فرمائى **فمن تعجل فى يومين فلا اثم عليه لابعده** خوكه صبا راوختلو اودا په منى كې ؤ نوبيا ترهغى مكى ته نه شې واپس كيدلې چې جمرى ونه ولي څكه دجمرو دويشتلو وخت ورباندې راغې **النفر** دنفر معنى داده چې دمنى څخه حاجى په طرف دمكى ووځى **وجاز الرمي** اودجمرو ويشتل دسورلۍ په حالت كې هم جائز دى **وفى الاوليين** خوپه اولنيو دوو جمرو كې په پياده ويشتل غوره دى **لا العقبة**

خوروستنی جمره په پیاده غوره نه ده ځکه داولنی اودویمی جمری څخه وروسته ددعاء لپاره اودریدلی نشته بلکې دویشتلو څخه وروسته به متصل روانیږی اوپه سورلۍ سور سړی په تګ نه قادره وی الاولان داولو دوجمرو څخه هغه مراد ده چې مسجد خیف ته نژدی وی بیا هغه چې دی جمری ته نژدی وی **ولوقدم** اوکه یوکس مخکې ولیږی خپل سامان وغیره الی مکة مکې ته **واقام** اوپه خپله په منی کې پاتې شي دجمرو دویشتلو لپاره کره نودامکروه ده ځکه چې دده ذهن اوفکر به په سامان مشغوله وی اوبل داچې دادمالدارو خلکو سره مشابهت راځي اودعاجزی مخالف راځي **واذا نفر** اوکله چې دمنی څخه مکی ته راوګرځي نوپه محصب مقام کې به ښکته شي اودلته ښکته کیدل سنت کفائی دی ځکه پدغه ځای کې کفار راجمع شوی ؤ اودنبی علیه السلام په خلاف ئی قسمونه خوړلی ؤ نونبی ﷺ دغلته ښکته شو چې کفاروته داوښائی چې الله تعالی تاسې سره څنګه ښه کار وکړو اوزماسره ئی امداد وکړو نودغه ښکته کیده سنت وګرځیده «بحر ۲۱۳،ج،۲».

ثم طاف للصدر بیا چې کله دمکی مکرمی څخه سفر کوی نوطواف صدر به کوی ددی طواف پنځه نومونه دی :

۱-طواف الصدر اوصدر رجوع ته وائی ۲-الوداع رخصت ته ویل کیږی ځکه بیت الله ته هم رخصت ورکوی ۳-طواف الافاضة په معنی دښکته کیدو سره ځکه ددی طواف دوجی دمنی نه مکی ته راکوځیږی ۴-اخر عهد بالبیت اخرنی وعده دبیت الله سره ځکه ددینه وروسته بل طواف نشته ۵-طواف الواجب ځکه چې داواجب دی «بحر ص،۲۱۴،ج،۲»یعنی دغه اخرنی طواف په کوی اوه ګردشه **بلارمل** په طواف کې به پهلوانی نه کوی **وسعی** اوسعی به دصفا اومروه ترمنځ نه کوی اوداطواف واجب دی **الاعلی اهل مکة** مګر دمکی په خلکو نشته ځکه هغوی دمکی څخه نه ځي **ثم شرب** بیابه دزمزم څخه اوبه وڅښی **وقبل العتبة** اوښکل به کړی درشایي دکعبی شریفی **ووضع** اوکیږدی به سینه اومخ خپل په ملتزم باندې ملتزم دحجر اسود اودروازی ترمنځ ځای ته وائی وتشبث اوځان به ونښلوی بالاستار دبیت الله دپردی پوری څه وخت اودعاء به وغواړی ښه په زاری سره اوبه ژاړی **ویرجع** اودبیت الله څخه به څې تهقری په وروسته تګ سره یعنی بیت الله ته به مخ کړی اوشاته روان وی تردی پوری چې دمسجد حرم څخه ووځي **ویسقط** طواف قدوم یعنی اولنی هغه طواف چې بیت الله سره دملاقات په وخت کې کولی شي ساقطیږی دهغه چانه چې دمکی دداخلیدو څخه مخکې په عرفات اودریږی

ولاشئ اوددی طواف په پريښودلو سره يوشيئ هم پرى نه واجبيږى يعنى ګډو وغيره وربانديې نشته اذلايجب څکه دسنتو په پريښودو سره څه نه واجبيږى.

ومن وقف بعرفة ساعة من زوال يومها الى طلوع فجر يوم النحر اواجتاز نائما اومغمى عليه واهل عنه رفيقه به اوجهل انها عرفة صح ومن لم يقف فيها فات حجه فطاف وسعى وتحلل وقضى من قابل هذا لمن احرم ولم يدرك الحج والمرأة كالرجل لكنها لاتكشف رأسها بل وجهها ولو اسدلت شيئاً عليه وجافته عنه صح ولاتلبى جهراً ولاتسعى بين الميلين ولاتحلق بل تقصر وتلبس المخيط ولاتقرب الحجر فى الزحام وحيضها لايمنع نسكا الا الطواف فانه فى المسجد ولايجوز للحائض دخوله وهو بعد ركنيه يسقط طواف الصدر اى الحيض بعد الوقوف بعرفة وطواف الزيارة يسقط طواف الوداع.

توضيح المسئلة: **ومن وقف** په عرفات بانديې داوزيدوسنت وخت دعرفى دورځې دزوال څخه وروسته تر لمر ډوبيدو پورى دى خوداختر دورځې دصبا دراختلو پورى جائز دى نودزوال څخه وروسته داختر دورځې دصبا تر ختلو پورى که څوک په عرفه اودريدو **اواجتاز نائماً** اويا په عرفه تيرشي دخوب په حالت کې اوبيا وروسته راويښ شي **اومغمى عليه** يابى هوشې وربانديې راشي **واهل عنه** اواحرام وتړى دده څخه رفيقه به ملګرى دده په عرفات سره يعنى تلبيه ووائى **اوجهل** ياورته معلوم نه ؤ چې داعرفات ده **صح** داخبردى دمن وقف لپاره يعنى دغه وقوف ئى په عرفه بانديې صحيح دى **ومن لم يقف فيها** اوکه څوک په عرفات کې ونه دريږى **فات حجه** نودده حج فوت شو څکه په عرفات بانديې اودريدل په حج کې يولوى رکن دى اوهغه فوت شو **فطاف** نواوس به طواف دبيت الله وکړى اودصفا مروه ترمنځ به هم سعى وکړى **وتحلل** اوځان به حلال کړى يَعنى داحرام څخه به ځان وباسې **وقضى من قابل** اوراروان کال.به قضى راوړى **هذا** داحکم چې طواف اوسعى به وکړى يعنى په افعالو دعمرى به ځان حلال کړى داحکم دهغه چالپاره دى چې احرام وتړى اوحج ترى فوت شي **والمرأة** اوښځه په حج ئي په احکام مذکوره کې په شان دسړى ده **لكنها** لکن فرق ئى دادى چې ښځه به سرنه لوڅوى بلکه مخ به لوڅوى څکه سر ددى عورت دى دهغې لوڅول حرام دى اوسړى به سر لوڅوى **ولو اسدلت** اوکه ښځه په مخ بانديې څه رازوړند کړى **وجافته عنه** اودمخ نه ئى لرى وساتى يعنى چې دمخ سره ونه لږيږى نوداهم صحيح ده **ولاتلبى** دويم فرق دادى چې ښځه به په زوره تلبيه نه

وائی بلکې پټ به ئی وائی ځکه ددی په اواز کې احتمال دفتنی شته **ولاتسعی** دریم فرق دادی چې دمیلینو اخضرینو ترمنځ به ښځه منډه نه کوی بلکه په اطمینان به ځې همدارنګې به په طواف کې پهلوانی هم نه کوی **ولاتحلق** څلورم فرق دادې چې ښځه به سرنه کلوی بلکې کموی به ئی اوسرې ته ددواړو اختیار دی.

وتلبس المخیط اوپنځم فرق دادی چې ګنډل شوی جامې به اغوندی **ولاتقرب الحجر** اوشپږم فرق دادی چې حجر اسودته به نه نژدې کیږی **فی الزحام** په ګڼ والی دخلکو کې یعنی چې ډیر ګڼه ګونه دخلکو وی نوښځه به حجر اسود نه ښکلوی اونه به لاس وروړی بلکې دخلکو څخه وروسته به طواف کوی اوحجر اسود ته به مخامخ اودریږی اوسلام به کوی ځکه ښځه دسړیو سره دلګیدو څخه منع شوی ده. **وحیضها** اودښځې حیض **لایمنع** نه منع کوی **نسکا** هیڅ یوفعل دافعالو دحج څخه لکه په عرفات اوریدل وغیره **الا الطواف** مګر طواف منع کوی ځکه طواف په مسجد الحرام کې دی اوحائضی لپاره مسجد ته داخلیدل رواء نه دی **وهو** داحیض **بعد رکنیه** وروسته ددوو رکنونو څخه چې یو په عرفات اودریدل اوبل طواف زیارت دی **یسقط** ساقطوی **طواف الصدر** طواف صدر یاوداع یعنی کله چې په عرفات اودریږی اوطواف زیارت هم وکړی اوبیا ددی حیض راشې نوداحیض ددی ښځې نه طواف صدر یعنی درخصت طواف ساقطوی.

واعلم ان الاحرام قد یکون بسوق الهدی فاراد ان یبینه فقال من قلد بدنة نفل اونذر اوجزاء صید اونحوه کالدماء الواجبة بسبب الجنایة فی السنة الماضیة یرید الحج اوبعث بها لمتعة ای بعث بالبدنة للتمتع وتوجه معها بنیة الاحرام فقد احرم المراد بالتقلید ان یربط قلادة علی عنق البدنة فیصیر به محرما کما بالتبلیة ولو اشعرها ای شق سنامها لیعلم انها هدی اوجللها ای القی الجل علی ظهرها اوقلد شاة لا وکذا لو بعث بدنة وتوجه حتی یلحقها ای ان لم یتوجه مع البدنة ولم یسقها بل بعثها لایصیر محرما حتی یلحقها فاذا لحقها یصیر محرما والبدن من الابل والبقر هذا عندنا واما عند الشافعی فالبدنة من الابل فقط.

توضیح المسئلة: واعلم شارح رحمه الله وائی چې احرام کله په تلبیی سره راځې خوکله دقربانۍ یعنی دهدی دڅاروی په لیږلو سره هم راځې نومصنف رحمه الله غواړی چې ددی بیان هم وکړی ځکه مقصود دتلبیي څخه اظهار داجابت ددعوت دالله تعالی دی اوهغه اجابت ددعوت په تقلید دهدی سره هم راځې بحر ص،۲۲۳،ج۲. هدی هغه څاروی ته وائی چې حرم ته ددی

لپاره لیږلی شي چې داختر په ورځ ذبح کړلې شي اوهدی اوښ غوایا اوګډ وری تقلید واړوته شامل دی اوبدنه اوښ اوغوایا دواړو ته وائی تقلید دیته وائی چې دبدنی یعنی اوښی یاغوایي په غاړه کې څه توټه اوحصه دخوراکي موادو یاتسمه دڅپلی یادکوزي غړی اویا دونی څه څانګه وتړلی شي ددی لپاره چې داعلامه پدی شي چې دادقربانی څاروی دی چې نه ئی څوک دوانښو څخه منع کړی اونه داوبو څخه «بحر ص،۲۲۳،ج،۲» **من قلد بدنة** نفل چاچه دنفلی بدنی په غاړه کې غاړه کې۔ واچوله **اونذر** اویادنذر بدنه وه یعنی چې داندر ومنی چې په حرم کې به بدنه ذبح کوی **اوجزاء صید** اویا بدنه دجزاء دښکار یعنی چې په احرام یاحرم کې ښکار ووژنی اوقیمت ئی ورباندی لازم شي بیا پدی قیمت بدنه واخلې **اونحوه** یاداسې نور **کالدماء** لکه هغه دمونه چې واجب شوی وی په ده باندی په سبب دیو جنایت سره په تیر کال کې مثلا د احرام په حالت کی تری یو جنابت وشی **یریدالحج** دا حال دی دمن څخه یعنی څوک چې بدنه مقلده کړی پداسی حالت کې چې اراده دحج لری **اوبعث بها** اویا بدنه ولیږی دحج تمتع لپاره **وتوجه معها** اوپه خپله هم ورپسې روان شي په نیت داحرام سره **فقد احرم** داخبر دمن قلد لپاره دی نودغه کس احرام وتړلو یعنی محرم وګرزیدلو اوداحرام دممنوعاتو څخه به ځان ساتی **المراد بالتقلید** مراد دتقلید څخه دادی چې دبدنی په غاړه کی۔ یوه غاړه کې وتړلی شي **فیصیر** نوپه تقلید سره محرم ګرځي لکه په تلبیې سره چې ګرځي **ولو اشعرها** اوکه اشعار دبدنی ئی وکړو اشعار دیته وائی چې داوښ قب یعنی بوکان غوڅ کړی ددی لپاره چې خلکوته معلومه شي چې داد قربانی څاروی دی **اوجللها ای القی الجل** اویائی ځل واچولو په شادبدنی باندې **اوقلد شاة** اویائی ګډ ته غاړه کې غاړه کی۔ واچوله **لا** نوپدی سره محرم نه ګرځي ځکه دادخصائصو دحج څخه نه دی **وکذا لوبعث** همدارنګې محرم نه ګرځیږی که یوه بدنه دبل چاسره ولیږی وتوجه اووروسته ورپسی روان شي **حتی یلحقها** ترهغی محرم نه ګرځي ترڅو چې بدنی ته ونه رسیږی **ای ان لم یتوجه** که پخپله دبدنی سره روان نه شي **ولم یسقها** اونه ئی پخپله روان کړی **بل بعثها** بلکې دبل چاسره ئی ولیږی نوداترهغی محرم نه ګرځیږی چې بدنی ته ورسیږی نوکله چې بدنی ته ورسیږی نودابه محرم ګرځیږی **والبدن** داجمع دبدنة ده زمونږ داحنافو په نزد اوښ اوغوایي دواړوته وائی اودامام شافعی رحمه الله په نزد صرف اوښی ته ویل کیږی۔

﴿باب القران والتمتع﴾

حج په درې قسمه دی ۱-افراد چې دحج په میاشتو کې یواځې دحج احرام وتړی ۲-قران چې دحج او عمرې احرام دمیقات څخه یوځای وتړی ۳-تمتع چې دحج په میاشتو کې دعمرې احرام وتړی بیا چې کله دعمرې څخه فارغ شې نوپه همدی کال دحج احرام وتړی فقه حنفي ص،۴۲۳،ج،۱» نومصنف رحمه الله چې کله دبیان دافراد څخه فارغ شو نوشروع ئی وکړه په قران وتمتع باندې.

القران افضل مطلقاً ای افضل من التمتع والافراد وهو ان یهل بحج وعمرة من المیقات معاً الاهلال رفع الصوت بالتلبیة ویقول بعد الصلوة ای بعد الشفع الذی یصلی مریداً للاحرام اللهم انی ارید الحج والعمرة فیسرهما لی وتقبلهما منی وطاف للعمرة سبعة یرمل فی الثلثة الاول ویسعی بلاحلق ثم یحج کما مر فان اتی بطوافین وسعیین لهما کره ای یطوف اربعة عشر شوطاً سبعة للعمرة وسبعة لطواف القدوم للحج ثم یسعی لهما وانما کره لانه اخر سعی العمرة وقدم طواف القدوم وذبح للقران بعد رمی یوم النحر وان عجز صام ثلثة اخرها عرفة وسبعة بعد حجة این شاء ای بعد ایام التشریق فان فاتت الثلثة تعین الدم فان وقف قبل العمرة بطلت ای العمرة وقضیت ووجب دم الرفض وسقط دم القران.

توضیح المسئلة: القران حج قران مطلقا غوره دی یعنی دتمتع اوافراد دواړو څخه غوره دی وهو دادقران تعریف کوی نوقران په لغت کې ددوه شیانو ترمنځ یوځای کولوته وائی اوپه اصطلاح کې ان یهل چې احرام وتړی په حج او عمرې سره دمیقات نه یوځای الاهلال اهلال دیته وائی چې پورته کول داواز په تلبیه باندې خوپه معنی داحرام سره استعمالیږی ویقول او احرام تړونکې به ووائی وروسته دهغه دوه رکعته لمونځ څخه چې داحرام تړلو څخه مخکې اداء کوی اللهم الخ یا الله زه اراده دحج او عمرې لرم نودادواړه زما لپاره اسانه کړی اوزما څخه ئی قبول کړی وطاف اوکله چې مکې ته داخل شې نوطواف به وکړی دعمرې لپاره سبعة اوه ګردشه په اولنی دریوو کې به پهلوانی وکړی ویسعی بیابه دصفا اومروه ترمنځ سعی وکړی بلاحلق نه به سرکلوی اونه به ئی کموی بلکې داحرام ممنوعات به بالکل نه کوی ځکه داحرام څخه وتلې نه دی اودحج دوخته پورې به په احرام کې پاتې شې بیا به حج اداء کړی فان اتی که راتګ ئی وکړ واول په دوه طوافو سره پیوسته بیائی دوه سعی وکړی دحج او عمرې دواړو لپاره نودامکروه ده یعنی چې یوسرې دوه طوافه یعنی څوارلس ګردشه وکړی اوه دعمرې لپاره اواوه دطواف قدوم دحج لپاره بیا دحج

اوعمرې لپاره دوه سعی وکړی نوداځکه مکروه ده چې دغه کس دعمرې سعی وروسته کړه اوطواف قدوم ئې مخکې کړو ځکه دعمرې دطواف اودعمرې دسعی ترمنځ طواف قدوم واقع شو وذبح للقران اوذبح به وکړی دګډ یاغوایا یا اوښ اویا اومه حصه دغوایا اواوښ دقران لپاره دیته دم شکر وائی داپه حج تمتع اوقران کې واجب دی ددی لپاره چې شکر اداء کړی چې الله تعالی ددواړو احکامو توفیق په یوسفر کې ورکړو بعدرمی .وروسته دویشتلو دجمرې عقبی نه په ورځ داختر وان عجز اوکه دقربانی څخه عاجزه ؤ نودرې ورځې روژه به ونیسې اخرها چې اخره ورځ ددی عرفه وی یعنی په اوم ،اتم ،نهم دذی الحجی باندې مستحب ده اوکه ددینه مخکې ئې ونیسې نوبیاهم جائز ده وسبعة اواوه ورځې روژی به دحج څخه وروسته ونیسې یعنی دایام تشریق څخه وروسته ځکه په ایام تشریق کې روژه ممنوع ده این شاء په کوم ځای کې چې ئې خوښه وی په مکه مکرمه کې وی اوکه په وطن کې وی فان فاتت الثلثة که دری اولنې روژی فوت شوی یعنی داختر ورځ پرې راغله تعین الدم نودم متعین اولازم شو ځکه روژه بدل ددم څخه وه اودروژی وخت داختر څخه مخکې ؤ نوکله چې روژه فوت شوه نواصل واجب شو چې دم دی فان وقف قبل العمرة که یوقارن دعمرې افعال پوره کړی نه ؤ اوپه عرفات اودریدو نوعمره ئې باطله شوه وقضیت اوقضاء ورباندې واجب شوه ووجب دم الرفض خودعمرې په پرېښودلو باندې دم ورباندې لازم شو وسقط دم القران خودم دقران تری ساقط شو ځکه حج اوعمره دواړه ئې اداء نه کړو نوقارن ونه ګرځیده .

والتمتع افضل من الافراد وهوان یحرم بعمرة من المیقات فی اشهر الحج ویطوف ویسعی ویحلق اویقصر ویقطع التلبیة فی اول طوافه ای فی اول طوافه للعمرة ثم احرم بالحج یوم الترویة وقبله افضل وحج کالمفرد الا انه یرمل فی طواف الزیارة ویسعی بعده لانه اول طوافه للحج بخلاف المفرد لانه قد سعی مرة ولو کان هذا المتمتع بعد مااحرم للحج طاف وسعی قبل ان یروح الی منی لم یرمل فی طواف الزیارة ولایسعی بعده لانه قد اتی بذلك مرة.

توضیح المسئلة: **والتمتع** تمتع په لغت کې فائده اخستلو ته وائی اوتمتع دافراد څخه غوره دی وهو اوتمتع په شریعت کې دیته وائې چې په عمرې سره دمیقات څخه دحج په میاشتو کې احرام وتړی اودعمرې لپاره طواف وکړی اوبیا سعی وکړی اوبیا سرکل کړی اویائی لنډ کړی اوداول طواف دعمرې سره به تلبیه هم بنده کړی اودعمرې دافعالو څخه ووته اوپه مکه کې به غیر محرم

وی تردی چې دحج وخت راشي ثم احرم بالحج بيابه دحج احرام دذی الحجی په اتمه ورځ تړی
خوداتمی ورځي ځخه مخکي غوره دی وحج کالمفرد اوداسې حج به وکړی لکه دحاجی مفرد په
شان الا انه مگر فرق دادی چې متمتع به په طواف زيارت کې رمل يعنی پهلوانی کوی اوبيابه
سعی وکړی ځکه دادمتمتع لپاره اول طواف دحج دی اوحاجی مفرد خويوځل په طواف قدوم
کې سعی کړيده ولوكان اوکه همدغه متمتع دحج داحرام ځخه وروسته نفلی طواف وکړی
اودمنی دتگ نه مخکې سعی هم وکړی نوبيا به په طواف الزيارت کې نه پهلوانی کوی اونه به
دهغې ځخه وروسته سعی کوی ځکه ده يوځل پهلوانی اوسعی اداء کړيده .

وذبح ولم تنب الاضحية عنه وان عجز صام كالقران وجاز صوم الثلثة بعد احرامها لاقبله وتأخيره احب اعلم ان اشهر الحج وقت لصوم الثلثة لكن بعد تحقق السبب وهو الاحرام وكذا فى القران لكن التاخير افضل وهوان يصوم ثلثة متتابعة اخرها عرفة وان شاء السوق وهو افضل احرم وساق هديه وهوادنى من قوده وقلد البدنة وهواولى من التجليل اى التجليل جائز لكن التقليد اولى منه ولايدل هذا على ان يصير بالتجليل محرما فانه قدمر قبيل هذا الباب انه لايصير بالتجليل محرما بل لابد من التلبية اوفعل يقوم مقامها وهو التقليد.

توضيح المسئلة: **ذبح** اوذبح ددم تمتع به وکړی اوديته هم دم شکر وائی **ولم تنوب** اودقربانی ځاروی ذبح کول ددم شکرپه ځای نه اودريږی ځکه دم شکر واجب دی اوقربانی واجب نه ده پده باندې ځکه دامسافر دی اوپه مسافر قربانی واجب نه ده **وان عجز** اوکه ددم تمتع ځخه عاجز شو دفقيری وغيره دوجی نه **صام كالقِران** نوبيا به لس ورځې روژه دقِران په شان ونيسې **وجاز صوم** اوجائز ده هغه دری ورځې روژه چې دحج ځخه مخکې وی وروسته دعمری داحرام ځخه **لاقبله** خودعمری داحرام ځخه مخکې جائز نه ده **وتأخيره** اووروسته کول ددی دری ورځو روژو تردی چې اخرنی ورځ عرفه راشي **احب** ډير غوره ده .

اعلم پوه شه چې دحج دمياشتی وخت ددی دری روژو لپاره دی ځکه الله تعالی فرمائی چې فصيام ثلثة ايام فی الحج يعنی لازم دی په ده باندې دری ورځې روژه فی الحج ای فی الوقت الحج په وخت دحج کې **لكن بعد** خولکن هلته چې سبب ئی موجود شوی وی چې هغه احرام دی يعنی چې دعمری احرام وتړی اوبيا روژه ونيسې نوجائز دی ځکه سبب ئی موجود شوی ده اوکه يوځل روژی ونيسې اوبيا احرام دعمری وتړی نوداروژی دهغه دری ورځو روژه ځخه

نه کافي کيږي وکذا في القِران په قران کې هم حکم همدا دی چې دعمرې داحرام څخه وروسته روژې ونيسي لکن التأخير لکن تاخير ددې درې روژو يعنې چې درې ورځې پرلپسې ونيسي اواخره ورځ ئې عرفه راشي داډير غوره ده

وان شاء السوق تمتع په دوه قسمه ده:

۱-هغه تمتع چې بې له ليږلو دهدی يعنې ددم تمتع څخه وی ددې بيان مخکې تير شو.

۲-هغه تمتع چې دهدی سره وی يعنې چې مخکې دځان نه دم تمتع وليږی نواوس ددې بيان دی ان شاء که زړه ئې ؤ دروانولو دقربانی دڅاروی وهو افضل اودغه احرام چې سره دروانولو دڅاروی څخه وی غوره دی دهغه احرام څخه چې بې له هدی څخه وی احرم نواول به احرام وتړی اودنيت اوتلبيي سره به څاروی دهدي روان کړی وهو دغه سوق يعنې دوَروسته طرف نه شړل دڅاروی اولی غوره دی من قوده دمخکې طرف دکش کولو دڅاروی نه وقلد البدنة اوپه غاړه کې به غاړه کې ورواچوی اوبنی ياغوياته وهو اودغه تقليد غوره دی من التجليل دځل اچولونه يعنې ځل اچول جائز دی خوتقليد غوره دی ولايدل خودتجليل جواز پدې دلالت نه کوی چې په تجليل سره به محرم ګرځي ځکه مخکې تير شو چې په تجليل سره محرم نه ګرځيږی بلکې دتجليل سره تلبيه ضرور ده اوياهغه فعل چې دتلبيي قائمقام وی چې تقليد دی.

وکره الاشعار وهوشق سنامها من الايسر وهو الاشبه ای الاشبه بالصواب فان النبی ﷺ قد طعن فی جانب اليسار قصداً وفی جانب الايمن اتفاقاً وابوحنيفة انما کره هذا الصنع لانه مثلة وانما فعله النبی ﷺ لان المشرکين کانوا لايمتنعون عن تعرضه الا بهذا وقيل انما کره اشعار اهل زمانه لمبالغتهم فيه حتی يخاف منه السراية وقيل انما کره ايثاره علی التقليد واعتمر ولايتحلل منها ای من العمرة وهذا عند سوق الهدی اما اذا لم يکن سوق الهدی يتحلل من احرام العمرة کما مر ثم احرم للحج کما مر ای يوم التروية وقبله افضل وحلق يوم النحر من احرامية والمکی يفرد فقط ای لاقران له ولاتمتع.

دفع التنقيد عن الامام فی کراهة ايثار الاشعار علی التقليد فی الاحرام:

وکره الاشعار اواشعار مکروه دی اشعار په لغت کې وينې کول وينی کول دحيوان دی اوپه شريعت کې شق سنامها څيرې کول بوکان داوښی دی چپ طرفنه يادښی طرفته وهو الاشبه خوچپ طرفته زيات دحق سره مشابه دی ځکه نبی ﷺ قدطعن په چپ طرف کې هم وهلې وه قصداً په قصد سره يعنې مقصوداً اوپه ښی طرف کې اتفاقاً يعنې په اتفاقی طور سره

وابوحنيفة دادفع ديواعتراض ده چې اشعار خوپخپله دنبی ﷺ څخه ثابت دی نوبيا امام ابوحنيفة اشعارته ولی مکروه وائی ؟
ددی دری جوابه دی :
۱۔انما کره امام ابوحنيفه رحمه الله اشعار ته ځکه مکروه وائی چې لانه مثلة ځکه چې دامثله ده يعنی دژوندی حيوان څخه يواندام غوڅول دی وانما فعله اونبی ﷺ اشعار پدی وجه کاوه چې مشرکان نه منع کيدل عن تعرضه دتعرض کولو نه هدی ته الابهذا مګر په اشعار سره يعنی کوم ځاروی کې چې به اشعار شوی ؤ نوهغی ته به ئی څه ضررنه رساوه .
۲-وقيل بعض علماء لکه امام طحاوی وغيره وائي چې امام ابوحنيفة رحمه الله مطلق اشعارته مکروه نه وائی بلکې دخپلې زمانی دخلکو اشعار ته مکروه وائی لمبالغتهم دوجی د زيات تجاوز ددوی په اشعار کې دسنت اندازی څخه يعنی په سنت اندازه کې صرف دڅرمنی پريکول دی اودوی دومره تجاوز کاوه چې زخم به غوښی ته ورسيده حتی يخاف تردی چې ويره ددی وه چې زخم به غوښی ته سرايت وکړی يعنی وبه رسيږی اواوښه به تری مړه شې .
۳-وقيل خوبعض علماء بيا وائی چې امام ابوحنيفه رحمه الله اشعار مکروه نه ګڼی ځکه اشعار هم سنت دی او تقليد هم سنت دی خو تقليد غوره دی داشعار څخه ځکه په اشعار کې دردول دځاروی راځي نوسره ددی نه چې تقليد غوره دی که څوک بياهم اشعار غوره کوی په تقليد باندې نودامکروه ګڼی ځکه چې راجح باندې عمل کول غوره ده دمرجوح څخه واعتمر يعنی کله چې مکی ته داخل شې نوعمره به وکړی اودعمری څخه به ځان نه حلالوی وهذا اوځان نه حلالول په هغه وخت کې چې هدی ئې روانه کړی وی امااذا اوکه احرام دهدی په روانولو سره نه ؤ بلکې بغير له دی څخه ؤ نوبيا به داحرام دعمری نه ځان حلال کړی ثم احرم للحج بيابه دحج لپاره احرام وتړی يعنی په اتمه ورځ باندې خوداتمی ورځې نه مخکې هم غوره ده اوداختر په ورځ به سرکل کړی وحل اوځان به حلال کړی ددواړو احرامونو څخه والمکی اودمکی اوسيدونکې به صرف افراد کوی اوقران اوتمتع ورباندې نشته .

ومن اعتمر بلاسوق ثم عاد الی بلده فقد الم ومع سوق تمتع اعلم ان التمتع هو الترفق بأداء النسكين الصحيحين فی سفر واحد من غيران يلم بأهله الماما صحيحا بينهما فالذی اعتمر بلاسوق الهدی لما عاد الی بلده صح المامه فبطل تمتعه فقوله فقد الم ذكر الملزوم وقصد اللازم وهو بطلان التمتع

اما اذا ساق الهدی لایکون المامه صحیحا لانه لایجوز له التحلل فیکون عوده واجبا فلایکون المامه صحیحا فاذا عاد واحرم بالحج کان متمتعا فان طاف لها اقل من اربعة قبل اشهر الحج واتمها فیها وحج فقد تمتع ولو طاف اربعة هنا لا ای لو طاف اربعة قبل اشهر الحج لایکون متمتعا.

توضیح المسئلة: ومن اعتمر چا چې عمره وکړه بلاسوق بی له لیږلو دهدی نه ثم عاد بیا بیرته راواپس شو الی بلده خپل ښار ته فقد الم نو په تحقیق سره داخپل وطن کې ثابت شو یعنی سفر ئی ختم شو ومعسوق اوسره دلیږلو دهدی نه تمتع ده تمتع وکړه.

اعلم شارح دمخکې عبارت وضاحت کوی چې تمتع دیته وائی هوالترفق فائده اخستل دی باداء النسکین په اداء کولو ددوو احکامو چې حج اوعمره ده الصحیحین چې دواړه صحیح وی یعنی فاسد نه وی فی سفر واحد او په یو سفر کې وی من غیر بغیر د دینه ان یلم باهله چې خپل کوروالا او اهل ته ورشي الماما صحیحا په صحیح اوسیدلو سره بینهما په منځ دعمری اوحج کې فـ الذی اعتمر نو هغه کس چې عمره وکړی دحج په میاشتو کې بلاسوق الهدی بی له روانولو دهدی ځخه لما عاد الی بلده هرکله چې خپل ښار ته بیرته واپس شي صح المامه نودده په کور اوسیدل صحیح شو یعنی مخکنی سفر ئی باطل شو فبطل تمتعه اوکه په همدی کال حج وکړی نوتمتع ئی باطله شوه ځکه په یوسفرکې اداء نه شو داپه هغه صورت کې ؤ چې هدی ئی روانه کړی نه وه فقوله فقد الم شارح وائی چې د فقد الم ځخه دمصنف مراد دتمتع باطلیدل دی یعنی د ذکر ملزوم ئی کړی چې الم دی اومراد ئی لازم دی چې بطلان دتمتع دی اما اذا ساق الهدی اوکه دعمری په احرام کې ئی هدی روانه کړی وه نودده المام نه صحیح کیږی نومتمتع پاتې شو ځکه مخکنی سفر ئی انتهاء ته رسیدلې نه ده پدی سبب چې هدی ئی لیږلی ده لانه لایجوز ځکه ځان حلالو ده لره جائز نه دی فیکون عودة نودده راګرځیدل مکی ته واجب دی نوکله چې بیرته راواپس شو اودحج احرام ئی وتړلو نودامتمتع شو.

فان طاف لها که دعمری لپاره ئی طواف وکړو کم دڅلورو ګرد شو ځخه دحج دمیاشتو ځخه مخکې یعنی چې یوکس په رمضان کې دعمری لپاره احرام وتړی اوډڅلورونه کم ګردشه طواف وکړی مثلا دوه یادری واتمها فیها خوباقی طواف ئی دحج په میاشتو کې پوره کړو اوبیائی حج وکړو نودامتمتع وګرځیدو ولو طاف اربعة اوکه دحج دمیاشتو ځخه مخکې څلور ګردشه طواف کړی ؤ نودامتمتع ونه ګرځیده ځکه اکثر لره حکم دکل وی نوچې اکثره طواف

دحج د مياشتو څخه مخکې واقع شو نو متمتع نه ګرځي او که اکثره د حج په مياشتو کې واقع شي نو متمتع ګرځي.

كوفي حل من عمرته فيها اي في اشهر الحج وسكن بمكة اوبصرة وحج فهو متمتع لان السفر الاول لم ينته برجوعه الى بصرة فصار كانه لم يخرج من الميقات ولو افسدها ورجع عن البصرة وقضاها وحج لا لان حكم السفر الاول لما بقي بالرجوع الى البصرة فصار كانه لم يخرج من مكة ولا تمتع للساكن بمكة الا اذا الم باهله ثم اتى بهما لانه لما الم باهله ثم رجع واتى بالعمرة والحج كان هذا انشاء سفر لانتهاء السفر الاول بالالمام فاجتمع نسكان في سفر واحد فيكون متمتعا واي افسد اتمه بلادم اي من اعتمر في اشهر الحج وحج من عامه فايهما افسد مضى فيه لانه لايمكنه الخروج من عهدة الاحرام الا بالافعال وسقط دم التمتع لانه لم يترفق باداء النسكين الصحيحين في سفر واحد.

توضيح المسئلة: **كوفي** دکوفې يو اوسيدونکې سړی دحج په مياشتو کې دعمرې په احرام سره مکې ته راغې عمره ئې اداء کړه او ځان ئې حلال کړو **وسكن بمكة** بيا په مکة کې دحج په ورځو کې اوسيدلو اويا دمکې څخه بصرې ته لاړو يعنې دخپل وطن نه ماسوا بل ځای ته لکه بصره وغيره **وحج** اوپه همدې کال ئې حج وکړو نو دا متمع شو **لان السفر الاول** ځکه اول سفر دکوفې څخه په بيرته راګرځيدلو سره بصرې ته نه ختميږي فصار دداسې وګرځيدو لکه دميقات څخه چې وتلې نه وی **ولو افسدها** او که دغه کوفې سړی دغه عمره فاسده کړه اوبيا بصرې ته لاړو **ورجع** اودبصرې څخه بيابيرته مکې ته راغې **وقضاها** اودعمرې قضاء ئې راوړه **وحج** اوحج ئې هم وکړو **لا** نوبيا دامتمتع نه ګرځي **لان** ځکه حکم داول سفر دکوفې څخه چې هرکله پاتې شو په بيرته راتللو سره بصرې ته داسې وګرځيدو لکه دمکې نه چې بالکل وتلې نه وی اودمکې اوسيدونکې لپاره تمتع نشته **الا اذا الم** مګر هلته ددی کوفې لپاره تمتع صحيح کيده چې کوفې ته تللې واي اوهلته مقيم شوي واې بيائې دهغه ځای څخه راتګ په عمرې اوحج سره کړی وای **لانه لما** ځکه کله چې په کور کې مقيم شې بيا دکورنه بيرته واپس شې اوعمره اوحج وکړی **كان هذا انشاء** سفر نودايونَوَیٰ سفر شو ځکه اول سفر په المام سره ختم شو **فاجتمع** نو دوه احکامه په يوسفر کې راجمع شو نو متمتع وګرځيده.

واي افسد اوهريو دحج اوعمرې نه که ئې فاسدکړو نوهغه به پوره کړی بلادم بې له دم تمتع نه يعنې دم تمتع وربانديې نشته يعنې که يوکس دحج په مياشتو کې عمره وکړی اوپه همدغه کال

حج هم وکړی نوکوم یوچې په میاشتو کې عمره وکړی اوپه همدغه کال حج هم وکړی نوکوم یوچې فاسد کړی مضی فیه نوپه هغې کې به تګ کوی یعنی دهغې افعال به سرته رسوی ځکه دذمواری داحرام څخه وتل ممکن نه دی مګر په افعالو دحج یاعمری سره خودم تمتع تری ساقط شو ځکه دغه کس په یوسفر کې په اداء کولو دوو صحیحو احکامو څه فائده وانه اخستله اودم تمتع خوهلته واجبیږی چې په یوسفر کې ددوو احکامو په اداء کولو سره فائده واخلې

﴿باب الجنایات﴾

ان تطیب محرم عضواً اوخضب راسه بالحناء اوادهن بزیت ای استعمل الدهن فی عضو ثم الادهان ان کان بزیت خالص اوبحل خالص یجب الدم عندابی حنیفة وعندهما تجب الصدقة وعند الشافعی ان استعمله فی الشعر یجب الدم وان استعمله فی غیره فلاشیئ علیه اما الدهن المتطیب کدهن البنفسج ونحوه فیجب الدم اتفاقاً للتطیب اولبس مخیطاً اوستر راسه یوماً اوحلق ربع راسه اومحاجمه اواحدی ابطیه اوعانته اورقبته اوقص اظفاریدیه اورجلیه فی مجلس واحد اوید اورجل.

بیان الجنایات : جنایات جمع دجنایة ده په لغت کې شرپیداکول دی په اصطلاح کې هغه فعل ته وائي چې حرمت ددی په سبب داحرام یا حرم سره ثابت وی «بحر ص،۳ج،۳» ان تطیب محرم که خوشبویه کړی محرم کس عضوا یوپوره اندام لکه سر، پښه وغیره ،ځکه جنایت چې پوره کیږی نوپه پوره فائدي اخستلو سره راځي اوداپه پوره اندام کې راځي نوسزابه هم کامله وی چې یودم دی همدارنګې که ټول اندامونه خوشبویه کړی نوهم یودم دی ځکه جنس یودی اوخضب یارنګ کړی راسه سر خپل بالحناء په نکریزو سره اوادهن یاخان غوړ کړی بزیت په تیلو سره ثم الادهان بیا تیل استعمالول که په خالص تیلو سره وی یعنی چې خوشبوئی ورسره ګډه نه وی اوبحل خالص اویا په خالص تیلو دکونځلو سره وي نوداامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دم واجبوی ځکه دزیت اودکونځلو تیلو کې خوشبوئی ګډولې شي اوینبتان هم جوړه وی اودصاحبینو په نزد صدقه واجبوی ځکه داپخپله دخوشبوئی لپاره نه دی اګر چې دبل شیئ په یوځای کیدو سره خوشبوئی پیداکوی امام شافعی رحمه الله وائي که په ویښتانو کې ئې استعمال کړي نودم واجبوی ځکه چې خیری ورسره لری کیږی اوویښتان ورسره جوړیږی اوکه ویښتانو څخه ماسوا په نورو اندامونو کې استعمال کړی نوپوشیئ هم وربانديې نشته اماالدهن المتطیب او هغه تیل چې خوشبوئی لری لکه دبنفسشه وغیره تیل نو بیا په هغی کې

بالاتفاق دم واجب دی ځکه خوشبوئی لری اولبس مخیطاً یاګنډل شوی جامی واغوندي اوستر یاسرپټ کړی یوما یوه ورځ پوره یایوه شپه اوحلق یاسرکل کړی څلورمه حصه اومحاجمه جمع دمحجم ده ځای دښکر لګولو یعنی کل کړی ځای دښکر لګولو اواحدی ابطیه یاکل کړی یودترخ یعنی تخرګونو څخه اوعانته یادنامه نه لاندې ویښتان کل کړی اورقبته یاخټ کل کړی اوقص یاغوخ کړی اظفار یدیه نوکان ددواړو لاسونو اورجلیه یاددواړو پښو فی مجلس واحد چې په یومجلس کې ئې غوخ کړي نویودم ورباندې واجب دی اوکه دهراندام نوکان په بیل بیل مجلس کې غوخ کړي نوڅلور دمه یعنی ګډان وربانديې واجب دی ځکه غالباً په دی کفاراتو کې معنی دعبادت وی نوپه اتحاد دمجلس سره یکې تداخل راځې اوکه اتحاد دمجلس نه ؤ نوبیا تداخل نه راځې لکه په ایات دسجدی کې اوامام محمد رحمه الله وائې چې مجلس یووی اوکه ډیروی یودم دی ځکه مبنی ددی کفاراتو په تداخل باندې ده اوپه یادیولاس نوکان غوخ کړی اورجل یادیوی پښې نوکان غوخ کړی نوبیاهم یودم دی ځکه څلورمه حصه چې یوه پښه یایولاس دی قائمقام دکل دی .

اوطاف للقدوم اوللصدر جنباً اوللفرض محدثاً اوافاض من عرفات قبل الامام اوترك اقل سبع الفرض ای ترك ثلثة اشواط اواقل من طواف الزیارة وبترك اكثره بقی محرماً حتی یطوف ای ان ترك اربعة اشواط اواكثر من طواف الزیارة بقی محرماً حتی یطوف اوطواف الصدر اواربعة منه اوالسعی اوالوقوف بجمع اوالرمی كله اوفی یوم واحد اوالرمی الاول اواكثره وهو رمی جمرة العقبة یوم النحر اوحلق فی حل لحج اوعمرة فان الحلق اختص بمنی وهو من الحرم لافی معتمر رجع من حل ثم قصر ای ان خرج المعتمر من الحرم قبل التحلل ثم عاد الیه وقصر لاشیئ علیه وانما خص بالمعتمر لان الحاج ان خرج من الحرم قبل التحلل ثم عاد الی الحرم یجب علیه الدم

توضیح المسئلة: اوطاف فرضی طواف قوی دی دوجوبی طواف نه نوطواف قدوم اوطواف الصدر واجب دی اوطواف الزیارت فرض دی نوفرضی طواف که صرف دبی اودسی په حالت کې وکړی داهم یوجنابت دی اودم پری واجب دی اوکه فرضی طواف دجنابت په حالت کې وکړی نوبیا پری بدنه یعنی اوښ یاغوایا واجب دی .

اووجوبی طواف که په بې اودسی سره وکړی نودم پری واجب نه دی بلکه چې دجنابت په حالت کې وشې نوبیا پری دم واجب دی اوافاض اویا دعرفی په ورځ راښکته شې دعرفات

ښځه مخکښې دامام نه یعنی مخکښې دلمر ډوبیدلو څخه ځکه امام دلمر ډوبیدلو څخه وروسته راښکته کیږی اوترك یائې پریښودو کم له اوه ګردشو دطواف زیارت نه یعنی دری ګردشه یادوه یایو ګردش نوپدی صورت کښې هم وربانديې دم واجب دی **وبترك اکثره** اوکه په فرضی طواف کښې یعنی طواف الزیارت کښې زیات پریښودو نودامحرم پاتې شو ځکه ښځې هلته ورته حلالیږی چې فرضی طواف وکړی اوچه اکثره ئې پریښودو ، نومحرم پاتې شو تردی پوری چې طواف وکړی اواکثره دطواف څلوریازیات دی **اوطواف الصدر** یاټول طواف درخصتی پریږدی اویازیات ددی چې څلور راځي **اوالسعی** یاسعی پریږدی **اوالوقوف بجمع** یاپه جمع یعنی مزدلفه باندي اودریدل پریږدی **اوالرمی کله** یاټوله رمی پریږدی **اوفی یوم واحد** اویاپه یوه ورځ کښې رمی پریږدی دهغه دری ورځونه **اوالرمی الاول** یاداولی ورځې رمی پریږدی اواکثره یازیات داولی ورځې نه چې هغه ویشتل دجمری عقبی دی په ورځ داختر باندېنوپه مذکوره صورتونو کښې دم لازم دی **اوحلق** یائی سرکل کړو په حل مقام کښې دحج اوعمری نه یعنی ددی لپاره چې ځان حلال کړی داحرام دحج اوعمری نه نودم وربانديې لازم دی ځکه سرکلول خاص دي ترمنی پوري اومنی دحرم څخه ده **لافی معتمر** دم نه واجبیږی په هغه عمره کونکي باندې چې حل ته بغیر دځان حلالولو څخه وتلې وی **رجع من حل** بیا دحل څخه بیرته حرم ته واپس شې بیا سرکل کړی اویائی لنډ کړي نوهیڅ شیئ وربانديې نشته **وانما خص** اوداحکم دعمره کونکې پوری ځکه خاص شو چې حج کونکې که دځان حلالولو څخه مخکښې دحرم څخه ووځې اوبیا حرم ته بیرته واپس شې نوپده باندې دم لازم دی .

اوقبل اولمس بشهوة انزل اولا اعلم ان قوله اوقبل لیس معطوفا علی قوله ثم قصر بل هومعطوف علی قوله اوحلق فی حل اواخر الحلق اوطواف الفرض عن ایام النحر اوقدم نسکا علی آخر کالحلق قبل الرمی اونحر القارن قبل الرمی اوالحلق قبل الذبح فعلیه دم هذا جواب الشرط وهو قوله ان تطیب محرم عضواً فیجب دمان علی قارنٍ ان حلق قبل ذبحه دم للحلق قبل اوانه ودم لتاخیر الذبح عن الحلق وعندهما دم واحد وهوالاول فقط.

توضیح المسئلة: **اوقبل الخ** یاښځه ښکل کړی اویا لاس وروړی په شهوت سره نودم وربانديې واجب دی انزال ئی وشې اوکه ونه شې ځکه ښکلول یالاس وروړل ښځی ته په شهوت سره ددواعی دجماع څخه دی نوحکم دجماع لری لکن که لاس ئی بی له شهوت څخه وروړ نوبیا

پرې دم نشته اعلم شارح وائي چې داوهم راځي چې **اوقبل** به عطف وی په **اوقصر** باندې خوداوهم صحيح نه ده بلکې داعطف دی په **اوحلق فی حل** باندې **اواخر الحلق** یا یوحج کونکې وروسته کړی سرکلول **اوطواف الخ** یافرضی طواف وروسته کړی داختر دورځوڅخه **اوقدم نسكا** یامخکې کړی یوحکم په بل باندې **کالحلق** لکه سرکلول مخکې کړی درمی څخه **اونحر القارن** یاذبح دقارن مخکې درمی څخه اوالحلق یا سرکلول مخکې کړی دذبح څخه داختر په ورځ څلور شیان واجب دی: ۱-رمی ۲-ذبح -۳-حلق ۴-طواف.

ددرې اولنیو ترمنځ ترتیب واجب دی اوپه ترک دترتیب سره پرې دم واجبیږی داپه قارن اومتمتع کې ده نوځکه شارح وویلې چې اونحر القارن قبل الرمی اوالحلق قبل الذبح اوپه مفرد کې صرف درمی اوحلق ترمنځ ترتیب واجب دی نوځکه شارح وویلې چې کالحلق قبل الرمی اوذبح په مفرد باندې نشته اودطواف اودرمی وغیره ترمنځ ترتیب واجب نه دی خوطواف درمی اوذبح نه مخکې مکروه ده **فعلیه دم** داجزاء ده دشرط مقدم لپاره چې وان تطیب عضواً دی یعنی پدغه ټولو افعالو سره دم لازمیږی **فیجب دمان** خوپه قارن باندې بیا دوه دمه دی که حلق ئی مخکې دذبح څخه وکړو **دم للحلق** یودم دحلق لپاره شو چې دخپل وخت څخه مخکې وشو اوبل دم دتاخیر دذبح لپاره چې دحلق څخه وروسته وشو **وعندهما** اودصاحبینو په نزد صرف یودم دی چې اول دم دی فقط چې هغه دم دم شکر دی درې عبارت څخه ظاهر کې دامعلومیږی چې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دوه دی یودتاخیر لپاره اوبل دتقدیم لپاره اودصاحبینو په نزد یودم دی چې دتقدیم لپاره دی خودا صحیح نه ده بلکې صحیح داده چې دامام صاحب په نزد په تقدیم اوتاخیر دواړو کې یودم دی چې دم جنایت اوبل دم دشکر لپاره دی اودصاحبینو په نزد صرف یودم دی چې هغه دم شکر دی اودم جنایت ورباندې نشته ځکه دصاحبینوپه نزد په تقدیم دیوحکم کې په بل باندې یاپه تاخیر دیوحکم کې دبل څخه هیڅ واجب نه دی یعنی ددوی په نزد داجنایت نه دی نودم جنایت هم نشته نوصرف یودم پاتې شو چې هغه دم شکر دی لکه امام محمد رحمه الله په جامع الصغیر کې ویلې چې دامام صاحب په نزد یودم دشکر لپاره دی اوبل دتاخیر لپاره دخپل وخت څخه اودصاحبینو په نزد صرف یودم دی چې دم شکر دی بحرالرائق ص،۴۳،ج،۳،.

وان تطیب اقل من عضواوستر راسه اولبس مخیطاً اقل من یوم اوحلق اقل من ربع راسه اوقص اقل من خمسة اظفار اوخمسة متفرقة اوطاف للقدوم اوللصدور محدثاً اوترك ثلثة من سبع الصدر

اواحدی جمار الثلث وهی مایلی مسجد الخنیف اومایلیه اوالعقبة فی یوم بعد یوم النحر اوحلق رأس غیره تصدق بنصف صاع من بر وان تطیب اوحلق بعذر ای تطیب عضواً اوحلق ربع راسه ذبح اوتصدق بثلثة اصوع طعام علی ستة مساکین اوصام ثلثة ایام ووطیه ولوناسیا قبل وقوف فرض یفسد حجه ویمضی ویذبح ویقضی ولم یتفرقا ای لیس علیه ان یفارقها فی قضاء ماافسداه وعند مالك یفارقها اذا اخرجا من بیتها وعند زفر اذا احرما وعند الشافعی رحمه الله اذا بلغ المکان الذی واقعها فیه وبعد وقوفه لم یفسد وتجب بدنة وبعد الحلق شاة.

توضیح المسئلة: وان تطیب الخ دادهغه جنایاتو بیان کوی چې په هغې کې دم نه واجبیږی بلکه صدقه واجبیږی که خوشبوئی ولګوی کم دیواندام څخه اویاسر پټ کړی اویا ګنډل شوی جامی واغوندی کم له یوی ورځې څخه اویاسر کل کړی دڅلورمی حصی څخه کم اوقص یانوکان غوڅ کړی کم له پنځو څخه اویا پنځه غوڅ کړی خو جداجدا یعنی دلاس اوپښی څخه اوطاف یاطواف پریږدی دری ګردشه داوو (۷) ګردشو دطواف صدرنه اواحدی یاپریږدی یوجمره ددریوو جمرو څخه مثلا هغه چې مسجد خیف ته نژدی وی یاهغه چې دیته نژدی وی یاوروستنی جمره په هغه ورځ کې چې داختر دورځې څخه وروسته وی څکه داختر دورځې څخه وروسته دری واړه جمری ویشتل کیږی اما داختر په ورځ خوصرف یوه جمره ده چې جمره عقبه ده کما مر اوحلق یامحرم سړی دبل کس سرکل کړی چې هغه محرم وی اوکه حلال وی تصدق نوپه ټولو مذکوره صورتونوکې به صدقه ورکړی نیمه پیمانه دغنمو .

وان تطیب اوکه یواندام ئې خوشبویه کړو یائی څلورمه حصه دسر کل کړه دعذر دوجی نه مثلا سږی وغیره وي نوبیا یاګډذبح کوی اویابه دری پیمانی طعام صدقه کوی په شپږو مسکینانو باندې چې هرمسکین ته به نیمه پیمانه ورکوي **اوصام** اویابه دری ورځې روژی ونیسې **ووطیه** دامبتداء ده یفسدئې خبر دی یعنی که محرم سړی کوروالې وکړو اګر چې هیره سره وی مخکې دهغه وقوف یعنی اودریدلو څخه چې هغه فرض دی چې هغه وقوف په عرفات دی نودغه وطی فاسده وی حج دده **ویمضی** تیریدل به کوی یعنی لازم دی په ده باندې چې دغه حج پوره کړی **ویذبح** اوذبح به وکړی یعنی هدی به ولیږي **ویقضی** اوقضاء به دحج راوړی **ولم یفترقا** اوپه ښځه خاوند لازم نه دی چې دفاسد حج په قضاء راوړلو کې جداشي بلکې لکه څرنګه چې مخکې سره یوځای حج اداء کولو اوس به هم همغسې اداء کوی وعند

مالك امام مالک وائی چې کله دکور ځخه ووځي نوښځه اوخاوند به سره ملګرتيا نکوی وعند زفر او امام زفر وائی چې کله د دويم حج احرام وتړی نودواړه به سره جدا شي وعند الشافعي رحمه الله امام شافعي رحمه الله وائي چې کله هغه ځای ته ورسيږی چې هلته خاوند دښځې سره کوروالی کړی ؤ نوجدا به شي ددری واړو مذهبو مقصد دادی چې هسی نه چې مخکنی جماع ورياده شي اوبيا جماع وکړی داحنافو په نزد دافتراق يعنی جداوالی په احتياط اولويت محمول دی نه وجوب باندې وبعد وقوفه اوکه دعرفات باندې اودريدلو ځخه وروسته کوروالی وکړی نوحج نه فاسده وی اودبدنی يعنی اوښی ياغوبيا ذبح کول ورباندې واجب دی وبعد الحلق شاة اوکه دسرکليدلو ځخه وروسته دطواف زيارت نه مخکې کوروالې وکړی نودګډ ذبح کول ورباندې واجب دی ځکه جنايت قاصر دی ځکه اول حلاليت په حلق سره راغلې دی ((بحر ص،۳، ۲۹)) .

وفی عمرته قبل طوافه اربعة اشواط مفسد لها فمضی وذبح وقضی وبعد اربعة ذبح ولم تفسد ای وطيه فی عمرته قبل ان يطوف اربعة اشواط مفسد للعمرة فيجب اعضی فيها والذبح والقضاء وبعد اربعة اشواط يجب به الذبح ولا تفسد به العمرة.

توضيح المسئلة: **وفی عمرة** اوکه دعمری په احرام کې کوروالې وکړی مخکې دځلور ګردشو طواف نه **مفسد لها** نوداکوروالې فاسدونکې دعمری دی **فمضی** نولازم دی په ده باندې پوره کول دافعالو دعمری **وذبح** اوګډ به ذبح کړی **وقضی** اودعمری قضاء به راوړی **وبعد اربعة** اوکه دځلورو ګردشو طواف ځخه وروسته کوروالې وکړی **ذبح** نوذبح ورباندې واجب ده چې جبيره دجنايت راشي **ولم تفسد** خوعمره پدی کوروالې سره بيانه فاسديږی ځکه دطواف اکثريت موجود شوی دی اواکثره لره حکم دکل وی نوجنايت کم شو. .

فان قتل محرم صيدا اودل عليه قاتله بدءا اوعودا ای سواء کان اول مرة اولا سهوا اوعمدا فعليه جزاؤه ولوسبعا ای ولوکان الصيد سبعا اومستانسا اوحماما مسرولا اوهو مضطر الی اکله وجزاؤه ماقومه عدلان فی مقتله اواقرب مکان منه ای ان لم تکن له قيمة فی مقتله يقوم فی اقرب مکان من مقتله تکون له فيه قيمة لکن فی السبع لايزيد علی شاة ثم له ان يشتری به هديا ويذبحه بمکة اوطعاما ويتصدق علی کل مسکين نصف صاع من بر اوصاعا من تمر اوشعير لا اقل منه اوصام عن طعام کل مسکين يوما وان فضل عن طعام مسکين تصدق به اوصام يوما هذا عند ابی حنيفه وابی يوسف.

توضيح المسئلة: **فان قتل** كه ووژلو يومحرم كس ښكار يعنى هغه دوچې حيوان چې دوحشى وى په اصل پيدا ايښت كى نودبحرى حيوان ښكار مطالقا رواء دى اكر چې دهغې غوښه نه شي خوړلې اودوچې ښكار جائز نه دى اكر چې دهغې غوښه نه شي خوړلې مكر بعض چې مستثنى دى لكه كارغه بانښه ليوه وغيره نوكه يومحرم كس ښكار ووژنى **اودل عليه** اويامحرم كس بنودنه وكړى دښكار وژونكې ته **بدأ** په اول كرت كې وى **اوعوداً** اوكه دوباره وى **سهواً** سهوى سره وى **اوعمداً** اوكه قصد سره وى **فعليه جزاء** نوپدى ټولو صورتوكې وربانديې دقتل جزاء ده **ولوسبعاً** اكر چې دغه وژلې شوى ښكار ځيرونكې ځناور وى خوهغه ترى مستثنى دى چې په انسان حمله كوى لكه ليوه وغيره .

اومستانساً يااكر چې دغه ښكار اموخته كړاى شوى وى لكه يوه هوسى چې په كوركې اموخته كړاى شي ځكه ددى اموخته كول عارضى دى اواعتبار اصل پيدا ايښت ته دى نوپه اموخته كيدو سره دښكار ځخه نه اوځي **اوحماماً مسرولاً** اوياهغه كوتره وى چې دپرتوګ په شان ښكې په پښو ولرى **اوهو مضطر الى اكله** اويا اكر چې دغه ښكار كونكې ددغى ښكار خوراک ته محتاجه وى ځكه په احتياج سره خوصرف ګناه ختميږى اوضمان نه لرى كيږى **وجزاؤه** اوجزاء دښكار دوژلو **ماقومه** هغه ده چې قيمت كړى **عدلان** دوه عادل كسان **فى مقتله** په ځاى دوژلو كې يعنى په كوم ښار كې چې وژلې وى نودهمغه ښار په قيمت سره به قيمت كولې شي **اواقرب** اوكه په دغه دقتل ځاى كى ددى قيمت نه ؤ يعنى چې هلته ښكار نه خرځيږى نوبيا به قيمت كړاى شي په هغه ځاى كې چې دقتل ځاى ته نژدى وى **تكون له فيه قيمة** چې هلته دښكار لپاره پدغه ځاى كې قيمت وى **لكن فى السبع** لكن په هغه حيوان كې چې غوښه ئى نه شي خوړلې ددى قيمت به په پسه بانديې نه شي زياتولې يعنى كه ددې حيوان قيمت زيات هم وى خودومره پرى واجب دى چې صرف ګډ پرى وشې **ثم له** بيا دغى قاتل ته دا اختيار شته چې پدغې روپيو ګډ واخلې اوپه مكه كې ئې ذبح كړي يعنى په حرم كې اويادى پرى طعام واخلې اوپه هرمسكين بانديې دصدقه كړى نيمه پيمانه دغنمو ځخه يايوه پيمانه دخرما اواوربشو ځخه **لا اقل منه** خودنيمى پيمانى ځخه كم وركول جائز نه دى **اوصام** اويا به روژه ونيسى دطعام دهرمسكين نه يوه ورځ **وان فضل** اوكه ځه غنم وغيره زياتى شو دطعام ديومسكين ځخه يعنى چې نيمى پيمانى ته نه رسيږى **تصدق به** نوهغه دخيرات كړى اويادى ددى ځخه هم يوه ورځ روژه ونيسى **هذا** دادقيمت واجبيدل سره

دتفصيل مذكور نه دامام ابوحنيفة رحمه الله او امام ابويوسف مذهب دى.

واما عند محمد رحمه الله والشافعي رحمه الله فان كان للصيد مثل صورة يجب ذلك ففي الظبي والضبع شاة وفي الارنب عناق وفي اليربوع جفرة وفي النعامة بدنة وفي حمار الوحش بقرة وفي الحمام شاة والمتمسك في هذا الباب قوله تعالى ﴿ومن قتله منكم فجزاء مثل ماقتل من النعم يحكم به ذواعدل منكم هديا بالغ الكعبة اوكفارة طعام مساكين اوعدل ذلك صياما ليذوق وبال امره﴾.. ﴿الآية﴾ فمحمد رحمه الله والشافعي رحمه الله يحملان المثل على المثل صورة بدليل تفسير المثل النعم ونحن نقول المثل في الضمانات لم يعهد في الشرع الا وان يراد به المثل صورة ومعنى في المثليات اومعنى وهو القيمة في غير المثليات اما البقرة فلم تعهد مثل الحمار الوحش وكذا البدنة للنعامة وكذا البواقي فقوله من النعم اى كائن من النعم فالمعنى ان الواجب جزاء مماثل لماقتله وهو القيمة كائن من النعم بأن يشترى بتلك القيمة بعض النعم ثم قوله يحكم به ذواعدل منكم يؤيد هذا المعنى فان التقويم يحتاج الى رأى العدول ولولا التقويم اولا كيف يثبت الاختيار بين النعم والكفارة والصيام وايضاً لولم يكن له نظير من النعم فعند محمد رحمه الله والشافعي رحمه الله يجب مايجب عند ابي حنيفة اولا فيحمل المثل على القيمة دلا ولالة للاية على هذا المعنى.

توضيح المسئلة: اماعند محمد رحمه الله والشافعي رحمه الله. دامام شافعي رحمه الله او امام محمد رحمه الله او شيخينو ترمنځ اختلاف په پنځو خبروكې دى:

۱-دامام ابوحنيفة رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نزد په محرم قاتل باندې قيمة دښكار په هغه ځاى كې واجب دى چې په كوم ځاى كې وژلې وى اودامام محمد او امام شافعي رحمه الله په نزد كوم شيئ چې مثل لرى په هغې كې مثل واجب دى.

۲-داحنافو په نزد محرم ته جائز دى چې سره دقدرت نه په هدى اوطعام وركولو باندې روژه غوره كړى اودامام زفر رحمه الله په نزد سره دقدرت نه په كفارى بالمال باندې ده لره روژه جائز نه ده دوجې دقياس نه په كفاره ديمين باندې.

۳-كله چې طعام وركول غوره كړى نودغه طعام به دښكار په قيمت سره اخلې اودامام شافعي رحمه الله په نزد به دغه طعام دنظير په قيمت اخلې مثلاً دهوسۍ نظير ګډ دى نو داحنافو په نزد به دغه طعام دهوسۍ په قيمت اخلې اودامام شافعي رحمه الله په نزد به دغه طعام دګډ په قيمت اخلې.

۴-کله چې روژه غوره کړی نو داحنافو په نزد به دهری نصف صاع په ځای یوه ورځ روژه ونیسي او دامام شافعی رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد چې کوم قسم ئی معلوم کړو نو همغه به لازم وی که ګډ ئی تعین کړو نو ګډ به لازم وی او که طعام ئی تعین کړو نو طعام به لازم وی او که روژه تعینه کړه نو روژه به لازمه وی **فان کان** نو دامام محمد رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نزد که ښکار صورة مثل درلوده په څارویو کې نو همغه مثل به واجب وی **ففی الظبی** نو په هوسۍ کې **والضبع** او په کوږ کې ګډ دی ځکه ګډ دهوسۍ او کوږ سره په شکل کې هم مثله دی **وفی الارنب** او په سوکه کې **عناق** هغه ښځه اوزه (چیلۍ) ده چې کال ته نه وی رسیدلې **وفی الیربوع** په کربوړی کې **جفرة** هغه ښځه اوزه (چیلۍ) ده چې څلور میاشتو ته رسیدلې وی **وفی النعامة** او په شترمرغ کې **بدنة** اوښه ده **وفی حمار الوحش** او په وحشی خره کې **بقرة** غواده **وفی الحمام** او په کوتره کې **شاة** ګډ دی **والتمسك** او هغه ایات چې په هغې دلیل نیول شوې ده پدی باب کې هغه داده (ومن قتله) الایة.

ترجمه: او څوک چې مړ کړی ښکار لره بعض له تاسې څخه ای محرمو خلکو په قصد سره **فجزاء** نو لازم ده په ده باندې **جزاء مثل ماچې** هغه مثل دهغه څه ده **قتل** چې قتل کړی وی محرم کس **من النعم** چې کائن وی دڅارویو، څخه **یحکم به** چې فیصله وکړی پدی باندې چې دامثل دی **ذواعدل منکم** دوه کسان خاوندان دعدل له تاسې څخه **هدیاً** په داسې حالت کې چې داهدی وی او حرم ته ولیږلې شې **بالغ الکعبة** چې رسیدونکې وی کعبې ته یعنی حرم ته **اوکفارة** یا کفاره وی چې هغه طعام ورکول دی مسکینانو ته **اوعدل ذلك** یا په برابری او مثل ددی سره روژې ونیسې **لیذوق** ددی لپاره چې دغه قاتل محرم وڅکې **وبال امره** سزا دخپل کار یعنی دښکار دوژلو **فمحمد والشافعی** نو امام محمد او شافعی دغه مثل حمل کوی په مثل صوری سره ځکه مثل مطلق ذکر شوی او شیئ چې مطلق ذکر شي نو رجع ئی فرد کامل ته کیږی او فرد کامل پکی مثل صوری دی **بدلیل** ځکه دلیل ئی دادی چی دمثل تفسیر په نعم سره شوی دی **ونحن نقول** مونږ وایو چې ضمانات په شریعت کې په دوه قسمه دی:

۱-ضمان دمثلی په مثل باندې او داپه مثلیاتو کې راځې لکه مکیلې موزونی عددی شیان.

۲-ضمان بالقیمت داپه ذوات القیم کې راځې یعنی کوم شیان چې قیت کولې شي لکه حیوانات وغیره نو مثل صوری په وژلو دحیواناتو کې شرعا معلوم نه دی او نه څه مثال لری **المثل** شارح وائی چې مثل په ضماناتو کې **لم یعهد** نه ده موجود شوی په شریعت کې الا مګر

که موجود شوی ده نوهلته دمثل نه مثل صورة اومعنی په مثلی شیانو کښې مراد دی اومعنی اویاصرف مثل معنوی مراد وی چې هغه قیمت دی په غیر مثلیاتو کښې اماالبقرة هر چې غوا ده فلم تعهد موجوده شوی نه ده مثل حمار الوحش مثل دوحشی خره نه په مثل معنوی سره اونه په مثل صوری سره همدارنګښې اوښه دشتر مرغ څخه مثل نه دی نه په مثل صوری سره اونه په مثل معنوی سره همدارنګښې باقی نورهم قیاس کړه فقوله من النعم داداامام محمد رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله ددلیل څخه جواب دی چې هغوی ویلی ؤ چې من النعم تفسیر دمثل واقع شوی دی خلاصه دجواب داده چې دادمثل صوری لپاره دلیل نه شې کیدلې ځکه من النعم متعلق دی ترمحذوفه پوری چې کائن دی .فالمعنی نومقصد ئې داشو چې واجب هغه جزاء ده چې مماثله وی دهغه څه سره چې ده قتل کړی ده چې هغه قیمت حاصل وی دجنس دځارویو څخه بأن یشتری هغه داسې چې پدغه قیمت بعض ځاروی واخستلې شې لکه ګډ اوښ وغیره ثم قوله غرض دشارح ددی عبارت څخه تائید زمونږ دمذهب کوی چې دمثل نه مراد مثل معنوی دی خلاصه داچه الله تعالی په دی ایات کښې چې یحکم به ذوا عدل دی امر دمثل رای ددوو حکمینو عادلینو ته سپارلې ده اوداپه مثل معنوی کښې راځې فأن التقویم ځکه قیمت رای ددوه عادلینو ته ضرورت لری اومثل صوری رای ددوو عادلینو ته ضرورت نه لری ولولا التقویم دازمونږ دمذهب لپاره بل تائیدهم ذکر کوی خلاصه داده چې لولا التقویم چې اول ځل دغه وژل شوی ښکار قیمت نه شې کړلې بلکې دمثل نه مثل صوری مراد شې کیف یثبت نوبیا څرنګه صحیح کیږی اختیار ورکول دځارویو اوکفاری اودروژی ترمنځ ځکه دطعام داندازی معلومات همدارنګښې ددی طعام په برابر روژه په قیمت سره کیږی وایضاً دادریم تائید زمونږ دمذهب دی چې امام محمد اوامام شافعی رحمه الله مثل صوری په هغه ځای کښې واجبوی چې مثل صوری ولری په اقسامو دقربانۍ کښې لکه ګډ اوښ غویا چې دکورږ هوسۍ شتر مرغ امثال دی خوپه کوم ځای کښې چې مثلی صوری نه وی لکه چنچړه وغیره نوهلته بیا مثلی معنوی وائی یعنی لکه څرنګه چې امام ابوحنیفة ابتداء په مثل معنوی قائل دی نوبیا دوی هم په مثل معنوی قائله شې په کوم ځای کښې چې مثل صوری نه لری ولا دلالة اوایات خوپدی دلالت نه کوی چې کوم ځای کښې مثل صوری ؤ هلته به مثل صوری اخلې اوکوم ځای کښې چې مثل صوری نه ؤ نوهلته به مثل معنوی اخلې ځکه داخو بیا جمع په

مابین د حقیقت او مجاز کې راځي نو مثل معنوی مراد کول په ټولو کې صحیح او غوره دی.

ویجب بجرحه ونتف شعره وقطع عضوه مانقص وبنتف ریشه وقطع قوائمه وکسر بیضه وکسره وخروج فرخ میت وذبح الحلال صید الحرم وحلبه وقطع حشیشه وشجره غیر مملوك ولامنبت قیمته الا ماجف ای یجب بنتف ریشه الی اخره قیمته ففی نتف الریش وقطع القوائم یجب قیمة الصید لاخراجه عن حیز الامتناع وفی کسر البیض تجب قیمة البیض وفی کسره مع خروج فرخ میت تجب قیمة الفرخ حیا وفی الحلب قیمة اللبن وقوله ولا مبنت ای لیس مما ینبته الناس ولم ینبته احد بل نبت بنفسه فح ان لم یکن مملوکا فعلیه قیمته الا ماجف وان کان مملوکا وقد قطعه غیر المالك فعلیه مع وجوب تلك القیمة قیمة اخری للمالك سواء جف اولا.

توضیح المسئلة: **ویجب** او واجبیږی **بجرحه** په زخمی کولو د ښکار سره **ونتف شعره** او په ویستلو د ویښتانو ددی سره **وقطع عضوه** او په غوځولو د اندام د ښکار سره **مانقص** د فاعل دی دیجب لپاره یعنی واجبیږی په مذکوره جنایاتو سره نقصان یعنی اول به روغ قیمت کړی بیا به ناقص قیمت کړی نو څومره قیمت ئی چې کم کړو نو په هغې به هدی واخلې مثلا روغ سل روپۍ قیمت درلوده او ناقص اتیا (۸۰) روپۍ شو نو شل (۲۰) روپۍ نقصان پده واجب شو په هغې به هدی واخلې او ذبح به ئی کړی **وبنتف ریشه** او په ویستلو د وزرو ((بڼکو)) ددی سره **وقطع قوائمه** او په غوځولو د پښو د ښکار سره **وکسر بیضه** او په ماتولو د هګې ددی سره **وکسره** او په ماتولو د هګۍ د ښکار سره **وخروج فرخ میت** سره د راوتلو د بچې نه چې مړ وی **وذبح الحلال** او په ذبح کولو د حلال سړی **صید الحرم** ښکار د حرم لره ((د حلال قیدئی ځکه ولګولو چې محرم کس مطلقاً د ذبح د ښکار څخه منع دی د حرم وی او که د غیر حرم وی او د حلال سړی لپاره خو د حل ښکار جائز دی نه د حرم **وحلبه** او په لوشلو د شیدو د ښکار سره **وقطع حشیشه** او په غوځولو د ګیاه د حرم سره **وشجره** او په غوځولو د اونی د حرم سره **غیر مملوك** په داسې حالت کې چې دغه ګیاه او اونی د چا په ملکیت کې نه وی **ولامنبت** او نه چا کرلې وي **قیمته** د فاعل دی دیجب دی یعنی پدغه مذکوره جنایتونو کې واجب دی قیمت ددی **ففی نتف الخ** نو په ویستلو د وزرو د ښکار سره او په غوځولو د پښو ددی سره قیمت د ښکار واجب دی **لاخراجه** د وجی د ویستلو ددی ښکار **عن حیز الامتناع** د طرف او جانب د ځان ساتلو نه یعنی پدغه بڼکو (وزرو) او پښو سره دوی ځان منع کولې شو او خلاصولې شو نو ددې په ماتولو او وویستلو سره د ځان بچ کولو

څخه ووتو وفی کسر البيض اوپه ماتولو دهګۍ سره قيمت دهګۍ واجب دی وفی کسره اوپه ماتولو دهګۍ سره سره ددينه چې دهګۍ څخه مړ بچې راووځي تجب قيمت الفرخ حياً نوپده باندې واجب دی قيمت دژوندی بچې يعنی دغه بچې به قيمت کړی پدی تقدير سره چې داژوندی دی بيا به هغه قيمت صدقه کړی وفی الحلب اوپه لوشلو دښکار سره قيمت دشيدو واجب دی څکه شيدی هم دښکار څخه يوجزء دی قوله ولامنبت دامعنی ده چې دا ونی نه وی دهغې جنس څخه چې خلک ئی کری لکه کيکر غز وغيره ولم ينبته احد اوهيچا هم کرلې نه وی بل نبت بنفسه بلکې په خپله شنه شوی وی فح نوپدغه صورت کې که داونه دچا په ملکيت کې نه وی فعليه قيمته نوپه ويستونکې ددی ونی باندې قيمت ددی ونی دی الا ماجف مګر کوم چې وچ وی دهغې قيمت نشته وان کان مملوکا اوکه دغه ونه دچا په ملکيت کې وه اودمالک نه ماسوا بل کس غوڅه کړه فعليه نوپه غوڅونکې باندې دوه قيمته دی:

۱-يوقيمت دونی اوبل قيمت دتاوان مالک لره سواءجف اولا برابره خبره ده چې دغه ونه وچه وی اوکه لمده وی.

وانما قلنا انه ليس مما ينبته الناس ولم ينبته احد حتى لوكان مما ينبته الناس عادة فلاشيئ فيه سواء انبته انسان اولا لان كونه مما ينبته الناس اقيم مقام الانبات تيسيرا لان مراعاته فی كل شجرة متعذرة فاذا اقيم مقام الانبات والانبات سبب للملك فلم يتعلق به حرمة الحرم وان كان مما لاينبته الناس عادة فان انبته انسان فلاشيئ فيه لما ذكرناه وان لم ينبته انسان ففيه القيمة فعلم من هذا ان الاقسام اربعة ولاقيمة الا فی قسم واحد وعلم ايضاً ان التقييد بعدم الانبات ذكر لافادة نفی الحكم عما عداه كما ذكرنا لكن التقييد بعدم المملوكية لم يذكر لافادة هذا المعنى اذفی صورة وجوب القيمة لوكان مملوكا فتلك القيمة واجبة مع انه تجب قيمة اخرى بل ليفيد ان هذا الضمان واجب لاغير بسبب تعلق حرمة الحرم ولاصوم فی الاربعة ای لاصوم فی ذبح صيد الحرم وحلبه وقطع حشيشه وشجره.

توضيح المسئلة: شارح وائی چې داقيد مونږ ولګولو چې دهغه جنس څخه نه وی چې خلک ئی کری اونه چاکرلې وی ددی لپاره که داونه دهغه جنس څخه وه چې خلک ئی کری په عادت کې نوبيا ددی په غوڅولو کې هيڅ شيئ نشته برابره خبره ده چې انسان کرلې وی اوکه په خپله شنه شوی وی لان کونه څکه داخبره چې دهغه جنس څخه وی چې خلک ئی کری قائمقام دکرلو وګرځيده داستانتيا لپاره لان مراعاته څکه لحاظ دکرلو په هره ونه کې ګران

دی یعنی چې که چاکرلې وه نوجزاء به وی اوکه چاکرلې نه وه نوجزاء به نه وی د اګرانه خبره ده نوددی وجی نه انبات یعنی کرل قائمقام دکونه ممایـنبته الناس وګرځیده اوانبات سبب دملک دی اوچې دچا په ملکیت کې راغله نوحرمت دحرم وریوری پیوسته نه شو وان کان
31
اوکه دهغه جنس څخه وه چې خلک ئی په عادت کې نه کری نوکه یوانسان کرلې وه نوبیا په هغې کی هیڅ شیئ نشته ځکه په انبات سره حرمت دحرم وریوری تعلق نه نیسې وان لم ینبته اوکه چا کرلې نه وه بلکې په خپله شنه شوی وه نوبیا پد یکې قیمت دی ځکه حرمت دحرم وریوری تعلق نیسې فعلم من هذا نوددی تفصیل څخه دامعلومه شوه چې دونی اقسام په څلورقسمه دی .

۱-کونه ممایـنبته الناس وانبته انسان . ۲-کونه ممایـنبته الناس ونبت بنفسه ۳-کونه مما لاینبته الناس وانبته انسان. ۴-کونه مما لاینبته الناس ونبت بنفسه.

ولاقیمة الا فی قسم واحد اوقیمت نشته مګر په یوقسم کې چې څلورم قسم دی چې کونه مما لاینبته الناس ونبت بنفسه . وعلم اوداهم تری معلومه شوه چې قید دعدم انبات یعنی چې مصنف ویلې چې ولا منبت ددی لپاره ذکر شوی چې نفی دحکم دعما عداه څخه فائده کړی یعنی ددغه یوقسم څخه ماسوا په نورو دری اولنیو قسمونو کې قیمت واجب ندی .

لکن التقیید لکن قید دعدم مملوکیت یعنی چې مصنف رحمه الله وویلې چې غیرمملوک لم یذکر دانده ذکر شوی لپاره دافادی ددی معنی یعنی دنفی دحکم دعما عداه نه یعنی چې په غوځولو دمملوکه ونی یاګیاه سره په جزاء نه وی ځکه په کوم صورت کې چې قیمت واجب وی اودغه ونه دچا په ملکیت کې وی نوبیا خودوه قیمته واجبېږی یودضمان دمالک اوبل قیمت دجنایت په حرمت دحرم باندې بل لیفید بلکې داقید دعدم مملوکیت ددی لپاره ذکر شوی دی چې دغه ضمان واجب دی نه بل شیئ پدی وجه حرمت دحرم وریوری تعلق لری ،ولاصوم فی الاربعة اوپدی څلوروکې روژه نشته یعنی په ذبح کولو دښکار دحرم کې اوپه لوشلو دښکار کې اوپه غوځولو دګیاه حرم کې اوپه غوځولو دونی دحرم کې ځکه جزاء پدیکې تاوان دی نه کفاره اوروژه په کفاره کې وی .

ولایرعی الحشیش ولایقطع الا الا دخر ویقتل قملة اوجرادة صدقة وان قلت ولاشیئ بقتل غراب وحداءة وعقرب وحیة وفارة وکلب عقور وبعوض وبرغوث وقراد وسلحفاة وسبع صائل وله ذبح

الشاة والبقر والبعير والدجاج والبط الاهلي واكل ماصاده حلال وذبحه بلا دلالة محرم او امره به ومن دخل الحرم بصيد ارسله ورد بيعه ان بقي اي رد البيع الذي اتى بعد دخوله في الحرم ان بقي الصيد في يد المشتري والا جزى كبيع المحرم صيده اي رد بيعه ان بقي والا جزى سواء باعه من محرم او حلال.

توضيح المسئلة: **ولايرعى الحشيش** اوڅاروى به نه شي څرولې په ګیاه دحرم کې **ولايقطع** اونه به ريبلې اوغوڅولې شي ګیاه دحرم الا الا ذخر مګر سر ګړى چې پديکې څاروى څرول اوددى شکول جائز دى دادامام ابوحنيفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نزد دى اما دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دسرګړو څخه نورو ګیاووته ضرورت ډير زيات دى نود څارويو څرول پکې جائز دى اودڅارويو ويستل دحرم نه حل ته دڅرولو لپاره اوبيا بيرته راوستلو کې خولوى حرج دى ياپه هر وار دحل څخه حرم ته ګیاه راوړلو کې هم لوى حرج دى **ويقتل قملة** اوپه وژلو دسپږى سره **اوجرادة** يادملخ سره صدقه صدقه ده **وان قلت** اګر چې صدقه لږه وى خوکه ددريو څخه زيات مړى کړى سپږى وى اوکه ملخان وى نوبيا به نيمه صاع وى بحر ،ص، ۲۱، ج، ۳،»

ولاشيئ بقتل غراب اوهيڅ شيئ نشته په وژلو دکارغه سره **وحدأة** اوبانبى يا تپوس سره **وعقرب** اودلړم سره **وحية** اودمارسره **وفارة** اوپه وژلو دمږى سره **وكلب** اوپه وژلو دهغه سپى سره **عقور** چې چيچونکې يعنى خوړونکې وى **وبعوض** اوپه ماشې سره **وبرغوث** اووربږى سره **وقراد** اوپه کونى سره **وسلحفاة** اوپه شمشتى سره **وسبع** اوپه وژلو دهغه ځناور سره صائل چې حمله کونکې وى لکه زمرى ليوه ددى په وژلو کې څکه څه نشته چې بعض پديکې ضرر رسونکې دى لکه ځناور وغيره اوبعض پدى وجه چې نه دښکار لپاره دى اونه دبدن نه پيداشوى اوپه حرم کې منع دادوه قسمه دى يوچه دښکار لپاره وى اوبل چې دبدن څخه پيداشوى وى .**وله ذبح الشاة** اومحرم ته جائز دى حلالو دګډ **والبقر** دغوايې **والبعير** داوښ **والدجاج** دچرګ **والبط هيلي** اودهغى مرغاوى چې کورنى وى څکه دغه شيان دښکار نه دى څکه وحشت پکې نشته **واكل ما** اومحرم ته جائز دى خوراک دهغه څه صاده حلال چې ښکار کړى وى هغې لره حلال يعنى غير محرم سړى **وذبحه** اودغه ښکار په خپله دغه حلال کس حلال کړى وى څکه دمحرم کس ذبح جائز نه ده **بلا دلالة محرم** يعنى حلال کس ئى حلال کړى بى له ښودنى دمحرم کس نه يعنى چې محرم کس ورته ښودنه هم نه وى کړى **اوامره** به يابى له امر دمحرم کس نه په ښکار باندې يعنى چې محرم ورته امرهم کړى نه وى **ومن دخل** که يوکس په خارج دحرم نه ښکار

وکړي اوبیائي حرم ته داخل کړي ارسله خوشې به ئې کړي دوجې دحرمت دحرم نه وردبیعه او که په ځائې ښکاره خرڅ کړو نوبیع به بیرته واپس کړي یعني اقاله به وکړي ان بقي که دغه ښکار دده په لاس کې پاتې ؤ بعد دخوله دغه بیع به هلته واپس کړي چې وروسته ددا خلیدو څخه وی حرم ته یعني چې حرم ته داخل شي نوبیع به واپس کړي والا او که دښکار دمشتري سره پاتې نه ؤ بلکې هلاک شوی ؤ جزی نوبیا پده باندې جزاء لازم ده ځکه دښکار امن ئې فوت کړو کبیع المحرم لکه بیع دمحرم سړي ښکار یعني محرم به هم بیع بیرته واپس کړي که دغه ښکار دمشتري سره پاتې ؤ والا او که دمشتري سره ښکار پاتې نه ؤ جزی نوپه محرم باندې جزاء ده برابره خبره ده چې محرم دغه ښکار په محرم خرڅ کړي وي او که په حلال باندې.

لاصیدا في بیته اوفي قفص معه ان احرم ای ان احرم وفي بیته اوقفصه صید لیس علیه ان یرسله لان الاحرام لاینافي مالکیة الصید ومحافظته بخلاف من دخل الحرم بصید فأن الصید صار صید الحرم فیجب ترك التعرض له ومن ارسل صید في ید محرم اخر ان اخذه حلالا ضمن والا فلا فأن قتل محرم صید مثله فکل یجزي ورجع اخذه علی قاتله.

توضیح المسئلة: لاصیداً لازم نه دي په محرم باندې خوشې کول دهغه ښکار **في بیته** چې دده په کور کې وي **اوفي قفص معه** یا په پنجره کې وي له سره ان احرم که ده احرام تړلی ؤ.

ای ان احرم یعني که احرام ئې وتړلو اوده په کور کې یا دده په قفص کې ښکار ؤ نوپده لازم نه ده چې دغه خوشې کړي ځکه احرام منافي اومخالف نه دی دمالکیت دښکار سره یعني چې دامالک دی دښکار **ومحافظته** اودساتنې دښکار سره هم مخالف نه دی **بخلاف من دخل** په خلاف دهغه کس چې حرم ته په ښکار سره داخل شي یعني چې په حل کې ښکار وکړي اوحرم ته ئې داخل کړي نوددی خوشې کول ورباندې لازم دی **فأن الصید** ځکه دغه ښکار ښکار دحرم وګرځیدلو **فیجب** نولازم دی پده باندې تعرض نه کول په ښکار باندې یعني خوشې کول ئې لازم دی **ومن ارسل** چاچه خوشې کړو ښکار داسې ښکار چې په لاس دبل محرم کې وي که هغه نیولې ؤ پداسې حالت کې چې حلال ؤ یعني غیر محرم ؤ نودغه خوشې کونکې به مالک ته تاوان ورکړي او که دغیر احرام په حالت کې نیولې نه ؤ بلکې داحرام په حالت کې نیولې ؤ نوبیا به تاوان نه ورکوی.

خلاصه ددی داده چې که یوکس چې محرم وي یاحلال وي دبل محرم دلاس څخه ښکار

خوشی کړی نو که دغه نیونکې په داسې حالت کې نیولې ؤ چې حلال یعنی غیر محرم ؤ نو بیا به خوشی کونکې دغه نیونکې ته دښکار تاوان ورکړی او که داحرام په حالت کې نیونکې نیولې ؤ نو بیا پر خوشې کونکې تاوان نشته **فان قتل محرم** که یو محرم قتل کړی **صید مثله** ښکار دمثل دده یعنی دبل محرم ښکار **فکل تجزی** نو په هریو به مکمله جزاء وی یعنی په نیونکې اووژونکې هریو باندې به پوره پوره جزاء وی په نیونکې ځکه جزاء ده چې هغه نیولې ده او په وژونکې ځکه جزاء ده چې هغه وژلې ده **رجع اخذه علی قاتله** خو رجوع به وکړی نیونکې دښکار په وژونکې باندې یعنی که کفاره بالمال ئی ورکړه نودغه نیونکې به خپله حصه تاوان یعنی کومه کفاره چې پده واجبه شوی ده دوژونکې څخه واخلې ځکه په نیونکی باندې اګر چې په نیولو سره هم ضمان لازمیږی خوامکان ددی ؤ چې خلاص شې نودقاتل په وژلو سره امکان دخلاصی ختم شو نودقاتل څخه به ضمان واخلې او که کفاره بالصوم ئی اداء کړه نوبیا دقاتل څخه تاوان نه شې اخستلې.

ومابه دم علی المنفرد فعلی القارن به دمان دم لحجته ودم لعمرته الا بجواز الوقت غیر محرم المراد بالوقت المیقات لان الواجب علیه عند المیقات احرام واحد ویثنی جزاء صید قتله محرمان واتحد لوقتل صید الحرم حلالان فان ذلك جزاء الفعل والفعل متعدد وجزاء صید الحرم جزاء الفعل والفعل متعدد وجزاء صید الحرم جزاء المحل والمحل واحد باع المحرم صیداً اوشراه بطل ولوذبحه حرم ولو اکل منه غزم قیمة مااکل لامحرم لم یذبحه ای لواکل محرم اخر لم یغرم ولدت ظبیة اخرجت من الحرم وماتا غرمهما ای الظبیة والولد وان ادی جزاءها ثم ولدت لم یجزه.

توضیح المسئلة: ومابه دم هرهغه فعل چې ممنوعاتو داحرام څخه وی اودهغه فعل په کولو سره یودم (ګډ) لازمیږی **علی المفرد** په هغه کس چې یواځې ئی دحج احرام تړلې وی **فعلی القارن** نوپه قارن یعنی په هغه کس چې دحج اوعمری احرام ئی یوځای تړلې وی به دهغه فعل په کولو سره **دمان** دوه ګډان لازمیږی **دم لحجته الخ**. یودم دحج دده لپاره اوبل دم دعمری دده لپاره به وی **الا بجواز الوقت** مګر یودم به وی په قارن باندې په تیریدلو سره دمیقات څخه **غیر محرم** پداسې حالت کې چې محرم نه وی یعنی په قارن په هغه صورت کې یودم دی چې دمیقات څخه بلااحرامه تیر شې اوبیا هلته احرام وتړی **لان الواجب** ځکه په قارن باندې لازم ؤ چې دمیقات سره دحج اوعمری لپاره یواحرام تړلې واې نوکله چې د میقات څخه تیر شو

اوبیائی صرف دحج احرام وتړلو نواوس که څه فعل چې دممنوعاتو داحرام څخه وی اوتری صادر شې نویودم پری لازمیږی ځکه تعدد دجنایاتو نه راځې **ویثنی** اودوه ګرځې جزاء دهغه ښکار چې دوه محرمانو وژلې وی یعنی که دوه محرم کسان یوښکار ووژنی نوپه دواړو کسانو یوه جزاء نه ده بلکې په هریو باندې ځانته ځانته جزاء ده ځکه جزاء په سبب دقتل سره په احرام کې راغلې اوقتل متعدد دی اګر چې مقتول یودی .**واتحد** اویوه جزاء به لازم وی لوقتل که قتل کړی **صید الحرم** ښکار دحرم **حلالان** دوه حلال کسان ځکه پدی صورت کې داجزاء دمقتول ده اومقتول یودی **فأن ذلك** په اول صورت کې یعنی چې دوه محرم کسان ښکار قتل کړی نوهلته جزاء دفعل ده چې هغه قتل ده اوفعل متعدد دی وجزاء او په دویم صورت کې چې دوه حلال کسان ښکار قتل کړی جزاء دښکار دحرم جزاء دمحل ده چې هغه ښکار دحرم دی اومحل یودی **باع المحرم** چې محرم خرخ کړی ښکار یعنی په حالت داحرام کې ښکار کړی وی اوپه حالت داحرام کې خرخ کړی **اوشراه** یائی په حالت داحرام کې واخلې **بطل** نودغه بیع اوشراء باطله ده ځکه ښکار دغیر محرم په حق کی غیر متقوم دی یعنی نه شې قیمت کولې اوذات دښکار ورته حرام دی **ولو ذبحه** اوکه محرم کس ښکار په شرعی طریقه حلال کړی نوبیاهم ددی خوراک په ټولو خلکو حرام دی ځکه دمحرم ذبح ته په شریعت کې اعتبار نشته **ولواکل منه** اوکه محرم کس دهغه ښکار څخه خوراک وکړی چې ده ذبح کړی وی غرم قیمة **مااکل** نوتاوان به ورکړی دقیمت دهغه اندازی چې ده خوړلی وی **لامحرم لم یذبحه** خوپه هغه محرم څه نشته چې ښکار ئی ذبح کړی نه وی یعنی دغه ښکار چې محرم ذبح کړی دی که بل محرم ددی څخه خوراک وکړی نوپدی بل محرم کس څه تاوان نشته .

ولدت ظبیة بچې راوړو هغې هوسۍ چې دحرم څخه ویستل شوی وه یعنی یوکس دحرم څخه یوه هوسۍ ویستله اوبچې ئی راوړو **وماتا** اودواړه مړه شول یعنی مور اوبچې ئی **غرمهما** نوتاوان به ددواړو یعنی دهوسۍ اوددی بچې ورکړی ځکه هوسۍ چې هرکله دحرم څخه ویستلې شوه نودامستحقه دامن پاتې شوه اوددی بچې ورکړی ځکه هوسۍ چې هرکله دحرم څخه ویستلې شوه نودامستحقه دامن پاتې شوه اوددی په وجه ددې بچې مستحق دامن وګرځیده .**وان ادی** اوکه اداء ئی کړه جزاء **ها** جزاء دهوسۍ **ثم ولدت** بیا دجزاء ورکولو نه وروسته هوسۍ بچې راوړو **لم یجزه** نودبچې جزاء وربانډې نشته ځکه هوسۍ دجزاء اداء

کولو نه وروسته مستحقه دامن پاتې نه شوه نوبیا ئې مستحق دامن نه ګرځې نوجزاء دبچې هم پرې لازم نه ده .

افاقي يريد الحج او العمرة جاوز وقته اي ميقاته ثم احرم لزمه دم فان عاد فاحرم وانما قال يريد الحج او العمرة حتى انه لو لم يرد شيئا منهما لا يجب عليه شيء بمجاوزة الميقات وقوله ثم احرم لا احتياج الى هذا القيد فانه لو لم يحرم يجب عليه الدم ايضاً فحق الكلام ان يقول جاوز وقته لزمه دم ويمكن ان يجاب عنه بانه انما ذكر قوله ثم احرم ليعلم ان هذا الدم لا يسقط بهذا الاحرام بخلاف ما اذا عاد الى الميقات فاحرم فانه يسقط حينئذ لانه تدارك حق الميقات ثم قوله فان عاد فاحرم معناه انه لو لم يحرم من الميقات فعاد الى الميقات فاحرم فانه يسقط الدم اتفاقاً.

توضیح المسئلة: **افاقي** یو اطرافی سړی یعنی چې دمکې اوسیدونکې نه وی **يريد** اراده دحج حج یاعمرې درلوده یعنی مکې ته داخلیده **جاوز** اوتیر شو وقته دمیقات څخه **ثم احرم** بیائې احرام وتړلو **لزمه دم** نودم یعنی ګډ وربانديې لازم شو **فان عاد** بیا که بیرته میقات ته راواپس شو **فاحرم** او احرام ئې وتړلو نودم ترې ساقط شو **فان عاد** شرط دی اوجزاء ئې وروسته ده چې سقط دمه ده **وانما قال** شارح وائی چې مصنف داخبره چې اراده دحج یاعمرې لری څکه وکړه چې که اراده دحج یاعمرې ونه لری نوپه میقات باندې په تیریدلو سره دم پرې نه واجبیږی خوداخبره دشارح غلطه ده څکه زمونږ دمذهب کتابونه پدی ګویا دی چې څوک دمیقات څخه تیریږی نواحرام وربانديې لازم دی اوکه احرام ئې ونه تړلو نودم وربانديې لازم دی اګر چې اراده دحج یاعمرې ونه لری . **وقوله ثم احرم** او داقول دمصنف ته چې ثم احرم دی دی قیدته هیڅ ضرورت نه ؤ **فانه** څکه کله چې دمیقات څخه تیرشې نوکه احرام هم ونه تړی نودم پرې واجب دی **فحق الكلام** نومناسب خبره داسی ده چې ووائی دمیقات څخه تیر شی نو دم پرې لازمیږی **ويمكن ان يجاب عنه** خوممکنه ده چې ددی اعتراض څخه داجواب وشې چې داقید دثم احرم ئې ددی لپاره ذکر کړو چې دغه دم یعنی کوم چې دمیقات څخه په تیریدلو سره واجب دی پدغه احرام سره نه ساقطیږی **بخلاف** امااله بیرته میقات ته راوګرځی او احرام وتړی نو بیا دغه دم ساقطیږی **لانه تدارك** څکه ده رالاندې کړو حق دمیقات **ثم قوله فان عاد فاحرم** دمصنف ددی عبارت مقصد دادی که میقات څخه احرام ونه تړی اوبیرته میقات ته واپس شې او احرام وتړی نوبالاتفاق ترې دم ساقط شو .

او محرما لم يشرع فی نسك ولبی سقط دمه والا فلا الی ان احرم بعد المجاوزة ثم عاد الی الميقات قبل ان يشرع فی نسك ملبيا سقط الدم عندنا خلافا لزفر رحمه الله فانه لايسقط الدم عنده وانما قال لم يشرع فی نسك حتی لواحرم وشرع فی نسك ثم عاد الی الميقات ملبيا لايسقط الدم اجماعا وانما قال ولبی احترازا عن قولهما فان العود الی الميقات محرما كاف لسقوط الدم عندهما واما عند ابی حنيفة رحمه الله فلابد من ان يعود محرما ملبيا كمكی يريد الحج ومتمتع فرغ من عمرته وخرجا من الحرم واحرما تشبيه بالمسئالة المتقدمة فی لزوم الدم فان احرام المكی من الحرم والمتمتع بالعمرة لما دخل مكة واتی بالعمرة صار مكيا واحرامه من الحرم فيجب عليهما دم لمجاوزة الميقات بلا احرام.

توضيح المسئلة: **او محرما** يا داحرام په حالت کې بيرته ميقات ته واپس شو **لم يشرع فی نسك** چې شروع ئی نه وه کړی په افعالو دحج کې **ولبی** او تلبيه ئی ووېلې يعنی دميقات سره ئی تلبيه بيا وويله نو دم تری ساقط شو **والا** او که په افعالو دحج کې دشروع کولو څخه وروسته ميقات ته واپس شو او يائی تلبيه ونه ويلې **فلا** نو دم تری نه ساقطيږی **ای ان احرم** يعنی که دميقات دتيريدونه وروسته ئی احرام وتړلو بيا ميقات ته را واپس شو مخکې له دينه چې په افعالو دحج کې شروع وکړی او تلبيه ئی هم وويلې نوزمونږ په نزد دم تری ساقط شو خو دامام زفر رحمه الله په نزد دم تری ساقط نه دی ځکه دم په جنايت سره پری لازم شو چې هغه دميقات څخه تيريدل دی او بيا په بيرته راګرځيدلو سره دم نه ساقطيږی خو احناف علماء ورته وائی چې په افعالو دحج کې ئی شروع کړی نه وی او بيرته دميقات نه احرام وتړی نو دم تری ساقطيږی **وانما قال** او که په افعالو دحج کې ئی شروع کړی وه بيا ميقات ته راغې او تلبيه ئی وويله نو بيا بالاتفاق دم نه ساقطيږی **وانما قال ولبی** او مصنف ولبی قيد ددی لپاره ذکر کړو چې دصاحبينو دقول څخه احتراز شې ځکه دصاحبينو په نزد چې ميقات ته را واپس شی داحرام په حالت کې نو داهم دسقوط ددم لپاره کافی ده اګر چې تلبيه ونه وائی او دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد به ميقات ته ګرځې او تلبيه به لازماً وائی **کمکی** لکه په مکی سړی يعنی په هغه کس چې داهل مکی څخه وی دم لازم دی **ومتمتع** او لکه هغه متمتع چې فارغ شې دعمری خپلې نه **وخرجا** او ووځې مکی سړی او متمتع دحرم څخه **واحرما** او دواړه احرام بالحج وتړی . تشبيه شارح وائی چې داتشبيه ده دمخکنی مسئلې سره په لزوم ددم کې او په سقوط ددم کې **فان احرام المکی** ځکه احرام دمکی دحرم څخه وی او هغه کس چې متمتع په عمری سره وی کله چې مکی ته داخل شي **واتی بالعمرة** او دعمری په افعالو راتګ وکړی

يعني پوره ئې کړي نوداهم مکی وګرځيده اواحرام دده هم دحرم څخه دی فيجب نوپه مکی اومتمتع دواړو باندې به دم لازم وی که دميقات څخه بلااحرامه تيرشي اوکه بيرته ميقات ته راواپس شي نو دم تری ساقطيږی .

فان دخل کوفی البستان لحاجة فله دخول مکة غير محرم ووقته البستان کالبستانی بستان بنی عامر موضع داخل الميقات خارج الحرم فاذا دخله لحاجة لايجب عليه الاحرام لکونه غيرواجب التعظيم فاذا دخله التحق بأهله ويجوز لاهله دخول مکة غير محرم لکن ان اراد الحج فوقته البستان ای جميع الحل الذی بين البستان والحرم کالبستانی ولاشيئ عليهما ای لاشيئ علی البستانی وعلی من دخله ان احرما من الحل ووقفا بعرفة لانهما احرما من ميقاتهما .

توضيح المسئلة: فان دخل کوفی که يو کوفی سړی بستان ته داخل شي مراد دکوفی نه هراطرافی سړی دی خوکوفی ئی دمثال په طور ذکر کړو اودبستان نه مراد هرهغه ځای دی چې دميقات په داخل کې دحرم څخه بهر وی چې هغې ته حل وائی اوبستان دبنی عامر ئی دمثال په طور ذکر کړو نوکه يوکوفی سړی مکی ته دداخليدو اراده نه لری بلکې دميقات اوحرم ترمنځ زمين حل ته اراده لری **لحاجة** ديوبل ضرورت په خاطر **فله** نوجائز دی دی کوفی ته چې مکی ته دبستان څخه بلا احرامه داخل شي اوهيڅ شيئ ورباندې لازم نه دی ځکه احرام دميقات څخه په هغه چا لازميږی چې مکی ته دداخليدو اراده لری اوچې صرف زمين حل ته اراده لری نواحرامورباندې واجب نه دی اوکله چې حل ته داخل شي نوداهم داهل حل څخه وګرځيده **ووقته** لکن که بيا اراده دحج نوميقات دده بيا بستان يعنی حل دی **کالبستانی** لکه څرنګه چې دبستان دخلکو ميقات بستان دی .

فوقته البستان يعنې يواځې بستان ميقات نه دی بلکی ټول حل دی چې دبستان اوحرم ترمنځ دی **ولاشيئ عليهما** اوهيڅ شيئ نشته يعنی دم واجب نه دی په بستانی اوپه هر هغه کس چې حل ته داخل شي **ان احرما** که دواړه دحل څخه احرام وتړی اوپه عرفات اودريږی ځکه دواړو دخپل ميقات څخه احرام وتړلو .

ومن دخل مکة بلااحرام لزمه حج اوعمرة وصح منه لوحج عما عليه فی عامه ذلك لابعده جاوز وقته فاحرم بعمرة وافسدها مضی وقضی ولادم عليه لترك الوقت فانه يصير قاضيا حق الميقات بالاحرام منه فی القضاء مکی طاف لعمرته شوطاً فاحرم بالحج رفضه وعليه دم وحج وعمرة الدم لاجل الرفض

والحج العمرة لانه فائت الحج وهذا عندابی حنیفة رحمه الله واما عندهما یرفض العمرة وانما طاف شوطاً لانه لوطاف اربعة اشواط یرفض احرام الحج اتفاقاً فلو اتمهما صح وذبح لانه اتی بافعالهما لکنه منهی عنه والنهی عن الافعال الشرعیة یحقق المشروعیة لکنه یجب دم للنقصان.

توضیح المسئلة: ومن دخل څوک چې مکې ته داخل شې بې له احرام دحج یا عمرې نه لزمه نو لازم شو پده باندې حج یا عمره ځکه دمکې مکرمې دتعظیم په وجه به بلا احرامه مکې ته نه داخلیږی او چه بلا احرامه داخل شو نو حج یا عمرهورباندې لازم شو **وصح منه** او صحیح کیږی دهمدغې حج یا عمرې ځخه لوحج که حج ئې وکړو **عما علیه** دهغه څه نه چې پده واجب ؤ **فی عامه ذلک** خو په همدې کال کې **لابعده** نه وروسته ددې کال نه یعنې چې یو کس حرم ته بلا احرامه داخل شې نو پدې وجه ورباندې حج یا عمره لازم شوه بیا میقات ته لاړو او هلته ئې دهغه حج یا عمرې احرام وتړلو چې پده باندې په بله وجه لازم شوی ؤ . لکه په نذر وغیره سره نو همدغه حج یا عمره دهغه حج یا عمرې ځخه کافی ده چې پده باندې په دخول بلا احرامه سره لازم شوی ؤ خو دا په هغه صورت کې چې په همدې کال کې ئې اداء کړی او که په بل کال کې اداء کړی بیا دهغې ځخه نه کافی کیږی.

جاوز وقته : که یو کس دمیقات ځخه بلا احرامه تیر شې **فاحرم بعمرة** بیا دهغې نه وروسته دعمرې احرام وتړی **وافسدها** اودغه عمره فاسده کړی په یو فعل سره **مضی** نو دا عمره به پوره کړی **وقضی** او قضاء به ئې راوړی **ولادم علیه** او دم ورباندې واجب نه دی **لترك الوقت** دوجې دپریښودلو داحرام نه دمیقات ځخه **فانه** ځکه دغه کس **یصیر** ګرځې **قاضیا** اداء کونکې **حق المیقات** دحق دمیقات **بالاحرم** په احرام تړلو سره **منه** دمیقات نه **فی القضاء** په قضاء راوړلو کې یعنې چې کله دعمرې قضاء راوړی او دمیقات ځخه بیا احرام وتړی نو دمیقات حق ئې اداء کړو نو دم ورباندې لازم نه شو **مکی طاف** یو مکی سړی دخپلې عمرې لپاره یو ګردش طواف وکړو **فاحرم بالحج** بیائې دحج لپاره احرام وتړلو **رفضه** نو احرام دحج به پریږدی یعنې دعمرې ځخه چې ځان حلال کړی نو بیا ئې یو داسې فعل وکړی چې د ممنوعاتو داحرام ځخه وی لکه سر کلول **وعلیه دم** او پده یو ګډ لازم دی دوجې دپریښودو دحج نه اوحج او عمره هم ورباندې لازم شو **لانه فائت الحج** ځکه دا فوت کونکې دحج ؤ یعنې چې مخکې ئې احرام مات کړو نو اوس به اول عمره کوی او بیا به راروان کال ته حج کوی **وهذا** او دا خبره چې حج به پریږدی دا امام ابو حنیفه مذهب دی **واماعندهما** او دصاحبینو په نزد به عمره پریږدی ځکه دعمرې مرتبه دحج ځخه کمه ده او قضاء راوړل ئې هم اسانه دی خو امام

صاحب وائي چې کله دعمرې په افعالو کې شروع وشوه نودعمرې احرام مضبوط شو اودحج په افعالو کې خولاشروع نه ده شوې نودحج پرېښودل غوره دی **وانما قال طاف شوطا** مصنف دیوگردش طواف قید ځکه ولږولو که دعمرې لپاره څلور گردشه طواف کړې ؤ نوبیا به بالاتفاق دحج احرام پرېږدي يعنى که دعمرې لپاره ئې دڅلورو گردشو څخه کم طواف کړې ؤ نودصاحبينو په نزد به عمره پرېږدي اوداما م صاحب په نزد به حج پرېږدي اوکه څلور يازيات گردشه د طواف دعمرې کړې ؤ نوبیابه بالاتفاق حج پرېږدي **فلواتمهما** اوکه دغه مکي حج اوعمره دواړه پوره کړل **صح** نوصحيح ده لانه اتى ځکه دحج اوعمرې افعال ئې پوره کړل لکن مکي ترې منع شوې ؤ **والنهى** دادفع ديواعتراض ده . چې هرکله مکي دقران څخه منع شوې ؤ نوبیا څنګه صحيح شو ځکه دنهي اوصحت ترمنځ ترمنافات وي نوشارح جواب وکړو چې نهى دافعال شرعيو څخه تقاضا مشروعيت کوي يعنى چې دافعل په اعتبار داصل سره رواء دی اګر چې دبلې وجې نه منع ترې راغلي نوپدغه افعالو کولو سره حکم پرې مرتب کيږي اګر چې ګناهګار شو **وذبح** يعنى لازم دی په ده باندې دم «ګډ» چې ذبح ئې کړي چې دغه دم به جبيره شي دنقصان لپاره دمکي په حق کې ځکه مکي ددينه منع شوې ؤ اودغير مکي لپاره بيا دم شکر ګرځي کما مر سابقا .

ومن احرم بالحج وحج ثم احرم يوم النحر باخر فان حلق للاول لزمه الاخر بلادم والا فمع دم قصر اولا اى احرم بالحج وحج ثم احرم يوم النحر بحجة اخرى فى العام القابل فان حلق للاول قبل هذا الاحرام لزمه الاخر بلادم وان لم يحلق لزمه الاخر مع دم ومن اتى بعمرة الا الحلق فاحرم باخرى ذبح لانه جمع بين احرامى العمرة وهومكروه فلزمه الدم.

توضيح المسئلة: ومن احرم که يو کس دحج احرام وتړې اوحج وکړي **ثم احرم** بيا د اختر په ورځ دبل حج احرام وتړې چې په راروان کال کې به ئې اداء کوي **فان حلق** که داول حج لپاره ئې سر کَل کړو يالنډ کړو مخکې ددې دويم احرام څخه **لزمه الاخر** نوبل حج ورباندې لازم شو بلادم اودم ورباندې لازم نه دی **والا** اوکه داول حج لپاره ئې سرکل کړې نه ؤ **فمع دم** نودويم حج ورباندې لازم شو سره ديودم نه .

قصر اولا ددويم احرام څخه وروسته سرکل ياکم کړي اوکه نه ځکه که داول حج لپاره سرکل کړې نوپه دويم احرام باندې جنايت راځي اګر چې داول لپاره حکم دی اوکه داول حج لپاره سرکل نه کړې نويوحکم ئې دځپل وخت څخه وروسته کړو خوصاحبينو وائي که سرئې کل کړو نودم

وربانديږ واجبيږي اما په تاخير سره ددوی په نزد دم نه واجبيږي ((بحر الرائق ۹۱ ج.۳)) **ومن اتى بعمرة** چاچه ټول افعال دعمری پوره کړل **الاالحلق** مګر سرئی کل نه کړو اونه ئی کم کړو **فاحرم باخرى** بيائی دبلی عمری احرام وتړلو **ذبح** نوذبح کول ددم وربانديږ لازم شو لانه جمع ځکه دغه کس جمع په مابين ددوو احرامونو دعمری کړې راوستله اودامکروه تحریمی ده نودم وربانديږ لازم شو.

افاقى احرم به ثم بها لزماه لان الجمع بينهما مشروع للافاقى كالقران وتبطل هى بالوقوف قبل افعالها لا بالتوجه اى بالتوجه الى عرفات فان طاف له ثم احرم بها فمضى عليهما ذبح لانه اتى بافعال العمرة على افعال الحج وندب رفضها فان رفض قضى واراق وان حج فاهل بعمرة يوم النحر اوفى ثلثة تليه لزمته ورفضت وقضيت مع دم وانما لزمته لان الجمع بين احرامى الحج والعمرة صحيح وان مضى صح ويجب دم.

توضيح المسئلة: افاقى يو اطرافى سړی ؤ احرم به دحج احرام ئی وتړلو **ثم بها** بيائی دعمری احرام وتړلو **لزماه** نوحج اوعمره وربانديږ دواړه لازم شو **لان الجمع بينهما** ځکه جمع په منځ دحج اوعمره کې جائز ده داطرافی خلکو لپاره لکه قِران چې داطرافی خلکو لپاره جائز دی خوپدی صورت کې ګناهګار شو ځکه سنت طریقه په قِران کې داده چې دحج اوعمری احرام دواړه یوځای وتړی اویا دعمری احرام مخکې کړی په احرام دحج بانديږ **وتبطل** اوباطليږي **هى** عمره **بالوقوف** په اودريدلو سره په عرفات بانديږ **قبل افعالها** مخکې دافعالو دعمری نه یعنی که دافعالو دعمری ځخه مخکی په عرفات اودریږی نوعمره باطله شوه **لابالتوجه** په نفس توجه سره عرفات ته عمره نه باطليږي **فان طاف** که دحج لپاره ئی طواف وکړو بيائی دعمری احرام وتړلو **فمضى عليهما** اوتګ ئی وکړو په افعالو دحج اوعمره بانديږ **ذبح** نودم به ذبح کړی **لانه اتى** ځکه دغه کس راتګ وکړو په افعالو دعمره بانديږ دپاسه دافعالو دحج بانديږ **وندب رفضها** خودعمری پريښودل مستحب دی ځکه په حج کې طواف اداء شوی اوپه هغې سره حج مضبوط شوی دی **فان رفض** نوکه بيائی عمره پريښوده **قضى** نوقضاء به ئی راوړی **واراق** اووينه به نوی کړی یعنی ګډ به ذبح کړی ځکه عمره ئی ترک کړه **وان حج** اوکه حج ئی وکړو یعنی یوکس صرف دحج احرام تړلی ؤ په عرفات اودریده بيائی داختر په ورځ دعمری احرام وتړلو **اوفى ثلثة** اویاپه هغه دری ورځو کې چې تکیه چې داختر ورځې ته نژدی دی چې ۱۱-۱۲-۱۳راځې **لزمته** نوعمره وربانديږ لازم شوه **ورفضت** اودغه عمره به پريښودلې شي **لازما وقضيت** اوقضاء به ئی راوړلې شي **مع دم** خوسره ددم نه یعنی

ګڼ ورباندې لازم دی وانما لزمته اوعمره ځکه ورباندې لازم شوه چې جمع په مابين داحرامينو دحج اوعمره کې صحيح ده.وان مضی اوکه تګ ئی وکړو په دواړو باندې يعنی عمره ئی پرې نښوده بلکې دحج اوعمری دواړو افعال ئی سرته ورسول نودا هم صحيح ده خودم ورباندې واجب شو ځکه يومکروه کارئی وکړو ځکه دغه وخت صرف مشغوله ؤ په اعمالو دحج باندې.

فائت الحج اهل به اوبها رفض وقضی وذبح ای فائت الحج اذا احرم بحج اوعمرة يجب ان يرفض الاحرام ويتحلل بأفعال العمرة لان فائت الحج يجب عليه هذا ثم يقضی ما احرم به لصحة الشروع ويذبح وانما يرفض احرام الحج لانه يصير جامعاً بين احرامی الحج فيرفض الثانی وانما يرفض احرام العمرة لانه تجب عليه عمرة لفوات الحج فيصير بالاحرام جامعاً بين العمرتين فيرفض الثانية وانما يجب عليه دم للتحلل قبل اوانه بالرفض.

توضيح المسئلة: **فائت الحج** فوت کونکې دحج يعنی يوکس نه حج فوت شو هغه داسې چې دميقات ځخه ئی احرام وتړلو اومکی ته دعرفی دورځې نه وروسته داخل شو **اهل به** احرام ئی وتړلو دحج يعنی دبل حج ماسوا دفوت شوی نه **اوبها** يائی احرام دعمری وتړلو **رفض** نوواجب ده پده باندې چې دويم احرام پرېږدی اوځان به حلال کړی يعنی داول احرام ځخه به ځان وباسې په افعالو دعمری سره ځکه دحج په فوت کونکې باندې دالازم دی چې په افعالو دعمری سره به ځان داحرام ځخه وباسې **وقضی** بيابه قضاء راوړی دهغه حج ياعمری چې دويم ځل ئی دهغې احرام تړلې ده ځکه پدی احرام سره په حج ياعمره کې شروع صحيح شوه نو ورباندی لازم شو نوکله چې ئی پرېښودہ نوقضاء ورباندې واجب شوه **وذبح** اودم هم ورباندې واجب شو چې جبيره درفض شي **وانما يرفض** ددويم حج احرام به ځکه پرېږدی چې داجمع کونکې په مابين ددوه احرامونو دحج کې راځي ځکه داول حج احرام باقی دی اودهغې ځخه به په افعالو دعمری سره وځي نوکله چې ئی ددويم حج احرام رتړلو نو جمع کونکې په مابين ددوه احرامونو دحج کې وګرځېده اوداجائز نه دی نودويم حج به پرېږدی **وانما يرفض** اوددويمی عمری احرام به ځکه پرېږدی چې دحج دفوت کيدو په وجه پده باندې عمره واجب ده نوکله چې ددويمی عمری احرام وتړی نوداجمع کونکې ګرځې په مابين ددووعمرو کې اوداجائز نه ده نودويمه عمره به پرېږدی **وانما يجب** اودم ځکه ورباندې واجب دی چې ځان ئی مخکې دوخت ځخه حلال کړو يعنی داحرام ځخه ويستلو بالرفض اودغه تحلل په پرېښودلو دعمری سره راغې.

﴿باب الاحصار﴾

داباب دی په بیان داحصار کښ احصار په لغت کښ منع ته وائی اوپه شریعت کښ منع کیدل دمحرم دحج یاعمری نه .

ان احصر المحرم بعدوا اومرض بعث المفرد دماً والقارن دمين وعين يوما يذبح فيه ولو قبل يوم النحر هذا عند ابي حنيفه رحمه الله واما عندهما فان كان محصراً بالعمرة فكذا وان كان محصر بالحج لايجوز الذبح الا في يوم النحر وفي حل لا ويذبحه يحل قبل حلق وتقصير وعليه ان حل من حج حج وعمرة ومن قران حج وعمرتان.

الاخبار في بيان الاحصار:

ان احصر المحرم كه بند كړای شي محرم كس دحج يادعمری څخه **بعدو** بسبب ددشمن سره **اومرض** ياپه سبب دمرض سره **بعث المفرد** نوويه ليږی مفرد بالحج دما يودم يعنی ګډ وغيره داپه هغه صورت كښ چښ دحرم څخه بهر منع شوی وی اوكه په حرم كښ منع شوی ؤ نوبيابه ئی همدغلته ذبح كړی **والقارن** اوقارن به دوه دمه ليږی **وعين يوما** اويوه ورځ به ورته معلومه كړی اوپه هغښ كښ به ئی ذبح كړی اګر چښ داختر دورځښ څخه مخكښ وی اوپه همدی ورځ به ځان حلال كړی **هذا** دغه داختر دورځښ څخه مخكښ ذبح دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد جائز ده **واما عندهما** اودصاحبينو په نزد كه دعمری داحرام څخه منع شوی ؤ نوبيا داختر دورځښ نه مخكښ هم جائز ده اوكه دحج داحرام څخه منع شوی ؤ نوبيا داختر دورځښ نه ماسوا ذبح جائز نه ده ځكه ذبح دحج تريوخاص زمانی پوری خاص ده خوامام صاحب بيا وائی چښ داهدی دم دكفار دی اودم دكفاری ترمكانه پوری خاص دی نه ترزمانی پوری **وفي حل لا** اوپه حل كښ ددم ذبح جائز نه ده ځكه دابه په حرم كښ ذبح كولښ شښ **ويذبحه يحل** اوپه ذبح كولو ددم سره حلاليږی يعنی داحرام څخه وځښ **قبل حلق الخ** مخكښ دسركلولو يالنډولو نه يعنی سركلولو يالنډولو ته ضرورت نشته بلكښ په نفس ذبح كولو ددم سره حلاليږی خوسركلول يالنډول ئی سنت دی **وعليه ان حل** كه دحج څخه ځان حلال كړی نوپده باندښ حج اويوه عمره لازم ده **ومن عمرة** اوكه عمری څخه ځان حلال كړی نوپده باندښ يوعمره لازم ده **ومن قران** اوكه دقران څخه ځان حلال كړی نوپده باندښ يوحج اودوه عمری لازم دی .

واذازال احصاره وامكنه ادراك الهدي والحج توجه ومع احدهما فقط له ان يحل هذا عند ابي حنيفة

فانه يمكن ادراك الحج بدون ادراك الهدی اذعنده يجوز الذبح قبل يوم النحر واما عندهما فيعتبر ادراك الهدی والحج لان الذبح لايجوز الا فی يوم النحر فكل من ادرك الحج ادرك الهدی ومنعه عن ركنی الحج بمكة احصار وعن احدهما لا.

توضيح المسئلة: **واذا زال** كله چې لرې شي **احصار** هغه څه چې مانع دده ؤ وروسته دليږلو دهدی نه وامكنه او ممكن ؤ هغه لره **ادراك الهدی** رالاندی كول دهدی **والحج** اودحج يعنی دحج اركان ئی هم رالاندې كولې شو توجه نومتوجه به شي حرم ته ځكه په اصل قادره شو اوحج به اداء كړی **ومع احدهما فقط** يعنی كه په رالاندی كولو دهدی اوحج دواړو قادرنه ؤ بلكې په يو باندې صرف قادره ؤ چې حج دی يارا لاندې كول دهدی **له ان يحل** نوبيا ده ته جائز دی چې همدغلته ځان حلال كړی اوحرم ته متوجه نه شي دادامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد باندې يعنی دامام صاحب په نزد جائز دی چې حج اوهدی دواړه رالاندی كړی برابره خبره ده چې ذبح داختر په ورځ وكړی يامخكې اوداهم جائز دی چې صرف حج رالاندې كړی اوهدی رالاندی نه كړی هغه داسې چې ذبح دذی الحجی په اوم باندې وكړی اوبيااتم دذی الحجی مكی ته ورسيږی **اذعنده** ځكه دامام صاحب په نزد داختر دورځې نه مخكې هم جائز ده اودامام صاحب په نزد داهم جائزدی چې هدی رالاندی كړی اوحج رالاندی نه كړی هغه داسې چې دذبح امر ئی داختر په ورځ كړی وی اوپه خپله داكس صباته يعنی داختر په دريمه ورځ ورسيږی **واماعندهما** خودصاحبينو په نزد دويمه وجه پكې نه راځې يعنی چې ادراک دحج وكړی اوادراک دهدی ونه كړی ځكه ددوی په نزد رالاندې كول دحج اوهدی دواړه معتبر دی ځكه ددوی په نزد ذبح جائز نه ده مگر داختر په ورځ باندې **فكل من** نوهرهغه څوک چې حج رالاندې كړی نوهغه هدی رالاندی كړه ځكه دهدی وخت وروسته دی دوخت دحج نه ځكه وخت دحج دعرفې ورځ ده اووخت دهدی داختر ورځ ده **ومنعه** اومنع كيدل دمحرم **عن ركنی الحج** ددوو ركنونو دحج نه چې يو په عرفات اودريدل دی اوبل طواف الزيارت دی **بمكة** په مكة مكرمه كې **احصار** نودابه شرعاً احصار وی يعنی دغه كس چې په مكه كې ددی دوو ركنونو څخه بند كړای شو نوپه ده باندې حكم داحصار جاری كولې شي **وعن احدهما** اوكه ديوركن څخه منع كړای شو لا نودابه محصر نه وی ځكه كه په طواف قادره شي نوفوت كونكې دحج په طواف سره ځان حلالوی اودم بدل دطواف څخه دی په ځان حلالولو كې اوكه په وقوف باندې قادره شي نوداخو بيا يولوی ركن دی ددی په لاندې كولو سره حج رالاندې كيږی.

ومن عجز فاحج صح ویقع عنه ان دام عجزه الی موته ونوی الحج عنه ومن حج عن امریه وقع عنه وضمن مالهما ولایجعله عن احدهما وله ذلك ان حج عن ابویه ای متبرع یجعل ثوابه عنهما ودم الاحصار علی الامر وفی ماله میتا ودم القِران والجنایة علی الحاج ای ان امر غیره ان یقرن عنه فدم القِران علی المأمور.

توضیح المسئلة: غرض دمصنف ددی عبارت څخه شروع ده په مسائلو دحج کې دبل کس نه عبادات په دری قسمه دی:

۱-عبادات ماليه محضه يعنى چې خالص مالي وی لکه زکاة صدقه الفطر کفارات عشر نفقات پدیکې مطلقا نیابت یعنی دبل کس په ځای اودریدل جائز دی برابره خبره ده چې اصل کس قادره وی او که عاجزه وی.

۲-بدنیه محضه لکه لمونځ روژه اعتکاف قراءت دقران ذکر کول جهاد وغیره پدیکې نیابت مطلقا نه صحیح کیږی اصل کس قادره وی او که عاجزه وی ځکه په بدنی عبادت کې نفس ستومانه کول اوداندامونو استعمالول دی اودبل کس په کولو سره خوپه نفس مشقت نه راځی نونیابت جائز نه شو، ۳-مرکبه چې مرکب وی دمال اوبدن نه لکه حج نوپدیکې نیابت جائز دی دعجز په صورت کې اوقدرت په صورت کې جائز نه دی بحرالرائق درالمختار **ومن عجز** څوک چې عاجز شو دحج کولو نه **فاحج** نوحج وکړای شو دده لپاره **صح** نو دا صحیح ده **ویقع عنه** اودغه حج واقع کیږی دامر څخه اودهغه څخه فرض ساقطیږی **ان دام عجزه** خو که عجز دده همیشه ځالې موته ترمرګه پوری **ونوی الحج** اونیت به وکړی حج کونکې **دحج عنه** دامر څخه یعنی داسې به ووائی چې دفلانی کس څخه احرام تړمه اوتلبیه وایم دفلانی کس څخه **ومن حج** څوک چې حج وکړی **عن امریه** ددوه امرینو څخه یعنی دوه کسانو یوکس ته امر وکړو چې زمونږ هریو څخه حج وکړه هغه ددواړو څخه احرام وتړلو نودیو څخه هم حج نه واقع کیږی **وقع عنه** بلکې دحج کونکې څخه واقع کیږی **وضمن مالهما** اوحج کونکې به دوی ته دمال تاوان ورکړی **ولایجعله عن احدهما** اوداحج به نه ګرځوی دیوکس څخه یعنی کله چې دواړو څخه احرام وتړی نوبیا دیوکس څخه نه ګرځې ځکه ددوی دنیت څخه مخالفت راځې اویوپه بل اولویت هم نه لری **وله ذالك** اوشته ده لره چې دیوکس څخه حج وکړی که حج ئی دمور اوپلار لپاره کولو یعنی که یوکس دمور اوپلار څخه بغیر دامر دهغوی نه حج وکړی اودغه حج دیو څخه وګرځوی مور یاپلار څخه نوداجائز دی ځکه دده حج په نیابت سره رانغې بلکې تبرع اواحسان دی اواحسان کونکې کولې شې چې دهریو څخه چې ثواب

ګرځوي نو ګرځولې شي **ودم الاحصار** که مامور بالحج دحج څخه منع کړای شو نودم داحصار به په امر باندې وی **وفي ماله ميتا** اودامر په مال کې به وی که امر مړ شوی ؤ **ودم القران** اودم دقران **والجناية** اودجنایت **على الحاج** په حج کونکې باندې دی **اي ان امر غيره** داوضاحت ددم دقران کوی یعنی چې امر بل کس ته امر وکړی چې زما له طرفه قران وکړه اوهغه حج قران وکړو نودم دقران په مامور باندې دی ځکه دادم شکر دی چې الله تعالی ددواړو احکامو په جمع کولو کې توفیق ورکړو اودغه نعمت په مامور باندې خاص طور شوی دی ځکه حقیقی فعل دمامور څخه صادر شوی اګر چې حج دامر څخه واقع کیږی بحر ،ص، ۱۱۲،ج،۳»اودم دجنایت په مامور ځکه واجب دی چې دم تعلق دجنایت دمامور پوری لری یعنی چې مامور جنایت ونه کړی نودم نه لازمیږی بحر ۱۱۷،ج،۳»

وضمن النفقة ان جامع قبل وقوفه لابعده فان مات في الطريق يحج من منزل امره بثلث مابقي لامن حيث مات اي اذا اوصى ان يحج عنه فاحجوا عنه فمات في الطريق فعند ابي حنيفة يحج عنه بثلث مابقي فان قسمة الوصي وعزله المال لايصح الا بالتسليم الى الوجه الذي عينه الموصي ولم يسلم الى ذلك الوجه لان ذلك المال قد ضاع فينفذ وصيته من ثلث مابقي وعند ابي يوسف ينفذ من ثلث الكل وعند محمد ان بقي شيئ مما دفع الى الاول يحج به وان لم يبق بطلت الوصية.

توضيح المسئلة: **وضمن** اومامور به ضامن وی دټولې خرچې که جماع ئې وکړه مخکې داودریدلو څخه په عرفات باندې اوحج ئې فاسد شو اودامر څخه نه واقع کیږی اوددغه فاسد حج قضاءورباندې هم لازم شو ،**لابعده** که دعرفات داودریدلو څخه وروسته ئې جماع وکړه نوبیا دخرچې تاوان ورباندې نشته ځکه دعرفات نه وروسته په جماع سره حج نه فاسدیږی **فان مات في الطريق** که یوکس چاته امر وکړی چې زما له طرفه حج وکړه اومامور په لاره کې مړ شې که امر ژوندې ؤ نوبل کس ته به امر وکړی چې زماله طرفه حج وکړه اوکه امر ژوندی نه ؤ اومامور په لاره کې مړشو **يحج** نوحج به کولې شې دکور دامر نه په دریمی حصی دپاتې مال باندې **لامن حيث مات** اودهغه ځای نه به حج نه کوی په کوم ځای کی چې مامور مړ شوی دی ځکه کوم سفر چې مامور کړی ؤ هغه باطل شو نووصیت دامر به دوطن څخه نافذ کیږی **اذا اوصى** یعنی کله چې یوکس وصیت وکړی چې زماله طرفه حج وکړی اوورثوو دهغه له طرفه حج ته یوکس ولیږلو خوهغه کس په لاره کې مړ شو **فعند ابي حنيفة** نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد به

ددريمې حصې دباقي مال نه به حج دده له طرفه کولې شي **فان قسمة الوصي** ځکه تقسيم دوصي وصي هغه کس ته ويل کيږي چې مړی ورته وصيت کړی وی اوده ته ئی کار سپارلې وی نوتقسيم دوصي يعني چې وصي دده مال تقسيم کړو **وعزله** راجدا کول دوصي **المال** مال لره يعني چې دنور مال څخه وصي دوصيت کونکې برخه راجدا کړی **لايصح** دانه صحيح کيږي **الا بالتسليم** مګر په سپارلو سره **الى الوجه الذي** هغه لاری ته **عينه الموصي** چې معلومه کړی وی وصيت کونکې اوپه هغې ئی امر کړی وی چې هغه حج دی **ولم يسلم** اونده سپارل شوی دغه مال **الى ذالك الوجه** دغې لاری ته يعنی هغه مال په حج کې مصرف نه شو **لان ذلك المال** ځکه دغه مال چې مامور ته ئی ورکړی ؤ **قدضاع** هغه خوضائع شو **فينفذ** نوجاری کيږی **به وصيته** وصيت دده **من ثلث مابقي** ددريمې حصې دپاتې مال څخه ځکه وصيت ددريمې حصې دوصيت کونکې څخه نافذ کيږی **وعند ابي يوسف** امام ابويوسف وائي چې ددريمې حصې دمال دټول مال څخه به جاری کيږی مثلاً ټول مال څلور زره ؤ زر روپۍ ئی مامورته دحج لپاره ورکړی اومامور مړ شو نواوس دری زره پاتې دی نوامام ابوحنيفه رحمه الله وائي چې دريمه حصه ددری زرو به وی اوامام ابويوسف وائي چې دريمه حصه به دڅلور زرو وی ځکه ټول مال دده څلور زره ؤ **وعند محمد** رحمه الله امام محمد رحمه الله وائي که دهغه مال څخه څه پاتې ؤ چې اول مامور ته ئی ورکړی ؤ چې زر روپۍ وی نوپه هغې به حج وکړای شي **وان لم يبق** اوکه دهغې څخه څه پاتې نه ؤ نووصيت ئی باطل دی يعنی دويم ځل وصيت ئی نه نافذ کيږی.

﴿باب الهدی﴾

داباب دی په بيان دهدی کې.

الهدی من ابل وغنم وبقر ولايجب تعريفه اي الذهاب به الى عرفات وقيل المراد الاعلام كالتقليد ولم يجز فيه الاجائز الاضحية وجاز الغنم في كل شيئ الا في طواف فرض جنباً ووطيه بعد الوقوف واكل من هدى تطوع ومتعة وقران فحسب وتعين يوم النحر لذبح الاخيرين وغيرهما متى شاء كما تعين الحرم للاكل لافقيره لصدقته اي لايتعين فقير الحرم لصدقته.

په حرم کې دذبح بيان:

هدی په لغت اوشريعت کې ديته وائي چې حرم ته ليږلې شي چې من ابل الخ دابيان دانواعو

دهدی کوی چې اوښ دی وغنم اوګډ دی وبقر اوغوایا دی **ولایجب تعریفه** اوواجب نه ده تعریف دهدی تعریف دامعنی چې عرفات ته ئی بوځې **وقیل المراد** اوبعض علماء وائی چې دتعریف نه مراد الاعلام مشهوره کول ددی چې داهدی ده په تقلید یعنی غاړکې اچولو سره یاپه اشعار سره تعریف ځکه واجب نه دی چې دهدی مطلب دادی چې هغه ځای ته ئی نقل کړی چې هلته ثواب وی دوینی په تویولو سره اودهدی مطلب تعریف نه دی خوکه دم شکر ؤ نوبیا ددی تعریف مستحب دی اوکه دم کفاره ؤ نوبیا ددی پټول مستحب دی ځکه سبب ددی جنایت دی اوجنایت پټول غوره دی لکه دیوکس نه چې لمونځ قضاء شې نوبیا دهغې لمانځه قضاء پټه بهتره ده بحر ((ص،۱۲۸،ج،۳)).

ولم یجز فیه اوجائز نه دی په هدی کې **الاجائز الاضحیة** مګر هغه ځاروی چې په قربان کې جائز وی **وجاز الغنم** اوګډ ذبح کول جائز دی **فی کل شیئ** په هرشیئ کې لکه دم شکر دم جنایت دم احصار اونفلی هدی کې **الا فی طواف** الخ مګر که طواف فرضی یعنی طواف زیارت دجنابت په حالت کې وکړی نوبیا ګډ جائز نه دی بلکې بدنه واجب ده **ووطیه** همدارنګه که دعرفات داوریدلوځخه وروسته دسرکلولو نه مخکې کوروالې وکړی نوبیاهم بدنه واجب ده **واکل** اوجائز ده دهدی ذبح کونکې ته خوراک دنفلی هدی ځخه اودمتعی ځخه اودقِران ځخه ځکه داشکرانی دی اوددی خوراک جائز دی **فحسب فقط** یعنی دنورو هدایاؤ ځخه خوراک جائز نه دی لکه دم دجنایت اودم داحصار وغیره **وتعین** اومعلومه اومقرره ده **یوم النحر** ورځې داختر یعنی په کومو ورځو کې چې قربانی جائز ده چې هغه ۱۰.۱۱-۱۲دذی الحجی دی **لذبح الاخیرین** لپاره دذبح ددوو وروستنیو چې هغه ذبح ددم دمتعی اودقران دی ځکه دغه دم دم دنسک اودثواب دی نوددی لپاره به هم دقربانی په شکل معلومی ورځې وی **وغیرهما** اوددم دمتعی اودقِران ځخه ماسوا لکه دم داحصار وغیره به ذبح کوی **متی شاء** کله چې خوښه شې **کما تعین الحرم للکل** خوتعین دحرم دټولو لپاره دی یعنی هریو دم به په حرم کې ذبح کولې شي **لافقیره** نه شي به تعین کولې فقیر دحرم **لصدقته** دصدقی دحرم لپاره یعنی چې دحرم صدقه صرف دحرم فقیر ته ورکړی اوبل چاته ئی نه ورکوی نوداسې به نه شي کولې لکن صدقه په فقراؤ دحرم باندې غوره ده بحرالرائق ص، ۱۲۸ج،۳)).

ویصدق بجله وخطامه ولم یعط اجرة الجزار منه ولایرکب الاضرورة ولایحلب لبنه ویقطعه بنضح ضرعه بماء برد وما عطب اوتعیب بفاحش ای ذهب اکثر من ثلث ذنبه اواذنه اوعینه ففی واجبه ابدله والمعیب له وفی نفله لاشیئ علیه ونحر بدنة النفل ان عطبت فی الطریق وصبغ نعلها بدمها وضرب به صفحة سنامها لیا کل منه الفقیرلا الغنی.

توضیح المسئلة: **ویصدق** اوصدقه به کړای شي **بجله** خل دهدی جل هغه ته ویلې شي چې دخاروی په شاچولې شي **وخطامه** اومهار ددی **ولم یعط** اونه شې به ورکولې **اجرة الجزار** مزدوری دقصاب منه دغوښې دهدی څخه **ولایرکب** اوپه هدی به نه سوریږی **الا ضرورة** مګر دضرورت په وجه **ولایحلب** اونه به رالوشې لبنه شودی دهدی **ویقطعه** اوبندی به کړی شیدی ددی **بنضح ضرعه** په پاشلو دغلانزی یعنی دتیونو ددی **بماء برد** په یخو اوبو سره یعنی که په هدی کی شیدی زیاتی شې نوددی غلانزی ته یه یخې اوبه پاش کړی چې شیدی ئی بندی شې داپه هغه صورت کې چې دذبح وخت ئی نژدی وی اوکه وخت ډیر ؤ نوبیا دی رالشې اوشیدی دی خیرات کوی **وماعطب** اوکوم څاروی چې هلاک شې **اوتعیب** یا عیبجن شې **بفاحش** په زیات عیب سره یعنی چې مانع وی دقربانی څخه **ای ذهب** یعنی چې ختم شې زیاته ددریمی حصی دلکې ددینه یادغوږ ددی یادسترګې ددی **ففی واجبه** نوپه واجبه هدی کې یعنی که دغه هدی واجب وه پدی باندې لکه دم دجنایت دم داحصار دم دقِران وغیره **ابدله** نودغه هدی به بدله کړی **والمعیب** اوهغه عیبجنه هدی له دده لپاره به وی **وفی نفله** اوکه هدی نفل وه **لاشیئ علیه** نوبیا په هیڅ شیئ واجب نه ده یعنی بله هدی وربانديې واجب نه ده **ونحر** الخ اوحلاله به کړی نفلی بدنه **ان عطبت** که هلاک شې **فی الطریق** په لاره کې یعنی هلاکت ته نژدی شې نوبیابه ئی حلاله کړی **وصبغ** اورنګ به کړی **نعلها** پڼه ددی خو مراد ددینه ددی غاړه کی ده ځکه اکثرا په غاړه کې ورته پڼه اچوی **بدمها** په وینو ددی سره یعنی دغه غاړه کی به ورته ددی په وینو رنګ کړی **وضرب** اووبه وهی به په وینی ددی سره **صفحة** یوطرف **سنامها** دبوکان داوښی یعنی دبوکان یوطرف به په وینی سره هم رنګ کړی.

لیاکل یعنی دقلادی رنګ په وینو اوددی دبوکان وهل ددی لپاره چې خلکو ته معلومه شي چې داهدی دحرم ده چې خوراک تری وکړی **منه** ددی دغوښی نه **الفقیر** فقیر ددغه ځای **لاالغنی** نه مالداره.

وان شهدوا بوقوفهم بعد وقته لاتقبل ای اذا وقف الناس وشهد قوم انهم وقفوا بعد يوم عرفة لاتقبل شهادتهم لان التدارك غير ممكن فيقع بين الناس فتنة كما اذا اشهدوا عشية يوم يعتقد الناس انه يوم التروية برؤية الهلال في ليلة يصير هذا اليوم باعتبارها يوم عرفة فانه لاتقبل الشهادة لان اجتماع الناس في هذه الليلة متعذر ففي قبول الشهادة وقوع الفتنة.

توضيح المسئلة: اوكه خلكو ګواهي وكړه په اودريدلو ددوى سره پس له وخت نه نودغه ګواهي به نه شي قبلولې اى اذا وقف يعنى كه خلك په عرفات اودريږى اوخه خلكو ګواهي وكړه چې دوى دعرفى دورځې څخه وروسته په عرفات اودريدلې دى نوددغى خلكو ګواهي به نه شي قبلولې بلكې حكم په صحيح والې دوقوف باندې كولې شي لان التدارك څكه رالاندى كول دفوت شوى ركن ممكن نه دى نوپه دغى ګواهې سره دخلكو په منځ كې فتنه پيداكيږى كما اذا مثلا ګواهې وكړى عشية يوم دزوال نه وروسته دهغې ورځې چې خلك داعقيده لرى چې دا يوم التروية ده يعنى اتمه ورځ دذى الحجى ده برؤية الهلال دامتعلق دى ترشهدوا پورى يعنى ګواهى وكړى په ليدلو دمياشتى سره په هغه شپه كې چې دغه ورځ په هغې اعتبار سره دعرفى ورځ راتلله مثلا دخلكو داعقيده وه چې ددوشنبى ورځ دذى الحجى اتمه ورځ ده اوخه خلكو ددوشنبى په مازيګر كې داګواهى وكړه چې مونږ په فلانى شپه مياشت ليدلې وه چې دهغې له حساب څخه ددوشنبى ورځ دعرفى ورځ راځي نوددوى ګواهي به نه شي قبلولې څكه دخلكو راجمع كول پدغه شپه يعنى داختر په شپه ډير سخت دى نوپه قبلولو دګواهى ددوى كى فتنه راځي.

وقبل وقته قبلت لفظ الهداية اعتباراً بما اذا وقفوا، يوم التروية وقد كتب في الحواشي شهد قوم ان الناس وقفوا يوم التروية اقول صورة هذه المسئلة مشكلة لان هذه الشهادة لا تكون الا بأن الهلال لم ير ليلة كذا وهو ليلة يوم الثلثين بل رءى ليلة بعده وكان شهر ذى القعدة تاماً ومثل هذه الشهادة لاتقبل لاحتمال كون ذى القعدة تسعة وعشرين.

توضيح المسئلة: وقبل وقته اوكه ګواهى ئى وكړه چې په عرفات اودريدل دوخت نه مخكې شوى دى يعنى دعرفى دورځې نه مخكې قبلت نودغه ګواهى به ئى قبلولې شي يعنى بيا به خلكو ته امر وكړى چې دعرفى په ورځ په عرفات اودريږى لفظ الهداية په هدايه كې داسې راغلې چې اهل عرفه كله په عرفات باندې په يوه ورځ كې اودريږى اوخه خلك داګواهى

وکړی چې دوی داختر په ورځ په عرفات اودریدلې دی نوداجائز ده خوقیاس داوائی چې داجائز نه ده **اعتباراً** الخ یعنی داداسې ده لکه په اتمه ورځ دذی الحجی چې اودریږی اودهدائی په حاشیه کې دالیکلې چې فانه لوشهد الشهود انهم وقفوا فی هذا لیوم لایجوز وقوفهم یعنی که ګواهان ګواهی وکړی چې ددی په دغه ورځ یعنی په اتم دذی الحجی په عرفات اودریدلې دی نودغه اودریدل ددوی جائز نه دی نوهدائی اوددی دمحشی پدی مسئله چې دوی ګواهی وکړی چې خلک دذی الحجی په اتمه ورځ په عرفات اودریدلې دی یواشکال دی هغه داسې چې ددی صورت څنګه جوړیږی ؟ نوشارح ځکه وویل چې ددی مسئلې صورت مشکل دی لان الشهادت ځکه دغه شهادت هلته راځي چې میاشت ددیرشمی ورځې دذی القعدی نهه وروسته شپه باندې ونه لیدلې شې بل رءي بلکې ولیدلې شې په هغه شپه چې ددی شپی څخه وروسته وی چې دخلکو په نزد دذی الحجی دویمه شپه راځي **وکان شهر** اوذی القعدی میاشت هم پوره دیرش ورځې وی نودغسې شهادت نه شي قبلولې ځکه احتمال لری چې ذی القعده نه ویشت ورځې وی .

وصورة المسألة ان الناس وقفوا ثم علموا بعد الوقوف انهم غلطوا فی الحساب وکان الوقوف یوم الترویة فان علم هذا المعنی قبل الوقت بحیث یمکن التدارك فالامام یأمر الناس بالوقوف وان علم ذالك فی وقت لایمکن تدارکه فبناء علی الدلیل الاول هو تعذر امکان التدارك ینبغی ان لایعتبر هذا المعنی ویقال قد ثم حج الناس واما بناء علی الدلیل الثانی وهوان جواز المقدم لانطیرله لایصح الحج.

توضیح المسئلة: وصورة الحج صورة دمسئلی دادی چې خلک په عرفه باندې په هغه ورځ اودریدل چې دخلکو داګمان وی چې دادعرفی ورځ ده **ثم علموا** بیا پوه شو چې دوی په حساب کې غلط شوی دی اوپه یوم الترویه یعنی په اتم دذی الحجی اودریدلې دی **فان علم** نوکه پوه شوپدی معنی باندې یعنی په خپلې غلطیا باندې **قبل الوقت** مخکې دوخت داودریدلو دعرفی نه **بحیث** پداسې شان سره چې **یمکن التدارك** چې ممکن وی رالاندې کول دعرفات **فالامام** نوامام به خلکوته امر وکړی چې په نهمه ورځ دذی الحجی په عرفات باندې اوریږی **وان علم** اوکه په خپله غلطیا باندې پوه شو **فی وقت** پداسې وخت کې **لایمکن تدارکه** چې ممکن نه وی رالاندې کول دعرفات **فبناء** په هدایه کې دوه دلیله ذکر شوی دي نوبناء په

اول دليل باندې چې امکان دتدارک متعذر اوګران دی پکارده چې دغه معنی معتبر نه شي يعنی دغې غلطياته ونشې کتلې **ويقال** اوداوويلې شي چې دخلکو حج پوره شوی دی **واما بناء** اوپه بناء ددويم دليل باندې هغه داسې چې جواز دمقدم لپاره په شريعت کې مثل نشته يعنی په شريعت کې داسې عبادت نشته چې مخکې معين وخت څخه اداء شي نوددويم دليل په بناء **لايصح الحج** حج نه صحيح کيږي ځکه وقوف په عرفات باندې مخکې دخپل وخت نه راغلې اودانه صحيح کيږي.

رمی فی اليوم الثانی لاالاولی فان رمی الکل فحسن وجاز الاولی وحدها ای ان رمی فی اليوم الثانی الجمرة الوسطی والثالثة ولم يرم الاولی فعند القضاء ان رمی فی الکل فحسن وان قضی الاول وحدها جاز نذر حجا مشيا مشی حتی يطوف الفرض ای بعد طواف الزيارة جازله ان يرکب اشتری جارية محرمة بالاذن له ان يحللها بقص شعر اويقلم ظفر ثم يجامع وهو اولی من ان يحلل بجماع فقوله بالاذن متعلق بقوله محرمة ای احرمت باذن المالك حتی لواحرمت بلااذنه فلااعتبارله.

توضيح المسئلة: **رمی** که وولي **فی اليوم الثانی** په دويمه ورځ کې يعنی دذی الحجی په يوولسم باندې **جمرة وسطی** اودريمه جمره **لاالاولی** اواولنی جمره ونه ولي **فان رمی الکل** نو دقضاء راوړلو په وخت کې که تولې جمری يعنی اولنۍ منځنۍ اواخرنۍ وولي **فحسن** نوداډير غوره ده **وجاز الاولی وحدها** اوکه قضی دصرف اولنی جمری راوړي يعنی صرف اولنۍ جمره وولي نوداهم جائز ده، **نذر حجا** يوسړی نذر ومانه دحج کولو **مشيا** په پياده سره يعنی بغير دسورلۍ نه **مشی** نوپه ده باندې پياده تګ واجب دی **حتی يطوف الفرض** تردی چې فرضی طواف وکړی يعنی دطواف زيارت څخه وروسته ورته جائز دی چې په سورلۍ باندې سور شي **اشتری** يوسړی واخستله **جارية** يوه وينزه محرمه چې احرام ئی تړلې ؤ **بالاذن** په اجازه دخپل مالك سره له نومشتری ته جائز دی **ان يحللها** چې حلاله کړی دغه وينزه يعنی داحرام څخه ئی وباسې **بقص شعر** په کټ کولو دويښتانو ددی سره **اويقلم ظفر** ياپه غوڅولو دنوکانو ددی سره **ثم يجامع** بيادی جماع ورسره وکړی **وهو** داجماع وروسته دتحليل نه په ويښتانو کټ کولو يا نوکانو غوڅولو سره غوره ده ددينه چې تحليل په جماع سره وکړی يعنی چې په بل امر سره تحليل وکړی اوبيا جماع وکړی داغوره ده دهغې نه چې تحليل په جماع سره راولې اګر چې

تحلیل په جماع سره هم جائز ده **فقوله بالاذن** شارح وائی چې بالاذن **متعلق دی ترمحرمه** پورې یعنی چې دبادارپه اجازې سره ئې احرام تړلی وی **حتی تردی که** دغی وینزی بی **له** اجازې دبادار ځخه احرام تړلې ؤ نودغی احرام ته اعتبار نشته ځکه دغلام اووینزی احرام هلته معتبر وی چې دبادار په اجازې سره وی.

تمت بعون الملک الوهاب لیلة الجمعه

۱۳۹۲،۱۲،۲۲.

داتسهیل الوقائی صلوة طرف دماخوستن په ۷نیمو بجو دالله ﷻ په توفیق سره سرته ورسیدله اودباقی شرحو دلیکلو توفیق هم دالله ﷻنه بلکې دټول دین دخدمت توفیق دالله ﷻځخه غوارم الله ﷻ دی په خپل دربار کې قبوله کړی الله ﷻدی ماته اوزما اولادی اونور طالب العلموته اوعلماؤ ته پدی باندې پوره نفعه ورسوی امین یارب العالمین. ﴿آمین﴾


امداد الحواشی
اصول الشاشی
تحقیقات نحوی
قطبی
تحفۃ اللبیب
شمائل الترمذی
نزھۃ المتقین
ایضاح الحکمۃ
فوائد النحو
تسہیل الایضاح
نور الایضاح
توضیح المرام
ارشاد الطالبین
زاد الطالبین
ارشاد المنیر
نحو میر
نیل المیسر
الفقہ المیسر
تسہیل المسلم
صحیح مسلم
تکمیل الامانی
مختصر المعانی
ہدایۃ النحو
تسہیل البلاغۃ
دروس البلاغۃ